# فتاویٰ دارالعلوم دیوبند

مدلل و مکمل

پښتو

۴

بسم الله الرحمن الرحيم

دموجوده وخت په دار الافتآء کې دمروجه نسخو مطابق، دنوی تخریج سره اعلیٰ کمپوټري چاپ

# فتاویٰ دار العلوم دیوبند

مُدلّل و مکمّل

## په آسانه او روانه کندهاري پښتو

### خلورم جلد ۴

### کتابُ الصّلوٰة (رُبعِ سوم)


**تالیف**: مفتي اعظم عارف بالله حضرت مولانا مفتي عزيز الرحمٰن صاحب عثماني
(( ددار العلوم دیوبند اول مفتی ))

**په لار ښوونه د**: حکیم الاسلام حضرت مولانا قاري محمدطیّب صاحب (مهتمم دارالعلوم دیوبند)

**مرتب**: مولانا محمد ظفیر الدین صاحب، رفیقِ شعبۀ ترتیبِ فتاوٰی دار العلوم دیوبند

**اضافه تخریج جدید**: مولانا مفتی محمد صالح، رفیقِ دارالافتآء جامعۀ اسلامیه، بنوری ټاؤن کراچی

**ژباړه ، تعلیق او تحقیق**: مولانا الحافظ محمّد أحمد الحقاني الأفغاني، فاضلِ حقانیه، پشاور

**زیرِ نګراني**: شیخ الحدیث حضرت مولانا الشیخ عبد القادر النهرکاریزي (دامت برکاتهم العالیة)



مکتبۀ حبیبیه

کاسي روډ، کوئټه : 0812662448

ټول حقوق محفوظ دي
© All Rights Reserved
al-ilmcorp@hotmail.com
لومړی چاپ

۱۴۳۰ ربیع الاول هـ \ مارچ 2009 م

Maktabah Habibiyah مکتبه حبیبیه
Publishing Organization خپروونـکی اداره

Arg Bazar, Kandahar, Afghanistan. Mob : 0799447413 : ارګ بازار کندهار ، افغانستان ، ګرځنده تلیفون

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Phone : 0812662448 : کاسي روډ ، نزد مسجدِ نور ، کوئټه ، تلیفون شمیره

AL-ILM Computers, Quetta. Mob: 03218016371 :العلم کمپیوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تلیفون شمیره

## دفتاوی دار العلوم دیوبند مدلّل او مکمل (پښتو) دمضامینو فهرست، جلد ۴


| مـخ | مـضـمـو ن |
|---|---|
| | **كتاب الصلاة** |
| ۴۶ | سريزه |
| ۴۸ | **الباب السابع**: دلمانځه مفسدات اومكروهات |
| ۴۸ | **لومړی فصل**: د لمانځه مفسدات (دلمونځ ماتوونكی شيان) |
| ۴۸ | دلمانځه څخه دوتلي سړي په وينا چي امام څه وكړي نولمونځ فاسد شو اوكه نه؟ |
| ۴۸ | دلوڅ زنگانه سره لمونځ جائز دی او كه نه؟ |
| ۴۹ | په لمانځه كي په قهقه خندا سره اودس او لمونځ دواړه فاسديږي او كه يو ؟ |
| ۴۹ | كله چي په سجده كي پښې پورته كړل سي نو لمونځ كيږي اوكه نه؟ |
| ۵۰ | دغلا كالي چي په بيه واخلي په هغو كي لمونځ كيږي اوكه نه؟ |
| ۵۰ | په لمانځه كي په خبرو كولو سره لمونځ فاسديږي اوكه نه ؟ |
| ۵۰ | كه مقتدي له امام څخه مخكي ركوع وكړي او په سجده كي ورسره شريك سی نو څه حكم دی؟ |
| ۵۰ | څوك چي ضالين دوالين ووايي لمونځ يي كيږي اوكه نه؟ |
| ۵۱ | د غير مقلد په تكبير ويلو سره لمونځ فاسديږي اوكه نه؟ |
| ۵۱ | په هر آيت باندي وقف كول جائز دي اوكه نه، او په دي سره لمونځ فاسديږی او كه نه؟ |
| ۵۱ | كه په لمانځه كي تيري هيري خبري را يادي سي نو لمونځ به وسي اوكه نه؟ |
| ۵۱ | چي سهار په پرتاگه باندي گرده ټاپه وويني نو هغه به دسهار لمونځ راگرځوي او كه نه؟ |
| ۵۲ | چي امام په لمانځه كي د مقتدي په وينا سره مخ ته وړاندي سي نو لمونځ به وسي اوكه نه؟ |
| ۵۲ | كه دلمانځه په اوږدو كي لاسونه په كالو كي دننه وي نو لمونځ كيږي اوكه نه؟ |
| ۵۲ | فتحه وركول يا اخستل او يا ديوه لمانځه پاته كيدل څنگه دي؟ |
| ۵۴ | كه چيري مقتدي په يوه ركعت كي اقتداء پريږدي نو لمونځ به وسي اوكه نه؟ |
| ۵۴ | په لمانځه كي په چغو اونارو وهلو سره لمونځ فاسديږي اوكه نه؟ |

| مخ | مضمون |
|---|---|
| ۵۵ | که دلمونځ کوونکي مخ ته شی تیر سي نولمونځ یي فاسدیږي او که نه؟ |
| ۵۵ | په جیب کي دناپاك شي له لرلو سره لمونځ کیږي اوکه نه؟ |
| ۵۵ | چي په لمانځه کي پرتوګ یا لنګ خلاص سي نو څه وکړي؟ |
| ۵۵ | که دستري په ځای چترۍ یا بل ډول شی وي نو کفا یت کوي اوکه نه؟ |
| ۵۲ | پر: صراط الذین، باندي په وقف کولو سره نه کفر لازمیږي اونه لمونځ فاسدیږي |
| ۵۲ | دلمونځ نه کوونکي په پنکه (پَیْك) وهلو سره د لمونځ کوونکي لمونځ نه فاسدیږي |
| ۵۲ | په (ماهیه) کي د (تا) ښکاره کول غلط دي خو لمونځ نه ورسره فاسدیږي |
| ۵۷ | دشپي یي دقبلي پوښتنه وکړه او لمونځ یي ادا کړ وروسته معلومه سوه چي قبله بل لوري ته ده نو لمونځ وسو اوکه نه؟ |
| ۵۷ | که مسبوق په غلطي له امام سره سلام وګرځوی او دوریادولو څخه وروسته ودریږي نو څه وکړي؟ |
| ۵۷ | چي د علیکم په ځای علیتم له خولي ووزي نو لمونځ کیږي اوکه نه؟ |
| ۵۸ | په چوپانه او پګړۍ کي لمونځ کیږي او که نه؟ |
| ۵۸ | چي په کالو کي دناپاکی ګرده ټاپه وویني نو څه وکړي؟ |
| ۵۸ | په سري ذکر سره لمونځ فاسدیږي اوکه نه؟ |
| ۵۹ | له قبلي څخه په کاږه جومات کي کړي لمونځونه صحیح سوه اوکه نه؟ |
| ۵۹ | د سهار د لمانځه په اوږدو کي چي لمر را وخي.ي نو لمونځ کیږي اوکه نه؟ |
| ۵۹ | د ضاد په ځای په ظا لوستلو سره لمونځ فاسدیږي اوکه نه ؟ |
| ۲۰ | د رشوت په کالو کي لمونځ کیږي اوکه نه؟ |
| ۲۰ | دامام په نیت ماتولو سره د مقتدي لمونځ فاسدیږي اوکه نه؟ |
| ۲۱ | په لمانځه کي درسته پښي په ښورولو سره لمونځ نه فاسدیږي |
| ۲۱ | هغه جومات چي د چا ملکیت نه وي په هغه کي لمونځ صحیح دی؟ |
| ۲۱ | څوك چي تر نامه لاندي وریښتان نه خریي دهغه لمونځ هم صحیح دی؟ |
| ۲۱ | څوك چي قرائت سم ولولي نو لمونځ صحیح دی د اوریدونکي اعتبار نسته |
| ۲۲ | د لمانځه په حالت کي رقص او نور داسي عملونه کول څنګه دي؟ |
| ۲۳ | د زکوت په پیسو په اخستل سویو جای نمازو لمونځ کول جائز دي اوکه نه؟ |

| مـضـمو ن | مخ |
|---|---|
| که مقتدي له امام سره د تلاوت سجده ونه کړي نو لمونځ يې کيږي اوکه نه؟ | ۲۳ |
| چي قراءت په داسي ډول وايي چي په خپله يې هم نه اوري نو لمونځ صحيح دی اوکه نه؟ | ۲۳ |
| که صرف دشك له وجهي سجده سهوه وکړي نو لمونځ به صحيح وي اوکه نه؟ | ۲۳ |
| دناقوس د غږيدلو په وخت کي لمونځ کول صحيح دي اوکه نه؟ | ۲۴ |
| که دلمونځ کوونکي مخ ته سپی يا کوم بل ځناور يا ښځه تير سي نولمونځ وسو اوکه نه؟ | ۲۴ |
| دپښو په ښورولو سره لمونځ نه فاسديږي | ۲۵ |
| د ناقوس په غږيدلو سره په لمانځه کي هيڅ فساد نه راځي | ۲۵ |
| د ښځي په محاذات کي د صحيح کيدلو مطلب | ۲۵ |
| که چيري سړی ښځه ښکل کړي يا ښځه سړی ښکل کړي په دي سره لمونځ فاسديږي اوکه نه ؟ | ۲۶ |
| پوسټ کارډ يا دتيلو بوتل چي په جيب کي وي نو لمونځ کيږي او که نه؟ | ۲۶ |
| د ږيري وريښته چي پري سوی وي، او په ږيره کي نښتی وي دهغه سره لمونځ کيږي | ۲۶ |
| که مسافر امام لمونځ پوره وکړي نو دمقيم مقتدي لمونځ نه کيږي | ۲۷ |
| د لمانځه په حالت کي د جومات له انګړ څخه دننه جومات ته په تللو سره لمونځ فاسديږي | ۲۷ |
| په مَجْرِيْهَا کي په اماله نه کولو سره لمونځ کيږي اوکه نه؟ | ۲۷ |
| د سيپ له تنهيو سره لمونځ کيږي اوکه نه؟ | ۲۸ |
| د قرائت د يوي برخي په پاته کيدلو سره لمونځ فاسديږي اوکه نه؟ | ۲۸ |
| کله چي د امام څه شی هير سي نو فتحه ورکول صحيح دي اوکه نه؟ | ۲۸ |
| کله چي امام فتحه وانه خلي نو دفتحه ورکوونکي لمونځ به فاسديږي اوکه نه؟ | ۲۸ |
| په روانه ګاډی کي لمونځ جائز دی اوکه نه؟ | ۲۸ |
| د غلط لوستونکي لمونځ صحيح دی او که غلط؟ | ۲۹ |
| دکومو اوبو مزدوري چي اوبه راوړونکي ته ور نه کړله سي نو په دغو اوبو اودس او لمونځ کول جائز دي؟ | ۲۹ |

| مـضـمو ن | مخ |
|---|---|
| په قومه او جلسه کی تعدیل | ۶۹ |
| د امام د رکعت دکموالي له وجي دټولو لمونځ فاسدیږي | ۶۹ |
| د فرضو په څلور سرو رکعتونو کي دسورت یو ځای کول لمونځ نه فاسدوي | ۷۰ |
| که مقتدي له امام سره رکوع ونه کړه نو هغه څه وکړي؟ | ۷۰ |
| دلمانځه په مینځ کي له سلام ګرځولو وروسته په خبرو کولو سره لمونځ فاسدیږي | ۷۰ |
| سجده سهوه درکعت ځای نیونکي نه ده | ۷۱ |
| چا چي لمونځ راوګرځوی دهغه لمونځ صحیح سو | ۷۱ |
| دهمزه اوسین په غلط ویلو سره لمونځ فاسدیږي اوکه نه؟ | ۷۱ |
| د فتحي دورکولو طریقه څنګه ده؟ | ۷۲ |
| چي امام التحیات پریږدي او پاځیږي نوپه التحیات ویلو سره وریادول څنګه دي؟ | ۷۲ |
| په سبحان الله فتحه ورکول له حدیث شریف څخه ثابت دي اوکه نه؟ | ۷۲ |
| سجدي ته دتللو په مهال په پرتاګه پورته کولو سره لمونځ فاسدیږي اوکه نه؟ | ۷۲ |
| چي د ماسختن فرض بي اودسه وکړي او سنت او وتر په اوداسه نو ایا سنت او وتر به هم بیرته راګرځوي اوکه نه؟ | ۷۲ |
| د سپرټ په پالش لمونځ کول صحیح نه دي | ۷۳ |
| د لاحق فتحه ورکول صحیح دي | ۷۳ |
| یواځي داواز دښایسته کولو لپاره په ټوخیدلو سره لمونځ فاسدیږي اوکه نه؟ | ۷۴ |
| که په ځنګل کي لمونځ کوونکی ستره جګه نه کړي نوچیری تیریدل پکار دی؟ | ۷۴ |
| دټوپك دغږ په اوریدلوسره چي د لمونځ کوونکي له خولي څخه (الا الله) ووزي نو لمونځ فاسدیږي اوکه نه؟ | ۷۴ |
| د جمعي په لمانځه کي فتحه ورکول صحیح دي اوکه نه؟ | ۷۵ |
| دویري په حالت کی دکجاوي لمونځ | ۷۵ |
| دکجاوي دریدل او لمونځ | ۷۵ |
| شپه او په کجاوه کی لمونځ | ۷۵ |
| دسهار لمونځ او کجاوه | ۷۵ |
| دماخستن لمونځ د عذرپه وجه ناوخته کول څنګه دي؟ | ۷۵ |

| مـضـمـو ن | مخ |
|---|---|
| ښځه چي د سړو په مينځ کي ودريږي څه حکم لري؟ | ۷۶ |
| څوك چي قرآن کريم ته ګوري او لمونځ کوي دا څه حکم لري؟ | ۷۶ |
| له اخري قعدي وروسته په السلام عليکم باندي فتحه ورکول څنګه دي؟ | ۷۷ |
| کوم مقتدي چي لومړی قعده وروستی قعده وګنی او فتحه ورکړي نوڅه حکم دی؟ | ۷۷ |
| په اسويلي کي په چيغه وهلو سره لمونځ فاسديږی اوکه نه؟ | ۷۷ |
| په دوه پوړيز ځای باندي لمونځ کول | ۷۷ |
| که امام په سجده کي وفات سي نو مقتد يان څه وکړي؟ | ۷۸ |
| په اوښ باندي لمونځ کول جائز دی اوکه نه؟ | ۷۸ |
| **د زلة القاري مسائل**: (يعني دقرائت ويونکي دتيروتنو مسئلې) | ۷۹ |
| د الينا په ځای علينا ووايي نو لمونځ يي کيږي اوکه نه؟ | ۷۹ |
| په قرائت کي چي (من الظلمات الي النور) اړولی ووايي | ۷۹ |
| د واجب مقدار له ويلو وروسته يي آيت پرېښودی دا څه حکم لري؟ | ۷۹ |
| که يو لفظ پاته سي | ۷۹ |
| چي د زير زور او پيښ غلطي وکړي نو څه حکم لري؟ | ۷۹ |
| د ثا په ځای د شين ويل څه حکم لري؟ | ۸۰ |
| چي د آية په ځای آيتنا ووايي نو څه حکم لري؟ | ۸۰ |
| انا د الف په اثبات سره | ۸۰ |
| دزير او زور غلطي او دلمانځه فساد | ۸۱ |
| کله چي امام له لږ لوستلو وروسته بند سي اوبيا مخ ته ولاړ سي څه حکم دی؟ | ۸۱ |
| ايا د امام په غلطي سره د حافظ مقتدي په لمانځه کي څه زيان راځي؟ | ۸۱ |
| چي آيت بدل ووايي څه حکم دی؟ | ۸۱ |
| په (قل هو الله) کي (الله الصمد) پريښودی نو لمونځ وسو اوکه نه؟ | ۸۲ |
| که دقرائت په مينځ کي يو لفظ پاته سي او معنی بدله نه سی نو هيڅ کراهت نسته | ۸۲ |
| له دريو آيتونو وروسته هم په لمونځ فاسدوونکو غلطيو سره لمونځ فاسديږی | ۸۲ |
| که چيري په قرائت کي کوم لفظ پاته سي نو لمونځ به وسي اوکه نه؟ | ۸۲ |
| قاف چي په کاف بدل کړي نو آيا لمونځ فاسد دی؟ | ۸۲ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| په صراط الذين باندی دسکوت کوونکی لمونځ نه فاسديږی | ۸۳ |
| دکريم پرځای يې په قرائت کی عظيم ووايه نوڅه حکم دی؟ | ۸۳ |
| دمد په ځای دزور او دزور په ځای دمد ويلو حکم | ۸۳ |
| د آيت د يوي برخي پاته کيدل چي معنی غلطه نه کړي څه حکم لري؟ | ۸۳ |
| د زينة په فتنة او دآذانهم په آثارهم سره دبدلولو حکم؟ | ۸۴ |
| د لفظ يا آيت د بدليدلو حکم | ۸۴ |
| د سورت زلزال يو آيت پاته سو، په دي صورت کي لمونځ وسو؟ | ۸۴ |
| د زورپه ځای دپيش ويلو حکم | ۸۴ |
| د سورت يوه برخه چي له لوستلو پاته سي څه حکم لري؟ | ۸۵ |
| چي په مينځ کي آيتونه پريږدي اومخ ته ولاړ سي نو څه حکم لري؟ | ۸۵ |
| له والعصر څخه چي والتين ته ولاړ سی نو لمونځ وسو اوکه نه؟ | ۸۵ |
| د (دهاقا) په ځای د (دحاقا) ويلو حکم | ۸۵ |
| د آيت د يوي برخي د بدلولو حکم | ۸۶ |
| د يکذبون په ځای يمسکون، او د يعلمون په تعقلون ويل څه حکم لري؟ | ۸۶ |
| د ډك توري تش ويلو حکم | ۸۶ |
| د عليهم دلام دکشولو حکم | ۸۶ |
| د غُنّي په ځای اظهار | ۸۶ |
| دنراد په لا نراد دبدلولو حکم | ۸۷ |
| په قتل داودُ جالوت يا په بل داسي آيت کي د اعراب غلطي | ۸۷ |
| د خير لك من الاولی په ځای د خير لك والاولی ويلو حکم | ۸۷ |
| دلفي پرځای دلا في ويلو حکم | ۸۸ |
| دذال په ځای دجيم ويلو حکم | ۸۸ |
| د ضاد په ځای ذال يا دزا په ځای ظا ويل په لمانځه فساد راولي اوکه نه؟ | ۸۸ |
| د غلط لوستلو اثر په لمانځه باندي | ۸۹ |
| دسندرو په ډول د قران کريم لوستل | ۸۹ |
| (فمن کان يرجو لقاء ربه) کي چي کان پاته سي څه حکم لري؟ | ۸۹ |
| دفالملقيات ذکرا په ځای فالمدبرات امرا ويل څه حکم لري؟ | ۹۰ |
| د ولا انتم عابدون په ځای چي ولا انتم تعبدون ووايي څه حکم لري؟ | ۹۰ |

| مخ | مضمون |
|---|---|
| ۹۰ | له دیارلسو ایتونو ویلو وروسته دیوه لفظ پاته کیدل |
| ۹۱ | الف ممدوده او مقصوره چي د غني په ډول ووایي لمونځ کیږي؟ |
| ۹۱ | دضاد په ځای سهواً ظا ووایي |
| ۹۱ | دشین په ځای د سین ویل |
| ۹۲ | په قرائت کي له غلطي کولو سره لمونځ کیږي اوکه نه؟ |
| ۹۲ | ایا په سورت فاتحه کي په وقف اونه وقف کولو سره دشیطان نوم جوړیږي؟ |
| ۹۲ | دسمع الله لمن حمده ادا کول |
| ۹۲ | لمونځ ماتوونکي غلطیاني: |
| ۹۲ | ترتیل |
| ۹۳ | لا اعبد دلا په حذف سره ویل |
| ۹۳ | دزیر په ځای زور ویل |
| ۹۳ | چي دوه آیته ووایی نو لمونځ وسو؟ |
| ۹۳ | په قراءت کي د یوه سورت له یوي برخي ویلو وروسته بل سورت ته ولاړی |
| ۹۴ | دضاد مخرج کم دی؟ |
| ۹۴ | په قراءت کی چی د قرائت په مینځ کي څه برخه پاته سي |
| ۹۵ | په لمانځه کي دضاد څرنګه لوستل ښایي |
| ۹۵ | د لحافظون په ځای د لنافظون لوستل |
| ۹۵ | د ضاد کوم مخرج دی او څوك چي دال معجم (ذال) وایي دهغه امامت درست دی اوکه نه؟ |
| ۹۶ | **دوهم فصل**: دلمانځه مکروهات |
| ۹۶ | زیارت یا قبر ته مخامخ لمونځ کول څنګه دي؟ |
| ۹۶ | سجدي ته د تللو په مهال پرتوګ پورته کتول ښه نه دي؟ |
| ۹۷ | دبل چا په کښت کي بي اجازي لمونځ |
| ۹۷ | دعاجزی په طور لوڅ سر لمونځ کول |
| ۹۷ | تولیه یا دسمال تړل او لمونځ ورکول |
| ۹۸ | په لمانځه کي دځینو آیتونو په ختم باندي دعا او دهغه حکم |
| ۹۸ | د امام لپاره په داسي آیتونو دریدل |
| ۹۸ | ایا په دي سره اشتغال په غیر دقرآن کي نه راځي |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| دا اشتغال لمونځ فاسدوي اوکه نه؟ | ۹۸ |
| که کراهت وي نو اعاده يي واجبه ده؟ | ۹۹ |
| په امامانو رحمهم الله کی دا دچا مذهب دی؟ | ۹۹ |
| يواځي په خولی سره لمونځ مکروه دی؟ | ۹۹ |
| ديوه لاس په اشاره ړوند قبلي ته برابرول څنګه دي؟ | ۹۹ |
| که څوك دروازې په ځان پسي بندي کړي پرلمانځه ودريږي او له بهره څوك راسی او شور جوړ کړی نو څه کړی؟ | ۱۰۰ |
| که دلمانځه په اوږدو کي انسان يا حيوان حمله وکړي؟ | ۱۰۰ |
| که دلمونځ کوونکي لنګ يا پرتوګ پرانستل سي په دواړو لاسو پورته کول يي څنګه دی؟ | ۱۰۱ |
| د هوسۍ په رنګ رنګ سوي څرمن او جای نماز | ۱۰۱ |
| لوڅي څنګلي لمونځ او کراهت | ۱۰۲ |
| له غلا سوي رخت څخه جوړه خولی او په هغي کی لمونځ کول | ۱۰۲ |
| لمونځ کوونکي ته دپيك وهل او دهغه په دي کار خوښيدل | ۱۰۲ |
| دلمونځ کوونکي مخ ته د تيريدلو حد | ۱۰۲ |
| په لمانځه کي دتندي خاوره څنډل | ۱۰۳ |
| له فوجي خولی سره لمونځ | ۱۰۳ |
| په جيب کي درشوت روپی او لمونځ کول | ۱۰۳ |
| په لمانځه کي دماشوم او يا بل چا تصور کول څنګه دي؟ | ۱۰۴ |
| له سلام ګرځولو وروسته له دعا مخکي مقتدي تللای سي اوکه نه؟ | ۱۰۴ |
| د غلط لمونځ کوونکي اصلاح | ۱۰۴ |
| په لمانځه کي پرځان څادر يا کمبله تاوول | ۱۰۵ |
| د زور اوزير غلطي او فتحه ورکول | ۱۰۵ |
| په مينځ کی کوچنی سورت پرېښودل مکروه دی | ۱۰۵ |
| له اړتيا پرته سجدي ته د تللو په مهال پرتوګ پورته کول خلاف ادب دي | ۱۰۶ |
| فتحه بايد څه وخت ورکړله سي؟ | ۱۰۶ |
| له لمن نه لرونکي قميص سره لمونځ | ۱۰۶ |
| که يو سورت هير سي بل بايد شروع کړي | ۱۰۶ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| د جومات د لمر لويدو لورته قبرونه | ۱۰۷ |
| په ولايتي کالو کی لمونځ | ۱۰۷ |
| دلمونځ کوونکي ته مخامخ پرېوتل | ۱۰۷ |
| له تمباکو سره لمونځ کول؟ | ۱۰۷ |
| په لمانځه کي په مکرر ډول پرېوګ پورته کول ښه نه دي | ۱۰۸ |
| په سجده کي پښې بې ځایه کول | ۱۰۸ |
| چې د سر مينځ لوڅ وي لمونځ کيږي | ۱۰۸ |
| په لمانځه کی ځنګله لوڅه ساتل | ۱۰۸ |
| جالی داره خولی او لمونځ | ۱۰۹ |
| په لمانځه کی سترګی پټول | ۱۰۹ |
| دشك په بناء دلمانځه بيا راګرځول ضروري نه دي | ۱۰۹ |
| له ترتيبه مخالف قراءت مکروه دی | ۱۰۹ |
| په لومړي رکعت کی والضحی او په دوهم کي د والتين ويل | ۱۰۹ |
| دطلا يا وريښمو په کالو کی لمونځ | ۱۱۰ |
| لمونځ کوونکي ته مخامخ کښيناستل | ۱۱۰ |
| چي امام پرفرش وي او مقتدي پر جای نماز وي نو لمونځ کيږي اوکه نه؟ | ۱۱۰ |
| په ساړی کي دښځو لمونځ | ۱۱۱ |
| دناپاکه حيوان له وازګي سره لمونځ | ۱۱۱ |
| په لمانځه کي د فاسق اقامت | ۱۱۱ |
| په لمانځه کی ناړی يا بل څه تُف کول | ۱۱۱ |
| د ځاځکو له ويري پر ځانګړي اندام (ذکر) باندي جامه پيچل لمانځه ته زيان رسوي اوکه نه؟ | ۱۱۱ |
| مرور بين الصفين | ۱۱۲ |
| دشيعه ګانو په جومات کي لمونځ | ۱۱۲ |
| په لمانځه کی له پزي اواز ايستل | ۱۱۲ |
| په هيره سره دغير مرتب قرآئت حکم | ۱۱۳ |
| دجومات پرچت باندي لمونځ مکروه دی | ۱۱۳ |
| په فرضو کي دآيتو په تکرارولو سره نقصان راځي اوکه نه؟ | ۱۱۳ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| په اشاره کولو په لمانځه کې خرابي نه راځي | ۱۱۳ |
| دجومات تنبې چي دخراب محفل لپاره ورکړل سي بيا يې په جومات کي لګول ښنګه دي؟ | ۱۱۳ |
| د راتلونکو لپاره لمونځ اوږدول | ۱۱۴ |
| په اشاره کولو لمونځ نه فاسديږي | ۱۱۴ |
| د وسوسي له امله نيت ماتول ښه نه دي | ۱۱۵ |
| دوسوسي علاج | ۱۱۵ |
| په يوه ځای کي د دوو سړياو دځانته ځانته لمونځ کولو حکم | ۱۱۵ |
| دښځي په مخامخ راتللو لمونځ نه فاسديږي | ۱۱۵ |
| په قرائت کی بنديدل اوبيا راګرځول | ۱۱۶ |
| فتحه ورکول صحيح دي | ۱۱۶ |
| دپښي په ښورولو لمونځ نه فاسديږي | ۱۱۶ |
| په لمانځه کي سر ښورول او يوي او بلي خواته کيدل منع دی | ۱۱۷ |
| په پاکو چپلکو کی لمونځ روا دی | ۱۱۷ |
| دلمونځ نه کوونکي فتحه ورکول | ۱۱۷ |
| له پګړی پرته لمونځ مکروه نه دی | ۱۱۸ |
| دلمانځه په اوږدوکي دنخود په اندازه شی له خولي را ايستل ښنګه دي؟ | ۱۱۸ |
| له نوي چپلکو او جامي سره لمونځ | ۱۱۹ |
| دامام په لوړ ځای او محراب کي دريدل مکروه دي | ۱۱۹ |
| له لوڅو ښنګلو سره لمونځ مکروه دی | ۱۲۰ |
| د چپني په لستوڼو کي دلاسونو نه داخلول په لمانځه کي مکروه دي | ۱۲۰ |
| په کټ باندي لمونځ کول روا دي | ۱۲۰ |
| هغه چپلۍ چی تلی يې ناپاك وي | ۱۲۰ |
| په ناپاکه ښپليو کي دنه جواز او پر ناپاکه مځکه دکالي له غوړولو وروسته د جواز وجه | ۱۲۱ |
| دجومات په صحن (غولی) کی باجماعت لمونځ | ۱۲۱ |
| دباد دايسارولو سره لمونځ؟ | ۱۲۱ |
| د نصرانيانو مستعمل کالي | ۱۲۲ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| په وريښمينو كالوكى لمونځ | ۱۲۲ |
| له بجلكو ځخه په كښته پرتوګ كى لمونځ | ۱۲۳ |
| په محراب كى لمونځ جائز دى اوكه نه؟ | ۱۲۳ |
| په منقش جاى نماز لمونځ كول | ۱۲۳ |
| په خيرنو كالو كى دلمونځ كولو حكم | ۱۲۳ |
| په وركشاپ كي سره له ممانعته لمونځ كول څه حكم لري؟ | ۱۲۴ |
| د لمونځ كوونكو دډيروالي له امله دامام لپاره په دروازه كي ددريدلو حكم | ۱۲۴ |
| دمرغه پر انځور بله جامه غوړول او لمونځ كول څه حكم لرى؟ | ۱۲۴ |
| په څپليو كي لمونځ جائز دى اوكه نه؟ | ۱۲۵ |
| دلمانځه ځخه په وروسته دعا كي د دَارَكَ لفظ اضافه كول څنګه دي | ۱۲۵ |
| تر جماعت وروسته څنګه دعا كول پكار دى؟ | ۱۲۵ |
| د چايو له څښلو اودپان له خوړلو وروسته دخولي نه مينځل او لمونځ كول | ۱۲۶ |
| چي امام څوك وژني مقتديان به لمونځ ماتوي اوكه نه؟ | ۱۲۶ |
| تر پنډۍ كښته پرتوګ او لنګ | ۱۲۶ |
| له وريښمين پرتوګانښ سره لمونځ | ۱۲۷ |
| په حكومتي كاغذ يا بكس باندي لمونځ كول څنګه دي؟ | ۱۲۷ |
| كمه چارپايى چي دلمونځ كوونكي مخ ته ايښى وي څه حكم لري؟ | ۱۲۷ |
| د څلورو انو نقصان دليري كولو دپاره لمونځ ماتول څنګه دي؟ | ۱۲۸ |
| چي دجومات داخل ډك وي په دروازو كي دريدل جواز لري اوكه نه؟ | ۱۲۸ |
| د سروزرو په سلۍ كي لمونځ مكروه دى | ۱۲۸ |
| له لړ لوستلو وروسته چي له امام ځخه قرائت هير سي نو څه وكړي؟ | ۱۲۹ |
| ايا په دي صورت كه له سره شروع وكړي؟ | ۱۲۹ |
| په پورتني صورت كي د لمانځه په ماتولو ټينګار غلط دى | ۱۲۹ |
| د يَتْرُكُهَا څه معنى ده | ۱۲۹ |
| دلمونځ كوونكى مخ ته تيريدل | ۱۳۰ |
| ترلمانځه وروسته په زوره كلمه ويل | ۱۳۱ |
| په تصوير لرونكو كالو كى لمونځ | ۱۳۱ |
| چي شمله اوږده وى نو لمونځ مكروه تحريمى ګرځى؟ | ۱۳۱ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| په وریښمنه جامه کي سوی لمونځ | ۱۳۲ |
| خیرني جامي په ثیاب بذله کي داخلی دي او که نه؟ | ۱۳۲ |
| ترلمانځه وروسته چپه لوري ته په را گرځیدلو سره دعا کول څنگه دي؟ | ۱۳۳ |
| په لمانځه کي درحمت عالم (ﷺ) خیال ته راتلل او راوستل | ۱۳۳ |
| په محراب کی یواځي لمونځ | ۱۳۳ |
| په محراب کی امامت کول | ۱۳۳ |
| دمقتدي لمونځ په محراب کی | ۱۳۳ |
| امام څومره لوړ امامت کولای سي؟ | ۱۳۳ |
| امام څومره لوړ دریدای سي؟ | ۱۳۴ |
| په قصد سره دمکروه ارتکاب | ۱۳۴ |
| دیوه مولوی فتوی | ۱۳۴ |
| په څومره لوړ ځای سجده کولای سي؟ | ۱۳۴ |
| له امام څخه دمقتدي لوړ دریدل: | ۱۳۴ |
| چی امام یوه لوېشت لوړ ولاړ وي | ۱۳۴ |
| تکبیرونه او سلام تر امام مخکي ختمول څه حکم لري؟ | ۱۳۴ |
| له امام څخه مخکي رکوع او سجده | ۱۳۴ |
| دخوب غلبه اوپه امام پسي لمونځ | ۱۳۴ |
| مقتدی ته تر امام مخکي سلام گرځول | ۱۳۴ |
| دخوب دغلبي په مهال لمونځ وکړي؟ | ۱۳۵ |
| په لمانځه کي خارښت او دهغه گرول | ۱۳۵ |
| دقومي په اطمینان سره دنه کولو حکم | ۱۳۵ |
| دنکریزو لگول او لمونځ | ۱۳۵ |
| له بندو موټانو سره لمونځ کول | ۱۳۵ |
| په مقبره کي لمونځ کول روادي او که نه؟ | ۱۳۸ |
| دباد په ایسارولو سره لمونځ کول | ۱۳۸ |
| لمونځ کوونکي ته مخامخ دپیپل درخته | ۱۳۸ |
| دمتیازو ایسارول اوپه جمعه کي گډون | ۱۳۸ |
| دچا په جیب کي چي روپی وي د هغه لمونځ کیږي | ۱۳۸ |

| مـضـمو ن | مخ |
|---|---|
| له وریښمو اوسرو زرو سره لمونځ | ۱۳۹ |
| له تعدیل الارکان څخه خالي لمونځونه | ۱۳۹ |
| په محراب کي دامام دریدل | ۱۳۹ |
| دلمونځ کوونکي مخ ته لمونځ کوونکی که ژر فارغ سي تللای سي؟ | ۱۴۰ |
| **دمسجد مسائل**: | ۱۴۰ |
| دجومات دروازه بندول څنګه دي؟ | ۱۴۰ |
| په داسی مسجد کي لمونځ درست دی اوکه نه؟ | ۱۴۱ |
| دجومات په دوهم منزل کي لمونځ | ۱۴۱ |
| دکور په خوا کي دوه جماتونه دي په کم یوه کي لمونځ کول پکار دي؟ | ۱۴۲ |
| **اتم باب**: **دوترو او نوافلو په بیان کي** | ۱۴۲ |
| **لومړی فصل**: دوترو مسائل | ۱۴۲ |
| د رکوع نه کوونکي مقتدي لمونځ | ۱۴۲ |
| دیوه لمونځ کوونکي دقنوت دعا هیره سوه بیا ور په زړه سوه اوسجده سهوه یې وکړه نوڅه حکم دی؟ | ۱۴۲ |
| که څوك وتر دسنتو په نیت وکړي نوڅه حکم دی؟ | ۱۴۳ |
| که څوك فرض په جمعه ونه کړي وتر په جمعه کولای سي؟ | ۱۴۳ |
| ملحق د حاء په زور او زیر دواړو سره صحیح دی | ۱۴۳ |
| په وترو کي درفع الیدین په هکله یو ناسم شهرت | ۱۴۴ |
| امام قنوت ختم کړه اورکوع یې وکړه دمقتدي قنوت ختمه نه ده څه به کوي؟ | ۱۴۴ |
| که د ماسخوتن په جمعه کي څوك شریك نه سي وتر په جمعه کولای سي | ۱۴۴ |
| دوترو په هکله دیوه عبارت مطلب | ۱۴۵ |
| دوترو نیت | ۱۴۶ |
| څوك چي قنوت پریږدي اورکوع ته ولاړ سی | ۱۴۶ |
| په وترو کي له رکوع څخه مخکي لاسونه پورته کول، او دعاء قنوت په حدیث کی | ۱۴۶ |
| چي وتر ختم کړي نو سبحان الملك القدوس به کله وایي ؟ | ۱۴۷ |
| دوترو په جماعت کی به مسبوق قنوت په کوم رکعت وایي ؟ | ۱۴۷ |
| سورت اخلاص ددعاءِ قنوت پر ځای | ۱۴۷ |

| مخ | مضمون |
|---|---|
| ۱۴۸ | دوترو امامت دفرض لمانځه له امامه پرته بل څوك كولای سي؟ |
| ۱۴۸ | په وترو كي له دوو ركعتو بعد قعده |
| ۱۴۸ | ايا دقنوت دعا يواځي دوترو لپاره ده؟ |
| ۱۴۸ | دوترو قعده له نبي ﷺ څخه ثابته ده |
| ۱۴۹ | دوترو نيت به ديوه ركعت وي اوكه ددرو ركعاتو |
| ۱۴۹ | دوترو په دريم ركعت كي هغه ګډون كوونكی چي قنوت له امام سره ووايي، او هغه چي قنوت ورڅخه تير سي څه به كوي؟ |
| ۱۴۹ | دوترو په نيت كي واجب الليل ويل |
| ۱۴۹ | نيم سورت پريښودل څنګه دي؟ |
| ۱۵۰ | په وترو كي په هيره له دعا څخه مخكي ركوع كول |
| ۱۵۰ | د مقتدي لخوا امام ته وريادول |
| ۱۵۰ | كله چي له امام څخه يوه سجده هيره سي |
| ۱۵۰ | چي د قنوت دعا ورته ياده وي نو بله دعا لوستلای سي؟ |
| ۱۵۱ | په حديثو كي ددعاءِ قنوت اثبات |
| ۱۵۱ | دقنوت له دعا څخه مخكي دلاسونو دپورته كولو وجه |
| ۱۵۱ | د ادا كولو په مهال وترو ته واجب ويل |
| ۱۵۱ | دقنوت په دعا كي ملحق په زير دحاء سره |
| ۱۵۲ | له قنوت څخه مخكي درفع اليدين ثبوت |
| ۱۵۲ | له وترو وروسته سبحان الملك القدوس او دلوی اختر لمانځه ته دتللو په وخت كي الله اكبر په زوره نه ويلو حكم |
| ۱۵۳ | كه دعايي قنوت ورته ياده نه وي نو څه وكړي؟ |
| ۱۵۳ | تهجد كوونكی له فرضو سره وتر ادا كولای سي اوكه نه؟ |
| ۱۵۳ | دقنوت په دعا كي تكبير او لاس پورته كول |
| ۱۵۴ | له دعا څخه مخكي ركوع ته ولاړی له وريادېدلو وروسته يي دعا وكړه او بيا يي ركوع وكړه، څه حكم دی؟ |
| ۱۵۴ | دوترو ددريو ركعتو په يوه سلام سره اوپه رمضان كي له جمعي سره جواز |
| ۱۵۴ | هغه سړی چي دماخستن لمونځ په جمعه ونه كړي دوترو امام جوړېدلای سي؟ |
| ۱۵۵ | په وترو كي مسبوق ته له امام سره دقنوت دعا ويل كافي دي |

| مخ | مضمون |
|---|---|
| ۱۵۲ | وتر واجب دي موافق او مخالف د لائل |
| ۱۷۴ | **دوهم فصل**: دقنوت نازله مسائل |
| ۱۷۴ | ايا قنوت نازله دسهار په لمانځه كي صحيح ده؟ |
| ۱۷۵ | قنوت نازله |
| ۱۷۵ | په قنوتِ نازله كي به لاسونه تړي اوكه نه؟ |
| ۱۷۶ | داحنافو په نزد قنوت نازله له لمانځه څخه وروسته ده اويوازي دسهار په لمانځه كي ده |
| ۱۷۷ | دقنوت نازله پرمهال به لاسونه ايله وي او مقتديان به امين كرار وايي |
| ۱۷۷ | قنوتِ نازله په مابنام او ماخستن كي |
| ۱۷۸ | دطرابلس دجنګ لپاره قنوت نازله |
| ۱۷۸ | دايټاليا دجنګ په موقع دقنوت دعا |
| ۱۷۹ | قنوت نازله دسهار په لمانځه كي |
| ۱۷۹ | قنوت نازله جائز ده اوكه نه؟ او كه جائز وي نو ولي؟ |
| ۱۸۱ | قنوت نازله په ټولو جهري لمونځونو كي ده اوكه يواځي دسهار په لمانځه كي دقنوت نازله جواز او ثبوت |
| ۱۸۲ | قنوت نازله په ټولو لمونځونوكي درسته ده اوكه په مخصوصو لمونځونو كي |
| ۱۸۲ | **دريم فصل**: سنت مؤكده او غير مؤكده |
| ۱۸۲ | دمؤكدو سنتو مسئلې |
| ۱۸۲ | دسهار دجمعي په مهال به سنت چيري كوي؟ |
| ۱۸۳ | په صفونو كي دسنت كولو اجازه نسته |
| ۱۸۳ | دسنتو اوفرضو په مينځ دنياوي خبري |
| ۱۸۳ | دجومات په داخلي برخه كي دجماعت په مهال بهر دسنتو دجواز دليل |
| ۱۸۴ | كه چا دڅلورو ركعتو نيت مات كى نو بيا پرهغه باندي څلور ركعته واجب دي |
| ۱۸۴ | دماپښين سنت چي دفرضو لپاره په دوو ركعتو ختم كړل سول له فرضو وروسته به څلور ركعته كوي؟ |
| ۱۸۴ | دماپښين دجمعي په وخت كي راغلى سړى به مخكني سنت كله كوي؟ |
| ۱۸۴ | كه دسهار سنت پاته سي كله به يې كوي؟ |
| ۱۸۵ | كه دجُمعي مخكني سنت پاته سي؟ |

| مـضـمو ن | مخ |
| --- | --- |
| دسهار سنت تر کومه وخته کولای سي؟ | ۱۸۵ |
| له ماپښين ماښام او ماخستن څخه وروسته نوافل | ۱۸۵ |
| دسهار سنت له فرضو وروسته تر لمر راختلو مخکي جائز دي اوکه نه؟ | ۱۸۶ |
| چي ديوه رکعت جُمعي دنيولو أميد يي وي دسهار سنت وکړي اوکه يي پريږدي؟ | ۱۸۶ |
| دسنتو په نيت کي سنت درسول الله ﷺ ويل څنګه دي؟ | ۱۸۷ |
| دمؤکدو سنتو پرينښودل صحيح نه دي | ۱۸۷ |
| سنت په کور کي کول | ۱۸۷ |
| له ماښامه وروسته سنتونه | ۱۸۷ |
| له فرائضو وروسته سنت فوراً کول ښايي او که تاخير هم کولای سي؟ | ۱۸۷ |
| دماپښين دڅلورو رکعتو دسنتو حيثيت دفرضو دادا کولو څخه وروسته | ۱۸۸ |
| دسنتو په نيت کی دفرضو نوم اخستل | ۱۸۹ |
| سنت په کور کي کول غوره دي | ۱۸۹ |
| له فرضو وروسته او له سنتِ مؤکده ؤ څخه مخکي تسبيحات | ۱۸۹ |
| دماپښين له فرضو وروسته دڅلورو رکعتونو معمول څنګه دی؟ | ۱۹۰ |
| له فرضو وروسته په سنتو کي ځنډ تر کومه حده جائز دی؟ | ۱۹۱ |
| له فرضو وروسته سنت په کور کي وکړي اوکه په جومات کي؟ | ۱۹۱ |
| له فرضو او نوافلو وروسته دعا انفراداً اوکه اجتماعاً ؟ | ۱۹۱ |
| په دوه شُفع لرونکو سنتو کي قرائت | ۱۹۲ |
| امام ته له محرابه څخه ليري سنت کول او ددې وجه | ۱۹۲ |
| که يي له جُمعي څخه مخکي سنت نه وکړای سول نوڅه وکړي؟ | ۱۹۲ |
| دسنتو او فرضو په مينځ کي دنياوي خبري دثواب دکموالي لامل دی | ۱۹۳ |
| دسهار سنت چي پاته سي هغه به کله کوي؟ | ۱۹۲ |
| دسهار او ماښام په سنتو کي پرسورةِ کافرون او اخلاص دهميشه والي حکم | ۱۹۳ |
| که دسهار سنت له فرضو وروسته وکړي نو څه حرج دی؟ | ۱۹۴ |
| نفل په ناسته کول غوره دي که په ولاړه؟ | ۱۹۴ |
| آيا جومات ته له رسيدلو وروسته به اول کښيني بيا به سنت کوي؟ | ۱۹۴ |
| په ناسته دنفل کولو ثواب سته اوکه نه؟ | ۱۹۵ |

| مـضـمـو ن | مخ |
|---|---|
| صلوة الاوابين | ۱۹۵ |
| له وترو وروسته نفل په ناسته دي اوکه په ولاړه؟ | ۱۹۶ |
| له وترو مخکي او وروسته نوافل | ۱۹۶ |
| له اقامت څخه وروسته دسهار سنت کله پوره کولای سي؟ | ۱۹۷ |
| **دغير مؤكدو سنتونو مسئلې**: | ۱۹۷ |
| له وترو وروسته نوافل صحيح دي | ۱۹۷ |
| په رمضان کي دتهجد جماعت | ۱۹۸ |
| دنورو نوافلو جماعت | ۱۹۸ |
| له رمضان څخه وروسته دتهجدو او نوافلو جماعت | ۱۹۹ |
| په رمضان کي په رابللو سره دنفلو جماعت | ۱۹۹ |
| دتداعي او کراهت تفصيل | ۱۹۹ |
| له رمضانه پرته دوترو جماعت | ۱۹۹ |
| په رمضان کي په جمعه سره تهجد | ۱۹۹ |
| په رمضان کي په تهجدو کي ددوو يا دريو سړو يو ځای کيدل | ۱۹۹ |
| دقدر، برات او معراج په شپه نوافل | ۲۰۰ |
| دشپي اته رکعته نفل په يوه سلام سره | ۲۰۱ |
| نفل په لازمولو سره نه لازميږي | ۲۰۱ |
| دفرائضو دنقصان جبر په نفلو سره کول | ۲۰۱ |
| له سکيني څخه مراد څه شی دی؟ | ۲۰۱ |
| له اتو څخه دډيرو نفلو نيت مکروه تحريمي دی که تنزيهي؟ په عيدگاه کي نفل لمونځ اوپه جومات کي دننه اوبهر څه حکم لری؟ | ۲۰۲ |
| سنت او نوافل په کورکي غوره دي او د عذر له امله په جومات کي هم غوره دي | ۲۰۲ |
| داوابين لمونځ دتهجدو رکعتونه او تراويح | ۲۰۳ |
| نفل په جمعه جائز دي اوکه نه؟ | ۲۰۴ |
| له تراويحو وروسته د نفلو جماعت | ۲۰۴ |
| په کم ځای کی چی فرض وکړی دهغه څخه په بيل ځای کی نفل کول پکار دی | ۲۰۵ |
| دماسخوتن له سنتو وروسته نفل کول | ۲۰۶ |

| مخ | مضمون |
| --- | --- |
| | دمازدیگر او ماپښین دمخکنیو سنتو په لومړی قعده کي درود او دعا ووایی |
| ۲۰۶ | اوکه یوازي التحیات |
| ۲۰۶ | تر وترو وروسته نفل به څنګه کوي؟ |
| ۲۰۷ | دجمعي په ورځ دغرمي نفل څنګه دي؟ |
| ۲۰۷ | دعشق لمونځ |
| ۲۰۸ | نفل کوونکی به دبل چا په زوره دقرآن ویلو له امله نفل نه پرېږدي |
| ۲۰۹ | په نوافلو کی اوږد قراءت |
| ۲۰۹ | نفل په شروع کولو واجبیږي، که شروع سمه وي |
| ۲۰۹ | دماسخوتن دلمانځه څخه مخکي څلور سنت |
| ۲۱۰ | تحیة المسجد به څه وخت کوي؟ |
| ۲۱۰ | صلوة الاوابین او دهغه تحقیق |
| ۲۱۱ | له ماسخوتنه څخه مخکي دڅلورو سنتونو تحقیق |
| ۲۱۱ | له لمانځه څخه وروسته په مروجه دعا کي شرکت خلاف سنت دی |
| ۲۱۲ | دسنتِ مؤکده اوفرضو په مینځ کی نفل |
| ۲۱۲ | له مازدیګر څخه مخکي څلور مستحب |
| ۲۱۳ | دقضا سویو لمونځونو په ځای سنت اونفل دریدلای سي اوکه نه؟ |
| ۲۱۳ | په سنتو کی قرآءتِ جهري بهتر دی که سرّي؟ |
| | دماپښین، ماښام او ماخستن څخه وروسته نوافل په پابندي سره کول ضروري |
| ۲۱۳ | دي اوکه کله کله یې پرېښوول هم پکار دی |
| ۲۱۴ | **څلورم فصل**: دتراویحو مسائل |
| ۲۱۴ | دتراویحو رکعتونه |
| | په جامع جومات کي له تراویحو سره سره دڅنګ په جومات کي هم تراویح |
| ۲۱۵ | صحیح دي |
| ۲۱۵ | دکلي خلګو ته ویل چي په خپل جوماتونو کي تراویح کوئ، څنګه دي؟ |
| ۲۱۶ | دتراویحو رکعتونه او ابن همام رحمه الله |
| ۲۱۷ | له تراویحو وروسته په لوړ اواز سره ددرود اوسلام ثبوت نسته |
| ۲۱۸ | تراویح شل رکعته دي |
| ۲۱۸ | که یې دمعاوضي نیت وي او په ژبه ونه وایي ایا په دې صورت کي هم معامله |

| مضمون | مخ |
| --- | --- |
| ناجائز ده | ۲۱۸ |
| دخومره عمر هلك تراويح وركولای سي؟ | ۲۱۸ |
| په تراويحو كي دقران كريم ختم سنت دي | ۲۱۹ |
| په تراويحو كي مناجات درست دی اوكه نه؟ | ۲۱۹ |
| په تراويحو كي دقرآن په اوريدلو سره دقرآن ثواب رسيږی اوكه نه؟ | ۲۲۰ |
| ايا شيعه حافظ په جماعت كي په شريكيدلو سره فتحه وركولی سي؟ | ۲۲۰ |
| په تراويحوكي تر والضحی وروسته دهر سورت په ختميدلو الله اكبر ويل | ۲۲۱ |
| په كوركي دننه په تراويحو كي دمحرمو او غيرِ محرمو ښځو اقتداء | ۲۲۱ |
| دتراويحو په لومړي ركعت كي بل سورة او په وروستي كي سورةِ اخلاص ويل ښنګه دي؟ | ۲۲۱ |
| په كور كي په جمعه سره تراويح كول | ۲۲۲ |
| تيري سوي تراويح به څه وخت كوي؟ | ۲۲۲ |
| په نابالغ پسي تراويح صحيح نه دي | ۲۲۳ |
| دنابالغه امامت په تراويحو كي صحيح نه دی | ۲۲۳ |
| دتراويحو له لمانځه او له وترو وروسته دعا ثابته ده اوكه نه؟ | ۲۲۳ |
| تهجد او تراويح له نبي ﷺ څخه ثابتي دي اوكه نه؟ | ۲۲۳ |
| په تهجد او تراويحو كی دوعظ رواج څنګه دی؟ | ۲۲۴ |
| دتراويحو په اړوند يو څو پوښتني؟ | ۲۲۴ |
| دتراويحو دپرېښوونكی حكم | ۲۲۵ |
| په يوه شپه كي قرآن كريم ختمول | ۲۲۵ |
| دتراويحو په هر ركعت كي سورةِ اخلاص ويل | ۲۲۵ |
| دحافظ د زورولو لپاره دتراويحو په مهال شور او غالمغال جوړول جائز نه دی | ۲۲۶ |
| قران كريم دومره تيز لوستل پكار نه دي چي په پوهه كي نه راځي | ۲۲۶ |
| دهيريدلو له امله په پټه خوله فكر كول څنګه دي؟ | ۲۲۶ |
| دهيريدلو په مهال له يوي او بلي خوا ويل | ۲۲۶ |
| په تراويحو كي په غلطه فتح وركولو سره پريشانه كول او زورول | ۲۲۷ |
| دفتحي وركولو لپاره نيت تړل او بيا ماتول | ۲۲۷ |
| دتراويحو په مهال په پروتي خبري كول | ۲۲۷ |

| مـضـمو ن | مخ |
|---|---|
| يو حافظ په دوو جوماتو كې تراويح وركوي | ۲۲۸ |
| دقرآن كريم په ختم كې له آلـم څخه تر مفلحون پورې لوستل مستحب دي | ۲۲۸ |
| تيرې سوې تراويح له وترو وروسته كولای سی | ۲۲۹ |
| په تراويحو مسنون قرآءت | ۲۲۹ |
| دلس لس ركعته په دوو جوماتونو كې امامت كول | ۲۳۰ |
| دښځې دپردې تر شا په سړي پسې اقتداء څنګه ده؟ | ۲۳۰ |
| په څلورو ركعتو تراويحو كې لومړی قعده ونه كړه؟ | ۲۳۰ |
| بسم الله په تراويحو كې جهرا ويل څنګه دي؟ | ۲۳۰ |
| په ترويح كې تسبيحات پټ ويل ښه دي | ۲۳۱ |
| په تراويحو كې دخوښی له امله حافظ ته نذرانه وركول څنګه دي؟ | ۲۳۱ |
| آيا په تراويحو كې په هر سورت كې بسم الله په جهر ويل پكار دي؟ | ۲۳۲ |
| په ختمِ قرآن كې نور آيتونه لوستل څنګه دي؟ | ۲۳۳ |
| دښځو لپاره دتراويحو جماعت | ۲۳۳ |
| تريوې مياشتې كم دپنځلسو كلو دهلك امامت په تراويحو كې څنګه دی؟ | ۲۳۳ |
| په ترويحه كې په لوړ اواز سره صلوٰة ويل | ۲۳۴ |
| په تراويحو كې ددوو دوو ركعتو نيت كول پكار دي | ۲۳۴ |
| په تراويحو كې دتلاوت سجده په ركوع كې ادا كيږي اوكه نه؟ | ۲۳۴ |
| بسم الله په زوره لوستل څنګه دي؟ | ۲۳۵ |
| كه دتراويحو لمونځ دڅلورو ركعتو په نيت وكړل سي بيا دقعدهٔ اولی او ددرود څه حكم دی؟ | ۲۳۵ |
| په ديرش كلن پسې تراويح بې كراهته صحيح دي | ۲۳۵ |
| په تراويحو كې داتو ركعتو حديث غوره دی اوكه د شلو؟ | ۲۳۶ |
| په دوكانو كی تراويح كول څنګه دي؟ | ۲۳۶ |
| دچا چې تراويح پاته وې هغه دې لومړی وتر په جمعه وكړي بيا دې تراويح وكړي | ۲۳۶ |
| تر تراويحو اوختم وروسته دعا كول | ۲۳۷ |
| په هره ترويحه كې دعا مسنونه ده كه مستحب | ۲۳۷ |
| چې څوك دشرعي عذر له امله روژه نه نيسي هغه به تراويح كوي اوكه نه؟ | ۲۳۸ |

| مـضـمـو ن | مخ |
|---|---|
| نبي ﷺ څو رکعته تراويح کړيدي؟ | ۲۳۸ |
| په ترويحه کي نصيحتونه اورول | ۲۳۸ |
| په تراويحو کي دختم په مهال له آلم څخه تر مفلحون وروسته نور آيتونه لوستل | ۲۳۹ |
| ايا دتراويحو لپاره امام تاکل صحيح دي؟ | ۲۳۹ |
| په غير مقلد پسي دحنفي تراويح | ۲۳۹ |
| په تراويحو کي تر پوره ختم ډير لوستل | ۲۴۰ |
| که په دويم رکعت يې هير سوه او ولاړ سو اوبيا ورپه ياد سوه نوڅه وکړي؟ | ۲۴۰ |
| دتلاوت سجده دلمانځه په سجدي سره ادا کيږی اوکه نه؟ | ۲۴۰ |
| ايا تراويح اوږدي نه ښايي؟ | ۲۴۱ |
| دتراويحو له څلورو رکعتو وروسته به څه کوي؟ | ۲۴۱ |
| دتراويحو په اول رکعت کي په کښېنستو سو خو تراشاري ورکولو وروسته پاڅيدی نوسجده سهوه به کوي اوکه نه؟ | ۲۴۱ |
| که لږ کښېنستی او بيا ولاړ سو نو آيا سجده واجب ده؟ | ۲۴۲ |
| په لومړي او دريم رکعت کي په څومره ناسته سره سجده لازميږي؟ | ۲۴۲ |
| داستراحت دناستي په وجه سجده نسته | ۲۴۲ |
| په تراويحو کي له ځينو آيتونو وروسته ځيني کلمات ويل | ۲۴۳ |
| په تراويحو کي دهر سورت په پيل کي بسم الله په جهر سره ويل | ۲۴۳ |
| په هره ترويحه کي دلاسو په پورته کولو دعا | ۲۴۳ |
| له ترويحي وروسته له دعا څخه منع کول | ۲۴۴ |
| ايا دعا غوښتل منع دي؟ | ۲۴۴ |
| تروايح دنبي ﷺ سنت دي که دخلفاءِ راشدينو رضوان الله عليهم | ۲۴۴ |
| په تراويحو کي سجده سهو | ۲۴۴ |
| دا خبره غلطه ده چي په تراويحو کي سجده سهوه نسته | ۲۴۵ |
| دتراويحو لمونځ په يوه سلام سره | ۲۴۵ |
| له شرعي عذر پرته تراويح پريښودل | ۲۴۵ |
| دتراويحو نيت يې وتړی خو پر دويم رکعت نه کښېنستی؟ | ۲۴۶ |
| تراويح ورکول دمستقل امام حق دی اوکه دمقرر کړل سوي حافظ؟ | ۲۴۶ |

| مخ | مـضـمـون |
|---|---|
| ۲۴۶ | ترفرض لمانځه وروسته راتلونکی کسان دوترو په جمعه کي شریکیدای سي؟ |
| ۲۴۷ | چي عمر یې تر پنځلسو کالو ډیروی خو دبلوغ نښه یې ښکاره نه وي دهغه امامت |
| ۲۴۷ | تراویح تر وترو مخکي غوره دي او روسته هم جائز دي |
| ۲۴۷ | ۱۲ رکعاته تراویح یې وختي وکړي او څلور رکعاته یې دتهجد په مهال وکړي څه حکم دی؟ |
| ۲۴۸ | په یوه شپه کي دختم حکم |
| ۲۴۸ | نبي کریم ﷺ چي په رمضان کي کوم لمونځ کړی وو هغه تراویح وي |
| ۲۴۹ | دوظیفي له امله دتراویحو دجماعت پرېښودل |
| ۲۴۹ | دتراویحو له څلورو رکعتو څخه وروسته درود |
| ۲۴۹ | څوك چي دشپي تراویح کوي او دورځي روژه نسي نیولای؟ |
| ۲۵۰ | په تراویحو کي ټول قرآن کریم لوستل غوره دي |
| ۲۵۰ | په تراویحو کي دتلاوت سجده |
| ۲۵۱ | یوائي دفتحي لپاره په تراویحو کي ګډون |
| ۲۵۱ | یوسړی په دوو ځایونو کي تراویح ورکولی سي اوکه نه؟ |
| ۲۵۱ | تراویح اته رکعته دي اوکه شل؟ |
| ۲۵۳ | په تراویحو کي دري ځله قل هو الله لوستل |
| ۲۵۳ | له تراویحو څخه وروسته نوافل او مناجات |
| ۲۵۳ | دتراویحو پرېښودلو ګناه |
| ۲۵۳ | دتراویحو په رکعتونو کي داختلاف فیصله |
| ۲۵۴ | دتراویحو حدیث |
| ۲۵۵ | که یو حافظ په یوه اونی کي په یوه جومات کي قران کریم ختم کړي او په بله هفته کي په بل مسجد کي نو څه حکم دی؟ |
| ۲۵۵ | په تراویحو کي د سهوا پاته سویو آیتو په دویمه او دریمه ورځ لوستل |
| ۲۵۶ | په نابالغ پسي تراویح کوونکي ګنهګار دي او که نه؟ |
| ۲۵۶ | حافظ ته د تلو راتلو کرایه او ډوډی ورکول |
| ۲۵۶ | د څوارلسو کالو په هلك پسي تراویح |
| ۲۵۷ | په تراویحو کي امام اوسامع برابر درول اوسامع ته اجرت ورکول جائزدي اوکه |

| مـضـمـو ن | مخ |
|---|---|
| نه؟ | ۲۵۷ |
| دتراویحو دحدیث په هکله پوښتنه | ۲۵۷ |
| تراویح سنت دي او که واجب یا نفل | ۲۵۷ |
| چي شل رکعته ومني خو بیا کله دیارلس او کله څلوېښت کوي نو ګنهګار به وي اوکه نه؟ | ۲۵۸ |
| ټولي تراویح په یوه سلام سره؟ | ۲۵۸ |
| پاته سوي آیتونه په تراویحو کي څه وخت راوګرځوي | ۲۵۸ |
| په تراویحو کی دقران کریم پر اورولو اجرت | ۲۵۹ |
| دیوې شپې دختم حکم | ۲۵۹ |
| یوازي تراویح به په زوره کوي که په کراره؟ | ۲۶۰ |
| ښځي دوترو جماعت کولای سي اوکه نه؟ | ۲۶۰ |
| له سنتو وروسته تراویح پیل کړي | ۲۶۰ |
| په یوه مسجد کي دتراویحو دوهمه جمعه | ۲۶۰ |
| په یوه سلام سره شل رکعته تراویح | ۲۶۱ |
| **پنځم فصل**: د تهجدو مسئلې | ۲۶۱ |
| دقضا لمونځونو قضا غوره ده که تهجد | ۲۶۱ |
| دتهجدو په لمانځه کي مختلفي دعاګاني څه وخت ولوستل سي؟ | ۲۶۲ |
| تهجد دماخستن له فرضو وروسته او له وترو څخه مخکي کول څنګه دي؟ | ۲۶۲ |
| دتهجدو رکعتونه او قراءت | ۲۶۲ |
| په تهجدو کي په هر رکعت کي سورۃِ اخلاص | ۲۶۳ |
| په تهجدو کي په زوره قراءت | ۲۶۳ |
| په تهجدو کي دلنډ او اوږده سورۃ ویل | ۲۶۳ |
| دتهجدو وخت | ۲۶۳ |
| د تهجدو څو رکعتونه غوره دي؟ | ۲۶۴ |
| دتهجدو لمونځ په تیاره کي؟ | ۲۶۴ |
| دماسختن څخه وروسته فوراً تهجد کول | ۲۶۴ |
| دتهجدو رکعتونه باید څومره اوږده وي؟ | ۲۶۴ |
| دپیمغبر ﷺ دقدمونو پاړسوب | ۲۶۴ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| په صحابه وو رضی الله عنهم کي دتهجدو دقرائت مقدار | ۲۶۵ |
| تر تکبیر تحریمه وروسته دعاګاني | ۲۶۵ |
| دتهجدو په وخت کي به لومړي دوه رکعتونه دتهجدو وي که دتحیة الوضوء؟ | ۲۶۵ |
| دا دعا کم ځای لوستل کیږی ؟ | ۲۶۵ |
| دا دعا په ولاړه ووایي اوکه په ناسته؟ | ۲۶۵ |
| دنبي ﷺ دمتابعت په نیت سره تهجد کله لږ او کله ډیر وکړل سي اوکه نه؟ | ۲۶۵ |
| د تهجدو وخت | ۲۶۵ |
| دتهجدو دلمانځه رکعتونه | ۲۶۶ |
| دتهجدو دپرېښودلو نقصان | ۲۶۶ |
| دتهجدو لمونځ څنګه ادا کړل سي | ۲۶۶ |
| داشراق او نور لمونځونه | ۲۶۷ |
| دتهجدو اته رکعته دي اوکه دوولس | ۲۶۷ |
| دتهجدو دلمانځه وخت | ۲۶۹ |
| دتهجدو قضاء | ۲۶۹ |
| دتهجدو لمونځ په جمعه کول | ۲۶۹ |
| **شپږم فصل**: دصلوة تسبیح مسائل | ۲۷۰ |
| دصلوة تسبیح جماعت مکروه دی | ۲۷۰ |
| دصلوة تسبیح ثواب | ۲۷۰ |
| په صلوة تسبیح کي سهوه | ۲۷۰ |
| درمضان په وروستنی جمعه کي صلوٰة تسبیح په جمعه سره کول ثابت دي؟ | ۲۷۱ |
| معروفه تسبیح کم کم وخت لوستل کیږی؟ | ۲۷۱ |
| دصلوٰةِ تسبیح په قومه کي لاسونه | ۲۷۲ |
| دصلوٰةِ تسبیح څلور رکعته په یوه سلام سره دي اوکه په دوو؟ | ۲۷۲ |
| که په یوه ځای کي تسبیحات هیر سي نو نور ځایونه یې اداکولی سي اوکه نه؟ | ۲۷۲ |
| **نهم باب**: **دفرضو دنیولو په بیان کي** | ۲۷۲ |
| په جماعت کي شریکیدل | ۲۷۲ |
| دجماعت داقامت په مهال ولی داسي حکم دی چي منفرد دي دفرضو نیت مات کړي او دسنتو دا دي نه ماتوي؟ | ۲۷۲ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| داقامت ویل کیدلو وروسته امام ته ډیر وخت دریدل او بیا تکبیر ویل ځنګه دي؟ | ۲۷۳ |
| په کومو وجوهو سره لمونځ ماتولای سي؟ | ۲۷۴ |
| جمعه پرېښودل او بل جومات ته ددي لپاره تلل چي پوره جماعت ونیسم څنګه دي؟ | ۲۷۴ |
| چي دسهار سنت له فرضو څخه مخکي ونه کړی سي نو بیا هغه کله ادا کړي؟ | ۲۷۴ |
| یو رکعت یې کړی وو چي دماپښین جمعه ودریده نو دوهم رکعت دي وکړي | ۲۷۵ |
| دبل جومات امام ددي جومات جمعه پرېښودلای سي اوکه نه؟ | ۲۷۵ |
| که دسنتو له پیلولو سره سم جمعه شروع سي نوڅه وکړي؟ | ۲۷۶ |
| که دنفلو په نیت دماخستن په جمعه کي شریك سي سنت او وتر به هم بیا کوي؟ | ۲۷۶ |
| څوك چي دریل تم ځای ته درسیدو په خیال نیت مات کړي نوڅه حکم دی؟ او امام ته دلمانځه دمختصر کولو وویل سي اوکه نه؟ | ۲۷۶ |
| دجمعي په وخت کي دسهار په سنتو باندي داعتراض جواب | ۲۷۷ |
| دماپښین مخکي پاته سوی سنت به له فرضو وروسته فوراً کوي که له دوو سنتو کولو څخه وروسته | ۲۷۷ |
| چي دسهار دسنتو له پیلولو وروسته اقامت وسي نو څه به کوي؟ | ۲۷۸ |
| څوك چي له سنتو پرته دسهار په جمعه کي شریك سي هغه دي په همدغه وخت کي سنت نه کوي | ۲۷۸ |
| دجمعي په مهال دي دسهار سنت له جومات څخه بهر وکړي | ۲۷۸ |
| دجمعي په وخت دسهار سنت | ۲۷۹ |
| دجمعي په وخت رارسیدونکی به څه کوي؟ | ۲۸۰ |
| دسهار دجمعي په مهال سنت | ۲۸۰ |
| که جمعه ولاړه وي نو دسهار سنت کله وکړي؟ | ۲۸۰ |
| **لسم باب**: دفوت سوو لمونځونو دقضایي راوړلو په بیان کي | ۲۸۱ |
| دقضا لمونځونو ادا کول | ۲۸۱ |
| دوخت دتنګوالي یا هیري له امله وختي لمونځ تر قضایي مخکي کول | ۲۸۱ |
| دقضا سوي لمانځه سبب | ۲۸۲ |

| مـضـمـو ن | مخ |
|---|---|
| دلمانځه او روژي قضا | ۲۸۲ |
| دقضا سویو لمونځونو راګرځول | ۲۸۲ |
| دقصر لمانځه ادا به قصر وي | ۲۸۲ |
| ایا دقضا لمونځ په جومات کي کول درست نه دی | ۲۸۲ |
| دقضاء عُمْري مروجه طریقه ثابته نه ده بې اصله ده | ۲۸۳ |
| داسقاط حیله | ۲۸۳ |
| دترتیب ځښتن به قضا سوي لمونځونه کوي اګرکه جمعه ورځخه تیره سي | ۲۸۴ |
| دقضا سویو لمونځونو دکولو ترتیب | ۲۸۴ |
| دهیرو قضا سویو ډیرو لمونځونو کول | ۲۸۴ |
| له چا څخه چي دیوه کال لمونځونه قضا سي پر هغه ترتیب لازم نه دی | ۲۸۵ |
| څو شپي یي مسافرانه لمونځ کوی بیا معلومه سوه چي دی مسافر نه وو نوڅه وکړي؟ | ۲۸۶ |
| که په وخت کي دټولو قضایي لمونځونو په مرتب ډول دراګرځولو ګنجایش نه وي څه به کوي؟ | ۲۸۶ |
| په قضا کي دترتیب مطلب څه دی؟ | ۲۸۶ |
| دقضایي لمونځونو دراګرځول سمه طریقه څه ده؟ | ۲۸۷ |
| په یواځي توبه قضایي لمونځونه نه بخښل کیږي بلکه راګرځول یي ضروري دي | ۲۸۸ |
| دډیرو فوت سویو لمونځونو دادا کولو لپاره تراویح پریښودل | ۲۸۹ |
| دډیرو فوائتو دادا کولو په مهال که یو لمونځ فوت سي څه حکم لري؟ | ۲۸۹ |
| په عمري قضا لمانځه کي دقرآئت حکم | ۲۹۰ |
| فوائت ادا کول ضروري دي لیکن دنفلو پریښودلو اړتیا نسته | ۲۹۰ |
| دمازدیګر او سهار قضایی راوړل | ۲۹۰ |
| دترتیب ځښتن دي دجمعي له لمانځه مخکي قضا راوګرځوي | ۲۹۱ |
| دقضا عمري مروجه طریقه ثابته نه ده | ۲۹۱ |
| په یوه وخت کي هرڅو قضایي راوړلای سي | ۲۹۲ |
| دقضا راګرځولو لپاره دي سنت مؤکد نه پریږدي | ۲۹۲ |
| په قضایی لمونځونوکي هغه وخت ترتیب نسته چي هغه صاحب ترتیب نه وي | ۲۹۲ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| دماخستن دقضا سوي لمانځه له يادوالي سره سره دسهار لمونځ نه کيږي | ۲۹۲ |
| دماښام په وخت کي دماپښين او مازديګر قضا څنګه ده؟ | ۲۹۳ |
| ډير قضا لمونځونه په يوه وخت ادا کول | ۲۹۳ |
| قضا سوي دلسو شلو کلو لمونځونه به څرنګه ادا کوي؟ | ۲۹۴ |
| دقضا لمانځه لپاره اذان او تکبير | ۲۹۴ |
| ديوه سړي څخه دډير وخت لمونځونه قضا سوي دي که هغه دسنتو پرځاى دفرضو قضا راوړي صحيح ده اوکه نه؟ | ۲۹۴ |
| دهري قضا په خپل وخت کي ادا کول ضروري نه دي | ۲۹۵ |
| دسهار ماښام او ماخستن په قضا کي په زوره قرائت ويلاى سي اوکه نه؟ | ۲۹۵ |
| که چيري دځو کلونو لمونځونه قضا سي او دادا کولو موقع يې نه وي څه به کوي؟ | ۲۹۵ |
| دسهار او مازديګر ترلمانځه وروسته قضا لمونځونه کولاى سي اوکه نه؟ | ۲۹۵ |
| درمضان په وروستۍ جمعه کي دقضائي عُمْري رواج ثابت نه دی | ۲۹۵ |
| قضايي لمونځ په جمعه سره کول څنګه دی؟ | ۲۹۶ |
| دلمانځه دقضا کولو کفاره څه ده؟ | ۲۹۶ |
| دقضا سويو لمونځونو قضايي | ۲۹۶ |
| دترتيب دځښتن حکم | ۲۹۶ |
| دقضا سويو لمونځونو کفاره | ۲۹۶ |
| داسقاط مسئله | ۲۹۷ |
| قضاء الفوائت | ۲۹۷ |
| دترتيب ځښتن څوك دی؟ | ۲۹۷ |
| قضا دي سمدستي ادا کوي | ۲۹۷ |
| قضاء عمري | ۲۹۸ |
| دقضاءِ عمري ادا کول | ۲۹۸ |
| چي دشك په ډول کوم قضا لمونځونه کوي هغه به څه وي؟ | ۲۹۸ |
| يوچا دسهار قضايي لمونځ وکی سره له دي چي پرده باندی دسهار لمونځ قضايي نه وو نوځه حکم دی؟ | ۲۹۷ |
| دسهار ماپښين او مازديګر قضا له ماښام څخه وروسته وکړي اوکه مخکي؟ | ۲۹۹ |

| مخ | مضمون |
|---|---|
| ۲۹۹ | قضاء عمري ثابته ده اوکه نه؟ اوددي قضاء څه ډول طريقه ده؟ |
| ۲۹۹ | لمونځ پرېښوول او نور له لمانځه څخه بندول |
| ۳۰۰ | دقضا سويو لمونځونو کفاره څه ده؟ |
| ۳۰۰ | دلمونځونو کفاره يواځي صدقه ده او که بل څه؟ |
| ۳۰۰ | دمريض او شيخ فاني دلمونځونو کفاره |
| ۳۰۴ | دماخستن قضا دي دسهار تر لمانځه مخکي ادا کوي |
| ۳۰۵ | چي دماخستن لمونځ قضا سي نو ترڅه وخته يي ادا کولای سي؟ |
| ۳۰۵ | ترصبح صادق وروسته سجده تلاوت جائز ده اوکه نه؟ |
| ۳۰۵ | دماپښين قضا له مازديګر څخه مخکي پکار ده اوکه نه؟ |
| ۳۰۵ | په فديه کي له غنمو وروسته نوره غله يا قيمت ورکول هم درست دي |
| ۳۱۴ | دکفاري رقم په جومات يا څاه کي مصرف کول |
| ۳۱۵ | داسقاط دحيلې شرعي حيثيت |
| ۳۱۵ | قرآن مجيد په فديه ادا کول |
| ۳۱۵ | دقرآن کريم قيمت |
| ۳۱۶ | له وصيت څخه وروسته دترکي له درېيمي برخي څخه دلمونځونو کفاره ضروري ده |
| ۳۱۶ | دمړيني دناروغۍ دروژو فديه نه وي |
| ۳۱۷ | له وصيته پرته فديه پرهيچا لازمه نه ده |
| ۳۱۷ | **الباب الحادي عشر في سجود السهو** |
| ۳۱۷ | **(دسجده سهوي مسئلې)** |
| ۳۱۷ | دقرائت په تکرار سره سجده سهوه نسته |
| ۳۱۸ | دماپښين په سنتو کي چي لومړی قعده هيره سي سجده سهوه وکړي نولمونځ صحيح سو |
| ۳۱۸ | په هيره يي يو سورت شروع کړی، بيايي دوهم سورت ووايه ددې څخه سجده سهو نه لازميږي |
| ۳۱۸ | دواجبو په تاخير سره سجده سهوه |
| ۳۱۹ | په اخري رکعتو کي دسورت په لوستلو سره سجده سهوه نه لازميږي |
| ۳۱۹ | چي په اول رکعت کي يوه سجده وکړي او ولاړ سي نوڅه وکړي؟ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| په شبهه باندي لمونځ ماتول | ۳۱۹ |
| که په هر رکعت کي واجب پاته سي پراخره به سجده سهوه لازمیږي | ۳۱۹ |
| په وروستنۍ قعده کي التحیات دوباره ویل | ۳۲۰ |
| دآیتونو په تکرارولو سره سجده سهوه نه لازمیږي | ۳۲۰ |
| دواجب اندازي قراءت لوستلو وروسته په قراءت کي غلطي لمونځ فاسدوي اوکه نه؟ | ۳۲۰ |
| مسبوق که دامام سره سلام وګرځوي نو سجده سهو ورته کافي ده | ۳۲۰ |
| چي کله دا معلومه نه وي چي سجده سهوه واجب سویده اوکه نه نو لمونځ کوونکی څه وکړي؟ | ۳۲۱ |
| په یوه رکعت کي په دوو رکوع کولو سره سجده سهوه | ۳۲۱ |
| له جمعي وروسته مقتدي بیا لمونځ راوګرځوی کم یو لمونځ یي صحیح سو؟ | ۳۲۱ |
| په فاتحه او مینځنی قعده کي له التحیات څخه وروسته په څومره ځنډ سره سجده سهوه لازمیږي؟ | ۳۲۲ |
| ددریمي سجدي له امله سجده سهوه | ۳۲۲ |
| که چیري په دریمه سجده کي اقتداء ونه کړي | ۳۲۲ |
| مقتدي ته دسهوي په سلام کي اقتداء کول پکار دي | ۳۲۲ |
| امام دتسبیح سره سره پنځم رکعت شروع کی نو مقتدي دي اقتداء نه کوي | ۳۲۳ |
| په ماښام کي سورت فاتحه کرار ویل شروع کړل بیا دوریادولو څخه وروسته یې په زوره کړه سجده سهو لازمیږي اوکه نه؟ | ۳۲۳ |
| دمتشابه له امله دآیت دتکرار په وجه سجده سهو لازمیږي اوکه نه؟ | ۳۲۴ |
| په اخري رکعت کي له تشهد څخه وروسته پاڅیدی بیا کښینستی نوسجده سهوه کله وکړي؟ | ۳۲۴ |
| دړانده یو رکعت دامام د غلطۍ له امله پاته سو | ۳۲۴ |
| داخترو په زیاتو تکبیرونو کي یې کمي وکړه نوڅه حکم دی؟ | ۳۲۵ |
| دفرضو داخرنی قعدي پرېښودل او دپنځم رکعت وریو ځای کول، نو آیا دا یو رکعت نفل سو؟ | ۳۲۵ |
| دسجده سهوی قصدا اونسیانا پریښودل | ۳۲۵ |
| په څلور رکعتي لمانځه کي سهوا پر دریم رکعت کښیناستل | ۳۲۶ |

| مـضـمـو ن | مخ |
|---|---|
| په هيره سره يې په ركوع كي دسجدي تسبيح ووايه نوڅه حكم دى؟ | ۳۲۶ |
| په سجده كي دركوع تسبيح | ۳۲۶ |
| تعديل پريښودل او سجده سهوه | ۳۲۶ |
| دسجده سهوي لپاره يوه لوري ته سلام | ۳۲۶ |
| دمسبوق دواړو لورو ته سلام ګرځول | ۳۲۷ |
| له فاتحي وروسته تر ډيره وخته پټه خوله و نوڅه حكم دى؟ | ۳۲۷ |
| دماخستن په لمانځه كي امام په دريم ركعت كي كښېنستی مګر فوراً ولاړ سو نوڅه حكم دى؟ | ۳۲۷ |
| دماپښين په سنتو كي دلومړي قعدي په هيريدو سره سجده سهو | ۳۲۸ |
| كه يې زنګون درولی نه وي نوبايد كښيني | ۳۲۸ |
| زنګونان له ځمكي څخه پورته سول خوسيده نه دى دريدلاى نوڅه وكړى؟ | ۳۲۸ |
| په صلوة تسبيح كي دتسبيح پرځاى الحمد لله ويل څه حكم لرى؟ | ۳۲۹ |
| په صلوة تسبيح كي له قراءت څخه وروسته ركوع ته ولاړى | ۳۲۹ |
| دفاتحي او قرائت تر مينځ ځنډ | ۳۲۹ |
| دماښام تر وروستنۍ قعدي وروسته امام پورته سو او بيا كښېنستی نو څه وكړي؟ | ۳۲۹ |
| دماسخوتن په اخري ركعتونو كي سجده سهوه | ۳۲۹ |
| دماپښين په اخري ركعتونو كي په جهر كولو سره سجده سهوه | ۳۳۰ |
| داختر په لمانځه كي دتكبيرونو پريښودل اوركوع ته تلل، اوپه دوهم ركعت كي يې ويل څه حكم لرى؟ | ۳۳۰ |
| مسبوق چي په پاته ركعتونو كي كوم واجب پريږدي، نو سجده سهوه به كوي اوكه نه؟ | ۳۳۱ |
| په آخري قعده كي دوباره درود ويل | ۳۳۱ |
| ددرود ديوي برخي پاته كيدل او تر دعا وروسته يي ويل | ۳۳۱ |
| دفرضو په اخري ركعتونو كي دسورة ويل | ۳۳۲ |
| دڅلور ركعتيز لمانځه په اخري ركعت كي قرائت | ۳۳۲ |
| له متشابه كيدلو وروسته دوباره لوستل | ۳۳۲ |
| په واجبو او سنتو كي په لومړۍ قعده كي له التحيات څخه وروسته درود ويل | ۳۳۳ |

| مـضـمـو ن | مخ |
|---|---|
| درکعتونو په شمار کي سهوه | ۳۳۳ |
| په دوه رکعتیز لمانځه کي له تشهد لوستلو وروسته چي دریم رکعت ته پورته سي اوبیا بیرته کښیني نو سجده سهو ضروري ده | ۳۳۳ |
| دمسبوق څخه که چیري په باقي مانده رکعتونو کي سهو وسي نو سجده سهو ورباندي لازمه ده | ۳۳۴ |
| په رکوع کي دتسبیح پر ځای باندي دبسم الله ویلو څخه سجده سهو لازمیږي اوکه نه؟ | ۳۳۴ |
| دسورت فاتحي تکرار او سجده سهوه | ۳۳۵ |
| په څلور رکعتي لمونځونوکي په اخري رکعتونو کي دسورة په ویلو سره سجده سهو نه لازمیږي | ۳۳۵ |
| مسبوق چي په خپل پاته لمانځه کي قعده پریږدي سجده سهوه به کوي؟ | ۳۳۵ |
| دسهار په لمانځه کي له دویم رکعت څخه وروسته په هیره ودریدي فورا دي کښیني | ۳۳۶ |
| په اول رکعت کي دسورة هیریدل | ۳۳۶ |
| یوه لوري ته له سلام ګرځولو وروسته دي سجده سهوه وکړي، اوتشهد دي پوره ووایي | ۳۳۶ |
| دفرضوپه لومړنیودریو رکعتونوکي یې دسورة یوځای کول هیرسوه اوسجده سهویې وکړه نولمونځ وسو | ۳۳۷ |
| که مسبوق دامام سره سلام وګرځوی نوځه حکم دی؟ | ۳۳۷ |
| په اخري قعده کي له درود او دعا وروسته په ځنډ سره سلام ګرځول | ۳۳۷ |
| لاحق به له امام سره سجده کوي اوکه نه؟ | ۳۳۸ |
| دیوه سورت له یوي برخي لوستلو وروسته بل سورت پیل کول اوسجده سهوه په یوه لوی آیت سره لمونځ کیږي | ۳۳۸ |
| دقرائت له هیریدلو وروسته چي امام څومره وخت پټه خوله ولاړ وي سجده سهو لازمیږي؟ | ۳۳۸ |
| چي په خپله یې دپوره کیدو یقین وي اونور خلك ورته وایي چي کم دي کړي نوځه وکړي؟ | ۳۳۹ |
| که څوك دسهار ددوو رکعتو پرځای څلور او دمازدیګر دڅلورو پر ځای شپږ | ۳۳۹ |

| مـضـمـو ن | مخ |
|---|---|
| وکړي نوڅه حکم دی؟ | ۳۳۹ |
| په سنتوکي دالتحيات پرځای فاتحه | ۳۴۰ |
| په جهري لمانځه کي په پټ لوستلو سره سجده سهوه | ۳۴۰ |
| دمسبوق له امام سره سلام ګرځول او سجده سهو | ۳۴۰ |
| په مينځ کي دآيت څه حصه پاته سوه نو سجده سهو واجب ده اوکه نه؟ | ۳۴۱ |
| دسجده سهوي څخه وروسته چي دتشهد پرځای الحمدووايي نوڅه حکم لري؟ | ۳۴۱ |
| که له مقتدي څخه يو رکن هير سي نوڅه حکم دی؟ | ۳۴۱ |
| ترڅلورم رکعت وروسته فورا پورته سو اوپنځم رکعت يې هم وکړی، او سجده سهو يې وکړه لمونځ يې ختم کی، نوڅه حکم دی؟ | ۳۴۲ |
| دقرائت دتکرار حکم | ۳۴۲ |
| سجده سهوه له يوه سلام څخه وروسته ده اوکه ددواړو څخه وروسته ؟ | ۳۴۲ |
| دآيت په تکرارولو سجده سهوه | ۳۴۲ |
| يوه سجده يې وکړه او پورته سو نو څه وکړي؟ | ۳۴۳ |
| په زوائدو تکبيرونو کي په زيادت سره سجده سهو سته اوکه نه؟ | ۳۴۳ |
| امام لومړی قعده پريښوده پورته سو بيا کښينستی اوس څه حکم دی؟ | ۳۴۴ |
| له فاتحي سره يې يوازي دوه کوچني آيتونه ولوستل ددې څه حکم دی؟ | ۳۴۴ |
| په والعاديات کي يې فالمغيرات پريښودی، څه حکم دی؟ | ۳۴۴ |
| له درود او دعا وروسته سجده سهوه وکړي اوکه نه؟ | ۳۴۴ |
| په جهري لمانځه کي يې سراً قرآئت وکی بيا يې جهر وکړی نو څه حکم دی؟ | ۳۴۴ |
| په نفل او سنتو کي سجده سهو سته اوکه نه؟ | ۳۴۵ |
| دسهار په لمانځه کي دشافعي رعايت | ۳۴۵ |
| په څلور رکعاتي لمانځه کي امام په دري رکعتو سلام وګرځوی نوڅه حکم دی؟ | ۳۴٦ |
| په شپږم رکعت کي دشريك سوي سړي لمونځ نه کيږي | ۳۴٦ |
| په جمعه او اخترونو کي سهوه سته او که نه؟ | ۳۴۷ |
| دسهار په فرضوکي په هيره دالتحيات پرځای الحمد لوستل تر وريادېدلو وروسته يې التحيات هم وويل نوڅه حکم دی؟ | ۳۴۷ |
| امام په هيره سره په لومړۍ قعده کي دواړو لورو ته سلام وګرځوی ، نو پاته | ۳۴۷ |

| مـضـمو ن | مخ |
|---|---|
| لمونځ کولای سي اوکه نه؟ | ۳۴۷ |
| که په لومړی قعده کي ترتشهد وروسته درود ووايي يا سلام وګرځوي نو سجده سهو سته اوکه نه؟ | ۳۴۸ |
| که سجده لازمه وي او دواړو لورو ته له سلام ګرځولو وروسته ورته ياده سي نو څه وکړي؟ | ۳۴۸ |
| که تردرو آيتو په کموکي ورځخه هيره وسي نوبل سورت شروع کړي اوکه نه؟ | ۳۴۸ |
| دسهار په سنتو کي په هيره سره دريم رکعت ته پورته کيدل | ۳۴۸ |
| يوائی فاتحه يا يوائي سورت ويل | ۳۴۹ |
| سجده سهو واجب وه که يې ونه کړه نوڅه حکم دی؟ | ۳۴۹ |
| دپاته سوي شي دادا کولو لپاره درکوع څخه قيام ته ستنيدل څنګه دي؟ | ۳۴۹ |
| په دريم رکعت کي کنبښستی خو فوراً پورته سو، ددي څه حکم دی؟ | ۳۴۹ |
| تراخري قعدي وروسته په هيره ودريدی، ترڅنا لوستلو وروسته يې رکوع وکړه بيا رکوع ورڅخه هيره سوه | ۳۵۰ |
| امام په هيره سره پنځم رکعت ته پورته سو نو ايا مقتدي دهغه اتباع وکړي؟ | ۳۵۰ |
| فتحه ورکول | ۳۵۱ |
| ددريو آيتو له لوستلو وروسته فتحه | ۳۵۱ |
| په ټولو رکعتونو کي يې سورة ووايه نوڅه حکم دی؟ | ۳۵۱ |
| په سنتو او نفلو کي قراءت | ۳۵۱ |
| په اخري قعده کي ورته شك پيداسو چي لومړی قعده مي نه ده کړي نو څه وکړي؟ | ۳۵۲ |
| سجده سهوه دي له سلام څخه وروسته وکړي | ۳۵۲ |
| دلومړی تشهد دپريښودلو حکم | ۳۵۲ |
| دشاته او مخته سورت لوستلو حکم | ۳۵۳ |
| که شك ورته وي نوڅه وکړي؟ | ۳۵۳ |
| له اړتيا پرته سجده سهوه | ۳۵۳ |
| دسورتونو له ترتيب څخه خلاف قراءت ويل او دهغه حکم | ۳۵۳ |
| په لمانځه کي دبي ترتيله قراءت حکم | ۳۵۳ |
| امام په سبحان الله ويلو سره پوهول | ۳۵۳ |

| مخ | مـضـمو ن |
|---|---|
| ۳۵۴ | اخري قعده ورڅخه هيره سوه پاځيدی بيا ورپه ياد سوه اوس څه وکړي؟ |
| ۳۵۴ | په لمانځه کي بيده کيدل |
| ۳۵۴ | **دوولسم باب: دتلاوت دسجدې بيان** |
| ۳۵۴ | **(دتلاوت سجده کله اوکم ځای واجبيږي؟)** |
| ۳۵۴ | دآيت له لوستلو وروسته دهغه معنی هم ووايې نو څو سجدې به کوي؟ |
| ۳۵۴ | دتلاوت په سجده کي دځنډولو ګنجايش سته اوکه نه؟ |
| ۳۵۵ | په رکوع يا سجده کي دلمانځه په نيت کولو سره سجده تلاوت ادا کيږی اوکه نه؟ |
| ۳۵۶ | دسورت حج آخري سجده او دهغې حکم |
| ۳۵۶ | که په لمانځه کي ورڅخه دتلاوت سجده هيره سوه |
| ۳۵۷ | په لمانځه کي يی دتلاوت دسجدې آيت ولوستی نو څه کول ښايی؟ |
| ۳۵۷ | دتلاوت دسجدې ځنډول |
| ۳۵۷ | دسهار ترلمانځه وروسته تر لمر ختلو مخکي، او دزوال په وخت کي، او دمازديګر ترلمانځه وروسته دتلاوت سجده |
| ۳۵۷ | له ټيپ، راديو او مرغه څخه دسجدې اوريدل |
| ۳۵۸ | دتلاوت له نيت څخه پرته دسجدې آيت ويل |
| ۳۵۸ | په زړه کي دسجدې آيت لوستل |
| ۳۵۸ | په عامه مجمع کي له واعظ څخه دسجدې آيت واوريدل سو، ټول دي ځان ځان ته سجده وکړي |
| ۳۵۸ | دسجدې دآيت له لوستلو وروسته يې سجده وکړه مخکي ورته ياده وه |
| ۳۵۹ | دټول قرآن کريم سجدې دتلاوت په پای کي کول |
| ۳۵۹ | دتلاوت سجده واجبه ده |
| ۳۵۹ | که په ناسته دسجدې آيت ووايي نو سجده په ناسته کولای سي؟ |
| ۳۵۹ | له سهار او مازديګر څخه وروسته سجده |
| ۳۵۹ | بي اودسه دتلاوت سجده صحيح نه ده |
| ۳۶۰ | دسجدې آيت دوباره لوستل |
| ۳۶۰ | که دسجدې دآيت څه برخه ووايي اوځه نه ووايي نوڅه حکم دی؟ |
| ۳۶۰ | دتلاوت هغه سجده چي ادا نسي دهغې دادا کولو څه طريقه ده؟ |

| مـضـمـو ن | مخ |
|---|---|
| دتلاوت دسجدي اطلاع | ۳۲۱ |
| دتلاوت سجده فرض ده که واجب، او دادا کولو طریقه یې څنګه ده؟ | ۳۲۱ |
| **دیارلسم باب: دمریض دلمانځه په بیان کي** | ۳۲۲ |
| **((دمریض او معذور لپاره په لمانځه کي رعایتونه))** | ۳۲۲ |
| په ناسته لمونځ کوونکي پسي دولاړ اقتدا | ۳۲۲ |
| یوازي یو څادر پرځان پیچلو سره لمونځ | ۳۲۳ |
| دمجبوری له امله له ناپاکو کالو سره لمونځ کول | ۳۲۳ |
| په سخته ناروغی کي روژه او لمونځ پریښودل او دهغي کفاره | ۳۲۳ |
| سترګی جوړوونکی به لمونځ څنګه کوي؟ | ۳۲۴ |
| دکمزوری له امله په ناسته لمونځ کول | ۳۲۵ |
| چي دتیمم یا اودس وس نه لري نو لمونځ وربانديٍ فرض دی اوکه نه؟ | ۳۲۵ |
| کله معاون موجود وي اوکله نه وي نوڅه وکړي؟ | ۳۲۶ |
| چي په ناروغ کي دقبلي لورته دمخ اړولو طاقت نه وي نو څه وکړي؟ | ۳۲۶ |
| په اخر وخت کي یې دڅو وختونو لمونځونه ونه کړل نو څه وکړي؟ | ۳۲۶ |
| دچا چي طاقت نه وي هغه دلمانځه فدیه ورکولای سي اوکه نه؟ | ۳۲۶ |
| له کښتۍ څخه دباندي لمونځ کول | ۳۲۷ |
| له بیهوښی وروسته په هوښ کي راغی نو لمونځونه به څنګه کوي؟ | ۳۲۸ |
| ایا دټول کال دلمونځونو کفاره یواځی په یوه قران کریم کیدلای سي؟ | ۳۲۸ |
| که یې دناستي وس نه وي نو څرنګه لمونځ وکړي؟ | ۳۲۹ |
| دناروغی له امله دشرابو پتیۍ وتړله ، نو لمونځ به څرنګه کوي؟ | ۳۲۹ |
| ښځه به دولادت په مهال لمونځ څنګه کوي؟ | ۳۲۹ |
| د بادو دناروغ څخه که په لمانځه کي باد ووزي نوڅه وکړي؟ | ۳۷۰ |
| دسیند پرغاړه په تړله سوي کښتۍ کي لمونځ کول روا دي اوکه نه؟ | ۳۷۰ |
| **خوارلسم باب: دمسافر لمونځ** | ۳۷۱ |
| **(مسافر به لمونځ څنګه ادا کوي)** | ۳۷۱ |
| که له ارادي پرته اتفاقا پنځلس ورځي یو ځای تم سي نو څه به کوي؟ | ۳۷۱ |
| پرکومه لاره چي سفروي هغي ته اعتباردی | ۳۷۱ |
| چیري چي پلار مقیم وي زوی به دپنځلسو ورځو داقامت دنیت څخه پرته قصر | ۳۷۱ |

| مضمون | مخ |
| --- | --- |
| نه کوي | ۳۷۱ |
| امرتسر يې پرېښودى او لاهور يې داقامت ځاى وټاکى اوس به دى په امرتسرکي لمونځ څنګه ادا کوي؟ | ۳۷۲ |
| دقصر مسافت ۴۸ ميله ده | ۳۷۲ |
| داطمنان په مهال به مسافر سنت کوي | ۳۷۲ |
| مسافر به په څومره مسافت کي قصر کوي؟ | ۳۷۲ |
| حنفي مسافر چي دقصر پرځاى پوره لمونځ کوي دهغه څه حکم دى؟ | ۳۷۳ |
| که يې چيري لومړى دپنځلسو ورځو داقامت نيت وکى، نو بيا په شاوخوا تګ راتګ کي به لمونځ پوره کوي | ۳۷۳ |
| دجهاز دملازم احکام | ۳۷۴ |
| هغه خلګ چي تل پرګوادر باندي اوسيږي | ۳۷۴ |
| څوك چي تل په سفر کي وي | ۳۷۴ |
| چي دپنځلسو ورځو دايسارتيا نيت نه وي لمونځ به قصر کوي | ۳۷۵ |
| دچا استوګنه چي دوه ځايه وي | ۳۷۵ |
| چيري چي مسلسل دپنځلسو ورځو داقامت نيت نه وي قصر دي کوى | ۳۷۵ |
| ددوو کورو دلرونکي شخص حکم | ۳۷۶ |
| چي معلومه نه وي چي څومره وخت به قيام کوي | ۳۷۶ |
| که مسافر دماپښين پوره څلور رکعته وکړه نو اعاده يې واجب ده | ۳۷۷ |
| مسافر امام قصدا څلور رکعته وکړل، نو دمقتدي لمونځ وسو اوکه نه؟ | ۳۷۷ |
| پرکمه لاره چي سفر کوي دهغې اعتبار | ۳۷۷ |
| په پوره مسافت ګڼلو سره يې پوره لمونځ کوى بيا ورته معلومه سوه چي دقصر مسافت وو، کړي لمونځونه څنګه سول؟ | ۳۷۸ |
| دسفر دلمونځونو قضا به قصر وي | ۳۷۸ |
| چي معلومه نه وي چي څو ورځي قيام به وکړي نوڅه حکم دى؟ | ۳۷۸ |
| مسافر سنت او نوافل پرېښولاى سي اوکه نه؟ | ۳۷۹ |
| هغه سړى چي برابر په دوره کي وي هغه څرنګه لمونځ ادا کړي؟ | ۳۷۹ |
| بې له نيته دسفر قصر نسته | ۳۸۰ |
| څوك چي ګرځنده تجارت کوي او يوځاى هم له يوي شپې زيات نه پاته کيږي | ۳۸۰ |

| مـضـمـو ن | مخ |
|---|---|
| هغه به څنګه لمونځ کوي؟ | ۳۸۰ |
| چي مسافر دمقيم اقتداء په دريم رکعت کي وکړي بيا به هغه څرنګه لمونځ ادا کوي؟ | ۳۸۰ |
| مسافر به په مقيم پسي دځلورو رکعتو نيت کوي اوکه د دوو؟ | ۳۸۰ |
| ګارډ او ډرايور به قصر کوي اوکه نه؟ | ۳۸۱ |
| چي په خپله تجارت په يوه ښارکي کوي او بچيان يې په بل ښار کي وي نو هلته څرنګه لمونځ ادا کړي؟ | ۳۸۱ |
| زيد ګرځنده تجارت کوي او سامان په يوه ځای کي ايږدي ليکن دی هلته له يوي اونی څخه ډير نه اوسي نو دی به څنګه لمونځ کوي؟ | ۳۸۱ |
| هغه بيړۍ ترونکی چي په درياب کي اوسيږي قصر به کوي اوکه به پوره لمونځ کوي؟ | ۳۸۲ |
| هغه مسافر چي وطن ته له رسيدلو وروسته هم په ناپوهی سره قصر کوي نوپرده او دده پر اقتداء کوونکو باندی اعاده واجب ده | ۳۸۲ |
| مقيم مقتدي په مسافر امام پسي لمونځ څرنګه پوره کړي؟ | ۳۸۳ |
| دواده ځای داصلي وطن حکم لري اوکه نه؟ | ۳۸۳ |
| چي ښځه له واده څخه وروسته دمور او پلار کورته ولاړه سي او له پنځلسو ورځو څخه دلږو نيت ولري لمونځ به څنګه کوي؟ | ۳۸۳ |
| د خسر ګنۍ کورته ولاړه او لمونځ يې پوره وکی ددي څه حکم دی؟ | ۳۸۳ |
| دسفر په حالت کي دکله څخه قصر واجب دی او آيا پوره لمونځ نسي کولای؟ | ۳۸۴ |
| مسافر امام له لومړۍ قعدي څخه پورته سي او دريم رکعت ورسره يو ځای کوي نو دمقتدي لمونځ به فاسد سي اوکه نه؟ | ۳۸۴ |
| مسافر ته په مقيم امام پسي دځلورو نيت کول پکار دی | ۳۸۴ |
| فوجيان به قصر کوي اوکه پوره لمونځ؟ | ۳۸۵ |
| داقامت په وطن کي که دپنځلسو ورځو نيت وي پوره لمونځ دي کوي کنې قصر دي کوي | ۳۸۵ |
| که مسافر سهوا دځلورو رکعتو نيت وتړي نوځو رکعته ادا کړي؟ | ۳۸۶ |
| مسافر امام مقيم وګڼي او اقتداء يې ورپسي وکړه نو څه دي وکړل سي؟ | ۳۸۶ |
| هغه ګارډ چي له کالکا څخه شملې ته ځي هغه به قصر کوي اوکه نه؟ | ۳۸۶ |

| مخ | مضمون |
|---|---|
| ۳۸۷ | چي دري منزله سفر وي قصر دي كوي |
| ۳۸۷ | چي شپه يې دقيام په ځاى كي تيريږي اودورځي چكر لګوي نوڅه حكم يې دى؟ |
| ۳۸۷ | دجهاز نوكر چي دانه وي ورته معلومه چي چيري څوورځي تيروم قصردي كوي |
| | يوسړى پرهغي لاري ولاړى چي قصروربا ندي كيږي اوپرهغه باندي راستون |
| ۳۸۸ | سو چي قصر وربا ندي نه كيږي، نو په بيرته راتللو كي قصر وكړي اوكه نه؟ |
| ۳۸۸ | له لس ميله تللو وروسته يې دسفر نيت فسخه كړى نو اوس څه وكړي؟ |
| ۳۸۸ | هغه مسافر چي قصر نه مني دهغه څه حكم دى؟ |
| ۳۸۹ | په سفر كي دمنزل اعتبار دى كه دفرسخ؟ |
| ۳۸۹ | دخسر كور اصلي وطن نه دى |
| | كه چا داصلي وطن په يوه ښاركي اقامت وكړى اوبيا په بيړۍ يا جهازكي نوكر |
| ۳۹۰ | سو نوڅه وكړي؟ |
| | په كوم ځاى كي چي جهاز دوې يا درې مياشتي ايسار سي هلته دهغه عمله |
| ۳۹۰ | داقامت دنيت په كولوسره مقيم ګرځي اوكه نه؟ |
| ۳۹۰ | دمال بوټ نوكران مقيم نه دي |
| ۳۹۱ | دڅو منزلو سفر شرعي بلل كيږي؟ |
| | له سفر څخه په راستنيدو كي چي له كور څخه په بيل بازار كي قيام وكړي نو |
| ۳۹۲ | دى مسافر دى اوكه نه؟ |
| ۳۹۲ | پلار دزوى په كور كي او زوى دپلار په كوركي مقيم دى اوكه مسافر؟ |
| ۳۹۲ | په كم ځاى كي چي مځكه او جايداد وي |
| ۳۹۳ | په شرعي سفر كي دقصر پريښودل |
| ۳۹۳ | سړى به دخسر په كور كي مقيم وي اوكه نه؟ |
| ۳۹۴ | اولنى اصلي وطن داصلي وطن حكم لري اوكه نه؟ |
| | دخپلي سيمي څخه په وتلو سره دي قصر شروع كړي اګر كه له هغه ځاى څخه |
| ۳۹۵ | دى په سترګو هم ليدل كيږي |
| ۳۹۵ | دشرعي سفر په اراده وتونكي دي فورا قصر شروع كړي |
| ۳۹۵ | مځكي يې دقيام نيت كړى وو، بيا يې نيت بدل سو نو قصر به كوي اوكه نه؟ |
| | دسفر په اراده په شاوخوا كليوكي دومره ګرځيدل چي دهغو مجموعي مسافت |
| ۳۹۵ | شرعي مسافت ته رسيږي |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| په شرعي سفر کي دي قصر کوي اګر که په لږه لږه فاصله کي قيام راځي | ۳۹۶ |
| په ځنګل کي ديوي مياشتي په اراده باندي قيام | ۳۹۶ |
| په سفر کي وتر معاف نه دي او سنت کول هم ثابت دي | ۳۹۶ |
| څوك چي تل په سفر کي وي هغه دي هم قصر کوي | ۳۹۷ |
| په کښتۍ کي اوسيدونکي دي قصر لمونځ کوي | ۳۹۷ |
| دريل هغه ډرايور چي دانجن سره په منډه وي دهغه قيام په يوه ځای کي تر يوڅو ګنټو زيات نه وي، نوڅه وکړي؟ | ۳۹۷ |
| نوکر د خپل بادار ما تحت دی په قصر کولو اونه کولو کي | ۳۹۸ |
| په يوڅو کليو کي په چکر لګولو سره چي شرعي مسافت پوره سي نوڅه حکم دی؟ | ۳۹۸ |
| دغير مقلدينو په دريو ميلو کي قصر کول او دهغوی دمستدل حديث تاويل | ۳۹۸ |
| که چيري اجير خپل وطن ته ورسيږي نو هغه به دمقيم په حکم کي وي که څه هم مالك هم ورسره وي | ۳۹۹ |
| مسافر مقتدي به په مقيم امام پسي دڅو رکعتو نيت کوي؟ | ۳۹۹ |
| يو ښار يې پريښودی بل ته ولاړی اوس که پخواني ښار ته راغی څه حکم به وي؟ | ۴۰۰ |
| په څومره سفر باندي قصر دی؟ | ۴۰۰ |
| قصر نه کوي ګنهګار به وي اوکه نه؟ | ۴۰۱ |
| دقصر په حالت کي سنت او وتر | ۴۰۱ |
| په سفر کي د ماپښين او مازديګو لمونځونه په يوه وخت کول | ۴۰۱ |
| ددوري په ډول سفر کوونکی | ۴۰۱ |
| قصر کوونکي امام لمونځ پوره کړی نو دامام او مقتدي لمونځ وسو اوکه نه؟ | ۴۰۱ |
| شپيته ميله ځي قصر به کوي اوکه نه؟ | ۴۰۲ |
| دپنځلسو ورځو له قيام څخه وروسته بيرته په سفر ځي له کومه ځايه به سفر شروع کوي؟ | ۴۰۲ |
| مقيم دي په مسافر پسي دڅلورو رکعتو نيت وکړي | ۴۰۲ |
| هغه ځاي چي هلته يې نکاح کړي وي | ۴۰۲ |
| دښځي اصلي وطن دخسرګنۍ کور دی او که دپلار ؟ او که څوك د اقامت له | ۴۰۲ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| وطن څخه لس میله په سفر ځي قصر به کوي اوکه نه؟ | ۴۰۳ |
| هغه سرکاري ملازم چي ۳۸ یا شپیته میله دوره کوي | ۴۰۳ |
| له اله اباد څخه بمبۍ ته دځلورو میاشتو په سفر روان سو په لاره به قصر کوي اوکه نه؟ | ۴۰۴ |
| دقصر په اړوند یو څو پوښتني | ۴۰۴ |
| له کور څخه له روانیدو وروسته به په څومره فاصله قصر پیلوي؟ | ۴۰۴ |
| د اورګاډی هغه کار کوونکی چي تل په سفرکي اوسي هغه به څه کوي؟ | ۴۰۵ |
| که دقصر له حکم سره سره پوره لمونځ وکول سي جواز لري؟ | ۴۰۵ |
| دسفر په حالت کي دسنت مؤکدو او وترو حکم | ۴۰۵ |
| د ماښام فرض او قصر | ۴۰۵ |
| د جنګ دمیدان ناخبره سپاهیان څه وکړي؟ | ۴۰۶ |
| که یو څوك په یوه دائره کي تل راتاویږي لیکن هغه ځایونه دشرعي سفر حد ته نه ورسیږي نو څه به کوي؟ | ۴۰۶ |
| مقیم دمسافر امام ترسلام وروسته په پاته رکعتوکي فاتحه ووایي اوکه نه؟ | ۴۰۷ |
| دخسرګنۍ په ځای کي به قصر کوي اوکه نه؟ | ۴۰۷ |
| مسافر امام پوره لمونځ وکړی نو دمقتدي لمونځ وسو اوکه نه؟ | ۴۰۷ |
| مقیم دمسافر امام له یوه رکعت څخه وروسته اقتداء وکړه نوځنګه لمونځ ادا کړي؟ | ۴۰۸ |
| مسافر دجمعي په لمانځه کي امام کیدای سي | ۴۰۸ |
| په هر حال کي دقصر دلیل | ۴۰۸ |
| په ریل کي قصر په څومره مسافت وکړي؟ | ۴۰۸ |
| رسول الله صلی الله علیه وسلم په سفر کی څو رکعته کړي دي؟ | ۴۰۹ |
| دقصر په حالت کي سنت او وتر | ۴۰۹ |
| دقصر دپاره کور جوړول معتبر نه دي | ۴۱۰ |
| هغه چي دپنځلسو ورځو نیت ونه کړي | ۴۱۰ |
| په سفر کي په دې نیت سره چي خدای خبر کله به ولاړ سم ، څه وکړي؟ | ۴۱۰ |
| دخُسر پرکور کم چي درې منزله لیري دی قصر وکړي اوکه نه؟ | ۴۱۱ |
| بې له قصره سفر | ۴۱۱ |

| مضمون | مخ |
|---|---|
| آیا دقصر دپاره دښار څخه وتل ضروري دي؟ | ۴۱۱ |
| مسافر پوره لمونځ په هیره وکی نوڅه حکم دی؟ | ۴۱۲ |
| دوې لاري وي او مسافر پرقصر والا لاره باندي ولاړ سي نوڅه حکم دی؟ | ۴۱۲ |
| دمیرټه څخه ډهلي ته تلونکی قصر وکړي اوکه نه؟ | ۴۱۲ |


دڅلورم جلد فهرست ختم سو

الاحد، ۰۷ جمادی الثانیة، ۱۴۳۰ ہجری ق

* * *

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي على رسوله الكريم .

دالله تعالى فضل اوكرم دى چي هغه ما خاكسار ته ددين قيم او ددينې علومو دخدمت شوق را نصيب كړى دى. دفتاوى دا څلورم جلد چي وړاندي كوم زړه مي له خوښى، ډاډ او منني څخه ډك دى، دزړه له كومي دعا كوم چي دا حقير خدمت دقبوليت شرف حاصل كړي او په راتلونكي كي دمدارجو ځينه جوړه سي.

دفقهي دنوي ترتيب او تدوين او دنوو مسائلو دحل كولو داړتيا احساس مخ په عاميدو دى.

عزتمندو عالمانو په دي هكله لومړنى هڅي هم پيل كړي دي، په دي لړه كي تر ټولو دمخه په هندوستان كي دتحقيقات شرعيه بنسټ كښېښودل سو، چي دهغه دصدارت فرائض زموږ دشورى دمجلس وتلي غړي، حضرت مولانا سيد شاه منة الله رحماني دامت بركاتهم دبهار او اړيسي دشريعت امير ترسره كول، هغه چي سره له دي چي يو عمل لرونكى عالم وو، داوږده فكر، او ژور نظر څښتن او له موجوده غوښتنو څخه په بشپړه توګه خبردار وو.

بيا په پاكستان كي ديوه مجلس قيام په عمل كي راغى، او په پاى كي دمصر دحكومت تر كتني لاندي د (مجمع البحوث الإسلامية) ناسته په قاهره كي راوغوښتل سوه، چي په هغي كي ددوه څلوېښتو ملكونو عالمانو برخه اخيستي وه، په دي اجلاس كي دهندوستان له لوري ددار العلوم ديوبند سرپرست حكيم الإسلام حضرت مولانا محمد طيب صاحب، مولانا سيد شاه منة الله رحماني او مولاناسيد احمد اكبر ابادي دامت بركاتهم شريك سول او دكتاب اوسنت اوتاريخ په رڼا كي هغوى خپله دقيقه رايه وړاندي كړه، لنډه دا چي ددار العلوم ديوبند مشرانو دموجوده حالاتو معاينه واخستله او چي كم څه په اعتدال سره كولى سي هغه كوي، او په راتلونكي كي به يي هم كوي ريشتنا خو داده چي دار العلوم ديوبند ته الله ﷻ ددين او فقهي دبصيرت اوخدمت كم معتدل مزاج وربخښلى دى هغه ته په سم ډول په كتلو سره ددي كار دترسره كولو حق همدوى ته حاصل دى ، او هيڅ شك نسته چي دار العلوم دسلو كلونو له نورو خدماتو سره سره دا

عظيم الشان خدمت هم په څه ناڅه درجه كي ترسره كوي زموږ دفتاواوو تازه لړۍ چې لـه دار العلوم څخه خپريزی دهغي له مطالعي سره بـه تاسو وپوهيږئ چي ددار العلوم دار الافتاء دزړو مسائلو سره دنويو مسائلو دحل كولو فريضه هم په ښه توګه تر سره كوي په راتلونكي كي به په دي موضوع باندي دړنا اچولو كوشش وكړل سی پـه پـای كـي دعـاده چي ای بي نيازه ربه، دخپل حقير بنده خدمت قبول كړی او دا خدمت دده لپاره داخرت توښه جوړه كړی.

**ددعا غوښتونكی:**

**محمد ظفير الدين غفرالله له**

**دفتاوی دترتيب څانګه دار العلوم ديوبند ، دربيع الثاني ٢٠ \ ١٣٨٤ هـ ق**

* * *

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحمد لله رب العلمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى اٰله وصحبه اجمعين .

## اَلبَابُ السّابِعُ

### فيما يفسد الصّٰلوة وما يكره فيها

### اول فصل: مفسدات الصلوة (يعنی دلمونځ ماتونکی شيان)

**که دبهرني سړي په وينا باندي امام يو څه وکړي نو لمونځ به فاسد شي اوکه نه؟** **سوال**:
(۱۳۰۲) دمازديگر په وخت کی يوه آمی سړی لمونځ ورکوی امام په جهر سره قرات ولوستی دلمانځه څخه دباندي يو سړی په چيغی سره وويل چی کرار کرار يې وايه دمازيگر په وخت کی قراءت په زوره نه ويل کيږی چی دا يی واوريدل نوامام کرار کرار ويل شروع کړل اولمونځ يی ختم کړی لمونځ وسو اوکه نه؟
**جواب**: دلمونځ څخه دباندی سړی ته ښوول نه وه پکار ليکن که چيری امام دهغه دوينا څخه وروسته په لږ توقف سره کرار ويل شروع کړی وی نو لمونځ صحيح دی اوکه چيری سمدستی يی دهغه په وينا سره کرار ويل شروع کړی وی نولمونځ به صحيح نه وی دهغه اعاده کول پکاردی په درمختار کی دی: حتى لو امتثل امر غيره فقال له تقدم فتقدم او دخل فرجة الصف احد فوسع فسدت بل يمكث ساعة ثم يتقدم برأيه (١) الخ. فقط

**چی زنګون يی ښکاري نو لمونځ کيږي اوکه نه؟** **سوال**: (۱۳۰۷) زنګون دبدن په هغه حصه کی شامل دی اوکه نه دکمی پټول چی لازم دی او آيا په داسی جامه کی يا په داسی حالت کی چی زنګون ښکاريږی لمونځ اداء کيږی اوکه نه؟
**جواب**: صحيح داده چی رُکبه يعنی زنګون په عورت کی داخل دی ددی پټول ضروری دی: فالركبة من العورة لرواية الدار قطني ماتحت السرة الى الركبة من العورة الخ ولحديث علي ﷺ قال قال رسول الله ﷺ الركبة من العورة. (٢) ليکن په دی کی اختلاف دی چی زنګون سره دورانه يواندام دی اوکه دادواړه بيل بيل دوه اندامونه دی ، نو دمخکنی روايت په بناء باندی صرف دزنګون په لمانځه کی په ښکاره کيدلو سره لمونځ نه ماتيږی ولی چی صرف زنګون دورون څلورمه حصه نه ده. او مُفسِد دصلوة کشف دربُع

(١). الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٥٨١ ، ط. س. ج١ ص٦٢٢. ظ
(٢). رد المحتار، باب شروط الصلوة، مطلب ستر العورة ج١ ص٣٧٥ ، ط. س. ج١ ص ٤٠٤. ظفير

(١) دی. اوددویم روایت موافق دزنگون څلورمه حصه په لمانځه کی په ښکاره کیدلوسره هم لمونځ ماتیږی نو دټول زنگون ښکاره کیدل بدرجه اولی مُفسد دی. دمُنیه په شرح کی یی دخلاصی څخه نقل کړی دی چی مختار مخکنی روایت دی یعنی عدمِ فساد دصلوٰة، (٢) خوظاهره خبره ده چی احتیاط په دی کی دی چی زنگون عورت دی په دی وجه دزنگون ښکاره کول په هیڅ حالت کی درست نه دي. دزنگون کم اختلاف چی دی هغه دلمونځ په فساد او عدمِ فساد کی دی. فقط

(که چیری په لمانځه کی ستر خلاص سی نو فوراً دی پټ کړی، چی تاخیر پکښی نه وی، نو په دی سره لمونځ نه فاسدیږی. ولو انکشف عضو وهو عورة فی الصلوٰة فَستَر من غیر لبس لا یضر هذا لان الانکشاف الکثیر فی الزمان القلیل عفو کالانکشاف القلیل فی الزمان الکثیر (غنیة المستملی ص٢١٣. ظفیر)

**په لمانځه کی په قهقهي سره اودس او لمونځ دواړه فاسدیږی اوکه صرف یو؟ سوال:** (١٣٠٨) په لمونځ کی قهقهه کول (یعنی په زوره خندل) اودس او لمونځ دواړه فاسدوی اوکه صرف لمونځ فاسدوی؟

**جواب:** په لمانځه کی په قهقهه کولو سره اودس اولمونځ دواړه فاسدیږی. کما فی الدر المختار وقهقهة بالغ یقظان یصلی بطهارة صغریٰ مستقلة صلوٰةً کاملةً ولو عند السلام عمداً انتهیٰ ملخصاً (٣). فقط

**چی په سجده کی پښې لوړی سی نولمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال:** (١٣٠٩) داردو په بعضی کتابونوکی لیکلی دی چی که چیری په سجده کی دواړی پښی لوړی سی، نو لمونځ نه کیږی کم از کم دپښی یوه ګوته دی په مزکه باندی لګیدلی وی. (داخبره څنګه ده)؟

**جواب:** دقدمونو دپورته کولو دا مسئله په درمختار اوشامی کی هم سته ددی مطلب دا دی چی که چیری بالکل په ټوله سجده کی دواړه قدمونه پورته وه نو سجده نه کیږی، او کله چی سجده ونسوه، نولمونځ ونسو. کم از کم یوه ګوته دی څه وخت پرمزکه لګیدلی وی داسي نه ده چی که چیری قدمونه دمزکی څخه پورته سول اوبیا یی کښیښول نو هم

---

(١). ویمنع الخ کشف ربع عضو قدر اداء رکن بلا صنعه من عورة غلیظه اوخفیفة علی المعتمد (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب شروط الصلوٰة مطلب ستر العورة ج١ ص٣٧٩ ، ط. س. ج١ ص٤٠٨). ظفیر

(٢). وکذا اختلفوا ایضاً فی الرکبة مع الفخور هل کل منها عضو علی حدة او هما عضو واحد فقال بعضهم کلها عضو علی حدة وعلی هٰذا لو انکشف القدر المانع کالربع من الرکبة وحدها لا تجوز الصلاة الخ وقال بعضهم الرکبة مع الفخذ کلاهما عضو واحد وفي الخلاصة هو المختار وفی شرح الهدایه لابن الهمام والاصح ان الرکبة تبع للفخذ لانها ملتقی العظمین لا عضو مستقل. انتهیٰ (غنیة المستملی ص٢١٠ وص ٢١١). ظفیر

(٣). الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الطهارة نواقض الوضوء ج ١ ص ١٣٤. ظفیر

په لمونځ نه کیږی مطلب دادی چی که چیری بالکل پورته وه نو لمونځ به نه کیږی. ([1])
فقط

**دغلا کمی کپړی چی یی په قیمت سره اخستی وی په هغو کی لمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال:**
(۱۳۱۰) چی دغلا کپړه په قیمت باندی واخلي او لمونځ پکښي وکړي دا څنګه دي؟
**جواب:** لمونځ صحیح دی، خو سره دمعلوموالی ورلره دغلا جامه اخستل نه دی پکار ([2]) او دغلا دجامې سره لمونځ کول نه دی پکار، اوکه ویې کړی نو لمونځ وسو. فقط

**په لمانځه کی په خبروکولو سره لمونځ ماتیږی اوکه نه؟ سوال:** (۱۳۱۱) دتکبیرتحریمه څخه وروسته چی امام دیو مقتدی په جواب کی دا ووایي چی ګړۍ (ساعت) دسهار څخه نه ږغیږی اوس به هم نه ږغیږی، په دې سره خو په لمانځه کی څه نقصان نه راځی اوکه بیا په تکبیرِ تحریمه ویلو سره لمونځ شروع کړی؟
**جواب:** په دې خبری سره لمونځ فاسدیږی ([3]) بیا لمونځ شروع کول پکاردی، او تکبیرِ تحریمه بیا ویل پکار دی. فقط

**که مقتدی دامام څخه مخکی رکوع وکړی ، او په سجده کی شریک سی نو څه حکم دی؟**
**سوال:** (۱۳۱۲) یو مقتدی ړوند دی کله چی امام په قیام کی وو هغه رکوع کوله، اوکله چی امام درکوع څخه فارغ سو او سجدی ته په تللو سو ، نو مقتدی دقومه کولو څخه وروسته په سجده کی شریك سو نو ددی مقتدی لمونځ وسو اوکه نه؟
**جواب:** په شامی باب ما یفسد فی الصلوٰة کی دی: ولو رکع وسجد بعده صح وکذا لو قبله وادرکه الامام فیها لکنه یکره الخ ([4]) ددی جزئیې څخه معلومه سوه چی په صورتِ مسئوله کی به دهغه لمونځ فاسد نه سی اوعمداً داسی کول مکروه دی لیکن ړوند معذور دی لهٰذا دمعصیت څخه دُور (یعنی لیری) دی. فقط

**دضالین په دوالین ویلو سره لمونځ کیږی او که نه؟ سوال:** (۱۳۱۳) دضالین په دوالین ویلو

---

([1]). ومنها السجود بجبهته وقدميه ووضع اصبع واحدة منها شرط (درمختار) وافاد انه لو لم يضع شيئا من القدمين لم يصح السجود (ردالمحتار باب صفة الصلوة بحث الركوع والسجود) ويكفيه وضع اصبع واحدة فلولم يضع الاصابع اصلا ووضع ظهر القدم فانه لا يجوز (البحر الرائق باب صفة الصلوة ج١ ص٣٣٢). ظفير
([2]). وما نقل عن بعض الحنفية من ان الحرام لا يتعدى ذمتين سالت عنه الشهاب بن الشلبى فقا ل هو محمول على ما اذا لم يعلم بذلك او لو رأى المكاس مثلا ياخذ من احد شيئا من المكس ثم يعطيه اخر ثم ياخذه من ذلك الاخر فهو حرام (ردالمحتار باب البيع الفاسد مطلب الحرمة تتعدد ج۴ ص ۱۸۰ ، ط. س. ج۵ ص۹۸). ظفير
([3]). يفسدها التكلم هو النطق بحرفين اوحرف ولو مفهم (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلاة ج١ ص۵۷۴، ط. س. ج١ ص۲۱۳). ظفير
([4]). ردالمحتار باب مايفسد الصلاة وما يكره فيها ج١ ص۵۸۹، ط. س. ج١ ص۲۳۰. ظفير

سره لمونځ کيږي او که نه؟

**جواب:** دعربو قرّآء اوعلماء هم ضالين په داسې صورت کې اداء کوي، چې ددال مفخّم آواز راوزي ددې وجه څخه دا ويل مشکل دي چې دهغوی تپولو لمونځونه نه دي صحيح، حالانکه هغوی دحروفو په آوازونو او مخرجونو باندې پوهيدونکې دي. فقط

**دغير مقلد په تکبير ويلو سره لمونځ فاسد نه سو: سوال:** (۱۳۱۴) که چيرې دحنفيانو په جَمعه کې غيرِ مقلِّد تکبير ووايي نو په لمونځ کې به فساد واقع سي او که نه؟

**جواب:** هيڅ فساد نه واقع کيږي.

**په هر آيت باندې وقف جائز دی او که نه؟ او په دې سره خو به لمونځ نه فاسديږي؟ سوال:** (۱۳۱۵) په هرآيت باندې وقف کول برابره خبره ده که دماقبل او مابعد سره ددغه آيت تعلق وي او که نه وي، جائز دي او که نه؟ اودرب العالمين او الرّحمٰن الرّحيم په مابينځ کي په وصل کولو سره لمونځ فاسديږي او که نه؟

**جواب:** په جواز کې هيڅ شبه نسته، اوپر ربّ العٰلمين او اَلرَّحمٰن الرَّحيم باندې وقف کول صحيح دي، لمونځ نه ورسره فاسديږي. فقط

**که په لمانځه کې تيرې هيرې خبرې رايادې سي نو لمونځ به وسي او که نه؟ سوال:** (۱۳۱۲) کم خلق چې په ظاهره په لمانځه کې مصروف وي او پريشانه خيالات يې بازارونو او عدالتونو ته بوزي، او تپولې هيرې خبرې په لمونځ کې ورته رايادېږي، نو دا لمونځ باطل دی او که نه؟

**جواب:** لمونځ يې فاسد او باطل نه دی. (١) فقط

(عن عثمان بن ابی العاص قال قلت يارسول الله ان الشيطان قد حال بينی وبين صلٰوتی وبين قرآءتی يلبسها علی فقال رسول الله ذالك شيطان يقال له خنزب فاذا حسسته فتعّوذ بالله منه واتفل علٰی يسارك ثلٰثا ففعلتُ ذالك فاذهبه الله عنّی. رواه مسلم (مشكوٰة باب الوسوسه ص ١٩). ظفير

**چې سهار پر پرتوګ باندې تپله ويني نو آيا هغه به دماخستن لمونځ راګرځوي؟ سوال:** (۱۳۱۷) په بهشتي زيور کې يې ليکلي دي چې کم سړی دماسخوتن دلمونځ داداء کولو څخه وروسته بيده سي، او دلمر راختلو څخه وروسته چې بيدار سي نو پر پرتوګ باندې دمَنی تپله ويني هغه ته دماسخوتن لمونځ راګرځول پکاردي. داصحيح ده او که نه؟

**جواب:** کم سړی چې دماخستن ترلمونځ وروسته بيده سو اوسهار چې کم وخت راپاڅيدی

---

(١) عن ابی هريرة ﷺ قال قال رسول ﷺ ان الله تجاوز عن أمتی ما وسوست به صدرها ما لم تعمل به او تتكلم متفق عليه. (مشكوٰة باب الوسوسه ص ١٨). ظفير

نو هغه پر جامه باندی دمنی تپله ولیده نو دماخستن دلمونځ دراګرځولو حکم دهغه دپاره نسته. اوپه ذکر سوی کتاب کی به هیڅکله داسی نه وی. په پوهیدلو کی غلطی سوی ده، دوباره دی هغه په غور سره وکتل سی. فقط

**چی امام دلمانځه په حالت کی دمقتدي په وینا سره مخ ته وړاندی سی ، نو لمونځ به وسی او که نه؟** **سوال**: (١٣١٨) زید دسهار جَمعه ورکوله او صرف بل یو سړی یی مقتدی ؤ، کم چی دشرعی قواعدو مطابق دزید سره بالکل نږدی رسته طرف ته ولاړ ؤ ددویم رکعت دقراءت ختمیدلو څخه مخکی یوبل مقتدی راغی، اوپه جَمعه کی یی شاملیدل وغوښتل چونکه ومخکی مقتدی ته دوروسته راتلو موقعه نه وه، ددی دپاره دویم مقتدی زید ته په الفاظو کی وویل،چی تاسو یو قدم وړاندی سی په دې شان زید یوقدم وړاندی سو او قرائت یی هم هغه شان جاری وساتی او لمونځ یی ختم کړی زید وایی چی دتهولو لمونځ فاسد سو ولی چی مقتدی ته پرځای دوینا په لاس سره اشاره کول پکار وو، ددی وجه څخه دلمونځ داعادی ضرورت سته اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورت کی دبعضو فقهاؤ قول دلمونځ دفاسد کیدلو دی خو صحیح داده چی لمونځ وسو، واقعی دی مقتدی ته پکار وه چی په اشارې سره یې امام ته دمخکی تللو دپاره ویلی وای، لیکن بهر حال لمونځ وسو، داعادې ضرورت نسته. (1) فقط

**که دلمانځه په دوران کی لاسونه په جامو کی دننه وی ، نو لمونځ کیږی اوکه نه؟** **سوال**: (١٣١٩) که چیری دلمانځه په وخت کی لاسونه په جامو کی دننه وی، نو لمونځ کیږ ی او که نه؟

**جواب**: لمونځ درست دی. (2)

**فتحه ورکول اواخیستل اویا دیوه لمانځه پاته کیدل څنګه دي؟** **سوال**: (١٣٢٠) زید دجُومات امام دی، هغه دماسخوتن په لمونځ کی ایت: وَسِيْقَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا، الآیة ، ووایه، اوپر:

---

(1) ثم نقل تصحيح عدم الفساد فی مسئله من جذب من الصف فتاخر (در المختار) وعبارة المصنف فی المنح بعد ان ذكر لو جذبه آخر فتاخر الاصح لاتفسد صلاته وفی القنيه قيل لمصل منفرد تقدم فتقدم بامره اودخل رجل فرجة الصف فتقدم المصلی حتی وسع المكان عليه فسدت صلاته وينبغی ان يمكث ساعة ثم يتقدم برأی نفسه وعلله فی شرح القدوری بانه امتثال لغير امرالله تعالی اقول ماتقدم من تصحيح صلاة من تاخربمايفيد تصحيح عدم الفساد فی مسئله القنية لانه مع تاخره نجد به لا تفسد صلاته (رد المحتار باب الامامة ج١ ص ٥٣٣ ، ط. س. ج١ ص٥٧١). ظفير

(2) رفع يديه الخ ماسًّا بابهاميه شحمتی اذنيه هو المراد بالمحاذاة (در المختار ) ووفق بينهما وبين روايات الرفع ای المنكبين بان الثانی اذا كانت اليدان فی الثياب للبرد كما قاله الطحاوی الخ (رد المحتار فصل تاليف الصلوة ج١ ص٤٥٠ ، ط. س. ج١ ص ٤٨٢). ظفير

وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا، باندی ودریدی، بیا یې ددغه ځای څخه دیوبل سورت آیت د: وَفُتِحَتْ اَبْوَابُهَا، سره یو ځاي کړی او مخ ته یی ویل شروع کړل. نو عمر چی دقرآن حافظ دی اودمَا تَجُوْزُ وَمَا تُفسِدُ بِه الصَّلٰوۃ څخه خبر وو، هغه فتحه ورلره ورکړه داسی یې ورته وویل: وَقَالَ لَهُمْ خَزَنَتُهَا. زید بیا دشروع څخه دور راوګرځوی او پرهمدې ځای باندی دوباره ودریدی، بیا عمر فتح ورکړه، زید بیا په دریم وار آیت راوګرځوي او په مشکله سره پر مخ باندی ولاړی او: وَيُنْذِرُونَكُمْ لِقَاءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا، یې پرېښووی اوسورۃِ زُمُر یې ختم کی او دسجده سهوی څخه بغیر یې لمونځ تمام کړی. او داکار تقریبًا دسلو ۱۰۰ لمونځ ګزارو په مینځ کی دزید څخه صادر سوی دی. نو لمونځ راګرځول پکاردی اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورت کی لمونځ دامام او مقتدیانو صحیح دی اوسجده سهوه واجب نه ده، او اعاده ددی لمونځ لازمه نه ده. کما صرح به فی الدر المختار والشامی بخلاف فتحه علی امامه فانه لایفسد مطلقًا لفاتح وآخذ بکل حال (درالمختار) قوله بکل حال ای سواء قرء الامام قدر ما تجوز به الصلوۃ ام لا انتقل الی آیة اخری ام لا تکرار الفتح ام لا هو الاصح نهر، شامی [1] جلدِ اول ص ۴۱۸.

نو معلومه سوه چی اَصَح داده، چی دفتح په تکرار سره هم په لمونځ کی فساد نه راځی او دسجده سهوی دواجبوالی هم هیڅ وجه نسته ولی چی دقرائت په تکرار سره کم تاخیر په یوه رکن کی وسی، هغه موجب دسجده سهوی نه دی، کما فی الدرالمختار واعلم انه اذا شغله ذلك الشك فتفکر قدر اداء رکن لم یشتغل حالة الشك بقراءة الخ وجب علیه سجود السهو [2] الخ ددی څخه واضحه سوه چی داشتغال بالقراءة په صورت کی سجده سهوه نه لازمیږی البته داهم په شامی وغیره کی تصریح ده چی لکه څنګه چي مقتدی ته دا مکروهه دی چی فورًا فتحه ورکړی، همدغه شان امام ته هم دا مکروه دی چی مقتدی دفتحی ورکولو طرفته لا چاره کړی. بلکه هغه ته پکاردی، چی بل مناسب آیت ته یا دبل سورت طرف ته منتقل سی. یا که چیری واجب یا مستحب مقدار یی لوستی وی نورکوع دی وکړی. کما قال فی الشامی یکره ان یفتح من ساعته کما یکره للامام ان یلجئها الیه بل ینتقل الی آیة اخری لا یلزم من وصلها ما یفسد الصلٰوۃ او الٰی سورۃ اُخری اویرکع اذا قرء قدر الفرض کما جزم به الزیلعی وغیره وفی روایة قدر المستحب کما رجحه الکمال بانه الظاهر من الدلیل [3] الخ. فقط

---

(1) رد المحتار باب مایفسد الصلوۃ ج۱ص ۵۸۲ ، ط. س. ج۱ ص۲۲۲. ظفیر

(2) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۷۰۲ ، ط. س. ج۲ ص ۹۳. ظفیر　=

(۱۳۲۱) **سوال: چې چیرې مقتدي په یورکعت کې اقتداء پرېږدي، نولمونځ به وسي اوکه نه؟**
دجُومات دامام څخه دمابښام په لمونځ کې ددوو رکعتو څخه وروسته التحیات هیره سوه مقتدیانو په غلطی سره یا په هیره سره التحیّات وویله اوامام په دریم رکعت کې اَلْحَمْدُ کرار کرار ویله اورکوع یې وکړه او مقتدیان دامام په اَللهُ اَکبَرُ ویلو باندی ودریدل امام درکوع دتسبیحاتو دپوره کولو څخه وروسته سجدی ته ولاړی او ټول مقتدیان یې تابع سوه، په دې صورت کې دامام لمونځ پوره سو مګر مقتدیانو په غلطي سره په دریم رکعت کې دامام اقتداء ونکړه بلکه بعضی په رکوع کی هم شامل نه سول. دمقتدیانو دلمونځ څه حکم دی؟ فقط
**جواب**: کمو مقتدیانو چې رکوع ونه کړه ، دهغوی لمونځ ونسو اوکمو مقتدیانو چې په ولاړه رکوع وکړه، برابره خبره ده که په ولاړه کې دامام سره په رکوع کی شامل سوه، یایې وروسته رکوع وکړه، دهغوی لمونځ وسو [1] دامام پرذمه داولنی قعدې پرېښولو په وجه سجده سهوه لازمه ده. [2] فقط
(۱۳۲۲) **سوال: دلمونځ په حالت کی په چیغو او سورو وهلو سره لمونځ فاسدیږي اوکه نه؟**
دآمیانو یوې ډلی دیو پیر څخه تعلیم اخیستی دی هغوی په جهری لمونځ کی په قرآئت اوریدلو سره او کله په سرِّی لمونځ کی هم هُو هُو جوړ کړي اوچیغی ووهی. په دی سره دهغوی لمونځ فاسدیږی اوکه نه؟ او دا آه او اُف نه دی بلکه خالصه چیغه ده.
**جواب**: په در المختار کی دی: والانین هو قوله اه بالقصر والتاوه هو قوله آه بالمد والتافیف اُف او تف والبکاء بصوت یحصل به حروف لوجع او مصیبة الخ لا کذکر جنة او نار فلو اعجبته قراءة الامام فجعل یبکی وبقوله بلی او نعم او اری لا تفسد، سراجیه لدلالته علی الخشوع الخ اوپه شامی کی دی: قوله: لدلالته علی الخشوع افاد انه لوکان استلذاذاً بحسن النغمة یکون مفسداً [3] الخ ، نو معلومه سوه چي په

---

(۳) رد المحتار باب ما یفسد الصلوة ج۱ ص۵۸۲ ، ط. س. ج۲ ص ۲۲۳. ظفیر
(۱) نعم تکون المتابعة فرضا بمعنی ان یاتی بالفرض مع امامه او بعده کما لو رکع امامه فرکع معه مقارنا او معاقبا وشارکه فیه او بعد ما رفع منه فلو لم یرکع اصلا الخ بطلت صلاته (رد المحتار باب صفة الصلاة مطلب تحقیق متابعة الامام ج۱ ص ۴۳۹ ، ط. س. ج۱ ص ۴۷۱). ظفیر
(۲) ولها واجبات لا تفسد بترکها وتعاد وجوباً الخ ان لم یسجد له ای للسهو الخ وهی قراءة فاتحه الکتاب الخ والقعود الاول (الدرالمختار علی هامش رد المحتار ج ۱ص۴۲۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۵۲) سها عن القعود الاول من الفرض الخ ثم تذکره عاد الیه الخ ما لم یستقم الخ والا ای وان استقام قائما لا یعود لاشتغاله بفرض القیام وسجد للسهو لترک الواجب (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۲۹۲، ط. س. ج۲ ص ۸۳). ظ
(۳) رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ص۵۷۹ ، ط. س. ج۱ ص ۲۱۹ – ۲۲۰ . ظفیر

لمانځه کي دغه ډول هُو هُو او ناري وهل که چيري دجنت او دوږخ دذکر لـه املـه نـه وي نولمونځ فاسدوي، ځکه نو دجاهلانو ددې کار څخه پـه سختئ سره بندول پکار دي، ځکه هغوی خپل لمونځ هم فاسدوي اودنورو لمونځ ګذارو په لمونځ کي هم خلل اچوي، كَمَا جَرَّبْنَاهُ. فقط

**که دلمونځ کوونکي مخ ته سپی تير سو نو لمونځ فاسديږي اوکه نه؟ سوال:** (۱۳۲۳) کـه چيرى دلمونځ ګزار مخ ته سپى تير سى نو لمونځ فاسد يږي او كه نه؟

**جواب:** لمونځ نه فاسديږي، ددوباره راګرځولو ضرورت يې نسته. ([1]) فقط

**په جيب کی په ناپاکه شيانو ايښولو سره لمونځ کيږي اوکه نه؟ سوال:** (۱۳۱۴) کـه پـه جيب کی څه ناپاکه شيان يا ناپاکه کپړه قصداً يا سهواً پاته سی اولمونځ وکړل سی نـو لمـونځ کيږی اوکه نه؟

**جواب:** په دی صورت کی به لمونځ صحيح نه وی دغه لمونځ بيا کول پکار دی. ([2]) فقط

**چي په لمونځ کی پرتوګ يا لنګ خلاص سی ، نوڅه وکړی؟ سوال:** (۱۳۲۵) كه دلمانځه په حالت کی دمقتدی يا دامام لنګ يا دپرتوګ پرتوګاښ خلاص سی نو هغه پـه لمـونځ کـی څه وکړی؟

**جواب:** که چيری په يوه لاس سره يعنی په عملِ َسير سره يې سمول ممکن نه وی نو لمونځ دی مات کړی اوپه دواړو لاسونو سره دی لنګ وتړی، بيا دی پـه جَمعـه کـی شريك سی. ([3]) فقط

**چي دسُترې پرځای چتری وغيره وی نو کافي ده اوکه نه؟ سوال:** (۱۳۲۲) كه دلمـونځ ګـزار په وړاندی څادر يـا چتـری (سـايبان) دسُـترې پرځـای وی نـو کـافی ده اوکـه نـه؟ آيـا سُـتره دلرګی څخه کيدل ضروری دی؟ او دلرګی سُتره کم ازکم يوه ګوته ډبله کيدل ضروری دی او که ددی څخه کمه هم کافی کيدی سی؟

**جواب:** که څادر يا چتری دلمونځ ګزار په وړاندی وی، نو پرځای دسُتری کافی ده. دلرګی

---

([1]) ولا يفسدها الخ مروره بين يديه اى حائط القبلة فى بيت ومسجد صغير مطلقًا الخ ولو امراة او كلبًا (الدر المختار على هامش رد المحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج۱ ص۵۹۳ ، ط. س. ج۱ ص ۲۳۴). ظفير

([2]) وعفى الشارع عن قدر درهم وان كره تحريما الخ وفوقه مبطل (درالمختار) ففى المحيط يكره ان يصلى ومعه قدر درهم او دونه من النجاسة عالما به الخ (رد المحتار باب الانجاس ج۱ ص ۲۹۲ ، ط. س. ج۱ ص۳۱۲). ظف

([3]) ويفسدها كل عمل كثير ليس من اعمالها ولا لاصلاحها وفيه اقوال خمسة اصحها مالايشك بسببه الناظر من بعيد فى فاعله انه ليس فيها(در المختار) القول الثانى ان ما يعمل عادة باليدين كثير وان عمل بواحدة كالتعمّم وشدّ السّراويل وما عمل بواحدة قليل وان عمل بهما كحلّ السّراويل ولبس القلنسوة ونزعها (رد المحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج۱ ص۵۸۳ – ۵۸۴ ، ط. س. ج۱ ص ۲۲۴ – ۲۲۵). ظفير

خاصوالی نسته. او دغلظِ اصابع (یعنی دګوتی هومره پنډوالی) قید ته صاحب دبدائع قولِ ضعیف ویلی دی. فی الشامی لکن جعل فی البدائع بیان الغلظ قولاً ضعیفاً وانه لا اعتبار بالعرض وظاهره انه المذهب (١) بحر الخ . فقط

**پر: صراط الذين ، باندې دساه دختميدلو دوجې څخه نه کفر لازميږي او نه لمونځ فاسديږي:**

**سوال:** (١٣٢٧) داسي سړی چي دعلمِ قرآئت څخه بې خبره دی، په جهری لمونځ کی امام سو او داضطرار په حالت کی یی پر: صِرَاطَ الَّذِیْنَ باندی ساه ختمه سوه، آیا دغه امام کافر سو ؟ او لمونځ فاسد سو که نه ؟

**جواب:** په دی صورت کی لمونځ فاسد نه سو اوامام مذکور کافر نه دی. بلکه هغه ته په کافر ویونکی باندی دکفر بیره ده کما فی الحدیث: ایما رجل قال لاخیه کافر فقد باء بها احدهما. رواه الشیخان (٢)

وفی حدیث آخر: سباب المسلم فسوق وقتاله کفر (٣) وفی حدیث آخر ایضًا من دعا رجلاً بالکفر او قال عدو الله ولیس کذلك الاَّ حارَ علیه (٤) (متفق علیه).

**دغير لمونځ ګزار په پَيک وهلو سره دلمونځ ګزار لمونځ نه فاسديږي:** **سوال:** (١٣٢٨) که چیری غیر لمونځ ګزار لمونځ کونکی ته پَیك وهی نو دلمونځ کونکی په لمونځ کی به څه فساد لازم سی او که نه؟

**جواب:** دلمونځ کونکی په لمونځ کی په دی سره هیڅ خلل اوفساد نه لاز میږی اګر چی دا ښه نه دی چی لمونځ ګزار دلمونځ په حالت کی په چا باندی پَیك وهی، ددی وجه هغه ته پکاردی چی پَیك وهونکی منع کړی. فقط

**په: ماهِيَهْ ، کی تاء ظاهرول غلط دي خو لمونځ نه په فاسديږي:** **سوال:** (١٣٢٩) که چیری پر ځای دهاء (لکه په هَوِّزْ کي چي ده) مَاهِیَهْ په تاء سره، سره دتنوینه (یعني مَاهِیَةٌ) وویل سي، نو لمونځ فاسدیږی او که نه؟

**جواب:** په: وَمَا اَدْرَاكَ مَاهِیَهْ کی آخر یی هاء ده کمه چی هاءِ سکته ده، دا تاء نه ده لیکن چا چی په غلطی سره داسی ولوستل دهغه لمونځ وسو. (٥) فقط.

---

(١) ویغرز ندبا الامام وکذا المنفرد فی الصحراء ونحوها سترة بقدر ذراع طولا وغلظ اصبع لتبدو للناظر بقربه دون ثلاثة اذرع علی حذاء احد حاجبیه الخ (درالمختار) لکن جعل فی البدائع بیان اللفظ الخ (رد المحتار ج١ ص ٥٩٥ - ٥٩٢ ، باب ما یفسد الصلوة ط. س. ج١ ص ٦٣٢ - ٦٣٧). ظفیر

(٢) و(٣) و(٤). مشکوٰة ، باب حفظ اللسان والغیبة والشتم ، ص ٤١١ . ظفیر

(٥) ومنها القرآءة بالالحان ان غیر المعنی والا لا. (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب مایفسد الصلوة ج١ ص٥٨٩ ، ط. س. ج١ ص ٦٣٠). ظفیر

**دشپې يې دقبلې پوښتنه وکړه او لمونځ يې وکی، وروسته معلومه سوه چې قبله غلطه وه نو دا لمونځ وسو او که نه؟** **سوال**: (١٣٣٠) زيد دشپې دخپل ملګری څخه دقبلې پوښتنه وکړه اولمونځ يې وکی څو ورځی وروسته معلومه سوه چی قبله غلطه وه نودغه لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ وسو. فقط

**که مسبوق په غلطی سره دامام سره سلام وګرځوی او دوريادولو څخه وروسته ودريدی نو څه حکم دی ؟** **سوال**: (١٣٣١) يوه ورځ دماخستن په لمونځ کی زه په دوهم ٢ رکعت کی شريك سوم،خو دامام سره مې دواړو طرفوته سلام وګرځوی اولمونځ مې ختم کی او دُعاء مې وغوښته خو همدغه وخت يوبل مقتدی چاچی دامام سره خپل لمونځ پوره کړی ۇ ماته يادګيرنه وکړه چی ته ولاړ سه اولمونځ پوره کړه. نوکه په دې حالت کی زه ګنهګار دريدلی وای اولمونځ مې پوره کړی وای نو لمونځ به مې سوی وای او که نه؟ او په کم صورت کی چی ما دهغه خبره ونه منله بلکه دنوی سره مې څلور رکعته فرض وکړل نو دا لمونځ اداء سو اوکه نه؟ زما دنه منلو وجه دا وه چی په زړه کی مې خيال اوشُبه پيدا سوه چی دلمونځ څخه دخارج سړی په فتح ورکولو سره لمونځ فاسديږی.

**جواب**: که چيری ددغه سړی دوينا څخه وروسته دی څه سوچ کړی وای، او پخپله درته ياد سوی وای چی زما څخه يو رکعت بيشکه پاته سوی دی، او پر دې بناء باندی ولاړ سوی وای، يو رکعت دی پوره کړی وای اوسجده سهوه دی کړی وای، نو لمونځ به سوی وای. ځکه چی دا امتثال (يعنی خبره منل) دغير سړی نه دی بلکه کله چی پخپله درته په ياد سوه نو همدی طرفته دريدل منسوب کيږی. په درمختار کی دی: حتّٰی لو امتثل امر غيره فقيل له تقدم فتقدم او دخل فرجة الصف احد فوسع له فسدت بل يمكث ساعةً ثم يتقدم برأيه ([1]) اوپه شامي کې يې دنه فاسديدلو تصحيح کړيده، وقدّمنا عن الشرنبلالي عدم الفساد وتقدم تمام الكلام عليه ([2]) الخ شامی جلد اول. فقط

**چی دعَلَيْكُمْ پر ځای عَلَيْتُمْ ووايی نو لمونځ کيږی اوکه نه؟** **سوال**: (١٣٣٢) که چيری په اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ کی دعَلَيْكُمْ پرځای عَلَيْتُمْ ووايی، نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ وسو. ([3]) فقط

---

([1]) ويتحرّی وهو بذل المجهود لنَيل المقصود للعاجز عن معرفة القبلة فان ظهر خطاه لم يعد لمامرّ (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب شروط الصلوة واستقبال القبلة ج١ ص٤٠١ ، ط. س. ج ١ ص ٤٣٣). ظفير

([2]) الدر المختار على هامش رد المحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها تحت الفروع ج١ ص٥٨١ ، ط. س. ج ١ ص ٦٢٢. ظفير　=

**په چوغه او عمامه کې لمونځ کیږي اوکه نه؟** **سوال**: (۱۳۳۳) امام که لباس شرعی مثلاً چوغه وازار ورداء وعمامه راپوشیده امامت می سازد ولیکن پوشیدن این لباس او را ناخوش است آیا نماز جائز می شود یا نه؟

**جواب**: نماز اداء می شود. ([1])

**چې په جامه کې دناپاکۍ ټپله ووینی نو څه وکړي ؟** **سوال**: (۱۳۳۴) امام ته احتلام وسو جامې یې ومینځلې او لمونځ به یې ورکوی. دوې ۲ درې ۳ ورځې وروسته یې پر قمیص باندی دمنی ټپله ولیده نو اوس دلمونځونو اعاده کول پکاردی اوکه نه؟ لیکن دامعلومه نه ده چې چا چا په ده پسې لمونځونه کړی دی؟

**جواب**: دفقهې په کتابونو کې یې په دی صورت کې دا لیکلې دی چې که چیری یو سړی پرخپله جامه باندی منی ولیده او ددرهم داندازې څخه زیاته وه، نو دآخری خوب څخه وروسته چې ده کم لمونځونه په همدغه جامه کې کړیدي هغه به راګرځوي ، دمثال په توګه نن دماپښین تر لمانځه وروسته ده پر کالو باندي مني وليدل، نوکه چیری غرمه بیده سوی وی نو دهمدغه وخت څخه به جامه ناپاکه ګڼل کیږی. اوکه چیری غرمه بیده سوی نه وی بلکه دشپې بیده سوی وو نو دهغه وخت څخه به ناپاکه ګڼل کیږی او دهغه څخه وروسته یې چې څومره لمونځونه کړی دی هغه به راګرځول کیږی اوپه قدر دامکان مقتدیانو ته هم اطلاع ورکول پکاردی. چې څوك څوك ورپه یادیږی هغوی ته دی خبر ورکړی. کما فی الدرالمختار: کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او رکن ([2]) الخ. فقط

**په سرّي ذکر سره لمونځ فاسدیږی اوکه نه؟** **سوال**: (۱۳۳۵) دنقشبندیې طریقې عزتمند مریدان دمرشدانو دلار ښوونې سره سم په فرضي او نفلي لمونځونو کې پټ اذکار وايي، چې د: أوه او هُو الفاظ نه ورڅخه اوریدل کیږی، په دې سره لمونځ فاسدیږي اوکه نه؟

---

([3]) ومنها الخروج بصنعه کفعله المنافی لها بعد تمامها (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب صفة الصلوٰة ج۱ ص ۴۱۸ ، ط. س. ج ۱ ص ۴۴۸ - ۴۴۹). ظفیر

([1]). **پښتو ژباړه یې**:

**سوال**: هغه امام چې شرعي لباس لکه چپنه، پرتوګ، څادر او بګړی یې اغوستي وي او امامت کوي لیکن ددې لباس اغوستل ورته ناخوښ وي، آیا لمونځ یې صحیح کیږي اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ یې صحیح کیږي.

([2]) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الامامة مطلب المواضع التی تفسد صلاة الامام ، ج۱ ص ۵۵۳ ، ط. س. ج ۱ ص ۵۹۱ - ۵۹۲). ظفیر

**جواب**: ظاهره داده چي لمونځ فاسديږي، ځکه نوپه دې کارکي احتياط واجب دى. ([1])

**دقبلې څخه په مُنحرف جُومات کی کړی لمونځونه صحیح سوه اوکه نه؟ سوال**: (۱۳۳۲) په يوجُومات کی به خلګو لمونځو کول. ځوورځی وروسته معلومه سوه چی جَومات دقبلی داړخ څخه منحرف دی. دتحقيق څخه وروسته څه خلق دمخکی په شان مخ کوی اولمونځ کوی اوبعضی خلګ ددغه اړخ څخه لږ وروګرځي اولمونځ کوی. اوس کم خلق چی مخکنی طرف ته لمونځ کوی هغوی ته دلمونځ اعاده کول پکا رده اوکه نه؟ او دتحقيق څخه مخکی چی کم لمونځونه سوی دی، دهغو اعاده کول پکاردی اوکه نه؟

**جواب**: پرمخکنی طرف باندی چی کم لمونځ کوی دهغوی لمونځ صحیح دی اودمخکنیو لمونځونو اعاده کول لازم نه دی، ولی چی په لږ څه کوږوالي باندې دقبلې په استقبال کي څه فرق نه راځي، او دقطب حساب هم تحقيقي نه بلکه تقريبی ([2]) دی. فقط

**چی دسهار په لمونځ کی لمر راوخيژی نولمونځ فاسديږی اوکه نه؟ سوال**: (۱۳۳۷) که چيری دسهار په لمونځ کی لمر راوخيژی، نو لمونځ به صحيح وی اوکه نه؟

**جواب**: داحنافو په نزد دهغه لمونځ فاسد سو. دلمر را ختلو اوپورته کيدلو څخه وروسته بيا هغه ته لمونځ کول پکار دی کما فی الدر المختار والشامی بخلاف الفجر فتبطل بطرو الطلوع الذی هو وقت فساد ([3]) الخ شامی، والاحاديث تعارضت فتساقطت الخ. در المختار. ([4]) فقط

**دضاد پرځای په ظاء ويلو سره لمونځ فاسديږی اوکه نه؟ سوال**: (۱۳۳۸) په لمانځه کی دض پر ځای په ظآء ويلو سره لمونځ فاسديږی اوکه نه؟

**جواب**: اول ددی مسئلې په باره کی داضروری ده چی قصداً دظاء ويلو څخه احتراز وکی ولی چی په دی کی دلمونځ فاسد کيدلو روايات ضرور موجود دی بلکه په شرح فقه اکبرکی يې دمحيط څخه نقل کړی دی چی تعَمُّد ددی کفر دی. عبارت يې دادی: وفی المحيط سئل الامام الفضلی عمن يقرء الظاء المعجمة مكان الضاد المعجمة اويقرء اصحاب الجنة مكان

---

[1] وذكر فی الملتقط ان المصلی اذا لسعته الحية فقال بسم الله الرحمٰن الرحيم تفسد صلوته الخ وذكر فی الذخيرة انه اذا قال المريض يارب اوقال بسم الله لما يلحقه من المشقة الخ اما عندهما ای الطرفين فتفسد الخ (غنية المستملی). ظفير

[2] فللمكی الخ اصابة عينها الخ ولغيره ای لغير معاينها اصابة جهتها بان يبقی شی من سطح الوجه مسامتا للكعبة الخ (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج١ ص٣٩٧ ، ط. س. ج١ ص٤٢٧-٤٢٨). ظ

[3] رد المحتار كتاب الصلاة تحت قوله بخلاف الفجرج١ ص ٣٤٢ ، ط. س. ج ١ ص ٣٧٣. ظفير

[4] الدرالمختار علی هامش رد المحتار كتاب الصلاة ج١ ٣٤٢ ، ط. س. ج ١ ص ٣٧٣. ظفير

اصحاب النار اوعلى العكس فقال لايجوز امامته ولو تعمد يكفر قلت اما كون تعمده كفرًا فلا كلام فيه اذا لم يكن فيه لغتان ففي ضنين الخلاف سامي. ([1]) اودبنده مطلب دتحرير سابق څخه دا وو چي باوجود دارادي داداء كولو دضاد دمخرج خپل څخه كه چيري مشابهت دظاء يادال سره راسي نو لمونځ صحيح دی. په در المختار کی دی: الا ما يشق تميزه كالضاد والظاء فاكثرهم لم يفسدوها ([2]). په شامی کی دی: قال في الخانية الاصل فيها اذا ذكر حرفا مكان حرف وغير المعنى ان امكن الفصل بينهما بلا مشقة تفسد وان لا يمكن الا بمشقة كالظاء مع الضاد الخ قال اكثرهم لا تفسد وفي خزانة الاكمل قال القاضي ابو عاصم ان تعمد ذلك تفسد وان جرى علٰى لسانه ولا يعرف التميز لا تفسد وهو المختار عليه وفي البزازية وهو اعدل الاقاويل وهو المختار ([3]) الخ، ددی احتياط په وجه سره دعربو علماء اوقراء قاطبةً (ټوله) دضاد په لوستلو کی دظاء څخه قطعًا ځان ساتی او ضاد په صورت ددال مفخّم اداء کوی، كما هو مشاهد ومعروف. فقط

**<u>درشوت په جا مو کی لمونځ کيږی اوکه نه؟</u> سوال**: (١٣٣٩) درشوت په جامو کی لمونځ جائز دی او که نه ؟

**جواب**: لمونځ ادا کيږی خو دغه سړی عاصی او فاسق دی. يعنی دحرامی ګټې په جامو کی لمونځ کول مکروهه دی. ([4]) ليکن لمونځ اداء کيږی. فقط

**<u>دامام په نيت ماتولو سره دمقتدی لمونځ فاسديږی؟</u> سوال**: (١٣٤٠) امام په قعده اولی کی سهوه سو، مقتديانو ورته په الله اكبر ويلو سره اطلاع ورکړه. هغه په غلطی سره لمونځ مات کړی. کم مقتديان چی راسته او چپه طرف ته وه ياپه بل صف کی وه هغوی ته علم نه وو چی زموږ امام لمونځ فاسد کی هغوی پرهمدی مخکنی نيت باندی قائم وه او داسی يې وګڼله چی امام ددريم ۳ رکعت دپوره کولو دپاره دريدلی دی. اوس امام دبل لمونځ درکعت رکوع وکړه مقتديان ټول دامام سره رکوع ته ولاړل امام څلور رکعته پوره کړل، اوسلام يې وګرځوی، مقتديانو هم څلور رکعته پوره کړل. اوس پوښتنه داده چی کمو مقتديانو دامام سره دوباره نيت ونه تړی بلکه دامام سره په تکبير ويلو سره رکوع ته ولاړل، په دی صورت کی ددغه مقتديانو لمونځ وسو اوکه نه؟ او دامخکنی تکبير کم

---

([1]) شرح فقه اكبر ص ٢٠٥ . ظفير
([2]) الدر المختار على هامش رد المحتار، باب مايفسد الصلوة مطلب زلة القارى ج١ ص ٥٩٢ . ظفير
([3]) رد المحتار ، باب مايفسد الصلوة مطلب زلة القارى ج١ ص ٥٩٢ ، ط. س. ج١ ص ٦٣٣ . ظفير
([4]) وكذا تكره في اماكن كفوق كعبة الخ وارض مغصوبة (الدرالمختار شامي كتاب الصلوة ج١ ص٣٥٤). ظفير

چی یې دامام سره رکوع ته دتللو پروخت ویلی وو هغه به تکبیرِ تحریمه سی اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورت کی دمقتدیانو لمونځ ونسو ولی چی کله امام خپل لمونځ مات کی نو دټولو مقتدیانو لمونځ فاسد سو. بیا مقتدیانو دوباره تکبیرِ تحریمه داقتداء دنیت سره نه دی ویلی اودوهم وار یې لمونځ هم نه دی شروع کړی بلکه پرمخکنی لمونځ یې بناء وکړه کم چی فاسد سوی وو، او بناء علی الفاسِد هم فاسده ده، لهٰذا دهغوی لمونځ به فاسد وی. (۱)

**په لمونځ کی په راسته پښه ښوریدلو سره لمونځ نه فاسدیږی؟ سوال**: (۱۳۴۱) دزید دراسته پښی ښټه ګوته په لمانځه کی وښوریده نو په دی سره لمونځ ماتیږی اوکه نه؟

**جواب**: په لمانځه کي دګوتی حرکت کول او ښوریدل لمونځ نه فاسدوي. (۲) فقط

**جُومات دچا ملکیت نه دی په هغه کی لمونځ درست دی: سوال**: (۱۳۴۲) کم دمحلی خلق چی دمحلی جُومات خپل ملکیت ګڼی، په دغه جُومات کی لمونځ کول شرعاً څنګه دی؟

**جواب**: جُومات دچا ملکیت نه وی (۳) اودچا په ګڼلوسره په هغه کی څه تغیر نه کیږی. نو لمونځ په هغه کی صحیح دی او دجُومات ثواب پکښی حاصلیږی. فقط

**چی دنامه لاندی وریښته نه خروی دهغه لمونځ هم درست دی ؟ سوال**: (۱۳۴۲) څوك چی دنامه لاندی وریښته نه خرَوی دهغه لمونځ صحیح دی او که نه ؟

**جواب**: لمونځ یې صحیح دی، لیکن داکار بد دی. او دڅلوریښتو ورځو څخه زیات دنامه لاندی وریښته باقی ساتل مکروه دی. (۴) فقط

**که صحیح قرآئت یې وکی نو لمونځ وسو داوریدونکی اعتبار نسته: سوال**: (۱۳۴۴) زید په جهري لمونځ کی سورة والعصر ووایه په دی طریقی سره چی پر: وَالْعَصْر باندی یې وقف وکی. او سامع وَالْعَصْ واوریدی په حذف دراء سره. اودوهم وار یی پر: لَفِی خُسْر، باندی

---

(۱) واذا ظهر حدث امامه وکذا کل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج۱ ص ۵۵۳ ، ط. س. ج۱ ص ۵۹۱). ظفیر

(۲) وان حرك رجلا واحدا لا علی الدوام لا تفسد صلوته (عالمګیری کشوری باب ما یفسد الصلوة ج۱ ص ۱۰۲، ط. ماجدیه ج۱ ص ۱۰۳). ظفیر

(۳) وأن المساجد لله (سورة الجن، آیة : ۱۸) ویزول ملکه عن المسجد والمصلي بالفعل وبقوله جعلته مسجدا عند الثاني وشرط محمد والامام الصلاة فیه بجماعة وقیل یکفي واحد وجعله في الخانیة ظاهر الروایة (الدر المختار علی هامش رد المحتار کتاب الوقف مطلب في احکام المسجد ج۳ ص ۵۱۰ – ۵۱۱ ، ط. س. ج۴ ص ۳۵۵ – ۳۵۲) . ظفیر

(۴) الافضل ان یقلم اظفاره ویحفی شاربه ویحلق عانته وینظف بدنه بالاغتسال فی کل اسبوع مرة فان لم یفعل ففی کل خمسة عشر یوماولایعذر فی ترکه وراء الاربعین الخ ویستحق الوعید کذا فی القنیة (عالمګیری مصری کتاب الکراهیة الباب التاسع عشر ج ۵ ص ۳۲۸ ، ط. ماجدیه ج۵ ص ۳۵۷). ظفیر

وقف وکی اوسامع لفی خُسۡ واوریدی په اسقاط دراء سره. که چیری وقف پرآخرني توري باندی په اسقاط دحرکت یاتنوین سره، نه په اسقاط دراء وکړل سي، نو پرداسی ځای باندی وقف کول جائز دی چیری چی دحضرت علی کرم الله وجهه څخه پر اوولسو ١٧ ځایونو باندی په قرآن شریف کی وقف کول مُفضی اِلَی الکفر منقول دی، چی په هغی کی یوځای: فَوَیۡلٌ لِّلۡمُصَلِّیۡنَ، دی علی هٰذا القیاس. اوپه شپاړسو ١٦ ځایونو کی چی کم اوه لسم ١٧ ځای دی هغهَ وَالۡعَصۡرۡ دی، چی فساد ددی اظهر من الشمس دی. ددی څخه علاوه وقف په مابین دمبتداء او خبر او صفت او موصوف او فعل او فاعل او مستثنٰی منه اوصله اوموصول اونوروکي دنحوي قاعدې پربنا چي فصل او وقف یاجائز یا ناجائز دی څنګه باید وکړل سي؟ اوکم موضع چی دلته متنازع فیه دی هغه جمله اسثنائیه ده.

**جواب**: اعتبار دلوستونکی دی، اوریدونکی که یوحرف وانه وری نو په دی سره دقاری نه ویل نه لازمیږی. نو کله چی قاری والعصر ویلی دی اوهم دغه ډول اِنّ الانسان لَفی خُسر یې ویلی دی نو لمونځ وسو اوپردی دواړوځایونو باندی په وقف کولوسره نه لمونځ باطل سو اونه کفر وسو، اوپر هیڅ موقع باندی هم (وقف کول) کفر نه دی. او دحضرت علی کرم الله وجههُ څخه چی کم روایت پراولسو ١٧ مواقعو باندی په وقف کولو سره دکفر لازمیدلو نقل کړی دی، دا صحیح نه دی. (١) فقط

**دلمانځه په حالت کي نڅا (رقص) او بل داسي عمل کول لمونځ فاسدوي اوکه نه؟ سوال**:

(١٣٤٥) بعضی خلق په لمانځه کی شور او زوږ جوړ کړی، یعنی لاسونه ټکول، د هَا هُو آواز کول، ټوپونه وهل، نڅیدل (رقصیدل)، داجائز دی اوکه نه؟ بعضی ددوی مُعتقد مُلایان وایی چی په درمختار اونورو دفقهی په کتابونو کی یې لیکلی دی چی دجنت په شوق کی او ددوزخ دویری څخه ژړل لمونځ نه ماتوی. داصحیح دی اوکه نه؟

**جواب**: داکارونه لمونځ ماتونکی دی. او دفقهی په کتابونو کی یې ددوزخ دویری څخه او دجنت په شوق کی ژړل بیشکه جائز لیکلی دی. لیکن لاسونه ټکول او نڅا کول هیڅا جائز نه دی لیکلی. خاصکر په لمونځ کی داسی حرکتونه بالاتفاق لمونځ ماتونکی دی. وتفصیلهُ فی کتب الفقه. (٢) فقط

---

(١) اذا وقف فی غیر موضع الوقف اوابتدأ فی غیر موضع الابتداء ان لم یتغیر به المعنی تغیرا فاحشا نحو انّ الذین اٰمنو وعملوا الصالحات ووقف ثم ابتدأ بقوله اولك هم خیر البریة لا تفسد بالاجماع بین علمائنا هٰکذا فی المحیط وکذا ان وصل فی غیر موضع الوصل الخ لا تفسد لکنه قبیح هٰکذا فی الخلاصة (عالمگیری مصری زلة القاری ج١ ص ٧٥، ط. ماجدیه ج١ ص٨١). ظفیر

(٢) والتنحنح بحرفین بلا عذر الخ اوبلا غرض الخ والانین الخ والتأوه الخ والتأفیف الخ والبکاء بصوت الخ =

**دزكوٰة په پيسو اخستل سوو صفونو باندي لمونځ جائز دی اوكه نه؟ سوال**: (١٣٤٦) كه چيری يوسړی دزكوٰة په پيسو باندی جای نمازونه واخلی، اوپه جوماتونو كی يې وركړی نو مالدارانو ته پرهغه باندی لمونځ كول جائزدی اوكه نه؟ لمونځ به يې وسی اوكه نه؟

**جواب**: لمونځ پرهغه باندی جائز كيږی، ليكن دهغه زكوٰة اداء نسو. ([1]) فقط

**كه مقتدي دامام سره دتلاوت سجده ونكړه نو لمونځ يې كيږي اوكه نه؟ سوال**: (١٣٤٧) كه مقتدی په غلطی سره دامام سره دتلاوت سجده ونه كړی نو لمونځ به يې وسی اوكه نه؟

**جواب**: په لمونځ كی چی كمه سجده دتلاوت واجبه سی نو هغه دلمونځ څخه وروسته نه اداء كيږی اوساقطه سی. وكل سجدة فی الصلوٰة ولم تؤد فيها سقطت ای لم يبق السجود لها لفوات محله ([2]) الخ شامی. نو معلومه سوه چی هغه سجده ساقطه سوه او دلمونځ را ګرځولو ضرورت هم نسته. البته كه چيری په قصد سره يې پرې ايښی وی نو توبه دی وكړی. وفی البدايع واذا لم يسجد اثم فتلزمه التوبة ([3]) در مختار. فقط

**چی قرآئت په داسي ډول كوی چی پخپله يې هم نه اوري نو لمونځ كيږي اوكه نه؟ سوال**: (١٣٤٨) په لمونځ كی الحَمْد اوسورت اوغيره په داسی شان سره ويل چی خپل غوږ ته يې هم آواز نه راځی نو لمونځ به وسی اوكه نه؟

**جواب**: زياته معتبره او صحيح (خبره) داده چی په دې شان دی وايی چی كه چيری څه مانع نه وی نوخپل غوږ ته يې آواز راسی. او كرخی اوبلخی بغير ددی څخه هم لمونځ ته صحيح فرمايی. والاول اصح وارجح، شامی. ([4]) فقط

**كه صرف دشک په وجه سجده سهوه وكی، نو لمونځ به وسی اوكه نه؟ سوال**: (١٣٤٩) سجده

---

= لا لذكر جنة اونار الخ او يفسدها كل عمل كثير ليس من اعمالها ولاصلاحها (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب مايفسد الصلاة ج١ ص ٥٧٨ ، ط. س. ج ١ ص ٢١٨ - ٢١٩). ظفير

([1]) دزكوة پيسې په جُومات كی لګول درست نه دی دلته چونكه تمليك ونه موندل سو، په دی وجه دهغه زكوٰة اداء نسو. يصرف المزكی الخ تمليكا لا اباحة كمامرّ لا يصرف الی بناء نحو مسجد ولا الی كفن ميت الخ (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب المصرف ج٢ ص ٨٥ ، ط. س. ج ٢ ص ٣٤٤). ظفير

([2]) رد المحتار . باب سجود التلاوة تحت قوله اذا لم يسجد ج١ ص٧٢٢ ، ط. س. ج ٢ ص ١١٠ . ظفير

([3]) الدر المختار علی هامش رد المحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢٢ ، ط. س. ج ٢ ص ١١٠ . ظفير

([4]) وادنی الجهر اسماع غيره وادنی المخافتة اسماع نفسه (درمختار) اعلم انهم اختلفوا فی حد وجود القراءة علی ثلاثة اقوال فشرط الهندوانی والفضلی لوجودها خروج صوت يصل اذنه وبه قال الشافعی وشرط المريسی واحمد خروج الصوت من الفم وان لم يصل الی اذنه لكن بشرط كونه مسموعا فی الجمله حتی لو دنٰی احد صماخيه الی فيه يسمع ولم يشترط الكرخی وابوبكر البلخی السماع واكتفيا بتصيح الحروف الخ وان ما قاله الهندوانی اصح وارجح لاعتماد اكثر علمائنا (ردالمحتار فصل فی القراءة ج١ ص ٤٩٨ ، ط. س. ج١ ص٤٣٤ - ٤٣٥ ). ظفير

سهوه بغير دواجبوالي دسبب څخه که يو سړی محض دشك پر بناء باندی وکړی نو دغه لمونځ به صحيح وی اوکه نه؟

**جواب**: دسجده سهوی دواجبوالی څخه بغير محض دشك اوشبهی په وجهی سره سجده سهوه کول نه دی پکار. اوکه چيری په اتفاق سره په غلطی سره يې داسی وکړل نو لمونځ به يې وسی، داعادې ضرورت يې نسته. او ائنده په داسی شك اوشبهه کی سجده سهوه کول نه دی پکار. ([1]) البته که چيری غالب گمان دواجب پاتـه کيدلو ؤ نو سجده سهوه دی دعادت مطابق ديوه سلام څخه وروسته وکړی. فقط

**دسکنه (ناقوس) دړغولو په خت کی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال**: (١٣٥٠) په پانی پت (ښار) کی دهندوانو اومسلمانانو څه جګړه راغله. وجه يې دا وه چی دماښام دلمونځ په وخت کی هندوانو ناقوس وړغوی. په منع کولو سره منع نه سوه. معامله دعوی ته ورسيده، دوکيل په مشورې سره مسلمانانو دماښام په وخت کی اذان ويل او لمونځ کول پرې ښوول، آيا دناقوس دړغيدلو په وخت کی په دی جُوماتونو کی لمونځ کول صحيح دی اوکه نه؟

**جواب**: په دی حالت کی لمونځ صحيح ([2]) دی. اولمونځ نه کول اوپه دغه جُومات کی اذان اوجماعت پرې ښوول ښه نه دی. فقط

**که دلمونځ ګزار مخ ته ښځه يابل يو حيوان تير سی نو لمونځ به وسی او كه نه؟ سوال**: (١٣٥١) دلمونځ ګزار مخ ته که چيری سپی يابل څه حيوان يا ښځه تيره سی نو دهغه لمونځ به فاسد سی اوکه نه؟

**جواب**: که دلمونځ ګزار مخ ته سپی يابل څه حيوان ياښځه تيره سی نو دهغه لمونځ به فاسد نسی. په در المختار کی دی: ولا يفسدها مرور مارٍّ الخ ولو امرأة اوكلبًا ([3]) الخ. اوپه شامی کی دحلبي څخه منقول دی چی په دی باره کی کم څه په حديث کی راغلی دی هغه منسوخ دی يامُووّل ([4]) . كما هومنقول فی الشروح والحواشی، پرهرحال اعاده ددغه

---

([1]) ولو ظن الامام السهو فسجد له فتابعه فبان ان لا سهو فالاشبه الفساد (درالمختار) وفی الفيض وقيل لا تفسدوا به يفتى (ردالمحتار قبيل باب الاستخلاف ص٥٢٠، ط. س. ج ١ ص٥٩٩) كله چی دمسبوق لمونځ فاسد نه سو، نو دنورو لمونځ خو په درجه اول نه فاسديږی. ظفير

([2]) ځکه چی هيڅ شی دلمونځ دمفسداتو څخه موجود سوی نه دی. ظفير

([3]) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب مايفسدالصلوة ومايكره فيها ج١ ص٥٩٣ ، ط. س. ج١ ص٢٣٤. ظ

([4]) ولو امرأة او كلبا بيان للاطلاق واشار به الی الرد علی الظاهريه بقولهم يقطع الصلوة مرور المرأة والكلب والحمار وعلی احمد فی الكلب الاسود والی ان ما روی فی ذالك منسوخ كما حققه فی الحلية (رد المحتار باب ايضًا ج١ ص ٥٩٣ ، ط. س. ج ١ ص ٢٣٤). ظفير

لمونځ واجبه نه ده. فقط

**دپښو په ښورولو سره لمونځ نه فاسديږي**: **سوال**: (۱۳۵۲) په لمانځه کی دقيام دځای څخه ددواړو پښو ښوريدل لمونځ فاسدوي اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورت کی لمونځ نه فاسديږی. (۱)

**په ناقوس ږغيدلو سره په لمونځ کی هيڅ خرابی نه راځی**: **سوال**: (۱۳۵۳) که چيری دلمونځ په وخت کی دضد په وجه ناقوس وږغول سی اوشور اوشر جوړ کړل سی نو په لمونځ کی شرعًا نقصان راځی اوکه نه؟

**جواب**: که چيری دحاکمانو په ذريعه ددی انسداد کيدی سی نوانسداد يې ضروری دی. ولی که څه هم چي په لمونځ کی دچاپه شور اوشر اوناقوس ږغولو سره فساد نه راځی ليکن لمونځ گزارو ته به تشويش اودزړه دتوجه خرابيدل اوعدمِ خشوع اوخضوع ددی په وجهی سره ضرور وی، لهٰذا ضروری ده چی دَحاکمانو په ذريعه سره هغوی دلمونځ په وخت کی ددی څخه بند کړل سی، ولی چی فقهاؤ په جُومات کی دلمونځ په وخت کی دجَهري ذکر څخه هم منع فرمايلی (۲) ده. ځکه چی په دی سره په لمونځ کی دزړه توجّه خرابيږی. او ممکنه ده چی دلمونځ گزار څخه قراءت وغيره هير سی. نوکله چی دپه زوره ذِکر څخه دلمونځ په وخت کی منع کيږی نو باجه ږغول اوناقوس ږغول دلمونځ وخت کی ظاهره ده چی ډيره بده خبره ده ليکن چونکه مسلمانانو ته قدرت نسته چی پخپله يې بند کړی. لهٰذا دحاکمانو په ذريعې سره يې که انسداد کيدی سی نو ودی کړل سی. فقط

**دښځی په محاذات کی دکيدلو مطلب؟** **سوال**: (۱۳۵۴) دښځی دمحاذات څخه څه مراد دی،او دا داجنبی ښځی څخه کيږي اوکه دمُحرمی څخه هم؟

**جواب**: محاذات دښځی دسړی څخه دری (۳) طرف ته لمونځ ماتونکی دی. په شامی کی دی: وقد صرحوا بان المرأة الوحدة تفسد صلوٰة ثلثة الخ من عن يمينها ومن عن يسارها ومن عن خلفها (۴) اودا عبارت عام دی که ښځه محرمه وی اوکه غير محرمه وی. شامی

---

(۱) وان حرك رجلاً واحدا لا علی الدوام لا تفسد صلوته (عالمگيری كشوری باب مايفسد الصلوة ج۱ ص۱۰۳ ، ط. ماجديه ج۱ ص ۱۰۳). ظفير

(۲) ويكره الخ رفع صوت بذكر (درمختار) لانه حيث خيف الرياء اوتاذی المصلين الخ (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة مطلب فی رفع الصوت بالذكر ج۱ ص ۲۱۸ ، ط. س. ج ۱ ص ۶۵۹ - ۶۶۰). ظفير

(۳) رد المحتار باب الامامة مسئله محاذات ج۱ ص ۵۳۵ ، ط. س. ج ۱ ص ۵۷۲ . ظفير

(۴) المرأة اذا صلت مع زوجها فی البيت ان كان قدمها بحذاء قدم الزوج لاتجوز صلاتهما بالجماعة (ايضًا) قوله غير معلول بالشهوة ، ای ليست علة الفساد الشهوة ولذا فسدنا بالعجوز الشوهاء وبالمحرم كأمه وبنته (ايضًا ج۱ ص ۵۳۹ ، ط. س. ج۱ ص۵۷۲). ظفير

**که چیری سړی ښځه ښُکل کړی، یاښځه سړی، نو لمونځ به وسی اوکه نه؟** سوال: (۱۳۵۵) سړی په لمانځه کی وو، ښځی هغه ښُکل کړی، په دې سره سړی ته خواهش پیدا سو نو دښځی لمونځ نه ماتیږی اګر چی داهم دهغی خپل فعل نه دی. دزید دا خبره صحیح ده اوکه نه؟

**جواب**: په در المختار کی یې دا مسئله په داشان لیکلی ده چې که چیری سړی ښځه په لمانځه کی ښُکل کړه، یعنی ښځی لمونځ کوی او په دی حالت کی سړی مچه ورڅخه واخسته برابره خبره ده که شهوت یې وي اوکه نه وي نو دښځی لمونځ به فاسد سی. اوکه چیري سړی لمونځ کوی اوښځی مچه ورڅخه واخسته اودسړی شهوت پیدا سو نودسړی لمونځ مات سو. اوکه دسړی شهوت پیدا نسو نو لمونځ به یې فاسد نه سی. عبارت یې دادی: مسها بشهوة اوقبلها بدونها فسدت لا لو قبّلت ولم یشتهها (۱) الخ در المختار. فقط

**پوسټ کارډ یا دټیلو ډبی چې په جیب کی وی نو لمونځ کیږی اوکه نه؟** سوال: (۱۳۵٦) پوست کارډ او سِکه مروّجه او دټیلو ډبی پرکمو باندی چی دساه لرونکو شیانو تصویر وی. که چیری یې په جیب کی واچوی اولمونځ ورسره کوی نو لمونځ به یې درست وی او که نه؟

**درېری وریښتان چې منبتی وی نو لمونځ نه فاسدیږی؟** سوال: (۱۳۵۷) دږیری مات سوی وریښتان کم چې په ږیره کی منبتی وی نو په لمونځ کی خو به څه فرق نه راځی؟

**جواب**: (۱) لمونځ ورسره کیږی. (۲)

**جواب**: (۲) په دې سره په لمونځ کی څه خلل نه راځی اودغه مات وریښتان ناپاك نه دی.

**دلمونځ په حالت کی په دُنیاوی خیالاتو راتللو سره لمونځ نه فاسدیږی**: سوال: (۱۳۵۸) په لمانځه کی په دُنیاوی خیالاتو او وسوسو پیدا کیدلو سره لمونځ درست کیږی اوکه نه؟

**جواب**: په لمانځه کی په خیالاتو راتللو سره په لمونځ کی فسادنه راځی، خو حتی الوسع وسوسی او خیالا ت دفع کوی. (۳) فقط

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۸۷، ط.س. ج۱ ص۲۲۸. ظ

(۲) وان یکون فوق راسه اوبین یدیه اوبحذائه تمثال الخ ولایکره لوکانت تحت قدمیه الخ اوعلی خاتمه بنقش غیر مستبین قال فی البحر ومفاده کراهة المستبین لا المستتر بکیس او صرّة او ثوب آخر اوکانت صغیرة لا تتبین تفاصیل اعضائها للناظر قائما الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ویکره فیها ج۱ ص٦۰٦ – ٦۰۷ ، ط. س. ج ۱ ص٦۴۸ ). ظفیر

(۳) عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ ان الله تجاوز عن امتی ما وسوست به صدرها ما لم تعمل به او تتکلم، متفق علیه (مشکوٰة باب الوسوسه فصل اول ص ۱۸). ظفیر

**که مسافر امام لمونځ پوره وکی نو دمقیم مقتدي لمونځ به ونه سی: سوال:** (١٣٥٩) یومسافر امام په هیره سره پرځای ددوو رکعتو څلور رکعته وکړه اومقتدیان ټول مقیم دی. اوڅه خلق چی په وروستنیو دوو رکعتونو کی شامل سوی دی نو دامام اومقتدیانو لمونځ صحیح سو اوکه نه؟

**جواب:** دمسافر امام لمونځ خو په دې صورت کی کیږي خو سجده سهوه وربانديې لازمه ده او دباقی مقتدیانو لمونځ صحیح نه دی. ([1]) فقط

**دلمونځ په حالت کي دجُومات دصحن څخه دننه جُومات ته په تللو سره لمونځ فاسدیږی اوکه نه؟ سوال:** (١٣٢٠) زید دجُومات په صحن کی لمونځ ورکوی چی اوبه په زور سره راغلی نو نیت یې مات کی. بکر مقتدی ورته وویل، چی ته به دننه تللی وای، دقبلی څخه دمخ اړولو څخه بغیر نو مقتدیان هم دننه ورتلی سوای. لمونځ ماتول نه وو پکار. زید ورته وویل، چی په دې ډول سره لمونځ فاسدیږی ولی چی داعمل کثیر دی. دزید قول صحیح دی اوکه دبکر؟

**جواب:** دزید قول صحیح دی. زید ته همدغه ډول کول پکار وو لکه څنګه چي یې وکړه، ځکه چی په دې صورت کی بغیر دخلاف څخه دهغه لمونځ صحیح سوکله چی هغه دنوی سره لمونځ وکی، اوکه چیری هغه په لمانځه کی دننه جومات ته تللی وای اوبیا مقتدیان هم ورغلی وای، نو په دې سره به دټولو څخه عملِ کثیرسوی وای اوداعند البعض مفسد دی. اوتفصیل یې په شامی کی دی. ([2]) فقط

**په مَجرِیٰهَا کی په اماله نه کولو سره لمونځ کیږی او که نه؟ سوال:** (١٣٢١) په: بِسْمِ اللهِ مَجْرِیْهَا کی که چیری اِماله ونه کړی نو لمونځ به وسی او که نه؟

---

([1]) ولو نوی الاقامة لا لتحقیقها بل لیتم صلوة المقیمین لم یصر مقیما(در المختار) فلو اتم المقیمون صلاتهم معه فسدت لانه اقتداء المفترض بالمتنفل، ظهیریه، ای اذا قصدوا متابعته اما لو نووا مفارقته ووافقوه صورة فلا فساد (ردالمحتار باب صلاة المسافر ج١ ص٧٤١ ، ط. س. ج٢ ص١٣٠). ظفیر

([2]) ویفسدها کل عمل کثیر لیس من اعمالها ولا لاصلاحها (در المختار) الثالث الحرکات الثلاث المتوالیة کثیر والاّ فقلیل الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلاة ج١ ص٥٨٣ – ٥٨٤) مشٰی مستقبل القبلة هل تفسد ان قدر صف ثم وقف قدر رکن ثم مشٰی ووقف کذالك وهٰکذا لاتفسد وان کثر ما لم یختلف المکان وقیل لا تفسد حالة العذر ما لم یستدبر القبلة استحسانا (در مختار) اما ان کان اماما فجاوز موضع سجود فان بقدر ما بینه وبین الصف الذی یلیه لا تفسد وان اکثر فسدت وان کان منفردا فالمعتبر موضع سجوده فان جاوزه فسدت والاّ فلا الخ قوله: لا تفسد حالة العذر الخ والقیاس الفساد اذا کثر الخ ثم اختلفوا فی تاویله اذا لم یجاوز الصفوف او موضع سجوده والا فسدت وقیل اذا لم یکن متلاحقًا بل خطوة ثم خطوة فلو متلاحقا تفسد وان لم یستدبر القبلة لانه عمل کثیر الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص٥٨٦ – ٥٨٧ ، ط. س. ج١ ص٢٢٤ - ٢٢٥). ظفیر

**جواب**: لمونځ كيږي خو دا دقراءت غلطى ده چې په امالې سره ونه لوستل سى. فقط

**دسيپ دبڼو سره لمونځ جائز دى اوكه نه؟** **سوال**: (۱۳۲۲) دسيپ بڼى (تنى) چې په جامو كى لګيدلى وى نو لمونځ ورسره جائز دى اوكه نه؟ هسى خو سيپ حلال اوپاك دى.

**جواب**: لمونځ صحيح دى او سيپ حلال اوپاك دى. ([1]) فقط

**دقراءت دځه حصې په پاته كيدو سره لمونځ كيږى او كه نه؟** **سوال**: (۱۳۲۳) دسورت مزمّل آخرىِ ركوع په لمانځه كى ولوستل سوه خو سهواً د: وَمَا تُقَدِّمُوْا ، څخه تر: وَاَعْظَمُ اَجْرًا ، پورى پاته سو، نو لمونځ وسو اوكه نه؟ په دې صورت كى زيد دلمونځ راګرځول واجب بولي، دا صحيح دي اوكه نه؟

**جواب**: لمونځ وسو. دزيد قول صحيح نه دى. كذا فى الدر المختار وغيره من كتب الفقه. ([2]) فقط

**دامام په هيروالى باندى فتحه وركول درست دى**: **سوال**: (۱۳۲۴) امام په جهرى لمونځ كى ايت ولوستى او مخ ته ورڅخه هير سو، مقتدى فتح ورلره وركړه نوامام مخ ته نور ووايه او ركوع يې وكړه. بيا يې په آخره كى سجده سهوه هم وكړه، نو دامام او مقتدى او فتح وركونكى لمونځ صحيح سو او كه نه ؟

**چې امام فتحه وانخلى نو دوركونكى لمونځ به فاسد سى اوكه نه؟** **سوال**: (۱۳۲۵) كه چيرى امام فتحه وانخلى نو دفتح وركونكى مقتدى لمونځ فاسديږى او كه نه؟

**جواب**: دامام اومقتدى اوفتح وركونكى لمونځ په دى صورت كى صحيح سو او دسجده سهوى هم ضرورت نه وو، ليكن كه چيرى سجده سهوه په غلطى سره وكړل سوه نوبيا هم لمونځ وسو. كذا فى الدر المختار. ([3])

(۲). لمونځ نه فاسديږى. فقط

**دغوايانو په روانه ګاډۍ كى لمونځ جائز دى**: **سوال**: (۱۳۲۶) دغوايانو په روان ګاډى كى لمونځ جائز دى اوكه نه؟

**جواب**: په روانه ريل ګاډۍ (اور ګاډۍ) كى لمونځ جائز دى. دغوايانو په روانه ګاډۍ كى

---

([1]) وشعر الميتة وعظمها الخ وكذا كل ما لا تحله الحياة الخ طاهر (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب المياه ج۱ ص۱۹۰ ، ط. س. ج ۱ ص ۲۰۲). ظفير

([2]) وتجب قراءة الفاتحة وضم السورة اوما يقوم مقامهما من ثلاث ايات قصار او اٰية طويلة (عالمگيرى واجبات الصلوة ج۱ ص۷۲ ، ط. ماجديه. ج۱ ص۷۱ ). ظفير

([3]) بخلاف فتحه على امامه فانه لا يفسد مطلقًا لفاتح واخذ بكل حال (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة ج۱ ص۵۸۲ ، ط. س. ج ۱ ص۶۲۲). ظفير

بی عذره لمونځ درست نه دی. ([1])

**دغلط ویونکی لمونځ درست دی اوکه نه؟** **سوال:** (۱۳۶۷) یو شخص په قرآءة کي ولغ ضالین وایی او یا روب العٰلمین، او الروحمن آلروحیم وایي لمونځ یې درست دی که نه؟

**جواب:** په دې صورت کي لمونځ نه دی سوی او حکم دالثغ او داسي نورو په کتابو کي دفقه باید وګوری. ([2]) فقط

**دکومو اوبو أجرت چی مزدورانو لره ورنه کړل سی ، په هغه اوبو سره اودس او لمونځ جائز دی اوکه نه؟** **سوال:** (۱۳۶۸) په یوه جومات کی داودس وغیره دپاره داوبو ډکولو دپاره مزدوران وغیره مقررول کیږی ، او هغوی ته ویل کیږی چی تاسی په ښه ډول سره داوبو لوښي ډکوی، تاسی ته به ددې أجرت او مزدوری درکړو. اوس دبعضو خیال دی چی مزدوری ورکړل سی او دبعضو داخیال دی چی ورنکړل سی. نوکم اودسونه او لمونځونه چی په دغه اوبو سره سوی دی هغه درست دی اوکه نه؟

**جواب:** ددغه مزدور أجرت او مزودوری ور کول پکاردی ([3]) . او اودسونه او لمونځونه وسوه. فقط

**په قومه او جلسه کی تعدیل:** **سوال:** (۱۳۶۹) دجُمعی دلمونځ په قومه او جلسه کی امام دومره وخت دریږی چه یوکوچنی سورت په ښه ډول ویل کیدی سی. په دې سره په لمونځ کی څه نقصان خو به نه واقع کیږی؟

**جواب:** په دې صورت کی لمونځ صحیح دی. هیڅ نقصان نه دی پکښی راغلی. ([4]) فقط

**دامام درکعت دکموالي په وجه سره دټولولمونځ فاسدیږي:** **سوال:** (۱۳۷۰) دماښام په لمونځ

---

([1]) واما الصلوة علی العجلة ان کان طرف العجلة علی الدابة وهی تسیر اولا تسیر فهی صلوة علی الدابة فتجوز فی حالة العذر المذکور فی التیمم لا فی غیرها ومن العذر المطرَ وطینٍ یغیب فیه الوجه الخ (در المختار) قوله المذکور فی التیمم بان یخاف علی ماله او نفسه او تخاف المرأة من فاسق (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی الصلوة علی الدابة ج۱ ص۶۵۲ ، ط. س. ج۲ ص۴۰). ظفیر

([2]) ولا غیر الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح کما فی البحر عن المجتبی وحرر الحلبی وابن الشحنة انه بعد بذل جهده دائما حتماً کالامی فلا یوم الاّ مثله ولا تصح صلاته اذا امکنه الاقتداء بمن یحسنه الخ (درالمختار) اللثغ التحریك قال فی المغرب هو الذی یتحول لسانه من السین الی الثاء وقیل من الراء الی الغین او اللام او الیاء ، زاد فی القاموس اومن حرف الی حرف الخ الاحوط عدم الصحة (ردالمحتار باب الامامة، مطلب فی الألثغ ج۱ ص۵۴۴ ، ط. س. ج ۱ ص ۵۸۱ – ۵۸۲). ظفیر

([3]) قال رسول الله ﷺ اعطوا الاجیر اجراً قبل ان یجف عرقه رواه ابن ماجه (مشکوٰة باب الاجارة ص۲۵۸). ظفیر

([4]) وتعدیل الارکان ای تسکین الجوارح قدر تسبیحة فی الرکوع والسجود وکذا فی الرفع منهما علی ما اختاره الکمال (درالمختار) ای یجب التعدیل ایضاً فی القومة من الرکوع والجلسة بین السجدتین الخ (رد المحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلاة ج۱ ص۴۳۲ ، ط. س. ج ۱ ص ۴۶۴). ظفیر غفر له

کی امام پردوو رکعتو باندی سلام وګرځوی او فتح یې وانه خیسته ، مقتدیان ولاړ سول اودریم ۳ رکعت یې وکی، نو لمونځ وسو او که نه؟

**جواب**: په دې صورت کې دامام او مقتدیانو لمونځ ونسو، بیا یی کول پکار دی. ([1])

**دفرضو په څلورو واړو رکعتونو کی دسورت په یوځای کولو سره لمونځ نه فاسدیږی**: **سوال**: (۱۳۷۱) دمازدیګر په څلورو واړو رکعتونو کی یې سورت ووایه نو لمونځ وسو او که نه ؟ بغیر دسجده سهوی دکولو څخه ؟

**جواب**: بغیر دسجده سهوی څخه لمونځ وسو ([2]). فقط

**که مقتدی دامام سره رکوع ونه کړه، نو هغه څه وکړی؟** **سوال**: (۱۳۷۲) مقتدی په لمانځه کی داول څخه شریك دی او دهغه څخه په څه وجهی سره رکوع کول هیرسوه. بیاپه سجده کی شریك سو نو لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: دغه مقتدي ته لازم دي چي که چیري ده په لمونځ کي دننه رکوع نه وي کړي نو دامام دفارغ کیدلو څخه وروسته دی ولاړ سي او رکوع دی وکړی، او سجده سهوه دی وکړی ، نو هغه وخت به یې لمونځ وسی. ([3]) فقط

**دلمونځ په مینځ کی دسلام ګرځولو څخه وروسته په خبرو کولو سره لمونځ فاسدیږی**: **سوال**: (۱۳۷۳) امام سهواً پردری ۳ رکعتو باندی سلام وګرځوی، چا فتح ورلره ورنه کړه او په امام او مقتدیانو کی ډیر کلام وسو. نو اوس باقی یورکعت وکړی اوکه څلور رکعتـه. او کلام والا حدیث منسوخ دی اوکه نه؟

**جواب**: کله چی پر دریم ۳ رکعت باندی دسلام ګرځولو څخه وروسته په امام او مقتدیانو کی کلام وسو نوڅلور واړه رکعته بیا کول ضروری دی ولی چی دکلام والا حدیث تاویل کړل سوی دی یامنسوخ دی. دهغه په ظاهرباندی عمل نسته ولی چی کلام دلمونځ منافی

---

([1]) واذاظهر حدث امامه وکذاکل مفسد فی رای مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا (درالمختار) فلو قال المصنف کما فی النهر ولوظهر ان بامامه مایمنع صحة الصلوة لکان اولی لیشمل ما لو اخذ بشرط اورکن الخ (رد المحتار باب الامامة ج١ ص ۵۵۳ ، ط. س. ج ١ ص ۵۹۱). ظفیر

([2]) واکتفی المفترض فیما بعد الاولیین بالفاتحة فانها سنة علی الظاهر ولو زاد لا باس به (در المختار) ای لو ضم الیها سورة لاباس به لان القراءة فی الاخریین مشروعة من غیر تقدیر والاقتصار علی الفاتحة مسنون لا واجب فکان الضم خلاف الاولی وذلك لا ینافی المشروعیة والاباحة بمعنی عدم الاثم فی الفعل والترك (رد المحتار باب صفة الصلاة فصل تالیف الصلاة ج١ ص ۴۷۷، ط. س. ج ١ ص۵۱۱). ظفیر

([3]) ورعایة الترتیب بین القراءة والرکوع وفیما یتکرر اما فیما لا یتکرر ففرض کمامر فی کل رکعة کالسجدة او فی کل الصلوة کعدد صلاتها حتی لو نسی سجدة من الاولی قضاها ولو بعد السلام قبل الکلام لکنه یتشهد ثم یسجد للسهو ثم یتشهد الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب صفة الصلاة مطلب واجبات الصلاة ج١ص ۴۲۹ وج١ ص۴۳۲ . ط. س. ج ١ ص ۴۲۰ وص ۴۲۳). ظفیر

دی، قال الله تعالٰی: وقوموا لله قانتین. ([1]) فقط

**سجده سهوه درکعت قائم مقام نه ده:** **سوال:** (١٣٧۴) امام دماخستن په لمانځه کی پر دری رکعتو باندی سهواً کښینستی، په دی خیال سره چی څلور۴ پوره سول، لیکن هغه ته فوراً یقین وسو چی دری ۳ رکعته سوی دی، هغه التحیات پوره کړه او سجده سهوه یې وکړه او په هم دری ۳ رکعتو باندی یې سلام وګرځوی، لمونځ وسو اوکه نه ؟

**چا چی اعاده وکړه دهغه لمونځ وسو:** **سوال:** (١٣٧۵) که چیری چا یوازي خپل لمونځ راوګرځوی نو وسو او که نه ؟

**جواب:** (١) په دی حالت کی لمونځ ونه سو. ([2])

(٢) راګرځول دلمونځ ټولو لره ضروری دی. او چاچی یوازي راوګرځوی دهغه لمونځ صحیح سو. ([3]) فقط

**دهمزه او سین په غلط اداء کولو سره به لمونځ فاسد سی اوکه نه؟** **سوال:** (١٣٧٦) زید په لمانځه کی په سورةِ قیامة کی (لِسانَکَ) په (لِسَاْنَکَ) دهمزه سره ولوستی او په: وُجُوْهٌ یَّوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ، کی یې دبَاسِرَةٌ پرځای بَاصِرَةٌ ولوستی، نو په دی صورت کی لمونځ فاسد سو اوکه نه؟

**جواب:** په دی دواړو صورتونو کی لمونځ وسو. لِسَاْنَکَ مهموز ویل لحن فی الاداء دی، او معنی نه بدلیږی، او د: بَاسِرَةٌ او: بَاصِرَةٌ په معنٰی کي بیشکه چي توپیر سته خو دا غلطي لمونځ ماتوونکي نه ده، ځکه لکه ځنګه چي به مخونه باسره یعني (شدید العبوس) وي باصرة به هم وي یعني کتونکي به هم وي، فلا فساد. الخ ([4])

---

([1]) یفسدها التکلم هو المنطق بحرفین اوحرف ولو مفهم الخ عمده وسهوه قبل قعوده قدر التشهد سیان الخ وحدیث ذی الیدین منسوخ بحدیث مسلم انَ صلاتنا هذا لا یصلح فیها شیئ عن کلام الناس (والتفصیل فی الشامی) (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها ج١ص ۵٧۴ – ۵٧۵، ط. س. ج ١ ص ٢١٣). ظفیر

([2]) درکعت تلافی په سجده سهوی سره نه کیږی. په دی وجه لمونځ ونسو. سجده سهو دترك واجب اودهغه دتقدیم اوتاخیر وغیره دپاره ده. یجب الخ بترك الخ واجب مما مر فی صفة الصلوة سهواً الخ وتاخیر قیام الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب سجود السهو ج١ص ٢٩٣، ط. س. ج٢ ص ٧٩ – ٨٠). ظفیر

([3]) واذا ظهر حدث امامه وکذا کل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة المؤتم صحة وفسادا کما یلزم الامام اخبار القوم اذا امهم وهو محدث او جنب او فاقد شرط او رکن (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الامامة ج١ص ۵۵٣، ط. س. ج١ ص ۵٩١). ظفیر

([4]) ومنها القراءة بالالحان إن غیّر المعنی وإلاّ لا (درمختار) أی وإن لم یغیّر المعنی فلا فساد الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ج١ ص ۵٨٩، ط. س. ج ١ ص ٢٣٠) اوبدله بآخر الخ لم تفسد مالم یتغیر المعنی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ایضا ج١ ص ۵٩٢، ط. س. ج١ ص٢٣٣). ظفیر

**دفتح ورکولو طریقه څنګه ده؟ سوال:** (١٣٧٧) که چیري په لمانځه کي امام سهوه سي نو دفتح ورکولو طریقه څنګه ده؟

**جواب:** د (سبحان الله) په ویلو سره دي امام ته فتح ورکړل سي. (١)

**چي امام التحیات پریږدي او ولاړ سي نو دالتحیات په ویلو وریادول څنګه دي؟ سوال:** (١٣٧٨) که چیري په لومړنی قعده کي له امام څخه التحیات ویل هیر سي او په پورته کیدو سي او مقتدي ورته دالتحیات په ویلو سره التحیات وریاده کړي نو په لمانځه کي خو به څه خرابي نه راځي؟

**جواب:** سبحان الله ویل پکار دي خو که دالتحیات لفظ ووایي هم لمونځ صحیح دی. فقط (٢)

**په سبحان الله ویلو سره فتح ورکول له حدیث شریف څخه ثابت دي اوکه نه؟ سوال:** (١٣٧٩) یو سړی دامام دسهوي په هر صورت کي هغه ته په سبحان الله ویلو سره فتح ورکول غوره او اولی ګني دا له حدیث شریف څخه ثابت دي اوکه نه؟

**جواب:** په حدیث شریف کي همدغه ډول راغلي دي. (٣) فقط

**سجدې ته دتللو په وخت دپرتوګ په پورته کولو باندي لمونځ فاسدیږي او که نه؟ سوال:** (١٣٨٠) په لمانځه کي سجدې ته دتللو په وخت کي چي څوك په دواړو لاسونو سره پرتوګ پورته کوي دا په فعل کثیر کي داخل دي او که نه؟

**جواب:** دا په فعل کثیر کي داخل نه دي، او لمونځ په دي سره نه فاسدیږي. البته داسي کول ښه نه دي . (٤)

**چي دماخستن فرض بې اودسه وکړي او سنت او وتر په اوداسه سره، نو آیا سنت به هم بیرته راګرځوي او که نه؟ سوال:** (١٣٨١) که څوك دماخوستن فرض په هیره سره بې اودسه وکړي او سنت او وتر په اوداسه وکړي او په وخت کي دننه ورپه یاد سي نو له فرضو

---

(١) او یدفع بالتسبیح لما روینا من قبل، هدایه، قوله: لما روینا من قبل یعني قول النبی ﷺ إذا نابت أحدکم نائبة وهو في الصلوة فلیسبح (حاشیه هدایه ص ١٢٤ باب ما یفسد الصلوة). ظفیر

(٢) ایضا . ظفیر

(٣) قال علیه الصلوة والسلام والتسبیح للرجال والتصفیق للنساء (ردالمحتار باب شروط الصلوة ج١ ص ٣٧٧ ، ط. س. ج١ ص ٤٠٢). ظفیر

(٤) ویفسدها کل عمل کثیر لیس من اعمالها ولا لإصلاحها وفیه أقوال خمسة أصحها ما لایشك بسببه الناظرین من بعید في فاعله أنه لیس فیها وإن شك أنه فیها أم لا، فقلیل (درمختار) القول الثاني أن ما یعمل عادة بالیدین کثیر وإن عمل بواحد الخ وماعمل بواحدة قلیل وإن عمل بهما کحل السراویل الخ (رد المحتار باب مایفسد الصلوة ج١ ص ٥٨٤ ، ط. س. ج١ ص ٦٢٤ – ٦٢٥). ظفیر

سره دسنتو اعاده پکار ده نه دوترو دامام صاحب په نزد ، او دصاحبينو په نزد به دوترو اعاده هم کوي ددي وجه څه ده؟

**جواب**: دا مسئله په وخت کي دننه دلمونځ کولو ده ، او وجه دسنتو دراګرځولو او دوترو دنه راګرځولو دامام اعظم ﷫ له مذهب سره سم داده، چي سنت دفرضو تابع دي او وتر چي کله ځانته واجب دي او ادا يي په اوداسه سويده نو راګرځول نه غواړي، او صاحبين چي کله وترو ته سنت وايي ځکه نوهغوی دفرضو سره دوترو دراګرځولو حکم فرمايي، او دمسئلي صورت دادی چي تر لمانځه وروسته په وخت کي دننه ور په ياد سي، او که چيري دوخت له تيريدو څخه وروسته ورپه ياد سوه نو يواځي دماخستن فرض دي وکړي، بس. (١) فقط

**دسپرټ پر پالش باندي لمونځ کول صحيح نه دي**: **سوال**: (١٣٨٢) هل تجوز الصلوة على الموائد اللتي تزين بخلاصة الخمر أم لا ؟

**ځواب**: ما كان فيه إختلاط خلاصة الخمر (سپرټ) فهو نجس لا تجوز الصلوة عليه بلا بسط الثوب الطاهر. فقط (٢)

**دلاحق فتحه ورکول درست دي**: **سوال**: (١٣٨٣) په لمانځه کی ديو مقتدی لمونځ مات سو. کله چی داودس کولو دپاره ولاړی، دلمونځ څخه خارج څه کار يې ونه کی. اوس هغه امام په متشابه آيتونو کي ولګيدی ( يعنی غلط سو) او دې اودس کوونکي لاحق امام ته فتح ورکړه ، اوهمدغه لاحق دجومات څخه وتلی نه وو، شاه صاحب ليکلی دی چی په لمونځ کی څه نقصان نه راځی ، او تاسو ليکلی دی چی لمونځ نه کيږی؟

**جواب**: دلاحق په فتح ورکولو سره اوامام ته په اخيستلو سره په لمونځ کی هيڅ خلل نسته. همدا صحيح ده (٣) ولی چی دلاحق دپاره هغه امام دی حُکمًا، اومام ته په فتح ورکولو اواخستلو سره په لمونځ کی فساد نه راځی. (٤) او مخکنی ليکل مي په ياد نه

---

(١) وعلى هذا إذا صلى العشاء ثم توضا وصلى السنة والوتر ثم تبين أنه صلى العشاء بغير طهارة فعنده يعيد العشاء والسنة دون الوتر لأن الوتر فرض على حدة عنده وعندهما يعيد الوتر ايضا لكونه تبعا للعشاء والله اعلم. (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص ١٣٩). ظفير

(٢) وبه يعلم أن ما يستقطر من دردی الخمر وهو المسمى بالعرقي في ولاية الروم نجس حرام كسائر أصناف الخمر (ردالمحتار باب الأنجاس مطلب العرقي الذي يسقي من دردی الخمر ج١ ص ٣٠٠، ط. س. ج١ ص٣٢٥). ظفير

(٣) بخلاف فتحه على امامه فانه لايفسد مطلقًا لفاتح واٰخذ بكل حال (الدر المختار على هامش رد المحتار باب ما يفسد الصلوة ج١ص ٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٦٢٢). ظفير

(٤) واللاحق من فاتته الركعات كلها اوبعضها لكن بعد اقتدائه الخ وحكمه كمؤتم الخ (ايضاً باب الامامة ج١ ص ٥٥٧ ، ط. س. ج١ ص٥٩٤). ظفير

دی شاید هغه په دې صورت کی لیکل سوی وی چی لاحق یو فعل دلمونځ ماتوونکی کړی وی. فقط

**صرف دآواز ښائسته کولو دپاره په ټوخیدلو سره لمونځ ماتیږی اوکه نه؟ سوال:** (۱۳۸۴) که چیری په فرض لمونځ کی امام صاحب بی عذره غاړه تازه کړی کم چی محض دآواز ښائسته کولو دپاره وی، اودکمو شمېر چی تر دری ۳ ځلور پوری رسیدلی وی، نوپه دی غاړه تازه کولو سره به لمونځ فاسد سی اوکه نه؟

**جواب:** قال فی الدرالمختار: والتنحنح بلا عذر الخ فلو لتحسین صوته الخ فلا فساد علی الصحیح ([1])، ددی څخه معلومه سوه چی دآواز ښائسته کولو دپاره په غاړه تازه کولو سره لمونځ نه ماتیږی. اګرچی دری ۳ واری یا کم او زیات وی، لا طلاق الروایة .

**که په ځنګل کی لمونځ ګزار سُتره ښخه نکړی نو پرکم ځای تیریدل پکاردی ؟ سوال:** (۱۳۸۵) که چیری یو سړی په جومات یاځنګل کی لمونځ کوی، او سُتره یې نه وي درولي، نو ترڅومره ځای پوری دهغه مخ ته تیریدل نه دی پکار؟

**جواب:** په ځنګل کی دلمونځ ګزار نظر چی ترکم ځای پوری رسیږی دهغه ځای څخه ها خوا مخ ته تلل درست دی. ([2]) فقط

**دټوپک په آواز اوریدلو سره چی دلمونځ ګزار دخولی څخه الاّ الله ووزی نو لمونځ کیږی او که نه؟ سوال:** (۱۳۸۶) یو سړی لمونځ کوی ناګهانه دټوپك یا ګولی اواز دهغه غوږ ته راغی، بی اختیاره دهغه دخولی څخه الاّ الله ووتل، په دی صورت کی لمونځ فاسدیږی او که نه؟ او لفظ د: اِلاّ الله ، بغیر د: لاَ اِله دذکر څخه ویل جائز دی او که نه ؟

**جواب:** قال فی الدرالمختار ولو سقط شیئ من السطح فَبَسْمَلَ او دعٰی لاحد او علیه فقال آمین تفسد ولا یفسد الکل عند الثانی والصحیح قولهما الخ ، وفی رد المحتار قوله: فبسمل یشکل علیه ما فی البحر لو لدغته عقرب او اصابه وجع فقال بسم الله قیل افسد لانه کالامین وقیل لا لانه لیس من کلام الناس. وفی النصاب علیه الفتوی وجزم به فی الظهیرية وکذا لو قال یا رب کما فی الذخیرة. ([3]) الخ، نو معلومه سوه چی په پوښتل سوی صورت کی راجح دلمونځ عدمِ فساد دی. اوذِکر د: اِلاّ

---

([1]) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۷۸ ، ط. س. ج۱ ص۶۱۸. ظ

([2]) ولایفسدها نظره الی مکتوب الخ ومرور مار فی الصحراء وفی مسجد کبیر بموضع سجوده فی الاصح مروره بین یدیه الخ فی بیت ومسجد صغیر الخ وان اثم المارّ فی ذالك المرور لوبلاحائل الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب مایفسد الصلوة وما یکره فیها ج۱ ص۵۹۳ ، ط. س. ج۱ ص۶۳۴ – ۶۳۲). ظفیر

([3]) رد المحتار باب ما یفسد الصلوة وما یکره فیها ج۱ ص۵۸۱ ، ط. س. ج۱ ص ۶۲۱ – ۶۲۲ . ظفیر

الله بغیر دلا اله څخه په صوفیاء کراموکی معروف او مُروّجَ دی اودرست دی ولی چی مقصود په دی کی اثبات بَعدَ النفی دی. ددی دپاره صوفیاء کرام چی کله دا ذکر فرمایی نواول پوره کلمه لاَ اِله الاَّ الله ووایی، بیا دی دنفی داول سره داثبات کلمه یو ځای کوی. اودا ظاهره ده چی د: اِلا الله څخه مقصود همدا وی، چی هیڅوك معبود او مقصود دالله څخه ماسِوا نسته.

**دجُمعی په لمونځ کی فتحه ورکول درست دی اوکه نه؟ سوال:** (١٣٨٧) زید دجُمعی په لمونځ کی امام وو، هغه سورت هَلۡ اَتیٰ شروع کړی او په آخره کی بند سو، بکر مقتدی فتح ورلره ورکړه په دی صورت کی لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب:** په دی صورت کی لمونځ وسو. ([1])

**دبیری په حالت کی په کجاوه کی لمونځ کیری او که نه؟ سوال:** (١٣٨٨) دمکی معظی څخه چی کمه قافله مدینی منوری ته ځی، په هغه کی که چیری دکجاوی څخه راکښته سی نو دقافلی څخه دلیری کیدلو په حالت کی دځان خطره ده نو په کجاوه کی دمازیګرلمونځ کول څنګه دی؟

**دقافلی حصاریدلو په وخت کی په کجاوه کی دلمونځ څه حکم دی ؟ سوال:** (١٣٨٩) دماښام په وخت کی قافله یوه شیبه دریږی ټول کسان پرمزکه باندی لمونځ کوی، خو بعضی حاجیان دکجاوی څخه راکښته سی استنجاء اواودس وکړی او بیا ولاړ سی په کجاوه کی لمونځ کوی، داجائز دی او که نه؟

**دشپی په وخت کی په کجاوه کی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال:** (١٣٩٠) دماخستن لمونځ خو شوافع دماښام په وخت کی اداء کوی. دا وخت ډیر خو فناك وی.

**دسهار لمونځ په کجاوه کی کیری که نه ؟ سوال:** (١٣٩١) دسهار په وخت کی هم دمازیګر په شان بعضی ملګری داوښانو څخه کښته سی او لمونځ اداء کوی او اکثر په کجاوه کی کوی.

**دماخستن لمونځ دعذر په وجهی سره ناوخته کول څنګه دی؟ سوال:** (١٣٩٢) (په سفر کی) پر بعضو منزلو باندی په نیمه شپه کی دصبح صادق راختلو څخه مخکی قیام وسی. په دې صورت کی بعضی خلق خو په ماسخوتن کی تاخیر وکی، منزل ته درسیدلو څخه وروسته لمونځ وکی او زیات خلق پرخپل وخت باندی په کجاوه کی لمونځ کوی، نو اصل حکم څه دی؟

---

([1]) بخلاف فتحه علی امامه فانه لا یفسد مطلقا لفاتح واٰخذ بکل حال (الدرالمختار باب مایفسد الصلاة وما یکره فیها ج١ص ٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٢٢٢) دغه ډول وګوری عالمګیری کشوری ج١ ص٩٨. ظفیر

**جواب:** (١) دذكر سوی عذر په وجه په كجاوه كی لمونځ صحيح دی. [١]
(٢) په دی وخت كی په كجاوه كی لمونځ صحيح نه دی.
(٣) په دی وخت كی هم په كجاوه كی لمونځ صحيح دی.
(۴) ددی حكم هم داولنی جواب په شان دی.
(۵) كم خلق چی دمنزل دانتظار څخه بغير په كجاوه كی لمونځ كوی دهغوی لمونځ هم صحيح دی ..... كذا حققه فی الشامی. فقط

(ليكن اوس نه دكجاوې مصيبت سته اونه لاره خطرناكه اوخوفناكه ده. اوس دبَس په ذريعه حاجيان ځی راځی او دلمونځ په وخت كی ټول په كښته كيدلو سره په جَمع سره لمونځ اداء كولی سی. په كجاوه كی به فرض لمونځ درست نه وی. ځكه چی عُذر باقی نه دی پاته. ظفير)

**چی ښځه دسړيو په خوا كی ودريږی نو څه حكم دی؟ سوال:** (١٣٩٣) يوه ښځه ماپښين او مازديگر اونورو پنځه وخته لمونځونو كی راسی اوپه جَمع كی دسړو سره برابره ودريږی نو دسړيو لمونځونه وسوه او كه نه؟

**جواب:** په داسی صورت كی چی كم بالغ سړی ددغه ښځی سره برابردی، دهغه لمونځ نه كيږی. كذا فی الدرالمختار: واذا حاذته ولو بِعُضو واحد الخ امرأة مشتهاة الخ فسدت صلٰوته لو مكلفا. [٢]

**چی قرآن ته گوری او لمونځ كوی نو څه حكم دی؟ سوال:** (١٣٩۴) دتراويحو په لمونځ كی يوسړی دامام څخه وروسته قرآن شريف خلاص كړی دی او ناست دی او نژدې بل مقتدي دی چي قرآن مجيد ته گوری، مخكښی سړی په مطالعه كی مدد ورسره كوی او امام ته فتح وركوی، اوقرآن مجيد ښوونكی دجَمع په يوه ركعت كی نه شريكيږی. كله چی امام په دويم ركعت كی ركوع كوی نو هغه ورسره شريك سی او يو ركعت يوازي اداء كوی. په دی طريقی سره خو لمونځ نه فاسديږی ؟

**جواب:** په در المختار كی دی: وقراءتُهُ مِنْ مُصْحَفٍ، اوفاسدَوی لمونځ، لوستل دلمونځ گزار قرآن شريف ته په كتلو سره. نودا صورت كم چی په سوال كی درج دی په دی كی هم

---

[١] واعلم ان ماعدا النفل من الفرض والواجب بانواعه لا يصح على الدابة الاّ للضَرورة كخوف لصَ على نفسه او دابتهِ او ثيابه لو نزل وخوف سَبع وطين ونحوه ممّا ياتی والصلاة على المحمل الذی على الدابة كالصلاة عليها فيؤمی عليها (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب الصلاة على الدابة ج١ ص٢۵۵ ، ط. س. ج٢ ص۴٠) اوس په حجاز كی دا ډول خطره باقی نه ده پاته اونه پركجاوه باندی دسفر رواج سته . ظفير

[٢] الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الامامة ج١ص ۵٣۴ – ۵٣۵ ، ط. س. ج١ ۵٧٢ – ۵٧۵ . ظفير

دلمونځ دفساد اندیښنه ده، لهٰذا داسی دی نه کوی. ([1])

**دآخری قعدی څخه وروسته په: السلام علیکم ویلو سره فتح ورکول څنګه دی؟ سوال**: (**١٣٩٥**) امام په څلور رکعتی لمونځ کی په آخری قعده کی سلام ونه ګرځوی او قیام ته ولاړ سو، زید امام ته السّلام علیکم وویل. په دی صورت کی دزید لمونځ قائم پاته سو او که نه ؟

**په دویم رکعت کی چی آخری قعده وګڼی او فتح ورکړی نو څه حکم دی؟ سوال**: (١٣٩٦) امام دری٣ رکعتو والا لمونځ ورکوی، زید ته ٢ ددویم رکعت په قعده کی خیال ورغی چی داګواکی دریم ٣ رکعت دی اوامام یې په اَلسّلام علیکم یا فقط په اَلسَّلام ویلو سره کښینول وغوښتل، په دی صورت کی دزید لمونځ قائم پاته سو اوکه نه؟

**جواب**: (٢\١١) په دواړو صورتونو کی دزید په لمونځ کی څه خلل رانغی. ولی چی دهغه غرض امام ته دتلقین دپاره اَلسَّلام علیکم ویل وو. یعنی داچی دسلام ګرځولو وخت دی. اوپه آخره کی دکښیناستلو وخت دی. نو اګرچی په داسی موقع باندی زید لره سبحان ([2]) الله ویل پکار وو لیکن د: اَلسَّلام الخ لفظ په ویلو سره هم په لمونځ کی څه فساد او خلل رانغی.

**په اسویلی کی په چیغی وهلو سره لمونځ فاسدیږی اوکه نه؟ سوال**: (١٣٩٧) کم سړی چی اَسویلی دومره په زوره وکړی چی دهغه آواز دجومات څخه دباندي ولاړ سی نو دهغه لمونځ به وسی اوکه نه؟ اوکه دغه سړی دسخت درد په وجه چیغه ووهله نوڅه حکم دی؟

**جواب**: په اسویلی کی دآواز وتلو سره سره لمونځ کیږی. اوپه آواز سره ژړل ددرد او مصیبت په وجهی سره او چیغه وهل ددرد په وجهی سره لمونځ ماتوی. کذا فی الدر المختار. ([3])

**پردوه ٣ چَتیز کور باندی لمونځ درست دی**: **سوال**: (١٣٩٨) پردوه ٢ چتیز کور باندی لمونځ کول جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: جائز دی. ([4]) فقط

---

([1]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها ج١ ص٥٨٣، ط.س. ج١ ص٦٢٣. ظ

([2]) قال رسول الله ﷺ من نابه شيء في صلوته فليسبح فانه اذا سبح التفت اليه وانما التصفيق للنساء(نصب الرایه ج٢ ص٧٢). ظفیر

([3]) والبکاء بصوت یحصل به حروف لوجع او مصیبة قید للاربعة الاّ لمریض لایملك نفسه عن انین وتأوه لانه حینئذ کعطاس وسُعال وجُشاء وتثاؤب وان حصل حروف للضرورة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ما یفسد الصلاة ومایکره فیها ج١ ص٥٧٩، ط. س. ج١ ص٦١٩). ظفیر

([4]) ځکه چی دا دمزکي په حکم کی دی، دمحمل په اړوند فقهاء لیکی: لا تجوز الصلوة علیها اذا کانت واقفة =

**<u>که امام په سجده کی وفات سی نو مقتدیان څه وکړي؟</u> سوال**: (١٣٩٩) که چیری امام په سجده کی وفات سی نو مقتدیان به لمونځ څرنګه پوره کوی ؟

**جواب**: دغه لمونځ فاسد [١] سو، بیا دی یوبل څوك امام جوړ کړي او دنوی سره دی لمونځ وکړي. فقط

**<u>پراوښ باندی لمونځ درست دی اوکه نه؟</u> سوال**: (١۴٠٠) دحجاز په سفر کی پر اوښ باندی په ناستی سره لمونځ کیدی سی اوکه نه؟

**جواب**: دحجاز په سفر کی پراوښ باندی لمونځ درست نه دی [٢] لیکن دحرمینو شریفینو دحنفی عالمانو فتویٰ پردی ده چي هلته جمع بین الصلاتین صحیح ده ، دمثال په توګه دماښام په وخت کی قافله یو ځای درېږي. نو که چیری دماسخوتن په وخت کی بیا کښته کیدل ګران وی، نو دماښام په وخت کی دماښام دلمونځ څخه وروسته دماخستن لمونځ هم کولی سی. همدغه شان دماپښین او مازیګر لمونځونه هم یوځای کولی سی. [٣] فقط

* * *

---

الاّ ان تکون عیدان المحمل الارض بان رکز تحته خشبة (در المختار) وهذا لو بحیث یبقی قرار المحمل علی الارض الخ فیصیر بمنزلة الارض فنصح الفریضه فیه قائما (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٧٥٢ ، ط. س. ج٢ ص۴٠). ظفیر

([١]) واذا ظهر حدث امامه وکذاکل مفسد فی رأی مقتد بطلت فیلزم اعادتها لتضمنها صلاة الموتم صحةً وفسادا (در المختار) واشار به الی حدیث الامام ضامن الخ (رد المحتار باب الامامة ج١ ص٥٥٣ ، ط. س. ج١ ص٥٩١) بقی من المفسدات ارتداد بقلبه وموت وجنون الخ وکل موجب لوضوء (در المختار) قوله وموت اقول تظهر ثمرته فی الامام لو مات بعد القعدة الاخیرة بطلت صلاة المقتدین به فیلزمهم استینافها (رد المحتار باب ما یفسد الصلاة الخ ج١ ص ٥٨٨ ، ط. س. ج١ ص٦٢٩). ظفیر

([٢]) ویتنفل المقیم راکبا خارج المصر (رد المحتار) واحترز بالنفل عن الفرض والواجب بانواعه کالوتر والمنذور وما لزم بالشروع والافساد وصلاة الجنازة وسجدة تلیت علی الارض فلا یجوز علی الدابة بلا عذر لعدم الحرج (رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی الصلاة علی الدابة ج١ ص٧٥۴ ، ط. س. ج١ ص٣٨). ظفیر

([٣]) ولا جمع بین فرضین فی وقت بعذر سفر ومطر خلافا للشافعی وما رواه محمول علی الجمع فعلا، لا وقتا فان جمع فسد لو قدم الفرض علی وقته وحرم لوعکس ای اخره عنه وان صح بطریق القضاء الاّ لحاج بعرفة ومزدلفة کما سیجیئ ولا باس بالتقلید عند الضرورة بشرط ان یلتزم جمیع ما یوجبه ذالك الامام لما قدمنا ان الحکم المفلق باطل بالاجماع (در المختار) قوله عند الضرورة الخ المسافر اذا خاف اللصوص اوقطاع الطریق ولا ینتظرالوفقه جاز له تاخیر الصلوة لانه بعذر الخ لکن الظاهر انه اراد بالضرورة ما فیه نوع مشقة (ردالمحتار قبیل باب الاذان ج١ ص٣٥۴ – ٣٥٥ ، ط. س. ج١ ص ٣٨١ – ٣٨٢)، دافتویٰ په هغه زمانه کی وه کله چی په حجاز کی امن او امان باقی نه ؤ پاته، الحمد لله اوس داسي حالت نه دی، بلکه پوره امن اوامان دی، ځکه نودجمع بین الصّلوتین دافتویٰ هم باقی پاته نسوه، ماسِوا دعرفی او مزدلفی دځای څخه. والله اعلم، محمد ظفیرالدین غفرلهٗ

# د: زلّة القاري مسائل

(يعني دقرائت كوونكى خطاوي او غلطۍ)

**چې دالَيْنَا پرځاى عَلَيْنَا ووايي نو لمونځ به وسي، اوكه نه؟ سوال:** (١٤٠١) يو سړى په لمانځه كى پرځاى د (اِنَّ اِلَيْنَا اِيَابَهُمْ ثُمَّ اِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُمْ) داسي وويل (اِنَّ عَلَيْنَا اِيَابَهُمْ ثُمَّ اِنَّ اِلَيْنَا حِسَابَهُمْ) نو لمونځ وسو اوكه نه؟

**جواب:** په (اِنَّ اِلَيْنَا اِيَابَهُمْ) كي كه چيري (اِنَّ عَلَيْنَا اِيَابَهُمْ) سهواً ووايي نو لمونځ يې وسو، ولى چې په دې سره په معنىٰ كى څه فرق رانغى. فقط. (١)

**په قرآءت كى كه چيرې (مِنَ الظُّلُمَاتِ اِلَى النُّوْرِ) په اړولو سره ووايي، نو لمونځ به وسي اوكه نه؟ سوال:** (١٤٠٢) يو سړى په لمونځ كى په دې آيت كريمه (اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِينَ آمَنُوا يُخْرِجُهُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَالَّذِينَ كَفَرُوا أَوْلِيَاؤُهُمُ الطَّاغُوتُ يُخْرِجُونَهُمْ مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ) كي سهواً اوپه غلطۍ سره دواړه ځايونه يعني د (مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ) پرځاى (مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ) ووايي اود (مِنَ النُّورِ إِلَى الظُّلُمَاتِ) پرځاى (مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ) ووايي، په دې صورت كي لمونځ صحيح سو اوكه نه؟

**جواب:** په دې صورت كى لمونځ ونسو ولى چې دا غلطي معنىٰ فاسدونكى ده. په دى وجه لمونځ نه صحيح كيږي. (٢) فقط

**كه دواجب مقدار څخه وروسته يې آيت پريښودى، نو څه حكم دى؟ سوال:** (١٤٠٣) په لمونځ كى يې مسنون قراءت كړى وو، دهغه څخه وروسته يې يو كوچنى آيت سهواً په مينځ كى پريښووى، نو لمونځ وسو اوكه نه؟

**كه يو لفظ پاته سي: سوال:** (١٤٠٤) په (يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ) كى چې سهواً (أَنْتَ) پاته سى نو لمونځ به وسى اوكه نه؟

**چې دزور زير پيښ غلطي وسى نو څه حكم دى؟ سوال:** (١٤٠٥) (وَمَا ضَعُفُوْا) يې (وَمَا ضُعَفُوْا) ووايه، لمونځ وسو اوكه نه؟

---

(١) ومنها ذكر كلمة مكان كلمة على وجه البدل ان كانت الكلمة التى قرأها مكان كلمة يقرب معناها وهى فى القرآن لا تفسد صلوته (عالمگيرى مصرى كتاب الصلوة الباب الرابع ج١ ص٧٤، ط. ماجديه ج١ ص٨٠). ظفير

(٢) وان كان فى القرآن ولكن لاتتقاربان فى المعنىٰ نحو قرأ وعداً علينا اناكنا (غافلين) مكان (فاعلين) ونحوهما لو اعتقده يكفر تفسد عند عامة مشائخنا وهو الصحيح من مذهب ابى يوسف هٰكذا فى الخلاصة (عالمگيرى مصرى زلة القارى ج١ ص٧٥، ط. ماجديه ج١ ص٨٠). ظفير

**جواب:** (١) که چیری معنٰی متغیره نسی نو لمونځ وسو، اوکه معنٰی بدله سوه نو لمونځ ونسو. برابره خبره ده که دفرضو په اندازه یې قراءت ویلی وي اوکه یې نه وي ویلی. (١) فقط

(٢) لمونځ صحیح دی. (٢)

(٣) دا غلطی ده لیکن لمونځ وسو. (٣) فقط

**دثاء پر ځای په شین ویلو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال:** (١۴٠٢) زید دجُمعی امام سو او په سور ت اعلی کی یې (فَجَعَلَهٗ غُثَاءً اَحْوٰی) لره (غُشَاءً اَحْوٰی) یعنی دث پرځای یې ش ولوستی، نو لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**جواب:** په دې صورت کی به لمونځ فاسد نه وی. کما فی الشامی. فی شرح قوله : او بدّله بآخر. فاذا لم یغیّر المعنی الخ لا تفسد. (۴) فقط

**چی د آیاته پرځای آیاتنا ووایي، نو څه حکم دی؟ سوال:** (١۴٠٧) دحافظ صاحب څخه دجُمعی دلمونځ په مخکنی رکعت کی دا سهوه وسوه چی دسورتِ جُمعی ددویم ٢ رکعت دکلمی آیَاتِهٖ پرځای یې اٰیَاتِنَا ووایه په دې صورت کي لمونځ صحیح دی اوکه یې راګرځول واجب دی، او د: آیاتهٖ او آیَاتنا په معنی کی څه فرق دی؟

**جواب:** په دی صورت کی لمونځ وسو، داعادی ضرورت نسته، ولی چی اګر چی دآیاتهٖ او آیاتنَا په معنٰی کی فرق سته لیکن پردی موقع باندی په دواړو ډولو مطلب صحیح دی (۵) لکه څنګه چی داهل بلاغت په نزد دغائب څخه دتکلم طرف ته التفات کیدل یو خوبی اوحُسن ګڼل کیږی اوپه قران شریف کی هم په ډیروځایونوکی التفات راغلی دی. فقط

**اَنَا دالف په اثبات سره ویل څنګه دي؟ سوال:** (١۴٠٨) د اَنَا لفظ ضمیر دمتکلم کم چی دکلامِ پاك په رسمِ خط کی دالف په اثبات سره لیکل سوی دی خوپه تلفظ کي الف نه

---

(١) ان الخطأ فی القرآن اما ان یکون فی الاعراب الخ اوفی الحروف الخ او زیادته او نقصه الخ او فی الکلمات اوفی الجمل کذلك الخ والقاعدة عندالمتقدمین ان ما غیر تغییراً یکون اعتقاده کفراً یفسد فی جمع ذالك (غنیة المستملی ص۴۴٢). ظفیر

(٢) قال فی شرح المنیة وان ترك کلمة من آیة فان لم یتغیر المعنٰی مثل جزاء سیئة مثلها بترك سیئة الثانیة لا تفسد (رد المحتار زلة القاری ج١ ص۵٩١، ط. س. ج١ ص٢٣٠). ظفیر

(٣) ومنها زلة القاری فلو فی اعراب او تخفیف الخ لم تفسد (درالمختار) فلو فی اعراب ککسر قواما وفتح باء نعبد مکان ضمها الخ وکذا فساد مطر المنذرین بکسر الذال وایاك نعبد بکسر الکاف (ردالمحتار ج١ ص۵٩٠، ط. س. ج١ ص ٢٣٠ – ٢٣١). ظفیر

(۴) رد المحتار باب مایفسد الصلوة الخ مطلب فی زلة القاری ج١ ص۵٩٢، ط. س. ج١ ص٢٣٣. ظفیر

(۵) ولو زاد کلمة او نقص حرفا او قدمه او بدله بآخر الخ لم تفسد ما لم یتغیر المعنٰی الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة الخ مطلب زلة القاری ج١ ص۵٩١، ط. س. ج١ ص٢٣٢ – ٢٣٣). ظفیر

ويل کيږي ، که فرضاً په تلفظ کي هم الف ورسره وويل سی مثلاً (انّما اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُکُمْ) الآية ، نو په دې صورت کي دلمونځ څه حکم دی؟

**جواب**: اَنا دالف په اثبات سره په ويلو سره اګر چی لمونځ به وسی ليکن دا به لحن فی القراءت وی. (۱) فقط

**دزوَ زير په غلطی سره لمونځ فاسديږی اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۰۹) زيد په څلورمه پاره کی مُنْزِلين د زاء په زور سره ووايه کم چی په څلورمه رکوع کی دی، نو لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: په دې صورت کی لمونځ وسو. (۲) فقط

**چی امام دڅه ويلو څخه وروسته بند سی بيا مخ ته ولاړسی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۱۰) امام قراءت شروع کړی، او ديو دوه ۲ آيتونو ويلو څخه وروسته بند سو او څه الفاظ يې پريښودل دمخ څخه يې ويل وکړل نو لمونځ به جائز وی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ جائز سو. (۳) فقط

**دامام په غلطی سره پرحافظ مقتدی باندی هيڅ اثر نه پريوزي: سوال**: (۱۴۱۱) که چيری دناظره خوان امام څخه غلطی وسی نو دحافظ مقتدی لمونځ کيږی اوکه نه؟

**جواب**: که چيری څه داسی غلطی يې نه وی کړی په کمی سره چی لمونځ فاسديږی نو لمونځ دحافظ هم وسو. فقط

**چی آيت بدل ووايي نو څه حکم دی؟ سوال**: (۱۴۱۲) که چيری يو سړی په لمونځ کی پر ځای د (بَلْ يُرِيدُ الْإِنسَانُ لِيَفْجُرَ أَمَامَهُ) داسي ووايي (بَلْ يُرِيدُ الْإِنسَانُ أَلَّنْ نَجْمَعَ عِظَامَهُ) ، نو لمونځ يې صحيح دی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ به يې وسی. (۴) فقط

---

(۱) ومنها القراءة بالحان ان غير المعنى والاّ لا، الاّ فی حروف مد ولين اذا افحش والاّ لا. (الدر المختار علی هامش ردالمحتار، باب مايفسد الصلوة، مطلب مسائل زلة القاری ج۱ ص۵۸۹ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۰). ظفير

(۲) ومنها زلة القاري فلو فی اعراب الخ لم تفسد وان غيّر المعنی به يفتی، بزازيه (در المختار) قوله: فلو فی اعراب الکسر قواما مکان فتحها وفتح باء نعبد مکان ضمها الخ (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة مطلب مسائل زلة القاری ج۱ ص۵۸۹ – ۵۹۰ ، ط. س. ج۱ ص ۲۳۱ – ۲۳۲ ). ظفير

(۳) ولو زاد کلمة او نقص کلمة الخ لم تفسد ما لم يتغير المعنٰی (در المختار) قوله نقص کلمة ولم يمثل له الشارح قال فی شرح المنية وان ترک کلمة من آية فان لم يتغير المعنی مثل وجزاء سيئة سيئة مثلها بترک سيئة الثانية لا تفسد (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة مسائل زلة القاری ج۱ ص۵۹۱ ، ط. س. ج۱ ص ۲۳۲ - ۲۳۳). ظفير

(۴) اوقدمه اوبدّله بآخر الخ لم تفسد مالم يتغيرالمعنی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص۵۹۱ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۳). ظفير

**په** (قُلْ هُوَ اللهُ) **كي يې** (اَللهُ الصَّمَدُ) **پرېښووي نو لمونځ به يې صحيح وي اوكه نه؟ سوال:**
(۱۴۱۳) امام (قُلْ هُوَ اللهُ) وويل او (اَللهُ الصَّمَدُ) يې پرېښووي او سجده سهو يې وكړه نو لمونځ وسو اوكه نه؟
**جواب:** لمونځ وسو. (١) فقط

**كه دقرائت په مينځ كي يولفظ پاتي سي او معنٰی بدله نسي نو هيڅ كراهت نسته؟ سوال:**
(۱۴۱۴) كه چيرى دامام څخه دقراءت په مينځ كى يوآيت پاته سي نولمونځ كيږى كه نه؟
**جواب:** لمونځ بې له كراهته صحيح دی كه معنی بدله سوی نه وي. (٢)

**تر درو آيتونو وروسته په لمونځ فاسدوونكي غلطي سره لمونځ فاسديږي اوكه نه؟ سوال:**
(۱۴۱۵) كه چيرى امام تر درو يا ډيرو آيتونو ويلو وروسته لمونځ فاسدوونكي غټي غلطي وكړي نو لمونځ فاسديږي اوكه نه؟
**جواب:** لمونځ ماتوونكى غلطى چى په لمونځ كى هروخت وسى، نو لمونځ فاسديږى. (٣) البته كه چيرى غلطى بيا راوګرځوى او صحيح يې ووايي ، نو لمونځ به وسى.

**كه چيرى په قرائت كى يو لفظ پاته سي نو لمونځ به وسي اوكه نه؟ سوال:** (۱۴۱۶) دجُمعى دلمونځ په دوهم ۲ ركعت كى يو سړى دا آيت (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلاَةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ) ترآخره پورى ولوستى دلفظ (نُوْدِيَ) څخه وروسته يې لِلصَّلٰوةِ ونه وايه چى دسلام څخه وروسته ورته وويل سوه نو جواب يې وركړى چى آيت لوى وو ددى وجه مى څه پرېښووى نو لمونځ وسو اوكه نه؟
**جواب:** په دې صورت كى لمونځ وسو خو د (نُودِيَ) څخه وروسته قصداً دصلٰوة لفظ پرېښودل غلط دى اودا ددغه امام جهالت اوغلطى ده چى داسى بيكاره تاويل كوى. هغه ته صفا ويل پكار وو چى زما څخه سهوه سوى ده، او سهواً دا كلمه پاته سوى ده، خو لمونځ صحيح سو په وجه دمعنٰی دنه فاسديدلو. (۴) فقط

**كه قاف يې په كاف سره بدل كړي نو آيا لمونځ فاسد سو؟ سوال:** (۱۴۱۷) په سورة الطّارق كى امام په : لَقَوْلٌ فَصْلٌ كى دقاف په ځاى كاف ولوستى، او دا سړى پرصحيح ويلو باندى قادردى نو لمونځ فاسد سو اواعاده واجبه ده اوكه نه؟

---

(١) ولو زاد كلمة او نقص كلمة الخ لم تفسد ما لم يتغير المعنٰى (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة مطلب فی زلة القاری ج١ ص٥٩١، ط. س. ج١ ص٦٣٢ – ٦٣٣). ظفير
(٢) ايضاً. ظفير
(٣) ان ماغير المعنٰى تغيرا يكون اعتقاده كفرا يفسدفی جميع ذالك الخ (رد المحتار زلة القاری ج١ ص٥٩٠). ظ
(۴) ولو زاد كلمة او نقص كلمة الخ لم يفسد ما لم يتغير المعنٰى. (ردالمحتار ج١ ص٥٩٣). ظفير

**جواب**: په داسی صورت کی ددغه لمونځ اعاده ضروری ده ولی چی دقدرت باوجود په داسی غلطی سره لمونځ نه کیږی. (١) فقط

**پر: صِرَاطَ الَّذِيْنَ باندی په سکوت کولو سره لمونځ نه فاسديږي**: **سوال**: (١۴١٨) يوامام چی سورهٔ فاتحه وايی نو پر صِراطَ الَّذِيْنَ باندی ودريږی، اوساه هم اخلی، نولمونځ کيږی او که نه؟

**جواب**: لمونځ کيږی خو دا لويه غلطی ده آئنده داسی کول نه دی پکار. (٢) فقط

**چی دکريم په ځای په قرائت کی عظيم ووايي، نو څه حکم دی؟ سوال**: (١۴١٩) يوه ورځ ماپه لمانځه کی دسورت مومنون آخری آيتونه ولوستل اوپه ځای د: رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ، می سهواً ربّ العرش العظيم ووايه نو لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورت کی لمونځ وسو. (٣) فقط

**دمد پرځای زير دزور پرځای په مد ويلو سره لمونځ کيږی اوکه نه؟ سوال**: (١۴٢٠) په قرائت کی دزوَر پرځای مد اودمد پرځای په زور ويلو سره او دجمع پرځای دواحد او دواحد پر ځای په جمع ويلو سره لمونځ کيږی اوکه نه؟

**جواب**: هغه موقع معلوميدل پکاردی په کم کی چی تغيّر سوی دی، دپاره ددی چی دهغه موافق دمطلب او معنٰی په کتلو سره حکم وليکل سی. فقط

**که دآيت څه حصه پاته سی او معنٰی بدله نسی، نو لمونځ جائز دی**: **سوال**: (١۴٢١) امام صاحب په لمانځه کی سورتِ جمعه وايه په مينځ کی ورڅخه: بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِآيَاتِ اللهِ، سهواً پاته سو. زيد وايی چی لمونځ ونسو عمر وايی چی لمونځ وسو، په دې کی دسجده سهوی ضرورت سته اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورت کی په لمانځه کی هيڅ نقص رانغی او سجده سهوه نه واجبيږی، ولی چی سجده سهوه په واجب پريښودلو سره لازميږی، او دلته دفرضو اوواجبو په مقدار قرائت اداء سو، اوپه مينځ کی دقراءت په پاته کيدلو سره څه حرج ونسو. (۴) فقط

---

(١) قال فی الخانية والخلاصة الاصل فيما اذا ذکر حرفا مکان حرف وغير المعنی ان امکن الفصل بلا مشقه تفسد الخ وفی خزانة الاکمل قال القاضی ابو عاصم ان تعمد ذالك افسد وان جری علی لسانه اولا يعرف التمييز لا تفسد وهو المختار (رد المحتار باب ايضًا ج١ ص۵٩٢ ، ط. س. ج١ ص٢٣٣). ظفير

(٢) پر: انعمت عليهم باندی ساه پرېښوول پکار دي. ظفير

(٣) او قدمه او بدله بآخر الخ لم تفسد ان لم يتغير المعنٰی (الدرالمختار علی هامش رد المحتار زلة القاری ج١ ص۵٩١ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفير

(۴) ولو کلمة او نقص کلمة الخ لم تفسد مالم يتغير المعنٰی (الدرمختار علی هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة زلة القاری ج١ ص ۵٩١ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفير

**د: زِيْنَةٌ تبديلي په: فتْنَةٌ سره اود: آذَانِهِمْ دا په: آثَارِهِمْ سره وسوه نو په دې صورت کې لمونځ وسو اوکه نه؟** **سوال:** (۱۴۲۲) که چيرې چاپه لمانځه کې د (إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الْأَرْضِ زِينَةً لَهَا) پرځای (فِتْنَةً لَهَا) ووايه، نو دا فساد دمعنٰی به مُفسِد دصلٰوةِ وي اوکه نه؟

**سوال:** (۱۴۲۳) که چيرې چا په لمانځه کې پرځای د (فَضَرَبْنَا عَلَى آذَانِهِمْ) (عَلٰـى آثَـارِهِمْ) ووايه نو لمونځ وسو اوکه نه؟

**سوال:** (۱۴۲۴) که چيرې يو سړی په لمانځه کې په آيت (أُولَئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَـاتِ رَبِّهِـمْ وَلِقَائِه) کي (وَلِقَائِه) پريږدی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

**جواب:** په دی درو ۳ واړو صورتونو کی لمونځ درست او صحيح دی. (١) فقط

**دلفظ يا آيت په بدليدلو سره لمونځ کيږی اوکه نه؟** **سوال:** (۱۴۲۵) امام په سورتِ رعد کی په ځای د (وَيَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِنْ رَبِّهِ قُلْ إِنَّ اللهَ يُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَهْدِي إِلَيْهِ مَـنْ أَنَابَ) پرځای څلورمه رکوع شروع کړه او (وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا) الى آخره يې ووايه حالانکه په سورت محمد (ﷺ) دريمه ۳ رکوع کی (وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ) الآية هم موجود دی. نو په دې صورت کی به لمونځ وسی، اوکه نه؟

**سوال:** (۱۴۲۶) په سورت مريم کی اوله رکوع (يَا يَحْيَى خُذِ الْكِتَابَ بِقُوَّةٍ) الآيـة د (وَكَانَ تَقِيًّا وَبَرًّا بِوَالِدَيْهِ) پرځای يې (بِوَالِدَتِي) ولوستی، نو دلمانځه څه حکم دی؟

جواب: په اول او دوهم دواړو صورتونو کي لمونځ وسو، اودا أوسَع (قول) دی. (٢) فقط

**په سورت زلزال کی يوه حصه هيره سوه ، نو لمونځ وسو اوکه نه؟** **سوال:** (۱۴۲۷) يوسړی په لمانځه کی دفاتحی څخه وروسته اِذَا زُلْزِلَتِ سورت ولوستی، او اَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا ورڅخه هير سو، نو لمونځ وسو او که نه؟

**جواب:** او دآيت وَاَخْرَجَتِ الْاَرْضُ اَثْقَالَهَا په مينځ کی په پاته کيدلو سره په معنٰی کی هم څه تغير نه راځی، لهٰذا دلمونځ په صحت کی څه شبه نسته. (٣)

**چې دزوَر پرځای پيښ ووايي نو څه حکم يې دی؟** **سوال:** (۱۴۲۸) امام دجُمعی په لمونځ کی په آيت کريمه: تَصْلٰى نارًا حَامِيَةً کي پرځای دنصب په رفع سره ووايه يعنی پرځای د:

---

(١) ولوزاد كلمة او نقص حرفا او قدمه او بدله بآخر الخ لم تفسد ما لم يتغير المعنٰى (الدرالمختار على هامش رد المحتار، باب مايفسد الصلوة زلة القارى ج١ ص٥٩٢ ، ط. س. ج١ ص٦٣٢). ظفير

(٢) ولو زاد كلمة اونقص كلمة او نقص حرفا او قدمه اوبدّله باٰ خر الخ لم تفسد مالم يتغير المعنٰى (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب مايفسد الصلوة زلة القارى ج١ ص٥٩٢ ، ط. س. ج١ ص٦٣٢). ظفير

(٣) ولو زاد كلمة او نقص الخ لم تفسد ما لم يتغير المعنٰى (ايضًا) ، ط. س. ج١ ص٦٣٢. ظفير

حَامِيَةً يې حامِيَةٌ ووايه نو لمونځ وسو اوکه نه ؟
**جواب**: په دې صورت کې لمونځ وسو ولې چې پردې موقع باندې په رفع سره په معنې کې تغير نه راځي او تاويل صحيح کيدلی سی. ګويا داسی وويل سوه: تَصْلٰی نَارًا هِيَ حَامِيَةٌ. (١) فقط

**که دسورت يوه ټکړه دويلو څخه پاته سي نولمونځ به وسي اوکه نه؟** **سوال**: (١۴٢٩) دامام څخه په جهري لمونځ کی بَلٰی قَادِرِيْنَ عَلٰی اَنْ نُسَوِّيَ بَنَانَهٗ ويل هير سوه اوداول څخه تر آخره پوری ټول سورت يې ووايه نو په دی صورت کی لمونځ وسو اوکه نه؟
**جواب**: په دی صورت کی لمونځ وسو. (٢) فقط

**چې په مينځ کی آيتونه پريږدي او مخ ته ولاړ سی نو څه حکم دی؟** **سوال**: (١۴٣٠) تر: والشمسِ وضحٰها پوری يې ووايه اوپه مينځ کی آيتو نه ورڅخه هير سوه او پاته سوه او د: وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰهَا څخه تر آخره پوری يې ووايه په دې صورت کې لمونځ وسو اوکه نه؟ او آيا دسجده سهوی ضرورت سته؟

**چې دسورت العصر دويلو په وخت کی والتّين ته ولاړ سی، نو لمونځ به وسی اوکه نه؟** **سوال**: (١۴٣١) په سورت والعصر کی دآمَنُوْا وَعَملوا الصّلحٰت څخه سورت والتين ته ولاړی او فَلَهُمْ اَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُوْنٍ ويل يې شروع کړل اوتر آخره پورې يې سورت ولوستی. په دی صورت کی لمونځ وسو دسجده سهوی ضرورت سته اوکه نه؟
**جواب**: (١) په دی صورت کی لمونځ وسو دسجده سهوی ضرورت نسته (٣).
(٢) په دی صورت که هم لمونځ وسو دسجده سهوی ضرورت نسته. (۴) فقط

**که د: دهَاقًا پرځای دحَاقًا ووايي، نو څه حکم دی ؟** **سوال**: (١۴٣٢) که په لمانځه کې چا دخپل غلط خيال په باور باندی ددِهَاقًا پرځای دِحَاقًا ووايه نو لمونځ به وسی اوکه اعاده به يې واجبه وی؟
**جواب**: دِدهَاقًا پرځای دِحَاقًا په حاء دحُطِيْ سره ويل په ظاهره دقواعدو مطابق مُفسِدِ دصلٰوة دی ولی چې معنٰی ورسره بدليږی (۵) لهٰذا لمونځ به ونسی. فقط

---

(١) فلو فی اعراب او تخفيف الخ لم تفسد (ايضًا ج١ ص۵٩١ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفير
(٢) ولو زاد کلمة او نقص الخ لم تفسد ان لم يتغير المعنٰی (الدرالمختار علی هامش رد المحتار زلة القاری ج١ ص۵٩٢ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفير
(٣) ايضًا ، ط. س. ج١ ص٢٣٢. ظفير
(۴) ايضًا ، ط. س. ج١ ص٢٣٢. ظفير
(۵) ان ذکر حرفًا مکان حرف ولم يغير المعنٰی الخ لم تفسد صلوته وان غيّر المعنی فان امکن الفصل بين الحرفين من غير مشقّة کالطاء مع الصاد الخ تفسد صلوته عند الکل وان کان لا يمکن الفصل الاّ بمشقة کالظاء مع =

**دآیت یوه حصه ئی بدله کړه نو لمونځ به فاسد سی اوکه نه؟** **سوال:** (۱۴۳۳) یوه امام دا آیت غلط ولوستی (اِنَّا اَرْسَلْنَا اِلَیْکُمْ رَسُوْلاً) الایة داسي چي (اَرْسَلْنَا اِلی فِرْعَوْنَ رَسُوْلاً) یې ووایه نو لمونځ فاسد سو اوکه نه ؟

**جواب:** په دې صورت کې لمونځ نه فاسدیږی (۱). فقط

**که دیکذبون پرځای یُمسِکونَ یاد یعملون پرځای تعقلون ووائی نو لمونځ به اوشی اوکه نه؟**

**سوال:** (۱۴۳۴) امام په لمونځ کی پرځای دان یکذبون یمسکون وویل اوپه بل لمونځ کی یې پرځای دیعملون تعقلون وویل نوپه دواړو صوروتونو کی دلمونځ اعاده کول پکاردی اوکه نه؟

**جواب:** په اولني صورت کی دی دلمونځ اعاده وکړی اوپه دویم صورت کی لمونځ وسو. (۲) فقط

**که دډک توری پرځای باریک ووایی نولمونځ به وسی اوکه نه؟** **سوال:** (۱۴۳۵) په کومو ځایونو کی چی راء او لام ډك لوستل پکار دی هلته په باریك لوستلو سره په لمانځه کی دننه څه نقصان سته اوکه نه؟ اوکه وی نوڅومره به وی ؟

**جواب:** لمونځ صحیح دی په لمونځ کی هیڅ خلل رانغی (۳). فقط

**دعَلَیهِم لام ئی زیات راکش کی نولمونځ وسو اوکه نه؟** **سوال:** (۱۴۳۶) پرلفظ د: عَلَیْهِم باندي دنهو یا لسو الفو هومره په کشولو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟

**دغُنّی پرځای اظهار**: **سوال:** (۱۴۳۷) کوم ځای چی میم اونون په غُنّی سره لوستل کیږی که په هغه ځای کی میم اونون په اظهار سره ووایی نولمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب:** (۱) داظاهره ده چی دتجوید دقاعدی مطابق په دی ځای کی مدنسته لهذا دا لحن دی او خطا ده خو لمونځ ورسره کیږی. (۴)

---

= الضاد والصاد مع السین والطاء مع التاء اختلف المشائخ قال اکثرهم لا تفسد صلاته هٰکذا فی فتاوی قاضی خان وکثیر من المشائخ افتوا به قال الامام ابوالحسن والقاضی الامام ابو عاصم ان تعمد .... فسدت وان جری علی لسانه او کان لا یعرف التمیز لا تفسد وهو اعدل الاقاویل والمختار، هٰکذا فی الوجیز للکردری (عالمگیری مصری زلة القاری ج۱ ص۷۴ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۷۹). ظفیر

(۱) او قدمه اوبدله باخر الخ لم تفسد مالم یتغیر المعنیٰ (الدرالمختار زلة القاری ج۱ ص۵۹۲، ط. س. ج۱ ص۲۳۲). ظفیر

(۲) لو زاد کلمة الخ اوبدله باٰخر الخ لم تفسد ما لم یتغیر المعنٰی (در المختار) وان غیر فسدت الخ (ردالمحتار زلة القاری ج۱ ص۵۹۲ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۲). ظفیر

(۳) وفی التتارخانیة عن الحاوی حکی عن الصفار انه کان یقول الخطاء اذا دخل فی الحروف لا یفسد لان فیه بلوی عامة الناس لانهم لایقیمون الحروف الاً بمشقة (ردالمحتار زلة القاری ج۱ص۵۹۲، ط.س. ج۱ص۲۳۳). ظ =

(٢). په دې صورت کې لمونځ صحيح دی. (١) فقط

**د: نُرَدُّ پرځای يې لا نُرَدُّ ووايه نولمونځ فاسد سو اوکه نه؟ سوال:** (١٤٣٨) دايت کريمه : يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ پرځای يې وَلَانُرَدُّ ووايه نو لمونځ فاسد سو اوکه نه؟

**جواب:** په داسې صورت کې اَحْوَطه (خبره) داده چې دلمونځ اعاده (٢) وکړی.

**په : قَتَلَ دَاوُدُ جَالُوْتَ يا په يو بل داسې آيت کې داعراب غلطي: سوال:** (١٤٣٩) په آيت کريمه: وَقَتَلَ دَاوٗدُ جَالُوْتَ کی که چيری ددويم دال يې زوَر او دت يې پيښ ولوستی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟ لوستونکی به کافر سی او که نه ؟ همدغه شان په فَعَصٰی فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ کی که چيری دنون يې زوَر اودلام يې پيښ ووايه نو لمونځ به فاسد سی اوکه نه؟

**جواب:** په: وَقَتَلَ دَاوُدُ جَالُوتَ کی که چيری ددويم دال يې زوَر اود ت يې پيښ ووايه نو لمونځ فاسديږي خو لوستونکی کافر کيږي نه، همدغه ډول په (فَعَصٰی فِرْعَوْنُ الرَّسُوْلَ) کی يې که چيری دنون زوَر او دلام پيښ ولوستی نولمونځ به فاسد سی، (٣) اوکه صحيح يې کړی او بيا يې راوګرځوی، نو لمونځ به صحيح وی. فقط

**چې دخَيْرٌ لَّکَ مِنَ الاولی پرځای والْاُولی ووايي، نو څه حکم دی؟ سوال:** (١٤٤٠) امام په لمانځه کی دخيرُ لَّكَ مِنَ الْاُولٰی پرځای خيرٌ لَكَ وَالاُولٰی ووايه، نو لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب:** په دې صورت کی لمونځ وسو ولی چی په معنٰی کی داسی تغير ونسو کم چی لمونځ ماتوونکی وی. اوس يې معنٰی داسوه چی يقينًا آخرت اودُنيا ستا دپاره دواړه بهتر دی لکه څنګه چی مفهوم دآيت: ربّنا آتنا فی الدنيا حسنة وفی الآخرة حسنةً دی. (٤)

---

(١) (صفحه ٨٢) و(١) (صفحۀ هذا) وفی التتارخانية عن الحاوی حکی عن الصفار انه کان يقول الخطاء اذا دخل فی الحروف لا يفسد لان فيه بلوی عامة الناس لانهم لايقيمون الحروف الاّ بمشقة (ردالمحتار زلة القاری ج١ ص٥٩٢ ، ط.س. ج١ ص٢٣٣). ظفير

(٢) اعلم ان الکلمة الزائدة امّا ان تکون فی القرآن اولا، وعلی کل امّا ان تغيّر اولا، فان غيرت افسدت مطلقا الخ (رد المحتار زلة القاری ج١ ص٥٩١ ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفير

(٣) إِذَا لَحَنَ فِي الْإِعْرَابِ لَحْنًا لَا يُغَيِّرُ الْمَعْنَى بِأَنْ قَرَأَ لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتُكُمْ بِرَفْعِ التَّاءِ لَا تَفْسُدُ صَلَاتُهُ بِالْإِجْمَاعِ وَإِنْ غَيَّرَ الْمَعْنَى تَغْيِيرًا فَاحِشًا كَأَنْ قَرَأَ وَعَصٰى آدَمَ رَبُّهُ بِنَصْبِ الْمِيمِ وَرَفْعِ الرَّبِّ وَمَا أَشْبَهَ ذٰلِكَ مِمَّا لَوْ تَعَمَّدَ بِهِ يَكْفُرُ ، إِذَا قَرَأَ خَطَأً فَسَدَتْ صَلَاتُهُ فِي قَوْلِ الْمُتَقَدِّمِينَ وَاخْتَلَفَ الْمُتَأَخِّرُونَ : قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ مُقَاتِلٍ وَأَبُو نَصْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ سَلَّامٍ الخ لَا تَفْسُدُ صَلَاتُهُ ، وَمَا قَالَهُ الْمُتَقَدِّمُونَ أَحْوَطُ ؛ لِأَنَّهُ لَوْ تَعَمَّدَ يَكُونُ كُفْرًا وَمَا يَكُونُ كُفْرًا لَا يَكُونُ مِنْ الْقُرْآنِ وَمَا قَالَهُ الْمُتَأَخِّرُونَ أَوْسَعُ ؛ لِأَنَّ النَّاسَ لَا يُمَيِّزُونَ بَيْنَ إِعْرَابٍ وَإِعْرَابٍ الخ وَهُوَ الْأَشْبَهُ ، كَذَا فِي الْمُحِيطِ وَبِهِ يُفْتٰى كَذَا فِي الْعَتَّابِيَّةِ وَهٰكَذَا فِي الظَّهِيرِيَّةِ . (عالمگيري مصري زلة القاري ج١ ص٧٢ ، ط. ماجديه ج١ ص٨١) مفتي علام رحمه الله پر احوط باندي فتوٰی ورکړيده. ظفير

(٤) اوبدله باٰخر ؒ لم تفسد مالم يتغير المعنٰی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار زلة القاری ج١ ص٥٩٢ ، =

**دلَفِیْ پرځای دلاَ فِي په ویلوکی څه حرج خو نسته؟ سوال**: (۱۴۴۱) په سورت العصر کي دلَفِیِ خُسْرٍ پرځای دلاَ فی خُسْرٍ په ویلو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟ یعنی پرځای دپروت زورَ ولاړ زورَ یا په الف ویلو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب**: په داسی غلطی سره لمونځ نه کیږی په دی کی احتیاط کول پکار دی، (١) او صحیح ویونکی امام جوړول پکاردی. فقط

**دذال پرځای په جیم ویلو سره لمونځ کیږي اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۴۲) امام په لمانځه کی دذال پرځای جیم ولوستی نو لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: دغه مثال لیکل پکار وو،کم ځای چی امام دذال پرځای جیم ویلی دی، دپاره ددی چی دمعنٰی دتغیّر او تبّدل حال معلوم سوی وای، چی دکمی درجی تغیر سوی دی. خو ظاهره داده، چی په دې صورت کی دلمونځ اعاده اَحْوَطه ده او همدا حکم دطاء پرځای دتاء ویلو (٢) دی. فقط

**دضاد پرځای ذال یا د زاء پرځای په ظاء ویلو سره لمونځ فاسدیږي اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۴۳) که چیری یو کَس دض پرځای ذ یا ز یا ظ ووایي نو لمونځ به یې صحیح وی اوکه فاسد؟ اوکه په لمانځه کی دفرض قراءت ویلو څخه وروسته لمونځ ماتوونکی غلطی وکړی، نو لمونځ یې صحیح سو اوکه فاسد سو؟

**جواب**: لفظ د ض معجمه دخپل اصلی مخرج څخه ویل پکاردی نه د: ذ ، ظ یا ز دمخرج څخه ، ځکه چی عمداً داتول ناجائز دی بلکه په شرح فقه اکبرکی ئی دمحیط څخه راوړی دی چی که چیری څوك قصداً دض معجمه پرځای ظاء معجمه ووایې نوکافر کیږی (٣) العیاذبالله تعالٰی اولمونځ به ئی فاسد سی. اوکه چیری څوك په لمانځه کی دفرض قرائت

---

= ط. س. ج١ ص٢٣٣). ظفير

(١) ومنها زيادة حرف ان زاد حرفا فان كان لايغير المعنى لا تفسد صلوته عند عامة المشائخ الخ وان غيّر المعنٰى الخ تفسد هكذا فى الخلاصة (عالمگيرى كشورى زلة القارى ج١ ص٧٨ ، ط. ماجديه ج١ ص٧٩). ظفير

(٢) ان ذكر حرفا مكان حرف ولم يغير المعنى الخ لم تفسد صلاته وان غير المعنى فان امكن الفصل بين الحرفين من غير مشقة كالطاء مع الصاد الخ تفسد صلاته عند الكل وان كان لا يمكن الفصل الاّ بمشقة كالظاء مع الضاد والصاد مع السين والطاء مع التاء اختلف المشائخ قال اكثرهم لاتفسد صلاته الخ قال الامام ابوالحسن والقاضى الامام ابو عاصم ان تعمد فسدت وان جرى على لسانه اوكان لا يعرف التمييز لا تفسد وهو اعدل الاقاويل والمختار هكذا فى الوجيز للكردرى (عالمگيرى مصرى زلة القارى ج١ص٧٤، ماجديه ج١ ص٧٩). ظ

(٣) وفى المحيط سئل الامام الفضلى عمن يقرء الظاء المعجمة مكان الضاد المعجمة اويقرأ اصحاب الجنة مكان اصحاب النار اوعلى العكس فقال لا يجوز امامته ولو تعمد يكفر قلت اما كون تعمده كفر فلا كلام فيه اذا لم يكن فيه لغتان (شرح فقه اكبر ص ٢٠٥). ظفير

څخه وروسته په قرائت کی لمونځ ماتونکی غلطی وکړی نولمونځ به ئی فاسد سی بیاکه چیری اعاده صحیح وکړی نولمونځ به ئی صحیح سی کنې فاسد به سی په عالمګیریه کی ئی راوړی دی: لو قرأ فی الصلاۃ بخطاء فاحش ثم رجع وقرأ صحیحًا قال فی الفوائد عندی صلوٰته جائزۃ وکذالك الاعراب ([1]). فقط

**__دغلط لوستلو اثر پرلمونځ باندي__: سوال**: (۱۴۲۴) امام دسورت توبی په آیت کی دعَزِیزٌ پر ځای (ما) د (علیه) سره یوځای کوی اوقصداً وقف کوی نولمونځ به وسي اوکه نه؟

**__چی اَسۡفَلَ سَافِلِیۡنَ اِلاَّ الَّذِیۡنَ سره یوځای کړی نوڅه حکم دی؟__ سوال**: (۱۴۲۵) په سورۃ والتین کی داسفل سافلین سره الا الذین الایة په یو ځای لوستلو سره به لمونځ وسي اوکه نه؟

**جواب**: متاخرینو فقهاؤ په دی باب کی توسیع کړی ده چی دهغه حاصل دادی چی په دا قسم تغیراتو سره لمونځ نه فاسدیږی ترڅو پوری چی داسی تغیر ونسی چی معنٰی بالکل فاسده سی نو دلمونځ دصحت حکم باقی وی. ولو زاد کلمة او نقص کلمة او نقص حرفًا او قدمه اوبدّله بآخر لم تفسد ما لم یتغیر المعنٰی ([2]) الخ لیکن کم امام چی اکثره داسی غلطیانی کوي هغه دامامت وړ نه دی، دهغه پرځای دی بل امام وټاکل سی. فقط

**__دسندرو په ډول سره قرآن ویل څنګه دي ؟__ سوال**: (۱۴۴۶) په راګ (یعنی دسندرو په طرز) کی قرآن شریف ویل څنګه دی. آیا خوش آوازی په راګ کی داخله ده. په راګ اوخوش آوازی کی څه فرق دی؟

**جواب**: دسندرو په طرز کی قرآن ویل ناروا دی. وعن حذیفة قال قال رسول الله ﷺ اقرأوا القران بلحون العرب واصواتها وایاکم ولحون اهل العشق ولحون اهل الکتابین وسیجئ بعدی اقوام یرجعون بالقرآن ترجیع الغناء والنوح لایجاوز حناجرهم مفتونة قلوبهم قلوب الذین یعجبهم شانهم رواه الیهقی فی شعب الایمان. ([3]) اوپه غِنا کی ترجیع یعني دآواز اړول او را اړول کیږی لکه: آآآآ الخ په خلاف دخوش آوازی چی په دی کی مد وغیره دتجوید دقواعدو مطابق کیږی اوخوش الحانی په راګ کی داخله نه ده.

**__په__** (فَمَنۡ کَانَ یَرۡجُوۡا لِقَآءَ رَبِّهٖ) **__کی چی کان پاته سی نو څه وکړی؟__ سوال**: (۱۴۴۷) امام دجُمعی

---

([1]) عالمګیری کشوری باب صفة الصلوۃ فصل رابع زلة القاری ج۱ ص۸۱ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۸۲. ظفیر

([2]) الدر المختار علی هامش رد المحتار . باب مایفسد الصلوۃ وما یکره فیها، مطلب زلة القاری ج۱ ص۵۹۲ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۲. ظفیر

([3]) مشکوٰۃ . کتاب فضائل القرآن . فصل ثالث صحیح ص ۱۹۱. ظفیر

په لمونځ کی په ﴿فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّه﴾ کی لفظ دکَانَ سهواً پرېښووی نو لمونځ صحیح سو اوکه نه؟ اوکه اعاده ضروری ده؟ داعاده نه کولو په وجه سره چی کم سړی پر امام طعن کوی دهغه دپاره څه حکم دی؟

**جواب**: په دی صورت کی لمونځ صحیح سو، نوکم سړی چی دناواقفتیا په وجهی سره دلمونځ اعاده ضروری ګڼی هغه دی پوه کړی سی چی مسئله داسی ده. (١) فقط

**دفَالْمُلْقِيَات ذِكْراً پرځای چی فَالْمُدَبِّرَات اَمْراً ووايي نو لمونځ به وسی اوکه نه؟ سوال**: (١۴۴٨) زيد په لمانځه کي سورة والمرسلات شروع کړی، خو پرځای د ﴿فَالْمُلْقِيَات ذِكْرًا﴾ يې ﴿فَالْمُدَبِّرَات اَمْرًا﴾ کم چي په والنّزعٰت سورة کی دی ولوستی، لمونځ يې صحيح سو او که نه؟

**جواب**: په دی صورت کی لمونځ وسو. (٢) فقط

**د: وَلاَ اَنْتُمْ عَابِدُوْنَ پرځای چی وَلاَ اَنْتُمْ تَعْبُدُوْنَ ووايي، نو څه حکم دی؟ سوال**: (١۴۴٩) زيد دمانښام په فرضو کی په سورت قل يا ايها الکافرون کی لا اعبدُ ماتعبدون، په: ولا انتم تعبدون ما اَعبُد، سره ولوستی او اولنی رکعت يې وکړی او په دويم رکعت کی يې اذا جاء ولوستی آيا لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ وسو، ولی چی معنی صحيح ده. (٣) فقط

**ددیارلسو آیتونو دلوستلو څخه وروسته دمتشابه لګیدلو په وجهی سره که یولفظ پاته سو نو لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال**: (١۴۵٠) که امام دلمونځ په قرائت کی ددیارلسو ١٣ ایتونو ویلو څخه وروسته متشابه آیت ووايه يايو لفظ په مينځ کی پاته سو، اودسجده سهوی څخه بغير يې لمونځ ختم کړی نو لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ صحیح سو (۴). فقط

---

(١) ولو زاد کلمة الخ لم تفسد ان لم يتغير المعنى (در المختار) قال فی شرح المنية وان ترك كلمة من اية فان لم تغير المعنى مثل وجزاء سيئه مثلها بترك سيئه الثانية لا تفسد وان غيرت مثل فما لهم يؤمنون بترك لا، فانه يفسد عند العامة وقيل لا والصحيح الأول (رد المحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها مطلب زلة القاری ج١ ص۵۹١، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفير

(٢) ومنها ذکر کلمة علی وجه البدل ان کانت الکلمة التی قرأها مکان کلمتی يقرب معناها وهی فی القرآن لا تفسد صلوته نحو ان قرأ مکان العليم الحکم (عالمگيری کشوری فصل خامس زلة القاری ج١ ص٧٨، ط. ماجديه ج١ ص٧٩). ظفير

(٣) ايضاً. ظفير

(۴) ومنها ذکر اية مکان آية لوذکر اية مکان اية لاتفسد (عالمگيری کشوری ج١ ص٧٩، ط. ماجديه ج١ ص٨٠). ظفير

**الف مقصوره او ممدوده په نون غني سره په ويلو سره لمونځ کيږي اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۵۱) که چيری قاری حافظ په لمانځه کی الف مقصوره او الف ممدوده په نون سره ووايي نو په لمونځ کي څه قصور سته اوکه صحيح دی. مثلاً موسٰی ته موسان وايی او صحریٰ ته صحران، اوبُشریٰ ته بُشران، علی هٰذا القياس. اوکله چی هغه ته وويل سی (چی داغلطی مه کوه) نو غصه سی وو ايي چی زه داسی نه وايم، حالانکه حافظانو هم واوريدل، هغوی هم شکايت کوی.

**جواب**: لمونځ صحيح سو ليکن امام لره داسی غلطی کول نه دی پکار، په داسی ويلو سره په غلطوالی کی هيڅ کلام نسته، دا بالکل لحن دی، ليکن دمخکنيو لمونځونو اعاده لازمه نه ده، آينده احتياط ضرور دی که چيری امام دغه نه پريږدی نو بل امام صحيح ويونکی دی مقرر کړی سی. (۱) فقط

**چی دضاد پرځای ظاء ووايي نو لمونځ کيږي او که نه ؟ سوال**: (۱۴۵۲) کم سړی چی په لمانځه کی ضاد دخپل مخرج څخه داداء کولو قصد وکړي خو دادا کولو په وخت کی سهواً يا په خطاء سره ژبه يې ضاد په ظاء ووايه، نو دده لمونځ صحيح دی اوکه نه؟ اوکم سړی چی قصداً دضاد پرځای ظاء يا زاء وايی دهغه لمونځ کيږی اوکه نه؟

**جواب**: که چيری په خطاء سره ضاد معجمه پرځای دظاء معجمه وويل سو نو داکثرو په قول لمونځ صحيح دی ليکن که چيری قصداً ضاد پرځای دظاء يازاء وويل سي نو قاضی ابو عاصم رحمه الله فرمايی چی لمونځ دهغه فاسد دی. اوهمدی ته يې مختار ويلی دی او په بزازيه کی يې هم دی ته مختار او اَعْدَلُ الاقوال ويلی دی. په شامی کی دی: قال فی الخانية والخلاصة فيما ذکر بشقة کالظاء مع الضاد المعجمتين والصاد مع السين المهملتين والطاء مع التاء قال اکثرهم لا تفسد اهـ وفی خزانة الاکمل قال القاضی ابو العاصم ان تعمد ذالك تفسد وان جری علی لسانه اولا يعرف التمييز لاتفسد وهو المختار، حليه، وفی البزازيه وهو اعدل الاقاويل وهو المختار وفی التتارخانيه عن الحاوی حکی عن الصفار انه کان يقول الخطاء اذا دخل فی الحروف لا يفسد لان فيه بلوی عامة الناس (۲) آهـ ص ۴۲۵ شامی جلد ۱ . فقط

**دشين پرځای په سين لوستـــلو سره لمونځ کيږي اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۵۳) داسی سړی امام

(۱) ومنها القرائة بالالحان ان غير المعنی والاّ لا، الاّ فی حرف مد ولين اذا فحش والاّ لا، (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب مايفسد الصلوة ج۱ ص۵۸۹ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۰). ظفير

(۲) ردالمحتار مطلب زلة القاری باب مايفسد الصلوة ج۱ ص۵۹۲ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۳. ظفير

جوړول څنګه دی ځوك چی دشین پرځای سین وایی، اوکم لمونځونه چی په دی غلطیانو سره ادا سوی دی هغه وسوه او که نه؟

**جواب**: امام داسی سړی جوړول پکاردی ځوك چی قرآن شریف صحیح وایی، هغه سړی امام مه جوړوی ځوك چی ذکر سوی غلطیانی کوی، کم لمونځونه چی په دغه غلطیانو سره کړی سوی دی هغه وسوه، ([1]) خو آینده دغه سړی امام مه جوړوی ترڅو پوری چی هغه قرآن شریف صحیح اداء نه کړی.

**په قرآئت کی په غلطی سره لمونځ کیږی اوکه نه؟** **سوال**: (۱۴۵۴) یو امام د: آمن الرسول بما انزل الیه من ربه والمؤمنون، پرځای من قبله والمؤمنون ووایه، لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: کم صورت دسوال چی تاسو لیکلی دی په هغه کی لمونځ ([2]) وسو. فقط

**ایا په سورت فاتحه کی په وقف او عدم وقف سره دشیطان نوم جوړیږی؟** **سوال**: (۱۴۵۵) زید وایی چی دَاَلْحَمْدُ پردال باندی په وقف نه کولو سره دُلِل معلومیږی او دُلِلْ دشیطان نوم دی. علیٰ هٰذا دایَّاكَ پرکاف باندی وقف کول پکاردی ولی چی په وقف نه کولو سره کَنَهْ معلومیږی او دا نوم دشیطان دی. داقول صحیح دی اوکه نه؟

**جواب**: دزید دا قول غلط دی. فقط

**دسَمِعَ اللّٰه لِمَنْ حمده ادا والی**: **سوال**: (۱۴۵۶) یو سړی سمع الله لمن حمده په دا شان وایی، چی هُوْ لِیْمَنْ اوریدل کیږی، آیا دا صحیح دی که غلط؟

**جواب**: ددغه سړی دغه شان ویل دقرآئت په اعتبار سره غلط دی صحیح نه دی. دقرآئت په قاعده کی دادی چی په ضمه او کسره کی دی صرف بوی دواو اویاء راسی نه داچی صریح واو اویاء یعنی هُوْ لِیْمَنْ وویل سی. دا بالکل غلط دی، پکارده چی دغه امام دی سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ووایی او دداسی قراءت څخه دی خلګ خلاص کړی. فقط

**لمونځ ماتونکی غلطیانی**: **سوال**: (۱۴۵۷) یوامام قرآن شریف غلط وایی، غلطیانی دادی: په اَلحَمْدُ لله کی اَلْ داسی وایی چه دلام زیر معلومیږی. دنَعْبُدُ ددال زورَ وایی. دمُسْتَقِیْم قاف په کاف وایی الخ په دی غلطیا نو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟

**ترتیل**: **سوال**: (۱۴۵۸) ترتیل ضروری دی اوکه نه؟ اوشد او مَدَّ ضروری دی اوکه څنګه؟

---

([1]) په ردالمحتارکی دی: ان کان الخطاء بابدال حرف بحرف فان امکن الفصل بینهما بلا کلفة کالصاد مع الظاء .... فاتفقوا علی انه مفسد وان لم یمکن الا بمشقة کالظاء مع الضاد والصاد مع السین فاکثرهم علی عدم الفساد لعموم البلوی وبعضهم یعتبر عسر الفصل بین الحرفین وعدمه وبعضهم قرب المخرج وعدمه (ج۱ ص۲۵۹ ، ط. س. ج۱ ص۲۳۳). ظفیر

([2]) ومنها ذکر کلمة مکان کلمة علی وجه البدل ان کانت الکلمة التی قرأها مکان کلمة یقرب معناها وهی فرأ القرآن لا تفسد صلوته (عالمګیری کشوری ج۱ ص۷۸ . ط. ماجدیه ج۱ ص۷۹). ظفیر

**جواب**: (۱) په داسې غلطيانو سره دکمو چه په سوال کې ذکر دی لمونځ په هغه پسې نه کیږی اعاده کول يې پکار دی. (١)

(۲) دومره ترتيل چه حروف ورسره صحيح سی فرض دی په شد اومدّ کی بعضی ضروری دی او بعضی ډیر ضروري نه دی. (٢)

**لا اَعْبُدُ يې دلام په حذف سره ووايه نولمونځ وسو اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۵۹) په سورت کافرون کی ددويم آيت په شروع کی چه کم لاَ اَعْبُدُ دی اودميم سره مَا تَعْبُدُوْنَ دی. که چيری دلا الف او دما الف وغورځول سی او صرف په زور سره دواړه وويل سی نو لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ ونسو، ټولو لره يې راگرځول پکاردی. (٣) فقط

**چه دزير پرځای زوَر ووايي نو لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۲۰) په يوکتاب کی يې ليکلی دی چه که چيری لمونځ گزار په لمانځه کی دزير پرځای زوَر يابر عکس ووايي نو کافر کيږی، داصحيح دی، اوکه څنگه؟

**جواب**: کافر کيږی نَه، خو لمونځ فاسديږی. (٤) فقط

**چه دوه ۲ آيته ووايي نو لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۲۱) په لمانځه کی يې والشّمْسِ شروع کی اوپه مينځ کی يې دوه ۲ آيتونه والشمس وضحٰها، واللّيلِ اذا يَغشٰها ولوستل نو لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ وسو. (٥)

**په قرآئة کی ديوه سورت ديوې حصې ويلو څخه وروسته په هيره سره بل سورت ته ولاړی:**

**سوال**: (۱۴۲۲) عمر په اولني رکعت کی دفاتحی څخه وروسته دا آيت ووايه د (للهِ مَا فِی

---

(١) ولا غير الالثغ به ای بالالثغ علی الاصح کما فی البحر عن المجتبٰی الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج١ص٥٤٤ ، ط. س. ج١ ص٥٨١) قوله: غير الالثغ به قال فی المغرب هو الذی يتحول لسانه من السين الی الثاء وقيل من الراء الی الغين او اللام او الياء زاد فی القاموس اومن حرف الی حرف (رد المحتار ج١ ص٥٤٤ ، ط. س. ج١ ص٥٨١). ظفير

(٢) ورتل القران ترتيلا (سوره مزمل : ٤). ظفير

(٣) ومنها حذف حرف الی قوله : ان لم يکن علی وجه الايجاز والترخيم ان غير المعنی تفسد صلوته عند عامة المشائخ (عالمگيری کشوری ج١ ص٧٨ ، ط. ماجديه ج١ ص٧٩). ظفير

(٤) ان الخطاء اما فی الاعراب ای الحرکات والسکون (الی قوله) ان غير المعنی تغيرا يکون اعتقاده کفر يفسد فی جميع ذالك سواء کان فی القرآن اولاً الخ (رد المحتار ج١ ص٥٩٠). ظفير

(٥) ومن فرائضها التی لا تصح بدونها (الی قوله) ومنها القرآئة لقادر عليها (در المختار) قوله: ومنها القراءة ای آية من القرآن وهی فرض عملی فی جميع رکعات النفل والوتر وفی رکعتين من الفرض (رد المحتار ج١ ص٤١٥ ، ط. س. ج١ ص ٤٤٢ – ٤٤٢). ظفير

السّمٰوٰت وما فی الارض الملك القدوس العزیز الحکیم) څخه تر (لا یَهْدِی القومَ الظّٰلِمین) پوری. دهغه څخه وروسته راوګرځیدی او دا ځای یې شروع کی یعنی دسورتِ بقری آخری رکوع (لله ما فی السّمٰوٰت وما فی الارض) تر رکوع پوری یې ووایه. او په دویم رکعت کی یې دسورتِ فاتحی څخه وروسته دسورتِ مزمل دآخری رکوع ویلو څخه وروسته یې لمونځ ختم کی. په دی حالت کی لمونځ صحیح سو او که نه؟

**جواب**: دعَمر څخه اول هیره وسوه او غلط یې ووایه، بیا یی دسورتِ بقری آخری آیتونه صحیح ووایه اوپه دویم رکعت کی یې دسورتِ مزمّل آخری رکوع ووایه. لمونځ وسو او سجده سهوه وغیره هیڅ لازم نه دی. خو غوره داده چه دفرائضو په هریوه لمونځ کی او په هریوه رکعت کی دأوَلو دواړو رکعتو څخه پوره سورت دالْحَمْدُ څخه وروسته ووایی، متفرق آیتونه ویل په فرائضو کی دمستحب څخه خلاف دی. ([1]) فقط

**دضاد مخرج کم دی: سوال**: (۱۴۲۳) ضاد د (ظ) سره مشابه لوستل پکار دی، او که ددال سره مشابه اوکه څرنګه به ویل کیږی ؟

**جواب**: حرف (ض) یومستقل حرف دی کم چه دعربی ژبی سره مخصوص دی. دانه ددال سره مشابه ویل پکاردی اونه دظاء سره. او دابغیر دیو مستند قاری څخه دمخامخ ازده کولو څخه پرته په پوهه کی نسی راتلی. پاته سوه داچه په دی کی یو قسم تشابُه چه ګڼل کیږی نو دتجوید او قرآئت دکتابونو دعباراتو څخه یې تشابُه دظاء سره معلومیږی. په نهایة القول المفید فی علوم التجوید مطبوعه مصری ص ۴۸ کی ددی تحقیق مبسوط موجود دی. المنح الفکریه علی متن الجزریه مطبوعه مصر لملا علی قاری ص۳۴ – ۳۹ دی وکتل سی. اودحرمینو شریفینو زاد الله شرفهما دقاریانو معمول بها تشابه ددال سره کیږی. چه دهغو دلائل دتنګوالی په وجه نسی عرض کیدی، چونکه دا حالِ کیفی دی صرف په کتابت او تحریر سره په دې پوهیدل ګران دی. فقط

**په قرآئت کی څه الفاظ پاته سوه نو لمونح وسو اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۲۴) که چیری امام په لمانځه کی آیت داسي ووایي: (واذ قال عیسی بن مریم یٰبنِی .... رسول الله الیکم) یعنی دیٰبنی څخه وروسته یې (اِسْرَایلَ اِنّی) پریښووی نو لمونځ وسو اوکه ناقص سو؟ او یوبل مقتدی ته دا آیت یاد وو، هغه فتح هم ورنکړه نو دهغه لمونځ هم وسو او که نه؟

---

([1]) الافضل ان یقرأ فی کل رکعة الفاتحة وسورة کاملة فی المکتوبة (عالمگیری کشوری ج۱ ص۷۷ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۷۸) ولو قرأ فی رکعة من وسط سورة ومن آخر سورة وقرأ فی الرکعة الاخرٰی من وسط سورة اخرٰی او من آخر سورة اخری لا ینبغی له ان یفعل ذالك علی ماهو ظاهر الروایة ولکن لو فعل ذالك لا باس به (ایضًا، ط. ماجدیه ج۱ ص۷۸). ظفیر

**چه په مینځ کی حصه په قران کی پاته سی نو څه حکم دی؟ سوال**: (١۴٢۵) په سورت رحمٰن کی یې حُورٌ مقصورات فی الخیام ویل شروع کړل اوپه مینځ کی ایتونه یې پرېښول د: متّکئین علٰی رفرفٍ څخه ترآخره پوری یې وو ایه، نو لمونځ وسو او که نه؟

**جواب**: (١) لمونځ وسو، څه نقصان پکښی رانغی. دفتح نه ورکونکی لمونځ هم وسو او دټولو مقتدیانو لمونځ وسو. (١)

(٢) په دی صورت کی هم لمونځ وسو. څه نقصان پکښی رانغی. (٢) فقط

**په لمونځ کی ضاد څرنګه ویل پکار دی؟ سوال**: (١۴٢٦) لفظ د ضاد په لمونځ کی څرنګه ویل پکاردی؟

**جواب**: ضاد دخپل مخرج څخه ادا کول پکار دی. که یې نه سی ادا کولی نو چه څرنګه ادا سی لمونځ کیږی. (٣) فقط

**د: لَحَافظون پرځای د: لنافظون په ویلو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال**: (١۴۴٧) څه فرمایی علماء دین او مفتیان دشرع متین په دی مسئله کی چه امام دلمونځ په مخکنی رکعت کی دلسو ١٠ آیتونو په مقدار ویلو څخه وروسته سهواً پرځای د: لَحَافِظون، لَنافِظون وو ایه ، په دی صورت کی به لمونځ وسی اوکه نه؟ ددی جواب سره دحوالی دکتاب تحریر وفرمایاست.

**جواب**: لمونځ وسو (۴). فقط

**دضاد کم مخرج دی او څوک چه دال مفخّم وایی دهغه امامت درست دی او که نه؟ سوال**: (١۴٢٨) دجَزری اوشاطبی او تحفه نذریه او ملا علی قاری دعبارت څخه صفا ظاهره ده چه ضاد معجمه ددال اوظاء څخه جلا ویل فرض دی. که یې چیری څوك زده کوی نو ضاد صحیح ویلی سی خو نه یې زده کوی، دظاء یا دال مفخَّم مشابه یې وایی، دهغه امامت درست دی او که نه ؟

**جواب**: که چیری ضاد په صورت ددال مفخّم ویلو سره دلمونځ نه کیدلو حکم وکړل سی نو په ټولو عربو قراؤ او علماؤ اوامامانو کی به دهیڅا لمونځ ونه سی اونه به دهیڅ یوه مقتدی لمونځ وسی. ولی چه هغوی ټول دوالین وایی.

---

(١) و(٢) وزاد کلمة او نقص کلمة او نقص حرفا او قدمه اوبدله اٰخر الخ لم تفسد مالم یتغیر المعنی (الدرالمختار علی هامش رد المحتار ج١ ص۵٩١ زلة القاری ، ط. س. ج١ ص٢٣٢). ظفیر

(٣) الاَّ ما یشق تمییزه کالضاد والظاء فاکثرهم لم یفسدها (الدرالمختار ج١ص۵٩١، ط. س. ج١ ص٢٣٣). ظفیر

(۴) لَو زاد کلمة او نقص کلمة او نقص حرفا او قدمه اوبدله اٰخر الخ لم تفسد مالم یتغیر المعنی (الدر المختار فصل زلة القاری ج١ ص۵٩٠ ، ط. س. ج١ ص ٢٣٢). ظفیر

نو معلومه سوه چه داحکم لګول غلط دی اوپه دی کی حرج دی. البته عمده اوبهتره داده چه دمخرج څخه یې په اداء کولو کی کوشش وکړی، نه دی ظاء وایی اونه دال. اوحضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی قدس سره تحریر فرمایلی دی، چه ضاد ددال مفخّم په صورت کی ویلو ته دال ویل صحیح نه دی، لکه څنګه چه طاء، تاء نه ده وَقسْ علیه، بلکه هغه ضاد چې دمفخم دال مشابه معلومیږی هغه مخرج ناقص دی دضاد. ([1]) فقط

❊　❊　❊

## دوهم فصل: دلمونځ مکروهات

یعني په کومو شیانو سره چې په لمونځ کی کراهت پیدا کیږی

**مزارته مخامخ لمونځ کول څنګه دی ؟ سوال**: (١۴٢٩) زید یو جومات تعمیر کړی ددغه جومات دصحن په مینځ کی یومزار دی ...... که چیری یو سړی مزارته مخامخ لمونځ کوی نو جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: قبرته مخامخ فرض اونفل لمونځ کول مکروهه دی ددی دپاره مناسبه داده چی پر داسی موقع باندی که چیری قبروی څنګه چی په دی موجوده صورت کی دی نوددی قبر نښان دی خراب کړل سی نوکله چی دقبر نښان دجومات په فرش کی پاته نه سی نوپه لمونځ کی به څه کراهت نه وی اوکه چیری دقبر نښان خراب نه کړل سی نوبیا قبرته مخامخ لمونځ کول مکروهه دی ددی علاج اوبندو بست که داسی وکړی سی چی دقبر هر طرفته یوه جنګله جوړه کړی سی نوبیابه هم کراهت مرتفع یعنی لیری سی. ([2]) فقط

**سجدی ته دتللو په وخت کی پرتوګ لوړول ښه نه دی؟ سوال**: (١۴٧) دقومی څخه سجدی ته دتللو په وخت کی (بعضی خلق) پرتوګ لوړوی دالمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: بی ضرورته داسی کول ښه نه دی اولمونځ اداء کیږی ([3]). فقط

---

([1]) قوله: مخـــرج ناقص دی الخ وجه یې داده چه ددال مفخّم په صورت کی دضاد دمخرج یعنی حافۀ لسان مع الاضراس څخه ډیر څه کار اخستل پکار وی اوددال مخرج یعنی دژبی غاړی او دثنایا علیا بیخ ته هم فی الجمله شمول وی البته کم کم چی ددال صفت دی ددال معجم په صورت کی نه اداء کیږی، دلته مخارج اوصفات دفوائد مکیه څخه ماخوذ دی. جمیل الرحمٰن

([2]) وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة الخ ومقبرة (در مختار) واختلف فی علته فقیل لان فیها عظام الموتی وصدیدهم وهو نجس وفیه نظر وقیل لان اصل عبادة الاصنام اتخاذ قبور الصالحین مساجد وقیل لانه تشبه بالیهود وعلیه مشی فی الخانیه ولاباس بالصلاة فیها اذا کان فیها موضع اعد للصلاة ولیس فیه قبر ولا نجاسة ولا قبلة الی قبر (رد المحتار کتاب الصلاة ج١ ص٣۵٢، ط. س. ج١ ص٣٧٩). ظفیر

([3]) وکره کفه ای رفعه ولو لتراب کمشمر کم او ذیل وعبثه به ای بثوبه وبجسده للنهی الا لحاجة ولا باس به　=

**دبل چا په کښت کی بی اجازته لمونځ جائز دی اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۷۱) که بی اجازتـه ئـی دبل چاپه زمکه کی لمونځ وکی نولمونځ وسو اوکه نه؟
**جواب**: لمونځ وسو. ([1]) فقط

**دعاجزی په وجه باندی سرتور سر لمونځ بی کراهته جائز دی: سوال**: (۱۴۷۲) په یوه کتـاب کی یې لیکلي دی چه کم سړی سرتور سر په دی نیت سره لمونځ وکړی چه په عاجزی سره دخدای په دربار کی حاضریږم نو څه حرج نسته ؟
**جواب**: دایی دفقهی په کتابونوکی هم لیکلی دی چه په ذکر سوی نیت سره په سرتور سر لمونځ کولوکی کراهت نسته. په درمختار کی دی: لا بأس به للتذلل الخ. ([2]) فقط

**په تولیه یا دستمال تړلو سره لمونځ ورکول څنګه دی؟ سوال**: (۱۴۷۳) دلنګوټي پرځای پـه دستمال تړلو سره لمونځ ورکول ناجائز دی اوکه نه؟ اوتولیه پر خولی باندی تړل مکروهه دی اوکه نه؟ اوپه دی سره لمونځ ورکول مکروه دی اوکه نه؟ اودا اِعتِجار دی او کـه نـه؟ که چیری یوسړی پرهغه باندی طعن کوی اوجاهلانه الفاظ دتوهین ووایي نودهغه عتاب کول پکاردی او که نه ؟
**جواب**: تولیه اودستمال پرخولی باندی تړل مکروه نه دی، یعني دلنګوټي په ډول یې تـړل او بیا لمونځ ورسره کول مکروه نه دي، بلکه اطلاق دعمامی درباندی کیږی او تړونکـی به یې دثواب مستحق وی. او اِعتِجار مکروه نه دی. عصَابه په معنٰی دعمامی هم راځی. او کمه پټی (ربنکی) چه پرسر باندی تړل کیږی هغی ته هم عصابه وایی. العصابة تاتی بمعنی العمامة کمافی القاموس وشرح الشمائل للقاری ([3]). درسول الله ﷺ دعمامی په باره کي منقول دی چه دهغوی ﷺ سره دوې عمامی وی. یوه داوو ۷ ذِراعو اویوه ددولسو

---

= خارج صلاة (درمختار) قال فی النهایه وحاصله ان کل عمل هومفید للمصلی فلاباس به اصله ماروی ان النبی ﷺ عرق فی صلاته فسلت العرق عن جبینه ای مسحه لانه کان یؤذیه فکان مفید وفی زمن الصیف کان مفیدا کیلا تبقی صورة فاما لیس بمفید فهو العبث آهـ وقوله کی لاتبقی صورة یعنی حکایته صورة الالیة کما فی الحواشی السعدیة الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلوٰة ومایکره فیها ج۱ ص۵۹۸ - ۵۹۹، ط. س. ج۱ ص۲۴۱). ظ

([1]) وكذا تكره الخ او للغير لو مزروعة (درمختار) فإن اضطر بين أرض مسلم وكافر يصلي في أرض المسلم إذا لم تكن مزروعة، فلو مزروعة أو لكافر يصلي في الطريق اهـ أي لان له في الطريق حقا كما في مختارات النوازل، وفيها: تكره في أرض الغير لو مزروعة أو مكروبة، إلا إذا كانت بينهما صداقة أو رأى صاحبها لا يكرهه فلا بأس اهـ نقل سيدي عبد الغني عن الاحكام لوالده الشيخ إسماعيل أن النزول في أرض الغير، إن كان لها حائط أو حائل يمنع منه وإلا فلا، والمعتبر فيه العرف اهـ يعني عرف الناس بالرضا (ردالمحتار كتاب الصلاة ج۱ ص۳۵۴ ، ط. س. ج۱ ص۳۸۱). ظفير

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسدالصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۹۹، ط. س. ج۱ ص۲۴۱. ظ

([3]) جمع الوسائل .

ذِراعو. لیکن صحیح داده چه په دې کی هیڅ تحدید شرعًا نسته. په قدر دضرورت یې کول کافی دی، (١) په جمع الوسائل شرح الشمائل للعلی القاری کی دي: وقال الشیخ الجزری فی تصحیح المصابیح تتبعت الکتب وتطلبت من السیر والتواریخ لاقف علی قدر عمامة النبی ﷺ فلم اقف حتی اخبرنی من اثق به انه وقف علی شئ من کلام النووی ذکر فیه انه کان له ﷺ عمامةً قصیرةً وعمامةً طویلةً وان القصیرة کانت سبعةَ اذرع مطلقًا من غیر تقیید بالقصیر والطویل (٢) الخ. فقط

**په لمانځه کی دبعضو آیتونو پرختم باندی دُعا اودهغه حکم ؟ سوال:** (١۴٧۴) یو عالم امام دتراویحو په لمونځ کی سورتِ رحمٰن وو ایه. د (فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ) ویلو څخه وروسته پټه خوله (چپ) سو. مقتدیانو دهغه په جواب کی (لاَ بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ) په جهر سره وو ایه. همدغه شان هغه فرائض په کموکی چه جهری قرآئت کول کیږي په هغه کی دسورت قیامه پرختمیدلو باندی (بَلٰی) اوپه سورتِ اعلیٰ کی پر (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ) باندي (سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰی) اودسورة والتّین پرختمیدلو باندی (بَلٰی وَاَنَا عَلٰی ذَالِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ) وغیره مقتدیان په جهر سره وایی، په تراویحو یافرائضو کی دذکر سوو آیتونو دجوابونو ویلو تعلیم مقتدیانو ته ورکول اوپه هغوی باندی عمل کول څنګه دی؟

**امام ته پرداسی آیتونو باندی دریدل څنګه دی؟ سوال:** (١۴٧۵) امام ته دتراویحو یافرض لمونځ په حالت کی دجوابی آیت ویلو څخه وروسته دریدل اودمقتدیانو دجوابونو اوریدلو څخه وروسته بیا قرآئت کول څنګه دی؟

**آیاپه دی سره په غیر قرآن کی اشتغال نه راځی ؟ سوال:** (١۴٧۶) پورتنی جوابونه په فرض لمونځ یا تراویحو کی په ویلو سره مقتدی مشتغل بغیر القرآن دی اوکه نه؟

**په داډول په غیر قرآن کی اشتغال مفسد دصلوٰة دی اوکه نه؟ سوال:** (١۴٧٧) دداقسم اشتغال په بغیر القرآن سره دلمونځ څه حکم دی؟

---

(١) فان لم تکن عمامته بالکبیرة التی یؤذی حملها حاملها الخ ولا بالصغیرة التی تقصر عن وقایة الرأس من الحر والبرد بل کانت وسط بین ذلك الخ وقال السیوطی لم یثبت فی مقدارها حدیث وفی مایدل علی انها عشرة اذرع والظاهر انها کانت نحو العشرة او فوقها یسیر وقال الطحاوی فی فتاویه رأیت مانسب لعائشة ان عمامته ﷺ فی السفر بیضاء وفی الحضر سوداء وکل منها سبعة اذرع الخ وفی تصحیح المصابیح لابن الجزری تتبعت الکتب الخ لاقف علی قدر عمامته ﷺ فلم اقف علی شيء حتی اخبرنی من اثق به انه وقف علی شيء من کلام النووی ذکر فیه انه کان له عمامة قصیرة ستة اذرع وعمامة طویلة اثنا عشر ذراعا (شرح المواهب اللدنیه للزرقانی ج۵ ص۴). ظفیر

(٢) جمع الوسائل.

**که چیری کراهت وی نو اعاده یې واجبه ده اوکه نه؟ سوال**: (۱۴۷۸) که چیری حکم دکراهتِ تحریمی ثابت سی نو لمونځ را ګرځول لازمیږی اوکه نه ؟

**په ائمه اربعه کی دا دچا مذهب دی؟ سوال**: (۱۴۷۹) په خیر القرون کی دکله څخه چه دتراویحو پرشلو رکعتو باندی اجماع سوی ده، داسی عمل چا کړی دی اوکه نه؟ په څلورو امامانو کی دافعل دچا مذهب دی؟

**جواب**: (۱) جائز نه دی، یظهر من الروایات المنقولة فی السوال، وفی شرح المنیة الکبیر واما الامام والمقتدی فلا یفعل ذالك السوال والتعوذ لا فی الفرض ولا فی النفل الذی تقصد منه الجماعة کالتراویح. (۱)

(۲) دامام دافعل مکروه اودلمونځ دموضوع سره منافي دی.

(**۳،۴،۵**) ظاهره ده چی دا اشتغال بغیر القرآن دی اوپه دی سره به په لمونځ کی کراهت تحریمی راسی اوپه کراهت تحریمی کی دلمونځ اعاده واجبه ده، او داعادی دضرورت څخه معلومه سوه چه په مخکنی لمونځ کی نقصان راغی، ددغه نقصان دجبر دپاره اعاده واجب سوه. (۲)

(**۲**) ثابت نه دی، اوپه امامانو کی امام شافعی دا جائز فرمایي. کما فی شرح المنیة الکبیر وان کان المصلی المنفرد فی الفرض یکره له ذالك لعدم الورود وفیه خلاف الشافعی استدل بالحدیث ولنا انه فی النفل کمامر. (۳) فقط

**چه صرف خولي یې پرسر وی نو لمونځ مکروه نه دی: سوال**: (۱۴۸۰) په خولی پرسر کولو سره امامت کول بغیر کراهته جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: په خولی سره امامت درست دی، څه کراهت پکښی نسته، البته په لنګوټه سره لمونځ کول اوامامت کول افضل دی اوثواب یې زیات دی لیکن خولی هم مکروه نه ده، کذا فی فی شرح المنیة الکبیر. (۴) فقط

**دیوه لاس په اشاري سره روند دقبلي طرف ته کول څنګه دی ؟ سوال**: (۱۴۸۱) که چیری څوك نابینا دقبلی طرف ته دسیدلو څخه بغیر دجَمعی په لمونځ کی شامل سی او ورسره

(۱) غنیة المستملی ص ۳۴۵ . ظفیر

(۲) وکل صلوة ادیت مع کراهة التحریم تجب اعادتها والمختار انه جابر للاول (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب صفة الصلاة مطلب واجبات الصلوة ج۱ص۴۲۵ – ۴۲۲ ، ط. س. ج۱ ص۴۵۲). ظفیر

(۳) غنیة المستملی ص۳۴۵ . ظفیر

(۴) والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحد متوشحا به جمیع بدنه کما یفعله القصّار فی المقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسیر وجود الطاهر الزائد ولکن فیه ترك الاستحباب (غنیة المستملی ص۳۳۷). ظفیر غفرله

نژدي لمونځ گزار په خپل لاس سره هغه يې قبلې ته برابر کړی، او ددی لمونځ گزار سينه دقبلې څخه گرځيدلی نه وه او نه بل څه حرکت دلمونځ ماتونکی ورڅخه وسو نو دهغه لمونځ به وسی او که نه؟ اوکه چيری نابينا دقبلې طرفته برابر ولاړ نه وی او لمونځ اداء کوی نو دهغه لمونځ به درست وی اوکه نه؟

**جواب**: که چيری ديوه لاس په اشاری او حرکت سره ددغه نابينا مخ قبلې ته سَم کړی نو دغه فعل قليل دی او په فعل قليل سره لمونځ نه فاسديږی. اوکه چيری ضرورت په دواړو لاسونو سره دسمولو وی نو دا فعلِ کثير دی. که چيری داسی وکړی نو دسمونکی لمونځ به ونسی. اوبهتره داده چه که چيری ددی نابينا مخ دا لمونځ گزار سَم کړی نو بيا دی دنوی سره نيت وتړی (١) او که چيری ده سم نه کړی نو دنابينا لمونځ کيږی. فقط

**دروازې يې بندی کړی لمونځ يې شروع کړی او ځوک راغی شور يی جوړ کړی، نوڅه وکړی؟** **سوال**: (١۴٨٢) په يوې وجهی سره که چيری ځوك دکوټی دروازه ددننه څخه بنده کړی اولمونځ شروع کړی اوبل ځوك دبهر څخه دننه راتلل غواړی خو خبر نه دی چه دننه سړی لمونځ کوی، حالانکه بهر والا دومره تنگول وکړی، چه دننه والاته دلمونځ رجوع گرانه سی، اوس لمونځ گزارڅه طريقه اختياره کړی؟

**که دلمونځ په حالت کی انسان ياحيوان حمله وکړی، نو څه به کوی؟** **سوال**: (١۴٨٣) دهمدی لمونځ قائم والی په حالت کی به ددښمن مقابله څنگه کوی، که هغه انسان وی يا حيوان يا دمزکی حشرات وی، چه دنقصان انديښنه پکښی وی؟

**جواب**: (١) په داسی حالت کی که چيری په غاړی تازه کولو سره کار کيږی نو غاړه تازه کول درست دی دپاره ددی چه دبهر څخه راتلونکی پوه سی چه دی لمونځ کوی. څنگه چه يې په در المختارکی ويلی دی: او للاعلام انه فی الصلوة فلا فساد علی الصحيح (٢) الخ هغه پاته لمونځ کول په دی صورت کی درست نه دی. کما يظهر من تفصيل العلماء.
(٢) لمونځ دی مات کړی. په در المختار کی دی: وما يباح قطعها لنحو قتل حية (٣) الخ فقط.

---

(١) ويفسدها کل عمل کثير ليس من اعمالها ولاصلاحها وفيه اقوال خمسة اصحها ما لا يشك بسببه الناظر من بعيد فی فاعله انه ليس فيها وان شك انه فيها ام لا، فقليل (در المختار) رواه الثلجی عن اصحابنا، حلية، القول الثانی ان ما يعمل عادة باليدين کثير وان عمل بواحدة کالتعمم وشدّ السراويل وماعمل بواحدة قليل الخ واکثر الفروع او جميعها مفرّع علی الاولين والظاهر ان ثانيهما ليس خارجا عن الاول لان مايقام باليدين عادة يغلب ظن الناظر انه ليس فی الصلوة (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة الخ ج١ ص٥٨٣ - ٥٨۴ . ط. س. ج١ ص٦٢۴). ظفير

(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مايفسد ومايکره فيها ج١ ص٥٧٨ ، ط. س. ج١ ص٦١٩. ظفير

(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايکره فيها ج١ ص٦١٢ ، ط. س. ج١ ص٦٥١. ظ

(ددی څخه مخکې عبارت دی: ویباح قطعها لنحو قتل حیة، وند دابة، وفور قدر، وضیاع ما قیمته درهم، له أو لغیره (درالمختار) قوله ویباح قطعها ای لو کانت فرضا کما فی الامداد. شامی ([1]) ظفیر)

**که دلمونځ ګزار لنګ یاپرتوګ خلاص سی، نو په دواړو لاسونو سره یې تړل درست دی که نه؟ سوال:** (١۴٨۴) که چیری دلمونځ په حالت کی دلمونځ ګزار لنګ یا پرتوګ پرانستل سو نولمونځ ګزار یی په دواړو لاسونو سره تړلی او لمونځ پوره کولی سی اوکه نه دنوی سره به لمونځ کوی. هم دغه شان تنې یابند یاتوپې یا څادر داتول کارونه ددواړو لاسونو دی، ددی په سمولو سره به دلمونځ څه حکم وی ؟

**جواب**: دمُنیه په شرح کبیری کی دی: ویکره ایضا فی الصلوة نزع القمیص والقلنسوة الخ وکذا یکره لبسها اذا کان النزع واللبس بعمل یسیر لانه عمل اجنبی من الصلوة لایحصل به تَتْمِیم شیئ من اعمالها ولهٰذا کان مفسداً اذا حصل بعمل کثیر بان احتاج الی الیدین او کان مما لو رآه الناظر ظنه لیس فی الصلوة ([2]) الخ. ددی عبارت څخه معلومه سوه چه دلمونځ په حالت کی قمیص اوخولۍ کښل اواغوستل که چیری په عمل کثیر سره وی یعنی په یوه لاس سره وی اوپه دې طریقی سره وی چه لیدونکی پردی لمونځ ګزار باندی دا خیال ونکړی چه دی په لمونځ کی نه دی نو مکروهه دی، اوکه چیری په عمل کثیر سره وی، نو (داعمل) لمونځ ماتونکی دی. اوپرتوګ وغیره تړل اولنګ وغیره تړل ددواړو لاسونو څخه بغیر په ظاهره ګران دی لهٰذا داعملِ کثیر دی او لمونځ ماتونکی به وی. ([3]) فقط

**دهوسۍ رنګ سوی څرمن مصلی جوړول درست دی: سوال**: (١۴٨۵) دهوسۍ پرداسی څرمن باندی پرکمی چه څلور نوکان او ښکرونه ځړیزی مصلّی ورڅخه جوړول او لمونځ پر کول مکروهه دی او که نه؟

**جواب**: پردغه څرمن باندی لمونځ بغیر کراهته درست دی، دکراهت وجه هیڅ نسته. ([4])

---

([1]) رد المحتار ایضًا ، ط. س. ج١ ص٦۵۴. ظفیر

([2]) غنیة المستملی مکروهات صلوة ص٣۴۴ . ظفیر

([3]) ویفسدها کل عمل کثیر لیس من اعمالها ولا لاصلاحها وفیه اقوال خمسة اصحها لا یشك بسببه الناظر من بعید فی فاعله ان لیس فیها وان شك انه فیها ام لا فقلیل الخ (در المختار) القول الثانی ان ما یعمل عادةً بالیدین کثیر وان عمل بواحدة کالتعمم وشد السراویل وما عمل بواحدة قلیل وان عمل بهما کحلِّ السراویل ولبس القلنسوة الخ (رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص۵٨٣ - ۵٨۴ ، ط. س. ج١ ص٦٢۴). ظفیر

([4]) شعر المیتة وعظمها طاهر وکذا العصب والحافر والخف والظلف والقرن والصوف والوبر والریش والسن والمنقار والمخلب الخ (عالمگیری کشوری باب المیاه فصل ثانی ج١ ص٢٣ ، ط. ماجدیه ج١ ص٢۴) کل =

**پہ لوڅو څنګلو سره لمونځ مکروه دي**: **سوال**: (۱۴۸۲) که څنګلی لڅی وی نو لمونځ کیږی او که نه ؟

**جواب**: لمونځ کیږی خو داکار دسنت څخه خلاف دی اومکروهه دی. یعنی کله چه کپړه موجوده وی، اوکه چیری نه وی نو (بیا) څه کراهت نسته. (۱) فقط

**دغلا سوی کپړی څخه په جوړی سوی خولۍ سره لمونځ کول څنګه دی ؟ سوال**: (۱۴۸۷) اکثره خلق داسی کوی چه دخیاط څخه څه کپړه وغواړی یاپه قمیص کی مثلاً کالر لګوی نو خیاط یې دبل چا دکپړی څخه لګوی، په داسی کپړی سره لمونځ جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ اداء کیږی لیکن داسی کول جائز نه دی اوکه چیری غالب ګمان وی چه دې خیاط دغلا کپړه لګولی ده نو په دی سره لمونځ هم مکروه کیږی اګر چه اداء به سی. (۲) فقط

**که لمونځ ګزار په پیک وهلو سره خوشحالیږی نو دهغه په لمونځ کی څه کراهت نسته**: **سوال**: (۱۴۸۸) که چیری لمونځ ګزارته یوسړی پَیک وهی اولمونځ ګزار په دی فعل سره خوشحالیږی، نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

**جواب**: که لمونځ ګزارته څوك دالله درضا دپاره پَیك وهی او لمونځ ګزارته په دې سره راحت وی، اوهغه په ډاډه زړه سره لمونځ پوره کړي، نوپه دې سره په لمونځ کی څه فساد او کراهت نه راځی، لمونځ کونکی که په دی سره خوشحاله سی نو بیا به هم دهغه په لمونځ کی څه فساد او کراهت نه راځی. او په جوماتونو کی چه کمې پَنکې لګیدلی دی په هغو سره (هم) دچا په لمونځ کی کراهت نه راځی. البته لمونځ کونکی ته پخپله داحکم چاته کول نه دی پکار چه ته ماته دلمونځ په وخت کی پیك وهه، ځکه چه داخبره دادب څخه خلاف ده. اګر چه په لمانځه کی به په دی سره هم څه کراهت رانسی. فقط

**دلمونځ ګزار مخ ته دتیریدلو حد څه دی ؟ سوال**: (۱۴۸۹) دلمونځ ګزار مخ ته تیریدل منع دی. ددی څه حد دی، که چیری یو سړی دباندي پرفرش باندی لمونځ کوی نو په جومات کی دننه دهغه مخ ته تیریدل جائز دی اوکه نه؟

---

= اهاب دبغ دباغة حقيقية بالادوية اوحكمية بالترتيب والتشميس والالقاء فی الريح فقد ظهر وجازت الصلوة فيه (ايضًا ، ط. ماجديه ج۱ ص۲۵). ظفير

(۱) ولو صلی رافعًا كُمّيه الی المِرفقين كره كذا فی فتاوی قاضی خان (عالمگيری كشوری باب مايكره فی الصلوة ج۱ ص۱۰۵ ، ط. ماجديه ج۱ ص۱۰۷). ظفير

(۲) وكذا تكره فی اماكن كفوق كعبة الخ وارض مغصوبة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار كتاب الصلوة قبيل باب الاذان ج۱ ص۳۵۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۰۳). ظفير

**جواب**: ددی حد دادی چه په لوی جومات کی ترکم ځای پوری چه دلمونځ گزار نظر رسیږی کله چه هغه خپل نظر دسجدی پرځای باندی ولری، تردغه ځای پوری دی مخ ته ثوك نه تیریږی. نوکه چیری یو سړی دباندي په فرش باندی لمونځ کوی نو په دننه حصه کی یې مخ ته تیریدی سی. (۱) فقط

**په لمانځه کی دتندی خاوره څنډل څنګه دی؟ سوال**: (۱۴۹۰) په لمانځه کی اکثره پرتندی باندی خاوره لګیږی، ددی پاکول څنګه دی؟

**جواب**: په لمونځ کی دی نه پاکوی، که دلمونځ څخه وزی اوصفا یې کړی نوڅه حرج نسته. لیکن ښه داده چه نه دی صفا کوی. (۲) فقط

**په فوجی خولی سره لمونځ جائز دی: سوال**: (۱۴۹۱) که چیری یو سړی دخولی پرځای پر سر باند فوجی خولی بی ضرورته کښیږدی او لمونځ کوی یا امامت کوی نو لمونځ یې جائز دی اوکه نه؟ او دلمونځ څخه بغیر یې پر سر کول څنګه دی؟

**جواب**: په دی خولی سره لمونځ کیږی، په لباس او خولی کی څه خاص طریقه اووضع مامور به نسته بلکه څنګه چه دکم ملك عادت اورواج وی، دهغه موافق لباس او خولی وغیره اچول درست دی. په حدیث شریف کی دی (کُلُوْا مَا شِئْتُمْ وَاَلْبِسُوْا مَا شِئْتُمْ) الحدیث (۳) یعنی چه څه مو خوښ وی هغه خورئ اوچه څه موخوښ وی هغه اغوندی خودحرامو څخه ځان ساتئ او تکبّر او اسراف مه کوی. فقط

**چه په جیب کی درشوت پیسی وی نو لمونځ کیږی اوکه نه؟ همدارنګه درشوت په پیسو سره په اخستل سوو جاموکی لمونځ څنګه دی ؟ سوال**: (۱۴۹۲) که چیری دیوه سړی په جیب کی درشوت پیسې پرتی زی نو دهغه لمونځ کیږی اوکه نه؟ او درشوت په پیسو جوړه سوی جامه چه پربدن باندی وی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ کیږی اوپه لمانځه کی کراهت په دی وجهی سره نسته، ځکه چه درشوت ګناه ځان ته ده، اوکه چیری پربدن باندی درشوت په روپو سره جوړه سوی کپړه وی نو دهغی سره لمونځ مکروهه دی. (۴) فقط

---

(۱) ومرُوْر مارٍّ فی الصحراء وفی مسجد کبیر بموضع سجوده فی الاصح او مرور بین یدیه اوحائط القبلة فی بیت ومسجد صغیر فانه کبقعة واحدة مطلقا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۹۳ ، ط. س. ج۱ ص۶۳۴). ظفیر

(۲) ویکره للمصلی ان یمسح عرقه اویمسح التراب عن جبهته فی اثناء الصلوة الخ ولایکره بعد الصلام (غنیة المستملی ص ۳۴۵). ظفیر

(۳) داحدیث مو په دی الفا ظو سره نکړی پیدا نودلمونځ په جائزوالی کی قطعًا هیڅ کلام نسته، والله اعلم. ظفیر

**په لمانځه کې دماشوم وغيره تصوّر ښه نه دي: سوال:** (١۴٩٣) په لمانځه کې دزوی وغيره تصوّر کول جائز دي اوکه نه؟

(٢) دخه دُنياوي شيانو خيال کول څنګه دي؟

**قصداً دهلک تصوّر کول څنګه دي ؟ سوال:** (١۴٩۴)

(٣) دتکبير تحريمه څخه وروسته چه دزوی خيال وکړل سی نو څنګه ده؟

**جواب:** (٢، ١) په لمونځ کې دالله تعالٰی څخه ماسِوا هيڅ تصوّر اودهيڅا تصوّر اودهيڅا خيال قصداً کول نه دي پکار. ([١])

(٣) نه دي پکار. ([٢]) فقط

**دسلام څخه وروسته ددُعا کولو څخه بغير مقتدي تلي سي: سوال:** (١۴٩۵) مقتدی ته دامام په دُعا کښې شريکوالی ضروري دي اوکه دوخت لحاظ دي وکړل سی ؟

**جواب:** که چيری مقتدی ته ضرورت وی او څه ضروري کاری يې وی نو دسلام څخه وروسته په سمدستي تللو کې څه ګناه نسته اوپه هغه باندی څه طعن کول نه دي پکار، اوکه چيری ددُعا ترختميدلو پوری انتظار وکړی اودامام سره په دُعا کې شريك سی نو دا ښه ده او په دی کې زيات ثواب دی. ([٣]) فقط.

**دغلط لمونځ کونکي اصلاح کول جائز دي: سوال:** (١۴٩٦) کم سړی چه بی طرفه لمونځ کوی هغه په لاس سره سيده کول پکاردی اوکه په ژبی سره؟

**جواب:** په لاس سره سيده کول يې هم درست دي اوپه ژبی سره هم، په دی سره به په لمونځ کی خلل رانسی. ([۴]) (يعنی ددغه لمونځ کونکی په لمونځ کی به خلل نه راځی، او سيده کوونکی که چيری په خپله په لمانځه کی وی نوهغه ته ديوه لاس په اشاری سره سمول پکاردی که په ژبی سره يې ورته وويل نو لمونځ بی يې ونه سی، ولی چه په لمونځ کی په خبرو کولو سره لمونځ فاسديږی. والله اعلم ظفير)

---

([۴]) لکه څرنګه چه په غصب سوی مزکه کی مکروه دی، وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة الخ وارض مغصوبة (الدرالمختار علی هامش رد المحتار کتاب الصلوة ج١ص٣٨۴ ، ط. س. ج١ ص۴٠٣). ظفير

([١]) ان المساجد لله فلا تدعوا مع الله احدا (الجن : ١٨). ظفير

([٢]) وفی الفتاوی لو تفکر فی صلاة فتذکرّ حديثا او شعراً او خطبة او مسئلة يکره ولا تفسد صلاته کذا فی السراج الوهاج (عالمګيری مصری . باب مايفسد الصلوة ج١ص٩۴ ، ط. ماجديه ج١ ص٩٨). ظفير

([٣]) ويستحب ان يستغفر الخ ويدعو ويختم بسبحان ربك (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلاة بعد الفصل ج١ ص۴٩۵ ، ط. س. ج١ ص۵٣٠). ظفير

([۴]) ولو اعمٰی فسوّاه رجل بنٰی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج١ ص۴٠٣ ، ط. س. ج١ ص۴٣۴). ظفير

**دلمونځ په حالت کی څادر یا کمبله پرځان پیچل درست دی اوکه نه؟ سوال:** (١۴٩٧) دلمونځ په حالت کی څادر یاکمبله پرسر باندی اچول پکاردی اوکه پرأوږه باندی. او دهغی دچپه طرف دواړه ګنجونه دی څوړند وی اوکه دي پر اوږه واچول سي، بهتره کم يو دی؟

**جواب:** دواړه ډوله اچول صحيح دي، او داهم صحيح دي چی دچپه طرف دواړه ګنجونه دي زړيدلي اوسي ولی چه کله يې درسته طرف غاړه پرچپه اوږه باندی واچوله نو سَدَل کم چه مکروهه دی پاته نه سو. او بهتره داده چه دچپه طرف ګنجيان هم پر أوږی باندی واچوی. (١) فقط

**دزوَر او زير پرغلطی باندی فتح ورکول درست دی: سوال:** (١۴٩٨) که چيری دامام څخه دزور او زير غلطی وسی په کمی سره چه په معنٰی کی هيڅ فرق نه راځی نو په داسی حالت کی په فتح ورکولو سره به کراهت وی اوکه نه؟

**جواب:** په داسی حالت کی په فتح ورکولو کی هيڅ کراهت نسته. دغلطی اصلاح ضروری ده. (٢) فقط

**په مينځ کی کوچنی سورت پريښودل مکروه دی اوپه دی حالت کی دلمونځ اعاده مستحب ده: سوال:** (١۴٩٩) امام دمابنام په لمونځ کی په اولنی رکعت کی سورت کوثر اوپه دويم کی سورت نصر ولوستی، يوه خو داغلطي سوه چي اول يې کوچنی او وروسته يې لوی (سورت) ووايه، دويم دترتيب څخه خلاف کوچنی سورت په مينځ کی پاته سو، په دی صورت کی اعاده واجبه وه اوکه نه؟ که چيری اعاده ئی وکړه نوګنهګار خوبه نه وی ثواب به ئی وسي اوکه نه؟

**جواب:** کوچنی سورت په مينځ کی پريښودل مکروه تنزيهی دی.

لهٰذادغه لمونځ اعاده واجب نه ده ليکن چاچی يې اعاده وکړه نوګناه پکښی نسته بلکه بهتره ده اوثواب دی لکه څنګه چی په شامی کی دفتح القدير څخه منقول دی: والحق التفصيل بين كون تلك الكراهة كراهة تحريم فتجب الاعادة او تنزيهية فتستحب (٣) الخ او په سورة

---

(١) وكره الخ سدل ثوب اى ارساله بلا لبس معتاد (در المختار) فعلى هذا تكره الطيلسان الذى يجعل على الرأس وقد صرح به شرح الوقاية اهـ اذا لم يدره على عنقه والاّ فسدل (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٥٩٧ ، ط. س. ج١ ص٦٣٩). ظفير

(٢) بخلاف فتحه على امامه فانه لا يفسد مطلقا لفاتحة واٰخذ بكل حال (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٦٢٢). ظفير

(٣) رد المحتار باب صفة الصلوٰة، واجبات الصلوة ج١ ص ٤٢٥ ، ط. س. ج١ ص٤٥٥. ظفير

کوثر او نصر کی دلوی او کوچنی کیدلو دومره فرق نسته چی کراهت ورسره لازم سی ([1]). فقط

**بی ضرورته سجدی ته دتللو پروخت پرتوګ پورته کول دادب خلاف دی**: **سوال**: (١٥٠٠) سجدی ته دتللو په وخت کی پرتوګ پورته کول څنګه دی ؟

جواب: بی ضرورته ښه نه دی. ([2]) فقط.

**کله فتح ورکول پکاردی؟** **سوال**: (١٥٠١) دامام څخه په قرآئت کی هیره وسوه اوبل سورت یې شروع کی، دوه ٢ واری یې فتح ورکړه خوامام فتح وانخیسته. فتح کم وخت ورکول پکار دی. او دفتح ورکونکی لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: که چیری امام دسورتِ فاتحی ویلو څخه وروسته ددری ٣ آیتونو په اندازه ویل کړی وی نودفتح ورکولو انتظار مکروهه دی، بلکه فوراً رکوع کول پکاردی. اوکه ددری ٣ آیتونو څخه مخکی ورڅخه هیر سوه نو بهتره داده چه دبل یوځای څخه دی ویل شروع کړی. که داسی یې ونه کړل نو کله چه مقتدی ته ثابته سی چه امام ته مخ ته نه وریادیږی نو فتح دی ورکړی. بغیر دمهلت ورکولو څخه سمدستی فتح ورکول مکروهه دی. کما فی الشامی ([3]) ص٢٥٠ ، او لمونځ بهر حال صحیح ([4]) دی. فقط

**دبی لمنی قمیص سره لمونځ کول جائز دی**: **سوال**: (١٥٠٢) که چیری څوك بی لمنو قمیص واغوندی اولمونځ کوی نو لمونځ به یې مکروهه وی اوکه نه؟

**جواب**: په بی لمنو قمیص کی لمونځ کول بغیر دکراهت څخه جائز دی، ولی چه مقصود ستر دعورت دی او هغه په دی صورت کی حاصل دی. فقط

**که په ویلو کی سورت ورڅخه هیر سی نو بل دی شروع کړی**: **سوال**: (١٥٠٣) که چیری امام دالْحَمْدُ شریف څخه وروسته یوسورت دعَمَّ سیپاری څخه شروع کی او دهیریدلو په وجه

---

([1]) واطالة الثانية على الاولى يكره تنزيها اجماعا ان بثلاث اٰيات ان تقاربت طولا وقصرا والا اعتبر الحروف والكلمات واعتبر الحلبي فحش الطول لاعدد الأيات واستثنى في البحر ما وردت به السنة واستظهر فى النفل عدم الكرهة مطلقًا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل فى القراءة ج١ ص٥٠٧ ، ط. س. ج١ ص٥٤١). ظفير

([2]) وكره كفه اى رفعه ولو لتراب كمشمر كم او ذيل وعبثه به اى ثوبه للنهى الاّ لحاجة (در المختار) وحاصله ان كل عمل هو مفيد للمصلى فلا باس به (ردالمحتار باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها ج١ ص٥٩٨ – ٥٩٩). ظ

([3]) ويكره ان يفتح من ساعة كما يكره للامام ان يلجئه اليه بل ينتقل الى اية اخرى لا يلزم من وصلها ما يفسد الصلوة اوالى سورة اخرى اويركع اذا قرأ قدر الفرض كما جزم به الزيلعى وفى رواية قدر المستحب كما رجحه الكمال الخ (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيهاج١ ص٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٢٢٢). ظفير

([4]) بخلاف فتحه على امامه فانه لا يفسد مطلقا لفاتح واٰخذ بكل حال (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٢٢٢). ظفير

يې ونه ويلی سو، نو آيا امام ته دا اختيار سته چه هغه دتبارك الذی يا بلی يوې سيپارې څخه يوه رکوع ووايی ؟

**جواب**: په دی صورت کی امام ته پکاردی چه دبل ځای څخه دی ويل وکی (١). فقط

**چه دجومات مغربی طرف ته دديوال څخه دباندی قبرونه وی نوپه دی سره نقصان نه کيږی**:

**سوال**: (١٥٠۴) ديوه جومات دمغربی اړخ څخه ماسِوا پـه ټولـو اطرافـو کـی قبرونـه جوړ سوی دی، نوآيا په مغربی اړخ کی قبرونه تياريدی سی اوکه نه؟ اوآيا دجومات ديوال کم چه حائل دی هغه کافی دی اوکه نه؟

**جواب**: که په دغه مغربی اړخ کی قبرونه جوړ کړل سی نو په لمونځ کی بـه کراهت نـه وی ولی چه دجومات مغربی ديوال کافی حائل دی، قال فی شرح المنية لاباس فی الصلوة فی المقبرة اذا کان فيها موضع اعد للصلوة وليس فيه قبر وهٰذا لان الکراهة مطلقة بالتشبيه باهل الکتاب وهو منتف فيما کان علی الصفة المذکورة (٢) الخ. فقط

**په ولايتی کالو کی لمونځ درست دی**: **سوال**: (١٥٠۵) پـه ولايتـی کـالو کـی لمـونځ کـول صحيح دی اوکه نه؟

**جواب**: په دغو کالو کي لمونځ درست دی. (٣) فقط

**لمونځ ګزارته مخامخ په جومات کی پرېوتل او خبری کول مکروهه دی**: **سوال**: (١٥٠٢) کلـه چه په جومات کی لمونځ ګزار لمونځ کوی دهغوی ترمينځ پريوتل اوپه ناستی خبری کول جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: دلمونځ کونکو په خوا کی په داشان خبری کول چه دهغوی په لمونځ کـی دسـهوی او نقصان راتللو بيره وی مکروهه دی. (۴) فقط

**په تمباکو سره لمونځ کيږی اوکه نه؟** **سوال**: (١٥٠٨) که يوسړی دڅکولو تمباکو دځان سره واخلی او لمونځ ورسره کوی نو لمونځ کيږی او که نه ؟ دتمباکو دود ته اکثره خلق حرام

---

(١) يکره ان يفتح من ساعته کما يکره للامام ان يلجئه اليه بل ينتقل الی آية اخری لا يلزم من وصلها مايفسد الصلوة او الی سورة اخری (ردالمحتار باب مايفسدالصلوة ومايکره فيها ج١ ص٥٨٢، ط.س. ج١ ص٢٢٢). ظ

(٢) غنية المستملی ص٣٥٠ . ظفير

(٣) ځکه چه حکمًا پاکه ده او دلمونځ دپاره همدا شرط دی: ولو شك فی نجاسة ماءٍ اوثوب الخ لم يعتبر (در المختار) من شك فی انائه وثوبه فهو طاهر الخ وکذا مايتخذه اهل الشرك والجهلة من المسلمين کالسمن والخبز والاطعمة (رد المحتار کتاب الطهارة مطلب ابحاث الغسل ج١ ص..... ، ط. س. ج١ ص١٥١). ظفير

(۴) وصلاته الی وجه انسان ککراهة استقباله فالاستقبال لو من المصلی فالکراهة عليه والا فعلی المستقبل ولو بعيدا الخ ولا يکره الی ظهر قاعد اوقائم ولو يتحدث الا اذا خيف الغلط بحديثه (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب مايفسد الصلاة ومايکره فيهاج١ ص ٢٠٢ وص٢١٠ ، ط. س. ج١ ص٢۴۴). ظفير

وائی نو دتمباکو څکول هم مکروهه سوه؟

**جواب**: دتمباکو څکول حرام نه دی اونه دهغه دود حرام دی اونه نجس دی، نو که چیری په تمباکو کی هیڅ پلیت شی نه وی نو دځان سره دهغه په ایښولوسره لمونځ کیږی. مطلب دادی چی تمباکو پخپله خو ناپاك نه دی لیکن په هغه کی چی کمه ښیره اونور شیان اچول کیږی که چیری هغه پاك وی پلیت نه وی نوبیا دهغه سره لمونځ صحیح دی که څه هم چی ښه خبره نه ده. ([1]) فقط

**په لمانځه کی بار بار پرتوګ پورته کول ښه نه دی ؟ سوال**: (١٥٠٨) په لمانځه کی بار بار پرتوګ پورته کول څنګه دی ؟

**په سجدوکی پښې بی ځایه کول څنګه دی ؟ سوال**: (١٥٠٩) سجدی ته دتللو په وخت کی دواړی پښې دزمکی څخه پورته کول یا مخکی وروسته کول څنګه دی، ددی سره لمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب**: (١) بار بار پورته کول ئی ښه نه دی لیکن لمونځ صحیح دی. ([2])

(٢) په دی کی هم لمونځ صحیح دی لیکن حتی الوسع دی داسی قصداً نه کوی. ([3])

**چه دسر مینځ لڅ وی نو لمونځ کول څنګه دی؟ سوال**: (١٥١٠) که چیری پرسرباندی پټکی وی او خولۍ نه وی، په مینځ کی سر لڅ وی نو لمونځ څنګه دی؟

**جواب**: داسی کول مکروهه دی خو لمونځ کیږی. ([4]) فقط

**په لمانځه کی څتکلي ښکاره ساتل مناسب نه دي ؟ سوال**: (١٥١١) په لمانځه کی لستونی تر اُوږو پوری پورته کول څنګه دی، په لمانځه کی څه خلل خونه راځی؟

**جواب**: لمونځ کیږی، خو دا کار ښه نه دی. ([5]) فقط

---

([1]) قلت فیفهم منه حکم النبات الذی شاع فی زماننا المسی بالنتن وقدکرهه شیخنا العمادی فی هدیته بالثوم والبصل بالاولی (در المختار) قوله فیفهم منه حکم النبات وهو الاباحة علی المختار (رد المحتار کتاب الاشربة ج۵ ص۴۰۷ ، ط. س. ج۱ ص۴۲۰). ظفیر

([2]) ویکره للمصلی ان یعبث بثوبه وبجسده الخ (هدایه مایکره فی الصلوة ج۱ ص۱۲۴). ظفیر

([3]) ومنها السجود بجبهته وقدمیه ووضع اصبع واحدة منها شرط(الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۱۲ ، ط. س. ج۱ ص۴۴۷). ظفیر

([4]) ویکره اشتمال الصماء والاعتجار (درمختار) لنهي النبي ﷺ عنه وهو شد الرأس او تکویر عمامة علی رأسه ترکه وسطه مکشوفا (ردالمحتار ج۱ ص ۲۱۰ – ۲۱۱ ، ط. س. ج۱ ص۲۵۲). ظفیر

([5]) وکره کفه ای رفعه ولو لتراب کمشمر کم اوذیل وعبثه به ای بثوبه (در المختار) قوله کمشمر کم الخ ای کما لو دخل فی الصلوة وهو مشمر کمه اوذیله الخ لکن قال فی القنیة واختلف فیمن صلی وقد شمر کمیه کعمل کان یعمله قبل الصلوة اوهیئته ذالك ومثله ما لوشمر للوضوء ثم عجل لادراك الرکعة مع الامام واذا دخل فی الصلوة کذالك وقلنا بالکراهة فهل الافضل ارخاء کمیه فیها بعمل قلیل اوترکها لم اره والاظهر الاول الخ وقید =

**دجالي داري خولۍ سره لمونځ مکروهه نه دي**: **سوال**: (۱۵۱۲) دجالي داري کپړې خولۍ سره لمونځ مکروهه کيږي اوکه نه، او دهميشه استعمالولو حکم يې څه دى؟

**جواب**: کمه جامه اغوستل چه سړيو لره مباح دى، که چيرى هغه جاله داره وي دهغې خولۍ سره لمونځ درست دى. اودهغې (جامې) استعمال په دى طريقې سره چه کشف دعورت نه کيږي درست دى. فقط

**سترګې پټول څنګه دي ؟ سوال**: (۱۵۱۳) چه سترګې پټې کړي اوپه لمونځ کې قرآئت کوي نو څنګه دي ؟

**جواب**: په لمانځه کې سترګې پټول ښه نه دي يعنې مکروه تنزيهي دي او خلافِ اولې دي، (١) او دخشوع اوخضوع حاصلولو په غرض سترګې بندول بغير کراهته درست دي بلکه بعضو عالمانو فرمايلي دي چه دخشوع حاصلولو دپاره سترګې بندول آولٰی دي. په شامي کې دي: بَل قال بعض العلماء اَنَّهُ الْاَولٰی. (٢) فقط

**دشک له وجهې څخه دبيا راګرځولو اړتيا نسته**: **سوال**: (۱۵۱۴) که دلمونځ په سجده کې يې په ناخبرتيا سره دُعاء وکړه، بيا چه ورته معلومه سوه چه داجائز نه ده، اوس داشک سو ورته چه دا دُعا کلامُ النّاس وه اوکه نه وه؟ نواعاده يې واجبه ده اوکه نه؟

**جواب**: په شك کې داعادې ضرورت نسته، که اعاده وکړي نو ښه ده. فقط

**خلاف ترتيب قرآئت مکروه دي**: **سوال**: (۱۵۱۵) زيد د: وَالضُّحٰی څخه وروسته په دوهم ۲ رکعت کې وَالشَّمْسِ وايه نو په لمونځ کې څه نقص راغی، لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: قصداً په فرضو کې داسې کول مکروهه دي اوکه سهواً داسې وسي نو څه حرج نسته. اوبهر حال لمونځ صحيح دى. (٣) فقط

**په اولني رکعت کې والضّحٰی اوپه دويم ۲ کې په وَالتّين ويلو سره کراهت پيدا کيږي او که نه؟ سوال**: (۱۵۱۲) په اول رکعت کې يې والضّحی ووايه او په دويم کې يې اَلَمْ نَشْرَح پريښوول او والتّين يې ووايه نو دامکروه دي اوکه نه؟

---

= الکراهة فی الخلاصة والمنية بان رافعا کميه الی المرفقين (رد المحتار باب مايفسد الصلاة ومايکره فيها ج١ ص٥٩٨ ، ط. س. ج١ ص٢٤٠). ظفير

(١) وکره الخ تغميض عينه للنهی الاّ لکمال الخشوع (درالمختار) ثم الظاهر ان الکراهة تنزيهيَّة (رد المحتار باب مايفسد الصلوة وما يکره فيها ج١ ص٢٠٥ ، ط. س. ج١ ص٢٤٥). ظفير

(٢) رد المحتار باب مايفسد الصلوة ومايکره فيها ج١ ص٢٠٤ ، ط. س. ج١ ص٢٤٠. ظفير

(٣) ويکره الفصل بسورة قصيرة وان يقرأ منکوسا الاّ اذا ختم القرآن (در المختار) منکوسا بان يقرأ فی الثانية سورة اعلی مما قرأ فی الاولی لان ترتيب السور فی القراء من واجبات الصلوة (رد المحتار فصل فی القراءة ج١ ص٥١٠ ، ط. س. ج١ ص٥٤٢). ظفير

**جواب**: په كوچنيو سورتونو كى فقهاؤ داسى كول مكروهه ليكلى دى، يعنى داچه يو سورت په مينځ كى پريښوول سي اودريم سورت په دويم ركعت كى وويل سي، په فرضوكى مكروهه دى، ليكن والضّحٰى او اَلَمْ نَشْرَحْ او والتِّيْن په كوچنيو سورتونو كى نه دى بلكه په اوساطو مفصّلوكى دى لهٰذا په دى كى داصورت مكروه نه دى. (1) فقط

**<u>دطلا يا وريښمو په جامو كى لمونځ درست دى اوكه نه؟</u> سوال**: (١٥١٧) پركمى خولى باندى چه طلا كار سوى وى دهغى سره لمونځ كول ياوركول يا دوريښمى جامى سره لمونځ كول څنګه دى؟

**جواب**: كه چيرى دځلورو ګوتو څخه زيات كار پرسوى وى نو استعمال دهغى ناجائز دى او لمونځ ورسره كول مكروه دى. همدغه شان حكم دريښمى جامى دى. (2) فقط

**<u>دلمونځ ګزار طرف ته مخ كول او كښېنستل مكروهه دى</u>: سوال**: (١٥١٨) لمونځ ګزارته مخامخ مخ كول اوكښېنستل څنګه دى. كه چيرى دمخكى څخه ثوك ناست وى او دهغه دمخ طرف ته ثوك لمونځ شروع كړى يا دمخكى څخه ثوك لمونځ كوى او هغه طرفته ثوك مخ كړى كښيني نو په دى دواړو صورتونو كى به لمونځ مكروه وى اوكه په يوه صورت كى، اوكراهت به په دواړو صورتو نو كى دچا طرفته راجع كيږى؟

**جواب**: په در المختار كى دى: وصلوٰته الى وجه انسان ككراهة استقباله فالاستقبال لو من المصلى فالكراهة عليه والاً فعلى الْمُستقبِل (3) الخ يعنى كه استقبال دلمونځ ګزار دطرفه وى نو كراهت پرهغه باندى دى اوكه چيرى دبل دطرف څخه وى نو كراهت پرهغه باندى دى پر لمونځ ګزار باندى نه دى.

**<u>چه امام پرفرش وى او مقتدى پرمصلى وى نو په دى سره لمونځ نه فاسديږى</u>: سوال**: (١٥١٩) زيد وايى چه په جَمع كى ترامام لاندى جاى نماز يا مصلّى وى او تر مقتديانو لاندى نه وى نو لمونځ نه كيږى، همداسي ده؟

**جواب**: كه چيرى ترامام لاندى جاى نماز او مُصلّى وى او ترمقتديانو لاندى نه وى يا بر عكس وى نو لمونځ په دواړو صورتونو كى صحيح دى. (4) فقط

---

(1) ويكره الفصل بسورة قصيرة (در المختار) اما بسورة طويلة بحيث يلزم منه اطالة الركعة الثانية اطالة كثيرة فلا يكره شرح المنية (ردالمحتار فصل في القراة ج١ ص٥١٠ ، ط. س. ج١ ص٥٤٦). ظفير

(2) يحرم لبس الحرير الخ على الرجل لا المرأة الاً قدر اربع اصابع (الدرالمختار على هامش رد المحتار كتاب الحظر والاباحة فصل فى اللبس ج٥ ص٣٠٨ ، ط. س. ج٦ ص٣٥١). ظفير

(3) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب مايفسدالصلوة ومايكره فيها ج١ ص٢٠٢، ط. س. ج١ ص٦٤٥. ظ

(4) ځكه چه په دى سره څه خرابوالى نه پيدا كيږى صرف دځاى پاكوالى ضرورى دى برابره خبره ده كه وربان‌دى جاى نماز غوړيدولى وى اوكه نه وى، والله اعلم. ظفير

**په ساړې کې دښځو لمونځ جائز دي اوکه نه؟** **سوال**: (۱۵۲۰) ښځو لره ساړې تړل او دهغه سره لمونځ کول درست دي اوکه نه؟

**جواب**: ښځو لره ساړې وهل او دهغه سره لمونځ کول درست دی غرض دادی چې پرده پکار ده که ساړې وی اوکه پرتوګ وی ددې څه خصوصیت نسته ([1]). فقط

**دناپاکه حیوان دوازګې سره لمونځ**: **سوال**: (۱۵۲۱) که چیرې د (ناکه) په نوم بحرې حیوان دوازګې تیل په لاسونو اوپښو باندې مالش کړل سی اوبې پریمنځلو لمونځ وکړل سی نو لمونځ به درست وی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ په دې صورت کې صحیح دی. فقط

**دفاسق په اقامت سره په لمونځ کې خرابې نه راځي**: **سوال**: (۱۵۲۲) کم سړی چه زانی وی او دخپل زوی پرښځه باندې په بدنیتی سره لاس واچوی، دهغه په اقامت کولو سره په لمونځ کې څه نقصان راځي اوکه نه؟

**جواب**: ددغه سړی په تکبیر (یعنی اقامت) ویلو سره په لمونځ کې څه نقصان نه راځي. ([2])

**که په لمونځ کې دتُوکلو ضرورت پیښ سي نو څه به کوی؟** **سوال**: (۱۵۲۳) که په لمانځه کې ورته په ډکه خوله دتوکلو ناړې راغلی نو یو طرف ته یې تُوك کړي او که نه؟

**جواب**: که تیرولی یې نسی نو په جامه کې دی واخلی. ([3]) فقط

**دڅاڅکې دبیرې څخه پرمخصوص اندام (ذکر) باندې په کپړې پیچلو سره په لمونځ کې نقصان نه راځي**: **سوال**: (۱۵۲۴) دقطرې راوتلو دبیرې څخه یې دمتیازو پرځای باندې کپړه تړل او لمونځ کول صحیح دی اوکه نه؟

**جواب**: صحیح دی. ([4])

---

([1]) والرابع ستر عورة ووجوبه عام ولو فی الخلوة علی الصحیح الخ وهی الخ للحرة ولو خنثی جمیع بدنها حتی شعرها النازل فی الاصح فلا الوجه والکفین الخ والقدمین (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب شروط الصلاة ج۱ ص ۳۸۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۰۴) دعورت پټول برابره خبره ده په پای جامې سره وي اوکه په ساړي سره دواړه برابردي، دافکرصحیح نه دی چې ساړي اغوستل دهندوانو لباس اوجامه ده بلکه دهېواد (هندوستان) په بعضو حصوکي مسلماني ښځي هم دا لباس اغوندي، لکه څنګه چې دپای جامې اغوستلو په علاقوکي ډېري هندواني ښځي هم پای جامې اغوندي، یعني ددوی هم دا لباس وي اودمسلمانو ښځوهم، والله أعلم. ظفیرالدین

([2]) وکره اذان الجنب واقامته واقامة المحدث واذان المرأة والفاسق (کنز) واما الفاسق فلان قوله لا یوثق به ولا یقبل فی الامور الدینیة الخ (البحر الرایق باب الاذان ج۱ ص۲۷۷) په دی کی دفاسق اذان تـه مکروهه ویلی دی لیکن دهغه اقامت ته یی مکروهه نه دی ویلی، والله اعلم. ظفیر

([3]) قال النبی ﷺ فلا یبزقن احدکم قبل قبلة ولکن عن یساره او تحت قدمه ثم اخذ طرف ردائه فبَصقَ فیه ثم رد بعضه علی بعض فقال او یفعل هٰکذا، رواه البخاری (مشکوة باب المساجد ص۷۱). ظفیر

([4]) یستحب للرجال ان یحتشی ان رابه الشیطان ویجب انکان لا ینقطع الاّ به قدر مایصلی (الدرالمختار علی =

**مُرور بین الصَّفَّین**: **سوال**: (١٥٢٥) یو عالم سړی ددوو صفونو ترمینځ دتیریدلو دجائز والی په استدلال کی حدیث شریف دحضرت عبد الله بن عباس پیش کوی آیا دا استدلال صحیح دی. او دامام صاحب په نزد مسئله څنګه ده؟

**جواب**: دا دحنفیانوهم مذهب دی چه دامام سُتره دمقتدیانو دپاره کافی ده. په درالمختار کی دی: وکفت سترة الامام للکل، (١) اودحضرت ابن عباس ﷺ درروایت څخه صرف داثابتیږی چه دلمونځ ګزار مخ ته تیریدل لمونځ نه ماتوی اوهمدا مذهب دحنفیه ؤ (٢) دی. او ددی څخه علاوه هغه ترهغه وخته پوری بالغ نه وو. هغوی پخپله فرمایی چه ناهزتُ البلوغ، یعنی زه هغه وخت بلوغ ته نژدی وم، نو په دی سره دمُرور دجواز حُجّت نسی کیدی. (٣) فقط

**دشیعه ګانو په جُومات کی دسُنی لمونځ درست دی**: **سوال**: (١٥٢٦) سُنیان دشیعه ګانو په جوماتونو کی او شعیه ګان دسُنیانو په جوماتونو کی لمونځ اداء کولی سی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ کولای سي. (٤) فقط

**په لمونځ کی دپوزی څخه آواز ایستل څنګه دی؟** **سوال**: (١٥٢٧) یو سړی زکام دی، که چیری هغه دمخارجو څخه دصحیح حروف ایستلو په وجهی سره سُو سُو کوی یعنی په پزه کی لوړ طرف ته په ساه راکشولو سره پزه سموی نو داجائز دی اوکه نه؟

**جواب**: په لمونځ کی داسی آواز ایستل نه دی پکار، بیا هم که چیری دحروفو دمخارجو دتصحیح په ضرورت سره (دغه آواز) وایستل سو نو لمونځ صحیح دی. (٥) فقط

---

= هامش رد المحتار نواقض الوضو ج١ ص١٣٩ ، ط. س. ج١ ص١٥٥). ظفير

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره ج١ ص٥٩٧ ، ط. س. ج١ ص٦٣٨. ظفیر

(٢) ولایفسدها الخ مرور بین یدیه ای حائط القبلة فی بیت ومسجد صغیر فانه کبقعه واحدة مطلقا ولو لمرأة او کلبًا (درالمختار) بیان الاطلاق واشار به الی الرد علی الظاهریة بقولهم یقطع الصلاة مرور المرأة والکلب والحمار وعلی احمد فی الکلب الاسود، والی ان ماروی فی ذالك منسوخ کما حققه فی الحلیة (رد المحتار باب ما یفسد الصلوة ج١ ص٥٩٣ ، ط. س. ج١ ص٦٣٤). ظفیر

(٣) وعن ابن عباس قال اقبلت راکبا علی اتان وانا یومئذ قد ناهزت الاحتلام الخ (مشکوٰة باب السترة ص٧٤) په بل حدیث کی صراحت دی: قال رسول الله ﷺ لو یعلم المار بین یدی المصلی ماذا علیه لکان ان یقف اربعین خیرا له ان یمر بین یدیه (متفق علیه) په یوه روایت کی دی: فلیقاتله فانما هو شیطان رواه البخاری (وګوری مشکوٰة باب السترة ص٧٤). ظفیر

(٤) قال النبی ﷺ وجعلت ای الارض مسجدا (مشکوٰة باب فضائل سید المرسلین ص٥١٢). ظفیر

(٥) والتنحنح بحرفین بلا عذر اما به بأن نشأ من طبعه فلا او بلا غرض صحیح فلو لتحسین صحته الخ فلا فساد علی الصحیح (درمختار) لانه یفعله لاصلاح القراءة فیکون القرآءة معنی (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص٥٧٨ ، ط. س. ج١ ص٦١٨). ظفیر

**په هیره سره دخلاف ترتیب قرآئت څه حکم دی؟ سوال:** (١٥٢٨) امام په وروستنی رکعت کی سورتِ رحمٰن ووایه اوپه دویم کی للهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ نو لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب:** په هیره سره په داسی کولوکی لمونځ بی کراهته صحیح دی. ([1]) فقط

**دجومات پرچت باندی لمونځ مکروه دی: سوال:** (١٥٢٩) یوزوړ جومات چه یوه کوټه یې وه اوس دهغه مخ ته نوی برنډه جوړه کړل سوه. دنوی برنډی پرچت باندی لمونځ کول جائز دی او که نه؟

**جواب:** دجومات پرچت باندی لمونځ کول فقهاؤ مکروهه لیکلی دی اوپه دی کی زَړه حصه اونوی برنډه دواړه برابر ([2]) دی. فقط

**په فرضوکی دآیتونو په تکرارولو سره نقصان کیږی اوکه نه؟ سوال:** (١٥٣٠) که چیری په فرض لمونځ کی یو سړی دخدای ﷻ دبیري پرزړه باندی دطاری کیدلو په وجه یاپه طور ددُعا یوآیت دویم وار یا دریم وار ووایی نوپه داسی کولو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب:** تکرار دیو آیت په بعضو احوالوکی ثابت دی. نو په لمونځ کی په دې سره څه خلل نه راځی، لیکن تکرار دآیت کم چه ثابت دی هغه په نوافلوکی دی، په فرائضو او جماعت کی داسی کول نه دی پکار، اګر چه لمونځ کیږي. ([3]) فقط

**په اشارې کولو سره په لمونځ کی خرابی نه راځی: سوال:** (١٥٣١) زید او عَمرو دماپښین په لمونځ کی دبَکر اقتداء وکړه. زید چونکه نابینا دی، دریم ۳ رکعت یې څلورم وګڼی او کښېنستی. عَمرو زید نابینا ته اشاره وکړه نو دزید اوعَمرو په لمونځ کی څه نقصان خو رانغی ؟

**جواب:** هیڅ نقصان رانغی. ([4]) فقط

**دجومات کمې تمبې چه دناچ دپـاره ورکړل سوی وی په هغی کی لمونځ درست دی: سوال:**

---

([1]) ویکره الفصل بسورة قصیرة وان یقرأ منکوسا (درالمختار) انما یکره اذا کان عن قصد فلو سهوا فلا کما فی شرح المنیة (ردالمحتار فصل فی القراءة ج١ ص ٥١٠ – ٥١١ ، ط. س. ج١ ص٥٤٦). ظفیر

([2]) ثم رأیت القهستانی نقل عن المفیدة کراهة الصعود علی سطح المسجد اهـ ویلزمه کراهة الصلوة ایضًا فوقه (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب فی احکام المسجد ج١ ص٦١٤، ط. س. ج١ ص٦٥٢). ظ

([3]) واذا کرّر آیة واحدة مرارا فان کان فی التطوع الذی یصلی وحده فذالك غیر مکروه وان کان فی الصلوة المفروضة فهو مکروه فی حالة الاختیار واما فی حالة العذر والنسیان فلا باس هکذا فی المحیط (عالمگیری کشوری، فصل فیما یکره فی الصلوة ج١ ص١٠٢ ، ط. ماجدیه ج١ ص١٠٧). ظفیر

([4]) لاباس بتکلیم المصلی واجابته برأسه او أری درهما وقیل أجیّد؟ فأومأ بنعم او لا، او قیل کم صلیتم فأشار بیده انهم صلوا رکعتین (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص٦٠٣ ، ط. س. ج١ ص٦٤٤). ظفیر

(۱۵۳۲) یو سړی دجُومات تنبې (دلرګي پاپې) په ناچ ([1]) کی ورکړی وي اوس تر دغه تنبُو لاندی لمونځ کولی سی اوکه نه؟ لمونځ ګزارو ته دلمر په وجهی سره تکلیف وی.

**جواب:** ددغه تنبولاندی لمونځ کول جائز دی، دلمر وغیره په وخت کی هغه په جُومات کی لګول پکاردی اوآینده دی دناچ اوداسي نورو محفلو دپاره نه ورکوي. فقط

**دراتلونکی سړي په رعایت سره قرآئت اوږدول ښه نه دي:** **سوال:** (۱۵۳۳) امام ته په لمانځه کی دلمونځ ګزارو راتللو علم وسو، نو آیا امام په دی خیال سره قرآئت یا رکوع او سجده اوږده کړی اوکه هیڅ لحاظ دی نه کوی؟

**جواب:** په درالمختار کی دی چه امام ته دراتلونکو دشاملیدلو په خیال رکوع او قرآئت اوږدول مکروه تحریمی دی یعنی که چیری دغه کس پیژنی، اوکه نه یې پیژنی نو مکروه تنزیهی دی. ([2])

**اشاره مفسد دصلٰوة نه ده:** **سوال:** (۱۵۳۴) که چیری یونابینا یابینا سړی په جَمع کی دامام په خلاف ناست پاتی سو، حال دا چه امام ودریدی، په داسی حالت کی بل مقتدی دغه سړی ته تنبیه ورکړی او که نه. که خبَروی یې نو ښنګه وکړی، سُبحانَ الله ووایي، اوکه بل څه، اوکه دلاس یا پښې اشاره وکړی په داسی معمولی طریقه چه خپل لمونځ یې فاسدنه سی. که چیری مقتدی دامام سره سلام وګرځوی حالانکه هغه ته یورکعت بل پاته وو، او دبل مقتدی په وینا سره ودریدی نو په دی صورتونوکی خوبه لمونځ نه فاسدیږی ؟

**جواب:** دمقتدی په ناست پاته کیدلوسره اودهغه په اشاری سره په متنبّه کولوکی دشامی وغیره په تحقیق سره عدمِ فساد دلمانځه ظاهریږی او ددی ټولو صورتونو کم چه تاسی لیکلی دی، یو حکم دی یعنی لمونځ نه فاسدیږی.

په در المختار کی دی: لاباس بتكلم المصلی واجابته برأسه كما لوطلب منه شيء او اری درهمًا وقيل أجيد فأومأ بنعم اولا او قيل كم صليتم فاشار بيده أنهم صلوا ركعتين. اما لو قيل له تقدم فتقدم او دخل احد الصف توسع له فورًا فسدت. ذكره الحلبي وغيره خلافًا لما مر عن البحر وردالمحتار قوله: أما لو قيل هو ما وعد به فيما تقدم قبيل قوله وفتحه على امامه وقدمنا هناك ضعفه عن الشرنبلالية ([3]) . فقط

---

([1]) ناچ : یعني یوډول کیږدۍ اوسایه دار ځای چي دنڅا،ګډا، اتڼ اونورو مراسمو لپاره تیاریږي. حقاني"

([2]) وكره تحريما اطالة ركوع او قراءة لادراك الجائی ای ان عرفه والا فلا باس به ولو اراد التقرب الى الله تعالى لم يكره اتفاقا لكنه نادر وتسمية مسئلة الرياء فينبغى التحرز عنها (الدر المختار على هامش رد المحتار باب صفة الصلاة مطلب فى اطالة الركوع للجائی ج۱ ص ۴۲۲ ، ط. س. ج۱ ص۵۰۹). ظفير =

**دوسوسي په وجهي سره نيت ماتول مناسب نه دي**: **سوال**: (١٥٣٥) دزيد په لمانځه کی شك سو، چه زما جامه پاکه نه ده، په هغه وخت يې لمونځ پريښوی دنوی سره يې جامی بدلی کړی، او چونکی بيمار وو په دی وجه دنوی سره يې تيمم وکړی او لمونځ يې شروع کړی بيا په لمانځه کی هغه ته دخپل تيمم دنادرست والی يا دمتيازو دقطری يا عدمِ طهارت شُبه يا وسوسه پيدا سوه حالا نکه دهغه مزاج شکی دی اوهغه ته اکثر وسوسی او شُبهی راځی. ليکن دوباره وربانديدی دشُبه کيدلو دخلقو دخندا په وجه هغه بغير دقرآئت او تکبير او تسبيح او التحيات اودرود څخه لمونځ پوره کړی اوپه قيام اوقعود وغيره سره يې دقيامِ صلٰوۃ او قعود صلاۃ نيت ونکړی. اوددو رکعتونو سنتو پرځای يې همدغه شان بغير دنيت او قراءت وغيره څخه صرف قيام او قعود وغيره وکړل. دهغه څخه وروسته هغه پرخپل دی کار باندی سخت پښيمانه اونادم سو او توبه يې وکړه او ددغه لمونځ اعاده يې وکړه نو دغه سړی ګنهګار سو او که نه؟

**جواب**: په داسی وسوسو او شکونو سره په لمونځ کی څه خلل نه راځی زيدته لمونځ پوره کول پکار وو، دادهغه دجهل او ناپوهی په وجهی سره وسوه، چه قرآئت وغيره يې پرېښوول او لمونځ يې فاسد کړی. پرهر حال کله چه ددغه لمونځ اعاده يې وکړه نو لمونځ وسو. اوچونکه هغه په غلطی سره لمونځ فاسد کړی اوقرآئت اونور ارکان يې پرېښوول، او لمونځ يې بيا راوګرځوی، ځکه نوله ده څخه چي کمه ګناه سوي وه هغه معاف سوه، آئنده دی داسی نه کوی. فقط

**دوسوسي علاج**: **سوال**: (١٥٣٢) که چيری ديوه سړی په مزاج کی شکونه او وسوسې په کثرت سره پيدا کيږی نو دهغی ددفع کولو څه صورت دی؟

**جواب**: دوسوسو او شکونو اوهمونو دفع کولو همدا صورت دی، چه هغه دی شيطانی وسوسه وګڼی او دهغې طرفته دی التفات (توجه) نه کوی، اوپه هغی دی عمل نه کوی او لمونځ دی پوره کړی. په احاديثو کی ددی همدا علاج وارد سوی دی. (١) فقط

**چه دوه٢ سړيان په يو ځای کی جلا جلا لمونځ کوی نو داجائزدي**: **سوال**: (١٥٣٧) چه دوه٢ سړيان په يو ځای کی جلا جلا فرض لمونځ اداء کوی نو کيږی اوکه نه؟

**دښځی په مخامخ راتللو سره لمونځ نه فاسديږی** : **ســوال**: (١٥٣٨) که چيری دلمونځ داداء

---

(٣) رد المحتار باب مايفسد الصلاۃ وما يکره فيها ج١ ص٢٠٣ ، ط. س. ج١ ص٦٤٤. ظفير

(١) عن القاسم بن محمد ان رجلا ساله فقال انی اهم فی صلاتی فيکثر ذالك علی فقال له امض فی صلاتك فانه لن يذهب ذالك عنك حتی تنصرف وانت تقول ما اتممت ثلاثی رواه مالك (مشکوٰۃ باب الوسوسه فصل ثالث ص ١٩). ظفير

کولو په وخت کی ښځه مخامخ راسی نولمونځ کیږی اوکه نه؟

**جواب**: (۱) لمونځ دهريوه په دی صورت کی صحيح دی. ([1])

(۲) او دښځو په مخامخ راتللو سره په لمونځ کی څه خلل نه راځی او لمونځ فاسد نه سو. ([2]) فقط

**په قرآئت کی په بنديدلو او راګرځولو سره لمونځ فاسدنه سو**: **سوال**: (۱۵۳۹) مشهوره ده چه که چيری امام په قرآئت کی بند سو اودرې ۳ واری يې راوګرځوی او صحيح يې ونه ويلای سو نو لمونځ ماتيږی داصحيح ده که غلطه ؟

**جواب**: داخبره غلطه مشهوره ده، لمونځ نه ماتيږی. ([3]) فقط

**فتحه ورکول درست دی**: **سوال**: (۱۵۴۰) يو حافظ صاحب تراويح ورکړی اوپه اوه ويشتمه ۲۷ شپه يې قرآن شريف ختم کی، دجومات دمحلی بعضی خلق چاچه لمونځ کوی، يوه شپه په تراويحوکی هغه سيپاره واوريده کمه چه هغوی نه وه اوريدلی. په دی صورت کی که چيری امام غلط ويل وکی نو سامع لره غلطی وربښوول جائز دی اوکه نه؟ که چيري فتح ورکړل سوه او هغه فتح واخيسته، نو لمونځ به جائز وی اوکه نه؟

**جواب**: سامع لره هغه ته غلطی ښوول اوفتح ورکول او هغه لره فتح اخستل درست دی، دهيچا په لمونځ کی څه خلل رانغی. په در المختار کی دی: بخلاف فتح علی امامه فانه لا يفسد مطلقا لفاتح وآخذ بکل حال ([4]) الخ. فقط

**په پښه يوې او بلې خواته کولو سره لمونځ نه فاسديږی**: **سوال**: (۱۵۴۱) لمونځ کونکی دلمونځ په شروع کی چه کم ځای ولاړوی دلمونځ په حالت کی يو واری يا څو واری عمداً يا سهواً که چيری رسته پښه دخپل ځای څخه اخواته سی نوپه دی سره په لمونځ کی څه کراهت يا فساد راځی او که نه ؟

**جواب**: درسته يا چپه پښې دخپل ځای څخه په اخواته کيدلو سره نه لمونځ ماتيږی، اونه

---

([1]) ويؤيده ما فی الظهيرية لو دخل جماعة المسجد بعد ما صلّی فيه اهله يصلون وحدانا وهو ظاهر الرواية (رد المحتار باب الامامة مطلب فی تکرار الجماعة فی المسجد ج۱ ص۵۱۷، ط. س. ج۱ ص۵۵۳). ظفير

([2]) ولا يفسدها نظره الی مکتوب الخ ومرور مار فی الصحراء وفی مسجد کبير بموضع سجوده فی الاصح او مرور بين يديه الخ مطلقا ولوامرأة اوکلبًا (درالمختار) واشار به ای الرد علی الظاهرية (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ج۱ ص۵۹۳، ط. س. ج۱ ص۲۳۴). ظفير

([3]) يکره ان يفتح من ساعته کما يکره للامام ان يلجئه اليه بل ينتقل الی اٰية اخری لا يلزم من وصلها مايفسد الصلوة اوالی سورة اخری اويرکع اذا قرأ قدر الفرض کما جزم به الزيلعی (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ج۱ ص۵۸۲، ط. س. ج۱ ص۲۲۲). ظفير

([4]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مايفسدالصلوة ومايکره فيها ج۱ ص۵۸۲، ط. س. ج۱ ص۲۲۲. ظ

مکروه کیږي. البته قصداً بې ضرورته پښه مخ ته او وروسته کول مکروهِ تنزیهي یعني خلافِ اولٰی دی (۱).

**په لمونځ کې سر ښورول او هاخوا دیخوا ته کیدل منع دي: سوال:** (۱۵۴۲) که چیرې امام په لمونځ کې سرښوروي او په کوچنیو کوچنیو سورتونو کې هم کله پر رسته اړخ او کله پرچپه اړخ باندې په بوج اچولو سره لمونځ کوي او خپلو اندامونو لره هم حرکت ورکوي بلکه په قرآئت کې آوازونه هَا، هُو او دژړا آواز باسي نو دداسې لمونځ اوآواز په باره کې څه حکم دی؟

**جواب:** داسې حرکتونه په لمونځ کې نه دي پکار، ځکه چه مَبنٰی دلمونځ پرخشوع او خضوع باندې ده. (۲) فقط

**په پاکو څپلیو کې لمونځ جائز دي: سوال:** (۱۵۴۳) یو سړی لمونځ گزاردی هغه په خپل علم کې خپلي څپلۍ اوخپلې جامې په ښه ډول سره پیژني چه داپاکي دي اوپه روزانه استعمال کې راولي، نو ددغه پیزار سره لمونځ کیدی سی اوکه نه؟ پریوی څپلۍ باندې پلیتې لگیدلې وه هغه يې بالکل صفا کړه، پلیتې ورباندي پاته نسوه، دهغه سره لمونځ کولی سی اوکه نه؟

**جواب:** څپلۍ که چیرې پاکي وي یعني پلیتې ورباندي نه وي لگیدلې، یا لگیدلې وه خو پاکي اوصافي کړل سوي وي نوپه دواړو صورتونوکې په هغوکې لمونځ درست دی لیکن چونکه په دې زمانه کې په جوماتونو کې فرش وغیره وي او دڅپلۍ سره جومات ته په تللو کې دفرش په خَتي وغیره سره دککړکیدلو احتمال سته، بل داچه په دې کې بې ادبي هم معلومیږي، ددې وجه څخه په جومات کې دې په څپلیو کې لمونځ نه کوي. کما في الشامي: ولعل ذالك محمل ما في عمدة المفتي من ان دخول المسجد متنعلاً من سوء الادب (۳) الخ.

**غیرلمونځ گزار لره فتح ورکول درست نه دي: سوال:** (۱۵۴۴) که چیرې دامام اودس مات سو او هغه دخلیفه ټاکلو وروسته نوی اودس شروع کړي. که چیرې دنائب امام څخه هیره وسي اواولني مُحْدَث امام هغه ته څه وښیي اوفتح ورکړي نوداجائزدی اوکه نه؟ حالانکه

---

(۱) وان من لوازمه (ای الخشوع) ظهور الذل وغض الطرف وخفض الصوت وسکون الاطراف (ردالمحتار باب ما یفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب فی الخشوع ج۱ ص۲۰۰، ط. س. ج۱ ص۲۴۱). ظفیر

(۲) وانّ من لوازمه (ای الخشوع) ظهور الذل وغض الطرف وخفض الصوت وسکون الاطراف (رد المحتار باب ما یفسد الصلوة وما یکره فیها مطلب الخشوع ج۱ ص ۲۰۰، ط. س. ج۱ ص۲۴۱). ظفیر

(۳) ردالمحتارباب مایفسد الصلوٰة ومایکره فیهامطلب فی احکام المسجد ج۱ ص۲۱۵، ط. س. ج۱ ص۲۵۷. ظ

دهغه اودس هم نسته او دجَمعی څخه خارج دی؟

**جواب**: په دی صورت کی فتح ورکول درست نه دی. اوکه امام فتح واخلی نودهغه لمونځ به فاسد سی وکذا الاخذ (در المختار) ای اخذ المصلی غیر الامام بفتح من فتح علیه مفسد ایضًا کما فی البحر عن الخلاصة او اخذ الامام بفتح مَن لیس صلاته کما فیه عن القنیة ([1]) در المختار. فقط

**دلنګوټي څخه بغير لمونځ مکروه نه دي: سوال**: (۱۵۴۵) آیا دلنګوټي څخه پرته په خولی سره لمونځ کول مکروه دي اوکه نه؟ په فتاوی سعیدیه کي یې مکروه بللي او مولانا رشید احمد ګنګوهي رحمه الله ورته جائز بلا کراهته ویلي دي؟

**جواب**: اقول وبالله التو فیق. دمنیه په شرح کبیری کی دی: والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولو صلی فی ثوب واحد متوشحًا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسر وجود الطاهر الزاید ولکن فیه ترك الاستحباب ([2]) ددی روایت څخه معلومه سوه چه دلنګوټي څخه بغیر لمونځ مکروه نه دی. البته دعمامی سته والی مستحب دی، اودعمامی دنیستوالی په صورت کی سره ددی چه مُیَسّره وی ترك داستحباب دی. نو دحضرت مولانا ګنګوهی قدس سره غرض همدا دی چه اګر چه ترکِ عمامه خلاف داستحباب ده لیکن جائز بِلا کراهت دی، او دمستحب په پرېښودلو سره کراهت لازم نه دی کما صرح به الشامی من انه لا یلزم من ترك المستحب ثبوت الکراهته اذ لا بدّ لهامن دلیل خاص ([3]) نوصحیح همدغه دی کم چه حضرت مولانا ګنګوهی قدس سره لیکلی دی. اوپه فتاوٰی سعیدیه کی یې چه دی ته مکروهه ویلی دی دابه دهغه قول پر بنا باندی وی څوك چه وایی چه ترکِ مستحب خلافِ اولی دی. اودخلافِ اَولی او مکروه تنزیهی درجه یوه ده. نومراد دصاحبِ فتاوٰی سعیدیه مکروه تنزیهی کیدل دی. لیکن دشامی دتحقیق څخه معلومه سوه چه مکروه تنزیهی ورته ویل هم نه دی پکار. البته دلنګوټي په وجهی سره دثواب زیاتوالی مسلّم دی، لکه څنګه چه دټولو مستحباتو په اداء کی دثواب زیاتوالی دی، لیکن ددوی په ترك کی کراهت نسته لکه صلٰوةِ ضُحٰی وغیره. فقط

**دلمانځه په حالت کی که دخولی څخه یو شی دباندي ته راسی نو لمونځ نه فاسدیږي: سوال**:

---

([1]) ردالمحتار باب مایفسدالصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۵۸۱ – ۵۸۲ ، ط.س. ج۱ ص۲۲۲. مخ ته مفتی علام لیکلی دی چه لاحق حکمًا په لمونځ کي داخل دی. په دی وجه هغه لره فتحه ورکول درست دی. ظفیر

([2]) غنیه المستملی ص ۳۳۷ . ظفیر

([3]) ردالمحتار بحث مستحبات وضوء ج۱ ص۱۱۵ . ظفیر

(**۱۵۴۶**) كه په لمونځ كی دنخود په مقدار ياكم يا زيات دخوراك شی دلمونځ ګزار خولې يا ژبی ته راسی نوپه كپړی يالاس سره يې دباندي په را ايستلو سره په لمونځ كی نقصان راځی او كه نه؟

**جواب**: په دې سره په لمونځ كی څه نقصان نه راځی. (۱) فقط

**دصابون په لګولو سره لمونځ كول درست دي**: **سوال**: (**۱۵۴۷**) كه انګريزی يا ديسی صابون ولګوی او لمونځ كوی نو درست دی اوكه نه؟

**په نوی څپلی اوجامی سره لمونځ كول درست دي**: **سوال**: (**۱۵۴۸**) نوی څپلی اونوی جامه بغير دمينځلو څخه اغوستل او لمونځ ورسره كول درست دی اوكه نه؟

**جواب**: (۱) په انګريزی يا ديسی صابون لګولو سره لمونځ كول درست دی. (۲)

(۲) دنوی څپلی او جامی سره لمونځ كول درست دي. (۳)

**دامام په لوړ ځای اومحراب كی دريدل مكروهه دي**: **سوال**: (**۱۵۴۹**) دجومات محراب دمزكی څخه يوه لويشت او څلور ګوتی (يو سپك) لوړ دی په كم كی چه امام يوازی دريږی او لمونځ كوی، نو دمقتديانو لمونځ به وسی اوكه نه؟ كه لمونځ يې كيږی نو په څومره لوړوالی كی به نه كيږی ، او دمحراب متعلق څه مسئله ده؟

**جواب**: امام لره په لوړ ځای كی يوازي دريدل همدغه شان په محراب كی يوازي دريدل مكروهه دی او دمقتديانو لمونځ صحيح دی. او دلوړوالی په اړه په درمختار كي دا تفصيل راغلی دی: وقدر الارتفاع بذراع ولا بأس بما دونه وقيل ما يقع به الامتياز وهو الاوجه ذكره الكمال وغيره، وفی الشامی هو ظاهر الرواية والاولی العمل بظاهر الرواية. الخ (۴).

---

(۱) لو كان معه حجر فرمی به الطائر او نحوه لا تفسد صلاته لانه عمل قليل ولكن قد اساء لا شتغاله بغير الصلاة (ردالمحتار باب مايفسد الصلاة ج۱ ص۵۸۸). ظفير

(۲) صابون پاك دی، محض دشك په وجهی سره دناپاكوالی حكم نسی پر كيدی. داقاعده ده چي: اليقين لايزول بالشك ، يعني يقين نه ايسته په شك سره. ظفير

(۳) وصلاته فيهما افضل (درالمختار) ای فی النعل والخف الطاهرين افضل مخالفة لليهود وفی الحديث صلوا فی نعالكم ولا تشبهوا باليهود رواه الطبرانی كما فی ابی الصغير رامزا لصحته واخذ منه جمع من الحنابلة انه سنة ولوكان يمشی بها فی الشوارع لان النبی ﷺ وصحبه كانوا يمشون فی طرق المدينة ثم يصلون بها قلت لكن اذا خشی تلويث فرش المسجد بها ينبغی عدمه وان كانت طاهرة الخ ولعل المراد ما فی عمدة المفتی من ان دخول المسجد متنعلا من سوء الادب (رد المحتار باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها ج۱ ص۲۱۵). ظفير

(۴) ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج۱ ص ۲۰۵، ط. س. ج۱ ص۶۴۲، په محراب كی دريدل مكروه دی الخ وقيام الامام في المحراب لا سجوده وقدماه خارجه لان العبرة للقدم مطلقًا (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب ايضًا ج۱ ص۲۰۴ ، ط. س. ج۱ ص۶۴۵). ظفير

**په لڅو څنګلو سره لمونځ مکروهه دی**: **سوال**: (١٥٥٠) دنيم لستوني والا په قميص کی لمونځ کول څنګه دی؟

**جواب**: لمونځ کيږی (ليکن که چيری څنګله لڅه وی نو دا مکروهه دی). (١) فقط

**په عَبا (چَپَنه) اوجُبه کی په لستوڼوکی دلاس دننه کولو څخه بغير لمونځ مکروهه دی**: **سوال**: (١٥٥١) دخراسان په ملك کی خلک ديخ په موسم کی لوی پوستين اغوندي چه اوږده لستونی لری او لاسونه په لستونی کی نه ورکوی. په دې طريقه لمونځ کول څه حکم لری آيا دا طريقه په سَدل کی حسابيږی؟

**جواب**: دفقهی په کتابونوکی په صراحت ذکردی چه لمونځ کول په دغه طريقه مکروهه کيږی ځکه چه اِسم دسَدَل پردی باندی هم صادق راځی، دمنيه په شرح کبيری کی يې ويلی دی: ولو صلّی فی قباء الخ ينبغی ان يدخل يديه فی کميه الخ احترازًا عن السدل (٢) ص ٣٣٢، وفی الشامی والصحيح الذی قاله قاضی خان والجمهور انه يکره لانه اذا لم يدخل يديه فی کميه صدق عليه اسم السدل الخ ج ١ ، ص ٤٣. فقط

**پرکټ باندی لمونځ جائز دی**: **سوال**: (١٥٥٢) که چيری څوك دصحت په حالت کی فرض يا نفل لمونځ په کَټ کی کوی، نو جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ صحيح دی. (٣) فقط

**دکمي څپلی، تَلی چه ناپاک وی په هغی کی لمونځ درست نه دی**: **سوال**: (١٥٥٣) دبوټ کمه حصه چه دمزکی سره لګيږی هغه پاکه نسی پاته کيدی، ليکن که دتلی پورتنی حصه پاکه وي نو په دغه بوټونو کی لمونځ جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: کله چه دبُوټ لاندينی حصه کمه چه پرمزکه باندی لګيږی هغه پاکه نه ده، نو پر هغه باندی مسح جائز نه ده اوپه دغه بوټونو کی لمونځ کول صحيح نه دی. فقط (٤)

---

(١) ولو صلی رافعا کميه الی المرفقين کره (عالمگيری مصری الباب السابع فيمايفسدالصلوة ومايکره فيها ج١ ص١٠٠، ط. ماجديه ج١ ص١٠٢). ظفير

(٢) ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايکره فيها ج١ ص٥٩٨ ، ط. س. ج١ ص٦٤٠. ظفير

(٣) وان صح بشرط کونه علی جبهته الخ وبشرط طهارة المکان وان يجد حجم الارض (درالمختار) تفسيره ان الساجد لو بالغ لا يتسفل رأسه ابلغ من ذالك فصح علی طنفسة وحصير وحنطة وشعير وسرير وعجلة ان کانت علی الارض الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل تاليف الصلوة ج١ ص٤٢٨ ، ط. س. ج١ ص٥٠٠). ظفير

(٤) والشرط الخ شرعا ما يتوقف عليه الشی ولا يدخل فيه هی ستة طهارة بدنه الخ من حدث بنوعيه الخ وخبث مانع الخ وثوبه الخ ای موضع قدميه اواحدهما ان رفع الاخریٰ الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج١ ص٣٧٣ – ٣٧٤ ، ط. س. ج١ ص٤٠٢) ويفسدها الخ صلاته علی مصلی مضرب نجس البطانة .(ايضًا باب مايفسد الصلوة ج١ ص٥٨٥ ، ط. س. ج١ ص٦٢٢). ظفير

**په ناپاکه څپلیو کی دلمونځ ناجائز کیدل اوپر ناپاکه مزکه په پاکه کپړه غوړولو سره دلمونځ دجائزوالی وجه**: **سوال**: (۱۵۵۴) که چیری پرناپاکه مزکه یا فرش باندی په پاکه کپړه غوړولو سره لمونځ کول جائز وی نودغه ډول دبُوټ په صورت کی جائز دی اوکه نه؟ ولی چه په بُوټ کی هم لوړه حصه پاکه ده او لاندی ناپاکه ده، په دی کی څه فرق دی؟

**جواب**: پرناپاکه جامه باندی که چیری پاکه جامه وغوړَوی اولمونځ کوی نوصحیح دی، ولی چي دغه دواړي کپړی بیلی بیلی دی په خلاف دڅپلی، چه کله دهغه لاندی حصه ناپاکه ده نو دهغی سره لمونځ صحیح نه دی، ولی چه هغه دوې حصې دګنډلو په وجهی سره متصل سوی اویو سوی دی. (۱) فقط

**دجومات په صحن کی په جَمعی سره لمونځ درست دی**: **سوال**: (۱۵۵۵) دجُومات په صحن کی فرض لمونځ په جَمع سره دکراهت څخه بغیر دګرمی دزیاتوالی په وجهی سره کولی سی اوکه نه؟ زید وایی چه رسول الله ﷺ هیڅکله هم دجومات په صحن کی لمونځ نه دی ورکړی. دزید قول څومره صحیح دی؟

**جواب**: دزید داقول غلط دی، دجومات په دواړو حصو مُسقَّف او غیر مسقف (چت والا اوبی چته) کی جَمع جائز اوصحیح ده. اوفقهاؤ رحمهم الله مسجد صَیْفی او مسجد شِتایی دواړو ته مسجد ویلی دی اوپه دواړو کی جماعت بی کراهته صحیح دی او دا دواړه نومونه پخپله ددی دلیل دی چه په یوه حصه غیر مُسقَّفه کی په دوبي کی اوپه بله حصه مُسَقَّفه کی په ژمی کی لمونځ کیږي. (۲) فقط

**دباد په تیتک نیولو سره لمونځ اداء کول څنګه دی؟** **سوال**: (۱۵۵۶) زید دماپښین جَمع ورکول شروع کړل دیوه رکعت څخه وروسته یې هوا په خارجیدو سوه، خو هغه تینګه ولرله او لمونځ یې پوره کړی. دا لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: په دی صورت کی لمونځ وسو، البته په دی کي کراهت دی. نوکه چیری دهغه زړه په دی تکلیف کی زیات مشغول وی نو دا کراهت به یې تحریمی وی کنې نو تنزیهی به وی. (۳) فقط

---

(۱) ویفسدها الخ صلاته علی مصلی مضرب نجس البطانة بخلاف غیر مضرب ومبسوط علی نجس ان لم یظهر لون او ریح (درالمختار) قوله مصلی مضرب ای مخیط الخ ومفهومه ان الاصح فی غیر المضرب الجواز اتفاقًا (ردالمحتار باب مایفسد الصلاة ومایکره فیها ج۱ ص۵۸۵ ، ط. س. ج۱ ص۲۲۲). ظفیر

(۲) ولوکان المسجد الصیفی بجنب الشتوی واملأ المسجد یقوم الامام فی جانب الحائط لیستوی القوم من جانبه (ردالمحتار باب الامامة مطلب فی کراهة قیام الامام فی غیرالمحراب ج۱ص۵۳۱،ط.س. ج۱ص۵۶۸). ظ

(۳) ویباح قطعها لنحو قتل حیة الخ ویستحب لمدافعة الاخبثین (درالمختار) کذا فی مواهب الرحمٰن ونور الایضاح لکنه مخالف لماقدمناه الخزائن وشرح المنیة من انه ان ذالك یشغله ای یشغل قلبه عن الصلاة =

**دنصاريٰ قوم په مستعملو جاموکی لمونځ کيږي اوکه نه؟ سوال**: (١٥٥٧) دنصاريٰ قوم په مستعملو جامو کی لمونځ کول څنګه دی؟

**جواب**: دقوم نصاريٰ وغيره په مستعملو جامو کی فقهاؤ لمونځ کول جائز ليکلی دی. ماسوا دلنګ اوپرتوګ څخه ځکه چه دهغو دنجس والی غالب ګمان دی. وکذا فی الشامی (١) ، او مينځل دهری جامی احوَط دی، خاصکر دلنګ اوپرتوګ مينځل زيات ضروری دی. فقط

**په ريشمي جاموکی لمونځ کول څنګه دی؟ سوال**: (١٥٥٨) چه ريشمی جامی واغوندی يا وی غوړَوی او لمونځ پرکوی نو لمونځ[ اداء کيږی او که اعاده يې واجبه ده؟ ديوه اهل علم بيان دی چه لمونځ خوکيږی ليکن دغه سړی ګنهګاردی. لکه يوسړی چې دسرو زرو يا دشرعی مقدار څخه زياته دزرو دګوتمۍ يابل څه لکه کالی سره لمونځ کوی نو لمونځ به اداء سی ليکن ددغه ناجائز استعمال ګناه به يې پرسَر وی. همدغه شان که چيری يو لباس ياپرتوګ وغيره دبجلکو څخه کښته وی نو دداسی سړی لمونځ به وسی اوکه نه؟ بل داچه دريشمی جامی والا يا اوږد پرتوګ والا لکه اهلِ عرب وغيره ياجُبه ياعَبا وغيره دومره اوږده اغوندی چه دمزکی سره لګيږی، يا دزرو اغوستنکی يا دړيره خريلی امامت درست دی اوکه نه؟ اوددی علم څخه وروسته به مقتديان خپل لمونځ راګرځوی اوکه نه؟ خاصکر په داسی صورت کی به دجُمعی اواخترونو دلمونځ اعاده څنګه کوی حال دا چه ډير خلق دسلام څخه وروسته خپاره سی؟

**جواب**: ريشمی جامه اغوستل حرام دی. نوکم لمونځ چه په هغه ريشمی جامو کی وکړی سی هغه مکروه او واجب الاعاده سو (٢) اوچه وی غوړَوی اولمونځ پرکوی نو دافقهاؤ جائز ليکلی دی. کما فی رد المحتار بخلاف الصلوة علی السجادة منه ای من الحرير لان الحرام هو اللبس دون الانتفاع (٣) الخ بيايی په دی کی دحموی څخه روايت دکراهت هم نقل کړی دی اګر چه هغه ته يې مرجوح ويلی دی. بهر حال احتياط دادی چه پر وريښمو

---

= وخشوعها فاتمها يأثم لادائها مع الكراهة التحريمية ومقتضى هٰذا ان القطع واجب لا مستحب الخ (رد المحتار باب مايفسد الصلوة وما يكره فيها ج١ ص٢١٢ ، ط. س. ج١ ص٢٥٤). ظفير

(١) ثياب الفسقة واهل الذمة طاهرة (در المختار) قال فی الفتح وقال بعض المشائخ تكره الصلوة فی ثياب الفسقة لانهم لايتقون الخمور قال المصنف يعنی صاحب الهداية الاصح انه لايكره لانه لا يكره من ثياب اهل الذمة الا السرائيل مع استحلالهم الخمر فهذا اولی اهـ (رد المحتار قبيل كتاب الصلوة ج١ ص٣٢٤ ، ط. س. ج١ ص٣٥٠). ظفير

(٢) لان الصلوة فی الحرير مكروهة للرجال (شرح حموي على الاشياه والنظائر ص ١٩٧). ظفير

(٣) رد المحتار باب الامامة ج١ ص ٥٢٥ ، ط. س. ج١ ص ٥٢٢. ظفير

باندی لمونځ نه کوی لیکن که یې وکړی نو اعاده به یې واجب نه وی. اوچې دچا لباس خلافِ شرع وی یا ږیره یې خریلې وی نو امامت دهغه مکروهه دی په وجه دفاسق کیدلو دامام. اوپه درمختار کی دی: صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعة الخ افاد ان الصلٰوة خلفهما اولی من الانفراد (۱) الخ شامی. اودجُمعی او اخترونو په لمونځونو کی په واجب پرینښودلو سره دسجده سهوی حکم (۲) نه کول ددی خبری تقاضا کوی چه اعاده ددی په صورتِ مذکوره کي لازمه نه ده. فقط

**دبجلکو څخه په کښته پرتوګ کی لمونځ اداء کول څنګه دی؟ سوال:** (۱۵۵۹) په لمانځه کی دبجلکو څخه کښته پرتوګ ساتل څنګه دی؟

**جواب:** په لمانځه کی دبجلکو څخه کښته په پرتوګ زړولو سره لمونځ کول مکروهه دی، دثواب څخه به محرومه وی. دلمونځ څخه علاوه یې هم تربجلکو لوړ ساتل ضروری دی. په حدیث کی دداسی سړی دپاره ډیر وعید راغلی دی. (۳) فقط

**په محراب کی لمونځ جائز دی که نه؟ سوال:** (۱۵۷۰) په محراب کی لمونځ کول جائز دی او که نه؟

**جواب:** جائز دی. (۴)

**په نقش اوتکار والا مصلی باندی لمونځ جائز دی اوکه نه؟ سوال:** (۱۵۷۱) که چیری پر یوه مصلّی یاجای نماز باندی نقشه دیو روضی یاجومات دخانه کعبی یا مدینی منوری وی اوپه هرحالت کی پیشِ نظر وی نو پرهغی باندی پنج وخته لمونځ اداء کول څنګه دی؟

**جواب:** لمونځ اداء کیږی (۵) لیکن دنقش اونګار مخ ته راتلل ښه نه دی. (۶) فقط

**په خیرنو جاموکی لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال:** (۱۵۷۲) امام سره دموجودوالي دنورو

---

(۱) رد المحتار باب الامامة ج۱ ص **۵۲۵** ، ط. س. ج۱ ص **۵۷۲**. ظفیر

(۲) والسهو فی صلوة العید والجمعة والمکتوبة والتطوع سواء والمختار عندالمتاخرین عدمه فی الاولین (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب سجود السهو ج۱ ص**۷۰۵** ، ط. س. ج۲ ص۹۲). ظفیر

(۳) عن ابی هریره ﷺ قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ماسفل من الکعبین من الازار فی النار، رواه البخاری (مشکوٰة کتاب اللباس). ظفیر

(۴) یعنی دمقتدی منفرد دپاره جائز دی لیکن دامام دپاره مکروه دی. وکره الخ قیام الامام فی المحراب (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ص۲۰۴ ، ط. س. ج۱ ص۶۴۴). ظفیر

(۵) او لغیر ذي روح لا یکره لانها لا تعبد (درمختار) لقول ابن عباس للسائل فان کنت لابد فاعلا فاصنع الشجر وما لا نفس له رواه الشیخان (ردالمحتار باب ما یفسد الصلاة ومایکره فیها ج۱ ص۲۰۷ ، ط. س. ج۱ ص۶۴۹). ظفیر

(۶) ولا باس بنقش خلا محرابه فانه یکره لانه یلهی المصلی (درالمختار) فیخل بخشوعه من النظر الی موضع سجوده ونحوه ویکون منتهی بصره الی موضع سجوده الخ (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب حکام المسجد ج۱ ص۲۱۲ ، ط. س. ج۱ ص۶۵۸). ظفیر

جامو ډيري خيرنی جامی استعمالوی، په هغه پسی په لمونځ کولو کی څه نقص خونسته؟
**جواب**: لمونځ دهغه صحيح دی، ليکن جامه پاکه پکار ده. (۱)

**په ورکشاپ کی دممانعت باوجود لمونځ کول څنګه دي؟** **سوال**: (۱۵۲۳) موږ خلق دريل په ورکشاپ کی نوکران يُو موږ په پټه دماپښين لمونځ اداء کوو ليکن دافسر حکم دادی چه څوك لمونځ کوی هغه دی نيمه ګينټه چوټی واخلی او بهر دی لمونځ کوی، په ورکشاپ کی لمونځ کونکی به دسزا مستحق وی. په دی صورت کی څه حکم دی ؟
**جواب**: کله چي حاکم په ورکشاپ کی لمونځ کول منع کړی دی او دايی ويلی دي نو په رخصت اخستلو سره دباندي لمونځ کول پکاردی، ولی چي دا داسی دی لکه په غصب سوی مزکه کی لمو نځ کول، اوهغه مکروهه وی. نوولی دی خپل لمونځ مکروه کړل سی، دباندي دی ولاړ سی او لمونځ دي وکړی. اوبيا ورسره دسزا بيره هم سته. فقط (۲)

**چه لمونځ ګزار زيات وی نو په دروازه کی دريدل درست دی اوکه نه؟** **سوال**: (۱۵۲۴) په رمضان کی دلمونځ ګزارو دزياتوالی اودجومات دفرش دکموالی په وجهی سره که امام دجومات په دروازه کی درېږی او لمونځ ورکوی نو جائز دی اوکه نه؟
**جواب**: په دروازه کی دامام دريدل يې په شامی کی مکروهه ليکلی دی، او دامام اعظم رحمه الله داقول يې نقل کړی دی. په دی وجه امام ته پکاردی چه که چيری دمقتديانو دزياتوالی له کبله په دروازه کی دريدلو ته اړ سی نو ښنې دی ددروازې څخه دباندي کښيږدی او سجده دی دننه وسی، که چيری داسی وسی نو بهتره ده کنې دضرورت په وجه په دروازه کی په دريدلو او لمونځ ورکولو سره هم لمونځ کيږی ليکن ددی څخه ځان ساتل بهتردی. (۳)

**چه دمارغه پرتصوير باندی بله کپړه وغوړوی او لمونځ وکړی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟**
**سوال**: (۱۵۲۵) پرکم جای نماز چه دمرغه تصويروی پرهغه باندی چه بل ټوکر واچوی او

---

(۱) الشرط لغة العلامة الخ وشرعًا مايتوقف عليه الشی الخ هی الخ وثوبه (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص۳۷۳ ، ط. س. ج۱ ص۴۰۲). ليکن فقهاؤ دوسعت په وخت کی په داسی جاموکی لمونځ کول مکروه تنزيهی ليکلی دی: کره کفه الخ وصلاته فی ثياب بذلة يلبسها فی بيته ومهنته ای خدمته ان له غيرها والاً ، لا.(ايضًا باب مايفسد الصلوة ج۱ ص۵۹۹ ، ط. س. ج۱ ص۶۴۰). ظفير
(۲) وكذا تكره فی اماكن كفوق كعبة الخ وارض مغصوبة وللغير (الدر المختار علی هامش رد المحتار كتاب الصلوة ج۱ ص۳۵۴). ظفير
(۳) وقيام الامام فی المحراب لاسجوده فيه وقدماه خارجه لان العبرة للقدم مطلقا(در المختار) وفی حاشية البحر للرملی الذی يظهر من كلامهم انها كراهة تنزيهة (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج۱ ص۶۰۴ ، ط. س. ج۱ ص۶۴۵). ظفير

لمونځ پر کوی نو جائز دی اوکه نه؟
**جواب**: په دی صورت کی لمونځ جائز دی بی دکراهت څخه . [1] فقط

**په بوټو کی لمونځ جائز دی که نه؟** **سوال**: (١٥٢٦) په بوټو کی لمونځ جائز دی اوکه نه؟
**جواب**: په در المختار کی یې په بوټو کی دلمونځ کولوپه باره کی دالیکلی دی چه که چیری بوټ پاك وی نوپه هغه کی لمونځ کول جائز دی، بلکه افضل دی او علاّمه شامی پردی باندی داحدیث نقل کړی دی (صَلُّوْا فِيْ نِعَالِكُمْ وَلاَ تَشَبَّهُوْا بِالْيَهُوْدِ) ، [2] لیکن په آخرکی یې دعمدة المفتی څخه دانقل کړی دی چې: اِنَّ دخولَ المسجد متنعّلاً مِن سوء الادب [3] یعنی جومات ته دبوټ سره تلل په دی زمانه کی ښه نه دی. اودا ظاهره ده ځکه چه په دی زمانه کی خلق احتیاط نه کوی ممکنه ده چه پرڅپلیو باندی به پلیتی لګیدلی وی، اواکثره داسی کیږی. کما هو مشاهد ، البته که چیری څپلی یقینًا پاکی وی لکه نوی څپلی نو په دی زمانه کی دهغو سره په لمونځ کولو کی هیڅ حرج نسته بلکه بهتردی کما صرّح به الفقهاء وورد فی الحدیث. فقط

**دلمونځ څخه وروسته دُعاء او په هغه کی ددَارکَ اضافه**: **سوال**: (١٥٢٧) امام دفرضو څخه وروسته دُعا په داشان کوی (اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْكَ السَّلاَمُ الخ وَادْخَلْنَا دَارَكَ السَّلاَمَ) الخ لفظ د دَارَكَ ویل درست دی اوکه نه؟
**جواب**: د: دَارَكَ لفظ ثابت نه دی، داویل نه دی پکار. صرف (وَاَدْخِلْنَا دَارَ السَّلاَمِ) ویل پکار دی. فقط

**دجَمعی څخه وروسته څرنګه دُعاء وغوښتل سی؟** **سوال**: (١٥٢٨) دجَمعی څخه وروسته به امام او مقتدیان په شریکه دُعا غواړی اوکه جلا جلا ؟ اوکه یوځای وغواړی نوصرف دیو واری دُعا غوښتلو څخه وروسته به پرمخ باندی لاسونه راتیروی اوکه دری۳ واری؟
**جواب**: امام چې څه وخت دلمونځ څخه فارغ سی نو سره دمقتدیانو دی ټول په شریکه دُعاء وغواړی بیادی سُنت اونفل وکړی او خپل کاروبار ته دی ولاړ سی دوباره او دریم بار دُعا په ذکر سوی طریقی سره غوښتل ثابت نه دی. او مقتدیان مقیّد ساتل تر دویمی او دریمی دُعا پوری جائز نه دی. فقط

---

[1] واختلف فیما اذا کان التمثال خلفه والاظهر الکراهة ولایکره لو کان تحت قدمیه او محل جلوسه لانها مهانته الخ او علی خاتمه بنقش غیر مستبین قال فی البحر ومفاده کراهة المستبین لا المستتر بکیس او سرة او ثوب آخر (در المختار) بان کان فوق الثوب الذی فیه صورة ثوب ساتر له فلا تکره الصلاة فیه لاستتارها بالثوب (ردالمحتار باب مایکره فی الصلوة ج١ ص ٦٠٢ – ٦٠٧ ، ط. س. ج١ ص٦٤٨). ظفیر
[2] ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب احکام المسجد ج١ ص٦١٥ ، ط. س. ج١ ص٦٥٧. ظ
[3] ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب احکام المسجد ج١ ص٦١٥ ، ط. س. ج١ ص٦٥٧. ظ

**دپان او چايو څخه وروسته دخولې پرېوللو څخه بغير لمونځ کول څنګه دي؟** **سوال**: (١٥٦٩) که يو سړی دچايي څښلو ياپان خوړلو څخه وروسته دومره وخت ودريږي، چه دپان او چايو اثر ولاړ سی نو دخولې پرېوللو څخه بغير لمونځ کولی سی او که نه؟ اوکه ضرورت دمضمضې سته؟

**جواب**: خوله پرېولل بياهم بهتردی اوکه يې نه ومينځی نو هم به لمونځ وسی. (١) فقط

**دامام دقتليدلو په وخت کې مقتديان نيت ماتولی سی اوکه نه؟** **سوال**: (١٥٧٠) که چيری دجَمعی په حالت کی دښمن راسی اوامام قتلوی نو مقتديان نيت مات کړی او دښمن ونيسی اوکه څه وکړی؟

**جواب**: حنفی فقهاؤ ليکلی دی چه داِحياء نفس (ديو نفس دژوند دخوندي کولو) دپاره لمونځ ماتول واجب دی. په شامی او در المختار کی دی: ويجب القطع لإنجاء غريقٍ او حَريقٍ (٢) الخ لهٰذاپه صورتِ مسئوله کی لمونځ ماتول اودامام ساتل پکاردی. او دحضرت عمرﷺ دشهادت قصه په لمانځه کی معروفه ده. اودحديثو په کتابونوکی ذکر سوی دی چه مقتديانو صحابه ؤ ﷺ بل صحابی امام کړی اولمونځ يې پوره کړی او بعضی صحابه ؤ ﷺ لمونځ مات کړی او قاتل يې ونيوی. فقط

**دبجلکی څخه په کښته لنګ يا پرتوګ سره لمونځ مکروهه دي**: **سوال**: (١٥٧١) که چيری پرتوګ دبجلکی څخه کښته وی نو په دې سره لمونځ مکروهه دی اوکه نه؟

**جواب**: مکروهه (٣) دی. فقط

**صرف په لنګ کی لمونځ درست دي**: **سوال**: (١٥٧٢) يو سړی وس لرونکی حاجی دی او دګرمی په موسم کی پنځه وخته لمونځ په يوه لنګ کی کم چه دزنګونانو څخه دوې ګوتی کښته وی او ديوبل څادرسره لمونځ کوی. بعضی وخت لمونځ صرف په همدغه لنګ کی کوی. نو دهغه لمونځ کيږی اوکه نه؟

**جواب**: چې صرف په همدغه لنګ کی کوی نودهغه لمونځ کيږی (٤) خو بهتره داده چه په

---

(١) قال اتی رسول الله ﷺ بخبز ولحم وهو في المسجد فأكل وأكلنا معه ثم قام فصلی وصلينا معه ولم نزد علی ان مسحنا ايدينا بالحصبآء رواه ابن ماجة (مشكوٰة كتاب الاطعمه ص٣٦٢) بالحصباء ای بالحجارات الصغار استعجالا للصلوة او بيانا للجواز (مرقاة ج۴ ص ٣٧٩). ظفير

(٢) الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب ادراك الفريضة ج١ ص٦٦٦، ويجب (قطع الصلوة) لاغاثة ملهوف وغريق وحريق (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة الخ ج١ ص٦١٣ ، ط. س. ج١ ص۶۵۴). ظفير

(٣) قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ماسفل من الكعبين من الازار فی النار رواه البخاری (مشكوٰة كتاب اللباس ص ٣٧٣) لان الصلوة فی الحرير مكروهة للرجال (الاشباه والنظائر ص١٩٧). ظفير

(٤) والرابع ستر عورته الخ وهی للرجل ما تحت سرته الی ماتحت ركبتيه (الدرالمختارعلی هامش رد المحتار =

صورت داستطاعت کی دلنګ او څادر یاقمیص اوپرتوګ اوخولۍ یاخولۍ او لنګوټه دواړو سره لمونځ وکړي داغوره دي. (١) فقط

**<u>دریښمي پرتوګانې سره لمونځ درست دي که نه؟</u> سوال**: (۱۵۷۳) ریښمي کپړه سړي ته حرامه ده او لمونځ ورسره مکروه دي، غاية الاوطار جلد اول ص۱۹۰، لیکن په فتاوٰی هندیه څلورم جلد کی یې لیکلي دي چه که چیرې دوریښمو دپرتوګانې سره لمونځ وکړي نو جائز دي مکروهه به نه وي لیکن اغوستونکی به دګناه مرتکب وي؟

**جواب**: داخو ظاهره ده چه وریښمي جامه سړي لره اغوستل حرام دي، اوپه دي سره لمونځ به هم مکروهه وي (٢) اوپه فتاویٰ هندیه کی یې غالبًا دلمونځ بی کراهته جواز ددي دپاره لیکلي دي چه دبعضو په نزد دوریښمو پرتوګانې جائز دي کذا فی الدرالمختار: وتکره التکة منه ای من الدیباج هو الصحیح وقیل لاباس به الخ وفی الشامی عن التتارخانیه ولاتکره تکة الحریر لانها لاتلبس وحدها، وفی شرح الجامع الصغیر لبعض المشائخ لاباس بتکة الحریر للرجال عند ابی حنیفة وذکر صدر الشهید انه یکره عندهما (٣). ددي روایت څخه یوه وجه دتطبیق هم معلومه سوه، چه صاحب دغایة الاوطار به دصاحبینو قول اخستی وي اوپه فتاویٰ هندیه کی به یې دامام صاحب قول اختیار کړي وي. ددي څخه علاوه په غایة الاوطار کی یې دوریښمو کپړه لیکلي ده دپرتوغانې سره یې بحث نه دی کړی. دکمربند (پرتوغانې) په کراهت کی اختلاف دی. کمامرّ. فقط

**<u>پرسرکاري کاغذ یاسرکاري بکس باندي لمونځ</u>: سوال**: (۱۵۷۴) که چیرې یوسړي دسرکاري دفتر څخه کاغذ یا دلرګی بکس بی اجازته راوړي اوپرهغه باندي جای نماز وغوړوي او لمونځ پرکوي نو لمونځ به یې ادا سي اوکه نه؟

**جواب**: لمونځ درباندي صحیح دي خومکروه دي. کما فی الارض المغصوبة (٤)، او اعاده یې واجبه نه ده. فقط

---

= باب شروط الصلوة ج۱ ص۳۷۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۰۴). ظفیر

(١) والمستحب ان یصلی الرجل فی ثلثة اثواب ازار وقمیص وعمامة ولوصلی فی ثوب واحدٍ متوشحا به جمیع بدنه کما یفعله القصار فی المَقصرة جاز من غیر کراهة مع تیسیر وجود الطاهر الزائد ولکن ترك الاستحباب (غنیة المستملی ص۳۳۷). ظفیر

(٢) لان الصلوة فی الحریر مکروهة للرجال بخلاف الصلوة فی الثوب النجس فانها غیر صحیة (الاشباه والنظائر فن ثانی کتاب الصلوة ص۱۹۷). ظفیر

(٣) ردالمحتار کتاب الحظر والاباحة فصل فی اللبس ج۵ ص۳۱۰ ، ط. س. ج۱ ص ۳۵۳ - ۳۵۴ . ظفیر

(٤) وکذا تکره فی اماکن کفوق کعبة الخ وارض مغصوبة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلوة ج۱ ص۳۵۴ ، ط. س. ج۱ ص ۳۷۹ - ۳۸۱). ظفیر

**دڅلورو آنو په نقصان باندې لمونځ ماتول ښنګه دي؟ سوال:** (١٥٧٦) که دڅلورو آنو نقصان کېږي نو لمونځ ماتول بې معصيته جائز دي اوکه نه؟

**جواب:** په درالمختار کې دي چه ديوه درهم مقدار په نقصان کېدلو باندې لمونځ ماتول درست دي اودرهم څلورو آنو ته نژ دي وي. اوشامي دبعضوفقهاؤ څخه تردې پرکم باندې هم دلمونځ ماتولو جواز نقل کړي دي. ليکن عام مشائخ پرهمدې خبره دي چه دڅلورو آنو په نقصان باندې قطع کولی سی. (١) فقط

**چه دننه ځای نه وي نو په دروازوکې دريدل ښنګه دي؟ سوال:** (١٥٧٧) په جومات کې دننه دصفونو پوره کولو څخه وروسته په دروازو کې درې ۳ یاڅلور لمونځ ګزار يو ځای سی ودريږي، په دې صورت کې چه کم لمونځ ګزار په دروازو کې ودريږي دهغوی لمونځ بې کراهته جائز دی اوکه مکروه؟

**جواب:** دفقهي په کتابونو کې ليکلي دي چه په دروازه کې لمونځ کول مکروهه دي ليکن که چيری دلمونځ ګزارو درش په وجه لکه ښنګه چه دجُمعي په ورځ کېږي که يوڅو يوڅو سړي په دروازوکې کم چه فراخه دي ودريږي نودضرورت په وخت کې په دې کې څه حرج نسته اوپه لمونځ کې خلل نه راځي. (٢) فقط

**دسرو زرو په سَلِۍ کې لمونځ مکروه دي: سوال:** (١٥٧٨) دسروزرو په سَلِۍ کې لمونځ کول ښنګه دي؟

**جواب:** دسرو زرو ګوتمۍ او سَلِۍ اغوستل هروخت دسړيانو دپاره حرام دي، کما في الحديث: نهٰی رسول الله ﷺ عن خاتم الذهب، الحديث (٣) نو کله چي دسرو زرو سلۍ اچول دنارينه ؤ لپاره په هروخت کي حرام دي، نو په لمونځ کی هم حرام دی او لمونځ سره

---

(١) ويباح قطعها لنحو قتل حيّة وند دابة وفَور قِدر وضياع ما قيمته درهم له اولغيره (در المختار) قال فی مجمع الروايات لان ما دونه حقير فلا يقطع الصلاة لاجله لكن ذكر فی المحيط فی الكفالة ان الحبس بالدانق يجوز فقطع الصلاة اولی هٰذا فی مال الغير اما فی ماله يقطع والاصح جوازه فيهما اهـ وتمامه فی الامداد والذی مشی عليه فی فتح القدير التقييد بالدرهم (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٢١٢، ط. س. ج١ ص٢٥٤). ظفير

(٢) وقيام الامام فی المحراب لا لسجوده فيه وقدماه خارجه لان العبرة للقدم مطلقا الخ وانفراد الامام علی الدكان الخ وكره عكسه فی الاصح وهٰذا كله عندعدم العذر لجمعة وعيد فلو قاموا علی الرفوف والامام علی الارض اوفی المحراب لضيق المكان لم يكره (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب مايكره فيها ج١ ص٢٠٤ - ٢٠٥ ، ط. س. ج١ ص ٢٤٥ - ٢٤٢. ظفير

(٣) عن علي ﷺ قال نهٰی رسول الله ﷺ عن لبس القسي والمعصفر وعن تختم للذهب الخ رواه مسلم (مشكوٰة باب الخاتم ص ٣٧٨). ظفير

دكراهته ادا كيږي يعني لمونځ كيږي خو مكروهه (١) دی.

**چه دځه ويلو څخه وروسته دامام څخه هيرسی، نو څه وكړي؟** **سوال**: (١٥٧٩) كه يوسړی په جهر لمونځ كی څه قدر قرآئت ولوستی اومخ ته ورڅخه هير سو. مقتدی فتح ورلره وركړه خوامام فتح وانه خسته. حتٰی چی په دويم بار او دريم بار باندی هم امام فتح وانه خسته بلكه لمونځ ئی مات كړی او دنوی سره ئی لمونځ پوره كړی. دامام دافعل جائز دی اوكه نه؟

**آياپه دی صورت كی دنوی سره شروع كړی؟** **سوال**: (١٥٨٠) كم سړی ته چی داسی صورت ورپيښ سی نوهغه ته لمونځ ماتول او دنوی سره تحريمه كول پكاردی اوكه بل ايت اوبل صورت ته اوښتل پكاردی، يعنی په صورت دعدم قراءة ما يجوز به الصلاة؟

**په پورته درج صورت كی پرلمونځ ماتولو باندی زور وركول غلط دی**: **سوال**: (١٥٨١) كه چيری يوسړی په پورتنی صورت كی دلمونځ دفسخ كولو اودنوی سره پرتحريمه باندی زور وركوی اوبل ايت اوصورت ته اوښتلو ته ناجائز وائی او دلمونځ په فسخ كولو كی هغه عبارت حجت نيسی كم چی دسهار دسنتونو سره تعلق لری: اذا خاف فوت الجماعة يتركها، په پورتنی صورت كی داعبارت دلمونځ دفسخ كولو دليل جوړول صحيح دی اوكه نه؟

**ديتركها څه معنٰی ده؟** **سوال**: (١٥٨٢) په ذكر سوی عبارت كی د: يَتْرُكُهَا دا معنٰی ده چه كه چيری چا دجَمع (دريدو) څخه وروسته سُنت شروع كړل او دشروع كولو څخه وروسته ورسره دجَمعی فوت كيدلو بيره پيداسی، نو سُنت دی مات كړی اوپه جَمع كی دی شريك سی. لفظ د: يَتْرُكُهَا دواړو صورتونو ته شامل دی اوكه يوه صورت ته اوكم صورت ته. كه چيری ثانی صورت ته شامل وی نو دحديث (لا تبطلوا اعمالكم) څه مطلب دی؟

**جواب**: (١، ٢) امام لره په دغه صورت كی فتح اخستل پكار وه، يا ورلره دبل آيت ياسورة طرفته انتقال كول پكار وو. اوكه چيری په قدر د: مَا يَجُوْزُ بِهِ الصَّلٰوةُ، يا دمستحب په اندازه قرآئت سوی وو، نو ركوع كول پكار وو. لمونځ ماتول په داسی حالت كی فقهاؤ نه دی ليكلی. ردالمحتار، تتمه يكره ان يفتح من ساعة كما يكره للامام ان يلجئه اليه بل ينتقل الی آية اخری لا يلزم من وصلها ما يفسد الصلوة والی سورة اخرٰی او يركع اذا قرأ قدر الفرض كما جزم به الزيلعی وغيره فی روايته قدر المستحب كما رجحه الكمال ؒ وفی الدرالمختار بخلاف فاتحه علی امامه فانه لايفسد مطلقًا لفاتح وآخذ بكل حالٍ ؒ

(١) لان الصلوة فی الحرير مكروهة للرجال (شرح حموی علی الاشباه والنظائر ص١٩٧). ظفير

وفی الشامی قوله بکل حال ای سواء قرء الامام ما تجوز به الصلٰوة ام لا انتقل الی آیة اخری ام لا تکرر الفتح ام لا هو الاصح (١) نوکله چه فقهاؤ دومره وسعت په دی کی ایښی دی نوبیا لمونځ ماتول مناسب نه ؤ، اوپه حکم دایت په دی حالت کی لمونځ ماتول ممنوع ؤو.

(٣) دا خبره پورته واضحه سوه چه په داسی حالت کی فقهاؤ فتحه اخیستل یا انتقال اِلی آیَةٍ اُخْرٰی او یا اِلی سُوْرَةٍ اُخریٰ جائز ګڼلی دی. نودی ته ناجائز ویل اولمونځ ماتول او پر دوباره پرتحریمه تړلو باندی زور ورکول دجهل په وجه دی. په شرعی مسائلو باندی عالم او فقیه داسی نسی ویلی، اودا احتیاط نه دی بلکه وهم دی او خطاده. اومذکوره عبارت په دی باره کی دلیل راوړل اودجواز صریح روایات اودفقهاؤ حکم پرېښول بل جهل دی. او دا استدلال غلط دی دیتْرُکْهَا دا معنٰی ده چه نه دی شروع کوی. دانه چه دشروع کولو څخه وروسته دی مات کړی. دشروع کولو څخه وروسته دقطع کولو ممانعت فقهاؤ په ډاګه لیکلی دی: والشارع في النفل لا يقطع مطلقا ويتمه ركعتين وكذا سنة الظهر وسنة الجمعة اذا اقيمت او خطب الامام يتمها اربعًا على القول الراجح لانها صلوٰة واحدة وليس القطع للاكمال بل للابطال خلافا كما رجحه الكمال (درالمختار) قوله خلافًا لما رجحه الكمال حيث قال وقيل يقطع على رأس الركعتين وهو الراجح الخ شامی (٢). فقط

**دلمونځ ګزارو مخ ته په څومره فاصلی سره تیریدل پکاردي**: **سوال**: (١٥٨٣) دجُمعی په ورځ اکثره سړی دلمونځ ګزارو مخ ته تیر یږی. آیا څه فاصله هم مقرره ده چه ددغه فاصلی څخه تیریدل جائز دی؟

**جواب**: په لوی جومات کی که چیری په هغه ځای کي څوك تیر سي چي دلمونځ کوونکي نظر نه ورباندي لګیږي (په هغه صورت کي چي دلمونځ کوونکي نظر دسجدې پرځای وي) نو دلمونځ ګزار مخ ته که سړی تیرسی نو درست دی. او په کوچنی جومات کی کم چه ترلسو ١٠ لاسونو کم وی مخ ته تیریدل په هیڅ ځای کی هم درست نه دی. کذا فی الدر المختار. (٣) فقط

---

(١) رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص٥٨٢ ، ط. س. ج١ ص٦٢٢ – ٦٢٣ . ظفیر

(٢) رد المحتار باب ادراك الفريضة ج١ ص ٦٢٨ ، ط. س. ج٢ ص ٥٣ . ظفیر

(٣) ولایفسدها نظره الی مکتوب الخ ومرور مار فی الصحراء وفی مسجد کبیر بموضع سجوده فی الاصح او مرور بین یدیه ای حائط القبلة فی بیت ومسجد صغیر فانه کبقعة واحدة مطلقًا الخ وان اثم المار لحدیث البزار ولو یعلم المار ماذا علیه من الوزر لوقف اربعین خریفا (درمختار) قوله مسجد صغیر وهو اقل من ستین ذراعًا وقیل من اربعین وهو المختار کما اشار فی الجواهر، قهستانی (ردالمحتار باب مایفسد الصلٰوة ومایکره فیها ج١ ص٥٩٣ ، ط. س. ج١ ص٦٣٤). ظفیر

**دلمانځه څخه وروسته په لوړ آواز سره کلمه ویل څنګه دي؟ سوال**: (۱۵۸۴) وعن عبدالله بن زبیر قال کان رسول الله ﷺ اذا سلم من صلٰوته یقول بصوته الاعلٰی لا اله لا الله، وحده لا شریك له له الملك وله الحمدوهو علٰی کل شی قدیر لاحول ولا قوة الا بالله ولا نعبد الا ایاه له النعمة وله الفضل وله الثناء الحسن لا اله الا الله مخلصین له الدین ولو کره الکافرون، رواه مسلم مشکوٰة شریف باب الذکر بعد الصلٰوة. یو سړی دلمونځ څخه وروسته دپورته لیکل سوی حدیث په موجب دری ۳ واری کلمه شریفه په لوړ آواز سره وایی، په دی باره کی څه حکم دی؟

**جواب**: عالمان په لوړ آواز سره کلمه طیبه دلمونځ څخه وروسته په خاص کیفیت سره دویلو څخه منع کوی ولی چه دا داهلِ بدعت شِعار سوی دی اواصل په داسی اذکارو کی چونکه په کرار ویل دی لکه څنګه چه وارد دی (اِنَّکُمْ لاَ تَدْعُوْنَ اَصَمَّ وَلاَ غَآئِبَ) اودحضرت رسول ﷺ په لوړ آواز سره ویل دتعلیم په غرض ؤ. ددی وجه څخه نور خلق دجهر مُفْرِط څخه پرداسی موقع باندی بندیږی. او بهتره داده چه داټول کلمه ترآخره پوری وویل سی او آواز دی زیات لوړ نه کړل سی چه په هغه سره نورو لمونځ ګزارو اوذکر کونکی ته تکلیف ورسیږي. ([1])

**په تصویر والاجامو کی لمونځ کیږي اوکه نه؟ سوال**: (۱۵۸۵) تصویرکه پرجامی باندی وی نو ددغه جامی سره به لمونځ وسی اوکه نه؟

**جواب**: که دساه لرونکي شي تصویر ؤ نه کیږي اوکه دبی ساه شي وي نو وبه سی. ([2])

**چه شمله زیاته وی نو ایا لمونځ مکروه تحریمی کیږی**: **سوال**: (۱۵۸۶) لنګوټه تړل څومره سنت دی، او دهغې شمله پرېښوول څومره سنت دي؟ که چیری یې څوك ترکوناټو پوری پریږدی نو لمونځ مکروهِ تحریمی کیږی. په دی کی شرعًا څه حکم دی؟

**جواب**: په در المختار کی دی چه دلنګوټې شمله شاته پرېښول مستحب دی. اودشا تر مینځه پوری یې کیدل مستحب دی. اوبعضو ویلی دی چه یوه لویشت به وی. اودا ویل ددغه سړی چه که چیری دپاؤ باندی لویشت څخه زیاته شمله پریږدی نو لمونځ به مکروه

([1]) ویکره الاعطاء الخ ورفع صوت بذکر (درمختار) فتارة قال انه حرام وتارة قال انه جائز ؒلانه حیث خیف الریاء اوتاذی المسلمین اوالنیام ؒ (ردالمحتار مطلب رفع الصوت بالذکر ج۱ ص۲۱۸، ط. س. ج۱ ص۲۵۹). ظفیر

([2]) وکره الخ لبس فیه تمائیل ذی روح (مختار) ویاتی ان غیر ذی الروح لایکره (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج۱ ص۲۰۵ ، ط. س. ج۱ ص ۲۴۴ – ۲۴۷) قوله ولبس ثوب فیه تصاویر لانه یشبه حامل الصنم فیکره وفی الخلاصة وتکره التصاویر علی الثوب صلی فیه اولم یصل اه وهذه الکراهة تحریمیة (البحر الرآئق، باب مایفسد الصلاة وما یکره فیها ج۲ ص۷۲). ظفیر

تحریمي سي داغلط دی. شمله دشا ترمینځ پوری کیدل یایوه لویشت کیدل داټول دمستحبو أمورو څخه دی ددی خلاف مکروه تحریمي نه دی اوپه لمونځ کی هیڅ کراهت رانغي. دشملی په باره کی یو قول په در المختار کی داهم دی چه دناستی ترځای پوری دشملی کیدل مستحب دی. (۱) ددی څخه معلومه سوه چه دملا تربیخ پوری یعنی دکوناټو تر شروع پوری دشملی کیدل هم مکروهه نه دی. خلاصه دا ده چه دا ځومره اقوال چه دی داستحباب باره کی دی، باقی ګناه په هیڅ حال کی نسته که شمله کوچنی وی اوکه لویه. همدغه شان دلنګوټی داوږدوالی شرعًا هیڅ حدخاص نسته. دحضور ﷺ لنګوټه به کله دولس لاسه وه اوکله اووه لاسه، اونورو ته هغوی ﷺ دځه خاص اوږدوالی حکم نه ؤو فرمایلی. نوځرنګه چه عادت وی اودځومره ترلو چي عادت وی ودی تړی، هیڅ وهم دی نه کوی. (۲) فقط

**په ریشمي جامه کی سوی لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال:** (۱۵۸۷) بی دشرعی ضرورت څخه ریښمي جامه اغوستل سړی ته اولمونځ پکښي کول مکروه تحریمي دی اوکه مکروه تنزیهي اوپر اولني تقدیر دلمونځ اعاده به واجب وی او که نه ؟

**جواب:** په ظاهره (لمونځ) مکروه تحریمي دی اواعاده یې واجبه ده کما من وجوب الاعادة بالصلٰوة فی ثوب فیه صورة بمنزلة من یصلی وهو حامل صنم (۳) الخ ص۳۰۷ جلد اول فی بیان واجبات الصلٰوة. فقط

**په خیرنو جامو کی لمونځ مکروه دی اوکه نه؟ سوال:** (۱۵۸۸) خیرنی جامی او دتیر کال ګرمی جامی په ثیاب بَذله کی داخلی دی اوکه نه؟ او لمونځ به په دی کی جائز وی یا مکروه ؟

**جواب:** دغه جامی دخیرن والی په وجهی سره ثیابِ بذله نه سوی، هم دغه شان دتیر کال ګرمی جامی په ثیابِ بذله کی داخلی نه دی. لهٰذاپه هغی کی به لمونځ مکروه نه وی. (۴)

---

(۱) وندب لبس السواد وارسال ذنب العمامة بین کتفیه الی وسط الظهر وقیل لموضع الجلوس وقیل شبر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مسائل شتٰی ج۵ ص۲۲۰ ، ط. س. ج۱ ص۷۵۵). ظفیر

(۲) ذکر فیه انه کان له صلی الله علیه وسلّم عمامة قصیرة وعمامة طویلة وان القصیرة کانت سبعة اذرع والطویلة اثنی عشر ذراعا (مرقاة المفاتیح، کتاب اللباس ج۴ ص۴۲۷). ظفیر

(۳) ردالمحتار باب صفة الصلٰوة مطلب واجبات الصلاة ج۱ ص۴۲۲، ط. س. ج۱ ص۴۵۷، په شرح حموی کی دی: لان الصلاة فی الحریر مکروهة للرجال. ظفیر

(۴) وصلاته فی ثیاب بذلة یلبسها فی بیته ومهنته ای خدمته ان له غیرها والاّ لا (درالمختار) وفسّرها فی شرح الوقایة بما یلبسه فی بیته لا یذهب به الی الاکابر والظاهر ان الکراهة تنزیهیة (ردالمحتار باب مایفسد الصلٰوة ومایکره فیها ج۱ ص ۵۹۹ ، ط. س. ج۱ ص۲۴۰). ظفیر

**دلمونځ څخه وروسته چپه طرف ته په ګرځیدلو سره دُعا کول څنګه دي؟ سوال:** (١٥٨٩) زید دمازدیګر په لمونځ کی امام ؤ دسلام څخه وروسته یې چپه طرفته مخ کړی، او مناجات یې وکړل. داجائز دی که نه ؟

**جواب:** دکمو لمونځونو څخه وروسته چه سنت نسته لکه سهار او مازدیګر په دی کی امام ته اختیار دی که راسته طرفته مخ کوی کنبینی اوکه چپه طرفته، او دحدیث شریف څخه دواړي خبری ثابتی دی او حنفی فقهاؤ هم په دواړو کی اختیار ورکړی دی. اوچپه طرف ته پرمخ کونکی باندی طعن (اواعتراض) کول جهالت دی ددینی مسائلو څخه. (١) فقط

**په لمونځ کی درحمت عالم ﷺ خیال راتلل او راوستل څنګه دي؟ سوال:** (١٥٩٠) که چیری په لمونځ کی درسول الله ﷺ خیال راسی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟. که یې چیری په لمونځ کی خیال راوستی نو څه حکم دی؟

**جواب:** کله چه په لمانځه کی پخپله په التحیات کی اودُرود شریف کی دحضور ﷺ ذکر دی نو خیال راتلل ضروری سوه. باقی لمونځ خالص عبادت دالله ﷻ دپاره دی، دغیر الله خیال علی سبیل التعظیم والعبادۃ راتلل نه دي پکار. او لمونځ په هر حالت کی صحیح دی ولی چه پرخیال باندی سوال اوجواب نسته. (٢) فقط

**په محراب کی دلمونځ ګزار یوازي لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال:** (١٥٩١\١) په محراب کی دیوازی لمونځ ګزار لمونځ درست دی اوکه نه؟

**په محراب کی ودریدی امامت یې وکړي نو لمونځ وسو اوکه نه ؟ سوال:** (١٥٩٢\٢) په مذکور محراب کی که چیری امام ودریږی او لمونځ ورکړي نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

**په محراب کی به دمقتدی لمونځ وسی اوکه نه؟ سوال:** (١٥٩٣\٣) په مذکور محراب کی به دمقتدی لمونځ وسی اوکه نه؟

**امام په څو مره لوړوالی کی امامت کولی سی؟ سوال:** (١٥٩۴\۴) امام چه په څومره لوړوالي کی ودریږی نو امامت کولی سی؟

---

(١) وخیّر فی المنیة بین تحویله یمینا وشمالا واماما وخلفا وذهابه لبیته واستقباله الناس بوجهه ولودون عشرة مالم یکن بحذائه مصلی ولو بعیدا علی المذهب (درمختار) لکن التخییر الذی فی المنیة هو انه ان کان فی صلاة تطوع بعدها فان شاء انحرف عن یمینه او یساره اوذهب الی حوائجه اواستقبل الناس بوجه الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص۴٩٢ ، ط. س. ج١ ص٥٣١). ظفیر

(٢) عن ابی هریرة ﷺ قال قال رسو الله ﷺ ان الله تجاوز عن امتی ما وسوسوت به صدرها ما لم تعمل به او تتکلم متفق علیه (مشکوٰۃ باب فی الوسوسه ص١٨). ظفیر

**امام پر څومره لوړوالی باندی دریدی سی؟ سوال**: (۱۵۹۵\۵) دصحن دتنگوالی په عُذر یا دځنګل وغیره مزکي دنابرابري کیدلو په وجه امام ترڅومره لوړوالی پوری دریدی سی او لمونځ ورکولی سی کم چه مکروهه نه وی ؟

**په قصد سره دمکروه ارتکاب په لمونځ کی څنګه دی؟ سوال**: (۱۵۹۶\۲) که چیری په قصد سره په لمونځ کی دمکروه فعل ارتکاب وکړی نو لمونځ کیږی اوکه نه؟ او ګنهګاریږی او که نه ؟

**دیو مولوی فتوٰی**: **سوال**: (۱۵۹۷\۷) مولوی اشرف علی صاحب سلمه تحریر فرمایلی دی، چه امام ته دومره لوړ دریدل مکروهه دی، چه کتونکی ته لوړ معلومیږی؟

**په څومره لوړوالی سجده کولی سی؟ سوال**: (۱۵۹۸\۸) که چیری دمقتدی دسطحی سره برابر امام ودریږی او سجده په لوړوالی باندی کوی نو دهغه دپاره دڅومره لوړوالی اجازت دی، دامام څخه مقتدیان پر څومره لوړوالی باندی دریدی سی؟

**مقتدی ترامام لوړ دریدی سی که نه؟ سوال**: (۱۵۹۹\۹) ترامام مقتدیان په څومره لوړوالی باندی دریدی سی؟

**چه امام یوه لویشت لوړ ولاړ وی، نو څه حکم دی؟ سوال**: (۱۶۰۰\۱۰) که چیری دجومات ددروازی چَوکاټ یاکرسی یا چوتره تریوی لویشتي کم لوړ وی نوپرهغه باندی په دریدلو سره امام امامت کولای سی اوکه نه ؟

**چه تکبیرونه او سلام دامام سره ونه کړی او مخکی ختم کړی ، نو څه حکم دی؟ سوال**: (۱۶۰۱\۱۱) تکبیر تحریمه یا نور تکبیرونه یا دواړه سلامونه دلمونځ دختمیدلو یا دسجده سهوی سلام چي شروع خو کړل سی دامام سره یعني ترامام لږ وروسته لیکن ختم سی دامام څخه مخکی نو دمقتدی لمونځ به وسی او که نه؟

**کم مقتدی چه دامام څخه مخکی رکوع او سجده کوی دهغه لمونځ کیږی او که نه ؟ سوال**: (۱۶۰۲\۱۲) که چیری مقتدی دامام څخه مخکی رکوع یا سجده یا قومه وغیره وکړی نو دمقتدی لمونځ به وسی اوکه نه؟ اودامام څخه مخکی دسجده کوونکی مقتدی سر به دخره په شان کیږی اوکه نه؟

**دخوب په غلبه کی په امام پسی لمونځ کیږی اوکه نه؟ سوال**: (۱۶۰۳\۱۳) که چیری په لمانځه کی مقتدی په امام پسی په رکوع، سجده، قومه، قیام، قعده وغیره کی دخوب دوجهي څخه کوږ کوږ کیږي نو په دی صورتونو کی دمقتدی لمونځ کیږی اوکه نه؟

**چه مقتدی دلمونځ دختمیدلو څخه مخکی سلام وګرځوی، نوڅه حکم دی؟ سوال**: (۱۶۰۴\۱۴) که چیری مقتدی دلمونځ دختمیدلو څخه مخکی سلام وګرځوی، او فوراً

دوریادیدلو څخه وروسته دخبرو کولو څخه بغیر لمونځ دامام سره پوره کړی نولمونځ به وسی اوکه نه؟

**دخوب په غلبه کی لمونځ اداء کړی اوکه یې پریږدی؟ سوال:** (١٢٠٥\١٥) دخوب په غلبی یا اړږمي کی دلمونځ څه حکم دی، اداء یې کړی اوکه یې پریږدی؟

**که په لمونځ کی خارښت وربانده‌ی راڅی نو څه وکړی؟ سوال:** (١٢٠٦\١٢) چي په لمونځ کی خارښت څوواری دلاس په واسطه په ګرولو سره دفع کړل سی، یا دپزی څخه څو واری (عطس) پریچی وایستل سی، اودری واری داسي وکړل سي نو دلمونځ مفسد خونه دی؟

**که چیری قومه په اطمینان سره ونه کړی نو څه حکم دی ؟ سوال:** (١٢٠٧\١٧) چه په لمونځ کی قومه او جلسه په اطمینان سره په ښه ډول ونه کړی سی نو ددغه لمونځ څه حکم دی؟

**چه نکریزی ولګوی نو لمونځ درست دی اوکه نه؟ سوال:** (١٢٠٨\١٨) چه سړی نکریزی ولګوی اوپه ناسته لمونځ کوی نو جائزدی اوکه نه؟

**په بندو موټانو سره لمونځ: سوال:** (١٢٠٩\١٩) چه په لاسونو نکریزی پوری کړی اوپه بَندو مُوټو سره لمونځ کوی نو جائز دی که نه؟

**جواب:** (١) درست دی.

(٢) لمونځ به وسی خو دامام دا فعل مکروه دی، اوپه لمونځ کی به کراهت وی.

(٣) وبه سی. (مثل مقصورة دمشق التی هی فی وسط المسجد خارج الحائط القبلی یکون الصف الاول بینهما مایلی الامام فی داخلها وما تصل به من طرفیها خارجا عنها من اوّل الجدار الی آخره فلا منقطع الصف بیناتها کما لا ینقطع بالمنبر الذی هو دخلها شامی ج١ص ٥٩٥ جمیل الرحمٰن).

(٤) په درمختار کی دی: وانفرد الامام علی الدکان للنهی وقدر الارتفاع بذراع ولا باس بما دونه وقیل مایقع به الامتیاز وهو الاوجه ذکره الکمال (درمختار) علأمه شامی په دی باندی لیکلی دی قوله: وقیل هو ظاهر الروایة قال فی البحر والحاصل ان التصحیح قد اختلفت والاولی العمل بظاهر الروایة واطلاق الحدیث وکذا رجحه فی الحلیة ([1]) .

دنهی حدیث دادی قوله للنهی وهو ما اخرجه الحاکم انه ﷺ نهی لن یقوم الامام فوق ویبقی الناس خلفه الخ شامی. ([2]) نو معلومه سوه چه په یوه روایت کی دیوه لاس په

([1]) و([2]) رد المحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص٢٠٤ – ٢٠٥، ط. س. ج١ ص٦٤٦. ظفیر

لوړوالی باندی دامام دریدل مکروهه دی او ظاهر روایت دادی چه په دومره اندازه کی لوړیدل په کم سره چه امتیاز وی اودلیری څخه کتونکی یې لوړ ګڼی مکروهه دی لکه څنګه چه مولانا اشرف علی صاحب تحریر فرمایلی دی. په بحر کی یې فرمایلی دی چه په دی باندی عمل اولیٰ دی ځکه چه داظاهر الروایة دی اوحدیث مقتضیٰ هم دغه ده. بیا وړاندی په درمختار کی دی: وهٰذا کله عند عدم العذر کجمعة وعید فلو قاموا علی الرفوف والامام علی الارض او فی المحراب لضیق المکان لم یکره (١) ددی څخه معلومه سوه چه که چیری عُذروی نوامام لره پرلوړ ځای باندی دریدل درست دی اګر چه لوړوالی ممتاز وی یادذِرَاع په اندازه وی. لیکن عُذر اِزدحام دخلګو اوتنګوالی دمکان دی. لمر اوسایه عُذرنه دی. ددی تقریر اوذکر سوو عبارتونو څخه ستاسو دسوالونو جواب حاصل سو.

(۵) دومره لوړ دي نه دریږی چه امتیاز حاصل سی او مقدار ددی یوذارع دی، په عُذرکی چه امام پر هرڅومره لوړ ځای باندی هم دریږی کراهت مرتفع دی.

(٦) لمونځ کیږی خو نقصان ورسره دی او قصداً داسی کول دګناه سبب دی.

(٧) معلومه سوه چه دا ظاهر الروایت دی.

(٨) په دی کی څه قید نسته ترکم لوړوالی پوری چه دسجدی مفهوم باقی پاتی وی اجازت دی. (السجدة هي فريضة تتادى بوضع الجبهة على الارض اوما يتصل بها بشرط الانخفاض الزائد على نهاية الركوع مع الخروج عن حد القيام لانه لا يعد ساجدا لغة وعرفا لمادونه ويعدّ به الخ ذكر الزاهدى لو سجد المريض على دكان دون صدره يجوز كالصحيح الخ كبيرى ص٢٧٨وص٢٨١ جميل الرحمٰن).

(٩) که چیری څه مقتدیان دامام سره وی بیا خو بعضی مقتدیان که په څومره لوړوالی باندی ودریږی جائزدی لکه چَت وغیره اوکه چیری امام یوازي لاندی وی اوټول مقتدیان پرلوړ ځای باندی وی نو دهغی هم هغه حد دی کم چه دامام دپاره یعنی په قدر دیوه ذراع یاپه قدر د مَا يَقَعُ بِهِ الْاِمْتِيَاز وي، که چیری مقتدیان لوړ وی نو لمونځ به مکروهه وی. وانفراد الامام على الدكان الي قوله لم يكره كما لو كان معه بعض القوم.

(١٠) ددی اندازی لوړوالی په وجهی سره به لمونځ مکروهه نه وی لیکن په دروازه کی دریدل امام لره مکروهه دی لکه څنګه چه پورته معلومه سوه.

(١١) دتکبیر په باره کی په درمختار کی دی: فلو قال الله مع الامام واكبر قبله لم يصح (ترجمه) نوکه یې چیری الله دامام سره ووایه او اَکْبَرْ یې دامام څخه مخکی ووایه، نو

(١) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٢٠٥، ط. س. ج١ ص٦٤٢. ظفير

لمونځ نه کیږي. اودسلام په باره کی په درالمختار کی دی: وتنقض قدوة بالاول قبل علیکم (۱) نو معلومه سوه چه دسلام په صورت کی به لمونځ وسی.
(۱۳،۱۲) که چیری دامام څخه مخکی رکوع او سجدی ته ولاړی نوکه چیری امام هم په هغه کی شامل سو نو دغه رکوع او سجده وسوه کنی ونسوه. اوهغه حدیث دادی: اما یخشی الذی یرفع راسه قبل الامام ان یحول راسه راس حمارٍ (۲). متفق علیه، (ترجمه) آیا نه بیریږی هغه سړی ځوك چه دامام څخه مخکی سر لوړوی چه دهغه سر دخره په شان سی. په حاشیه کی دی: ولعل المراد تحویله فی الآخرة لا فی الدنیا. اودابن حجرڅخه هم منقول دی چه که په دنیا کی هم دچا دپاره وسی نو مُستبعَد نه دی کما نُقل عن البعض.
(۱۴) په دی ټولو صورتونو کی لمونځ کیږی.
(۱۵) الا السلام ساهیا للتحلیل ای للخروج من الصلوة قبل اتمامها علی ظن اکمالها فلا یفید (درمختار) لمونځ به وسی.
(۱۶) لمونځ دی نه پریږدی هر رنګه چه وی خوب اوسُستی دی دفع کړی (مثلا داچي مخ په یخو اوبو پرېولي او یا اودس په یخو اوبو وکړي نو خوب به یې رفع سي) او لمونځ دی وکړی قضا کوی دی نه.
(۱۷) خارښت که هرڅومره واری وی ګرول یې درست دی لمونځ نه ماتَوي: ویفسدها کلّ عمل کثیر ما لا یشك بسببه الناظرین بعید فی فاعله انه لیس فیها (درمختار بیان مفسدات الصلوٰة) ددُرمختار ددی تصحیح له وجهي خارش اګرچه په ډیرواری وی، دعمل کثیر دتعریف څخه خارج دی) دپوزی څخه پریچی ایستل بده خبره ده اګرچه لمونځ په دی سره نه فاسدیږی خودا مکروهه دی. اوکم ځای چه لمونځ فاسدیږی، هلته اعاده لازمه ده.
(۱۸) لمونځ مکروه کیږی اوداسی لمونځ واجب الاعاده دی. یعنی واجب دی چه اعاده یې وکړی په سبب دواجب دترك. (فی الدرالمختار: وکذا فی الرفع فیهما، ج۱ص ۴۸۲، جمیل الرحمٰن).
(۱۹) جائز نه دی. (۳)
(۲۰) په دې سره ترك دسُنتو واجبیږی دی دپاره مکروه (۴) دی.

---

(۱) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار . باب صفة الصلوة واجبات الصلوة ج۱ ص۴۳۲، ط. س. ج۱ ص۴۲۸. ظفیر
(۲) مشکوٰة. ظفیر
(۳) ولی چه قیام کم چه فرض دی بغیر دعُذر څخه پاته سو. ظفیر
(۴) ولی چه دلمونځ په هر رکن کی مُوټان خلاص ساتل مسنون دی. جمیل الرحمٰن

**په مقبره کې لمونځ جائز دي که نه؟ سوال:** (١٢١٠) په مقبره کی لمونځ جائز دی که نه؟

**جواب:** که چیری په مقبره کی یوځای صفا اوسُتره دلمونځ دپاره وی اوپه هغه کی نجاست اوقبر نه وی او دلمونځ گزار مخ ته دقبلی طرف ته هیڅ قبرنه وی، نو لمونځ جائز دی بغیر دکراهت تحریمیه څخه، اوکه چیری مخامخ قبر وی یا پخپله په هغه ځای کی قبر وی چیري چه لمونځ کوی نو مکروه تحریمی دی. په شامی کی دی: ولاباس بالصلوة فیها اذا کان فیها موضع اعد للصلوة ولیس فیه قبر ولا نجاسة، کما فی الخانیة ولا قبلة الی قبر (١) الخ او دلفظ د: لاباس څخه دومره ضرور معلومیږی، چه په مقبره کی لمونځ کول ښه نه دی.

**که یې باد بندکړی نو لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال:** (١٢١١) دکم سړی چه دقبض په وجه باد ژر ژر خارجیږی که چیری هغه یې بند کړی او لمونځ اداء کوی نوآیا لمونځ به صحیح سی؟

**جواب:** لمونځ یې صحیح (٢) دی. فقط

**چه لمونځ گزارته مخامخ دپیپل درخته وی نو لمونځ ورسره نه مکروه کیږی: سوال:** (١٢١٢) که چیری لمونځ گزارته مخامخ دپیپل درخته وی نو لمونځ به وسی اوکه نه؟

**جواب:** لمونځ صحیح دی. په دی کی څه کراهت هم نسته.

**په متیازو حصارولو سره په جَمع کی شریکیدل مکروهه دی: سوال:** (١٢١٣) یوسړی ته دتشو متیازو ضرورت پیښ سو هغه حاجت موقوف کړی، اوپه جَمع سره یې لمونځ اداء کړی او دمثانی په قوت سره یې متیازی بندولی، وروسته یې متیازی وکړی. په دی حالت کی دلمونځ څه حکم دی؟

**جواب:** په دی حالت کی لمونځ مکروه تحریمی دی لیکن داهغه وخت دی چه دتشو یاړکو متیازو داسی تکلیف وی چه دده زړه په هغه کی مشغول وی. کما فی الشامی: قوله صلٰوته مع مدافعته الاخبثین البول والغایط. قال فی الخزائن سواء کان بعد شروعه او قبله فان شغله قطعه ان لم یخف فوت الوقت الخ (٣).

**چه په جیب کی روپی وی نو هم لمونځ کیږی: سوال:** (١٢١٤) که چیری روپی یا پیسی د

---

(١) ردالمحتار کتاب الصلوة ج١ ص٣٥٣ ، ط. س. ج١ ص٣٨٠. ظفیر

(٢) یجب رد عذره او تقلیله بقدر قدرته الخ وبرده لا یبقی ذاعذر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار احکام المعذور ج١ ص٢٨٣ ، ط. س. ج١ ص٣٠٧). ظفیر

(٣) ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص٢٠٠ ، ط. س. ج١ ص٢٧٢. ظفیر

واسکټ په جیب کی وی اودنیت تړلو په وخت کی ترلاس لاندی وی نوآیا لمونځ کیږی؟
**جواب:** لمونځ په دی حالت کی بی کراهته صحیح دی ([1]).

**دوریښمو او سروزرو سره لمونځ کیږی اوکه نه؟** **سوال:** (١٢١۵) که چیری یوسړی بی عذره ریښم اوسره زر اغوندی او لمونځ ورسره کوی نو دهغه لمونځ به وسی اوکه نه؟ دبعضو احبابو خیال دی چه سره زر اوریښم دسړیانو دپاره اغوستل حرام دی لیکن که چیری وایی غوندی او لمونځ ورسره وکړی نو لمونځ به وسی. داصحیح ده اوکه نه؟
**جواب:** ریښمی جامه اوسره زر بیشکه دسړیانو دپاره حرام دی. او کم لمونځ چه دديِ سره وکړل سی هغه صحیح دی، خو ظاهره ده چه کله دوریښمو اوسرو زرو استعمال سړیانو لره هروخت حرام دی نو په لمونځ کی هم حرام دی لیکن چونکه دادواړه نجس نه دی، ددی وجه څخه لمونځ وسو. ([2]) فقط

**کم لمونځ چه دتعدیل ارکان څخه خالي وي، دهغه څه حکم دی؟** **سوال:** (١٢١٦) دیو سړی عمر شل کاله دی په دی موده کی هغه هیڅ یو لمونځ درست نه دی کړی صرف دوې ډغری ووهی اولمونځ ختم کړی. دا لمونځونه وسوه اوکه نه؟ که چیری اعاده یې کوی نو صرف فرض به ادا کوی او که سُنت به هم کوی؟
**جواب:** کم لمونځونه چه دارکانو دتعدیل سره ادا نسوه اګرچه هغه سوی دی لیکن دهغو راګرځول ښه دی. دفرضو او وترو اعاده دی وکړی او دسنتو اعاده دی نه کوی. فقط

**په محراب کی دامام دریدل:** **سوال:** (١٢١٧) امام لره دجومات په محراب کی دریدل څنګه دی فقهاء چه دی ته مکروه وایی نو ددی څه دلیل دی؟ آیا دجومات دروازې هم دمحراب حکم لری؟ اودا محراب جوړول دڅه دپاره دی؟ فقهاؤ په کم کتاب کی ددی تصریح کړی ده چه دروازه دمحراب حکم لری؟ که چیری داسی تصریح فقهاؤ کړی وی نو هغه دی نقل وفرمایل سی. اودعلامه شامی په دؤو عبارتونو کی تعارض معلومیږی. په درمختار کی دی: وقیام الامام فی المحراب ای یکره لا سجوده فیه وقدماه خارجه الخ په شامی کی دی: والاصح ما روی عن ابی حنیفة رحمه الله انه قال اکره للامام ان یقوم بین ساریتین او زاویة او ناحیة المسجد او الی ساریة لانه بخلاف عمل الامة اهـ وفیه ایضا: ومقتضاه ان الامام لوترك المحراب وقام فی غیره یکره ولوکان قیامه وسط الصف لانه خلاف عن

---

([1]) ولایکره لوکانت تحت قدمیه او فی یده عبارة الشمنی بدنه لانها مستورة بثیابه الخ ومفاده کراهة المستبین لا المستتر بکیس او صرة او ثوب اخر (درمختار) بان صلی ومعه صرة او کیس فیه دنانیر اودراهم فیها صور صغار فلا تکره لاستتارها (ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ویکره فیها ج١ ص٢٠٢ – ٢٠٧ ، ط. س. ج١ ص٢٧٨). ظ
([2]) لان الصلوة فی الحریر مکروهة للرجال (شرح حموی علی الاشباه والنظائر ج١ ص١٩٧). ظفیر

الامة، په دی دؤو عبارتونو کی په ظاهره تخالف معلومیږی. ددی شبهی جواب تحریر وفرمایاست.

**جواب**: په دروازه کی ددریدلو وجه هم هغه ده کمه چه په محراب کی ددریدلو ده. نو که چیری قدمونه ددروازې څخه دباندي وی نو کراهت به مرتفع سی. او دعلاًمه شامی په دواړو عبارتونو کی هیڅ تعارض نسته. اول یې دا ویلی دی: ولوکان قیامه وسط الصف. وسطِ صف جلا دی او وسطِ مسجد جلا دی، نو مکروهِ دوسطِ مسجد پریښول دی یعنی بی ضرورته، اګرچه دمقتدیانو دصف په مینځ کی وی. او دروازه چونکه دمحراب محاذی ده لهذا داوسط دی اوپه جومات کی اکثره دوې ۲ درجې وی یو مُسقَّف (یعنی چت والا) کم ته چه شتوی (دژمی والا حصه) ویل کیږی اوغیرِ مُسَقَّف کمي ته چه صَیفی (ددوبی والا حصه) ویل کیږی یعنی دمسجد دباندي برنډه یا غولی. نو کله چه لمونځ ګزار په صیفی مسجدکی ودریږی نو دهغوی محراب به دجومات درمیانی دروازه وی. فقط

**<u>دلمونځ ګزار مخ ته چه څوک لمونځ کوی هغه دمخ څخه هاخواته کیدی سی اوکه نه؟</u> سوال**: (۱۲۱۸) دوه ۲ لمونځ ګزار دي یو یې مخ ته اوبل یې شاته لمونځ کوی، مخ والا اول فارغ سو اوس چه هغه دراسته طرف یا چپه طرف څخه ولاړیږی ولاړ سی نودا جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: مخ والا فوراً رسته یا چپه طرف ته تلی سی داجائز دی.

## دمسجد مسائل

**<u>دجومات دروازه بندول څنګه دی؟</u> سوال**: (۱۲۱۹) زید دجومات امام دی هغه دماخستن دلمانځه څخه وروسته نهه ۹ بجې دجومات دروازه بنده کړی اوکم لمونځ ګزار چه ددروازی دبندیدلو څخه وروسته راسی نوزید دروازه نه خلاصوی. آیا په یو حدیث کی سته چه دجُومات دروازه دي دبندولو څخه وروسته بیانه خلاصوی؟

**جواب**: په درمختار کی دی چه دجُومات دروازه بندول مکروه [1] دی. لیکن که چیری دجومات دسامان دورکیدلو بیره وی نو دلمونځ دوختونو څخه ماسوا دجومات دروازه بندول درست دی، اوپه شامی کی دی چه داخبره دمحلی والاوو پرراي باندی ده کم وخت چه هغوی مناسبه وګنی ماسوا دلمونځ دوختونو څخه دروازه دی بَنْدَوی. په ذکر سوي

(۱) وکره غلق باب المسجد اِلاَّ لخوف علی متاعه بهِ یفتیٰ (درمختار) قال فی البحر وانما کره لانه یشبه منع من الصلوة قال الله ﷻ: ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان یذکرفیها اسمه الخ والتدبیر فی الغلق لاهل المحلة (رد المحتار قبیل باب الوتر والنوافل مطلب فی احکام المسجد ص۲۱۴ ، ط. س. ج۱ ص۲۵۲). ظفیر

صورت کی دجومات دامام دلمونځ ګزارو دپاره دروازه نه خلاصول دشریعت دحکم څخه خلاف دی. اودروازه دبندولو څخه وروسته بیانه خلاصول سره ددې چي هغه دلمونځ ګزارو دضرورت په وجه وی هیڅیری ثابت نه دی.

**په داسی جومات کی لمونځ درست دی که نه؟ سوال:** (١٢٢٠) دسوال دکاغذه سره د دراستول سوي نقشې ملاحظه کولو څخه وروسته تحریر وفرمایاست چه په دی جومات کی لمونځ درست دی اوکه نه؟

**جواب:** دنقشی دکتلو څخه معلومه سوه چه هیڅ قبر مخ طرفته یعنی دقبلی طرف ته نسته چه لمونځ ګزارته مخامخ واقع کیږی. نوپه ذکرسوی جومات کی لمونځ کول بی کراهته درست دی. کذا فی المنیه والشامی (١) وغیره. فقط

**دجومات په دویم ٢ منزل کی لمونځ کول څنګه دی؟ سوال:** (١٢٢١) اول یو جومات یو منزل ؤ، بیا هغه دوه ٢ منزله (دوه چَته) جوړ کړل سو په دې ډول سره یوه طرف ته خو مخکنی بنیاد (تاداو) راغی او په دریو طرفونو کی بینادونه (تاداوونه) هم زیات کړل سوه اوپر ټول جومات باندی دویم ٢ منزل جوړ کړی سوی دی صحن (غولی او انګړ) بالکل پاته نسو. دبعضو عالمانو څخه معلومه سوه چه پر مُسَقَّف جومات باندی لمونځ کول مکروه دی. که چیری په لاندینی منزل کی لمونځ وکړی سی نو دګرمی په موسم کي سخت تکلیف کیږی په داسی حالت کی دګرمی په موسم کی په پورتنی منزل کی لمونځ کول درست دی که نه؟

**جواب:** دمُنیه په شرح کی دی: وکل مایکره فی المسجد یکره فوقه ایضًا الخ او په شامی کی دی: قوله الوطی فوقه ای الجماع خزائن اما الوطی فوقه بالقدم فغیر مکروه الا فی الکعبة بغیر عُذر لقولهم بکراهیة الصلوة فوقها ثم رایت القهستانی نقل عن المفید کراهة الصعود الی سطح المسجد اه ویلزمه کراهة الصلوة ایضًا فوقه فلیتامل. (٢) خلاصه او حاصل دادی چه دبعضو عبارتونو څخه پرجومات سربیره دلمونځ جواز معلومیږی اودبعضو څخه کراهت معلومیږی. اوپه صورت مسئوله کی په پورتنی چت (منزل) کی لمونځ مکروهه نه دی. ځکه چه اوّلاً دجومات پرچت باندی دلمونځ په کراهت کی اختلاف دی، بیا پورتنی درجی ته ددی مصداق په ویلو کی تامل دی اوبیا ذکرسوی عُذر موجود دی. (٣) فقط

(١) ولاباس بالصلوة اذا کان فیها موضع اعد للصلوة ولیس فیه قبر ولا نجاسة الخ ولا قبلة الی قبر (رد المحتار کتاب الصلوة ج١ ص٣٥٣، ط. س. ج١ ص٣٨٠). ظفیر

(٢) ردالمحتار باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها مطلب فی احکام المسجد ج١ ص٦١٤، ط. س. ج١ ص٦٥٦. ظفیر

**که ديوچا سره نژدي دوه ۲ جوماتونه وي په کم کی لمونځ وکړي؟ سوال:** (۱۲۲۲) يو سړی په هغه جومات کی لمونځ کوی کم چه دهغه دکور سره نژدی دی اويو جومات دهغه دکور څخه په څه فاصله کی دی په کم جومات کی لمونځ وکړی؟

**جواب:** په نژدی والا جومات کی لمونځ کول پکاردی ځکه چه ددغه جومات پردوی باندی حق دی او ثواب هم په هغه کی زيات دی. (افضل المساجد مكة ثم المدينة ثم القدس ثم قبا ثم الأقدم ثم الأعظم ثم الأقرب الخ الدرالمختار على هامش رد المحتار ج١ ص ٦١٧. ظفير).

# اَلْبَابُ الثَّامِنُ فِی الْوِتْرِ وَالنَّوَافِلِ

## اولنی فصل: دوترو مسائل

**کم مقتدي چه رکوع ونکړه آيا دهغه لمونځ ونسو؟ سوال:** (۱۲۲۳) که چيری امام دوترو دريم ۳ رکعت وکی رکوع ته ولاړی اودعاءِ قنوت يې ونه ويله اوپه آخره کی يې سجده سهوه وکړه نو کم مقتدی چه رکوع ته ولانه ړی دتاريکی په وجه يا دنظر دکمزوری په وجه بلکه سجدی ته ولاړی نو ددغه مقتدی لمونځ وسو او که نه؟

**جواب:** ددغه مقتدی لمونځ ونه سو چاچه رکوع ونه کړه (¹) که چيری دامام دلمونځ دختميدلو څخه وروسته هم هغه رکوع کړی وی او بيا يی سجده سهوه کړی وی نولمونځ به يې سوی وی. فقط

**دُعاءِ قنوت ورڅخه هيره سوه چه ورته ياده سوه نووی ويله او سجده سهوه يې وکړه، نوڅه حکم دی؟ سوال:** (۱۲۲۴) دبکر څخه دوترو دُعاءِ قنوت هيره سوه اورکوع ته ولاړی، کله چه په رکوع کی ورته ياده سوه نودرکوع څخه تر ولاړيدلو وروسته يې دُعاءِ قنوت ووايه سجده سهوه يی وکړه اولمونځ يی ختم کی. لمونځ وسو اوکه نه؟

---

(٣) حضرت مفتی علام په دويم منزل کی دلمونځ په سلسله کی دعدمِ کراهت فيصله کړی ده، هغه بالکل دفقهی مطابق ده. دويم منزل ته چَت ويل اصطلاحًا هيڅکله درست نه دی. په اصطلاح کی چت هغه حصی ته وايی دکمی پرسر باندي چه بل چت نه وی او هغه دباران اولمر دمخنيوي دپاره جوړ سی. اودويم منزل دمسجد خوصرف دلمونځ دپاره جوړيږي، دچت په غرض سره نه وی. لهٰذا په هيڅ ډول هغه دچت په حکم کی نه دی. کم خلق چه تر اوسه پورِی په دويم ۲ اودريم ۳ منزل کی لمونځ مکروه ليکی دخاکسار په نزد درست نه دی. البته دابهتره ضرور ده چه جَمع دی په لاندينی منزل کی کول کيږي. دضرورت او مجبوری په حالت کی ددويم يادريم منزل اراده کول پکاردی. والله اعلم . محمد ظفيرالدين عفی عنه

(¹) ومن فرائضها التی لا تصح بدونها التحريمة الخ ومنها الركوع بحيث لومَد يديه نال ركبتيه (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤١١ وص٤١٢ ، ط. س. ج١ ص٤٤٢). ظفير

**جواب**: بکر له درکوع څخه ترپاڅیدلو وروسته قنوت ویل نه ؤ پکار، لیکن اوس چه کله سجده سهوه یې وکړه نو لمونځ یې وسو. ([1]) فقط

**وتر یی وکړل خو نیت یې دسنتو وکی ، نوڅه حکم دی؟ سوال:** (١٢٢٥) دتراویحو څخه وروسته چه کله دوترو دپاره خلق دریدل نو یوسړی په هیره سره دسنتو نیت وکی او وتر یی شروع کړه لیکن ددعاءِ قنوت په وخت کی یې په یاد سوه چې داخو وتر دي. په دی صورت کی وتر وسوه اوکه نه؟

**جواب**: دهغه وتر وسول. ([2])

**فرض یې په جَمعی سره ونه کړل نو آیا وتر په جَمع سره کولی سي: سوال:** (١٢٢٦) په رمضان کی زید دماخستن فرض په جَمعی سره ونه کړل نو وتر په جَمعی سره وکړی اوکه یوازي ؟

**جواب**: دوترو په جَمع کی شریکیدی سی. کذا صرَّح به فی الطحطاوی. اوعلاَّمه شامی رحمه الله بیشکه عدمِ جواز نقل کړی دی لیکن دطحطاوی په عبارت کي دجواز تصریح ده او قاعده هم دجواز تقاضا کوی، ددی وجه څخه زمونږ مشران اُستاذان دوترو په جماعت کی دشرکت دجواز قائل دی ولی چه دعدمِ جواز هیڅ وجه نسته. ([3]) فقط

**په دُعاء قنوت کي مُلحَق دحاء په زیر اوزوَر دواړو سره ویلی سي: سوال:** (١٢٢٧) په دُعاء قنوت کی چه کم لفظ مُلحِق دی، ددی دحاء زور دی که زیر دی؟

**جواب**: په دُعاءِ قنوت کی دمُلحق دحاء زیر اوزوَر دواړه ویل سوی دی او دواړه جائز دی اګر چه زیات مشهور زیر دی، په شامي کي دي: قوله: وملحق بمعنی لاحق، مبتداء وخبر وهو بکسر الحاء هذا هو المشهور ونص غیر واحد علی انه الاصح ویقال بفتحها ذکره ابن قتیبه وغیره. ونص الجوهری علی انه صواب کذا فی الحلیة قلته بل فی القاموس الفتح احسن ([4]) الخ. فقط

---

([1]) ولو نسیه ای القنوت ثم تذکره فی الرکوع لا یقنت فیه لفوات محله ولا یعود الی القیام فی الاصح لانه فیه رفض الفرض للواجب فان عاد الیه وقنت ولم یعد الرکوع لم تفسدصلوته لکون رکوعه بعد قراءة تامة وسجد للسهو قنت اولا لزواله عن محله (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٧، ط. س. ج٢ ص٩). ظفیر

([2]) ولا عبرة بنیة متاخرة عنها علی المذهب وجوزه الکرخی ای الرکوع وکفی مطلق نیة الصلوة وان لم یقل لله لنفل وسنة راتبة الخ (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب شروط الصلوة مطلب فی النیة ج١ ص ٣٨٧ – ٣٨٨ ، ط. س. ج١ ص٤١٧). ظفیر

([3]) بقی الخ قضیة التعلیل فی المسئلة السابقة بقولهم لانها تبع ان یصلی الوتر بجماعة في هذه الصورة لانه لیس بتبع التراویح ولا للعشاء عند الإمام (طحطاوي علی الدرالمختار باب الوتر والنوافل مبحث التراویح ج١ ص٢٩٧). ظفیر

([4]) رد المحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٤ ، ط. س. ج٢ ص٧. ظفیر

**په وترو کی درفع یدین په سلسله کی یو غلط شهرت**: **سوال**: (١٢٢٨) دوتر لمونځ دکله ځخه واجب سو. وجه درفع یدین (لاسونو لوړولو) په دریم رکعت کی څه ده. بعضی وایی چه په معراج کی کله حضور ﷺ ددریم رکعت کولو دپاره ودریدی نو دوالدینو تعذیب یې ولیدی اورفع یدین یې وکړه آیا دا صحیح ده که نه ؟

**جواب**: ددی هیڅ اصل نسته. (١) فقط

**امام قنوت ختمه کړه رکوع یې وکړه او دمقتدی دُعاء قنوت پوره نه سوه نوځه وکړي؟** **سوال**: (١٢٢٩) دوترو په جَمع کی امام دُعاءِ قنوت ختمه کړه اورکوع ته ولاړی، دمقتدي قنوت ختمه نه وه، آیا هغه دمتابعتِ امام په غرض سره دقنوت ختمولو څخه بغیر رکوع ته ولاړ سی او که نه؟

**جواب**: که چیری لږ باقی وی چه ترپوره کولو وروسته یې په رکوع کی دامام سره شریك کیدی سی نو پوره دی کړی او رکوع دی وکړی کنی پردی یږدی. (٢) فقط

**که دماخستن په جَمع کی شریک نسو نوهم وتر په جَمع سره کولی سی**: **سوال**: (١٢٣٠) یو سړی دماخستن فرض یوازي وکړه، تراویح یې ټولی یا داکثره دامام سره ادا کړی یا یی بالکل ونه کړی په هرو دری ٣ صورتونو کی دوتر په جَمع کی شریکیدی سی اوکه نه؟ دمدرسی دیوبند په اشتهار دسنه ١٣٤٢ کی دی چه چاته دماخستن فرض په جَمع سره پیدا نسی هغه وتر دامام سره په جَمع سره کولی سی او علاّمه شامی په رد المحتار کی فرمایی: اذا لم یصلّ الفرض معه لا یتبعه فی الوتر. په دواړو تحریرونوکی به تطبیق څرنګه کیږی؟

**جواب**: په دری واړو صورتونوکی دوترو په جَمع کی شریکیدی سی. تراویح دامام سره دټولو یا بعضو نه کولو په صورت کی دوترو په جماعت کی دشریکیدلو جواز خو ددُرِ مختار په عبارت کی ذکر سوی دی: ولو لم یصلها ای التراویح بالامام اوصلاها مع غیره له ان یصلی الوتر (٣) معه الخ، او دماخستن فرض په جَمعی سره دنه کولو په صورت کی

---

(١) داصراحت خو پیدا نسو چه دوترو لمونځ حضور ﷺ دکم کال څخه شروع کړی ؤ، البته دحدیث څخه دومره معلومیږی چه دشروع څخه یی برابر کوی اوتاکید یی فرمایلی ؤو چه الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منّا (ابوداؤو) په قنوت کی لاسونه ځکه پورته کوی چه دحضور ﷺ څخه همداسی ثابت دی، ددی وجه به غالبًا داوی چه پر قراءت باندی قیام ختمیږی اوس چونکه هم دقیام په حالت کی دُعا ویل کیږی ددی وجه دلاسونو په پورته کولو سره اشاره کول کیږي چه قراءت په جلا ډول دی اودُعا په جلا ډول ده، پوښتونکی دمعراج حواله ورکړی ده، ددې هیڅ اصل نسته، والله اعلم . ظفیر

(٢) المقتدی یتابع الامام فی القنوت فلو رکع الامام فی الوتر قبل ان یفرغ المقتدی من القنوت فانه یتابع الامام الخ (عالمګیری مصری فی صلاة الوتر ج١ ص١٠٤). ظفیر

دوترو په جَمعه کی دشریکیدلو دجواز تعلیل دعلأمه طحطاوی څخه معلومیږی. حیث قال فی شرح قول صاحب الدرالمختار بقی لو ترکها الکل هل یصلون الوتر بجماعةٍ فلیراجع (قوله فلیراجع) قضیة التعلیل فی المسئلة السابقة بقولهم لانها تبع ان یصلی الوتر بجماعة فی هٰذه الصورة لانه لیس تبع للتراویح ولا لعشاء عند الا مام انتهی. ([1]) حلبي، طحطاوی.

نومعلومیږی چه علأمه شامی رحمه الله چي کم قول دقهستانی څخه نقل کړی دی: ثم قال لکنه اذا لم یصل الفرض معه لا یتبعه فی الوتر([2]). داضعیف دی صحیح نه دی ولی چه وتر مستقل لمونځ دی نه دماخستن دلمونځ تابع دی اونه دتراویحو. دعلامه شامی درای فَلیُراجع په جواب کی هم همدا ده چه په دی صورت کی هم وتر په جَمع سره جائز کیدل نه دی پکار. او دعلأمه طحطاوی رای صفا دقواعدو مطابق داده چه په دی صورت کی هم وتر په جَمعه جائزدی اودشامی په آخری عبارت د: لاکراهَة څخه داهم معلومیږی چه مراد دقهستانی د: لایتبعه فی الوتر څخه کراهت دی. په اصل جوازکی اختلاف نسته. اوظاهر تعلیل منقول عن العلامة الطحطاوی دادی چه کراهت هم نسته ولی چه عشاء اووتر هریو مستقل لمونځ دی. فقط

**دوترو په باره کی دیو عبارت مطلب**: **سوال**: (١٢٣١) په درالمختار باب الوتر والنوافل کی دی: ویسن الدعاء المشهور ویصلی علی النبی ﷺ وبه یفتیٰ. نو په حنفی مذهب کی به څه وایی؟

**جواب**: ددعاءِ مشهور څخه مراد دعاءِ قنوت ده: اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ الخ او دُعاء: اَللّٰهُمَّ اهْدِنِیْ فِيْمَنْ هَدَيْتَ الخ ده ، ددی دویمی دُعا په آخره کی وَصَلَّی اللهُ عَلَی النَّبِیِّ هم سته. حنفیانو ته هم دا دواړي دُعاګانی ویل او جمع کول غوره دی. اوکه چیری صرف اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ الخ ووایي نو داهم درست دی. ([3]) فقط

---

([3]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مبحث التراویح ج١ ص٦٢٣ ، ط. س. ج٢ ص٤٨. ظفیر

([1]) الطحطاوی علی الدرالمختار مبحث فی التراویح ج١ ص٢٩٧ . ظفیر

([2]) رد المحتار مبحث فی التراویح ج١ ص٦٢٣ ، ط. س. ج٢ ص٤٨. ظفیر

([3]) قوله یسن الدعاء المشهور قدمنا فی بحث الواجبات التصریح بذلك عن النهر وذکر فی البحر عن الکرخی ان القنوت لیس فیه دعاء مؤقت لانه روی عن الصحابة ادعیة مختلفة ولان الموقت من الدُعاء یذهب برقة القلب وذکر الإسبیجابي انه ظاهر الروایة وقال بعضهم المراد لیس فیه دعاء مؤقت ما سوی اللّٰهُمَّ انا نستعینك وقال بعضهم الافضل التوقیت ورجحه فی شرح المنیة تبرکا بالماثور آه (ردالمحتار باب الوتر ج١ ص٦٢٣). ظفیر

**دوترو نیت**: **سوال**: (١٢٣٢) دوترو دنیت څه حکم دی ولی چه په درمختار کی دی: لذا ینوی الوتر لا الوتر الواجب کما فی العیدین للاختلاف، اوشامی هم دا اختیار کړی ده بعضی وایی چه که چیری دواجب نیت ونه کړی نو لمونځ جائز نه دی؟

**جواب**: علامه شامی په دی موقع کی دا لیکلی دی: ای انه لا یلزمه تعیین الوجوب لا منعه من ذالك ([1]) نو ددې څخه معلومه سوه چه نیت دوجوب منع نه دی، اودحنفی اعتقاد دوجوب دی لهٰذا هغه ته دوجوب په نیت کولوکی هیڅ حرج نسته اوکه چیری دمطلق وتر نیت وکړی نوبیا هم په لمونځ کی څه خلل نه راځی اوعبارت ددرمختار پر توسیع باندی محمول دی یعنی دمطلق وتر نیت هم درست دی.

**چې قنوت پریږدی او رکوع ته ولاړ سی؟ سوال**: (١٢٣٣) که چیری دیوسړی څخه دوتر په لمونځ کی دعاءِ قنوت هیره سی اورکوع ته ولاړسي، بیا پخپله یا دبل چاپه وریادولو سره درکوع څخه پاڅیږی دعاء قنوت ووایی اودوباره بیا رکوع وکړی اوخپل لمونځ پوره کړی نوپه دی صورت کی به دهغه لمونځ فاسد سي اوکه په سجده سهوی سره به ئی لمونځ کامل سي؟

**جواب**: لمونځ ئی صحیح دی. کذا فی الدرالمختار: فان عاد الیه وقنت ولم یعد الرکوع.

**په وتروکی درکوع څخه مخکی لاسونه لوړول او دعاء قنوت په حدیث کی؟ سوال**: (١٢٣۴) زموږ په ځای کی یوڅو کسان مذبذب غیر مقلدین دی، دوترو رکعتونه خو دری ۳ کوی لیکن دعاء قنوت درکوع څخه وروسته وائی یو په هغوی کی معمولی علم والا دی هغه وایی چی که چیری دحدیث څخه داثابته کړی چی رسول ﷺ به درکوع څخه مخکی لاسونه لوړول دغوږونو سره به ئی لګول او بیابه ئی قنوت لوسته نوموږ دمنلو دپاره تیاریُو. دحدیث څخه داثابته نه ده. تاسو یوحدیث ددی خبری په ثبوت کی تحریر وفرمایاست.

**جواب**: اخرج ابو نعیم فی الحلیة عن عطاء بن مسلم حدثنا العلاء بن المسیب عن حبیب بن ابی ثابت عن ابن عباس قال اوتر النبی ﷺ بثلث قنت فیها قبل الرکوع.

وعن ابن عمر ان النبی ﷺ کان اذا فرغ من القراءة کبر، وفی الذخیرة رفع یدیه حذاء اذنیه وهو مروی عن ابن مسعود وابن عمر وابن عباس وابی عبیدة واسحٰق وقد تقدم. کبیری شرح منیه ([2]). ددی روایاتو څخه صراحةً دوترو دری ۳ رکعاته کیدل او دوترو قنوت درکوع څخه مخکی کیدل او دحضرت عبدالله بن مسعود اوعبدالله بن عمر اوعبدالله بن

---

([1]) رد المحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٢ ، ط. س. ج٢ ص٧. ظفیر
([2]) غنیة المستملی باب الوتر ص٣٩٢ . ظفیر

عباس وغيره صحابه كبارو ﷺ څخه دقنوت دتکبير په وخت کی لاسونه لوړول ثابت سوه، اوظاهره ده چی دې کبارو اصحابو قنوت قبل رکوع اوتکبير مع رفع اليدين رسول الله ﷺ ته په کتلو سره کړی دی لهٰذا داحُجت کافی دی اوکه چيری لا مذهبه خلق دانه منی نو هغوی ته ووايه چه کم مذهب دعبدالله بن مسعود اوعبدالله بن عمر او عبدالله بن عباس وغيره اصحابو ﷺ ؤ هم هغه زموږ دی. په کم دليل سره چه دغه حضراتو رفع اليدين فی تکبيرات القنوت کوی هم هغه زموږ دليل دی. فقط

**چه وتر ختم کړی نو (سُبْحَانَ الْمَلِکَ الْقُدُّوْسُ) به کله وايی؟** **سوال**: (۱۲۳۵) دوترو دسلام څخه وروسته چه کم سُبْحَانَ الْمَلِكَ الْقُدُّوْس دری ۳ واری ويل په حديث کی راغلی دی دابه دسجده کولوڅخه وروسته وايی اوکه په قعده کی اوعند الاحناف داجائز دی که نه؟

**جواب**: چه کله دوترو سلام وګرځوی او کښينی هغه وخت دی ووايي، او داعند الاحناف هم جائز اومستحب دی. ([1]) فقط

**دوترو په جماعت کی چه کله په دريم رکعت کی شامل سی نو دعاء قنوت به کله وايی؟**

**سوال**: (۱۲۳۶) په رمضان کی دوترو په دريم رکعت کی شامل سو، نو دوه رکعته کم چه باقی دی په هغه کی به دُعاءِ قنوت ويل کيږی اوکه نه؟

**جواب**: دُعاء قنوت به ويل کيږی. ([2]) فقط (زيات تفصيل په حاشيه کی وګوری. ظفير)

**سورت اخلاص به ددُعاء قنوت پرځای کافي سی اوکه نه؟** **سوال**: (۱۲۳۷) په وترو کي ددعاءِ قنوت پرځای درې واره سورة اخلاص ويل کفايت کوي اوکه نه؟

**جواب**: په شامی کی يې راوړی دی: ومن لا يحسن القنوت يقول ربنا آتنا فی الدنيا حسنة الآية. وقال ابو الليث يقول اللّهم اغفر لی يکررها ثلاثا وقيل يقول يا ربّ ثلاثا ذکره فی

---

([1]) عن ابی بن کعب قال کان رسول الله ﷺ اذا سلم فی الوتر قال سبحان الملك القدوس رواه ابوداؤد والنسائی وزاد ثلث مرات يطين وفی رواية للنسائی عن عبدالرحمٰن بن ابزی عن ابيه قال کان يقول اذا سلم سبحان الملك القدوس ثلثا ويرفع صوته بالثالثة (مشکوٰة باب الوتر فصل ثانی ص ۱۱۲). ظفير

([2]) ولها واجبات لا تفسد ..... بترکها وتعاد وجوبا في العمد والسهو الخ وهي علی ما ذکره اربعة عشر: قراءة فاتحة الکتاب الخ اوقراءة قنوت الوتر وهو مطلق الدعاء (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب صفة الصلاة مطلب واجبات الصلاة ج۱ ص۴۲۴ ، ط. س. ج۱ ص۴۵۷) ددې څخه چي ددعاء قنوت ويل ضروري دي، مګر مسبوق به يې کله وايي؟ په دې باره کي فقهاء رحمهم الله ليکي : واما المسبوق فيقنت مع امامه فقط ويصير مدرکا بادراك رکوع الثالثة (درمختار) فيقنط مع امامه فقط لانه اخر صلاته وما يقضيه اولها حکما في حق القرآءة وما اشبهها وهو القنوت واذا وقع قنوته في موضعه بيقين لا يکرر ولان تکراره غير مشروع، شرح المنية (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱) يعني دريم رکعت که چيري ده پوره نيولی وي نو دامام سره دي قنوت ووايي او وروسته يې بيا دويلو ضرورت نسته ، البته که چيري په دريم رکعت کي هغه وخت ورګډ سو کله چي امام دقنوت څخه فارغ سوی ؤ نو وروسته دي ووايي. ظفير

الذخيرة الخ [١] نومعلومه سوه چه سورة اخلاص ددُعاء قنوت پرځای منقول نه دی.

**دوترو امامت دفرض لمونځ دامام څخه علاوه بل سړی کولی سی که نه؟** **سوال**: (١٢٣٨) ايا دوترو دلمانځه امام دفرض لمانځه له امام څخه پرته بل څوك كيدی سي اوكه نه؟

**جواب**: دوترو دجمع امام دفرض لمانځه دامام څخه پرته بل څوك كيدلای سي.

**دوترو ددوو ركعتو څخه وروسته به قعده كوي اوكه نه؟** **سوال**: دوترو ددؤو ركعتو څخه وروسته دالتحيات دپاره كښيناستل جائزدی اوكه نه؟

**جواب**: كښيناستل پكاردی لكه څنگه چه دفقهی اوحديثو دكتابونو څخه ثابت دی. په درمختار كی دی: وهو ثلث ركعات كالمغرب، قوله: كالمغرب افاد ان القعدة الاولی واجبة الخ شامی باب الوتر والنوافل [٢]. (معلومه سوه چه ددؤو ركعتونو څخه وروسته كښېنستل واجب دی. ظفير)

**دُعاء قنوت صرف دوترو دپاره ده**: **سوال**: (١٢٤٠) ماسَوا دوترو دلمونځ او دسهار دلمونځ څخه په يوه فرض لمونځ كی هم قنوت ويل درست دی اوكه نه؟ او دقنوت څخه وروسته درود شريف ويل څنگه دی؟

**جواب**: داحنافو په نزد دوترو څخه ماسِوا په بل هيڅ لمونځ كی دُعاء قنوت ويل درست نه دی. دسهار په لمونځ كی چه حضور ﷺ كمی يوڅو ورځی دُعاء قنوت ويلی ده هغه منسوخ سوی ده [٣] البته كه چيری څه حادثه پيښه سی نودسهار په لمونځ كی قنوت ويل درست دی. ماسِوا دسهار څخه په نورو لمونځونوكی مختلف فيه ده. [٤] او ددعاءِ قنوت څخه وروسته درود شريف ويل هم درست دی. فقط

**دوترو قعده دحضور ﷺ څخه ثابته ده**: **سوال**: (١٢٤١) دوترو اولنۍ قعده دنبی كريم ﷺ او صحابه وُ رضي الله عنهم څخه ثابته ده كه نه ؟

**جواب**: دوترو مخكنی قعده دحضور ﷺ اوصحابه وُ رضي الله عنهم څخه ثابته ده، لكه څنگه چه دنسائی په روايت كی دی: عن سعد بن هشام ان عائشة رضي الله عنها عنها حدثته ان رسول الله

---

[١] ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٣ . ظفير

[٢] ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٤ . ظفير

[٣] ويأتی المأموم بقنوت الوتر الخ لا الفجر لانه منسوخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٢ ، ط. س. ج٢ ص٨). ظفير

[٤] ولا يقنت لغيره الاّ لنازلة فيقنت الامام فی الجهرية وقيل فی الكل (درمختار) قوله لا يقنت لغيره ای غيرالوتر الخ قوله فيقنت الامام فی الجهرية الخ لكن فی الاشباه عن الغاية قنت فی صلاة الفجر الخ قال الحافظ ابوجعفر الطحاوی انما لا يقنت عندنا فی صلوة الفجر من غير بلية الخ (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج١ ص٦٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١). ظفير

ﷺ كان لايسلم فی ركعتی الوتر، [1] اوپه صحيح مسلم كی دی: ويصلی تسع ركعات لا يجلس فيها الا فی الثانية [2].

**دوترو دپاره به ديوه ركعت نيت كوی اوكه ددريو ۳ ركعتو: سوال:** (۱۲۴۲) دوترو نيت به ديوه ركعت كول كيږي اوكه ددريو ۳ ؟

**جواب:** په شريعت كی دری۳ ركعاته وتردی او دامام ابوحنيفه ﷺ مذهب دادی چه صرف يوركعت كول جائز نه دی، حضور ﷺ ددی څخه منع فرمايلی [3] ده. والله اعلم

**دوترو په دريم ركعت كی شامليدونكی چاچه قنوت دامام سره وويله اوپه ركوع كی شامليدونكی چاچه قنوت ونه ويله هغوی به څه كوی؟ سوال:** (۱۲۴۳) زيد دوترو په آخری ركعت كی شامل سو او دامام سره يې دُعاء قنوت وويله وروسته چه دوه ركعته كوی، نو په هغوكی به قنوت وايی اوكه نه؟ بل صورت دادی چه امام يې په آخری ركوع كی ونيوی او قنوت يې ونه ويله. دی به په باقی دؤو ركعتوكی قنوت وايی اوكه نه؟

**جواب:** په مخكنی صورت كی به بيا قنوت نه وايی. واما المسبوق فيقنت مع امامه. اوپه دويم صورت كی به په آخری ركعت كی قنوت وايی. [4]

**دوترو په نيت كی واجب الليل ويل څنګه دی؟ سوال:** (۱۲۴۴) دوترو په نيت كی واجب الليل ويل څنګه دی؟

**جواب:** دوترو په نيت كی داويل پكار دی چه نيت كوم زه دوتر لمونځ، اوكه واجب الليل هم ووايی نو څه حرج نسته. [5]

**نيم سورت پرېښوول څنګه دی؟ سوال:** (۱۲۴۵) دوترو په مخكنی ركعت كی يې اِذَاْ زُلْزِلَتْ ووايه اوپه دويم كی يې نيم وَالْعَادِيَاتِ ولوستی اوپه دريم كی يې اَلْقَارِعَةِ ووايه، آيا په وترو كی خرابی راغله اوكه نه؟

**جواب:** داسی كول ښه نه دی پوره پوره سورت په هر يوه ركعت كی ويل غوره او بهتر دی

---

[1] نسائی شريف. ظفير

[2] مسلم ج ۱ ص۲۲۲). ظفير

[3] وهو ای الوتر ثلاث ركعات كالمغرب حتی لو نسی القعود لايعود ولو عاد ينبغی الفساد (الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۲۲ ، ط. س. ج۲ ص۵). ظفير

[4] الدرالمختار علی هامش رد المحتار باب الوتر ج۱ ص۲۲۸ . ظفير

[5] وكفی مطلق نية الصلاة وان لم يقل لـ لله لنفل وسنة راتبة وتراويح الخ ولابد من التعيين عند النيّه الخ لفرض الخ وواجب انه وتر (درمختار) اشار الی انه لاينوی فيه انه واجب للاختلاف فيه زيلعی ای لا يلزمه تعيين الوجوب وليس المراد منعه من ان ينوی وجوبه لانه انكان حنفيا ينبغی ان ينويه ليطابق اعتقاده الخ (ردالمحتار باب شروط الصلوة ج۱ ص۳۸۹ ، ط. س. ج۱ ص۴۱۷). ظفير

لیکن دوتر لمونځ په دی صورت کی هم وسو. ([1]) فقط

**په وترو کی په هیره ددُعا څخه مخکی رکوع:** **سوال:** (١٢۴٦) دامام څخه دوترو په لمونځ کی لاسونه لوړول اودُعاء قنوت ویل هیر سوه اورکوع ته ولاړی او سمدستی چه وریاد سوه نو بېرته ودریدی، لاسونه یې لوړ کړل اودُعاء قنوت یی ولوسته سجده سهوه یی وکړه او دلمونځ څخه فارغ سو. لمونځ یې وسو اوکه نه؟

**مقتدی لره امام ته وریادول څنګه دی؟** **سوال:** (١٢۴٧) که چیری امام ته مقتدی واپس راتلل وریاد کړل اوامام واپس راغی رفع یدین یې وکړه اودُعاء قنوت یې ولوسته، سجده سهوه یی وکړه او لمونځ یې ختم کی نو دمقتدی په لمونځ کی څه فساد خو را نه غی؟

**کله چه دامام څخه دیوی سجدی څخه وروسته بله سجده هیره سی:** **سوال:** (١٢۴٨) امام یو رکعت وکړی یوه سجده یی وکړه او دالتحیات ویلو دپاره کښېنستی، مقتدی به دویمه سجده په کمی طریقی سره وریادَوی.که چیری مقتدی الله اکبر یاسبحان الله ووایی نو امام ودریږی؟

**جواب:** (١) لمونځ صحیح سو. فان عاد الیه وقنت ولم یعد الرکوع لم تفسد صلوته وسجد للسهو. ([2]) الخ درمختار.

(٢) هیڅ فساد رانغی ([3]).

(٣) دوریادولو مطلب داوی چه په: سُبْحَانَ الله وغیره ویلو سره امام ته خبرداری ورکړی چه څه اوکمی زیاتی په لمونځ کی وسو. په دی باندی به هغه پخپله سوچ وکی اوځان ته به یې وریاد کړی چه کم کار پاته سویدی، دانه چه بعینه هغه کار ورته وښودل سی کم چه فوت سوی دی. لهٰذا دتنبیه دپاره سُبحان الله ویل کافی دی که چیری هغه ته وریاد سوه نو فَبِهَا کنې دلمونځ څخه وروسته په معلومیدلو باندی به دلمونځ اعاده وکړی. فقط

**چه دُعاء قنوت یې یاده وی نو بله دُعا ویلی سی اوکه نه؟** **سوال:** (١٢۴٩) که چیری دُعاء قنوت یې یاده وی نو بله دُعا مثلاً رَبَّنَا آتِنَا ویلی سی او که نه؟

**جواب:** چه دُعاء قنوت ورته یاده وی نو رَبَّنا آتِنا وغیره نسی ویلی صرف دُعاء قنوت ویل

---

[1] مع انهم صرحوا بان الافضل فی کل رکعة الفاتحة وسورة تامة (ردالمحتار فصل فی القراءة ج١ ص٥٠٥ ، ط. س. ج١ ٥۴١). ظفیر

[2] الدرالمختار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٧ ، ط. س. ج٢ ص٩. ظفیر

[3] بخلاف فتحه علی امامه فانه لایفسد مطلقًا لفاتح وآخذ بکل حال (الدرالمختار باب مایفسد الصلوة الخ ج١ ص٥٨٢). ظفیر

پکار دی. ([1])

**دحديث څخه دُعاء قنوت ثابته ده که نه؟ سوال:** (١٧٥٠) يو سړي وايي چه دُعاء قنوت دحديث څخه ثابته نه ده. رسول الله ﷺ په وتروکی دُعاءِ قنوت نه ده ويلی. داصحيح ده که نه؟

**جواب:** ددغه سړي خبره غلطه ده. دُعاء قنوت مُرَوَّجه دحديث څخه ثابته ده اوپه وترو کی دُعاء قنوت ويل په احاديثو کی وارد دی. ([2])

**ددُعاء قنوت څخه مخکی دلاسونو لوړولو څه وجه ده؟ سوال:** (١٧٥١) دوترو په لمونځ کی چه کله دُعا قنوت وايي نو په لاسونو لوړولو سره دتکبير ويلو څه وجه ده؟

**جواب:** دوترو په دريم ٣ رکعت کی په تکبير ويلو سره دلاسونو دلوړولو داوجه ده چه په مُصنَّف ابی بکر بن شيبه کی همدغه ډول وارد دی: باب تکبير القنوت ورفع اليدين حدثنا عبد السلام بن حرب عن ليث عن عبد الرحمٰن ابن الاسود عن ابيه ان عبد الرحمٰن بن مسعود ﷺ كان اذا فرغ من القراء كبر ثم قنت فاذا فرغ من القنوت كبر ثم ركع ومثله عن البراء حدثنا عبد الرحمٰن بن محمد المحاربی عن ليث عن الاسود عن ابيه عبد الله انه كان يرفع يديه اذا قنت فی الوتر. مصنف ابی بکر بن شيبه.

**دادا کولو په وخت کی وتروته واجب ويل څنګه دي؟ سوال:** (١٧٥٢) دوترو ادا کولو په وخت کی وترو ته واجب ويل پکاردی اوکه نه؟ بعضی مُلايان منع ورڅخه کوی يعنی وايي چي واجب ويل نه دی پکار؟

**جواب:** وتروته واجب ويل پکاردی، وتر دامام اعظم ﷺ په نزد واجب دی لهٰذا دوترو داداء کولو په وخت کی دواجب لفظ په ويلو کی څه حرج نسته. او که ونه ويل سی نو هم واجب دی وتر به اداءسی. ([3])

**په دعاءِ قنوت کی مُلحق دحاء په کسرې سره: سوال:** (١٧٥٣) لفظ دمُلحق کم چه په دُعاء

---

([1]) ومن لا يحسن القنوت يقول ربنا آتنا فی الدنيا حسنة، الآية (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٤ ، ط. س. ج٢ ص٧). ظفير

([2]) وقنت فيه ويسن الدعاء المشهور ويصلی علی النبی ﷺ به يفتی (درمختار) ومنه ما اخرجه الاربعة وحسنه الترمذی انه عليه الصلوة والسلام كان يقول فی اٰخر وتره اللّٰهم اِنّی اعوذ برضاك الخ (رد المحتار باب الوتر ج١ ص٦٢٣ ، ط. س. ج٢ ص٦). ظفير

([3]) وكفی مطلق النية لنفل وسنة راتبة وتراويح الخ ولابد من التعيين عند النية الخ لفرض الخ واجب انه وتر (در مختار) اشار الی انه لا ينوی فيه انه واجب للاختلاف فيه، زيلعی، ای لا يلزمه تعيين الواجب وليس المراد منعه من ان ينوی وجوبه لانه ان كان حنفيا ينبغی ان ينويه ليطابق اعتقاده وان كان غيره لا تضره تلك، ذكره فی البحر فی باب الوتر (ردالمحتار . باب شروط الصلوة بحث النية ج١ ص ٣٨٨ – ٣٨٩ ، ط. س. ج١ ص٤١٧). ظفير

قنوت کی دی دحاء په کسرې سره بهتر دی او که دحاء په فتحی سره؟
**جواب**: مُلحق دحاء په کسرې سره بهتر دی او اکثر دی او دحاء په فتح سره همدرست دی. (١) فقطَ

**دقنوت څخه مخکی درفع یدین ثبوت**: **سوال**: (١٧٥۴) دوترو په دریم رکعت کی دقنوت څخه مخکی لاسونه لوړول دکم ځای څخه راغلی دی او سبب یی څه دی؟
**جواب**: دحدیث لاَ تَرْفَعُوا الْاَیْدِی اِلاَّ فی مَوَاطِنِ (٢) الخ څخه ددعاء قنوت دویلو په وخت کی لاسونه لوړول ثابت دی اوددی تحقیق دفقهی اوحدیث په کتابونو کی ذکر سوی دی. (٣) فقط.

**دوترو څخه وروسته دسبحانَ الملک القدُّوس او دلوی اختر لمونځ ته دتللو په وخت کی تکبیر په لوړ آواز دنه ویونکی حکم**: **سوال**: (١٧٥٥) یوسړی دوترو څخه وروسته په لوړ آواز سره سُبحانَ الملك القدوس دری واری نه وایی اونه دلوی اختر لمونځ ته دتللو په وخت کی په لاره کی په لوړ آواز سره تکبیر وایی، دی متبع سنت دی که نه؟
**جواب**: دوترو څخه وروسته په لوړ آواز سره سبحانَ الملك القدوس دری واری ویل مستحب دی. اوپه بعضی روایاتوکی په دریم وار لوړ آواز سره ویل راغلی دی. نو ددی څخه په دریم واری سبحان الملك القدوس په لوړ آواز سره ویل ثابتیږي. بهر حال داسی کول مستحب اوبهتر دی. اوپر ترک کونکی باندی طعن اوملامتي نه دی کول پکار ولی چه مستحب کار کله څوك نه کوی نو پرهغه باندی هیڅ طعن نسته. البته داتباع سُنت مقتضیٰ داده چه څرنګه چي حضور ﷺ کړیدی هغسی دی وکړی. یعنی برابره خبره ده که یې دری واره ووایی یایو وار په آخره کی سبحان الملك القدوس دوترو څخه وروسته په لوړ آواز سره ووایي، (۴) همدغه شان په لوی اختر کی تکبیر په لوړ آواز سره په لاره کی مشروع او مسنون دی. ددی پرینبول هم دسنتو څخه خلاف دی (۵). فقط

(١) وصح الملحق بالكسر بمعنى الحق، فملحق بمعنى لاحق (درالمختار) ای انه من الحق المزيد بمعنى لحق المجرد في الشرنبلالية ان المطرزی صح ان المراد ملحق الفساق بالكفار والاول اولى الخ (ردالمحتار باب الوتر الخ ج١ ص٦٢۴ ، ط. س. ج٢ ص٧). ظفير
(٢) و (٣) ولا يسن مؤكدا رفع يديه الا في سبع مواطن كما ورد بناء على ان الصفا والمروة واحد نظرا للسعي، ثلاثة في الصلاة تكبير افتتاح وقنوت وعيد (در المختار) والوارد هوقوله ﷺ لا ترفع الايدى الاّ في سبع مواطن تكبيرة الا فتتاح وتكبيرة القنوت الخ (رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص۴٧٣ ، ط. س. ج١ ۵٠٧). ظفير
(۴) عن ابي بن كعب قال كان رسول الله ﷺ اذا سلم في الوتر قال سبحان الملك القدوس رواه ابوداؤد والنسائی وفي رواية للنسائی عن عبدالرحمٰن بن ابزی عن ابيه قال كان يقول اذا سلم سبحان الملك القدوس ثلثا ويرفع صوته بالثالثة (مشكوٰة باب الوتر ص ١١٢). ظفير
=

**که دُعاء قنوت یادنه وی نو څه به وایي؟ سوال**: (١٧٥٦) سړی ته چه دُعاء قنوت یاده نه وی نوهغه لره پرځای ددُعاء قنوت سورت اخلاص ویل جائزدی اوکه نه؟ او لمونځ یې کیږی اوکه نه؟

**جواب**: په شامی کی دی چه دچا دُعاء قنوت نه وی یاد نو هغه دی: رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ، الآیة ووایي، او فقیه ابو اللیث فرمایي چه (اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ) دری واری ووایی. او بعضی عالمانو ویلی دی چه دری واری دی یَارَبِّ ووایی. کذا فی الذخیرة. شامی (١)، او چونکه دامحل ددُعا دی لهٰذا سورت اخلاص به ددی قائم مقام نه وی خو لمونځ کیږی.

**تهجد کوونکی دفرضو سره وتر اداء کولی سی که نه؟ سوال**: (١٧٥٧) کم لمونځ ګزار چه تهجد ګزاردی هغوئ دتهجد په وخت کی وتر اداء کوی. که چیری دمخکی څخه دماخستن په وخت کی وتر وکړی نو په دی کی څه حرج سته اوکه نه؟ اکثره خلق وایی چه دوترو څخه وروسته ترسهاره پوری هیڅ لمونځ نه کیږی؟

**جواب**: په دی کی څه حرج نسته چه کم خلق تهجد ګزاردی هغوی دی هم وتر دماخستن څخه وروسته وکړی. بلکه دا احوط ده. بیا که چیری را کښېنستی نو تهجد دی وکړی دا خبره غلطه ده چه دوترو څخه وروسته دی بیا نفلونه ونه کړل سی. (٢)

**ددُعاء قنوت دپاره تکبیر اورفع یدین: سوال**: (١٧٥٨) دقنوت په وخت کی په تکبیر سره لاسونه لوړول سُنت دی اوکه نه؟

**جواب**: دمُنیه په شرح کی علامه حلبی دقنوت په وخت کی دتکبیر اورفعِ الیدین په باره کی احادیث اوآثار نقل کړی دی. دهغه څخه ددی سنت والی ثابت دی. مَن شاء التفصیل فلیر جع (٣) الیه. فقط

---

(٥) وقالا الجهر به سنة کالاضحی الخ ویکبر جهرا اتفاقًا فی الطریق قیل وفی المصلی وعلیه عمل الناس الیوم لا فی البیت (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتارباب العیدین ج١ ص٧٧٨ وص٧٨٤ ، ط. س. ج٢ ص١٧٠). ظفیر

(١) ومن لا یحسن القنوت یقول ربنا اٰتنا فی الدنیا حسنة الآیة وقال ابو اللیث یقول اللهم اغفرلی یکررها ثلثا وقیل یقول یاربِّ ثلاثا ذکره فی الذخیرة (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٢٤، ط.س. ج٢ ص٧). ظفیر

(٢) وتاخیر الوتر الی اٰخر اللیل لو اثق بالانتباة والاَّ فقبل النوم فان افاق وصلی نوافل والحال انه صلی الوتر اول اللیل فانه الافضل (درمختار) ای اذا اوتر قبل النوم ثم استیقظ یصلی ماکتب له ولا کراهة فیه بل هو مندوب ولا یعید الوتر الخ (ردالمحتار، کتاب الصلوة ج١ ص٣٤٢ ، ط. س. ج١ ص٣٩٩). ظفیرالدین غفرله

(٣) ثم اذا اراد القنوت کبَّر ورفع یدیه عندنا الخ قال احمد اذا قنت قبل الرکوع کبر قال ابن قدامه فی المغنی وقد روی ابن عمر انه کان اذا فرغ من القراءة کبَّر وفي الذخیرة رفع یدیه حذاء اذنیه وهو مروی عن ابن مسعود وابن عُمر وابن عبَّاس وابی عبیدة والحق وقد تقدم (غنیة المستملی ص ٣٩٧) په واجباتو دلمانځه کی مذکور دی: وقراءة قنوت الوتر الخ وکذا تکبیر قنوته (درمختار) ای الوتر الخ وجزم الزیلعی بوجوب السجود بترکه وینبغی ترجیح عدم الوجوب لانه الاصل ولادلیل علیه (ردالمحتارباب صفة الصلوة واجبات الصلوة ج١ ص٤٣٧، ط.س. ج١ ص٤٧١). ظ

**ددُعا ويلو ځخه بغير ركوع ته ولاړې دوريادولو ځخه وروسته يې دُعا ووايه نـو بيا يـې دوبـاره ركوع وكړه نوځه حكم دي؟ سوال**: (١٢٥٩) امام دوتـرو پـه دريـم ركعـت كي دقنوت دعـا سهواً پرينښوله اوركوع ته ولاړې، او دمقتدي پـه الله اكبـر ويلـو بانـدي امـام ودريـدي او دُعـاء قنوت يې ووايه اودوباره يې ركوع وكړه، او دلمونځ پـه آخره كي يې سجده سـهوه وكړه نو وتر وسوه اوكه نه؟

**جواب**: په دې صورت كي په سجده سهوى سره لمونځ وسو. په درمختاركي دي: فان عاد اليه وقنت ولم يعد الركوع لم تفسد صلوته الخ وسجد للسهو[١] الخ. فقط

**دوترو درى ركعته په يوه سلام سره او په رمضان كي مع الجماعت جواز**: **سوال**: (١٢٢٠) زيد وايي چه دماسخوتن ترلمونځ وروسته درې ركعته وتر لمونځ په يوه سلام سره هيڅ شـى نه دي، اوپه جماعت سره په شرع كي ددي هيڅ اصل نسته اوددي پرمنكر او تارك بانـدي عند الله هيڅ مؤاخذه نسته.

**جواب**: دزيد قول غلط دي، دوترو درى ركعته په يوه سلام سره پـه صـحيح احـاديثو سـره ثابت دي. اودوترو جماعت په رمضان شريف كي مستحب دي او افضل دي. پـه شـامي كي دي رجح الكمال الجماعة بانه ﷺ كان اوتوا بهم ثم بين العذر فى تاخره مثل ماصنع فى التراويح فالوتر كالتراويح فكما أن الجماعة فيها سنة فكذالك الوتر[٢] الخ، وګوري په دي عبارت كي يې په څومره وضاحت سره دوترو دجماعت سُنت والـي ثابـت فرمـايلي دي. فويل للمنكر. فقط

**كم سړي چه په جَمعي سره دماخستن لمونځ ونكړي نو آيا هغـه دوتـرو امـام جوړيـدي سـى؟**

**سوال**: (١٢٢١) كم سړي چه دماسخوتن فرض په جَمعي سره نه وي كړي هغه پـه وتـروكـي دامام سره شريكيدى سى اوكه نه؟

فقهي روايات په دي مسئله كي متعارض دي. په بعضوكي خوعدمِ جواز مصرَّح دي: وان وجدهم فى الوتر وهو لم يصل العشاء فصلى الوتر معهم لايجوز وتره فى قولهم قاضى خان ص١١٣، لكنه اذا لم يصل الفرض معه لا يتبعه فى الوتر كما فى المنيه جامع الرموز ص٩٧ ، لكن فى التتارخانية من التتمة انه سئل على بن احمد عمن صلى الفرض والتراويح وحده او التراويح فقط هل يصلى الوتر مع الامام فقال لا ثم رايت القهستانى ذكر تصحيح ما ذكره المصنف رح، ثم قال لكنه اذا لم يصل الفرض معه لايتبعه فى الوتر،

[١] الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٧. ظفير
[٢] ردالمحتار باب الوتر والنوفل قبيل باب ادراك الفريضة ج١ ص٦٦٤ . ظفير

ردالمحتار، اوپه بعضو روایاتوکی جواز لیکل سوی دی. واذا لم یصل الفرض مع الامام قیل لا یتبعه فی التراویح ولا فی الوتر وکذا اذا لم یصل معه التراویح لا یتبعه فی الوتر والصحیح انه یجوز ان یتبعه فی ذالك کله. صغیری شرح منیة المصلی ص ٢١٠.

اوس داخبره معلومول دی چه عند الاحناف مُرَجَّح کم یو روایت دی اوعلّت دترجیح څه دی. اوکه چیری په دی روایاتوکی تطبیق کیدی سی نو په کمه طریقه باندی. دجماعت ثواب ته په کتلو سره خو دجواز دروایت ترجیح څرګندیږي، بل داچي دوترو جماعت دتراویحو دجماعت تابع دی اوکه دماخستن دجماعت؟ دشقِ اول پربنا باندی دماخستن دجماعت په ترك کیدلو سره وتر دامام سره نه اداء کول ظاهراً څه وجه وجیهه نه لری او دشقِ ثانی پربنا باندی خصوصیت درمضان لغوه سو، بیاخو په غیرِ رمضان کی هم وتر په جماعت سره اداء کول پکار دی.

**جواب**: صحیح اوراجح روایت دصغیری معلومیږي. دطحطاوی دتحقیق څخه هم همدا ظاهریږی. قوله لبقی الخ قضیة التعلیل فی المسئلة السابقة بقولهم لانها تبع ان یصلی الوتر بجماعة فی هٰذه الصورة لانه لیس یتبع للتراویح ولا للعشاء عند الامام رحمه الله طحطاوی (1) اوشاید چه روایت دعدمِ جواز دصاحبینو رحمهما الله پرمذهب باندي بنا وي، ځکه چي هغوی وتر دماخستن تابع بولي، په خلاف دقول دامام اعظم ﷬ ځکه چي دهغه په نزد وتر دماخستن دلمونځ تابع نه دی. نو دامام صاحب ﷬ پرقول باندی جواز ظاهر دی. فقط

**<u>په وتروکی مسبوق ته دامام سره دُعا ویل کافي دي</u>**: **سوال**: (١٢٢٢) په رمضان شریف کی چه کله وتر په جماعت سره کول کیږي، که چیری یو سړی دوترو په دریم رکعت کي شامل سی نودا سړی به دُعاءِ قنوت دامام سره وایی، اوکه کم رکعت چي دهغه جماعت څخه پاته سوی دی په هغه کی به دُعاء قنوت وایی، کم وخت چه امام ددُعاء قنوت دپاره لاسونه لوړ کړی، نودی به هغه وخت دُعاء قنوت وایی اوکه بل څه به وایی؟

**جواب**: مسبوق به صرف دامام سره دُعاء قنوت وایی بیا به یې دقضا سوی رکعت په آخره کي نه وایی: واما المسبوق فیقنت مع امامه، درمختار. (2) فقط

❋　❋　❋

(1) طحطاوی علی الدرالمختار باب الوتر والنوافل مبحث التراویح ج١ ص٢٩٧ . ظفیر
(2) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل قبیل مطلب فی القنوت للنازلة ج١ ص ٢٢٨. ظفیر

# دوترو دوجوب تحقیق

## دمُخالفینو دشُبهاتو مُحقّقانه جوابُونه

**وتر واجب دي: مخالف او موافق دلائل**: **سوال**: (١٢٢٣) وتر واجب دی اوکه سُنت دی؟
**جواب**: (دبل چا (یوه اهلِ حدیث او غیرِ مُقلِّد) دطرف څخه)
وتر واجب نه دی بلکه سُنت دی. لکه څنګه چې په ترمذی اونسایي شریف کی دی: عن علی بن ابی طالب قال لیس الوتر بحتم کهیئة المکتوبة ولکن سنة سننها رسول الله ﷺ رواه الترمذی والنسائی وحسنه الحاکم. اوپه سبل السلام شرح بلوغ المرام کی دی: ذهب الجمهور الی انه لیس بواجب. اوپه ابن ماجه کی دی: ان الوتر لیس بحتم ولا کصلوتکم المکتوبة، اوپه تفسیرِ خازن کی دی: عن عائشه رضی الله عنها ان النبی ﷺ قال ثلاث هن علی فریضة وهن سنة لکم الوتر والسواك وقیام اللیل. غرض دادی چه ددی صحیح حدیثونو څخه همدا ثابتیږی چه وتر واجب نه دی اوهمدا مذهب دی دامام ابویوسف اومحمد رحمهما الله کم چه دامام ابو حنیفة رحمه الله لوی شاګردان دی او داکثرو سلفو هم دغه مذهب دی. ددی ټولو برخلاف دابو حنیفه (رضی الله عنه) مذهب قوی کیدی نسی ولی چه کم ځای صحیح حدیث وی دهغه برخلاف دیو امام پرمذهب باندی چلیدل سراسر غلطی اومحض تعصب دی، جواب ورکوونکی صاحب چه کم دعُقبه ابن عامر رضی الله عنه په حدیث سره دوجوب استدلال کړی دی هغه بالکل غلط دی، ولی چه په دی حدیث کی دوجوب هیڅیری ذکر نسته صرف دحدیث مذکور څخه فضیلت ثابتیږی، نه وجوب. که چیری دفضیلت دحدیث څخه وجوب ثابتول وی نو دسهار دسنتو په باره کی حضور ﷺ فرمایلی دی: رکعتا الفجر خیر من الدنیا وما فیها، رواه مسلم. دې ته هم واجب ویل پکار دی، حالانکه هیڅا پردی باندی دواجبو حکم نه دی کړی. نو معلومه سوه چه داسی حدیثونه صرف دفضائلو دپاره دی نه دوجوب دپاره. په داسی حدیثونو سره وجوب ثابتول پر کم فهمی باندی دلالت کوی اوپه ابوداؤد کی دی: ان رجلاً من بنی کنانة سمع رجلاً بالشام یدعی ابا محمد یقول ان الوتر واجب قال المخدمی خرجت الی عبادة بن الصامت فاخبرته فقال عبادة کذب أبو محمد سمعت رسول الله ﷺ یقول خمس صلوت کتبهن الله علی العباد، مختصراً.

دمُحبیب صاحب ددویم حدیث: الوتر واجب علی کلّ مسلم، دامعنٰی نه ده چه وتر واجب دی ولی چه واجب په معنٰی دثابت دی. دویم حدیث ددی دتائید په باب الغسل المسنون کی موجود دی: غسل یوم الجمعة واجب علٰی کلّ محتلم. که چیری هرځای دواجب معنٰی واجب وی، نودغسل حدیث هم دواجب په معنٰی کی اخستل پکار دی حالانکه ددی حدیث دوجوب معنٰی هیڅ یوشارح نه ده کړی بلکه هریوه ددی حدیث معنٰی ثابته کړی ده ولی چه دجُمعی غسل دهیچا په نزد واجب نه دی دټولو په نزد سُنت دی، حتّی چه عند الاحناف هم غسل مسنون دی. همدغه ډول دحدیث الوتر واجب، معنٰی ثابتٌ وګرځیده، نه واجب. کله چه واجب معنٰی نه سوه نو ددی څخه استدلال کول غلط وګرځیدل او دوترو مسنون کیدل ثابت سوه. لکه څنګه چه په سُبل السلام کی دی: والایجاب قد یطلق علی المسنون تاکیداً کما ذکر فی حدیث غُسل الجُمعة. طالبِ حق لره دومره کافی دی، کنې دلائل ډیر دی، که چیری ولیکل سی نو مستقل کتاب جوړیږی.

مفتی صاحب چه کم درې ۳ احادیث دیوه رکعات وتر په ممانعت کی پیش کړی دی هغه بالکل ضعیف دی اوپه صحاح ستهٔ کي بالکل موجود هم نه دي، دصحاح ستهٔ داحادیثو چي هغه صحیح او دټولو په وړاندي مسلّم دي مقابله نسي کولای، چه کله صحیح حدیث موجودوی نو په هغه سره به استدلال کول کیږي، لکه څنګه چه په نسایی شریف کی دی عن ابن عمر ان النبی ﷺ قال الوتر رکعة من آخر اللیل اوپه ابوداؤد کی دی عن ابن ایوب الانصاری قال قال رسول الله ﷺ الوتر حق علی کل مسلم فمن احب ان یوتر فلیفعل ومن احب ان یوتر بثلاث فلیفعل ومن احب ان یوتر بواحدة فلیفعل. ددی حدیث څخه دهغه خلقو دمذهب تردید راووتی کم خلق چه جزماً (په یقیني ډول) ددری ۳ رکعتو وترو حکم ورکوی. وایي، چه کله رسول الله ﷺ په هر ډول اجازت فرمایلی دی نو تحدید (تعین) دکم ځای څخه راباسی، خامخا عام شریعت مطهّره محدود کول نادانی ده. کله چه رسول مقبول ﷺ دچاچه مونږ تابعدار یُو هغوی دیوه رکعات وتر اودری ۳ رکعاتو وترو اوپنځو وترو کولو اجازت اورخصت مرحمت فرمایلی دی نوبیا دنورو خبره څرنګه تسلیم کړل سی، بلکه دارخصت محدود کول محضي تعصب اومذهبی پابندی ده. لکه څرنګه چه رسول مقبول ﷺ رخصت فرمایلی دی هغه ډول دي ولی فتوٰی ورنکړل سی، که څوك یو کوی، که دری کوی اوکه پنځه. اوپه ابن ماجه کی دی: سأل ابن عمر رجلاً کیف اوتر قال اوتر بواحدة قال انی اخشٰي ان یقول الناس البتیراء فقال سنة الله ورسوله یرید هذه سنة الله ورسوله. وګوری په دې حدیث کی صفا بیان دی چه دغه سړی حضرت ابن عمر رضی الله عنهما ته دیوه وترکولو اعتراض وکی، لیکن حضرت ابن عمر رضی الله عنهما ددغه

سړي خبره ونه منله بلکه دايي وويل چه (ستا خبره صحيح) نه ده يو وتر کول دحضور ﷺ سنت دی. نوموړ ځرنګه ويلی سو چه ددريو څخه کم يازيات جائزنه دی. اوپه فتح الباری شرح صحيح بخاری کی دی: وصح عن جماعة من الصحابة انهم اوتربواحدة من غير تقدم نفل قبلها وفي كتاب محمد بن نصير وغيره باسناد صحيح عن السائب بن يزيد ان عثمان قرأ القرآن ليلة في ركعة لم يصل غيرها وفي المغازی ان سعداً اوتر بركعة وفي المناقب عن معاوية انه اوتربركعة وان ابن عباس استصوبه، ددی ټولو اقوالو اواحاديثو څخه هم ثابتيږی چه هررنګه رخصت دی. نور ډير دلائل دی ليکن په سبب دعدم ګنجائش نسی ځائيدی. هم دومره کافی وګڼي. او درسول ﷺ فرمان بردار جوړسی ولی چه دهغوی فرمان برداری نجات دی. مفتی صاحب چي دمينځنی التحيات دثبوت دپاره کم حديث پيش کړی دی دهغه څخه دالتحيات ثبوت هرګز نه سی کيدی ولی چه په دی کي صرف همدا ده چه پشان دماښام دلمانځه دی، په دی کی دالتحيات هيڅ ذکر نسته، مماثلت تامه مرادنه دی، لکه چه يوسړی ووايي، زيد دزمری په شان دی، اوس ددی څخه دانه ثابتيږی چه زيد دی په رشتيا زمری وی بلکه صرف دامراد دی چه دزيد بهادری په شان دزمری ده. په دې ډول په دې حديث کی هم دا خبره ذکر کړده چه (وتر) دماښام دلمونځ په شان دی يعنی په شمارکی دماښام دلمونځ په شان دی. که چيری مماثلث تامه وګڼی نو بيا وتر هم دماښام دلمونځ په شان فرض عين ګڼل پکار دي، سره له دې چي وترو ته هيڅ څوك فرض نه وايی، نو ددی څخه معلومه سوه چه دلته مماثلثِ تامه مرادنه دی. بله داده چه په دی کی ذکردی چه دماښام لمونځ دورځی وتردی اودا دشپی وتر دی. ددی څخه هم داثابتيږی چه مماثلث صرف په وتر کيدلوکی دی مماثلتِ کلي نه دی. موږ دخدای په فضل سره دصحاح ستّهٔ وغيره څخه صحيح حديثونه وړاندی کوو په کومو کی چه صريح الفاظ دی چه په مينځ کي التحيات ويل نه دی پکار.

عن ابی هريرة مرفوعًا وموقوفًا لا توتروا بثلاث تشبهوا بصلوٰة المغرب وقد صححه الحاكم. اودويم حديث عن عائشة رضي الله عنها انه كان رسول الله ﷺ يوتر بثلاث لا يقعد الا في آخرهن، وروى النسائی من حديث ابی بن كعب نحوه، ولفظه يوتر بسبح اسم ربك الاعلى وقل يٰا أيها الكافرون وقل هو الله احد ولا يسلم الا في آخرهن. ددی حديثونو صريح الفاظ دی چه حضرت رسول الله ﷺ به په مينځ کی دالتحيات دپاره نه کښېنستی. داحتمال والا حديث ځرنګه ددې مقابله کولی سی. په اصل کی دوتروکولو دوه صورتونه دی، يوخو هغه کم چه ذکر سو (يعنی) بغير دالتحيات څخه په آخره کی سلام ګرځول.

دویم صورت دادی چي دوه رکعته وکړي او سلام وګرځوي او یو رکعت جلا وکړي، دا صورت ډیر بهتر دی. او همدا اکثرو خلګو خوښ کړی دی.

مفتی صاحب چه دقنوت په باره کی کم تحریر فرمایلی دی چه درکوع څخه وروسته قنوت مکروه دی. اوپنځلس ۱۵ ورځي حضور ﷺ پر یوقوم باندي لعنت کړیدی، په هغه کي په هغه کي دقبل اوبعد ذکر نسته معلومه نه ده چي آیامولوی صاحب دفتویٰ ورکولو په وخت کی په صُمٌّ بُکْمٌ کیدلو سره فتویٰ لیکلی ده، ولی چه په صریح حدیث کی لفظ دبعد ذکر سوی دی او مفتی صاحب دقبل اوبعد دواړو نفی تحریر کړیده. عن ابی هریرة ان رسول الله ﷺ اذا اراد ان یدعو علٰی احد او یدعو لاَحد قنتَ بعد الرکوع، الحدیث، په ابن ماجه کي دي: عن محمد قال سالت انس بن مالك عن القنوت فقال قنتَ رسول الله بعد الرکوع، عون المعبود، وقد روی محمد بن نصر عن انس ان رسول الله ﷺ کان یقنت بعد الرکعة وابوبکر وعمر حتی کان عثمان قنت قبل الرکعة قال المنذري وفی روایة قال هٰذا یقول فی وتر القنوت. ددی حدیثونو څخه ثابتیږی چه قنوت درکوع څخه وروسته ویل پکاردی مکروهه لیکل بی دلیله اوضد دی. که چیری څوك درکوع څخه مخکی قنوت ووایي نو موږ دا نسو ویلی چه داجائز نه دی. ولی چه ددواړو طرفو حدیثونه موجود دي، ددواړو طرفو په حدیثونو باندی دعمل کولو دپاره دی قنوت کله درکوع څخه مخکی وایی اوکله درکوع څخه وروسته، ولی چه په یوه حدیث باندی عمل کول او په بل باندی نه کول ښه خبره نه ده، مناسب همدادی چه په دواړو باندی عمل وکړی دپاره ددی چه په دواړو کی تعارض پاتی نه سی.

**جواب**: (دطرفه څخه دمولوی مشیت الله صاحب دیوبندی)

دټولو څخه مخکی داخبره عرض کول مناسب معلومیږی چه په دی (لوړ) جواب کی دغور او تنقیح څخه وروسته دري ۳ جُزه راوزی:

(۱). داچه وتر سنت دی، ددی پرواجب والی باندی هیڅ دلیل نسته او چاچه دعُقبه بن عامر ﷺ په حدیث سره استدلال کړی دی هغه بالکل غلط دی ولی چه په هغه کی دوجوب هیڅ ذکر نسته، اوپه: اَلْوِتْرُ وَاجِبٌ علٰی کُلِّ مسلم، سره هم پر وجوب باندی استدلال کول باطل دی ولی چه دلته واجب په معنٰی دثابت دی، وجوب اصطلاحی نه دی او واجب په دی معنٰی کی په کثرت سره راځی کما فی باب الغسل المسنون: غسل یوم الجمعة واجب، دلته دټولو په نزد واجب په معنٰی دثابت دی ولی چه دجُمعی غُسل ته هیڅوك واجب نه وایی.

(۲). ددرو رکعتو تحدید په وتروکی کول باطل دی. دو ترو یورکعت کیدل هم دنبی کریم علیه التحیة والتسلیم څخه ثابت دی لکه چه په نسائی کی دی: عن ابن عمر ﷺ ان النبی ﷺ قال الوتر رکعة من آخر اللیل. او په ابوداؤد کی دی: عن ابی ایوب الانصاری قال قال رسول الله ﷺ الوتر حق علی کل مسلم فمن احب ان یوتر بخمس فلیفعل ومن احب ان یوتر بثلاث فلیفعل ومن احب ان یوتر بواحدة فلیفعل. ددی دواړو روایتونوڅخه دهغه خلقو دمذهب تردید راووتی ځوك چه جزمًا وتر دری ۳ رکعته ګڼی، او پردی باندی دلیل راوړل پکاردی چه دوی ددرو رکعتو تحدید دکم ځای څخه کوی. بل داچه دحضرت عائشي ﷺ په روایت: انّه کان النبی ﷺ یوتر بثلاث لایقعد الا فی آخرهن، سره په وتر دری رکعته منلو سره داولنی قعدی نفی کیږی. بیا دمینځنی التحیات ثبوت څرنګه کیدی سی؟

(۳). درسول الله ﷺ څخه قنوت بعد الرکوع ویل هم ثابت دی، بعد الرکوع اوقبل الرکوع په دواړو طریقو قنوت ویل بغیر کراهته جائز کیدل پکاردی بیا بعد الرکوع قنوت ویل مکروهه څنګه سو.

دا دري ۳ خبری دی دکومو چه جواب ورکونکی (غیرِ مُقَلِّد) صاحب التزام کړی دی، او دخپلی کم فهمیٔ ډاډ یې پخپله خپل ځان لره ورکړی دی، او لیکلی یې دی چه دټولو روایتونو پرخلاف یو مذهب قوی نسی کیدی، ولی چه هرچیری صحیح حدیث وی دهغه پر خلاف په یوه مذهب باندی چلیدل سراسر غلط اومحض تعصب دی.

تاته به انشاء الله تعالٰی معلومه سی چه دامام ابوحنیفه ﷺ مذهب دصحیح روایاتو سره څومره زیات نژدی دی. دا دابوحنیفه (ﷺ) کمالِ فراست اوتفقُّه فی الدین دی چه صحیح روایات خو لا څه کوي ضعیف روایت یې هم دلاسه نه دی ورکړی (بلکه عمل یې په کړی دی). امام صاحب ﷺ دروایاتو تعامل او قرائنو ته په کتلو سره داسی پاکیزه او عمده حل را باسی چه دهغه دکبله په ټولو روایاتو باندی اګر چه هغه متعارض وی عمل کول آسان سی. غیرِ متعصب شخص ددې اندازه کولی سی. دمتعصب او عناد کونکی په خیال کی داخبره هیڅکله نسی راتلی، لیکن :

گر نه بیند بروز شپره چشم　　　　چشمه آفتاب را چه گناه
نو په دې کي دلمر نسي لیدی　　　　که چوپرك دورځي لمر دتکیٔ څه ګناه ده

ددی خبری څخه زموږ مقصود پرچا باندی طعن او تشنیع (عیب او ملامتیا) نه ده، اونه زموږ داطریقه ده، نه موږ داسی بېباکه یُو چه دتعصب په پرده کی رامخ ته سو اوچه دکم امام مو زړه وغواړي توهین وکو. البته زموږ ددغه پورتنی فتوٰی جواب غوښتل

سویدی، په همدې خاطر چې کم زموږ په نزد حق دی هغه نمبروار پردرو اجزاؤ (حِصو) باندی په تقسیمولو سره جواب ورکؤو. واللهُ الْمُوَفّق لِلصَّواب.

(١) دوترو په باره کی اگر چه دامام ابوحنیفه رحمه الله څخه یوروایت داهم دی چه وتر سُنَّت دی لیکن دصاحبِ نهایه غوندی دمذهب محقّقینو اَصَح اوراجِح روایت وجوب گرځولی دی. اوس کتل دې ته پکار دی چه صرف امام صاحب رحمه الله وتر واجب گرځولی دی او که نور حضرات هم دوجوب قائل دی. دجناب مُجیب صاحب دښه پوهې په رڼا کې ده داسې وګڼل چه امام ابو حنیفه رحمه الله په دی کی منفرِد (یوازي) دی. کاشکې! چه دی دامام بدر الدین عینی رحمه الله ددې عبارت څخه خبر وای: وحکی ابن حزم ان مالکًا قال من ترکه أُدِّب وکانت جرحة فی الشهادة الخ وفی المصنف عن مجاهد بسند صحیح هو واجب ولم یکتب الخ وحکی ابن بطال وجوبه عن اهل القرآن عن ابن مسعود وحذیفة وابراهیم النخعی وعن یوسف بن خالد السمتی شیخ الشافعی وجوبه وحکاه ابن ابی شیبة ایضًا عن سعید بن المسیب وابی عبیدة بن عبد الله ابن مسعود والضحاك ([1]) إنتهی. نومعلومه سوه چه یوازی ابوحنیفه رحمه الله دوجوبِ وترقائل نه دی، بلکه په سَلفو کی یو جماعت ورته دابو حنیفه رحمه الله په شان واجب وایی. حتّی چه دامام مالك رحمه الله هم رجحان دې طرف ته معلومیږی ولی چه دا ډول سخت الفاظ دواجبو دپرېښوولو په باره کی ویل کیږی. او حافظ علیم الدین السخاوی خو دوترو دفریضت قائل سوی دی. کما فی حاشیة بحر الرائق: واختار الشیخ علیم الدین السخاوی انه فرض وعمل فیه جزءًا وساق الاحادیث الدالة علی فرضیته ثم قال فلا یر تاب ذو فهم بعد هٰذا انها الحقت بالصلوٰت الخمس فی المحافظة. ([2]) إنتهٰی.

اوعجیبه نه ده چه دامام بخاری رحمه الله په نزد دي هم دوجوب طرف راجح وی. کما اشار الیه الحافظ فی فتح الباری: افراده بالترجمة عن ابواب التهجد والتطوع یقتضی انه غیر ملحق بها، ثم قال الحافظ ولولا انه اورد الحدیث الذی فیه ایقاعه علی الدابة الا المکتوبة لکان اشارة الی انه یقول بوجوبه. ([3]) انتهٰی.

حافظ" خوپه ښکاره ډول وویل چه دامامِ بخاری رحمه الله دصلوٰة وتر اوصلوٰة لیل دپاره جلا

---

([1]) عمدة القاری ابواب الوتر ج٢ص ٤١٢ . ظفیر

([2]) حاشیه بحر الرایق ج٢ ص٤٠ . ظفیر

([3]) فتح الباری ابواب الوتر ج٢ ص ٣٩٧ . ظفیر

جلا تراجم اوبابونه راوړل ددې تقاضاکوی چه بخاری رحمه الله وتردصلٰوةِ لیل سره نه یوځای کوی، لیکن دې ته په کتلو سره چه بخاری رحمه الله په ابوابِ وترکی هغه حدیث هم راوړی دی، په کم کی چه رسول الله ﷺ وتر پردَابه باندی دسپرلی په حالت کی کړی دی، نو حافظ فرمایلی دي چه بیشکه او شُبهی دابه ویل سوی وای چه بخاری رحمه الله دوجوبِ وتر قائل دی. که چیری بخاری دافِسم حدیث نه وی راوړی په کم کی چه درسول الله ﷺ څخه وتر پردابه باندی کول ثابت دی. نو زه وایم چه بُخاری رحمه الله یقیناً دصلوة وتر دوجوب قائل سوی دی، دومره خبره خو حافظ" هم مني چي دبخاري رحمه الله دصلاةِ لیل او وترو دپاره جلا جلا بابونه راوړل ددې تقاضا کوي چي بخاري رحمه الله دواړه په یوه درجه کي ساتل نه غواړي، او دی دوترو دوجوب قائل سویدی ، لیکن دبخاری رحمه الله په هغه روایت راوړلو سره په کم کی چه درسول الله ﷺ څخه پردابه باندی وترکول ثابت دی. اوس دانسبت هغوی دطرف ته نسی کیدی. زه وایم باوجود ددی چه بخاری داقسم حدیث هم راوړی دی، دکم څخه چه دنبی کریم ﷺ پردابه باندی وتر کول ثابتیږی خو بیا هم دا دبخاری رحمه الله دهغه مقصد منفی نه دی کم چه یې دترجمو په جلا جلا راوړلو کی اشارةً ذکرکړی دی ولی چه ته به ډیر تر ډیره دا ووایې چه کله بخاری رحمه الله دوترو دوجوب قائل سو نوهغه لره بیا هغه حدیث راوړل نه ؤ پکار په کم کی چه دادي چه دسپروالی په حالت کی وتر ادا کړل سوی دی، ځکه چي دا ممکنه نه معلومیږي چي وتر دي واجب وي او بیا پر دابه باندي دسپرلي په حالت کي دي ادا سوی وي.

ددی څخه وروسته زه ستاسو څخه پوښتنه کوم چه ددی دلیل راوړی او ثابته کړئ چه دبُخاری رحمه الله هم دغه مسلك دی چه واجب که دسفر په حالت کی وی هم پردابه باندی یې کول جائز نه دی. بُخاری رحمه الله داجتهاد وړتیا اوقابلیت لری. عجبیه نه ده چه دوتر دوجوب دقائل کیدلو سره سره پردابه باندی اداء کول یې هم جائز بللي وي. اوبهتره خبره داده چه داسي وویل سی چه بخاری رحمه الله دهغه حدیث په راوړلو سره په کم کی چه دادی چه رسول الله ﷺ پردابه باندی وتر کول، دې ته اشاره کړیده چي پردابه باندي وتر کول دوجوب منافی نه دی، ولی چه دا واقعه دحال لاَ عَمُوْمَ لَهَا په طور باندی ده (یعني داسي واقعه ده چي عمومي شکل اوډول نه لري) اوکله چه دمعتبرو روایاتو څخه ثابته ده چه درسول الله ﷺ عادت شریف داؤ چه وتربه یې ددابی څخه پرمزکه باندی په راکښته کیدلو سره کول. کما فی الطحاوی، نوهرو مرو او لا محاله داوتر به پردابی سربیره دیو عذر په حالت کی سوی وی اودُعذر په حالت کي واجب خوځه چي فرض هم پردابه باندي

سربيره كول متفق عليه جائز دي، ځكه نوپه دې روايت كى پردابى باندى وتر كيدل دوجوبِ وتر سره منافى نه دى. والله اعلم

دوترو دسُنيّت په قائلينو كى يوه ډله وتر دنبى كريم ﷺ په حق كى دخصوصيت په طور واجب ګڼى اوبيا دحضور ﷺ پردابه باندى اداء كول يې هغوى مُضر نه ګڼي.

مقصد دادى چي دبخارى رحمه الله شان، اودهغه" عادت ته په كتلو سره هم دا معلوميږي چي امام بخاري رحمه الله هم دامام ابوحنيفه رحمه الله په شان دوترو دوجوب قائل سوى دى.

دامام ابوحنيفه رحمه الله په باره كى خو بعضى عناد لرونكى او تعصّب لرونكى داهم وايى، چه هغوى ته دصحيحو رواياتو ذخيره نه وه رسيدلى، ښه نو دامام بُخارى رحمه الله په باره كى به څه وايى ځوك چه امير المومنين فى الحديث دى چه هغوى هم دوجوب قائل سوى دى، اوس ددومره فهرست شمارلو څخه وروسته زموږ مجيب مجتهد ته داحق پاته نسو چه هغه دسُبل السلام عبارت: وذهب الجمهور الى انه ليس بواجب، زموږ په مخكى په پيش كولو سره دا دعوٰى وكړى چه ابو حنيفه رحمه الله په دى مسئله كى منفرد دى.

كه چيرى زموږ دمجيب صاحب خيال وى نو په واقعيت كي دسبل السّلام داعبارت به بيشكه دتحقيق په مقام كى دنظر څخه دغورځولو قابل وى، اوكه چيرى داسى نه وى بلكه دسبل السلام دصاحب دنفى دواجب څخه مراد نفى دفرضيت وى او زموږ مجيب صاحب دظاهرى الفاظو څخه خطا وتلى وي اوداسي ورته بربښيدلي وي چي نفي دوجوب به مراد وي، نوبيا هم داخبره دحنفيه ؤ په وړاندي نسي پيش كولاى ځكه چي حنفيانو خو دفرضيت دعوه نه ده كړي.

دوترو دواجب والى دلائل متعدد دى، په عمدة القاري شرح بخاري كي امام بدرالدين عيني رحمه الله هغه ټول بالاستيعاب ذكر كړيدى، ستاسو دتسلى له خاطره په مختصر طور سره دري څلور دلته هم ذكر كوم. عن النبى ﷺ قال اجعلوا آخر صلوتكم باللّيل وتراً. رواه (١) مسلم. وعنه ان النبى ﷺ قال بادروا الصبح بالوتر، رواه مسلم، (٢) وعن ابى سعيد الخدرى ان النبى ﷺ قال اوتروا قبل ان تصبحوا. رواه الستة الا البخارى (٣) دا درى روايتونه دى په كموكى چه دوترو تعليم په صيغى دامر ذكر سوى دى. او اګرچه داهل تحقيقو دمذهب پربنا باندى امر دوجوب دپاره نه وى ليكن دلته به امر بالضرور دوجوب دپاره منل كيږي. پردى باندى منجمله دډيرو قرائنو څخه ترټولو لويه او بهتره

(١) مشكوٰة باب الوتر ص ١١١ . ظفير

(٢). ايضًا . ظفير

(٣) ايضًا . ظفير

قرینه داده چه وتر په اصل کی هغه لمونځ دی کم چه دسورت مزمل دنازلیدلو په وخت کی فرض کړی سوی ؤ. او دطبقات ابن سعد دروایت چي: ان الله ایدکم اللیلة صلٰوة، الحدیث څخه والله سبحانه وتعالٰی اعلم داسی معلومیږی چه دالمونځ دمخکی څخه شفعًا فرض ؤو. ایتار بیا وروسته فرض کړل سو. ذکره الخطابی فی معالمه. غرض داچی په دی کی شك نسته چی دالمونځ په یو وخت کی یقینًا فرض ؤو. اوس کتل ددی خبري پکار دي چی بیا وروسته ددی لمونځ وجوب اولزوم منسوخ سوی دی اوکه تطویلِ قراءة. نو په: فاقرأوا ما تیسر من القران، سره تطویل دقراءة منسوخ سوی دی، ددی وجوب او لزوم په منسوخ سوی نه دی هغه هم هغه ډول باقی دی، او دوجوب اولزوم په نسخ باندی هیڅ دلیل صریح موجود نه دی. هو! دفرضیت دنسخ احتمال سته، لهٰذا ددی ټولو وجوهاتو په رعایت کولو سره حنفیه دفرضیت دعوٰی نه کوی، بلکه دوجوب اولزوم مدعیان دی. حتٰی چی زما ددی تقریر څخه داخبره هم معلومه سوه چی دوترو وجوب دسورت مزمل دنزول دوخت څخه تراوسه پوری راروان دی منسوخ سوی نه دی، او څرنګه څوك دنسخ دعوٰی کولی سي کله چی دوجوب پرنسخ باندی هیڅ دلیل موجود نه دی. که چیری ستاسو سره څه دلیل وی نوبسم الله کی دا یې ګز دا یې میدان، پیش ئی کړی، هو! شرط دادی چی انصاف دی ملحوظ وی. اوکه چیري ددی ټولو روایاتو په پیش کولوسره ستاسو تسکین نه وی سوی اودا معنوی نظر چه امر دوجوب دپاره دی زمونږ دمجتهد مجیب په پوهه کی رانه سی نو نور هم ورسره واؤری:

په ابوداؤد کی دی: عن عبدالله بن بریدة عن ابیه قال سمعت رسول الله ﷺ یقول الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منا، الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منا (١) قال العینی وهٰذا حدیث صحیح وفیه ابو المنیب وثقه ابن معین وقال ابن ابی حاتم هوصالح الحدیث وقال یحول (٢). ددی حدیث څخه معلومه سوه چه رسول الله ﷺ وتر دسنتو په شان نه دی لرلی بلکه دتارك په حق کی یې شدید وعید فرمایلی دی او دمادونَ الفرض اوما فوق السنن رُتبه یې ددی دپاره مقرره فرمایلی ده. ولیس هٰذا الاّ الوجوب. امام ابو حنیفه رحمه الله همدی ته واجب وایی. په فرضو اوواجبو کی دامام صاحب په نزد واضحه فرق دی کما فی البحر. وذکر حکایة فی البدائع هی ان یوسف بن خالد السمتی کان من اعیان فقهاء البصرة فسأل ابا حنیفة عنه فقال انه واجب فقال له کفرت یا اباحنیفه ظنًّا منه انه یقول انه فریضة فقال ابوحنیفه أیهولنی إکفارك ایای وانا أعرف الفرق بین الفرض والواجب کفرق مابین

(١) مشکوٰة باب الوتر فصل ثانی ص١١٣ . ظفیر
(٢) عمدة القاری ابواب الوتر ج٣ ص ٤١٢ . ظفیر

السماء والارض ثم بين له الفرق بينهما فاعتذر اليه وجلس عنده للتعلم ([1]) اهـ.
باقي دعمرو بن سعد او دعقبه بن عامر په روايت چي: اِنَّ اللهَ زَادَكُمْ صَلٰوةً وَهِيَ خَيْرٌ لَّكُمْ مِنْ حُمُرِ النَّعَمِ، حديث دی په دې سره هم پروجوب باندی استدلال کړی سوی دی او طريق داستدلال دادی چه په دی روايتونو کی دوترو دمشروعيت نسبت دخدای تعالٰی طرف ته کړی سوی دی بل داچه چونکه دمزيد عليه دجنس څخه زياتوالی کيدل پکاردی او ظاهره ده چه دفرائضو دجنس څخه واجب دی، ددی وجه په دی روايتونو سره دوجوب طرفته اشاره ګنل سوی ده. لکه څنګه چه تعين او تحديد داوقاتو هم په دی روايت کی پردی باندی دلالت کوی چه وتر واجب دی. دلته په رارسيدلو سره شايد چه دچاپه ذهن کي بار بار داخيال نوکاری ولګوی، چه که چيری ددی رواياتو څخه وجوب ثابتيږی نوپکار ده، چه دسهار سُنتو ته هم واجب وويل سی ولی چه دسهار دسنُتو متعلق هم په همدی الفاظو سره داقسم روايت مروی دی حالانکه دهغی دوجوب هيڅوك قائل نه دی.
بيشكه چي دشُبهی په درجه کی که چيری يوه ستره خبره وی نوهغه داده. ليکن ددی هر څه باوجود دابوحنيفه رحمه الله وسعتِ نظر (پراخ ذهن) ته وګوری! چه کله امامِ موصوف رحمه الله دا وليدل چه دسهار په سُنتو او وتروکی په نسبت دټولو سُننو اونوافلو اګرچه زور لرونکي الفاظ استعمال کړل سوی دی ليکن ددی باوجود په تعامل کی دوترو اهتمام دسهار ترسُنتو زيات کړی سوی دی په صحابه ؤ رضي الله عنهم کی دهيڅا څخه په سفر اوحضر کی احيانًا هم تركِ وتر ثابت نه دی بل داچه درسول الله ﷺ څخه دمواظبة سره سره دوترو پرېښوولو ثابتيدل مشکل دی، اوپه کمه درجه کی چه هغوی ﷺ دوترو دتارك دپاره سخت وعيد فرمايلی دی، دسهار دسنتو دتارك دپاره ئی نه دی فرمايلی، پردی بنا باندی امام الائمه رحمه الله په دواړوکی دافرق وکی چی وتر ئی واجب اودسهار سنت ئی مؤکده وګرځول. دوترو دوجوب دلائل نورهم ډيردی ليکن داوخت پرهم دومره باندی په اکتفا کولو سره دمجيب صاحب په خدمت کی په ادب سره عرض کوم چه حضرت:
بيشکه موږ تسليموو چه په: الوتر واجب علٰی کُلِّ مُسْلِمٍ، سره پردی وجوب باندی استدلال نسی کيدی، ولی چه په قول ستاسو دلته واجب په معنٰی دثابت دی، وجوب اصطلاحی مرادنه دی. دا اصطلاح مستحدث امر (يونوی شی) دی دا په حديث کی څنګه کيږی، داهر څه صحيح، ليکن حضرت! داخو وفرماياست چه په: ليس الوتر بحتم کهيئة المکتوبة ولکن سنة سنها رسول الله ﷺ رواه الترمذی، ([2]) سره دوجوب پرنفی او دوترو

---

([1]) البحر الرائق باب الوتر والنوافل ج٢ ص ٣٨. ظفير
([2]) ترمذي شريف باب ماجاء ان الوتر ليس بحتم ج١ ص٦٠ ، دحديث توري: ليس الوتر بحتم، نه دی بلکه: الوتر ليس بحتم دی. ظفير

پرسُنیت څنګه استدلال کیدی سي، دلته تاسو څنګه معلومه کړه چي دسنت څخه یوازي سنتِ اصطلاحي مراددي کم چه دواجب څخه مغائر اوتر هغه دلاندي مرتبي دی. دلته دا ولی نه وایاست چه دسُنت څخه طریقه مرضیه مرادده کمه چه واجب اوسُنت ټولو ته شامله ده. لکه څنګه چه درِوایت سیاق او سباق هم ددی خبری تائید کوی. په دی کی دهغه وجوب نفی ده کم چه دفرضو په شان وی، دمطلق وجوب نفی نه ده. موږ ته دی وښودل سی، چه ددی حدیث دکم لفظ څخه دوجوب نفی کیږی؟ داخو موږ هم مَنو چه په حدیث کی دوترو دفرضیت نفی سوی ده لیکن داخبره چه دسُنت څخه خالص سُنت اصطلاحی مراد دی کم چه واجب ته شامل نه دی، او دحدیث څخه دوجوب نفی کیږی دا څرنګه اوپه کمی قاعدی سره تاسو معلومه کړه؟ معلومیږی چه زموږ مجیب مجتهد ته دخپلی مقرر کړی قاعدی څخه چي ویلي وه (په حدیث کی اصطلاحی الفاظ مراد اخستل باطل دی، اصطلاح مستحدث امردی) دلته په رارسیدلو سره ضرور غفلت سوی دی، په دی وجه ددی مصداق سو: حَفَظْتَ شَیْئًا وَغَابَتْ عَنْكَ اَشْیَآءٌ، اوکه چیری زموږ مجیب صاحب دا فرمایی چه په حدیث کی اصطلاحي الفاظ کیدل ضروری خونه دی لیکن دلته دروایت دسیاق اوسباق څخه داسی معلومیږی چه دسُنّیت څخه سُنیتِ اصطلاحی مراددی عام نه دی کم چه واجب ته هم شامل دی. نو جنابه: اوّلاً خو دا دسیاق اوسباق څخه راوزی نه، بلکه برعکس دامعلومیږی چه دوجوبِ اصطلاحی نفی مقصود نه ده. او که چیری هم داسی سی لکه څنګه چه تاسی فرمایلی، نو زه هم وایم چه په: اَلْوِتْرُ وَاجِبٌ کی اصطلاح وجوب مراد دی، دلته دواجب څخه مسنون مراد نه دی. دا منمه چه: الایجاب قد یُطلق علی المسنون تاکیداً، لیکن داڅه ضروری ده چه دلته دی هم دواجب څخه مسنون مراد وی. ددی تاسی دلیل پیش کړی، کنې زه وایم که چیری ستاسی همدغسی سیاق اوسباق دی نو دلته هم داسي وګڼي چه حدیث: مَنْ لَمْ یُوْتِرْ فَلَیْسَ مِنَّا، رواه احمد [١]، ددی تقاضا کوی، چه په: اَلْوِترُ واجبٌ کی دواجب څخه مسنون مراد نه دی، بلکه هم هغه مراددی دکم چه ابوحنیفه قائل سوی دی ولی چه عُرفًا وجوب په معنٰی دلزوم مستعملیږی. بل داچه دا شدید وعید کم چه دامام محمد رحمه الله په روایت کی دی صرف پرترکِ واجب باندی کیدی سی.

غرض دا چه دا حدیث: لیس الوترُ بحتم کهَیئة المکتوبة الحدیث ، دوترو دسُنتیت په استدلال کی په هیڅ شان سره دپیش کیدلو لائق نه دی. پاته سو دابنِ ماجه اوخازن

---

[١] مشکوٰة عن ابی داود. باب الوتر ص ١١٣ . ظفیر

روایت: نوموړ ته زیات تعجب دی چه تاسی په خپل استدلال کی داسی ضعیف روایتونه ولی پیش کړل، کم چه دخازن روایت دی هغه خو ساقط الاسناد دی، او دابن ماجه روایت په صحیح طور باندی داسی دی: اِنَّ الْوِترَ لیس بِحَتْمٍ کَصَلٰوتِکم المکتوبة (١) اودا په هیڅ شان دحنفیه ؤ معارض کیدی نسی، ولی چه حنیفه دداسی وجوب انکار کوی کم چه دفریضت په شان وی. او دابوداؤد هغه روایت په کم کی چه دادی: ان رجلاً من بنی کنانة سمع رجلاً بالشام یدعی ابا محمد المخدجي یقول ان الوتر واجب قال المخدجي فرحت الی عبادة بن الصامت فاخبرته فقال عبادة کذب ابو محمد سمعت رسول الله ﷺ یقول خمس صلٰوة کتبهن الله علی العباد. انتهی مختصراً. (٢) په دی کی عُباده ﷺ دفریضت نفی کړی ده. دواجبِ اصطلاحی یې نه ده کړی. دصحابه ؤ ﷺ په زمانه کی به دواجبو اطلاق پرفرضو باندی کیدی. همدا وجه ده چه یوسف بن خالد السمتي یوازي په واجب ویلو باندی ابوحنیفه ته کافر وویل، خوکله چي ابوحنیفه ﷺ دواجب حقیقت دهغه په وړاندي ښکاره کړ اوپه واجب اوفرض کی یې ورته فرق وښووی نوهغوی ورته معذرت وکړی اودتعلیم په غرض ورته کښېنستی. خاص همدغه ډول عُباده ﷺ هم دابو محمد په واجب ویلو سره داسي وګڼل چه ابو محمد دوترو دفرضیت قائل سوی دی، ځکه یې ددی په آوریدلو سره وفرمایل چه ابومحمد دروغ وویل. مادرسول الله ﷺ څخه اوریدلي دی، چه ټول پنځه لمونځونه فرض دی کم چه الله تعالی پرخپلو بندګانو باندی فرض کړی دی (شپږم هیڅ لمونځ فرض نسته) داؤ اصل حقیقت، زموږ مجیب صاحب په خپلی ښه فهم سره داسي ګڼلي وه چه عُباده ﷺ دوجوب اصطلاحی نفی فرمایی، جزء ثانی ته یې ونه کتل چه ددی څخه دواجب بمعنٰی فرض نفی مقصود ده دمطلقًا واجب نفی مقصود نه ده. ددی روایت او دموطا دهغه روایت څخه چي په هغه کی دادی چه دحضرت ابن عمر ﷺ څخه پوښتنه وکړل سوه چه آیا وتر واجب دی؟ نوهغوی وفرمایل چه: اَوْتَرَ النَّبِیُّ والمسلمون (٣) صفا یې دا ونه فرمایل چه واجب دی یا واجب نه دی. معلومیږی چه دصحابه ؤ ﷺ په زړونوکی داخبره راسخه وه چه وتر اګر چه فرض نه دی، سُنت هم نه دی ولی چه ترسُنت په دی کی زیات تاکید راځی. همدا وجه ده چه ابن عمر ﷺ اَوْتَرَ النَّبِیُّ

(١) داحدیث په ترمذی کی په همدی الفاظو سره دحضرت علی ﷺ څخه مروی دی، وګوری ترمذی باب ما جاء ان الوتر لیس بحتم ج١ ص٢٠ ، لیکن په ابن ماجه کی په هغه الفاظو سره دی کم چه اولنی مجیب نقل کړی دی. وګوری ابن ماجه باب ماجاء في الوتر ص ٨٣ . ظفیر

(٢) ابوداؤد باب من لم یوتر ج١ ص٢٠١ . ظفیر

(٣) مشکاة باب الوتر ص١١٣، الفاظ یې دادي: اوتر رسول الله صلی الله علیه وسلّم واوتر المسلمون. ظفیر

والمسلمون، په جواب كې وفرمايل، دايې ونه فرمايل چه مسنون دى. دمسنون ويلوځخه راوگرځيدى. امام ابوحنيفه رحمه الله په دى منشاء باندى ښه پوه سو، هغه دوجوب قائل سو نه يې وتر سنت وگرځول اونه فرض. وذالك فضل الله يؤتيه من يشاء والله ذو الفضل العظيم. ([1]).

(۲). په دى جزء كې دحنيفه ؤ دوې ۲ مسئلې دى:

(۱) وتر درى ركعته دى، يو ركعت هرگز وتر نسى كيدى.

(۲) او دا درى ركعته وتر په دؤو قعدو اويوه سلام سره دى په دؤو سلامو يا يوى قعدى سره نه دى.

دا دوې هغه مسئلى دى دكمو چه مجيب مجتهد پرحنفيه ؤ باندى په الزام لگولو سره انكار كوى، حالانكه اقرب الى الروايات بيشكه دحنيفه ؤ مذهب دى. په دى كى شك نسته چه بعضى روايت داسى هم سته په كمو سره چه په بادئُ النظر كى دوترو يو ركعت كيدل هم ثابت دى، لكه ځنگه چه دابن عمر رضي الله عنهما په يوه روايت كى دى: ان النبى صلى الله عليه وسلم قال الوتر ركعة من آخر الليل، رواه النسايى ([2]) او دابو ايوب انصارى رضي الله عنه روايت: الوتر حق على كل مسلم فمن احب ان يوتر بخمس فليفعل ومن احب ان يوتر بثلاث فليفعل ومن احب ان يوتر بواحدة فليفعل ([3]) اودابن ماجه روايت: سئل ابن عمر رجل فقال كيف اوتر بواحدة قال انى اخشٰى ان يقول الناس البتيراء فقال سنة الله ورسوله يريد هذه سنة الله ورسوله ([4]). دادرى روايتونه دى كم چه مجيب صاحب دوترو كم از كم ديوه ركعت كيدلو په استدلال كى پيش كړى دى، اودعوىٰ يې كړى ده چه دوترو يو ركعت هم كيدى سى حالانكه په دى (روايتونو) كى دابو ايوب انصارى رضي الله عنه روايت خو موقوف دى. كما صرّح به الحافظ فى التلخيص (اى التلخيص الحبير) وصحح ابو حاتم والزيلعى والدارقطنى فى العلل والبيهقى وغير واحد. وهو الصواب. غرض داچه ددى حديث رفع معلوله ده، موقوف والى يې صواب دى ([5]) . پاته سو دابن ماجه اونسايى روايت ددوى هرگز دا مطلب نه دى چه يو ركعت بغير دتقديم دشُفعى ځخه وتر دى بلكه مطلب دادى چه كه چيرى يوسړى صلوة ليل اوتهجد كوى نو دهغه په حق كى وتر آخر والا ركعت دى ولى

---

([1]) مشكوٰة باب الوتر ص ۱۱۳ ، الفاظ يې داسي دى: اوتر رسول الله صلى الله عليه وسلم واوتر المسلمون. ظفير

([2]) مشكوٰة عن مسلم باب الوتر ص۱۱۱ . ظفير

([3]) مشكوٰة باب الوتر فصل ثانى ص۱۱۲ . ظفير

([4]) ابن ماجه باب ما جاء فى الوتر بركعة ص۸۳ . ظفير

([5]) يعني دحديث مضمون دنبي كريم صلى الله عليه وسلم قول نه دى ، بلكه قول دصحابي دى. حقاني

چه ددی یورکعت وتر جوړسو لکه څنګه چه ددی مقصد تائید دابن عمر ﷺ په بل روایت سره کیږی کم چه په بُخاری کی دی: قال النبی ﷺ فإذا اخشي احدکم الصبح صلی رکعة واحدة توتر له ما قد صلی. انتهی مختصراً، (١) اوپخپله دحضرت ابن عمر ﷺ هم دامذهب نه ؤو چه صرف یورکعت وتر دی بلکه دهغوی په نزد دری رکعته مفصولاً په دؤو قعدو سره اوپه دؤو سلامو سره کول جائز ؤ. لکه څنګه چه طحاوی دابن عمر ﷺ څخه نقل کړی دی چه هغوی به وتر دری رکعته کول. ددی راویتونو خو داحال ؤ، باقی په کثرت سره روایت صحیحه داسی سته دکمو څخه چه وتر صرف دری رکعته کیدل ثابت دی. وفی الطحاوی روایات کثیرة تدل علی ان اجماع المسلمین علی ان الوتر ثلث. اودحضرت عمر ﷺ دزمانی دتراویحو څخه همدا ثابتیږی. ستاسی دتسلی دپاره داسی روایتونه ذکر کوم دکمو څخه چه بالتصریح دوترو دری رکعته کیدل معلومیږی، په صحیح بخاری کی دی: عن ابی سلمة عن عبد الرحمٰن انه سئل عائشه کیف کانت صلٰوة رسول الله ﷺ فی رمضان فقالت ما کان رسول الله ﷺ فی رمضان وغیره علی احدی عشرة رکعة یصلی اربعًا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم یصلی اربعًا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم یصلی ثلاثًا قالت عائشه یارسول الله اتنام قبل ان توتر فقال یا عائشه ان عینیَّ تنامان ولا ینام قلبی، (٢) اوپه صحیح مسلم کی دی: عن ابن عباس ﷺ انه رقد عند رسول الله ﷺ فاستیقظ وتسوك وتوضا وهو یقول: ان فی خلق السمٰوٰت والارض واختلاف اللیل وانهار لآیات لاولی الالباب، فقرأ هٰولاء الآیات حتی ختم السورة ثم قام فصلی رکعتین فاطال فیها القیام والرکوع والسجود ثم انصرف فنام حتی نفخ ثم فعل ذٰلك ثلث مرّات ست رکعات کل ذٰلك یستاك ویتوضأ ویقرء هٰولاء الآیات ثمّ اَوتر بِثلاثٍ، (٣) دابوداؤد څخه ماسوا دسننو په ټولو کتابونو کی دی: عن سعید بن جبیر عن ابن عباس ان رسول الله ﷺ کان یوتر بسبح اسم ربك الاعلی وقل یایها الکٰفرون وقل هوالله احد. اسناده حسن (٤) او دترمذی څخه ماسِوا دسننو په ټولو کتابونو کی دی: وعن ابی بن کعب قال کان رسول الله ﷺ یوتر بسبح اسم ربك الاعلی وقل یٰایها الکٰفرون وقل هوالله احد. اسناده صحیح (٥)، وعن عبد الرحمٰن بن اَبْزٰی انه

(١) مشکوٰة باب الوتر فصل اول ص١١١ . ظفیر
(٢) بخاری باب قیام النبی ﷺ باللیل ج١ ص١٥۴ . ظفیر
(٣) مشکوٰة باب صلوة اللیل ص١٠٧ . ظفیر
(۴) عمدة القاری. ابواب الوتر ج٣ ص ۴٠۵ . ظفیر
(۵) عمده القاری ابواب الوتر . ج٣ ص ۴٠۵ . ظفیر

صلی مع النبی صلی الله ﷺ الوتر فقرأ فی الاولی بسبح ربك الاعلی وفی الثانیة قل یٰایها الکٰفرون وفی الثالثة قل هو الله احد فلما فرغ قال سبحان الملك القدوس ثلثًا یمد صوته بالثالثة رواه الطحاوی واحمد والنسائی واسناده (١) حسن کما صرح به الحافظ فی التلخیص. ددی روایاتو څخه علاوه نور روایتونه هم په کثرت سته کم چه دتطویل دبیری څخه پریږدم. که چیری ضرورت وګڼل سو نوآئنده به یې انشآء الله ﷻ ذکر کړم.
ددی څخه وروسته زه ستاسو څخه پوښتنه کوم چه ددی صحیح روایاتو برخلاف دابن ماجه او ابو ایوب انصاری ﷺ روایت کم چه په اصل کی دهغوی فتوٰی معلومیږی مرفوع روایت نه دی، معمول بها جوړول اوجزمًا داویل چه یورکعت هم وتر دی آیا دا تعجب نه دی، روایات صحیحه پرېښوول اودیوه موقوف روایت ترمخه کم چه په حقیقت کی دابو ایوب انصاری ﷺ فتوٰی ده، یو څوك جَری (دلاور) ناعاقبت اندیش (نتیجې ته پام نه کوونکی) سړی داسی ویلی سی، چه یورکعت هم وتردی، یوڅوك مجتهد هیڅکله داسی نسی ویلی.
الحاصل دوترو په یورکعت نه کیدلو اودری رکعته کیدلوکی خوهیڅ شبه نسته که چیری ګنجائش وی نوپه دی کی دی چه دادری رکعته وتر په دؤو قعدو او دؤو سلامو سره دی اوکه صرف په یوی قعدی اویوه سلام سره دی. حنفیه ددی دواړو صورتونو څخه ماسِوا یودریم صورت اختیاروي په دؤو قعدو اویوه سلام سره دوترو کولو حکم ورکوی. اودا نه چه محض په تعصّب سره داسی کوی بلکه زموږ سره پردی باندی دلائل موجود دی، په صحیح مسلم ص٢٥٦ کی دی: ولفظه مختصراً، ویصلی تسع رکعات لا یجلس فیها إلا فی الثانیة فیذکر الله ویحمده ویدعوه ثم ینهض ولا یسلم ثم یقول التاسعة ثم یقعد فیذکر الله ویحمده ویدعوه ثم یسلم تسلیمًا یسمعنا، الحدیث.
امام بدر الدرین عینی ﷬ فرمایي اګر چه ددی روایت څخه دا ایهام کیږی چه نهه ٩ رکعته په دؤو قعدو اویوه سلام سره سوی دی. په مخکنی اؤو رکعتو کی هغوی ګرسره هم قعده نه ده کړی لیکن په حقیقت کی داخبره نه ده.
حضرت عائشي ﷺ دصلوٰةِ لیل دقعدو ذکرنه دی فرمایلی بلکه دوترو دمخکنی قعدی په ذکر فرمایلو سره ددری رکعتو وترو په دؤو قعدو اویوه سلام سره ثبوت ورکوی. په دومره فرمایلو سره امام بدرالدین عینی ساکت سویدی، ددی ثبوت یې ورنکړی چي فی الواقع دحضرت عائشي ﷺ همدا مطلب دی چه نبی ﷺ دوترو په دویم رکعت کی کم

(١) نسائی شریف کیف الوتر بثلث ج١ ص٢٤٨ ونصب الرایه ج٢ ص ١١٩ . ظفیر

چه دمجموعه رکعتونو په اعتبار سره اتم کیږی قعده وکړه اوسلام یې لا ګرځولی نه ؤو چه ولاړ سو اودریم رکعت یې ورسره یوځای کړی او دآخری قعدی څخه وروسته یې سلام وګرځوی. ددی دلیل په نسایی کی دی.

همدا روایت نسائی متنًا اوسندًا راوړی دی: حدثنا سعید عن قتادة عن زرارة بن اوفی عن سعدبن هشام ان عائشة رضی الله عنها حدثته ان رسول الله ﷺ کان لایسلم فی رکعتی الوتر. (١)، نومعلومه سوه چه دحضرت عائشي رضی الله عنها دوینا مطلب دادی چه رسول الله ﷺ به دوترو کولو په وخت کی پردؤو رکعتو باندی قعده فرمایله او سلام به یې ددریم رکعت پوره کولو څخه وروسته ګرځوی. داحدیث صحیح الاسناد دی او دحنفیه ؤ حُجت دی لیکن حافظ محمد الدین ابو البرکات ابن تیمیه په منتقی کی دهمدی روایت دنقل کولو څخه وروسته دا لیکلی دی چه امام احمد ددی تضعیف کړی دی. حالانکه دتحقیق څخه معلومه سوی ده چه داروایت په دؤو سندونو سره مروی دی. امام موصوف چه په کم سند سره مسندِ احمد کی راوړی دی بیشکه هغه سند ضعیف دی. امام احمد رحمه الله دحدیث تضعیف نه دی کړی دسند تضعیف یې کړی دی، ولی چه په تخریج زیلعی کی دجهر بالتسمیه پرموقع باندی پخپله دامام احمد څخه دوترو په رکعتونو کی دوصل جواز مروی دی. نو هرو مرو امام احمد دمسندِ احمد دطریقي تضعیف کړی دی، ولی چه په هغه سند کی یزید بن یعفر دی، وهو ضعیف. غرض داچه دنسایی په روایت کی هیڅ کلام نسته هغه صحیح الاسناد دی. په مستدرك دحاکم کی یو روایت دی چه الفاظ یې دا دی: عن عائشة رضی الله عنها ان النبی ﷺ یوتر بثلاث لا یقعد الا فی آخرهن (٢) حافظ" او دهغه په تقلیدکولوسره زموږ مجیب صاحب په دی روایت سره دمخکنۍ قعدی نفی کړی ده حالانکه حافظ جمال الدین زیلعی رحمه الله په تخریج کی ددی تصریح کړی ده چه په مستدرك حاکم کی داروایت په دی الفاظو سره وارد دی: یوتر بثلٰث لا یُسلِّمِ اِلاَّ فی آخِرِهِنَّ، (٣) زیلعی په خپل نقل کی ثقه دی. دمستدرك په نسخه کی به دا الفاظ ضرور وی، او دمسندِ احمد روایت به ضعیف وی لیکن په هغه کی الفاظ دانه دی: یوتر بثلٰث لا یفصل بینهن. اوپه نسایی کی دی: عن ابی بن کعب نحوه ولفظه یوتر بسبح اسم ربك الاعلی وقل یایها الکفرون وقل هو الله احد ولا یسلم الا فی آخرهن (٤).

---

(١) نسائي باب کیف الوتر بثلث ج١ ص٢٤٨. ظفیر
(٢) عمدة القاری ابواب الوتر ج٣ ص٤٠٤ . ظفیر
(٣) ایضًا .
(٤) عمدة القاری ابواب الوتر ج٣ ص٤٠٤ . ظفیر

مطلب دادی چه نبی کریم ﷺ به وتر دری رکعته کول او داسی قعده په کمه کی چه سلام گرځول کیږی هغه به یې په آخره کی کوله. اوس تاسی په انصاف سره ووایاست چه ددی څخه داولني قعدی نفی څنگه راووته.

ددی روایت څخه ماسوا په یو بل روایت کي دی: کما فی الطحاوی ص١٧٢ : عن ابی هريرة عن رسول الله ﷺ لا توتروا بثلث واوتروا بخمس او بسبع او بتسع ولا تشبهوا بصلوة المغرب. حافظ ددی روایت څخه دمخکنی قعدی پرنفی باندی استدلال کوي چه دهغه حاصل دادی چه دری ۳ رکعته وتر په داسی شان سره کول چه په هغه کی دماښام دلمونځ سره مشابهت راسی، مثلاً په دؤو قعدو او یوه سلام سره دادا کولو څخه ممانعت سوی دی. په یوی قعدی اویوه سلام سره دا مشابهت نه پاته کیږی، ددی وجه څخه په حدیث سره دمخکنی قعدی نفی او ددویمی ۲ قعدی ثبوت کیږی.

موږ ته سخت تعجب دی چه دمخکنی قعدی پرنفی باندی داسی ضعیف استدلال ولی وکړل سو. دحدیث دویمی جملی ته یې ولی ونه کتل چی دهغې څخه بالتصریح دا معلومیږی چه دحدیث مطلب دادی چه مجرد (یعنی صِرف) دری رکعته (تهجد) مه کوی چه دماښام دلمونځ سره مشابهت وسی بلکه پنځه ۵ یا اووه ۷ یا نهه ۹ رکعته کوی، او دوترو سره شفعه دهغه څخه مخکی یو ځای کوی دپاره ددی چه دماښام دلمونځ سره مشابهت پاته نسی. په ترمذی کی دی: عن ثابت البنانی قال قال انس یا ابا محمد خذ عنی فانی اخذت هٰذا عن رسول الله ﷺ واخذ رسول الله ﷺ عن ربه، ولن تأخذ عن أحد أوثق مني، قال ثم صلی بی العشاء ثم صلی ست رکعات یسلم بین الرکعتین ثم أوتر بثلاث یسلم فی آخرهن. رواه الترمذی سنداً وترك متنه وهٰذا المتن بعینه بهٰذا اللفظ فی کنز العمال ص ١٩٢ جلد رابع فی الافعال لا فی الاقوال، واحال علی الرویاني وابن عساکر وقال رجاله ثقات. داروایت هم داحنافو حُجت دی، ددی څخه صراحةً معلومیږی چه وتر دری رکعته دی اودا دری رکعته به په دؤو قعدو اویوه سلام سره کول کیږي، روایاتِ مرجوعه (١) نورهم ډیردی دکمو څخه چه دری ۳ رکعته وتر په دؤو قعدو او یوه سلام سره کیدل معلومیږی. دا وخت په هم دومره حصه باندی اکتفاء کوم. اوپه آثاروکی په کثرت سره داسی دی دکومو څخه چه وتر دری ۳ رکعته په دؤو قعدو اویوه سلام سره معلومیږی. داحنافو په نزد دپورته ذکر سؤو روایاتو پربنا باندی ثانی (طریقه) راجح ده. اویو رکعت وتر کیدل ماسِوا دسعد بن ابی وقاص ﷛ او معاویه بن ابو سفیان ﷛ او

(١) روایاتِ مرجوعه: یعني هغه چي مولانا مشیت الله صاحب" رجوع ورته کړیده ددې بحث په لیکلوکي. حقاني"

ذی النورین رضي الله عنه څخه دبل هیڅ یوه صحابی څخه ثابت نه دی. کـه چیـری حـافظ دا درې ۳ کسه صحابه کرام رضي الله عنهم جماعت ګرځوی نو دحافظ دا فرمایل چي: وصـح عـن جماعـة مـن الصحابة انهم اوتـروا بواحدة مـن غيـر تقدم نفـل قبلهـا، بـه درست وی، پـردرو ۳ بانـدی دجماعت اطلاق کیدی سی لیکن داحنفیـه ؤ تـه مُضرنه دی ځکـه چـه حنفیـه چي دکمـی خبری قائل دی دهغې په تائیدکی دجَمّ غفیر (غټي ډلي) صحابه ؤ رضي الله عنهم څخه آثار مروی دی. په مصنف ابن ابی شیبه کی دی: حدثنا حفص بن عمرو عـن الحسـن انـه قـال اجمع المسلمون على ان الوتر ثلثة لايسلم الا فى آخرهن [1] وفيه عمرو بن عبيد وهو معتزلي. په عینی کی دی: وابى بن كعب وابن عباس وانس وابوامامة وعمربن عبدالعزيز والفقهاء السبعة واهل الكوفة، وقال الترمذی ذهب جماعة من الصحابة وغيرهم اليه. آه، کله چه دترمـذی پـه تـصریح سـره دصـحابه ؤ رضي الله عنهم یـو عـدد [2] (یعنـی شـمېر) دحنیفـه ؤ موافـق معلومیږی نو اوس دحافظ په تصریح سره زمونږ مجیب صاحب تـه خوشحال لیدل نـه دی پکـار. حـافظ ابـن حجر رحمه الله چه چاتـه جماعـت وایـی، دهغـه پـه پرتلـه لـس (۱۰) چنـده دحنفیه ؤ طرفتـه دصحابه ؤ رضي الله عنهم عدد موافق دی، اوعجیبه داده چه آجِلاَّء او کبار (غټ) صحابه کرام رضي الله عنهم دحنفیه ؤ موافق دی. قيل للحسن ان ابن عمر كان يسلم فـى الـركعتين مـن الـوتر فقـال كـان عمـر افقـه منـه وكـان يـنهض فـى الثانيـة بـالتكبير، [3] ددې بیـانونو دیـادولو او کتلـو څخـه وروسـته یـوازې یوځـوك متعـصب معانِـد ویلـی سـی، چـه دامـامِ ابوحنیفه (رضي الله عنه) مذهب درواياتو څخه خلاف دی. غیـرِ متعـصب او فهـیم هیڅکلـه داسـی نسی ویلی بلکه هرځومره تحقیق او تفتیش چه وکـړل سـی بیـا هـم دامـامِ ابوحنیفـه (رضي الله عنه) مذهب اقرب الى الروايات معلومیږی.

(۳) دا جُزء (حصه) دجـواب مجملـه سـاتل سـوی دی، تـشریح غـواړی. معلومـه نـه ده چـه دقنوت څخه یې څه مراد اخستی دی که چیری قنوت نازله مراد وی نو حنفیه هم وایی چه بعد الركوع ویل پکار دی. اوکه چیری قنوت دوتر مراد وی، نوبیا داویـل صـحیح نـه دی چه دنبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه بعد الركوع پـه وتروکـی قنـوت ویـل ثابـت دی ولـی چـه پـه کومـو روایتونو کی قنوت بعد الركوع ویل ثابتیږی دهغو صحیح مَحْمَل دادی چه هغـه دقنـوتِ نازله حکم دی.

په بحر الرائق ج۱ص ۴۰ کی دی : وقنت فى ثالثـــة قبل الركوع ابداً لما اخرجـه النسـائى

---

[1] عمدة القاری ابواب الوتر ج۳ ص ۴۰۴ . ظفير

[2] مقصد یې یو لوی جماعت او ټولګی ده دصحابه کرامو رضي الله عنهم. ظفير

[3] نصب الرايه باب صلوة الوتر ج۲ ص ۱۱۸ . ظفير

عن ابیّ بن كعب انه علیه السّلام كان یقنت قبل الركوع وما في حدیث انس انه علیه السّلام قنت بعد الركوع فالمراد منه ان ذلك كان منه شهراً فقط بدلیل ما فی الصحیح عن عاصم الاحول سالتُ انساً عن القنوت فی الصلوة قال نعم قلت أكان قبل الركوع او بعده قال قبله قلت فانَّ فلاناً اخبرنی عنك انّك قلتَ بعده قال كذب انماقنت رسول الله ﷺ بعد الركوع شهراً، نومعلومه سوه چه په وتروكی قنوت قبل الركوع ویل پكاردی.

پاته سوه قنوت نازله نو په دی كی قبل الركوع اوبعد الركوع دواړه ډوله اقوال سته په ردالمحتار كی دی: وهو صریح فی ان القنوت النازلة عندنا مختص بصلوة الفجر دون غیرها من الصلوة الجهریة والسریة وهل القنوت هنا قبل الركوع او بعده لم اره، والذی یظهر لی انه یقنت بعد الركوع لا قبل بدلیل ان ما استدل به الشافعی علی قنوت الفجر فیه التصریح بالقنوت بعد الركوع، حمله علمآئنا علی قنوت النازلة ثم رأیت الشرنبلالی فی مراقی الفلاح صرح بانه بعده واستظهر الحموی انه قبله، والاظهر ماقلناه. (١) والله اعلم، ددی عبارت څخه معلومیږی چه باوجود ددی چه په قنوتِ نازله كی دوه قوله دی قبل الركوع او بعد الركوع. حنفیه مشائخ ددواړو طریقو دجواز حكم لګوی لیكن راجحه داده چه قنوتِ نازله دي بعد الركوع ولوستل سی. فقط

محمد مشیت الله (الدیوبندی)
(رَحِمَهُ اللّٰه تعَالیٰ رَحْمَةً وَاسِعَةً)

* * *

## فصل ثانی دقنوتِ نازله مسائل

**ایا قنوت نازله دسهار په لمونځ كی درسته ده: سوال:** (١٢٢۴) داحنافو په نزد دسهار په لمونځ كی كم وخت په لاسونو لوړولو سره دُعاء قنوت یا: اَللّٰهُمَّ انْصُرْ مَنْ نَصَرَ دِیْنَ مُحمّد ﷺ یابله یوه دُعا جائز ده اوكه نه؟ كه چیری یوڅوك حنفی چاته چي دفقهی علم وي یا نه وی، خوهغه امام شافعی (ﷺ) یا امام احمد (ﷺ) یا امام مالك (ﷺ) ته دحقارت (سپكوالي) په نظر ګوری، نو آیا هغه پوخ حنفی كیدی سی اوكه نه؟

**جواب**: دحنفیانو په نزد دیوې حادثې دنزول په وخت كی صرف دسهار په لمونځ كی دركوع څخه وروسته په دویم ٢ ركعت كی دلاس پورته كولو څخه بغیر ددُعاءِ قنوت ویل جائز دی اوپه باقی لمونځونو كی جائز نه دی. او دحادثې دنزول څخه بغیر په هیڅ یوه

---

(١) ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج٢ ص ٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١ . ظفیر

لمونځ کی هیڅ وخت جائز نه دی. په شامی کی دی: قال الحافظ ابو جعفر الطحاوی انما لا یقنت عندنا فی صلوٰة الفجر من غیر بلیة فان وقعت فتنة او بلیة فلا باس به فعله رسول الله ﷺ (١) اوددی څخه وروسته په شامی کی دی: ان قنوت النازلة عندنا مختصّ بصلوٰة الفجر دون غیرها من الصلوات الجهریة والسریة. (٢) اوبیا په همدی کتاب کی دی: وانه یقنت بعد الرکوع لا قبله. (٣)

څلور واړه امامان په خپل خپل مذهب کی ټول پرحق دی او دهغوی اختلاف د: اِخْتِلاَفُ اُمَّتِیْ رَحْمَةٌ، دقبیلې څخه دی. په دی وجه هیڅ یوه مقلد لره جائز نه دی چه یوه امام ته دحقارت په نظر وګوری بلکه مقلد لره پکاردی چه هغه دی دخپل امام مذهب صواب محتمل دخطاء وګنی، اودبل امام مذهب دی خطا خومحتملِ دصواب وګنی. په درمختار کی دی: فیها لو سُئلنا عن مذهبنا ومذهب مخالفنا قلنا وجوبًا مذهبنا صواب یحتمل الخطاء ومذهب مخالفنا خطاء یحتمل الصواب. (٤) فقط

**قنوتِ نازله**: **سوال**: (١٢٢٥) دسهارپه لمونځ کی دحوادثو پرموقع قنوتِ نازله ویل کیږي، ددی حواله پکارده.

**په قنوتِ نازله کی به لاسونه تړی اوکه نه؟ سوال**: (١٢٢٦) په مذکوره قنوت کی به امام او مقتدیان لاسونه ایله کوي او که به یې تړی، لکه څنګه چه یې په وترو کی تړی او آمین به په جهر سره وایی او که پټ؟

**جواب**: (١) قنوت په حوادثو کی دسهار په لمونځ کی دحنفیه ؤ په نزد ثابت او معمول به دی، قال فی الشامی وهو صریح فی ان قنوت النازلة عندنا مختص بصلوٰة الفجر (٥) الخ (٢) امام اوجماعت به په ظاهره په دی موقع کی ارسال کوی ځکه چه داقنوت بعدالرکوع ده. کما صرح به فی الشامی والذی یظهر لی ان المقتدی یتابع امامه الا اذا جهر فیؤمن وانه یقنت بعد الرکوع لا قبله (٦) الخ، اوظاهره ده چه قَومه محل دارسال ده، نه محل دقبضِ یدین. او قیاس پروترو باندی نسی کیدی ځکه چه په هغه کی قنوت درکوع څخه مخکی دی اوهغه محل دقراءت اومحل دقبض یدین دی اوآمین که په جهر سره ووایی اوکه په پټه (دواړه درست دی)، والثانی اولی لانه دُعاء والاخفاء بالدعاء اولی. فقط

---

(١) ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج٢ ص ٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١ . ظفیر
(٢) ایضاً .
(٣) ایضاً .
(٤) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار مقدمه ج١ ص٤٥ . ظفیر
(٥) ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت والنازلة ص ٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١. ظفیر
(٦) ایضًا ، ط. س. ج٢ ص١١ . ظفیر

**داحنافوپه نزد قنوت نازله درکوع څخه وروسته اوصرف دسهار په لمونځ کی ده: سوال:**

(١٢٢٧) قنوتِ نازله درکوع څخه مخکی ویل پکاردي اوکه درکوع څخه وروسته اوپه کمو کمو لمونځونو کی ویل کیږي، اولاسونه به تړی اوکه ایله کوي به يې، یاپورته کوی به يې. او داحنافو په نزد دوترو قنوت درکوع څخه مخکی ویل کیږي، آیا دقنوتِ نازله حکم ددی څخه جلادی؟ که جلا وي نوپه کم دلیل سره؟ اوداحنافوپه نزد چه داکمه قاعده ده چه هرذکر طویلِ مسنون چي وي په هغه کی لاسونه تړل کیږي، ددی څه ماخذ دی؟ کم لاسونه تړل چه دتکبیرِ تحریمه څخه وروسته ثابت دی هغه رکوع ته دتللو په وخت کی ختم کیږي. اوس درکوع څخه وروسته دریدل یوجدید اونوی کار دی په دی کی ارسال اواعتماد دحضور ﷺ یادصحابه ؤ رضی اللہ عنہم دآثاروڅخه ثابت دی اوکه نه؟ اودامام ابویوسف دافعل چه هغوی به قنوت دلاسونو دلوړولو څخه وروسته وایه او صاحب دفتح القدیر چه کم یوروایت په سند دابو هریره رضی اللہ عنہ بیان کړی دی چي: کان النبی ﷺ اذا رفع راسه من الرکوع من صلٰوۃ الصبح فی الرکعۃ الثانیه یرفع یدیه فیدعوا بھٰذہ الدعاء ، اللّٰھم اھدنی فیمن ھدیت الخ آیا ددی حدیث په وجهی سره دابویوسف رحمہ اللہ فعل ته قوت سته او که نه؟ او داحنافو مفتٰی به قول څه دی؟

**جواب**: قنوتِ نازله درکوع څخه وروسته ده اوحنفیه ؤ صرف دسهار په لمانځه کی دا اختیار کړیده. اواګرچه بعضی فقهاؤ په ټولوجهری لمونځونوکی هم جائز بللی ده (١) او دفقهی او دحدیثو دکتابونو څخه واضحه ده چه قنوتِ صبح کمه چه حنفیه ؤ په نوازلو کی غیرِ منسوخ منلی ده هغه بعد الرکوع ده، اوپه دغه وخت کی ارسال اولی معلومیږی (٢) ولی چه درفع جواب صاحب دفتح القدیر داورکړی دی دامام ابویوسف داستدلال چه

---

(١) قال الحافظ ابو جعفر الطحاوی انما لا یقنت عندنا فی صلوۃ الفجر من غیر بلیۃ فان وقعت فتنۃ او بلیۃ فلا باس به فعله رسول اللہ ﷺ واما القنوت فی الصلوات کلها للنوازل فلم یقل به الاّ اشافعی الخ وھو صریح ان القنوت النازلۃ عندنا مختص بصلاۃ الفجر دون غیرها من الصلوۃ الجهریة والسریة وفی شرح النقایۃ معزّیا الی الغایۃ وان نزل بالمسلمین نازلۃ قنت الامام فی صلاۃ الجهر (ردالمحتار باب الوتر والنوافل، مطلب فی قنوت النازلۃ ج١ ص٦٢٨ ، ط.س. ج٢ ص١١) وھو قول الثوری واحمد وقال جمهور اھل الحدیث القنوت عند النوازل مشروع فی الصّلوۃ کلها آھ (البحر الرائق باب الوتر والنوافل ج٢ص٤٤). ظفیر

(٢) وھل القنوت ھنا قبل الرکوع ام بعده لم اره والذی یظهر لی ان المقتدی یتابع امامه الاّ اذا جهر فیؤمن وانه یقنت بعد الرکوع لا قبله بدلیل ان ما استدل به الشافعی علی قنوت الفجر وفیه التصریح بالقنوت بعد الرکوع حمله علمائنا علی القنوت للنازلۃ ثم رأیت الشرنبلالی فی مراقی الفلاح صرّح بانه بعده واستظهر الحموی انه قبله والاظهر ماقلناه واللہ اعلم (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلۃ ج١ ص٦٢٨، ط. س. ج٢ ص١١). ظفیر

په هره دعاء کی رفع کیدل داکلی نه ده بلکه مخصوص ده په هغه دُعاء سره کمه چه خارج عن الصلٰوة وی. ولکلٍّ وِّجْهَةٌ هُوَ مُوَلِّيْهَا. نوپه دی کی دزيات بحث ضرورت نسته. دهر يوه قول يو وجه راوتلی سی اودرواياتو دنقل کولو راته فُرصت نسته. فقط

**دقنوت نازله په وخت کی دی لاسونه ايله لری او مقتديان دی په کراره آمين وايی**: **سوال**: (١٢٦٨) ددارالعلوم ديوبند څخه چه کمه دعاءِ قنوت چهاپ سوی ده په دی زمانه کی دويلو دپاره شائع سوی ده، دهغی په ترکيب کی دوې ٢ خبری دپوښتني قابلی دی اول داچه ددُعا ويلو په وخت کی به لاسونه ايله وی اوکه لوړوی به يې لکه څنګه چه ددُعا دپاره لوړول کيږي. بل دا چه مقتديان به آمين بالجهر وايی اوکه په پټه؟

**جواب**: دسهار په لمونځ کی درکوع څخه وروسته په دی زمانه کی چي کمه دُعاء قنوت ويل کيږی په هغه کی زموږ معمول دادی چه لاسونه ايله وی، ولی چه په دی موقع کی لاس تړل نه دی راغلی اولوړول يې هم دحنفيه ؤ دقواعدو سره سمون نه خوری، ددی وجه څخه اَحْوط او بهتره دامعلوميږی چه لاسونه دی ايله وی او مقتديان دی آمين په پټه وايی. (١) فقط

**قنوت نازله په ماښام اوماخستن کی درست ده اوکه نه؟ سوال**: (١٢٦٩) اوريدلی مودی چه په ديوبند کی يوه فتوىٰ چاپ سوی ده په کمه کی چه دماخستن دلمونځ په آخری رکعت کی دُعا ويل ليکلی دی؟

**جواب**: دلته چه کمه دُعاء قنوت چاپ سوی ده په هغې کی يې دسهار دلمانځه څخه وروسته دُعاء قنوت ويل ليکلی دی. اوبعضو (عالمانو) په ماسخوتن اوماښام کی هم جائز ليکلی ده . (٢) فقط

**په فرض لمونځ کی دوَبا ددفع کيدلو دپاره دُعا**: **سوال**: (١٢٧٠) دوبا دمرض په ورځو کی دفرائضو دجماعت ياخاص دماښام اوسهار په جماعت کي امام يوڅو دُعاګانی دوبا دليری کيدلو دپاره وايی اوټول مقتديان په لوړ آواز آمين وايی. داسی عمل کول په فرض جماعت کی شرعًا جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: په شامی کی دی چه ديوې حادثي په وخت کی دسهار په لمونځ کی درکوع څخه تر ولاړيدلو وروسته امام لره دُعاء قنوت ويل درست دی. ماسِوا دسهار څخه په نورو لمونځوکی دحنيفه ؤ مذهب نه دی. دا دامام شافعی رحمه الله مذهب دی، اوداهم په شامی

---

(١) ان المقتدی يتابع امامه الاّ اذاجهر فيؤمن (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١). ظ

(٢) ولا يقنت لغيره الاّ لنازلة فيقنت الامام فی الجهرية وقيل فی الکل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١). ظفير

کی دی: ولا شك ان الطاعون مِن اَشدِّ النّوازل [1]. ددی وجه دطاعون په وخت کی هم دعاء قنوت دسهار په لمونځ کی درکوع څخه وروسته ویل درست دی. [2]

**دجنګ طرابلس دپاره قنوت نازله: سوال:** (۱۲۷۱) څه ارشاد دی ددین دعالمانو په دی مسئله کی چه موجوده جنګِ دطرابلس کم چه دمسلمانانو اوعیسائیانو په مینځ کی قائم دی، که چیری دمسلمانانو دنُصرت او دعیسائیانو دهزیمت دپاره په هندوستان یا بَرْمَا (دیو هیواد نوم دی) کی دعاء قنوت وویل سی نو په حنفی مذهب کی دا صحیح ده اوکه نه؟ آیا په نازله جنګ وغیره کی چه کمه دُعاء قنوت ویل کیږی دهغه دپاره داخبره شرط ده چي خاص خلیفه یاسلطان دی ووایی. دحاشیۀ شامی، بحر الرائق، کبیری او فتح القدیر دملاحظه کولو څخه وروسته دي ددی جواب تحریر وفرمایل سی. فقط

**جواب:** قنوتِ نازله عند الحنفیه جائزده، مکروه نه ده. اوپه شامی کی دی چه که چیری امام جهراً قنوت وایی نو مقتدیان دی آمین وایی. ددی څخه معلومه سوه چه دمقتدیانو دواقفیت (خبرتیا) په وجه که جهر وکړی اومقتدیان آمین ووایي نو کراهت پکښی نسته. د خلیفه یا سلطان قنوت ویل دنازلی په وخت کی شرط نه دی. هٰذا کله فی الدر المختار والشامی. [3] (دستخط مع مُهر)

**دایټالیا دجنګ پرموقع قنوت نازله: سوال:** (۱۲۷۲) فی الحال چه دایټالیا په عیسائیانو او مسلمانانوکی کم جنګ روان دی پردی موقع باندی دقنوتِ نازله په پنځوواړو لمونځونو کی دآخری رکعت درکوع څخه وروسته په ویلو کي عندالاحناف څه حکم دی؟

**جواب:** دفقهاءِ عظامو رحمهم الله کلام په دی باره کی مختلف دی: ولا یقنت لغیره الاّ النازلة فیقنت الامام فی الجهریة وقیل فی الکل. په شامی کی دي: واما القنوت فی الصلوة کلها للنوازل فلم یقل به الا الشافعی، وفیه تحت قوله فی الکل الخ قد علمت ان هٰذا لم یقل به الا الشافعی وعزا فی البحر الی جمهور اهل الحدیث فکان ینبغی عزوه الیهم لئلا یوهم انه قول فی المذهب وفیه ایضا اذا وقعت نازلة قنت الامام فی الصلوة الجهریة لکن فی الاشباه عن الغایة قنت فی صلوة الفجر ویؤیده ما فی شرح [4] المنیة

---

[1] ردالمحتار باب الوتر مطلب فی القنوت للنازلة ج۱ ص۲۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱. ظفیر

[2] ولا یقنت لغیره الاّ لنازلة فیقنت الامام فی الجهریة وقیل فی الکل (درمختار) قال فی الصحاح النازلة الشدیدة من شدائد الدهر ولاشك ان الطاعون من اشد النوازل الخ وهو صریح فی ان قنوت النازلة عندنا تختص بصلاة الفجر دون غیرها من الصلوات الجهریة اوالسریة (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج۱ ص۲۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱). محمد ظفیر الدین غفرله

[3] وګوری ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج۱ ص۲۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱. ظفیر

[4] وقد صرح به الشامی حیث قال وهو صریح فی ان قنوت النازلة عندنا مختص بصلاة الفجر دون غیرها من =

الخ شامی ج۱ ص ۲۲۸. نومعلومه سوه چه عند الحنفیه صرف دسهار په لمونځ کی دنازلی په وخت کی دی قنوت وایی. لا غیره. فقط، والله تعالٰی اعلم، کتبه عزیز الرحمٰن.

**دکم امام په نزد قنوت نازله دسهار په لمونځ کی ده؟** **سوال**: (۱۲۷۳) نن صبا دسهار په لمونځ کی دعاء قنوت ویل دکم امام مذهب دی؟

**جواب**: دداسی حوادثو په وخت کی دعاء قنوت دسهار په لمونځ کی حنفیه ؤ هم جائز لیکلی (۱) ده. فقط (لما رواه الامام ابوحنیفة عن ابن مسعود رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ لم یقنت فی الفجر قط الاّ شهراً واحداً لم یرَ قبل ذالك ولا بعده وانما قنت شهراً یدعو علٰی قوم من العرب ثمّ ترکه (البحر الرائق. باب الوتر ج۲ ص۴۴، ظفیر).

**قنوت نازله په جُمعه کی درست ده که نه؟** **سوال**: (۱۲۷۴) قنوتِ نازله دجُمعی په لمونځ کی ویل جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: دبعضو روایاتونو موافق په کوموکی چه یې په ټولو جهری لمونځونو کی قنوتِ نازله ویل جائز لیکلی دی، ددې پربناء دجُمعی په لمونځ کی هم درست دي. (۲)

**قنوت نازله جائزده اوکه نه اوکه جائز ده نو ولې؟** **سوال**: (۱۲۷۵) په دی زمانه کی چه کمه دعاء نازله ویل کیږی دادُعا دسهار په لمونځ کی داحنافو په نزد جائز ده اوکه نه؟ که چیری جائزوی نو دایت: لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ، څه جواب دی؟ اوپه دی دُعاء نازله کی اوپه قنوت کی، کمه چه نبی کریم ﷺ هغه وخت ویله کله به یې چه یوې قبیلې یاقوم ته ښراوی کول وغوښتل، فرق سته او که نه؟

**جواب**: دنازلی په وخت کی دُعاء قنوت وغیره دسهار په لمونځ کی په اتفاق سره دحنفیه ؤ جائزده. په درمختار کی دی: ولا یقنت لغیره الا لنازلة الخ (۳). وفی الشامی وهو صریح فی ان قنوت النازلة عندنا مختص بصلوٰة الفجر الخ (۴) وفیه عن شرح المنیة فتکون شرعیته ای شرعیة القنوت فی النوازل مستمرة وهو محمل من قنت من الصحابة بعد

---

= الصلوات الجهریة والسریة الخ قنوت نازله دي وروسته تررکوع وایی قبل الرکوع دی نه وایی: قال فی الشامی وانه یقنت بعد الرکوع لاقبل بدلیل ان ما استدل به الشافعی علی قنوت الفجر وفیه التصریح بالقنوت بعد الرکوع حمله علماءنا علی القنوت للنازلة الخ (شامی باب الوتر ج۱ ص۲۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱). ظفیر

(۱) ولا یقنت لغیره الاّ لنازلة فیقنت الامام فی الجهریة وقیل فی الکل (درمختار) وهو صریح عندنا ان قنوت النازلة عندنا مختص بصلاة الفجر دون غیرها من الصلوة الجهریة والسّریة (الدرالمختار) باب الوتر ج۱ ص۲۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱). ظفیر

(۲) فیقنت الامام فی الجهریة (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱).

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتروالنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج۱ ص۲۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱. ظ

(۴) ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج۱ ص۲۲۸ ، ط. س. ج۲ ص۱۱. ظفیر

وفاته علیه الصلوٰة والسلام وهو مذهبنا وعلیه الجمهور، (١) نوکله چه معلومه سوه چه دجمهورو مذهب همدادی اوصحابهؤ رضی الله عنهم دحضور ﷺ دوفات څخه وروسته قنوتِ نازله ویلی ده نواوس دهیڅ شبهی ګنجائش نسته، اوددی جواب ضرورت نسته. او دآیت: لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ، په شان نزول کی اختلافِ کثیر دی. په قنوتِ نازله کی نزول ددی متعیّن څخه دی. کما صرّح به فی المعالم چه دجواب ضرورت یې سي. اودامام طحاوی رحمه الله قول پخپله په شامی کی دامنقول دی: قال الحافظ ابوجعفر الطحاوی انما لا یقنت عندنا فی صلوٰة الفجر من غیر بلیة فان وقعت فتنة اوبلیة فلا باس به فَعَلَه رسول الله ﷺ (٢) الخ. فقط

**قنوت نازله په ټولو جهری لمونځونو کی ده اوکه صرف دسهار په لمونځ کی؟ سوال:** (١٢٧٢)

داحنافو دصحیح مذهب اوراجح اقوالو په اعتبارسره قنوتِ نازله صرف دَسهار په لمونځ کی ویل پکاردی اوکه په ټولو جهری لمونځونوکی یې ویل ضروری دی؟ که چیری یو څوك امام صرف دسهار په لمونځ کی قنوت وایی اوپه نورو جهری لمونځونوکی یې نه وایی نوپه هغه باندی به په زورسره په باقی لمونځونوکی ویل کیږی اوکه نه؟ قنوتِ نازله دسهار دلمونځ څخه علاوه په نورو لمونځونوکی منسوخ ده اوکه نه؟ اوحضور ﷺ قنوتِ نازله ترکم وخته پوری ویلی ده ترڅو چه به هغه کارپوره سو اوکه مخکی به یې ترك کړه؟

**جواب**: دحنفیهؤ په نزد راجح داده چه قنوتِ نازله صرف دسهار په لمونځ کی ده، په ټولو جهری لمونځونوکی اګرچه دبعضو کتابونوڅخه ددی هم اجازت معلومیږی. پرهر حال که چیری یوڅوك امام صرف دسهار په لمونځ کی دُعاء قنوت نازله وایی اوپه نورو جهری لمونځونوکی یې نه وایی نوپر هغه باندی دجَبر کولو ضرورت نسته چه په ټولو جهری لمونځونوکی دی وایی ولی چه دا (خبره) عند الحنفیه مختلف فیه ده. نواَحْوَط او معمول داکابرو صرف دسهار په لمونځ کی ده. کمافی الشامی بعد نقل کلام الامام الطحاوی: وهو صریح فی ان قنوت النازلة عندنا مختصة بصلوٰة الفجر دون غیرها من الصلوات الجهریة اوالسریة (٣) الخ. اوددی څه تحدید منقول نه دی چه حضور ﷺ یادحضور ﷺ څخه وروسته صحابه کرامو رضی الله عنهم چه کم قنوت دنوازِلو په وخت کی ویلی دی هغه یې تر کمه وخته پوری ویلی دی. ظاهره داده چه دنازلی تررفع پوری به یې ویلی وی، کمه چه ددی دمشروعیت وجه ده. همدارنګه فقهاؤ هم ددې څه تحدید نه دی کړی، اودایې فرمایلي دي: ولا یقنت لغیره الاّ لنازلة الخ. (٤) درمختار، ظاهراً دلفظ د: اِلاّ لنازلةٍ څخه

(١) و(٢) و(٣) و(٤) ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج١ ص٦٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١. ظفیر

معلومیږی چه ترکمه وخته پوری هغه نازله موجوده وی نو مذکوره دُعا مشروع ده. او دانس ﷺ په حدیث کی دی: انَّ النبی ﷺ قنت شهراً ثم ترکه رواه ابوداؤد والنسائی. (١) دیوی میاشتی څخه وروسته ترك فرمایل دهغوی به یاپه دی وجه وی چه مقصد پوره سو اودعا مقبوله سوه اودبد دُعا آثار ظاهریدل شروع سوه یابه هغوی ته حکم سوی وی چه اوس یې ترك کړئ اوس یې ضرورت پاته نه سو. پرهر حال اوس ددی مشروعیت دنازلی تربقا پوری عند الفقهاء مسلَّم دی. فقط

**دقنوت نازله جواز او ددی ثبوت**: **سوال**: (١٢٧٧) قنوتِ نازله کمه چه تقریبًا دکال راهیسی ویل کیږی پردی باندی بعضی مسلمانان دا اعتراض کوی چه ددی ویل جائز نه دی او دانس ﷺ په حدیث سره ددی ویل موقوف سوی دی. وعن انس ان النبی ﷺ قنت شهراً ثم ترکه رواه ابوداؤد. په: ثُمَّ تَرَكَ سره ددی پرې ښوولوته فرض وایی اوداهم وایی چه زموږ په مذهب کی پرچا باندی لعنت یا ملامتیا کول یا بد دُعا کول هم جائز نه دی. په حدیث اوقول دامام سره ددی ثبوت غواړی چه د: ثُمَّ ترکَه څخه وروسته حضور ﷺ ددې دویلو دپاره ارشاد فرمایلی وی.

**جواب**: په درمختار کی دی: ولا یقنت لغیره الا لنازلة فیقنت إمام فی الجهریة وقیل فی الکل الخ اوپه ردالمحتار معروف په شامی کی دی: (قوله فی الجهریة) یوافقه ما فی البحر والشرنبلالیة عن شرح النقایه عن الغایة وان نزل بالمسلمین نازلة قنت الامام فی صلاة الجهریة وهو قول الثوری واحمد آه وکذا ما فی شرح الشیخ اسمٰعیل عن البنایة اذا وقعت نازلة قنت الامام فی صلٰوة الجهریة لکن فی الاشباه عن الغایة شرعیة القنوت فی النوازل مستمرة وهو محمل قنوت من قنت من الصحابة ﷺ بعد وفاته علیه الصلوٰة والسلام وهو مذهبنا وعلیه الجمهور قال الحافظ ابو جعفر الطحاوی انما لا یقنت عندنا فی صلٰوة الفجر من غیر بلیة فان وقعت فتنة او بلیة فلا بأس به فعله رسول الله ﷺ الخ الی ان قال وهوصریح فی ان النازلة عندنا مختص بصلٰوة الفجر دون غیرها من الصلوات الجهریة والسریة (٢) الخ.

ددی عباراتو څخه واضحه سوه چه عند الحنفیه بلکه عند الجمهور قنوت نازله دحضور ﷺ دوفات څخه وروسته هم مشروع ده. نوکم سړی چه ددی څخه انکار کوی هغه داهلِ حق دټولو امامانو څخه مخالف دی، او ددینی کتابونو څخه ناخبره دی. ولی چه ظاهره ده چه که چیری قنوتِ نازله منسوخ سوی وی نودحضور ﷺ دوفات څخه وروسته صحابه

(١) مشکوٰة باب القنوت فصل ثانی ص ١١٤ . ظفیر

(٢) ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی القنوت للنازلة ج١ ص٢٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١. ظفیر

كرا مو ﷺ دامعمول بِهِ ولی جوړوله؟ وكفٰى بهم قدوة.
نازله منسوخ گڼل صحیح نه دی ولی چه دثمّ ترکه دامعنٰی ده چه دیوی میاشتی څخه وروسته حضور ﷺ داپریښوده ولی چه مثلاً ضرورت باقی پاته نه سو اوکم غرض چه ؤ هغه حاصل سو وغیره. اوپرکافرانو باندی لعنت دآیتونو او احادیثو برابر ثابت دی. قال الله تعالٰی: فَلَعْنَةُ اللهِ عَلَى الْكَافِرِينَ (١) ، إِنَّ الَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَا أَنْزَلْنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالْهُدَى مِنْ بَعْدِ مَا بَيَّنَّاهُ لِلنَّاسِ فِي الْكِتَابِ أُولَئِكَ يَلْعَنُهُمُ اللهُ وَيَلْعَنُهُمُ اللاَّعِنُونَ (٢) ، همدغه شان په کثرت سره دآیتونو اواحادیثو څخه پرکفّارو لعنت ثابت دی، ماسوا دجاهل اومُعانِد څخه بل څوك ددی څخه انکار کولی سی؟ الغرض حنفیانو لره دخپلوائمه ؤ داقوالو اودفقهی دکتابونو په تفصیل اوتشریح کتنلوسره په دی باندی عمل کول پکاردی. دامامانو دمنکرینو یعنی دغیرِ مقلدینو دفرقی خبره اوریدل نه دی پکار.

**قنوت نازله په ټولو لمونځونو کی او ددُعا په ډول په لاسونو پورته کولو سره**: **سوال**: (١٢٧٨) یومولوی صاحب اهلِ حدیث دپنځوواړو فرض لمونځونوپه آخری رکعت کی درکوع څخه وروسته په لاس پورته کولو سره دُعا وایی، اومقتدیان هم په لاسونو پورته کولو سره په طریقه ددُعا آمین وایی. آیا دا دُعا په دی طریق سره ویل جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: داسی هم ثابت دی لهٰذاپه دی کی هیڅ حرج نسته اوحنفیه ؤ هم ددی اجازت ورکړی دی (٣) اگر چه زیاتره روایات دسهار په لمونځ کی دی. (٤)

## فصلِ ثالث سننِ مؤکّده وغیر مؤکده

دسُنن مؤکده او غیرِ مؤکّده مسائل

**دسهار دجمع په وخت کی به سُنت په کم ځای کی کوی؟** **سوال**: (١٢٧٩) دسهار سُنت دامام څخه دومره لیری کول ښایی چي دامام آواز نه ورځی، حالانکه جوماتونه په کثرت سره کوچني دی، سُنت لمونځ کونکی ترکمه ځایه دَنه اوریدلو احتیاط وکړی دهغه دپاره څه حکم دی؟

**جواب**: دآواز راتللو یا نه راتللو قید نسته، صرف ځای یې جلا کیدل پکاردی. (١) فقط

---

(١) سورة البقرة رکوع ١١. ظفیر
(٢) سورة البقرة رکوع ١١. ظفیر
(٣) ولا یقنت لغیره الا لنازلة فیقنت الامام فی الجهریة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر ج١ ص٦٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١). ظفیر
(٤) وهو صریح فی ان القنوت النازلة عندنا مختص بصلاة الفجر دون غیرها من الصلوات الجهریة اوالسریة (رد المحتار باب الوتر ج١ ص٦٢٨ ، ط. س. ج٢ ص١١). ظفیر

**دسهار دلمونځ په صفونوکی دسُنتو اجازت نسته**: **سوال**: (١٢٨٠) دسهار دجَمع ددریدلو څخه وروسته دسهار سُنت په مخکی یا دویم صف کی دکولو څه حکم دی؟ که جائز نه وی نو علّت دعدمِ جواز تحریر وفرمایاست؟

**جواب**: علّت دعدمِ جواز صورةً مخالفت دجَماعت او دحدیث: اِذَا اُقِیْمَتِ الصلوٰةُ فَلاَ صلوٰةَ اِلاَّ المکتوبه دی (۲) اوپه درمختار کی دی: بَلْ یُصَلِّیها عندَ بابَ المسجد ان وجد مکانًا والا ترکها لان ترك المکروه مقدمِ علی فعل السنة (۳) الخ. اوپه شامی کی دی: فان کان عند باب المسجد مکان صلاَّها فیه والا صلاها فی الشتوی اوالصیفی انکان لمسجد موضعان. (۴) فقط

**دسنتو او فرضو په مینځ کی دُنیاوی خبری اودهغو حکم**: **سوال**: (١٢٨١) زید دسهار او ماپښین دسُنتو اوفرضو په مینځ کی دُنیوی خبری کوی نودسُنتو اعاده به کوی اوکه نه؟

**جواب**: په دی کی ثواب کمیږی دسُنتو داعادې ضرورت نسته. وفیه اختلاف. (۵)

**دجومات په دننه حصه کی دجماعت په حالت کی دباندې دسُنتو دګنجائش دلیل**: **سوال**: (١٢٨٢) چه دجومات په دننه حصه کی دسهار جَمع ولاړه وی، نوپه دباندې حصه کی به سُنت په کم دلیل سره درست وی کله چه دقراءة آواز اوریدل کیږی نو پر: فَاسْتَمِعُوْا باندی به څرنګه عمل کیږی؟

**جواب**: دآثارِ صحابه ﷺ څخه داسی ثابت دی چه دسهار دفرضو آواز به راتللی اوهغوی به یوطرف ته سول اودسهار سُنت به یې کول. په دی وجه امام صاحب داسی حکم ورکړی چه یوې خواته دی دسهار سُنت وکړی بیادی په جماعت کی شریك سی، چه دواړه فضیلتونه ورته حاصل سی. (۶)

---

(۱) واذا خاف فوت رکعتی الفجر لاشتغاله بسنتها ترکها لکون الجماعة اکمل والاَّ بان رجا ادراك رکعة الخ لا یترکها بل یصلیها عند باب المسجد ان وجد مکانا والاَّ ترکها لان ترك المکروه مقدم علی فعل السنة (در مختار) عندباب المسجد ای خارج المسجد کما صرح القهستانی وقال فی العنایة لانه لو صلاها فی المسجد کان متنفلا فیه عند اشتغال الامام بالفریضة وهو مکروه فان لم یکن علی باب المسجد موضع للصلاة یصلیها فی المسجد خلف سارية من سواری المسجد واشدها کراهة ان یصلیها مخالطا للصف مخالفا للجماعة والذی یلی ذالك خلف الصف من غیر حائل اهـ (ردالمحتار باب ادراك الفریضة ج۱ ص۲۷۰ – ۲۷۱ ، ط. س. ج۲ ص۵۷). ظ

(۲) مشکوٰة المصابیح باب الجماعة وفضلها فصل اول ص ۲۲ عن ابی هریرة ﷺ . ظفیر

(۳) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار، باب ادراك الفریضه ج۱ ص۲۷۱ ، ط. س. ج۲ ص۵۷. ظفیر

(۴) ردالمحتار باب ادراك الفریضة ج۱ ص۲۷۱، ط. س. ج۲ ص۵۷، ظفیر

(۵) ولوتکلم بین السنة والفرض لا یسقطها ولکن ینقص ثوابها وقیل یسقط (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۳۲ ، ط. س. ج۲ ص۱۹). ظفیر

(۶) وانما خالفناه فی سنة الفجر لشدة تاکدها علی مامر علی انها لاتقتضی والحدیث المذکور قد اوفقه ابن =

**که چیری چا دڅلور رکعتو نیت مات کړی نو بیابه پرهغه باندې څو رکعته واجب وي؟ سوال:** (۱۲۸۳) دسُنت مؤکده لکه دماپښین څلور رکعتونيت يې مات کړی نوپرهغه باندي دوه ۲ رکعته واجب دی اوکه څلور؟

**جواب:** څلور. (۱) فقط

**دماپښین سُنت کم چه دفرضو په وجه پر دؤو رکعتو باندی ختم کړل سول دفرضو څخه وروسته به څلور رکعته کوي: سوال:** (۱۲۸۴) زيد دماپښین سُنت کول لا يورکعت يې کړی ؤ چه جَمع ودريده، هغه دوه رکعته پوره کړل اوسلام يې وګرځوی. نودی به دفرضو څخه وروسته دوه ۲ رکعته کوی اوکه څلور؟

**جواب:** ده لره دفرضو څخه وروسته څلور رکعته دماپښین سُنت کول پکار دی. (۲) فقط

**دماپښین دجَمعي په وخت کی راتلونکی به مخکنی سنت کله کوي؟ سوال:** (۱۲۸۵) که چيري يو سړی دماپښین لمانځه ته په داسی وخت کی راغی چه جَمع ولاړه وه، ده سُنت ونه کړل، اوپه جَمع کی شريك سو نوڅلور رکعته به کم وخت کوی اوڅه نيت به کوی دقضاء اوکه داداء؟

**جواب:** دفرضو څخه وروسته دی څلور سُنت وکړی ددؤو سُنتو څخه مخکی يا وروسته او نيت دی دماپښین دسُنتو وکړی. (۳) فقط

**که دَسهارسُنت پاته سی نوکله به يې کوي؟ سوال:** (۱۲۸۲) که دسهاردلمونځ سُنت په فرضو

= عينيه وحماد بن زيد وحماد بن سلمه عن ابی هريرة ﷺ ولماروی الطحاوی وغيره عن ابن مسعود ﷺ انه دخل المسجد وقد اقيمت الصلوة فصلی رکعتی الفجر فی المسجد الی اسطوانة وذالك بمحضر حذيفة وابی موسٰی وقد مر تمامه فی اوقات المکروهٗة فکانت سنة الفجر مستثناة بادلة اخری عرضت حديث ابی هريرة ﷺ ورجحت عليه (غنية المستملی ص ۳۷۹ – ۳۸۰). ظفير

(۱) وسن مؤکدا اربع قبل الظهر واربع قبل الجمعة واربع بعدها بتسليمة فلو بتسليمتين لم تنب عن السنة ولذا لو نذرها لا يخرج عنه بتسليمتين (الدرالمختار باب الوتر والنوافل ص۲۳۰، ط. س. ج۲ ص۱۳) ولايصلی علی النبی ﷺ فی القعدة الاولی فی الاربع قبل الظهر والجمعة الخ (درمختار) فی البحر فی باب صفة الصلاة ان ما ذکر مسلم فيما قبل الظهر لما صرحوا به من انه لا تبطل شفعة الشفيع بالانتقال الی الشفع الثانی منها ولو افسدها قضی اربعا (ردالمحتار باب ايضًا ج۱ ص۲۳۳ ، ط. س. ج۲ ص۱۲). ظفير

(۲) بخلاف سنة الظهر وکذا الجمعة فانه ان خاف فوت رکعة يترکها ويقتدی ثم ياتی بها علی انها سنة فی وقته ای الظهر قبل شفعه عند محمد وبه يفتی (درمختار) اقول وعليه المتون لکن رجح فی الفتح تقديم الرکعتين قال فی الامداد وفی فتاوی العتابی انه المختار وفی مبسوط شيخ الاسلام انه الاصح لحديث عائشه ﷺ انه عليه الصلوة والسلام کان اذا فاتته الاربع قبل الظهر يصلين بعد الرکعتين وهو قول ابی حنيفة وکذا فی جامع قاضی خان اهـ والحديث قال الترمذی حسن غريب اهـ فتح (ردالمحتار باب ادرك الفريضة ج۱ ص۲۷۳ ، ط. س. ج۲ ص۵۸). محمد ظفير الدين غفر الله تعالی له

(۳) ايضا . ظفير

کی دشامليدلو په وجهی سره پاته سی نو هغه به کم وخت اداء کوي؟
**جواب**: په درمختار کی دی: ولا يقضيها الاّ بطريق التبعية (١) الخ يعنی دسهار دسنتو قضا نسته. ليکن کله چه دفرضوسره وی نوپه دې صورت کی دزوال څخه مخکی مخکی دی قضا وکړی، اوکه چيری يوازی سنت فوت سی نو دهغه قضا نسته، امام ابو حنيفه رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله خوپه هيڅ وخت کی هم دقضا قائل نه دی، نه دلمر ختلو څخه مخکی او نه دلمر ختلو څخه وروسته، او امام محمد رحمه الله فرمايي چی دلمر ختلو څخه وروسته دزوال څخه مخکی مخکی کول يې بهتر دی. (٢) فقط
**که دجُمعې مخکنی سنت پاته سی؟ سوال**: (١٢٨٧) کم سُنت چی دجمعې دلمانځه څخه مخکی کول کيږی که هغه پاته سی نو وروسته به يې کوی اوکه نه؟
**جواب**: کم سُنت چی دجُمعې (دلمانځه څخه) مخکی کول کيږی که چيری هغه يې ونکړای سوای نو دجُمعې دلمانځه څخه وروسته دی وکړی، کما قال فی الدر المختار: بخلاف سنة الظهر وكذا الجمعة الخ ثم ياتی بها علی انّه سنة فی وقته الخ. (٣) والله اعلم.
**دسهار سُنت ترکله پوری کولی سي: سوال**: (١٢٨٨) دسهار سُنت ترکم وخته پوری کول پکاردی، دهغه دقضا څه حکم دی؟
**جواب**: که چيری دسهار جَمعه ولاړه وی، نو که چيری ديوه رکعت دنيولو اُميد يې وی نو دسهار سُنت دی يوې خواته په کيدلوسره وکړی بيادی په جَمع کی شريك سی، (٤) اوکه چيری مخکی يې ونکړل نو بيا دفرضو څخه وروسته دلمر ختلو څخه مخکی دی نه کوی، که يې چيری کوی نو دلمر راختلو څخه وروسته دی وکړی. (٥) فقط
**دماپښين، مابنام او ماخستن څخه وروسته نوافل: سوال**: (١٢٨٩) دماپښين او مابنام او ماخستن دلمونځ څخه وروسته نفل کول دسُنت څخه ثابت دی اوکه نه؟

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب السنن والنوافل ج١ ص٦٧٢، ط. س. ج٢ ص٥٧. ظفير
(٢) واذا فاتته ركعتا الفجر لا يقضيها قبل طلوع الشمس لانه يبقی نفلا مطلقا وهو مكروه بعد الصبح ولو بعد ارتفاعها عند ابی حنيفة وابی يوسف وقال محمد احبّ اليّ ان يقضيها الی وقت الزوال (هداية باب ادراك الفريضة ج١ ص١٣٢). ظفير
(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ادراك الفريضة ج١ ص٦٧٢، ط. س. ج٢ ص٥٨. ظفير
(٤) واذاخاف فوت ركعتی الفجر لاشتغاله بسنتها تركها لكون الجماعة اكمل والاّ بان رجا ادراك ركعة لا يدركها بل يصليها عند باب المسجد ان وجد مكانا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ادراك الفريضة ج١ ص ٦٧٠ – ٦٧١، ط. س. ج٢ ص٥٢). ظفير
(٥) ولا يقضيها الا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لابعده فی الاصح (درمختار) واما اذا فاتت وحدها فلا تقضی قبل طلوع الشمس بالاجماع لكراهة النفل بعد الصبح واما بعد طلوع الشمس فكذالك عندهما وقال محمد احب اليّ ان يقضيها الی الزوال (ردالمحتار باب ادراك الفريضة ج١ ص٦٧٢، ط. س. ج٢ ص٥٧). ظفير

**جواب**: دسُنت څخه ثابت دی. (۱) فقط

**دسهار سُنت دفرضو څخه وروسته دلمر راختلو څخه مخکی کول جائز دي اوکه نه؟ سوال**: (۱۲۹۰) دسهار سُنت دلمر راختلو څخه مخکی دجَمعی څخه وروسته کول څنګه دی. که ناجائز وی، نو دماپښین مخکی سُنت هم کول نه دی پکار.

**جواب**: دسهار دفرضو څخه وروسته دلمر ختلو څخه مخکی سُنت کول جائز نه دی ولی چه ددی منع والی په حدیث شریف کی راغلی دی. په بُخاری اومُسلم کی دحضرت ابو سعید خُدری ﷺ په روایت کی راغلی دی: قال رسول الله ﷺ لاصلوٰة بعد الصبح حتی ترتفع الشمس ولا صلوة بعد العصر حتی تغیب الشمس(۲) ددی حدیث څخه دبعدالصبح اوبعد العصر نوافلو اوسننو ممانعت معلوم سو، او دماپښین څخه وروسته ممانعت نه دی راغلی. لهٰذا که چیری دماپښین څخه مخکی سُنت پاته سی نودفرضو څخه وروسته دی هغه وکړی. اوحنفیه فقهاء لیکی: ولا یقضیها الا بطریق التبعیة لقضاء فرضها قبل الزوال لابعده بخلاف سنة الظهر. په درمختار اوشامی کی دی: واما اذا فاتت وحدها فلا تقضی قبل طلوع الشمس بالاجماع لکراهة النفل بعد الصبح، واما بعد طلوع الشمس فکذالك عندهما وقال محمد احب الی ان یقضیها الی الزوال (۳) الخ. فقط

**دیوه رکعت نیولو په اُمید باندی دسهار دجَمعی په وخت کی دسهار سُنت درست دي او که نه؟ سوال**: (۱۲۹۱) په شرح وقایه کی لیکلی دی چه که چیری دسهار دفرضو دیوه رکعت دامام سره دنیولو اُمیدوی نو سُنت دی نه ترك کوی. داصحیح ده اوکه نه؟ بعضی وایی چه کله امام قرآئت شروع کړی نودسهار سُنت کول حرام دی. ترکم ځای پوری چه دامام آواز رَسیږی، داصحیح ده اوکه نه؟

**جواب**: داصحیح ده چه که چیری دسهار دفرضو یورکعت بلکه عند المحققین تشهد هم نیولی سی نوپه یو جلا ځای کی دی سُنت ادا کړی بیادی په جماعت کی شامل سی. کذا فی الدر المختار والشامی (۴)، اوکم خلق چه داسی وایی چه دسهار دفرضو دجماعت

---

(۱) عن ام حبیبة قالت قال رسول الله ﷺ من صلی فی یوم ولیلة ثنتی عشرة رکعة بنی له بیتا فی الجنة اربعًا قبل الظهر ورکعتین بعد المغرب ورکعتین بعد العشاء ورکعتین قبل صلوة الفجر رواه الترمذی (مشکوٰة باب السنن وفضائلها ج۱ ص۱۰۳) ویستحب اربع قبل العصر وقبل العشاء وبعدها بتسلیمة وان شاء رکعتین وکذا بعد الظهر لحدیث الترمذی من حفظ اربع رکعات قبل الظهر واربع بعدها حرمه الله علی النار وست بعد المغرب لیکتب من الاوّابین بتسلیمة اوثنتین (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی السنن ج۱ ص۲۳۰ ، ط. س. ج۲ ص۱۳). ظفیر

(۲) مشکوٰة المصابیح باب اوقات النهی ص ۹۴ . ظفیر

(۳) ردالمحتار باب ادراك الفریضةج۱ ص۲۷۲ ظفیر

=

دشروع كيدلو څخه وروسته مطلقًا دسهار سُنت كول حرام دي، هغوی حنفيان نه دي او هغوی ته دحنفي مذهب خبر نسته. دحنفيه ؤ همدا مذهب دی چه سُنت دي وكړي اوپه جَمع كی دي شريك سی. ليكن حتی الوسع دجَمع څخه دي په جلا ځای كی بيل وكړي. والتفصيل فی كتب الفقه.

**دسُنتو په نيت كی سُنت رسول الله ويل څنګه دي؟ سوال:** (١٢٩٢) دسُنتو په نيت كی سُنت رسول الله ويل څنګه دي؟

**جواب:** وكفٰی مطلق نية الصلاة وان لم يقل لله لنفل وسنة راتبة الخ درمختار. يعنی په سُنتو او نفلوكي مطلقِ نيت دلمانځه هم كافی دی. اوتعين كول چه دسهار سُنت دي يا دماپښين دي اَحْوطَ دی. كه چيری سُنتِ رسول الله ووايي نوبيا هم څه حرج نسته پكښی. (١) والله تعالیٰ اعلم

**دسُنت مؤكده پرېښول درست نه دي:** **سوال:** (١٢٩٣) دسُنت مؤكده ؤ په باره كی بعضی عالمان وايي چه كه چيری فرصت ورته وی نو ودی كړي اوكه فرصت نه وی نه دی كوی څه حرج پكښی نسته. داصحيح ده اوكه نه؟

**جواب:** سُنت مؤكده پريښول نه دي پكار. حتی الوسع كول يی پكاردي (٢) البته كه چيری وخت تنګ سوی وی چه صرف دفرضو كولو په مقدار وخت باقی وی نو هغه وخت دي سُنت پرېږدي. فقط

**سُنت په كوركی كول:** **سوال:** (١٢٩٤) سُنت په كور كی كول فضيلت لری. دا دمخكنيو او وروستنيو دواړو سُنتو دپاره دی اوكه څنګه؟

**دماښام څخه وروسته سُنتونه:** **سوال:** (١٢٩٥) دماښام څخه وروسته چه دشپږو ٢ ركعتو كم تر غيب وركړل سوی دی كه دهغه دوه ٢ ركعته ادا كړي نو كيدی سی اوكه نه؟

**دفرائضو څخه وروسته سُنت فورًا كول پكاردي اوكه تاخير هم كولی سی؟ سوال:** (١٢٩٦) دفرضو څخه وروسته چه كم نفل دی هغه به دفرضو څخه وروسته سمدستی كوی او كه

---

(٤) واذا خاف فوت ركعتی الفجر لاشتغاله بسنتها تركها لكون الجماعة اكمل والاّ بان رجا ادراك ركعة فی ظاهر الرواية وقيل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالی تبعا للبحر لكن ضعفه فی النهر، لايتركها بل يصليها عند باب المسجد ان وجد مكانا والاّ تركها (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب ادراك الفريضة ج١ ص٢٧٠ وص٢٧٢ ، ط. س. ج٢ ص٥٦) صرف دتشهد په اُميد دي ركعت نه پرېږدي. ظفير

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج١ ص٣٨٨ ، ط. س. ج٢ ص٥١٧. ظفير

(٢) ولهٰذا كانت السنة المؤكدة قريبة من الواجب فی لحوق الاسم كما فی البحر ويستوجب تاركها التضليل واللوم كمافی التحرير ای علی سبيل الاصرار بلاعذر (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی السنن والنوافل ج١ ص٢٣٠ ، ط. س. ج٢ ص١٢). ظفير

تر کمه پوری چه وخت باقی وی کولی یې سی؟

**جواب**: (۱) داحکم ددواړو سُنتو دپاره دی لیکن که چیری دفرضو څخه وروسته کورته په تللوکی په لاره کی یا کورته دتللو څخه وروسته دڅه حرج واقع کیدلو احتمال وی اوپه دُنیاوی کارونوکی دمشغولیدلو اندیښنه وی نو بیادی سُنت په جومات کی وکړی ولی چه داسی هم ثابت دی. (۱)

(۲) دا شپږ ۲ رکعته دکومو فضیلت چه دماښام په وخت کي راغلی دی ددؤو مؤکدو سنتو څخه علاوه دی. اوبعضو فرمایلی دی چه دوه ۲ مؤکد سُنت هم په دی کی داخل دی. اوکه دماښام ددؤو سنتو څخه وروسته صرف دوه ۲ رکعته نفل وکړی نو په دی کی هم ثواب (۲) دی.

(۳) ترڅو پوری چي ددغه لمونځ وخت سته نو ددغه نوافلو وخت هم سته. (۳) فقط (خو متصلاً یې کول اولی دی. ظفیر)

<u>**دماپښین دڅلورو رکعتو سنتو حیثیت دفرض دادا کولو څخه وروسته**</u>: **سوال**: (۱۲۹۷) دماپښین فرض یې مخکی وکړل نواوس مخکنی څلور رکعته سُنت نفل سوه اوکه سُنت مؤکده پاتی دی؟

**جواب**: ترڅو پوری چه وخت باقی وی دماپښین څخه مخکی څلور رکعته ادا کول سُنت مؤکده دی. که چیری دفرضوڅخه مخکی څلور رکعته سنت یې ادانه کړل نو دفرضو څخه وروسته یې اداء کول پکار دی. (۴) فقط

---

(۱) الافضل فی النفل غیر التراویح المنزل الا لخوف شغل منها والاصح افضلیة ماکان اخشع واخلص (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ، ط. س. ج۲ ص۲۲). ظفیر

(۲) ویستحب الخ وست بعد المغرب لیکتب من الاوّابین بتسلیمة اوثلاث والاول ادوم واشق وهل تحسب المؤکدة من المستحب ویؤدي الکل بتسلیمة واحدة اختار الکمال نعم (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۷۳۱ ، ط. س. ج۲ ص۱۳). ظفیر

(۳) لیکن ښه داده چه متصلاً یې وکړی ، ولی چه فقهاء لیکی: ویکره تاخیر السنة الا بقدر اللهم انت السلام الخ قال الحلبی لاباس بالفصل بالاوراد واختاره الکمال قال الحلبی ان ارید بالکراهة التنزیهیة ارتفع الخلاف وفی حفظي حمله علی القلیلة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار.باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۹۴ ، ط. س. ج۲ ص۵۳۰). ظفیر

(۴) بخلاف سنة الظهر وکذا الجمعة ان خاف فوت رکعة یترکها ویقتدی ثم یاتی بها علی انها سنة فی وقته ای الظهر (درمختار) علی انها سنة ای اتفاقا وما فی الخانیة وغیرها من انها نفل عنده سنة عندهما فهو من تصرف المصنفین لان المذکور فی المسئلة الاختلاف فی تقدیمها اوتاخرها والاتفاق علی قضائها وهو اتفاق علی وقوعها سنة کما حققه فی الفتح وتبعه فی البحر والنهر وشرح المنیة (ردالمحتار، باب ادراك الفریضة ج۱ ص ۲۷۲ – ۲۷۳ ، ط. س. ج۲ ص۵۸). ظفیر

**که چیری په هیره دسُنتو په نیت کی دفرضو نومونه واخلی نوڅه حکم دی؟ سوال:** (١٢٩٨) که چیری یو سړی دماپښین یا سهار په وخت کی په هیره دسنت مؤکده په سنت سره دفرضونیت وکړی نوسنت څرنګه اداکړی. آیانیت مات کړی اوبیا دسنتو نیت وتړي اوکه څه وکړی؟

**جواب:** نیت دی مات کړی اوبیادی دسنتو نیت وتړی اودوباره دی تکبیر دسنتو په نیت سره ووایی. ([1])

**سنت په کورکی کول غوره دی: سوال:** (١٢٩٩) زهٔ دسهار سُنت په کورکی کوم او ددُر مختار وغیرهما دروایت مطابق دا غوره ګنم. دمولانا اشرف علی صاحب دجواب څخه معلومیږی چه ټول سنن مؤکده په جُومات کی کول افضل دی، دپاره ددی چه تشبّه داهلِ بدعت سره رانسی. چونکه په دی علاقو کی تارکین دسنتو نسته نوآیا دلته به هم تشبُّه داهل بدعت سره وی اوکه نه؟

**جواب:** په احادیثو کی دسُنتو اونوافلو په کورکي دادا کولو چه کم فضیلت وارد سوی دی، هغه مشهور اومعروف دی. اوفقهاؤ هم دتراویحو څخه ماسوا نور سُنن اونوافل په کور کی کولو ته غوره فرمایلی دی ([2]) او دحنیفه ؤ داکابرو حضراتو لکه حضرت محدّث اوفقیه ګنګوهیؒ عمل په همدی باندی لیدل سوی دی. او ستاسی په اطرافو کی چه کله فرقه داهلِ بدعتو یا داسي بله فرقه کمه چه دسُنتو تارکه وی سته هم نه، نوپه په دی فضیلت کښی هیڅ اشکال باقی نه پاته کیږی. فقط

**دفرضو څخه وروسته اودسُنت مؤکده څخه مخکی تسبیحات: سوال:** (١٧٠٠) یو سړی دفرض لمونځ څخه وروسته اودسُنتو څخه مخکی تسبیحات اوآیت الکرسی وایی اوسُنت مؤکده ترهغه وروسته اداء کوی. اوما اوریدلی دی چه حضور ﷺ به دفرض لمونځونو څخه وروسته دعاء او سلام لوستل اوسُنتِ مؤکده به یې ژر ادا کول ځکه چي ملائکي فرض او سُنَّت دواړه درګاهِ الٰهی ته وړی اوپیش کوی یی؟

**جواب:** آیت الکرسی اوتسبیحات دسنتوڅخه مخکی ویل هم جائزدی، او داکابرو معمول به دی. او داحادیثو څخه دواړي خبری ثابتی ([3]) دی. فقط

---

([1]) رجل افتتح المکتوبة فظن انها تطوع فصلی علی نیة التطوع حتی فرغ فالصلوة هی المکتوبة ولوکان الامر بالعکس فالجواب بالعکس الخ والنیة بدون التکبیر لیس بمخرج (عالمگیری کشوری الفصل الرابع فی النیة ج۱ ص ۲۴ – ۲۵ ، ط. ماجدیه ج۱ ص۶۲). ظفیر

([2]) والفضل فی النفل غیر التراویح المنزل الاّ لخوف شغل منها والاصح افضلیة ماکان اخشع واخلص (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۶۳۸ ، ط. س. ج۲ ص۲۲). ظفیر　　=

**دماپښين دفرضو څخه وروسته دڅلورو رکعتو معمول څنګه دی؟ سوال:** (١٧٠١) يوسړی دماپښين څخه مخکې څلور رکعته دماپښين سُنت کوی ترهغه وروسته دماپښين فرض ادا کوی په جَمع سره دماپښين دفرضو ادا کولو څخه وروسته دوه ٢ رکعته سُنت نه کوی بلکه ددؤو پرځای څلور رکعته سُنت پريوه ځای کوی اوهميشه همداسی کوی. په دی کی څه حرج سته اوکه نه؟

**جواب:** قال ابن الهمام وصرح جماعة من المشائخ انه يستحب اربع بعد الظهر لحديث رووه وهو انه ﷺ قال من صلى اربعًا قبل الظهر واربعًا بعده حرمه الله على النار. رواه ابوداؤد والترمذی والنسايی، ثم اختلف اهل هذا العصر فی انها يعتبر غير رکعتی الراتبة اوبها وعلى التقدير الثانی قيل تؤدی بها بتسليمة واحدة اولا فقال جماعة لا لانه ان نوی عند التحريمة السنة لم يصدق فی الشفع الثانی او المستحب لم يصدق فی السنة ووقع عندی انه اذا صلى اربعًا بعد الظهر بتسليمة اوثنتين لم يصدق فی السنة ووقع عندی انه اذا صلى اربعًا بعد الظهر بتسليمة اوثنتين وقع عن السنة والمندوب سواء احسبه الراتبة او لا. فتح القدير ص٣٨٦ مصری.

نومعلومه سوه چه که چيری يوسړی په استحباب باندی عمل کوی او دماپښين دفرضو څخه وروسته صرف څلور رکعته کوی، دوه رکعته سنت يوازې نه کوی. نو دشيخ ابن همام دتحقيق پربنا باندی هيڅ حرج پکښی نسته. په دی څلورو رکعتونو کی به دوه ٢ رکعته سُنت (خود بخوده) حساب سی برابره خبره که دهغی نيت وکړی اوکه يې ونه کړی. البته مختاره داده چه څلور رکعته دی دماپښين دفرضوڅخه وروسته په دؤو سلامو سره کوی دپاره ددی چه دچا اختلاف ګرسره پاته نسی اوپه دی حديث باندی هم عمل وسی په کم کی چه راغلی دی: عن عائشة رضي الله عنها كان النبی ﷺ يصلي قبل الظهر اربعًا وبعدها رکعتين ([1]) الحديث رواه مسلم وابوداؤد.

ددی روايت څخه داسی معلوميږی چه دنبی کريم ﷺ عادتِ مُستمِرّه داؤو چه دوه٢ رکعته سُنت به يې دماپښين دفرضو څخه وروسته کول. ددی وجه څخه کمالِ اتباعِ دسرورِ کائنات ﷺ په دی کی ده چه دماپښين دفرضو څخه وروسته دی ددوو دوو ٢ رکعتو

---

([1]) وعن المغيرة بن شعبة ان النبی ﷺ كان يقول فی دبر كل صلوٰة مكتوبة لا اله الا الله وحده لا شريك له الخ متفق عليه (مشكوٰة باب الذكر بعد الصلوٰة ص٨٨) وعن علی قال سمعت رسول الله ﷺ على اعواد هٰذا المنبر يقول من قرء اٰية الكرسی فی دبر كل صلوة لم يمنعه من دخول الجنه الا الموت الخ قال اسناده ضعيف (ايضًا ص٨٩) قال الحلوانی لاباس بالفصل بالاوراد واختاره الكمال (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوٰة ج١ ص٤٩٤ ، ط. س. ج١ ص٤٣٠). ظفير

([1]) وګوری مشكوٰة باب السنن ص١٠٤ . ظفير

سُنتو بيل کولو اهتمام وکړی، پرڅلورو رکعتو باندی همیشه والی کول اودوه رکعته سُنت بيل نه کول دحضرت عائشي رضی الله عنها په حديث باندی دعمل کولومانع دی، آئنده ددی خيال ساتل پکاردی. فقط

**دفرضو څخه وروسته په سنتو کی تاخير ترڅومره حده پوری درست دی:** **سوال:** (١٧٠٢) دفرضو څخه وروسته دسُنتو تاخير ترکم مقدار پوری مستحب دی، او دکم مقدار څخه زيات مکروهه دی. دحنفيه ؤ مفتٰی بهِ قول سره ددلائلو بيان وفرماياست ! (١)

**جواب:** په درمختار کی دی: ويکره تاخير السنة الاّ بقدر اللّهم انت السّلام الخ ليکن مطلب ددی دادی، چه دا تقريبی خبره ده، که چيری ددی څخه څه زياته هم دُعا وغيره وسی نوڅه حرج نسته. اوصحيح داده چه په فصل بِالاَوْرَادکی څه بدوالی نسته، واختاره الکمال. (٢) فقط

**دفرضوڅخه وروسته سُنت په کورکی وکړی، اوکه په جُومات کی؟** **سوال:** (١٧٠٣) دفرضو څخه وروسته سُنتونه خپلو خپلو کورونو ته دتللو څخه وروسته کول پکاردی اوکه په جومات کی؟

**جواب:** فی الشامی: لاتفاق کلمة المشايخ علی ان الافضل فی السنن حتی سنة المغرب المنزل ای فلا يکره الفصل بمسافة الطريق، (٣) شامی اوپه بل ځای کی مذکور دی: والافضل فی النفل غير التراويح المنزل الا لخوف شغل عنها والاصح افضلية ماکان اخشع واخلص (٤).

ددی آخری عبارت څخه واضح سوه چه کم اَخْشعْ اواَخلَص وی هم هغه بهتردی. که چيری په جومات کی په کولوکی خشوع زياته وی اواخلاص زيات وی اوکورته دتللو څخه وروسته په کولو کی دتاخير وغيره خوف وی نو بياپه جومات کی کول غوره دی. فقط

**دسنتو اونوافلو څخه وروسته دُعا انفرادًا ده او اجتماعًا ثابته نه ده:** **سوال:** (١٧٠٤) دسُنتو او نفلو څخه وروسته هم دُعا کول پکاردی اوکه نه؟ اوکه دسلام ګرځولو سره سَم ولاړيدل اوتلل پکاردی؟ که چيری يوڅوك عالم سړی دسُنتو اونفلو څخه وروسته دُعانه کوی، او همداسی ولاړ سی نو دملامتيا قابل دی اوکه نه؟ څوك چه پخپله هم دُعانه کوی اونورو

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٩٤ ، ط. س. ج١ ص٥٣٠. ظفير

(٢) ايضًا ، ط. س. ج١ ص٥٣٠. ظفير

(٣) ردالمحتار باب صفة الصلاة تحت قول ويکره تاخير السّنة الا بقدر اللّهم انت السلام الخ ج١ ص٤٩٥ ، ط. س. ج٢ ص٥٣٠. ظفير

(٤) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٣٨ ، ط. س. ج٢ ص٢٢. ظفير

دُعاکونکوته هم بدرد وایی اوددعا څخه یې منع کوی نوهغه دملامتیا قابل دی اوکه نه؟

**جواب**: دفرائضو څخه وروسته ددعا کولو څخه وروسته خپریدل پکاردی. دسُننو او نوافلوڅخه وروسته مقتدیانو ته داجتماعی دُعا پابندی کول نه دی پکار. دفرائضو څخه وروسته که یوسړی مثلاً کورته ځی اوهلته سُنت کول غواړی نوهغه دی ولی پابندی کړی سی. غرض داچه څوك داسی کوی هغه دملامتیا لائق نه دی. اودا طریقه چه دنفلو او سنتو څخه وروسته پخپله هریو سړی چه کم وخت فارغ سی دُعادی وکړی، او ولاړ دی سی، یا دفرائضو څخه را وروسته دی کورته ولاړ سی اوهلته دی سُنت وکړی. په دی کی هیڅ تنګی کول نه دی پکار. فقط

**په دوؤ شفعو والا سُنتوکی قراءت: سوال**: (١٧٠٥) دسُننِ مؤکده ذی شُفْعَین په هره شُفعه کی قراءت واجب دی اوکه یوازي په مخکنۍ شُفع کی؟

**جواب**: په څلورو واړو رکعتونو کی قراءت واجب دی. (١) فقط

**چه دمحراب څخه هاَ خواته سي سُنت کوي نوددي څه وجه ده؟ سوال**: (١٧٠٦) امام چه دجماعت دمُصلی څخه هاخواته سی اوسُنت او نفل اداکوی نو ددی اصل علّت څه دی؟ که چیری پر دغه مُصَلی باندی سُنت اونفل ادا کړی نو څنګه دی؟

**جواب**: اوس اصل علّت داشتباه ارتفاع ده، اودا بهتره دی چه په صورت داشتباه کی په بیل ځای کی سُنت اونفل وکړی (٢) لیکن که یې چیری پردغه مُصَلی باندی وکړی نوداهم درست دی. لان بالسّلام یحصل الفصل. اوکم اصلی علّت چه په حدیث کی مذکور دی چه خلطِ فرائض بالنوافل دی اواحتمال اوګمان دزیادت دفرضو دی هغه اوس باقی نه دی.

**که دجُمعی څخه مخکی سُنت یې ونه کړی سوه نو څه به کوي؟ سوال**: (١٧٠٧) که چیری دجُمعی څخه مخکی څلور رکعته سُنت پاته سی نودجُمعی دفرضو څخه وروسته به هغه کوي اوکه نه؟

**جواب**: دجُمعی دلمونځ دادا کولو څخه وروسته دجُمعی څخه مخکی (والا) سُنت ادا کول پکار دی. (٣)

---

(١) وتفرض القراءة عملا فی رکعتی الفرض الخ وکل النفل للمنفرد ولان کل شفع صلاة الخ وکل الوتر احتیاطا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر وللنوافل ج١ ص٤٤٣ ، ط. س. ج٢ ص٢٨). ظفیر

(٢) ویکره للامام التنفل فی مکانه لا للمؤتم وقیل یستحب کسر الصفوف وفی الخانیة یستحب للامام التحول لیمین القبلة یعنی یسار المصلی لتنفل او ورد وخیّره فی المنیة بین تحویله یمینا وشمالا واماماً وخلفا وذهابه لبیته الخ (درمختار) قوله ویکره الخ بل یتحول الخ وکذا یکره مکثه قاعدا فی مکانه مستقبل القبلة فی صلاة لا تطوع بعدها والکراهة تنزیهیة کمادلت علیه عبارة الخانیة الخ وقال لان المقصود من الانحراف وهو زوال الاشتباه ای اشتباه انه فی الصلوة (ردالمحتار قبیل فصل فی القراءة ج١ ص ٤٩٥ وص٤٩٢ ، ط. س. ج١ ص٥٣١). ظفیر

**دسنتو اوفرضو په مینځ کی دُنیاوی خبری دثواب دکموالی موجب دی**: **سوال**: (۱۷۰۸) هل الکلام الدنیوی بین السنة التی قبل الظهر والتی قبل الفجر وبین فرضیهما مفسد للسنة ام موجب لانحطاط ثواب السنة وایضا الاکل والشرب؟

**جواب**: موجب لنقص الثواب لا مفسد لها. قال فی الدر المختار: ولو تکلم بین السنة والفرض لا یفسدها ولکن ینقص ثوابها. (۱) فقط

**دسهار سنت چه کم پاته سی هغه به کله کوی؟** **سوال**: (۱۷۰۹) چاچه دسهار سُنت ونه کړل، اوپه فرضوکی شریك سو نو اوس به هغه سُنت کم وخت کوی؟

**جواب**: اوس به هغه سُنت دفرض لمونځ څخه وروسته نه راګرځوی. که چیری کوی یې نو دلمر راختلو څخه وروسته دی وکړی. دابه نفل سی. (۲) فقط

**دسهار اوماښام په سُنتوکی پرسورة کافرون او اخلاص باندی همیشه والی اوددی حکم**: **سوال**: (۱۷۱۰) آیا جناب رسول الله ﷺ به همیشه دسهار اوماښام دسنتو په مخکنی رکعت کی قل یٰایّها الکافرون اوپه دویم رکعت کی قل هو الله ویل؟ که چیری څوك پردی باندی همیشه والی کوی نو لمونځ به یې مکروه سی اوکه نه؟

**جواب**: همیشه داسی نه دی سوی ولی چه په حدیث شریف کی دا راغلی دی چه په سنتو کی کله حضور علیه السلام سورت کافرون اوقل هو الله احد ویلی دی.اوکله یې: قُوْلُوْا آمَنَّا بِاللهِ، الآیة او: قُلْ یَا أَهْلَ الْکِتَابِ تَعَالَوْا، ویلی دی. کما ورد فی الحِصن الحَصین. اوکه چیری یوسړی همدا دوه سورتونه دسهار په سُنتوکی په مستحب ګڼلو سره قرائت کوی نو کراهت پکښی نسته، لیکن بهتره داده چه کله کله دی یو بل سورت یا: قُوْلُوْا اٰمَنَّا، الآیة ، یا بل ځای هم وایی. (۳) فقط

---

(۳) ولا یقضیها الا بطریق التبعیة لقضاء فرضها قبل الزوال لا بعده بخلاف سنة الظهر وکذا الجمعة فانه ان خاف فوت رکعة یترکها ویقتدی ثم یاتی بها علی انها سنة فی وقته قبل شفعه عند محمد وبه یفتی (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج۱ ص۲۷۲ باب ادارك الفریضة ، ط. س. ج۲ ص۵۷). ظفیر

(۱) الدرالمختار باب الوتر والنوافل ج۱ ص ۲۹۵ ، ط. س. ج۲ ص۱۹. ظفیر

(۲) واذا خاف فوت رکعتی الفجر لاشتغاله بسنتها ترکها والاّ لا، ولا یقضیها الاّ بطریق التبعیة بقضاء فرضها قبل الزوال لا بعده (درمختار) اما اذا فاتت احدها فلا تقضی قبل طلوع الشمس بالاجماع لکراهة النفل بعد الصبح امابعد طلوع الشمس فکذلك عندهما وقال محمد احب الیّ ان یقضیها الی الزول الخ وقالا یقضی وان قضا فلا باس ؒ وقال الخلاف فی انه لوقضیٰ کان نفلا مبتدأ اوسنّة کذا فی العنایة یعنی مثلا عندهما سنة عنده کما ذکره فی الکافی اسمٰعیل (ردالمحتار باب ادراك الفریضة ج۱ ص۲۷۰ وص۲۷۲ ، ط. س. ج۲ ص۵۲). ظفیر

(۳) وکره عندنا وعند مالك تعیین سورة ای غیر الفاتحة لصلاة من الصلوات الخ وقید الطحاوی والاسبیجابی =

**که دسهار سُنت دفرضو څخه وروسته وکړي نوڅه حرج دي؟ سوال:** (١٧١١) که چیرې دسهار سُنت يې دجَمع دپاته کيدلو په وجه سره ونه کړي سوه نودلمر راختلو څخه مخکې دجَمع څخه وروسته کول يې څنګه دی، بعضی خلق دلمر ختلو څخه وروسته کولو ته بهتر وايي؟

**جواب:** دفرضو کولو څخه وروسته دسهار سُنت دلمرختلو څخه مخکې کول مکروهه دي. که چیري يې قضا راګرځول غواړی نودلمر ختلو څخه وروسته يې کول پکاردی، کنې ضرورت خو ددی هم نسته ولی چه مُستقلاً دسُنتو قضا نسته. البته که چیرې فرض هم قضا سوی وی نو بیا دهغو سره دزوال څخــه مخکی مخکی دی دسُنتو قضاهم وکړی. شامی ددرمختار تردي: ولا يقضيها الا بطريق التبعية، لاندی ليکلی دی: اى لا يقضى سنة الفجر الا اذا فاتت مع الفـــــجر فيقضيها تبعًا لقضائه لو قبل الزوال واما اذا فاتت احدهما فلا تقضى قبل طلوع الشمس بالاجماع لكراهة النفل بعد الصبح واما بعد طلوع الشمس فكذالك عندهما وقال محمد احب الى ان يقضيها الى الزوال كما فـــــى الدر المختار [1] الخ. فقط

**نفل په ناستی کول ښه دي اوکه په ولاړي؟ سوال:** (١٧١٢) دکمو پنجګانه لمونځونو څخه وروسته چه کم نفلونه کیږی آیا هغه بالالتزام په ناستی کول پکاردی اوکه په ولاړي يې کول بهتردی؟

**آیا جومات ته درسیدلو څخه وروسته به مخکی کښیني بیا به سُنت کوي: سوال:** (١٧١٣) دلته على العموم دخلقو اعتقاد دی، چه کله دلمانځه دپاره جومات ته ولاړسی نوداودس کولو څخه وروسته دی لږساعت کښینی بیادی ولاړ سی اودلمونځ نیت دی وکړی. اودا طریقه دفرضو او واجبو په شان ګڼی، دا داحادیثو څخه ثابته ده اوکه نه؟

**جواب:** (١) که چیری دڅه عُذر په وجه سره نفل په ناسته وکړل سی نو جائزدی اوپه ولاړی دنفل کونکی سره به په فضیلت کی هم برابروی، کما فی جامع الرموز نقلاً عن النهاية ان اجر صلوة القاعد بعذر يساوی صلوة القائم بالاجماع [2] الخ، اګرچه دبعضو قول داهم

---

= الكراهة فيما اعتقد ان الصلوة لاتجوز بغيرها واما اذا لم يعتقد ذالك ولازمها بسهولتها عليه او تبركا بقراءة النبى ﷺ اياها كقراءة سبح اسم وقل يٰايها الكافرون والاخلاص فى الوتر وقراءة الكافرون والاخلاص فى سنة الفجر والغرب الخ فلايكره بل يكون حسنا فتركه مطلقا غير مستحسن الخ (شرح نقايه فصل فى القراءة ج١ ص٨٣). ظفير

[1] ردالمحتار باب ادراك الفريضة ج١ ص٢٧٢ ، ط. س. ج٢ ص٥٧. ظفير

[2] جامع الرموز .

دی، چه په ذکر سوی صورت کی دگناه په نیستي والي کي صاحب عُذر اوروغ برابر دی. لیکن اول قول زیات مشهور دی. اوکه چیری دعُذر څخه بغیر نفل په استثناء دشُفعی بعد الوتر څخه په ناستی ادا کړی نو په دی صورت کی به سره دجواز څخه په ثواب کی ضرورا تنصیف وی: قال فی الهدایة ویصلی النافلة قاعداً مع القدرة علی القیام لقوله ﷺ القاعد علی النصف من صلوة القائم ([1])، داجواز به په داسی صورت کی وی چه په ناسته کولوکی څه داسی التزام نه وی په کم سره چه کتونکو ته په ناستي دلمونځ کولو دسُنیَت یاوجوب گمان وسی لکه څنگه چه په بعضو ځایونوکی دماپښین او ماښام څخه وروسته په خلقوکی دوه ۲ رکعته په ناستی کول رائج سوی دی اودهغه ځای عوام دا ناسته شرعًا لازمه گڼی. په داسی ځایونوکی داناسته بیشکه مکروهه ده، کمافی الخیریة ج۲ ص ۳۲۳: کل مباح یؤدی الی زعم الجهال سنیة امر او وجوب فهو مکروه آهـ نقلاً عن القنیة. نودزید امرار (زور ورکول) به په دی قعده کی داخل وی اوددی عادت ختمولو کوشش ضروری دی. نفل بعد الوتر ددی څخه مستثنٰی دی، ولی چه هغه په حدیث سره په ناسته ثابت دی. فقط

(۲) سُنت همدا دی چه جومات ته دتللو څخه وروسته دي دکښېنستلو څخه بغیر دتحیة المسجد دوه ۲ رکعته ادا کړی. اوکه چیری مخکی کښېنستی نو دابه ترکِ اولٰی وی. دصَحیحَینو حدیث فقهاؤ پرترکِ اولٰی باندی حمل کړی دی لیکن دکښېنستلو څخه وروسته ادا کول ضروری گڼل په دوو وجهو سره خلافِ مشروع دی. یودا چه دصحیحَینو دحدیث څخه خلاف دی: اذا دخل احدکم المسجد فلا یجلس حتّٰی یصلی رکعتین، دویم دقاعدی مذکوری ترمخه به هم داطرز اودا طریقه مکروهه وی. کما فی الخیریة ج۲ ص ۳۳۳: کل مباح یؤدی الی زعم الجهال سنیة امر او وجوب فهومکروه آهـ نقلاً عن القنیة.

**<u>په ناسته په نفل کولو سره ثواب حاصلیږی اوکه نه؟</u> سوال**: (۱۷۱۳) په ناسته په نفل کولو سره ثواب حاصلیږی اوکه نه؟ تر وترو وروسته دنفلو څه حکم دی؟

**جواب**: که چیری نفل په ناسته کوی نو داحادیثو په وینا نیم ثواب به ورکول کیږي. ([2])

**<u>صلوة الاوابین</u>** : **سوال**: (۱۷۱۴) صلوة الاوّابین شل رکعته کول پکار دی ، او که شپږ ۲

([1]) هدایه باب النوافل ج۱ ص۱۳۳ . ظفیر

([2]) ویتنفل مع قدرته علی القیام قاعداً ابتداء وبناء (الی قوله) وفیه اجر غیر النبی ﷺ النصف الا بعذر (در مختار) ففی صحیح مسلم عن عبدالله بن عمرو قلت حدثت رسول الله انك قلت صلاة الرجل قاعداً علی نصف الصلوة وانت تصلی قاعدا قال اجل ولکنی لست کاحد منکم (الی قوله) حدیث البخاری من صلی قائما فهو افضل ومن صلی قاعدا فله نصف اجر القائم الخ (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۵۲). ظفیر

رکعته، صحیح خبره څه ده؟

**جواب**: په صلٰوةِ اوّابین کی دواړي خبری صحیح دی شپږ رکعته هم راغلی دی اوشل هم چه هریو وکړی بهتردی. خو داکثرو عالمانو مذهب پرشپږو ۲ رکعتو باندی دی. [1] فقط

**دوترو څخه وروسته نفل په ناسته وکړی اوکه په ولاړه؟** **سوال**: (۱۷۱۵) دوترو څخه وروسته نفل په ناسته کول غوره دی اوکه په ولاړه؟ او دنوافلوپه ناسته کولوکی آیاثواب هغومره ورکول کیږي څومره چه په ولاړه کولو کی وی؟

**جواب**: په ناسته دنفلو کولو ثواب نیم کیږی. داعمومًا اومطلقًا دی. اوحضور ﷺ ددی حکم څخه مستثنٰی دی. هغوی ته به پوره ثواب ورکول کیږي. نو دوترو څخه وروسته په ناسته سره په نفل کولوکی به دذکر سوی قاعدی موافق نیم ثواب ورکول کیږي البته بعضی عالمان دافرمایی چي دوترو څخه وروسته دوه رکعته په ناسته کول دا مستحب دي، لکه څنګه چي قاضي ثناء الله صاحب هم همدا خبره ښوولي ده: او له وترو څخه وروسته دوه رکعته په ناسته کول مستحب دي، په اول رکعت کي سورةِ زلزال او په دوهم رکعت کي سورة کافرون، ما لابد منه ص ۲۷. ولی چه دحضور ﷺ څخه همدغه ډول ثابت دی. حضرت مولانا ګنګوهی په نوافل بعدالوتر کی هم په ناسته دکولو نیم ثواب فرمایی، اوهمدا خبره راجحه معلومیږي. [2]

**دوترو څخه مخکی او وروسته نوافل**: **سوال**: (۱۷۱۶) دماخستن په لمونځ کی چه کم څلور رکعته نفل دوترو څخه مخکی او وروسته دی په هغی کی ترجیح چا لره ده؟

**جواب**: دماخستن په لمونځ کی دفرضو څخه وروسته دوه ۲ سُنت مؤکده دی، دهغه څخه وروسته څلور ۴ رکعته یادوه ۲ رکعته نفل او مستحب دی. دهغو څخه وروسته دی وتر وکړی بیا دوترو څخه وروسته نفل نسته. یعنی لکه څنګه چه رواج دی چه دوترو څخه وروسته دوه رکعته په ناسته کول کیږي، ددی حکم نسته. فقط

---

[1] وان تطوع بعد المغرب بست رکعات کتب من الاوّابین الخ (غنیة المستملی ص۳۲۹) وبعد مغرب دو رکعت سنت وبعد ازآن شش رکعت دیگر مستحب است آن راصلوة الاوابین گونید وبروایتی بعد مغرب بیست رکعت آمده (ما لابد منه ص ۲۷) عن عائشة رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ من صلی بعدالمغرب عشرین رکعة بنی الله له بیتا فی الجنة رواه الترمذی (مشکوٰة باب السنن ص۱۰۴). ظفیر

[2] ویتنفل مع قدرته علی القیام قاعداً لامضطجعا الا بعذر ابتداءاً وکذا بناءًا بعد الشروع بلا کراهة فی الاصح کعکسه، بحر، وفیه اجر غیر النبی ﷺ علی النصف الا بعذر(درمختار) اما النبی ﷺ فمن خصائصه ان نافلته قاعدا مع القدرة علی القیام کنافلته قائما فی صحیح مسلم عن عبدالله بن عمرو قلت حدثت یارسول الله انك قلت صلوة الرجل قاعدا علی نصف الصلاة وانت تصلی قاعداً قال اجل ولکنی لست کاحد منکم بحر، ملخصا (رد المحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۵۲ ، ط. س. ج۲ ص۳۲). ظفیر

**داقامت څخه وروسته دسهار سُنت کله پوری کولی سی؟ سوال:** (١٧١٧) ترامامت (اقامت) وروسته دسهار سُنت کله پوری کولی سی ؟ که چیری سُنت یې ونه کړل اوپه جَمع کی شریك سو نو بیا کم وخت سُنت کول پکار دی؟ اوتر اقامت وروسته په کم ځای کي سنت وکړی؟

**جواب:** دسهار دفرضو دتکبیر کیدلو څخه وروسته هم دسهار سُنت کول پکاردی لیکن په هغه ځای کی دی نه کوی په کم ځای کی چه فرض کیږی بلکه که چیری جَمع په دننه جومات کی ولاړه وی نو دباندي پر فرش باندی بلکه دفرش څخه بیل که څه ځای وی نو هلته دی سُنت وکړی اوپه فرضوکی دی شامل سی. که چیری دفرضو دیوه رکعت دنیولو هم اُمید وی نوبیا دی هم سُنت وکړی. اوبعضو فرمایلی دی: چه التحیات نیولي سي نو هم دی وکړی (١) پرهر حال چونکه دسهار دسنتو تاکید زیات دی په دی وجه دادی نه پریږدی لیکن په هم هغه ځای کی دی نه کوی په کم ځای کي چه دفرضو جماعت کیږی (٢) اوپه دی باره کی دصحابه ؤ ﷺ آثار موجود دی اوددی تحقیق دمُنیه په شرح کی دی. اوکه چیری سُنت یې ونه کړل، اودامام سره شریك سو نو دفرضو څخه وروسته دلمر ختلو څخه مخکی دی سُنت نه کوی. او دلمر ختلو اولوړیدلو څخه وروسته که یې کوی نو ورته اختیار دی. ولی چه اوس هغه نفل دی که غواړی ودی کړی اوکه غواړی نه دی یې کوی. (٣) فقط

## دسُننِ غیر مؤکده مسائل

**دوترو څخه وروسته نوافل درست دي: سوال:** (١٧١٨) بعضی خلګ وایی چه دوترو څخه وروسته هیڅ سجده نسته اوکم نفل چه دوترو څخه وروسته خلق کوی دهغه کول جائز نه دی داخبره ترکمه ځایه پوری درسته ده؟

**جواب:** دوتروڅخه وروسته نفل کول جائزدی لکه څنګه دبعضواصحابو ﷺ څخه معلومه

---

(١) واذا خاف فوت رکعتی الفجر لاشتغاله بسنتها ترکها (الی قوله) والاً بان رجا ادراك رکعة فی ظاهر المذهب وقیل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالی تبعا للبحر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار ج١ ص٢٧٠ ، ط. س. ج٢ ص٥٦). ظفیر

(٢) لا یترکها بل یصلیها عند باب المسجد ان وجد مکانا والاً ترکها لان ترك المکروه مقدم علی فعل السنة (در مختار) قوله باب المسجد ای خارج المسجد (الی قوله) فاذا لم یکن علی باب المسجد موضع للصلاة یصلیها فی المسجد خلف ساریة من سواری المسجد واشدها کراهة ان یصلیها مخالطا للصف مخالفا للجماعة (ردالمحتار ج١ص ٢٧١ ، ط. س. ج٢ ص٥٦). ظفیر

(٣) واما لو فاتت وحدها فلا تقضی قبل طلوع الشمس (الی قوله) قوله احب الی دلیل علی انه لو لم یفعل لا لوم علیه الخ وقال الخلاف فی انه لو قضی کان نفلا مبتداءًا اوسنة (ایضًا ج١ ص٢٧٢ ، ط. س. ج٢ ص٥٧). ظفیر

سوه چه دوترو څخه وروسته نوافل ممنوع دي. بل داچه حضور ﷺ دوترو څخه وروسته دوه ۲ رکعته نفل کړی دي. البته دوترو څخه وروسته یادبل لمونځ څخه وروسته بغیر دوجهي یوازي سجده کول ممنوع دي. لکه څنګه چه په درمختار کی دي: لٰکنّها تکره بعد الصلٰوة. (۱) الخ. فقط

**په رمضان کی دتهجدو جماعت**: **سوال**: (۱۷۱۹) دتهجدو لمونځ په جَمع سره په رمضان شریف کی کول اوپه هغی کی قرآن شریف اوریدل پکاردی اوکه نه؟

**دنورو نوافلو جماعت**: **سوال**: (۱۷۲۰) دتراویحو اوتهجدو څخه علاوه نور نوافل په جمع سره کول اوپه هغو کي قرآن کريم ويل او اوريدل جائز دي اوکه نه؟

**درمضان څخه وروسته دتهجدو او نوافلو جماعت**: **سوال**: (۱۷۲۱) درمضان شریف څخه علاوه نور وخت نوافل اوتهجد په جمعی سره کول جائزدی اوکه نه؟

**جواب**: (۱) اقول وبالله التوفيق. دتهجد لمونځ په جَمعی سره کول په تَداعی (یعنی دخلقو په رابللو) سره مکروهه دي. اوحضور ﷺ چه درمضان په درو شپوکی په جَمع سره کړی دی هغه دتراویحو لمونځ ؤو. دعلامه شامی دتحقیق څخه هم همدا ظاهریږی. (۲) او حضرت مولانا حجة الواصلین قدوة العارفین عمدة الفقهاء والمحدثین مولانا رشید احمد ګنګوهی په خپله رسالة تراویح کی هم تحقیق فرمایلی دی. په دې ډول چي دحديث مذکور دنقل کولو څخه وروسته فرمايي: ددی څخه معلوميږی چه دا دواړه لمونځونه (تراويح اوتهجد) بيل بيل دی اورسول الله ﷺ به تهجد هميشه منفرداً کوی، هيڅکله يې هم په تداعی سره په جَمع نه دی فرمايلی الخ اوپه رساله مذکوره کی بل ځای فرمايي: او دجناب رسول الله ﷺ دفعل څخه صراحةً ثابت سوی نه دی چه کله هغوی دری ورځی تراويح وکړی نوپه آخرکی يې تهجد کړی ؤ اوکه نه؟ والله اعلم، ليکن دبعضو صحابه ؤ ﷺ دفعل څخه ددی نښاني ورکول کيږي الخ، اوبيا تحرير فرمايی: لهٰذا که چيری رسول الله ﷺ ټوله شپه تروايح کړی وی نو دتهجدو هم په دی کی تداخل وسو الخ. غرض داچه حضرت مولانا قدس سره همدا تحقيق فرمايلی دی چه کم لمونځ په جَمع سره حضور ﷺ په رمضان شريف کی دری ورځی ادا فرمايلی ؤ هغه دتراويحو لمونځ ؤ او دتهجد لمونځ يې بيل کړی دی ياتداخُل سوی دی، اوداچه دتهجدوپه لمونځ کی جماعت نسته اوهمدا خبره داکثرو احاديثو څخه ثابتيږی اوحنفی علماؤ اوفقهاؤ همدا تحقيق فرمايلی دی. اوپه درمختارکی دي: ولا يُصلی الوتر ولا التطوع بجماعة

---

(۱) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة مطلب في سجدة الشكر ج۱ ص۷۳۱، ط. س. ج۲ ص۱۲۰. ظ

(۲) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل بعدمبحث التروايح ج۱ ص۲۲۳، ط. س. ج۲ ص۴۸. ظفير

خارج رمضان ای یکره ذٰلك لو علٰی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد الخ. درمختار، او ددی روایت څخه چه کم په رمضان شریف کی تطوع په جماعت سره فهمیږی مراد ددی څخه دتراویحو لمونځ دی. لکه څنګه چه علامه شامی په دی موقع کی تحریر فرمایلی دی: ویؤیده ایضًا ما فی البدایع من قوله الجماعة فی التطوع لیست بسنة الافی قیام رمضان (1) اهـ شامی. او همدارنګه فرمایی: والنفل بالجماعة غیر مستحب لانه لم تفعله الصحابة فی غیر رمضان (2) الخ شامی.

اوظاهره ده چه صحابه ؤ ﷺ کم جماعت درمضان شریف کړی دی، هغه دتراویحو جماعت ؤ لکه څنګه چه دحضرت عمر ﷺ اونورو صحابه ؤ ﷺ دفعل څخه ظاهره ده او دقیام رمضان اطلاق هم پردی باندی کړل سوی دی. فقط

**<u>په رمضان کی په رابللو سره دنفلو دجماعت حکم</u>**: **سوال**: (۱۷۲۲) درمضان په میاشت کی په تداعی سره په جَمع کم نفل بغیر کراهته جائز دی؟

**<u>دتداعی اوکراهت تفصیل</u>**: **سوال**: (۱۷۲۳) دفقهی په کتابونو اوعبارتونوکی دتداعی څخه څه مراد دی او دمکروه څخه څه مراد دی، تحریمی که تنزیهی؟

**<u>درمضان څخه علاوه په نورو میاشتو کی آیا دوترو جماعت درست دی؟</u>** **سوال**: (۱۷۲۴) په فتح القدیر کتاب الصلٰوة کي دهدايي ددی قول: ولا یصلی الوتر بجماعة فی غیر شهر رمضان علیه اجماع المسلمین، په تحت کی دی: لانه نفل من وجه والجماعة فی النفل فی غیر رمضان مکروهة. نو درمضان څخه ماسِوا وتر که چیری په جَمع سره وکړل سی نو کراهت به تحریمی وی اوکه تنزیهی، په دی کی په تداعی اوغیرِ تداعی کی فرق سته او که نه؟

**<u>په رمضان کی په جَمع سره تهجد</u>**: **سوال**: (۱۷۲۵) علٰی هٰذا په رمضان کی تهجد په جمعی سره دکولو څه حکم دی؟

**<u>په رمضان کی چي په تهجد وکی دوه ۲ څلور ۴ سړی یوځای سی</u>**: **سوال**: (۱۷۲۲) که چیری یو سړی په رمضان کی تهجد شروع کړی اوپه هغه سره صرف دوه ۲ یاڅلور مسلمانان راسی اقتدا وکړی نوڅه حکم دی؟

**جواب**: (۱، ۲) قال فی الدر المختار: ولا یصلی الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره ذٰلك لو علٰی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحدٍ (3) الخ.

---

(1) ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۲۴ ، ط. س. ج۲ ص۴۸. ظفیر
(2) ایضًا ، ط. س. ج۲ ص۴۹. ظفیر
(3) ایضًا ج۱ ص ۲۲۳ ، ط. س. ج۲ ص۴۸. ظفیر

درمضان المبارك په میاشت کی په تداعی سره دوترو اوتراویحو جماعت جائز اومشروع او مسنون دی. اوباقی نوافل ماسِوا دتراویحو څخه په رمضان شریف کی هم په تداعی سره مکروهه دی او دتداعی معنٰی صاحب ددُرمختار دابیان فرمایلی ده: بان یقتدی اربعةٌ بواحد.

(۳) که اتفاقًا یووخت وی نو کراهت تنزیهی دی، اوکه چیری مواظبت ورباندی وکړل سی نو کراهت تحریمی دی که په تداعی سره وی اوکه بغیر دتداعی څخه وی: ثم انکان ذٰلك احیانًا کما فعل عمر ﷺ کان مباحًا غیر مکروه (ای تحریمی) وان کان علی سبیل المواظبة کان بدعة مکروهاً لانه خلاف المتوارث. شامی ([1])، ددی څخه معلومیږی چه په دی کی تداعی اوغیر تداعی برابردی. لفظ دبدعت پر کراهتِ تحریمي باندي دلالت کوي، کما لا یخفٰی.

(۴) دتداعی څخه بغیر جائز دی او دتداعی سره مکروهِ تحریمی ([2]) دی.

(۵) دیوه یادوو اقتداء بلا کراهته جائزده اوپه دریوکی خلاف دی او ددی څخه زیات مکروهه دی.(قوله اربعة بواحد) اما اقتداء واحد بواحد او اثنین بواحد فلا یکره وثلاثة بواحد فیه خلاف. بحر عن الکافی، وهل یحصل بهٰذا الاقتداء فضیلة الجماعة ظاهر ما قدمناه من ان الجماعة فی التطوع لیست بسنة یفید عدمه، تامل، بقی لو اقتدٰی به واحد او اثنان ثم جاءت جماعة اقتدوا به قال الرضی ینبغی ان تکون الکراهة علی المتاخرین، شامی ([3]) ددی څخه معلومه سوه چه که چیری په شُهرت کیدلو باندی جماعت په زیاتیدو سو نو تداعی ثابته سوه اوپر امام لازمه سوه چه منع یې کړی. فقط

**__په شب قدر اوشب برات اومعراج کی نوافل__**: **سوال**: (۱۷۲۸) شبِ قدر، شب معراج، شبِ برات اونورو شپوکی په جوماتونوکی راجمع کیدل اونوافل اوظائف ویل څنګه دی؟

---

([1]) ردالمحتار باب الوتر والنوافل بعد مبحث التراویح ج۱ ص۲۲۳ ، ط. س. ج۲ ص۴۸. ظفیر

([2]) دلیل هم هغه دی کم چه دمخکی مسئلی نقل کړل سو، لیکن شیخ الاسلام حضرت مدنی به په رمضان کی تهجد په جماعت سره کوی اوپه دلیل کی به یې چه دفتح الباری وغیره عبارت یوځای نقل فرمایې نو هلته به یې دشامی داعبارت هم نقل کوی: والنفل بالجماعة غیر مستحب لانه لم تفعله فی غیر مضان (ایضًا) او فرمایل به یې: چه تهجد هم درمضان په نوافلوکی داخل دی. مفتی علام دبدعت دلفظ په وجهی سره مکروهِ تحریمی ولیکی لکه څنګه چه په مخکی مسئله کی هغوی بحث کړی دی. لیکن علاّمه شامی چه دبدائع وغیره کم عبارت نقل کړی دی دهغه څخه صرف دومره معلومیږی چه دسُنت اواستحباب دطریقی څخه خلاف دی. لکه چه په آخره کی هغوی پخپله لیکلی: وهو کالصریح فی انها کراهة تنزیهیة، لیکن که چیری تهجد درمضان په نفلو کی شمار کړل سی اویقینًا دانوافل دی او په رمضان کی یې په جمع وکړه نوکراهت هم پکښی نسته. والله اعلم. ظفیر

([3]) ردالمحتار باب ایضًا ج۱ ص۲۲۴ ، ط. س. ج۲ ص۴۹. ظفیر

**جواب**: ددی شپو رونړول مستحب دی. داشپې دالله ﷻ په نزد ډیري متبّرکی دی په دی کی چه ځومره عبادت وکړی سی. ډیر زیات داجر باعث دی، لیکن نوافل په جَمع سره کول نه دی پکار ولی چه دابدعت اومکروه (١) دی. بلکه په یوازي یوازي ډول سره دقرآنِ مجید تلاوت اونوافل وغیره کول پکاردی. دځه خاص اجتماع ضرورت نسته. فقط

**دشپې اته رکعته نفل په یوه سلام سره او دهغه طریقه**: **سوال**: (١٧٢٩) ما په یو کتاب کی چي رکن الدین نومیږي لیدلی دی چه دشپې اته رکعته نفل په یوه سلام سره کولی سی. لیکن دقعدی په باره کی یې څه نه دی لیکلی، ایا ددؤو رکعتونو څخه وروسته قعده کول اوپه هغه کی درُود اودُعا کول پکاردی اوکه نه؟

**جواب**: قعده ترهرو دؤو رکعتونو وروسته کول پکاردی اودرُود شریف اودعاء په آخره قعده کی کول پکاردی. (٢) فقط

**نفل په لازمولو سره نه لازمیږي**: **سوال**: (١٧٢٩) که یو سړی ګناه وکړی اوبیا پرخپله ذمه دا واجب کړی چه دلمونځ څخه وروسته کم نوافل کیږی زه به هغه ضرور کوم، دپاره ددی چه نفس دګناه اراده ونه کړی نونفل کول دهغه پرذمه واجب دی اوکه نه؟

**جواب**: نفل واجب نه دی، واجب دادی چه توبه او استغفار دی وکړی. فقط

**دفرائضو دجبر او نقصان په نیت سره نوافل کول**: **سوال**: (١٧٣٠) یوسړی نوافل په دی نیت سره کوی چه په دی سره دفرائضو دجبِر اونقصان جبیره اوبدله وسی لهٰذا دده دانیت صحیح دی اوکه نه؟

**جواب**: دامضمون په حدیث شریف کی دی چه په نوافلو سره دفرائضو جبر او نقصان رفع کیږی. لهٰذا دانیت دده صحیح (٣) دی. فقط

**دسکینی څخه څه مراد دی؟** **سوال**: (١٧٣١) په حدیث شریف کی دی چه یوصحابی دتهجد په لمونځ کی سورتِ کهف وایه، دهغه آس دهغه سره متصل تړل سوی ؤ چه په دی حال کی دآسمان څخه رڼا راکښته کیدل شروع سوه، الحدیث، چه حضور ﷺ ته ذکر

---

(١) واعلم ان النفل بالجماعة علی سبیل التداعی مکروه علی ماتقدم الخ فعلم ان کلا من صلاة الرغائب لیلة اول جمعة من رجب وصلوة البراءة لیلة النصف من شعبان وصلوة القدر لیلة السابع والعشرین من رمضان بالجماعة بدعة مکروهة الخ (غنیة المستملی باب النوافل ج١ ص٤١١). ظفیر

(٢) وتکره الزیادة علی اربع فی نفل النهار وعلی ثمان لیلا بتسلیمة لانه لم یرد والافضل فیها الرباع بتسلیمة وقالا فی اللیل المثنی افضل قیل وبه یفتی الخ لان کل شفع صلوة (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٣٢ ، ط. س. ج٢ ص١٥). ظفیر

(٣) ویاتی بالسنة مطلقا الخ لکونها مکملات واما فی حقه علیه الصلاة والسلام فلزیادة الدرجات (باب ادراك الفریضة ج١ص..... ، ط. س. ج٢ ص٢٠). ظفیر

وکړل سو نووی فرمایل چه داسکینه وه. دسکینی شرح دمحقّقینو په نزد څه ده؟ اوپه دی زمانه کی دنوافلو په کثرت سره ددی نازلیدل ممکن دی اوکه نه؟

**جواب**: قال اللمعات فی شرح الحدیث المذکور قوله السکینة هی الطمانینة وهی تجیئ بمعنی الرحمة وبمعنی التأنی والوقار وقیل هی ما یحصل به السکون وصفاء القلب وذهاب الظلمة النفسانیة ونزول الرحمانیة والحضور والذوق (١). فقط (نو دسکیني څخه مراد طمانیت، رحمت اوهغه شیان دی په کمو سره چه سکون اودزړه صفایی حاصله سی او نفسانی ظلمت لیری سی. اوکم چه دنزولِ رحمت باعث وی. که دزړه په حاضروالی سره لمونځونه ادا کړل سی نو په دی زمانه کی هم دغه شیان حاصلیدی سی کم ته چه سکینه وایی. ظفیر)

**داتو څخه دزیاتو نفلو نیت مکروه تحریمي دی اوکه تنزیهي په عیدګاه کی دنفلي لمونځ حکم او دجومات دننه یا دباندي؟** **سوال**: (١٧٣٢) داتو رکعتو نفلو نیت تړل یا ددی څخه زیات مکروه تنزیهی دی اوکه تحریمی؟ دعیدګاه پرفرش باندی ولی بل لمونځ مکروهه دی. دجومات فضیلت دننه او دباندي یودی اوکه کم اویا زیات دی؟

**جواب**: دفقهی په کتابونوکی دنوافلو په باره کی دادی چه دورځی په نفلوکی دڅلورو څخه زیات او دشپی په نفلو کی داتو څخه زیات په یوه نیت سره مکروهه دی.

نومعلومه سوه چه دشپی اته رکعته په یونیت سره کول بی کراهته درست دی البته ددی څخه زیات مکروهه دی اوددی مکروه څخه مراد مکروهِ تنزیهی دی. ولی چه په شامی کی یې ویلی دی چه بعضی مشائخ دی ته مکروهه نه وایی. نو معلومه سوه چه (مسئله) مختلف فیه ده اودا علامت دکراهت تنزیهی ده (٢) اودعیدګاه پرفرش باندی ټول لمونځونه بی کراهته جائز دی. اودجومات فضیلت دننه او دباندي یوډول دی. (٣) فقط

**سُنت اونوافل په کورکی غوره دی او دعُذر په وجه په جومات کی هم**: **سوال**: (١٧٣٣) دفرضو څخه وروسته سُنت په خپلو خپلو کورونوکی کول ښکاردی اوکه په جومات کی،

---

(١) وګوری حاشیه مشکوٰة باب فضائل القرآن ص ١٨٤ . ظفیر

(٢) وتکره الزیادة علی اربع فی نفل النهار وعلی ثمان لیلا بتسلیمة لانه لم یرد والافضل فیهما الرباع بتسلیمة (درمختار) نعم وقع الاختلاف بین المشائخ المتأخرین فی الزیادة علی الثمانیة لیلا فقال بعضهم لایکره والیه ذهب شمس الائمة السرخسی الخ (ردالمحتارباب الوتر والنوافل مطلب فی لفظة ثمان ج١ ص ٦٣٢ – ٦٣٣ ، ط. س. ج٢ ص١٥). ظفیر

(٣) اما المتخذة لصلاة جنازة اوعید فهو مسجد فی حق جواز الاقتداء وان انفصل الصفوف رفقا للناس (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب مایفسد الصلاة الخ مطلب فی احکام المسجدج١ ص٦١٥، ط. س. ج١ ص٦٥٧) ددی څخه معلومه سوه چه په دې ډول دلمونځ کولو په درجه اولی اجازت سته . ظفیر

ولی چه دجومات څخه دبعضو لمونځ ګزار کور پنځوس ګزه، دچا دا سل ۱۰۰ ګزه او دچا دا نیم فرلانګ [۱] لیری وی اوظاهره ده چه په برما اوګجرات (هندوستان) وغیره کی دهر قوم ښځی بی پردی ګرځی (ماسِوا دمسلمانانو دښځو څخه) چه په جومات کی فرض وکړی اوکورته ځی نودیو مسلمان دوست یامشرك یا مشرکی سره به لیدل کتل مخ ته راځي، څه نا څه ددُنیا خبری به کوی. غرض داچه دجومات څخه ترکوره پوری په رسیدو رسیدو کی ډیر نقصانونه دی. نوپه دی صورت کی دسُنتو دپاره کورته تلل غوره دی او که په جومات کی کول؟

**جواب**: قال فی الدرالمختار والافضل فی النفل غیر التراویح المنزل الا لخوف شغل عنها الخ اوپه شامی کی دی: وحیث کان هٰذا افضل یراعی ما لم یلزم منه خوف شغل عنها لو ذهب لبیته اوکان فی بیته ما یشغل باله ویقلل خشوعه فیصلیها حینئذٍ فی المسجد لان اعتبارالخشوع ارجح [۲] الخ، ددی عبارتونو څخه معلومه سوه چه دسنتو اونفلو دپاره کور غوره دی لیکن که چیری په لاره کی دا بیره وی چه زړه به پریشانه سی اوخشوع به حاصله نه سی یا دغیرِ ضروری خبرو کولوپه وجه به په ثواب کی نقصان وسی نوپه داسی صورت کی یې په جومات کی کول غوره دی. ولی چه زیات تره لحاظ دخشوع اوخضوع دی په هر ځای کی چه داحاصلیږی بس هغه بهتر دی. فقط

**<u>صلٰوة الاوّابین او دتهجد رکعتونه او دتراویحو لمونځ</u>**: **سوال**: (۱۷۳۴) دصلٰوة الاوّابین کم از کم رکعتونه څودی اودتهجدو دا څودی. او دتراویحو جماعت په جومات کی غوره دی اوکه په کورکی؟ اوپه یوه جومات کی دتراویحو دوهمه جَمع غوره ده اوکه په کور کی؟

**جواب**: دصلٰوة الاوّابین شپږ رکعته دی دماښام [۳] ددؤو سنتو مؤکده ؤ څخه علاوه او دتهجدو لمونځ اته رکعته دی، زیات تردوولسو ۱۷ پوری دی اوکم تر دؤو رکعتو پوری [۴]، دتراویحو دلمونځ جماعت په جومات کی غوره [۵] دی. دتراویحو دویمه جَمع په جومات کول نه دی پکار.

---

[۱] فرلانګ : (Furlong) دوه سوه شل ۲۲۰ انګریزي ګزه فاصله ده ، یعني دمیل اتمه حصه . حقاني"

[۲] ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۷۳۸ ، ط. س. ج۲ ص۲۲. ظفیر

[۳] وستّ بعد المغرب لیکتب من الاوابین بتسلیمة او ثنتین اوثلاث والاول ادوم واشق (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی السنن والنوافل ج۱ ص۷۳۱ ، ط. س. ج۲ ص۱۳). ظفیر

[۴] وصلاة اللیل واقلها علی مافی الجوهرة ثمان (درمختار) قید بقوله علی مافی الجوهرة لانه فی الحاوی القدسی قال یصلی ما سهل علیه ولورکعتین والسنة فیها ثمان رکعات باربع تسلیمات (ردالمحتار مطلب فی صلاة اللیل ج۱ ص ۷۴۰ – ۷۴۱ ، ط. س. ج۲ ص۲۴). ظفیر

[۵] والجماعة فیهاسنة علی الکفایة الخ فالمسجد فیها افضل قاله الحلبی (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار =

**نفل په جمعه جائزدی که نه؟ سوال**: (١٧٣٥) نفل په جماعت سره جائز دی اوکه نه؟ ماپه یو کتاب کی داعبارت ویلی دی: دمخدوم جهانیان ځخه په جامع العلوم کي دي چي هغوي ځلور رکعته لمونځ په امامت سره وکړی، سلطان فیروزشاه اوعلماء په هغوکي وه، عالمانو وویل چي نفلي لمونځ په جماعت سره په نزد دامام ابوحنیفه رحمه الله مکروه دی، بیا راوړي چي هغوی خپل مبارك مخ بادشاه ته راوګرځوی، اوویې ویل چي په کافی نومي کتاب کي دي: یجوز للمؤمنین ان یعمل فی العبادات علی مذهب غیره وفی المعاملات لایجوز والتطوع بالجماعة یجوز عند الشافعی، علماؤ دهغه په قول اعتراف وکړی، بینوا تؤجروا.

**جواب**: نفل په جماعت سره کول نه دی پکار ځکه چه صحیح همداده چه دنفلو جماعت په تداعی سره مکروهه دی. اودتداعی تفسیر دادی چه ځلور مقتدیان په جماعت کی وی، نو دا بالاتفاق مکروهه دی اوچه دری مقتدیان وی نو په دی کی اختلاف دی. اوچه یو یا دوه مقتدیان وی نو کراهت پکښې نسته کذا فی الشامی، (١) حاصل داچه دنفلوکم جماعت چي به دنفلو ځخه وروسته کیدی دهغه پرینښول ضروری دی او اوس کله چه پرېښوول سوی دی هرګز یې بیا جاری کول نه دی پکار، کنې دبدعت جاری کولو ګناه به وی، کما جاء فی الحدیث. او دجامع العلوم کم عبارت چه مو دمخدم جهانیان په حوالی سره نقل کړی دی هغه حُجّت نه دی، په دې سره استدلال کول نه دی پکار. فقط

**دتراویحو ځخه وروسته دنفلو جماعت: سوال**: (١٧٣٦) آیا دتراویحو ځخه وروسته دری ٣ کسان دثواب حاصلولو دپاره نفل په جَمع سره کولی سی، آیا دتراویحو ځخه وروسته په جَمع سره نفل مطلقًا درست نه دی برابره خبره ده که په شمیر کی ادا کونکی دری ٣ وی اوکه زیات وی؟

**جواب**: دنفلو جماعت ماسِوا دتراویحو ځخه سُنت اومستحب نه دی بلکه په بعضو صورتونو کی مکروهه اوپه بعضو کی مباح دی. ددی وجه دفضیلت دجماعت اجازت سته، خوجماعت نه کول اولی دی. لهٰذا مطلقًا دنفلو جماعت کول نه دی پکار. په در مختار کی دی: ولایصلی الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره ذالك لو علی

---

= مبحث فی التراویح ج١ ص٦٦١، ط.س. ج٢ ص٤٥) وظاهر کلامهم هنا ان المسنون کفایة اقامتها بالجماعة فی المسجد حتی لو اقاموها جماعة فی بیوتهم ولم تقم فی المسجد اثم الکل (ردالمحتار ایضًا). ظفیر

(١) ولایصلی الوتر ولاالتطوع بجماعة خارج رمضان ای یکره ذالك لوعلی سبیل التداعی بان یقتدی اربعة بواحد (درمختار) قوله اربعة بواحد اما اقتداء واحد اواثنین بواحد فلایکره وثلاثة بواحد فیه خلاف الخ (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص ٦٦٣ – ٦٦٤ ، ط. س. ج٢ ص٤٨). ظفیر

سبيل التداعی بان يقتدی اربعة بواحد كما فی الدرر. ويؤيده ايضًا ما فی البدائع من قوله ان الجماعة في التطوع ليست بسنة الاّ فی قيام رمضان (١) الخ. ددی عبارت څخه معلومه سوه چه ماسوا دتراويحو څخه بل هيڅ يونفل په جَمع سره نه دی كول پكار.

[ **په نفلي لمونځ په ګوتو سره شمار كول**: ] **سوال**: (١٧٣٧) په نفلي لمونځ كی پر ګوتو باندی شمار كول جائز دی او كه نه؟

**جواب**: كه چيری همداسی شمار نه ورته ياديږی نو پرګوتو باندی په اشارې سره شمار كول درست دی. (٢)

**چه كم ځای فرض وكړی دهغه ځای څخه په جلا ځای كی نفل كول پكار دی**: **سوال**: (١٧٣٨) داحاديثو څخه ترفرضو وروسته په ځای بدلولوسره سُنت اونفل كول په جومات كی ثابتيږی اوكه نه؟ دفرضو څخه وروسته په ځای بدلو سره سُنت، يا نفل كول چه كم مسنون دی نودا صرف دجومات دپاره دی اوكه په كور كی دلمونځ كوونكو دپاره هم مسنون دی؟

**جواب**: قال فی الدر المختار وفی الجوهرة ويكره للامام التنفل فی مكانه لا لمؤتم وقيل يستحب كسر الصفوف وفی الخانية يستحب للامام التحول ليمين القبلة يعنی يسار المصلی الخ، وفی ردّ المحتار قوله: لا للمؤتم ومثله المنفرد لما فی المنية وشرحها اما المقتدی والمنفرد فانهما ان لبثا اوقام الی التطوع فی مكانهما الذی صليا فيه المكتوبة جاز والاحسن ان يتطوعا فی مكان آخر الخ قوله: وقيل يستحب كسر الصفوف ليزول الاشتباه عن الداخل المعاين للكل فی الصلٰوة البعيد عن الامام وذكره فی البدايع والذخيرة عن محمد ونص فی المحيط علی انه السنة كما فی الحلية الخ. شامی (٣)

ددی عبارتونو څخه واضحه ده چه عند الحنفيه هم صفونه ماتول اوپه مخ ته او وروسته يا هاخواته كيدلو سره سُنت اونفل كول مستحب دی. اودشامی دعبارت څخه كم چه دمنفرد په باره كی دی دا معلوميږی چه په كور كی دلمونځ كونكي دپاره هم نفـل په بل

---

(١) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٦٣ ، ط. س. ج٢ ص٤٨. ظفير

(٢) وكره تنزيهاعدُّ الای والسور فی اليد فی الصلوة مطلقًا ولو نفلا (درمختار) قوله ولو نفلا: بيان الاطلاق وهٰذا باتفاق اصحابنا فی ظاهر الرواية ومن الصاحبين فی غير ظاهر الرواية عنهما انه لاباس به وقيل الخلاف فی الفرائض ولا كراهة فی النوافل اتفاقا وقيل في النوافل ولا خلاف في الكراهة في الفرائض، نهر (ردالمحتار باب مايكره فی الصلاة ج١ ص٢٠٨ ، ط. س. ج١ ص٦٥٠). ظفير

(٣) ردالمحتار، باب صفة الصلاة قبيل فصل القراءة ج١ ص٤٩٥ ، ط. س. ج١ ص٥٣٠. ظفير

ځای کی کول بهتردی.

**دماخستن تر سُنتو وروسته نفل**: **سوال**: (١٧٣٩) دماخستن دفرضو څخه وروسته تردوه رکعته سنت کولو چه کم دوه ٢ رکعته نفل کوی نودا درسول الله ﷺ څخه ثابت دی اوکه نه؟

**جواب**: دماخستن تر دؤو رکعتو سُنتِ مؤکده ؤ وروسته دوه ٢ یا څلور رکعته نفل کول دوترو څخه مخکی مستحب دی، لکه څنګه چه دحضرت عائشې رضی الله عنها په حدیث کی دی: قالت ما صلّی رسول الله ﷺ العشاء قطّ فدخل عليَّ الاَّ اربع رکعات اوست رکعات، رواه ابوداؤد. ([1])

**دمازیګر اوماخستن دفرضو څخه مخکي دنفلونو په اولنۍ قعده کی به درُود اودُعا هم وایی اوکه صرف التحیّات؟** **سوال**: (١٧٤٠) دمازدیګر اوماخستن دفرضو څخه مخکی دڅلورو رکعتو سُنتو په مینځنۍ قعده کی صرف دالتحیّات ویلو څخه وروسته دریدل پکاردی او که درُود شریف دی هم ووایي؟

(٢) که چیری دڅلورو رکعتو نفلو نیت وکړل سی نو په داسی حالت کی به دهغو په مینځنۍ قعده کی صرف دالتحیات ویلو څخه وروسته باقی رکعتونه پوره کوی، اوکه درُود اودُعا به هم وایی؟

**جواب**: (١، ٢) په درمختارکی دی چه دماپښین اوجُمعې دسنتوڅخه ماسِوا دباقی څلورو رکعتو سُنتو اونفلو په اولنۍ قعده کی دی درود شریف اوپه دریم ٣ رکعت کی دی ثنا اوتعوذ ووایی: وفی البواقی من ذوات الاربع یصلِّی علی النبی ﷺ ویستفتح ویتعوذ ([2]). الخ

**دوترو څخه وروسته نفل به څنګه کوی؟** **سوال**: (١٧٤١) دوترو څخه وروسته نفل به په ناستی کوی او که په ولاړه؟ او دنبی ﷺ څخه څنګه ثابت دی ؟

**جواب**: په دواړه ډوله درست دی خوپه ولاړه په (ادا) کولوکی دوچنده ثواب دی دناستی په نسبت کولوکی. اوحضور ﷺ (دانفل) په ناسته کړی دی. لیکن هغوی ﷺ ته په ناسته کولو سره پوره ثواب ورکول کیدی، اونورو (خلقو) ته نیم ثواب ورکول کیږي داحادیثو څخه دا ثابت دی. ([3])

---

([1]) مشکوٰۃ باب السنن ص١٠۴ فصل ثانی . ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٣٣ ، ط. س. ج٢ ص١٢. ظفیر

([3]) ویتنفل مع قدرته علی القیام قاعدا لا مضطجعا الا بعذر ابتداءًا وکذا بناءاً بعد الشروع بلا کراهة فی الاصح کعکسه وفیه اجر غیر النبی ﷺ علی النصف الاَّ بعذر (الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل =

**دجُمعي په ورځ دغرمي نفل څنګه دي؟ سوال**: (۱۷۴۲) نفل لمونځ په ټکنده غرمه کې خاصکر دجُمعي په ورځ کول دامام ابویوسف دقول څخه ثابتیږي، په درمختار کې يې ليکلي دي: کره تحريما الخ استواء الا نفل يوم الجمعة على قول الثاني المصحح المعتمد كذا في الاشباه ونقل الحاوي عن الحلبي ان عليه الفتوى. اوپه فتاوى قاضي خان کې دي: وعن ابي يوسف قال يجوز التطوع عند انتصاف يوم الجمعة.
چونکه علامه شامي رحمه الله په ردالمحتار کې ډير څه اختلاف ذکر کړی دی، په دی وجه بعضي منع ورڅخه فرمايي. شرعًا څه حکم دی؟
**جواب**: منع کول يې احوط دی، لکه څنګه چه په شامي کې ذکر سوی دی. (۱)
**دعشق لمونځ**: **سوال**: (۱۷۴۳) که څيري يوڅوك دوه ۲ رکعته دعشق لمونځ په دې ډول وکړي چه په قيام کې شل واری دالله ذکر پرزړه باندی لکه څنګه چه په خارج کې کوی وکړي دهغه څخه وروسته په رکوع کې لس ۱۰ واری اوپه قومه کې لس ۱۰ واري اوپه سجده کې لس ۱۰ واری بياپه جلسه کې لس ۱۰ واری بيا دلمونځ څخه وروسته دا درُود: اللّهمَّ صَلِّ وسَلِّمْ وبارك على من اسمه سيدنا محمد عدد ما في علم الله صلوةً دائمةً بدوام ملك الله، په کثرت سره ووايي بيا وروسته دادُعا وغواړي: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مَـحْبُوْسِ مَـحَبَّتِكَ وَمَسْجُوْنَ عِشْقِكَ وَمَفْتُوْنَ شَوْقِكَ وَمَجْنُوْنَ لِقَآئِكَ وَاعْطِنِيْ دَآءَ مَحَبَّتِكَ يَا اَهْلَ الْمُشْتَاقِيْنَ وَارْزُقْنِيْ دَاءَ مَحَبَّتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ، په زړه باندی ذکر لکه څنګه چه دلمونځ څخه دباندي کول کيږي په لمونځ کې جائز دی اوکه نه؟ اوپه دغه ډول لمونځ کول په طريقت او شريعت کې جائزدی اوکه بل څه حکم دی؟ که لږ تحقيق يې وسی نو ډيره به ښه وی. بل په لمونځ کې تصور دشيخ کول جائزدی اوکه نه؟ څوك چه داسې کوی هغه کافردی او که نه؟

**جواب**: دعشق دا لمونځ چه کم تاسی ليکلي دی دشريعت په قاعدی سره ددې هيڅ اصل نه معلوميږي. اوپه طريقت کې هغه عبادت معتبردی کم چه په شريعت کې ثابت وی او شرعًا جائزوی. شرعًا په ذکر سوی طريقه په شريعت کې داسې لمونځ نسته. ليکن په دی کې څه خبره دکفر اومعصيت هم نسته. البته دسُنت طريقې څخه خلاف دی. اوچونکه ماسِوا دذکرِ قلبي څخه بل څه امرِ زائد په دی کې دلمونځ داورادو څخه نسته، ددی وجه

= ج۱ ص۲۵۳، ط. س. ج۲ ص۳۲). ظفير
(۱) لكن شراح الهداية انتصروا لقول الامام واجابوا عن الحديث المذكور باحاديث النهي عن الصلوة وقت الاستواء فانها محرمة (ردالمحتار كتاب الصلوة ج۱ ص۳۴۵، ط. س. ج۱ ص۳۷۳). ظفير

څخه دکفر هيڅ وجه نسته. البته تصورِ شيخ که په لمانځه کی په دا شان عمداً کوی چه دشيخ صورت يې بالقصد پيشِ نظروی نو دا ناجائز دی، اګرچه کفر نه دی ليکن داسی کول نه دی پکار، ولی چه مشائخ رحمهم الله چي دکم تصور دشيخ اجازت ورکوی دهغه مطلب دادی چه دخپل شيخ سره داسی محبت وی چه بغير دارادی څخه دشيخ تصور په زړه کی وسی اوقلبی تعلق حاصل سی. دانه چه بالقصد دشيخ صورت دنظر په وړاندي کړی بلکه مثال دتصوّرِ دشيخ کم چه جائز دی، داسی کيدل پکاردی لکه څنګه چه مينه کونکی عاشق ته دخپل محبوب تصوّر بغير دارادی څخه کيږی. په دی کی هيڅ اختيارنه وی او همدا هغه خاص مرتبه ده، يعنی فنا فی الشيخ.

نوضروری ده چه په لمونځ کي دذکر سوی تصوّر څخه پرهيز وکړی. باقی پربی اختياره حالت باندی هيڅ حکم نسی کيدی هغه مجبور اومعذور دی. دعشق په لمونځ کی چه کم تاسی ليکلی دی که چيری تصور دشيخ (بالاختيار) اودغير الله طرفته په هغه کی توجه نه وی نوصرف قلبی ذکر په ذکر سوی طريقه که سره له قراءته اوتسبيح اونورو دلمونځ دضورياتو، فرائضو اوسننو اوآدابو څخه وی نوپه دی کی صرف دومره تامّلُ دی، چي په قيام کی دفاتحې اوسورت دويلو څخه وروسته دقلبی ذکر دپاره زيات دريدل غواړی، حال داچي درکوع طرفته په تللوکی تاخير کول دشرعی قواعدو څخه خلاف دی، حکم دا دی چه دفاتحی اوسورت دويلو څخه وروسته سمدستی رکوع وکړی او (همدغه شان) په رکوع کی دتسبيح څخه دفارغيدلو څخه وروسته دی فوراً قومه وکړی. هم دغه شان په ټول لمونځ کی حکم دی. نودا تاخير کم چه هرځای به دقلبی ذکر دپاره کيږی دشرعی لمونځ څخه خلاف دی. لهٰذا دبنده (مفتي صاحب) په خيال کی اَحْوَط داده چه داسی دی نه کوی اودشرعی قواعدو موافق دی لمونځ کوی. دلمونځ څخه خارج ډير وخت داسی سته چه په هغه کی دزړه دخواهش مطابق څومره چي وغواړی ذِکر دی کوی. اوکه يوه بزرګ په يوه مريد باندی ديومخصوص علاج په طور دافعل کړی وی نوضروری نه ده چه دادی هميشه کوی. فقط، والسلام مع الاکرام، والله تعالی اعلم بالصواب.

<u>**نفل کونکی به دبل چاپه زوره قرآن ويلو په وجه لمونځ نه پريږدي**</u>: **سوال**: (۱۷۴۴) يوسړی په جومات کی نفل کوی. بل سړی په لوړ آواز سره دُعا غوښتل شروع کړل او دقرآن شريف آيتونه يې ويل شروع کړل. نو نفل کونکی سړی لمونځ مات کړی آيتونه واؤری او که په نفلو دی لګيا اوسی. اوچا چه دنفلو پروا ونه کړه دهغه دپاره څه حکم دی؟

**جواب**: نفل لمونځ کونکی دی لمونځ نه ماتوی، اوچا چه په لوړ آواز سره دُعا غوښتل شروع کړل هغه بی ځايه کار وکی هغه لره په کراره دُعا غوښتل پکاردی اوقرآن شريف په

کرار ویل پکاردی. نفل لمونځ کونکی لره دقرآن شریف اوریدلو په وجهی سره لمونځ ماتول نه دی پکار. اوپه دی کی به هغه نه گنهگاریږی، گنهگار به هغه څوك وی چه په داسی موقع کی په لوړ آواز سره ویل کوی. (۱) فقط

**په نوافلو کی اوږد قراءت**: **سوال**: (۱۷۴۵) نوافل په اوږد قراءت سره کول بهتر دی اوکه دقرآن مجید تلاوت بهتردی؟

**جواب**: نوافل په اوږد قراءت سره کول بهتردی. (۲) فقط

**نفل لمونځ په شروع کولو سره واجب سی که چیری شروع یې صحیح وی**: **سوال**: (۱۷۴۶) که چیری چا نفل لمونځ شروع کړی کله چه یو رکعت یې وکی، نو معلومه سوه چه جامه یې پلیته ده، لمونځ یې دشروع کولو څخه وروسته مات کړی، آیاددی لمونځ اعاده واجبه ده اوکه نه؟

**جواب**: مسئله داده چې نفل لمونځ په شروع کولوسره واجبیږی. نوکله چه چا نفل لمونځ دشروع کولو څخه وروسته په څه وجهی سره مات کړي نو پرهغه باندی ددغه لمونځ اعاده واجب ده. هٰکذا فی کتب الفقه. لیکن په درمختارکی دی چه که چیری شروع یې صحیح نه وه نواعاده نه واجبیږی. عبارته: ولزم نفل شرع فیه الخ شروعًا (۳) صحیحًا الخ. چونکه په دی صورت کی شروع نه ده صحیح سوی ولی چه دلمو نځ گزار جامی دشروع څخه پلیتی وی. لهٰذا ددی لمونځ اعاده به واجبه نه وی. فقط

**دماسخوتن دلمونځ څخه مخکی څلور رکعته سُنت**: **سوال**: (۱۷۴۷) دماختن څخه مخکی دڅلورو سُنتو څه حکم دی؟

**جواب**: دماختن دلمونځ څخه مخکی څلور رکعته سُنت کول مستحب اوغوره دی، سنت مؤکده نه دی ولی چه سُنن مؤکده په شپه او ورځ کی دولس دی څلور رکعته دماپښین د

---

(۱) الاّ انه یجب علی القاری احترامه بان لا یقرأ فی الاسواق ومواضع الاشتغال فاذا قرأ فیها کان هو المضیع لحرمة فیکون الاثم علیه دون اهل الاشتغال دفعًا للحرج فی الزامهم ترك اسبابهم المحتاج الیها وکذا لو قرأ عند من یشتغل بالتدریس اوبتکرار الفقه لانه اذا أبیح ترك الاستماع لضرورة المعاش الدنیوی فَلاَنْ یباح لضرورة الامر الدینی اولی فیکون الاثم علی القاری هٰذا اذا سبق الدرس علی القراءة (غنیة المسملی فصل فی احکام زلة القاری فوائد ص۴۲۵). ظفیر

(۲) وکثرة الرکوع والسجود احب من طول القیام کما فی المجتبی ورجحه فی البحر لکن نظر فیه فی النهر من ثلاثة اوجه ونقل عن المعراج ان هٰذا قول محمد وان مذهب الامام افضلیة القیام وصححه فی البدایع قلت وهٰکذا رأیته بنسختی المجتبی معزیا لمحمد فقط فتنبه (درمختار) واقوی دلیل ایضا علی افضلیة طول القیام انه ﷺ کان یقوم اللیل الاّ قلیلا وکان لا یزید علی احدی عشرة رکعة الخ (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۳۴). ظفیر

(۳) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۴۵ . ظفیر

لمونځ څخه مخکی اودوه ۲ رکعته دماپښين څخه وروسته اودوه ۲رکعته دماښام څخه وروسته اودوه ۲ رکعته دماخستن دلمونځ څخه وروسته اودوه ۲ رکعته دسهار دفرضوڅخه مخکی. (۱) داټول دولس۱۲ رکعته سُنت مؤکده (۲) دی، او دمازيګر څخه مخکی څلور رکعته يا دوه ۲ رکعته اودماخستن دلمونځ څخه مخکی څلور رکعته دامستحب دی. لقوله عليه الصّلٰوة والسّلام: بَيْنَ كُلِّ اَذَانَيْنِ صَلٰوةٌ ، الحديث (۳) فقط.

**تحية المسجد به جومات ته دداخليدلو په وخت کی کوی اوکه دناستی څخه وروسته؟ سوال:** (١٧٤٨) زيد چه کم وخت جومات ته راسی نواول کښينی، بيا پاڅيږی اوتحية الوضوء او نوافل وغيره کوی. خالد وايی، چه اکثره به رسول الله ﷺ مسجدِ نبوی ته تشريف راوړی او اکثره اصحاب به چه کم وخت جومات ته داخل سوه نو دوه ۲ رکعته تحيّة الوضوء لمونځ به يې وکی بيابه کښينستله، په دی باره کی دچا قول لره ترجيح ده؟

**جواب:** اولی اومستحب دادی چه که چيری جومات ته دداخليدلو په وخت کی يې اودس وی اوپه وخت کی ګنجائش هم وی نومخکی دی دوه ۲ رکعته تحية المسجد وکړی بيا دی کښينی (۴) او داکم رواج چه جوړ سوی دی چه جومات ته دداخليدلو څخه وروسته کښينی بيا تحية المسجد وغيره کوی نو ددی هيڅ اصل نسته. فقط

**صلٰوة الاوّابين او دهغه تحقيق: سوال:** (١٧٤٩) په مشارق الانوارکی يې دصلٰوةِ اَوّابين په باره کی ليکلی دی چه اَوّاب په لُغت کی هغه وخت ته وايی کم وخت چې داُوښ دبچی پښې دګرمی څخه په سوزيدو سی اودغه وخت يؤولس نيمی بجی وی. نو په حقيقت کی دصلٰوةِ اَوّابين وخت دماښام څخه وروسته دی اوکه داوخت دی. اوکه دواړه وختونه دی. پر تقديرِ ثانی اولويّتِ په کم وخت کې دی؟

**جواب:** داَوّابين معنٰی ده الله ﷻ ته رجوع کونکی. نو په دی اعتبار سره ټولو لمونځونوته

---

(۱) ويستحب اربع قبل العشاء وبعدها بتسليمة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۳۰ ، ط. س. ج۲ ص۱۲). ظفير

(۲) وسن مؤكدا اربع قبل الظهر واربع قبل الجمعة واربع بعدها بتسليمة الخ وركعتان قبل الصبح وبعد الظهر المغرب والعشاء (ايضاً، ط. س. ج۲ ص۱۲). ظفير

(۳) مشكوٰة المصابيح باب فضل الاذان فصل اول ص۶۵ . ظفير

(۴) ويسن تحية رب المسجد وهی ركعتان واداء الفرض وغيره وكذادخوله بنية فرض اواقتداء يتوب عنها بلانية وتكفيه لكل يوم مرة ولاتسقط بالجلوس عندنا (درمختار) والحاصل ان المطلوب من داخل المسجد ان يصلی فيه ليكون ذالك تحية لربه الخ والأّ لزم فعلها بعد الجلوس وهوخلاف الاولی الخ اما حديث الصحيحين اذا دخل احدكم المسجد فلا يجلس حتی يصلی ركعتين فهو بيان للاولی (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب فی تحية المسجد ج۱ ص ۶۳۵ – ۶۳۲ ، ط. س. ج۲ ص۱۸). ظفير

آوّابین ویل کیدی سی. لیکن په احادیثو کی ددؤو وختونو پرنوافلو باندی دآوّابینو اطلاق راغلی دی، یوپر صلٰوةِ ضُحٰی باندی لکه ځرنګه چه په سوال کی درج دی، اوبل دماښام څخه وروسته پرنوافلو باندی لکه څنګه چه په کبیری شرح مُنیه کی منقول دی: وان تطوع بعد المغرب بست رکعات فهو افضل لحدیث ابن عمر ﷺ انه ﷺ قال: من صلی بعد المغرب ست رکعات کتب من الاوابین وتلا انه کان للاوابین (١) غفوراً، الآیة. نوددی دویم ٢حدیث په وجهی سره دصلٰوةِ آوّابین اطلاق اکثره دماښام څخه پر وروسته نفلو باندی کیږی. قال فی الدرالمختار: و ست بعد المغرب لیکتب من الاوّابین (٢) الخ، اوددی څخه انکار نسته چه صلٰوة ضُحٰی هم صلٰوةِ آوّابین دی بلکه دی ته هم صلٰوةِ آوّابین ویلی سو. فقط والله تعالٰی اعلم

**دماخستن څخه مخکی څلور سُنتونه او دهغو ثبوت**: **سوال**: (١٧٥٠) دزید دعوٰی ده چه دماخستن دلمونځ څخه مخکی دڅلورو رکعتونو ثبوت دهیڅ صحیح حدیث څخه نه کیږي. آیا دادحدیث څخه ثابت دی اوکه نه؟

**جواب**: په درمختار کی دی: ویستحب اربع قبل العصر وقبل العشاء وبعدها بتسلیمة وان شاء رکعتین (٣) الخ، ددی عبارت څخه معلومه سوه چه قبل العصر اوقبل العشاء په دؤو یاڅلورو ۴ رکعتونو کولوکی اختیاردی اودا سنت مؤکده نه دی بلکه مستحب دی، که خوښه یې وی ودی کړی اوکه خوښه یې وی نونه دی کوی. لیکن په کولوکی یې ثواب دی. اودحدیث: بَیۡنَ کلّ أذَانیَنۡ صَلٰوةٌ، څخه استحباب دنوافلو قبل العشاء هم ثابت دی (البته دماښام څخه مخکی هیڅ نفل عند الاحناف نسته اوددی تائید دبُریده الاسلمی ﷺ دحدیث څخه کیږی. ظفیر)

**دلمونځ څخه وروسته په مروّجه دُعاکی شرکت خلاف سُنت دی**: **سوال**: (١٧٥١) دلته دا طریقه ده چه امام دماښام فرض وکړی اوسُنت یازیات دوه ٢ رکعته نور، او دنفل کولو څخه وروسته دری واری دُعا کوی. اوس زیدته اوّابین نفل پاته دی آیا هغه دسُنتو سره متصل په نفل کولو کی مشغول سی، اوکه دامام سره دُعا وکړی. که چیری نفل کول بهتر وی نوپه کم ځای کی دي وکړی، حال دادی چه امام اخته وی دُعا کوی؟

**جواب**: کم سړی چه دنوافلو اوّابینو کولو اراده لری هغه دی دامام درسمی دُعا انتظار نه کوی ولی چه ددُعا داطریقه پخپله خلاف سُنت ده او نوافل چه هر ځای موقع ووینی هلته

---

(١) غنیة المستملی شرح منیة المصلی فصل فی النوافل ص٣٢٩ . ظفیر
(٢) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٣١ ، ط. س. ج٢ ص١٢. ظفیر
(٣) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٣٠ ، ط. س. ج٢ ص١٢. ظفیر

دی وکړی. ([1]) فقط

**<u>دسُنت مؤکده اوفرضو په مینځ کی نفل</u>: سوال**: (۱۷۵۲) دسُنت مؤکده اوفرضو په مینځ کی نوافل کولی سی اوکه نه؟ چه په جَمع کی وخت وی نو په نوافلوکی مشغوله کیدل څنګه دی؟

**جواب**: دسنن مؤکده کولو څخه وروسته که چیری په جَمع کی وخت وی، نوپه نوافلو کولوکی څه حرج نسته، ماسِوا دسهار دسُنتو څخه چه دهغه څخه وروسته نوافل ترلمر ختلو او پورته کیدلو پوری درست نه دی. په درمختار کی دی: وکذا الحکم من کراهة نفل الخ بعد طلوع فجر سوٰی سنة ([2]) نوپه نورو وختونوکی مثلاً دماپیښین په لمونځ کی دسُنت موکده کولو څخه وروسته که چیری په وجه دتاخیر دجماعت یوسړی په نوافلوکی مشغول سی نو حرج نسته پکښی، ولی چه دغه وخت دنوافلو دکراهت څخه دی.

**<u>دمازیګر څخه مخکی څلور مستحب</u>: سوال**: (۱۷۵۳) دمازیګر څلورمستحب به موږهمیشه دڅلورو ۴ رکعتو سُنتِ مؤکده ؤ پشان کول. یوصاحب بزرګ فرمایی چه خاصکر دمازیګر په څلورو مستحبو اونفلوکی دمینځ والا دتشهد څخه وروسته دی درُود شریف اودُعا ضرور وایی دهغه څخه وروسته دی ولاړ سی اوباقی دوه ۲ رکعته دی وکړی؟

**جواب**: په درمختارکی دی چه دماپښین اودجُمعی څخه دمخکی څلور رکعته سنتو څخه ماسِوا دباقی سُنتو اونفلو ترمینځ دتشهد څخه وروسته دی درُود شریف اودعا وایي، اوپه دویمه شُفع کی دی ثناء اواعوذُ بالله هم وایی، دی ته شامی راجح اواقوٰی ویلی دی. اوبل قول یې په درمختار کی دالیکلی دی چه په مینځنی قعده کی دی درُود شریف وغیره نه وایی. لیکن دی ته شامی ضعیف ویلی دی لیکن صاحب دقُنیه ددی تصحیح فرمایلی ده. اوپردی بِنا باندی بیشکه دمازدیګر څخه په مخکنیو څلورو سُنتونوکی دمینځ دتشهد څخه وروسته درُود شریف اوپه دویمه شفعه کی ثناء وغیره ویل پکاردی. باقی که چیری څوك یې ونه وایی نوڅه حرج پکښی نسته ځکه چه داهم یوقول دی: وقیل لا یأتی فی الکل وصححه فی القنیة. درمختار. ([3]) فقط

---

([1]) وګوری مشکوٰۃ المصابیح عن البخاری ومسلم باب فضل الاذان ص ۲۵ . ظفیر

([2]) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار کتاب الصلوۃ ص ۳۴۹ ، ط. س. ج۱ ص۳۷۵. ظفیر

([3]) ولا یصلی علی النبی ﷺ فی القعدة الاولی فی الاربع قبل الظهر والجمعة وبعدها ولو صلی ناسیا فعلیه السهو وقیل لا، ولایستفتح اذا قام الی الثالثة منها لانها لتاکدها اشبهت الفریضة وفی البواقی من ذوات الاربع یصلی علی النبی ﷺ ویستفتح ویتعوذ ولونذرا لان کل شفع صلاة وقیل لایاتی فی الکل وصححه القنیة (در مختار) قوله لان کل شفع صلاة قدمنا بیان ذالك فی اول بحث الواجبات والمراد من بعض الاوجه قوله قیل لا الخ قال فی البحر ولایخفی مافیه والظاهر الاول زاد فی المنح ومن ثم اولنا علیه وحکینا مافی القنیة بقیل (رد =

**که چیری قضا سوی فرائض يې پرذمه وي نوآیا سُنت اونوافل دهغه دپاره درست دي: سوال**: (١٧٥۴) دچا پرذمه چه ددؤو درو کالو فرض لمونځونه قضا وي نو دهغه دپاره سُنت او نوافل جائز دي اوکه نه؟ که چیری سُنت اونوافل وکړي نوثواب به ورته ورکول کیږي اوکه نه؟

**جواب**: سُنت اونوافل کول دهغه دپاره درست دي اوثواب به ورته ورکول کیږي ولې چه هیڅ یونیك عمل دیوه عمل کونکی نه ضائع کیږي. (١) فقط

**په سُنتوکی جهري قرآئت بهتردي اوکه سرّي؟ سوال**: (١٧۵۵) نوافل اوسُنت په خاموشي سره کول بهتردي اوکه لږ په زوره، دپاره ددي چه دخیالاتو څخه نجات پیدا سي؟

**جواب**: دورځې په نفلونو اوسُنتوکی کرار ویل پکاردي جهر دي نه کوي اونه دي لږ په زوره والی کوي. البته دشپې په نفلو کی ورته اختیاردي که جهرکوي اوکه پټ يې وایي. په درمختارکی دي: کمتنفل بالنهار فانه یسرّ ویخیر المنفرد فی الجهر ان ادّی کمتنفل باللیل منفرداً، الخ درمختار. (٢) فقط

**دماپښین اوماښام اوماخستن څخه وروسته نوافل په پابندی سره کول ضروري دي اوکه کله کله باید ترک کړل سي؟ سوال**: (١٧۵٦) په ماپښین ماښام اوماخستن کی ددؤو رکعتو سُنتو څخه وروسته دوه رکعته نفل کوي، دا نوافل همیشه کول ښه دي اوکه کله کله يې پرېښوول مناسب دي؟

**جواب**: په نوافلوکی اختیار دي برابره خبره ده که کله يې پرېږدي اوکه يې همیشه په نفل ګڼلو سره کوي، ځکه چه په دي کی اندیښنه نسته چه دابه څوك فرض وګڼي. او بیا هم بهتر دادي چه کله کله يې پرېږدي. (٣)

* * *

= المحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٣٣ ، ط. س. ج٢ ص١٢). ظفير

(١) وسنّ مؤکدا اربع قبل الظهر واربع قبل الجمعة واربع بعدها بتسلیمة الخ شرعت البعدیة لجبر النقصان والقبلیة لقطع طمع الشیطان ویستحب اربع قبل العصر وقبل العشاء الخ (درمختار) قوله سنّ مؤکدا ای استنانا مؤکدا الخ ولهٰذا کانت السنة المؤکدة قریبة من الواجب فی لحوق الاثم کما فی البحر ویستوجب تارکها التضلیل واللوم کما فی التحریر (ردالمحتار باب الوتر والنوافل ص٢٣٠ ، ط. س. ج٢ ص١٢). ظفير

(٢) الدرالمختارعلی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل فی القراة ج١ ص۴٩٨ ، ط. س. ج٢ ص۴۵٣. ظ

(٣) ویستحب اربع قبل العصر وقبل العشآء وبعدها بتسلیمة وان شاء رکعتین وکذا بعد الظهر (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٣٠، ط.س. ج٢ ١٣) وبه یظهر ان کون ترك المستحب راجعا الی خلاف الاولی ولایلزم عنه ان یکون مکروها (ردالمحتار، باب مایفسد الصلوة ومایکره فیها ج١ ص٢١١ ، ط. س. ج١ ص٦۵۵). ظفير

# فصل رابع

## دتراويحو مسائل

**دتراويحو ركعتونه**: **سوال**: (١٧٥٧) په حواله داخبار البريد مؤرخه ۲۵جون سنه ۱۹۱۸ مطابق ۱۵رمضان المبارك، از كانپور:

(دتراويحو بيان) دماخستن دلمونځ څخه وروسته يعنى دفرضو اوسُنتو څخه وروسته شل ركعته تراويح كول مسنون دى. كم خلق چه اته ۸ يا يوولس ۱۱سره دوترو وايى، دا غلطه ده. كه چيرى اته ركعته تراويح غلطى وى نو ددى (عبارت) څه معنٰى ده كم چه شيخ ابن الهمام حنفي په فتح القدير كى ليكى: فحصل من هٰذا كله أن قيام رمضان سنة احدى عشر ركعة بالوتر فى جماعة فعله عليه السلام ثم تركه لعذر وكونها عشرين سنة الخلفاء الراشدين. افسوس كه چيرى تاسى دجواز فتوٰى نه وركولى نو غلط به موهم نه ورته ويل. ولى چه يوى خبرى ته بغير دتحقيق څخه غلط ويل دانسانيت څخه ليرى دى. اوس فدوى تاسى ته درخواست كوم چه كه چيرى واقعى اته ركعته ثابت نه وى نو سره ددليله يې تحرير وفرماياست او ددى څخه علاوه دشلو ركعتو ثبوت ديوه صحيح حديث څخه موږته وښياست دپاره ددى چه ددى دثواب څخه موږ هم محروم پاتـه نـه سـو. اوبعضى خلق وايى چه شل ركعته تراويح دحضرت عمر ﷺ څخه ثابتى دى، نو ددې ثبوت دصحيح روايت څخه پيش كړئ.

**جواب**: ټول جمهور حنفيه شل ركعته تراويحوته سُنتِ مؤكده فرمايى، اوهمدا محقَّقه او راجحه خبره ده، لهٰذاپه دى باره كى دعلامه ابن همام ﷬ قول په مقابله دجمهورو حنفيه ؤ كى دمنلو قابل نه (١) دى. او دالْبَريد په حوالې سره چه تاسى كمه خبره نقل كړى

---

(١) وهى عشرون ركعة الخ بعشر تسليمات (درمختار) وهو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقا وغربا وعن مالك ست وثلاثون وذكر فى الفتح ان مقتضى الدليل كون المسنون منها ثمانية والباقى مستحبا، وتمامه فى البحر وذكرت جوابه فيما علقته عليه (ردالمحتار مبحث التراويح ص٢٢٠ ، ط. س. ج٢ ص٤٥) وذكر فى الاختيار ان ابايوسف سأل ابا حنيفة عنها وما فعله عمر فقال التراويح سنة مؤكدة ولم يتخرجه عمر من تلقاء نفسه ولم يكن فيه مبتدعا ولم يامر به الا عن اصل لديه وعهد من رسول الله ﷺ (البحر الرائق باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢) ماحصل يې دادى چه حضرت عمر ﷺ دصحابه ؤ په اجماع سره شل ركعته تراويح رائج كړى، دې ته سوچ كول پكار دى چه بغير دڅه اصل څخه هغوى داسى حكم څنګه كولى سواى؟ بيا په مصنّف ابن ابى شيبه، طبرانى اوبيهقى كى داحديث موجود دى، چي راوى يې حضرت عبدالله بن عباس دى، (رسول الله ﷺ يصلي في رمضان عشرين ركعة سوى الوتر) ديوراوى په وجه سره كم چه يقينًا دصحابه ؤ دزمانى څخه وروسته دى په ضعيف ګرځولو سره اودشلو ركعتو څخه انكار كول په هيڅ ډول درست نه دى. دحضرت عائشې ﷺ حديث كم چه درمضان اوغيرِ رمضان دواړو سره متعلق دى په هغه سره استدلال په هيڅ ډول درست نه دى، =

ده چه کم خلق اته یا یؤولس ۱۱ سره دوترو الخ. ددی مطلب دادی چه کم خلق محض اته رکعته تراویح کوی، اوخلقوته دهمدی حکم کوی اوددې څخه زیاتی بدعت گڼی اوددی څخه منع کوی، نودا غلطه ده. نوپه دی کی دامام ابن همام رحمه الله تغلیط نسته، بلکه دغیر مقلدو (لامذهبه کسانو) تغلیط مقصود دی، ځوك چه شلو رکعتوته بدعتِ عُمَری وایی. والعیاذ بالله. قال علیه الصّلٰوة والسّلام: اتبعوا سنتی وسنة الخلفاء الرّاشدین المهدیین، فکیف تکون سنة الخلفاء بدعة. فقط

**په جامع مسجدکی کی دتراویحو باوجود دبغل خوا ته په بل جوماتکی کی هم تراویح درستي دي**: **سوال**: (۱۷۵۸) کله چه دښار په جامع مسجد کی دهمیشه راهیسی په جَمع سره تراویح کیږی نوپه یوبل جوماتکی کم چه جامع مسجدته نزدی دی دتراویحو جماعت قائمول څنګه دی؟ آیا دا دویم جومات به دضَرار په حکم کی وی اوکه نه؟

**جواب**: په دی دویم جومات کی کم چي دجامع مسجدسره نزدی دی، دتراویحو جماعت قائمول دسنت طریقی موافق دی. دتراویحو جماعت په هرجومات کی کیدل ښه خبره ده. دثواب ذریعه ده. او دمسجدِ ضرار دحکم دی دویم جومات ته فتوٰی ورکونکی جهالت او ناخبرتیا ده دشریعت دحکم ([1]) څخه. فقط

**دکلي خلګو ته ویل چي په خپل جومات کي تراویح کوئ دا څنګه دي؟** **سوال**: (۱۷۵۹) داستفتاء جواب راورسیدی، په دي کي ډیر درازوالی سوی دی، او مقدمه په عدالت کي دائره ده. او خلګو له بل لوري څخه شاهدي ورکړي ده چي ما هغه ته ویلي دي چي هغه دي دجامع مسجد دتراویحو په جمعه کي نه شریکیږي، بلکه دا دمحلي جومات دي په دي کي دتراویحو جماعت بالکل کیږي نه؟ قرآن پاك دي واوري؟ اګرکه ما دا الفاظ نه دي ویلي، لیکن کله چي حلفي شهادت سوی دی نو دهغه دتسلیمولو سره سره هم ماته

---

= ولی چه تراویح صرف دوې دری شپی سوی وی. بیا پردی شلورکعتو والا حدیث سره دصحابه ؤ اجماع ده. اودا منل سوی خبره ده چه داتو رکعتو تراویحو بدعت صرف دسلو کالو څخه غیرمقلدو جاری کړی دی. ددی څخه مخکی اته ۸ رکعته تراویح هیچیري په جَمع سره کول ثابت نه دی. بیا دحضرت عائشې رضي الله عنها په حدیث کی څلور څلور رکعته په یوه سلام سره ذکر سوی دی اوغیرِ مقلدین دوه۲ دوه۲ رکعته په یوه سلام سره کوی.
پردی مسئله باندی (دزیات تفصیل دپاره) تاسی دحضرت الاستاذ شیخ الحدیث مولانا حبیب الرحمٰن الاعظمی مدّ ظله رساله (رکعاتِ تراویح، مذیّل) مطالعه کړی کمه چه دمفتاح العلوم مئو ضلع اعظم ګړه څخه نشر سوی ده. دتراویحو پر رکعتونو باندی تردی بهتر کتاب تراوسه پوری په نظر نه دی راغلی . ظفیر

([1]) وهل المراد انها سنة کفایة لاهل کل مسجد من البلدة اومسجد واحد منها اومن المحلة ظاهر کلام الشارح الاول واستظهر الثانی ویظهر لی الثالث الخ (ردالمحتارباب الوتر والنوافل مبحث صلوة التراویح ج۱ ص۶۶۰ ، ط. س. ج۲ ص۴۵). ظفیر

ديو سوال ضرورت دی چي يوه سړي ته په استحقاق دمحلي دخلګو په داسي ويلو سره دجومات دپاره دضرار حکم کيدل په کار دي؟

**جواب**: په درمختار کي دي: ومسجد حي افضل من الجامع الخ [1] له دي عبارت څخه ښکاره ده چي دمحلي جومات دمحلي خلګو ته ترجامع مسجد غوره دی، او شامي ليکلي دي: لأن له حقا عليه فيؤديه [2] يعني دمحلي په خلګو باندي دمحلي دجومات حق دی، هغه ادا کول ښايي. نو که ديوي محلي خلګ دبلي محلي خلګو ته ووايي چي دمحلي په جومات کي دتراويحو جمعه کيږي په هغي کي شريك سئ او قرآن شريف واورئ، نودا خبره بي موقع نه ده بلکه داسي ويل ښه دي او دهمداسي ويلو او کولو په شريعت کي حکم دی. چي دمحلي جومات ابادول په کار دي، او پنځه وخته جمعه او تراويح هلته کول ښايي، او دکلي نورو خلګو ته هم ددي ترغيب ورکول ښايي، نو دمسجد ضرار حکم ورکول ذکر سوي جومات ته، په ياد سوي دليل سره بالکل غلط دي، او دداسي فتوی ورکوونکي په جهالت او لاعلمي دلالت کوي، داسي کلمه دجومات په هکله يو جاهل هم نه وايي، الله جل جلاله دي هدايت وفرمايي او مسلمانانو ته دي دخير اصلاح او اتفاق توفيق ورکړي، ان أريد إلا الإصلاح ما استطعت وما توفيقی إلا بالله. فقط

**دتراويحو رکعتونه او ابن همام** رحمه الله: **سوال**: (١٧٢٠) حضرت تاسو په دي فتوی کي ليکلي دي، چي دعلامه ابن الهمام دا قول دجمهورو حنفيانو په مقابله کي دمنلو وړ نه دی، (ډير ښه) موږ پوښتنه کوو چي دعلامه ابن الهمام ددي قول ترديد جمهور حنفيان په کم دليل کوي، د: اتبعوا سنتي وسنة خلفاء الراشدين، پرحديث باندي زموږ هم نظر دی، ليکن سوال دادی چي دکم صحيح حديث يا روايت څخه هم ثابت دي، اوکه هسي زباني خرخ دی، درسول الله ﷺ څخه خو به موږ داتو رکعتونو ثبوت داسي ورکړو چي تاسو ته به هيڅ دانکار ګنجايش نسي پاته، په دي شرط چي دانصاف په نظر سره يي وګوری، واخلی لاس په لاس يو حديث عاجز نقل کوي، لومړی حديث په بخاري شريف کي دی: قيام النبی ﷺ بالليل في رمضان وغيره عن ابي سلمة بن عبدالرحمن أنه سأل عائشة كيف كانت صلوة رسول الله ﷺ في رمضان فقالت ما كان رسول الله ﷺ يزيد في رمضان ولا في غيره على إحدى عشرة ركعة يصلي أربعا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم

---

[1] الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيها مطلب في احكام المسجد ج١ ص٢١٧، ط.س. ج٢ ص٤٥٩. ظفير

[2] رد المحتار باب ما يفسد الصلوة الخ مطلب في احكام المسجد ج١ ص٢٢٧. ظفير

يصلي اربعا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي ثلاثاً قالت عائشة فقلت يا رسول الله أتنام قبل أن توتر فقال يا عائشة إن عيني تنامان و لاينام قلبي (بخاري كتاب التهجد پاره پنجم، هو! كه دا وواياست چي دغير مقلدينو تغليط ځرنګه وسو، اوس اوس تاسو تحرير فرمايلی دی چي دجمهورو حنفيانو په مقابله کي دابن الهمام قول دمنلو وړ نه دی؟ او بيا ليکئ چي په دي سره تغليط دغير مقلدينو وسو، نه چي دابن الهمام، مولانا په ارشاد خداوندی باندي عمل کوئ چي: کله چي وينا کوئ نو په انصاف سره يې کوئ.

**جواب**: قال في شرح المنية تنبيه: علم من هذه المسئلة أن التراويح عندنا عشرون ركعة بعشر تسليمات وهو مذهب الجمهور وعند مالك ست وثلاثون ركعة احتجاجا بعمل اهل المدينة وللجمهور ما رواه البيهقي باسناد صحيح عن السائب بن يزيد قال كانوا يقومون على عهد عمر بعشرين ركعة وعلى عهد عثمان وعلي مثله الخ (١) ددي ځخه دخلفاء راشدينو طريقه معلومه سوه او دجمهورو حنفيانو مذهب هم معلوم سو، او دبخاري دحديث شريف جواب دادی چي هغه دتهجدو دلمانځه په هکله دی دتراويحو نه دی لکه ځنګه چي لفظ دوإلا في غيره په دي باندي دلالت کوي ځکه چي په غير رمضان کي تراويح نسته، لهذا له دي ځخه به داسي لمونځ مراديږي چي هغه په رمضان او غير رمضان په دواړو کي وي، او هغه دتهجد لمونځ دی. وفي الدرالمختار التراويح سنة مؤكدة لمواظبة خلفاء الراشدين الخ وهی عشرون ركعة قال في رد المحتار قوله وهي عشرون ركعة هو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقا وغربا الخ (٢) وقبيله وكيف لا وقد ثبت عنه ﷺ عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضوا عليها بالنواجذ كما رواه ابوداود (٣). فقط

**دتراويحو وروسته په لوړ آواز سره ددرود او سلام ثبوت نسته**: **سوال**: (١٧٢١) په ځينو علاقوکي دتراويحو له څلورو رکعتو وروسته ناسته وکړي، دپاځيدلو په وخت کي په کرار اواز سره تسبيح ووايي، ددرود بر خواجهٔ عالم ځخه وروسته په لوړ اواز سره صلوة برمحمد ﷺ ناره پورته کړي، ددي اصل په کم کتاب کي شرعا موجود دی اوکه نه؟

**جواب**: ددي اصل په هيئت كذائيه په شريعت کي هيڅ نسته، فقهاؤ ليکلي دي چي دتراويحو په هره ترويحه کي يعني له څلورو رکعتونو وروسته اختيار لري که تسبيح وايي يا قرآن شريف وايي، يا نفل رکعتونه کوي اويا هيڅ نه کوي، او په شامی کي دي،

(١) غنية المستملى ص ٣٨٨. ط.س. ج٢ ص٤٥. ظفير
(٢) رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ص ٦٦٠. ظفير
(٣) رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ ص٦٥٩، ط.س. ج٢ ص٤٢. ظفير

چي قهستاني ليکلي دي چي له هري ترويحي وروسته دي سبحان ذي الملك والملكوت الخ دري ځله وايي احقر وايي چي دسبحان الله والحمد لله ولا إله إلا الله والله اكبر (١) دکلمي ډير فضيلت په صحيح احاديثوکي راغلی دی، ځکه نو دهغي تکرار غوره دی، او همدا معمول او مختار وو دحضرت فقيه او محدث گنگوهي رحمه الله.

**تراويح شل رکعته: سوال:** (١٧٢٢) په رمضان کي تراويح څو رکعته کول ښايي؟

**جواب:** شل رکعته تراويح کول په کار دي. (٢) فقط

**که يي دمعاوضي نيت وي او په ژبه ونه وايي نو آيا په دي صورت کي هم معامله کول ناجائز دي؟ سوال:** (١٧٢٣) په قيام رمضان کي دقرآن کريم دختم په غرض حافظ صاحب ته داخستلو او ورکولو په نيت سره دقرآن کريم اوريدل او اورول او دهغه وروسته اخستل او ورکول څنگه دي؟ نيت ددواړو داخستلو او ورکولو وي. له دي څخه پرته ثوك اورول نه کوي که چيري په يوه جومات کي قرآن کريم وانه ورول سي او يوازي پرتراويحو باندي بسنه وسي نو دغه خلگ به له قيام رمضان څخه محروم نه وي؟

**جواب.** په اجرت باندي قرآن کريم لوستل درست نه دي. او په دي کي ثواب نسته، اود: المعروف کالمشروط، له مخي چي دچا نيت داخستلو او ورکولو دی هغه هم داجرت په حکم کي راغلی دی اوناجائز دی (٣) په دي حالت کي يوازي تراويح کول، او داجرتي قرآن کريم نه اوريدل غوره دي او يوازي دتراويحو په کولو سره به هم دقيام رمضان فضيلت حاصل سي. فقط

**دڅومره عمر هلک تراويح ورکولای سي؟ سوال:** (١٧٢٤) دڅومره عمر هلك قرآن کريم په تراويحو کي اورولای سي؟ ديوه هلك عمر تقريبا شپاړس کاله په پوره کيدلو دی، هغه قرآن کريم په تراويحو کي اورولای سي اوکه نه؟ ددغه ړيره اوبريت هيڅ نسته، او داسي هلك چي دپنځلسو کالو وي هغه په اول صف کي دسړيانو سره دريدلای او دبل حافظ څخه قرآن کريم اوريدلای سي اوکه نه؟ او که چيري ددیارلسو څوارلسو کالو وي هغه هم په اول صف کي دريدلای او قرآن کريم اوريدلای سي اوکه نه؟

---

(١) رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ ص٢٢١، ط.س. ج٢ ص٤٢. ظفير

(٢) وهى عشرون رکعة (الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٢٠، ط.س. ج٢ ص٤٥). ظفير

(٣) وان القرآءة بشيء من الدنيا لا تجوز والآخذ والمعطي آثمان لأن ذلك يشبه الإستيجار على القراءة ونفس الاستيجار عليها لا يجوز (الدر المختار باب قضآء الفوائت مطلب في بطلان الوصية ج١ ص٢٨٧، ط.س. ج٢ ص٧٣). ظفير

**جواب**: كه چيري نوري علامي دبلوغ لكه احتلام وغيره په هغه كي موجودي نه وي نو شرعا دپنځلسو كالو په مهال دبلوغ حكم وركول كيږي (١) نو دكم هلك چي شپاړسم كال شروع سوى دى په هغه پسي تراويح او فرض لمونځ ټول صحيح دي، اګر كه بي ږيري وي هم، او دداسي عمر هلك په اول صف كي هم دريدلاي سي، او دديارلسو څوارلسو كالو هلك امام نه سي جوړيداى، (٢) ليكن په تراويحو كي دښودني لپاره يي په لومړي صف كي دريدل صحيح دي. فقط

**<u>په تراويحو كي دقرآن كريم ختم سنت دى</u>: سوال**: (١٧٢٥) حافظ لره په تراويحو كي دقرآن كريم ختم كول واجب دي او كه مستحب دي دوجوب په صورت كي كه چيري يوسړى دلوستلو په وخت كي دريا او نمود څخه دژغورني قوت په ځان كي نه لري نو هغه ته يې اورول جائز دي اوكه نه؟ دنه جواز په صورت كي دقرآن په نه اورولو سره به دهغه په غاړه دقرآن شريف څه حق نه وي پاته؟ كه پاته وي نو دخلاصون لاره يي كمه ده؟

**جواب**: په تراويحوكي قرآن كريم اوريدل او اورول سنت او مستحب دي، او دريا اوعجب په وجه يي پريښودل نه ښايي او ترځپله وسه داخلاص حاصلولو هڅه پكارده، او لوجه الله دمعاوضى پرته دي واورول سي، دا دلوى اجر او ثواب كاردى اوپه دې كي فضيلت دى (٣) او كه ديوه عذر له امله يوه حافظ قرآن كريم په تراويحو كي ونه لوستى، او همداسي تلاوت كوي نو له مؤاخذې څخه خلاص دى قال الله تعالى: لا يكلف الله نفسا إلا وسعها. فقط

**<u>په ترويحه كي مناجات صحيح دي اوكه نه؟</u> سوال**: (١٧٢٦) مولانا كرامت علي جونپوري په تراويحو كي له هري ترويح څخه وروسته يو مناجات ليكلى دى هغه په معتبر دليل سره ثابت دى اوكه نه؟ چي هغه پريږدي اونور مناجات ووايي نو صحيح كيږي اوكه نه ؟

**جواب**: په هره ترويحه كي تسبيح او تهليل او درود شريف او استغفار ويل صحيح دي، څه خاص مناجات ويل ضروري نه دي؟ او دسبحـان الله والحمد لله الخ دكلمي تكرارول

---

(١) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال الخ فإن لم يوجد فيهما شيء فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتى لمقصر اعمار اهل زماننا (الدر المختار كتاب الحجر فصل بلوغ الغلام ج٥ ص١٣٢، ط.س. ج٢ ص١٥٣). ظفير

(٢) لا يصح اقتداء رجل بإمرأة وخنثى وصبى مطلقا ولو في جنازة ونفل على الاصح (درمختار) قال في الهداية وفي التراويح والسنن المطلقة الخ والمختار انه لا يجوز في الصلوات كلها. (ردالمحتار باب الإمامة ج١ ص٥٣٩، ط.س. ج٢ ص٥٧٦). ظفير

(٣) والختم مرة سنة ومرتين فضيلة وثلاثا افضل ولايترك الختم لكسل القوم (درمختار) اى قراءة الختم في صلاة التراويح سنة (ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٢٢، ط.س. ج٢ ص٤٦). ظفير

ډیر غوره دي. (۱)

**په تراویحو کي دقرآن په اوریدلو باندي دقرآن ثواب ورکول کیږي اوکه نه؟ سوال**: (۱۷۲۷) زید وایي چي په تراویحو کي دوه شیان دي، اول قراءت چي فرض دی دوهم سنتِ مؤکده، کله چي په تراویحو کي قرآن ولوستل سو نو په دواړو شیانو کي صرف دیوه شی ثواب حاصل سو یعني که چیري دسنت موکده ثواب یي حاصل کړی نو دقراءت له ثواب څخه محروم پاتی سو دتراویحو دلمانځه څخه وروسته دي همغه وخت په چاباندي قرآن ووایي او وادي وري چي ددواړو ثواب ورته حاصل سي، زید په دې ډول مسائلو باندي دعمل کولو تاکید کوي آیا دا صحیح دی اوکه نه؟

**جواب**: دا قول دهغه غلط دی په تراویحو کي دقرآن شریف په لوستلو سره دقرآن شریف ثواب هم لوستونکي او اوریدونکو ته حاصلیږي او کم سړی چي داسي مسائل بیانوي او په دې باندي مصر وی هغه دامام جوړیدو لائق نه دی. فقط

**آیا شیعه حافظ په جمعه کي په شریکیدلو سره فتح ورکولای سي؟ سوال**: (۱۷۲۸) که چیري په تراویحو کي امام غلطیاني کوي، او له اوریدونکي څخه هم هیریږي او شیعه حافظ موجود دی، که چیري هغه نیت وکړي، په جمعه کي شریک سي او فتحه ورکړي نو داحنافو په نزد جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: که چیري شیعه داسي وي چي نه تبرا کونکی دی او نه دحضرت صدیق رضی الله عنه دصحبت څخه منکر دی او نه په حضرت عائشي صدیقي رضی الله عنها باندي دتور لګولو قائل دی نو په دی صورت کي فتحه ورکول جایز دی او دهغه په ښودلو سره دفتح اخیستونکی لمونځ او دهغه دمقتدیانو لمونځ صحیح (۲) دی، اوکه چیري هغه غالي شیعه وي او ذکر سوي خبري په کي موجودي وي یعني تبرایي وي او داول خلیفه دصحبت څخه منکر وي او دحضرت صدیقي ﷺ دإفك قائل وي نوکله چي داسي رافضي مرتد اوکافر دی په دي وجه دهغه په ښودلو سره او امام ته په فتح اخیستلو سره به دامام لمونځ او دهغه دمقتدیانو لمونځ باطل سي. (۳) فقط

---

(۱) ویجلس ندبا بین کل اربعة بقدرها وکذا بین الخامسة والوتر ویخیرون بین تسبیح وقراءة وسکوت وصلوة فرادی (درمختار) قال القهستاني فیقال ثلاث مراة سبحان ذي الملك والملکوت، سبحان ذي العزة والعظمة والقدرة والکبریاء والجبروت سبحان الملك الحي الذي لا یموت سبوح قدوس رب الملائکة والروح لا إله إلا الله نستغفر الله نسئلك الجنة ونعوذ بك من النار (ردالمحتار مبحث التراویح ج۱ ص۲۲۱، ط.س. ج۲ ص۴۲). ظفیر

(۲) وفتحه علی غیر امامه الخ بخلاف فتحه علی امامه فانه لایفسد مطلقا لفاتح واخذ بکل حال إلا إذا سمعه الموتم من غیر مصلی ففتح به تفسدصلاة الکل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب ما یفسد الصلوة ومایکره فیها ص۵۸۱ ج۱، ط.س. ج۱ ص۲۲۲). ظفیر =

**آيا په تراويحو کې دسورة والضحى څخه وروسته دهرسورت په ختميدلو باندې الله اکبر ويل سنت دي:** **سوال:** (١٧٦٩) کله چې کلام الله په تراويحو کې ختم سي ځيني حافظان دوالضحى دسورت څخه وروسته دقرآن تر اخره دهر سورت په ختميدو سره الله اکبر وايي چې غير وي درکوع دتکبير څخه او ګمان کوي چې دا سنت دی؟

**جواب:** فقهاء رحمهم الله داسي اذکار او دعاګاني، دلمانځه څخه په وتلي حالت، يا په نفلو لمونځونو کي چې يواځي ادا کيږي محمول کړي دي، په فرائضو کي او همدارنګه په نوافلوکي چې کله په جمع اداء کيږي داسي کول مکروه ګڼي نو دمنع کوونکو قول په دي هکله سم دی او دروا کوونکو قول خطا دی، قال في الدرالمختار بل يستمع وينصت الخ. وإن قرأ الإمام اية ترغيب وترهيب و كذا الإمام لا يشتغل بغير القرآن وما ورد حمل على النفل منفردا الخ (درمختار) قوله حمل على النفل منفردا أفاد أن كلا من الإمام والمقتدي في الفرض والنفل سواء أما الإمام في الفرائض فلما ذكرنا من أنه صلى الله عليه وسلم لم يفعله فيها وكذا الأئمة من بعده إلى يومنا هذا فكان من المحدثات ولأنه تثقيل على القوم فيكره وأما في التطوع فإن كان في التراويح فكذلك الخ شامي ج١ ص٣٦٢. فقط ([1])

**په کورکي دننه په تراويحو کې دمحرمو او نامحرمو ښځو اقتداء جواز لري اوکه نه؟** **سوال:** (١٧٧٠) يو سړى فرض لمونځ دروژي په مياشت کي په جومات کي کوي، او تراويح او وتر په کور کي کوي او په تراويحو کي دقرآن کريم ختم کوي ځيني محرمي او نامحرمي ښځي راځي او دهغه حافظ په اقتداء سره لمونځ کوي ايا ددوى اقتداء جائزه ده؟

**جواب:** دمحرمو ښځو په وجود سره کراهت مرتفع ګرځي، کما يظهر من عبارة الدرالمختار ([2]) وفي رد المحتار وأفاد أن المراد بالمحرم ماكان من الرحم ([3]) الخ. فقط

**آيا تراويح داسي کيدلای سي چې په لومړي رکعت کي بل سورت او په وروستي کي يوازي**

---

([3]) ځکه چې داسي شيعه کافر دی په دي خاطر هغه فتحه دخارج فتحه سوه په کمي سره چې لمونځ فاسديږي، ويفسدها الخ فتحه علي غير امامه (ايضا) دداسي شيعه ګانو دکافر کيدلو صراحت دی، وبهذا ظهر أن الرافضى ان كان ممن يعتقد الألوهية في على او ان جبريل غلط في الوحي او كان ينكر صحبة الصديق او يقذف السيدة الصديقة فهوكافر الخ (ردالمحتار فصل في المحرمات ص٣٩٨ ج٢، ط.س. ج٣ ص٤٦). ظفير

([1]) رد المحتار فصل في القراءة ص٥٠٨ - ٥٠٩ ج١، ط.س. ج١ ص٥٤٦. ظفير

([2]) كما تكره إمامة رجل لهن في بيت ليس معهن رجل غيره ولا محرم منه كاخته او زوجته او أمته أما إذا كان معهن واحد ممن ذكر او امهن في المسجد لايكره (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الإمامة ج١ ص٥٢٩، ط.س. ج١ ص٥٦٦). ظفير

([3]) رد المحتار باب الإمامة ج١ ص٥٢٩، ط.س. ط.س. ج١ ص٥٦٦. ظفير

**سورت اخلاص ووايي؟ سوال**: (١٧٧١) دتراويحو لمونځ په داسي ډول كول روا دي كه نه؟ چي مثلا په لومړي ركعت كي سورت تكاثر ووايي او په دوهم كي سورت اخلاص يا په لومړي ركعت كي والعصر ووايي او په دوهم كي سورت اخلاص؟

**جواب**: دتراويحو لمونځ په همدي ډول هم كيږي، ليكن دا لازم ګڼل نه ښايي، او ددي پابندي بايد ونه كړل سي، په ترتيب سره كه چيري په هر ركعت كي قراءت ولوستل سي نو دا غوره ده. (١)

**چي په كوركي تراويح په جمع سره كوي او جومات ته نه ځي ددې څه حكم دی؟ سوال**: (١٧٧٢) دتراويحولمونځ په كوركي په جمعه سره اداكول اوجومات ته نه تلل څنګه دي؟

**جواب**: په دي صورت كي دا حكم دی چي په جومات كي دي ادا كوي، وظاهر كلامه هنا أن المسنون كفاية إقامتها بالجماعة في المسجد حتى لو أقاموها جماعة في بيوتهم ولم تقم في المسجد اثم الكل كذا في الشامي ص ٥٢١. (٢) ليكن كه چيري څوك په جماعت سره په داسي ډول په كور كي تراويح كوي چي دجومات جمعه نه بنديږي، دا صحيح ده، خو دا خلګ به دجومات له فضيلت څخه محروم وي. (په رد المحتاركي دي: وإن صلى أحد في البيت بالجماعة لم ينالوا فضل جماعة المسجد. ظفير)

**چي كمي تراويح ورڅخه تيري وي هغه به څه وخت كوي؟ سوال**: (١٧٧٣) يو سړی جومات ته په داسي وخت كي داخل سو چي دجومات فرض سوي وو او په تراويحو كي له دوو، يا څلورو ركعتو وروسته شامل سو، نو اوس به پاتي تراويح څنګه ادا كوي، ايا كله چي امام دڅلورو ركعتو په مينځ كي كيني په هغه مهال يه يي ادا كوي، اوكه كله چي امام شل ركعته پوره كړي، په دي حالت كي به وتر له جمعي سره كوي او كه دتراويحو له راګرځولو وروسته؟

**جواب**: كه چيري په مينځ كي موقع پيدا سي دامام په ترويح كي دكيناستلو په مهال نو هغه وخت دي وكړي، كه نه وي له امام سره دي وتر دجمعي په وخت كي وكړي، او له هغه وروسته دي تراويح پوره كړي. (٣) فقط

---

(١) ثم بعضهم اختاروا قل هو الله احد في كل ركعة وبعضهم اختاروا قراءة سورة الفيل إلى اخر القر ان وهذا أحسن القولين لأنه لايشتبه عليه عدد الركعات ولا يشتغل قلبه بحفظها كذا في التجنيس (عالمگيري كشوري فصل في التراويح ج١ ص١١٧ ط. ماجدية ج١ ص١١٨). ظفير

(٢) رد المحتار مبحث في التراويح ج١ ص ٢٢٠ ، ط.س. ج٢ ص٤٥. ظفير

(٣) وإذا فاتته ترويحة او ترويحتان فلو اشتغل بها يفوته الوتر بالجماعة يشتغل بالوتر ثم يصلي ما فاته من التراويح وبه كان يفتى الشيخ الإمام الأستاد ظهير الدين كذا في الخلاصة. (عالمگيري كشوري باب التراويح ج١ ص١١٩ ط. ماجدية ج١ ص١٢٠). ظفير

**په نابالغ پسي تراويح صحيح نه دي**: **سوال**: (١٧٧۴) نابالغ كه چيري په تراويحو كي امام سي، نو بالغانو او نابالغو ته په هغه پسي اقتداءكول جائز دي اوكه نه؟

**جواب**: په نابالغ پسي په تراويح كولو كي اختلاف دى ليكن اصحه داده چي جائز نه دي (١) في المنية وذكر في بعض الفتاوى أنه لايجوز لأن يؤم البالغين في التراويح وهو المختار. فقط (٢)

**دنابالغه امامت په تراويحو كي صحيح نه دي**: **سوال**: (١٧٧۵) عمر ددياړلسوكالو په عمر كي دقرآن كريم له حفظولو وروسته دالفاظو په صحت سره مقتديانو ته تراويح وركړي. او فرض او وتر دهغه استاد وكړل، زيد وايي چي دعمر دنابالغ والي په وجه سره دمقتديانو تراويح ناقصي دي نو ايا په دي صورت كي تراويح صحيح دي او كه لكه زيد چي وايي ناقصي دي؟

**جواب**: صحيح داده چي په نابالغ دياړلس كلن هلك پسي نه فرائض اوواجبات صحيح دي اونه تراويح او نوافل، نو دزيد قول صحيح دى چي دمقتديانو تراريح ونه سوي. فقط (٣)

**دتراويحو له لمانځه او له وترو څخه وروسته دعا ثابته ده او كه نه؟** **سوال**: (١٧٧٦) دتراويحو دلمانځه وروسته دعا غوښتل صحيح دي اوكه نه؟ او په رمضان شريف كي له وترو وروسته دعا غوښتل ثابت دي اوكه نه؟

**جواب**: دتراويحو له ختميدلو وروسته دعا غوښتل صحيح دي، او مستحب دي، او دسلفو اوخلفو معمول دي، بيا له وترو څخه وروسته دعا كول ضروري نه ده، يو ځل كافي ده، يعني دتراويحو له ختميدلو وروسته كافي ده. فقط

**تهجد او تراويح له حضور ﷺ څخه ثابتي دي**: **سوال**: (١٧٧٧) تهجد او تراويح كول له رسول الله ﷺ څخه ثابتي دي اوكه نه؟ كه چيري ثابتي وي نو څو ركعته؟

**جواب**: دتهجدو په هكله راغلي دي، چي رسول الله ﷺ به په رمضان او غير رمضان كي دوترو سره تر يوولسو ركعتونو ډير تهجد نه كول، يعني ډير عادت يي همدا وو (۴)، او

---

(١) ولا يصح اقتداء رجل بامرأة ولا خنثى ولا صبى مطلقا ولو في جنازة ونفل على الأصح (درمختار) قوله ونفل على الأصح قال في الهداية في التراويح والسنن المطلقة جوزه مشائخ بلخ ولم يجوزه مشائخنا ومنهم من حقق الخلاف في النفل المطلق بين ابي يوسف ومحمد والمختار أنه لايجوز في الصلوات كلها اهـ (ردالمحتار باب الإمامة ج١ ص ۵٣٩ – ۵۴٠ ، ط.س. ج١ ص۵٧٦). ظفير

(٢) غنية المستملي بحث تراويح ص٣٩٠. ظفير

(٣) والمختار أنه لايجوز في الصلوات كلها اهـ (رد المحتار باب الإمامة ج١ ص۵۴١، ط.س. ج١ ص۵٨٨) ظفير

(۴) عن ابي سلمة بن عبدالرحمن أنه أخبره انه سأل عائشة أم المؤمنين كيف كانت صلوة رسول الله ﷺ في رمضان قالت ماكان رسول الله ﷺ يزيد في رمضان ولاغيره على إحدى عشرة ركعة يصلي اربعا فلا تسئل عن حسنهن =

تراويح هغه ﷺ دری شپې کړي دي، بيا له پيغمبر صلی الله عليه وسلم وروسته صحابه کرامو په دي باندي هميشه والی کړی دی، ځکه نو تراويح په جمعه سره سنت سوي ([1]) والتفصيل في المطولات. فقط

**دتراويحو په ترويح کي دوعظ رواج صحيح دی اوکه نه؟ سوال**: (١٧٧٨) په عام ډول په جوماتونو کي دتراويحو په ترويح کي تسبيح ويل کيږي؟ ليکن په يوه جومات کي ددي په خلاف په هره ترويح کي وعظ کول کيږي، ايا دا دواړه کاره جائز دي؟

**جواب**: دتراويحو په هرو څلورو رکعتونو کي مشروع او مستحب داده چي تسبيح او تهليل او درود شريف ووايي که چيري ضروري وعظ چي ضرورت وي ورته کله کله وسي، نو څه بديت نسته پکي ليکن ددي التزام کول چي په هره ترويحه کي دي هرومرو وعظ وسي دا ښه نه دی، کما قال في الدرالمختار، ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلوة فرادى الخ درمختار. فقط ([2])

**دتراويحو په هکله يو څو پوښتني**: **سوال**: (١٧٧٩) په رمضان شريف کي له سامع څخه پرته قرآن کريم ويل صحيح دي اوکه نه؟ دپاني پت په کرنال ضلعه کي دارواج دی چي دوه حافظان قرآن کريم وايي په لسو رکعتوکي يو حافظ اوپه لسو کي بل حافظ، داسي کول جائز دي اوکه نه؟ که چيري په تراويحو کي حافظ په غلطی سره دريم رکعت ته پورته سي، او په دريم رکعت کي له وريادېدلو وروسته يي څلورم رکعت هم ادا کړی، نو دابه څلور رکعته ګڼل کيږي اوکه دوه؟ که چيري دوه وګڼل سي لکه څنګه چي په اشتهارکي دي نو په اخري دوو رکعتو کي چي کم قرآن مجيد ويلی دی هغه بيا ويل غواړي اوکه نه؟ او که چيري حافظ قرآن شريف شروع کړی او په څه وجه سره يي يو دوه ورځي ونه لوستی، مثلا لس پاري يي ولوستلي، له هغه څخه وروسته بل حافظ تر پنځلسمي پاري پوري لوستل وکړه، نو اوس چي لومړی حافظ پيل کوي له يوولسمي څخه به يي پيل کوي اوکه دشپاړسمي څخه؟

---

= وطولهن ثم يصلي اربعا فلا تسئل عن حسنهن وطولهن ثم يصلي ثلاثا الخ (نسائي شريف باب كيف الوتر بثلاث ج١ ص١٩٩). ظفير

([1]) عن ابي ذر قال صمنا مع رسول الله ﷺ فلو يقم بنا شيئا من الشهر حتى بقى سبع فقام بنا حتى ذهب ثلث الليل فلما كانت السادسة لم يقم بنا فلما كانت الخامسة قام بنا حتى ذهب شطر الليل الخ رواه ابوداؤد وغيره (مشكوة باب قيام اليل الخ رواه ابوداؤد وغيره (مشكوة باب قيام الليل) التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين للرجال والنساء إجماعا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٥٩، ط.س. ج٢ ص٤٣). ظفير

([2]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ص١ ص٦٦١، ط.س. ج٢ ص٤٦. ظفير

**جواب**: كه چاته قرآن كريم ښه ياد وي نو له سامع څخه پرته يي هم ويلای سي كه چيري ورڅخه هيره وسوه يا يې شك راغی نو د سلام له ګرځولو وروسته دي وګوري كه غلطي سوي وي نو راودي ګرځوي ليكن غوره داده چي سامع موجود وي، ترڅوحافظ ته ډاډ او اطمينان وي، او په پاني پت كي چي څنګه رواج دی دلته هم په ځينو جوماتونو كي همداسي كيږي داهم جائز دي (١) او دڅلورو ركعتو په صورت كي چي كم قرآن كريم په دوو وروستنيو كي لوستل سوی دی دهغه دبيا ويلو اړتيا نسته (٢) او كله چي مخكني حافظ لس پاري ولوستلي او بيا بل تر پنځلسو ولوستلي نوكله چي اول راسي هغه ته اختيار دی كه يي له شپاړسمي پيلوي او كه يي له يوولسمي څخه، ليكن دخپل قرآن كريم دپوره كولو لپاره دا بهتر دی چي له يوولسمي څخه يي پيل كړي. فقط

**دتراويحو دپرېښودونكي حكم**: **سوال**: (١٧٨٠) كم خلګ چي تراويح نه كوي دهغوی لپاره څه حكم دی؟

**جواب**: تراويح داحنافو په نزد سنت مؤكده دي، او جماعت هم په تراويحو كي سنت دی، ددي پريښودونكی بد كوونكی او ګنهګار دی. (٣) فقط

**په شپه شپه كي قرآن كريم ختمول جائز دي اوكه نه؟ سوال**: (١٧٨١) په يوه شپه كي دډيرو حافظانو په مټ قرآن كريم ختمول صحيح دي اوكه نه؟

**جواب**: قرآن كريم دومره ژر ژر لوستل چي حروف يي په پوهه كي رانه سي او له مخارجو څخه ادا نسي، ناجائز دي، نوكه چيري په شبينه كي داسي غلطي كيږي نو هغه هم ناجائزه ده، كما في الدر المختار ويجتنب المنكرات هذرمة القراءة الخ. (٤) فقط

**سورت اخلاص دتراويحو په هر ركعت كي لوستل صحيح دي او كه نه؟ سوال**: (١٧٨٢) ځيني

---

(١) والأفضل أن يصلي التراويح بامام واحد فإن صلوها بإمامين فالمستحب أن يكون إنصراف كل واحد على كمال النرويحة فإن إنصرف على تسليمة لا يستحب ذلك في الصحيح (عالمگيري كشوري فصل في التراويح ج١ ص١١٥، ط. ماجدية ج١ ص١١٢). ظفير

(٢) وعن ابي بكر الأسكاف أنه سئل عن الرجل قام إلى الثالثة في التراويح ولم يقعد في الثانية فإن تذكر في القيام ينبغي أن يعود ويقعد ويسلم وإن تذكر بعد ما سجد للثالثة فان أضاف إليها ركعة اخرى كانت هذه الأربعة عن تسليمة واحدة (ايضاً ص١١٧) وإذا فسد الشفع وقد قرأ فيه لايعتد بما قرأ فيه ويعيد القراءة ليحصل له الختم في الصلوة الجائزة (ايضا ج١ ص١١٢). ظفير

(٣) ونفس التراويح سنة على الأعيان عندنا الخ والجماعة فيها سنة على الكفاية الخ وإن تخلف واحد من الناس وصلاها في بيته فقد ترك الفضيلة (عالمگيري كشوري ج١ ص١١٥) قوله والجماعة فيها سنة على الكفاية الخ أفاد أن اصل التراويح سنة عين فلو تركها واحد كره (ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٦٠، ط.س. ج٢ ص٤٥). ظفير

(٤) الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٦٣، ط.س. ج٢ ص٤٥. ظفير

خلګ په تراويحو کي دا (طريقه) غوره کوي، چي په هر رکعت کي له سورة فاتحي سره سورت اخلاص وايي دا ډول کړنه له کراهته خالي ده اوکه نه؟

**جواب**: شامي ليکلي دي: واختار بعضهم سورة الإخلاص في کل رکعة الخ له دي څخه معلومه سوه چي په دي کي څه ستونزه نسته. ([1]) فقط

**دحافظ دتنکولو لپاره دتراويحو په مهال شور او زوږ جوړول جائز دي اوکه نه؟ سوال**: (١٧٨٣) دځينو حافظانو عادت وي چي کم هلك نوی نوی قرآن کريم اوروي نو دهغه داورولو په وخت کي ورسي او دهغه دبيرولو او دهغه څخه دهيرولو په هيله په زوره پښې ټکوي او غاړي تازه کوي او ټوخيږي دداسي حافظانو په هکله څه حکم دی؟

**جواب**: داسي کول ناجائز دي، په حديث شريف کي دي، چي رسول الله صلی الله عليه وسلم له اغلوطاتو څخه منعه کړي ده، يعني کم کارونه چي مسلمانان په غلطی کي اچوي له هغو څخه ځان ساتل لازم دي. ([2])

**قرآن کريم دومره تيز لوستل مناسب نه دي چي په پوهه کي رانه سي**: **سوال**: (١٧٨۴) ځيني حافظان په تراويحو کي دومره ژر ژر قرآن کريم وايي چي ماسوا له يعلمون او له تعلمون څخه بل هيڅ شی په فهم کي نه راځي او ځيني مقتديان هم دتراويحو دژر ختميدو په وجه داسي لوستل خوښوي، ددي دواړو څه حکم دی؟

**جواب**: په درمختارکي دي: ويجتنب المنکرات هذلفة القراءة وترك تعوذ وتسمية وطمانية الخ ([3]) يعني دقرآن کريم په ختم کي دي له منکراتو څخه ځان وژغوري، يعني له ژر ژر لوستلو څخه او داعوذ بالله او بسم الله او اطمينان له پريښودلو څخه، له دي څخه معلومه سوه چي داسي لوستل امر منکر دی، چي دثواب پرځای دګناه سبب ګرځي. فقط

**دهيريدلو په وجه په خاموش کيدلوسره فکر کول څنګه دي؟ سوال**: (١٧٨۵) [١] ځينو حافظانو ته په لوستلو لوستلو کي هيره ورسي، نو کله دقيام په حال کي چپ سي او په فکر کي سي، اوکله په قاعده کي له تشهد څخه مخکي يا له تشهد څخه وروسته فکر کوي، ددي څه حکم دی؟

**دهيرولو په مهال له يوې او بلي خوا ويل جائز دي اوکه نه؟ سوال**: (١٧٨٦) [٢] له ځينو حافظانو څخه چي په لوستلو کي هيره وسي، نو پته خوله کيږي نه ، ليکن کله له يوه

---

([1]) ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٢٢، ط.س. ج٢ ص۴٧. ظفير

([2]) عن معاوية رضی الله عنه أن النبی صلی الله عليه وسلم نهی عن الأغلوطات رواه ابوداؤد (مشکوة کتاب العلم ص٣۵). ظفير

([3]) الدر المختار علی هامش ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٢٣، ط.س. ج٢ ص۴٧. ظفير

سورت څخه اوکله له بل څخه اخوا دیخوا لوستل کوي که چیري وریاد سي نو بیا سم لوستل شروع کړي او که وریاد نسي نو ترڅه وخته پریشاني وروسته رکوع وکړي او لمونځ ختم کړي، لیکن که ورته یادسي اوکه نه سي په دواړو صورتونو کي هغوی سجده سهوه کوي ایا سجده سهوه کول پکار دي اوکه نه؟

**جواب**: [١-٢] په دي دواړو صورتونو کي سجده سهوه کول پکار دي: والحاصل أنه إختلف في التفكر الموجب للسهو فقيل ما لزم منه تأخير الواجب اوالركن عن محله بأن قطع الإشتغال بالركن او الواجب قدر اداء ركن وهو الأصح وقيل مجرد التفكر الشاغل للقلب وإن لم يقطع الموالات الخ [1]. فقط

**<u>په تراویحو کي په غلطي فتح ورکولو سره پریشانه کول</u>**: **سوال**: (١٧٨٧) ځیني زاړه حافظان نوي حافظ ته په تراویحو کي غلطه فتحه ورکوي ترڅو هغه پرېشانه سي، ددي څه حکم دی؟

**جواب**: دا هم له هغو اغلوطاتو څخه ده چي ممانعت یې په حدیث شریف کي راغلي دی [2]. فقط

**<u>چي نیت وتړي او فتح ورکړي بیا نیت مات کړي ددې څه حکم دی؟</u>** **سوال**: (١٧٨٨) ځیني حافظان له لمانځه څخه وتلی ناست وي دبل حافظ لوستل اوري، کله چي له هغه څخه هیر سي نو دی په تلواره په صف کي یا صف ته ځیرمه نیت وتړي او فتحه ورکړي، بیرته سمدستي نیت مات کړي، او کیني، ځیني له خدایه نه ویریدونکي په دي صورت کي داسي هم کوي چي له اوداسه پرته یا داوبو له شتوالي سره سره تیمم ووهي، او بیا نیت وتړي او فتحه ورکړي، په دي دواړو صورتونو کي دفتحه ورکوونکي او اخستونکي څه حکم دی؟

**جواب**: که چیري دنیت له تړلو وروسته ښودنه وکړي نو دقاري په لمانځه کي څه خلل نه راځي، لیکن دی به په نیت ماتولو ګنهګاریږي، او قضا به پرلازمیږي، او څوك چي له اوداسه پرته فتحه ورکړي، یا داوبو په شته والي کي تیمم ووهي او فتحه ورکړي او قاري هغه فتحه واخلي نو دهغه لمونځ فاسد سو، او دمقتدیانو دا هم فاسد سو. [3] فقط

**<u>دتراویحو په مهال په پروته پروته خبري کول</u>**: **سوال**: (١٧٨٩) ځیني مقتدیان داسي کوي چي کله حافظ په تراویحوکي دوه دري یا زیاتي پاري وایي نو دوی له صف څخه لیري

---

[1] رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٢ تحت قوله واعلم أنه إذا شغله الخ. ظفير

[2] عن معاوية قال أن النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن الأغلوطات رواه ابوداؤد (مشكوة كتاب العلم ص٣٥). ظ

[3] وإن فتح على إمامه تفسد (عالمگيري كشوري باب سابع مايفسد الصلوة ج١ ص٩٠). ظفير

دلمانځه بهر پته خوله ناست وي؟ یا پروت وي، یا پټي پټي خبري اتري کوي، لیکن دخاموشي په صورت کي هم دقرآن کریم اوریدل دهغوی هدف هیڅکله نه وي، نو دوی ته به داوریدو ثواب په لاس ورځي اوکه نه او په شریعت کي ددي فعل څه حکم دی؟

**جواب**: ښکاره ده چي خبري اتري کول په داسي وخت کي ګناه ده، او ثواب باطلوي او چپه ناسته یا پروته اګر که داوریدلو په نیت نه وي لیکن غوږ ته یې اواز راځي، نو داوریدلو ثواب به ورته حاصل سي. (١) فقط

**چي یو حافظ په دوو جوماتونو کي تراویح ورکوي**: **سوال**: (۱۷۹۰) ځیني حافظان داسي کوي چي په یوه جومات کي تراویح ورکړي بیا همغه وخت بل جومات ته ځي او هلته بیا تراویح ورکوي ددي څه حکم دی؟

**جواب**: داسي کول مکروه دي، که څه هم تراویح کیږي. (٢) (په عالمګیري کي یې ناجائز لیکلي دي او پرهمدي باندي فتوی ده. ظفیر)

**دقرآن کریم په ختم کي له آلمّ څخه تر مُفْلِحُوْنَ پوري لوستل مستحب دي**: **سوال**: (۱۷۹۱) مولانا عبدالحی صاحب رحمه الله په تراویحو کي تر: هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ پوري لوستل جائز لیکلي دي یعني چي کله قرآن کریم ختم کړي نو په وروستني رکعت کي دي له آلمّ څخه تر مفلحون پوري ووایي او په فتاوی عالمګیري کي یې هم دختم ترتیب همداسي لیکلي دی، په دي هکله صحیح خبره څنګه ده، او له یوه آیت څخه بل آیت ته دانتقال څه حکم دی؟ ځینو خلګو تر: مفلحون پوري لوستلو ته مکروه ویلي دي؟

**جواب**: مولانا عبدالحی صاحب رحمه الله چي په دي هکله څه لیکلي دي هغه صحیح دي، حنفي فقهاؤ هم دقرآن کریم په ختم کي یوازي همدا صحیح بللي دي، چي دسورت فاتحي دپیل په ایاتونو باندي ختم وکړي ځکه چي دا له حدیث شریف څخه ثابت دي، له دي پرته دبیلو بیلو ایاتونو لوستل یې مکروه لیکلي دي، کما سیجئ عن شرح المنیة لأن النبی صلی الله علیه وسلم قال خیر الناس الحال المرتحل ای الخاتم المفتتح إنتهی شرح منیه کبیري. (٣) فقط

(١) یجب الإستماع للقراءة مطلقا (درمختار) ای في الصلوة وخارجها (رد المحتار فصل في القراءة ج١ ص٥٠٩، ط.س. ج١ ص٥٤٢). ظفیر

(٢) په عالمګیري کي یې دذکر سوي سوال جواب عدم جواز لیکلي دی، الفاظ یې دادي: إمام یصلي التراویح في مسجدین في کل مسجد علی الکمال لایجوز کذا في محیط السرخسي الفتوی علی ذلك کذا في المضمرات (عالمګیري مصري ج١ ص١٥٩، ط.س. ج١ ص١١٢، باب ا لتراویح). ظفیر

(٣) وګورئ: رد المحتار باب صفة الصلوة فصل في القراءة تحت قوله وأن یقرأ منکوسا إلا إذا ختم الخ ج١ ص٥١٠، ط.س. ج١ ص٥٤٧. ظفیر

**تيري سوي تراويح له وترو وروسته كولاي سي؟ سوال**: (١٧٩٢) زيد وايي چي دكم سړي بعضی تراويح پاته وي، هغه له امام سره وتر كولاى سي، له وترو وروسته دي بيا پاتي تراويح وكړي، عمر وايي چي مخكي دي تراويح پوره كړي او بيا دي وتر وكړي، تر څو چي تراويح پوره نه سي په وترو كي دي له امام سره نه يوځاى كيږي، په درمختار او نوروكي يي دتراويحو وخت بعد العشاء بيان كړى دى، كه له وترو څخه مخكي وي او كه وروسته، دهدايي شارح دهمدي قول تصديق كړى دى، په شامي كي هم دهمدي قول تصديق دى، دمسئلي تحقيق څنګه دى؟

**جواب**: په درمختار كي دي: فلو فاته بعضها وقام الإمام إلى الوتر اوتر معه ثم صلى مافاته (¹) يعني كه چيري څه تراويح ورڅخه تيري وي، او امام دوترو لپاره ودريدى نو وتر دي له امام سره وكړي او وروسته دي نورى تراويح پوره كړي، اوپه درمختار كي دي: ووقتها بعد صلاة العشآء الى الفجر قبل الوتر وبعده في الأصح (²) ددې حاصل دادي چي دتراويحو وخت دماخستن دلمانځه څخه وروسته تر سهاره پوري دى، له وترو مخكي او وروسته په اصح مذهب كي، نو كله چي ددي مذهب اصح والى معلوم سو نو اوس دتردد هيڅ ځاى نسته. فقط

**په تراويحو كي مسنون قرآءت**: **سوال**: (١٧٩٣) درمضان په اوله شپه حافظ دقرآن كريم اورولو ته تيار سو يوه مقتدي انكار وكړى چي موږ قرآن كريم نه اورو، امام او مقتديانو هغه ته جواب وركړى چي ته يي نه اوري موږ يي اورو، نو هغه سړي وويل چي په كوچنيو سورتونو باندي لمونځ وركوه اعتراض كوونكى سړى تكړه او تندرست دى، په دي صورت كي شرعا څه ارشاد دى؟

**جواب**: فقهاؤ ليكلي دي چي په دي زمانه كي غوره دومره لوستل دي چي پرمقتديانو بوج نه وي. نو دذكر سوي سړي قول به هم په همدي باندي حمل كيږي چي دمقتديانو له حال سره سم په تراويحو كي سورتونه بايد وويل سي، داسي نه ده چي دقرآن كريم له اوريدلو څخه انكار كوي، بلكه مطلب دادى چي په تراويحو كي پوره قرآن كريم مه ختموه بلكه په سورتونو سره تراويح كوه، نو په دي كي څه قباحت نسته. په درمختار كي دي: وفي فضائل رمضان للزاهدي أفتى أبوالفضل الكرماني والوبري أنه إذا قرأ في التراويح الفاتحة واية أو ايتين لايكره ومن لم يكن عالما بأهل زمانه فهو جاهل الخ. (³)

---

(¹) الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٥٩، ط.س. ج٢ ص۴۴. ظ
(²) ايضا ج١ ص٦٥٩، ط.س. ج٢ ص۴۴. ظفير
(³) الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح باب الوتر والنوافل ج١ ص٢٢٢، ط.س. ج٢ ص۴٧. ظ

**لس لس رکعته په دوو جوماتونوکي په امامتي سره کول څنګه دي؟ سوال**: (۱۷۹۴) په يوه جومات کي خطيب امام تاکل سوی دی، هغه تراويح په داسي طريقه ورکوي چي دماسخوتن فرض بل سړی ورکوي، او دتراويحو په لسو رکعتونوکي پاو باندي يوه پاره حافظ صاحب وايي نوري تراويح په سورت سورت سره په مقتديانو کي يو کس ورکوي، له دي څخه وروسته دغه حافظ صاحب يوه بل جومات ته ځي، هغه هلته هم همدغه پاو باندي پاره په لسو رکعتو کي په امامتي سره وايي، دا صورت جائز دی؟

**جواب**: قال في العالمگيرية إمام يصلي التراويح في مسجدين في كل مسجد على الكمال لايجوز كذا في محيط السرخسي ([1]) له دي روايت څخه معلومه سوه چي لس لس تراويح په دوو جوماتونوکي ورکول صحيح دي، ليکن دقرآن کريم دختمولو په معاوضه کي څه اخيستل صحيح نه دي، كما ورد: إقرءوا القرآن ولا تأكلوا به. فقط

**ښځي دپردي تر شا په سړي پسي اقتدا کولای سي**: **سوال**: (۱۷۹۵) که چيري يو امام فرض لمونځ يا تراويح ورکوي او زنانه دپردي يا ديوال شاته دهغه په اقتداء کي لمونځ کوي، نو دښځو لمونځ جائز دی اوکه نه؟ او دامام په لمانځه کي څه خلل راځي اوکه نه؟

**جواب**: ددغو مستوراتو لمونځ صحيح دی. ([2]) فقط

**په ۴ څلورو رکعتو تراويحو کي يې لومړی قعده ونکړه**: **سوال**: (۱۷۹۶) که چيري امام په تراويحو کي دريم رکعت ته پورته سو، او څلور واړه رکعتونه يې پوره کړل، ليکن په دوو رکعتو کي يې قعده ونه کړه، نوپه دي صورت کي به دسجده سهوي په کولوسره دوه رکعته وسي اوکه څلور رکعته؟

**جواب**: په درمختار او شامي کي دتراويحو په بيان کي دا په ډاګه دي چي په داسي صورت کي دوه رکعته تراويح کيږي: فلو فعلها بتسليمة فإن قعده لكل شفعة صحت بكراهة وإلا نابت عن شفع واحد به يفتى قوله به يفتى لم أر من صرح بهذا اللفظ هنا وإنما صرح به في النهر عن الزاهدي فيما لو صلى اربعا بتسليمة وقعدة واحدة الخ شامي ص۴۷۴. ([3]) فقط

**بسم الله په تراويحوکي لوستل څنګه دي؟ سوال**: (۱۷۹۷) دپيښور په علاقه کي دتراويحو

---

([1]) عالمگيري كشوري فصل في التراويح ج۱ص۱۱۵، ط. ماجدية ج۱ ص۱۱۲. ظفير

([2]) كما تكره امامة الرجل لهن في بيت ليس معهن رجل وغيره لامحرم منه الخ اما إذا كان معهن واحد ممن ذكر أو أمهن في المسجد لايكره. (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الإمامة ج۱ ص۵۲۹، ط.س. ج۱ ص۵۶۶). ظفير

([3]) رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج۱ ص۲۲۰ – ۲۲۱، ط.س. ج۲ ص۴۵. ظفير

په ختم کي ديوه سورت په شروع کي هم بسم الله الرحمن الرحيم نه وايي او وايي چي دپيغمبر ﷺ او صحابه کرامو څخه جهر ثابت نه دی، او دقرآن جزء کيدل دجهر مستلزم نه دي، حال داچي دهندوستان عالمان يي يو ځل په جهر سره وايي، او دمولانا عبدالحی (رحمه الله) په فتاوی کي هم يو ځل جهر لوستل مسنون ګرځول سوي دي ددي جهر څه وجه ده؟

**جواب**: جهر دقرآن کريم په يوه ځای کي ددي لپاره دي چي دا دټول قرآن کريم جزء ده، او چي په يوه ځای کي هم جهر ونه سي نو داوريدونکو قرآن اوريدل به پوره نه سي، نو دجهر دليل همدغه دی، که نه وي ظاهره ده چي جزء دقرآن کريم کيدل جهر لره مستلزم نه دي، ليکن کله چي دټول قرآن کريم ختم په تراويحوکي مسنون دی، له دي امله جهر بالتسميه (يعني بسم الله په زوره ويل) هم سنت بلل کيږي. (١) فقط

**په ترويحه کي تسبيحات پټ ويل مناسب دي**: **سوال**: (١٧٩٨) دتراويحو له هرو څلورو رکعتو وروسته چي تسبيح ويل کيږي، سبحان ذي الملك والملكوت الخ دا به امام او مقتديان جهرا وايي اوکه سرا، او دامام او مقتديانو په حکم کي څه فرق سته؟

**جواب**: ذکر سوي تسبيح پټ ويل غوره دي جهر کول خاصکر مفرط کول نه ښايي، امام دي هم په کراره وايي او مقتديان هم کما في الحديث: يا أيها الناس إربعوا على أنفسكم فانكم لاتدعون أصم ولا غائبا الحديث. فقط. (٢)

**په تراويحو کي دخوشحالۍ له امله حافظ ته نذرانه ورکول څنګه دي؟** **سوال**: (١٧٩٩) يو مولوي صاحب ډير ديندار پرهيزګار حافظ دقرآن دی هغه هر کال په رمضان کي ديوه کلي جوماټ ته ورځي، او په تراويحو کي قرآن کريم اوروي، له ختم څخه وروسته مقتديان دخپل وس مطابق له جبر او زورونې پرته حافظ صاحب ته څه ورکوي يعني نغدي روپۍ، او حافظ صاحب يي هم په خوښۍ سره قبلوي، او وايي چي زما مقصود دنيا او پيسي ګټل نه دي، زما مقصود خو ثواب او سنت مؤکد ادا کول دي، او دقرآن مجيد يادابنت دی دروپو سته والی او نيستوالی زما په وړاندي برابر دی، او دتفسير عزيزي له عبارت څخه جواز داجرت على العبادات معلوميږي، هغه چي له سوال سره درج دی، په دي صورت کي شرعا څه حکم دی؟

**جواب**: فقهاؤ دا قاعده ليکلي ده، چي المعروف كالمشروط كذا في الشامي وغيره، نو

---

(١) وهی (ای البسملة) آية واحدة من القرآن كله (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٥٨، ط.س. ج١ ص٤٩٠). ظفير

(٢) مشكوة المصابيح باب ثواب التسبيح الخ فصل اول ص٢٠١. ظفير

که چیري دغه حافظ صاحب ته دامعلومه وي چي ده ته به په دي اورولو باندي پیسي ورکول کیږي او اخستل ورکول معروف وي، نو دغه حافظ صاحب ته دقرآن له ختمولو وروسته څه اخستل صحیح نه دي، او په دي کي لوستونکي او اوریدونکي دواړه دثواب څخه محروم دي (١) او دحضرت شاه عبدالعزیز (رحمه الله) تحریر په هغه حالت باندي محمول دی چي په هغه حالت کي څه اخستل او ورکول معروف نه وي تر څو دشاه صاحب دکلام او دفقهاؤ په عباراتو کي تعارض را نه سي. فقط

**آیا په تراویحو کي دهر سورت په پیل کي بسم الله جهرا ویل پکار دي؟ سوال:** (۱۸۰۰) یو مولوي صاحب حافظ قرآن هم دی، او قاري هم دی، هغه په تراویحو کي له فاتحي څخه وروسته په هر سورت باندي بسم الله په زوره وایي، او وایي چي په دي کي نه څه کراهت سته او نه قباحت، دپه زوره لوستلو په ثبوت کي هغه وایي چي کله په تراویحو کي تکمیل دقرآن مقصود او سنت مؤکده دی ځکه نو ترڅو چي په تراویحو کي بسم الله په هر سورت کي په زوره ونه لوستل سي نو اختلاف به دمقتدیانو په هکله رفع نه سي، او اختلاف هم یوازي دمجتهدینو نه دی، بلکه دقراءت دامامانو هم دی، نو ایا په هر سورت باندي له فاتحي څخه وروسته په زوره بسم الله ویل څنګه دي، او په تسمیه کي حنفي قاري ته دخپلو مجتهدینو په اتباع سره کرار ویل پکار دي، اوکه دقراءت دامامانو په اتباع سره په زوره ویل پکار دي؟

**جواب:** په درمختار کي دي: کما تعوذ سمی الخ سرا الخ قوله سرا الخ قال في الکفایة عن المجتبی والثالث أنه لایجهر بها في الصلوة عندنا خلافا للشافعي وفي خارج الصلوة إختلاف الروایات والمشائخ في التعوذ والتسمیة قیل یخفي التعوذ دون التسمیة والصحیح أنه لیتخیر فیهما ولکن یتبع امامه من القراء وهم یجهرون بهما إلا حمزة فانه یخفیها اهـ شامي (٢) ج١ ص۳۲۹. له دي څخه معلومه سوه چي په لمانځه کي دننه دحنفیه وو په نزد بالإتفاق سرا لوستل پکار دي په دي کي په حنفیانو کي دهیچا اختلاف نسته ، او اطلاق دصلوة شامل دی فرض لمانځه، نفل او تراویحو ته، او دا هم ددي عبارت څخه څرګنده سوه، چي دیوه امام دقراءت اتباع دلمانځه څخه بهر پکار ده نه په لمانځه کي، او پردي باندي موږ خپل استادان عالمان احناف پیدا کړیدي. فقط

---

(١) وإن القراءة بشیئ من الدنیا لاتجوز وإن الآخذ والمعطي اثمان لأن ذلك یشبه الاستیجار علی القراءة ونفس الأستیجار علیها لایجوز فکذا ما أشبه الخ ولا ضرر في جواز الإستیجار علی التلاوة (رد المحتار باب قضاء الفوائت مطلب بطلان الوصیة ج١ ص۲۸۷، ط.س. ج۲ ص۷۳). ظفیر

(٢) رد المحتار باب صفة الصلاة ج١ ص۴۵۷، ط.س. ج١ ص۷۹۰. ظفیر

**دقرآن په ختم کي نور اياتونه لوستل څنګه دي؟ سوال**: (۱۸۰۱) په رمضان شريف کي دقرآن کريم په ختم کي حافظ صاحب په ۱۹ رکعتونو کي قرآن کريم ختم کړی، او په شلم رکعت کي له آلمّ څخه تر مفلحون پوري دلوستلو څخه وروسته په همدغه رکعت کي دا اياتونه ولوستل: إن رحمة الله قريب من المحسنين. د: دعواهم فيها سبحانك اللهم وتحيتهم فيها سلام الخ څخه تر: عمًّا يصفون پوري، او بيايي رکوع وکړه دا جائز دي او که بدعت دي؟

**جواب**: دا خو په ځينو روايتونو کي راغلي دي چي دقرآن کريم له ختمولو وروسته دي له آلمّ څخه شروع کړه سي، او تر مفلحون پوري دي ولوستل سي، او فقهاؤ هم ددي اجازت ورکړی دی، او دا مستحب ده (١) ددي څخه پرته نور اياتونه په دي وخت کي لوستل منقول نه دي، ځکه يې نو پرېښودل مناسب دي. فقط

**دښځو دتراويحو جماعت**: **سوال**: (۱۸۰۲) يو څو دقرآن مجيد حافظاني دا غواړي چي په تراويحو کي قرآن مجيد په خپل جماعت سره ختم کړي، دهغوی دا فعل څنګه دی؟

سوال: (۱۸۰۳) داخترونو لمونځ هم څو ښځي په يو ځای کولای سي او که نه؟ آيا ښځه دښځو امامه جوړيدای سي؟

**جواب**: دښځو دا ډول امامت چي ښځه يې امامه سي مکروه دی، که هغه دتراويحو جماعت وي او که له تراويحو پرته بل وي، په ټولو کي دښځي امامت دښځو لپاره مکروه دی. (٢) فقط

**ديوی مياشتي او پنځلسو کالو دهلک امامت په تراويحو کي صحيح دی او که نه؟ سوال**: (۱۸۰۴) دکم هلك عمر چي درمضان په اول تاريخ څوارلس کاله او يوولس مياشتي کيږي، هغه ته دتراويحو امامت جائز دی او که نه؟ او په وترو کي دهغه امامت جائز دی او که نه؟

**جواب**: مسئله داده چي که چيري په هلك کي بله نښه دبلوغ لکه احتلام او انزال ونه موندل سي، نو پوره دپنځلسوکالو په کيدلو سره شرعا هغه بالغ ګڼل کيږي، نوهغه هلك

---

(١) ويكره الفصل بسورة قصيرة وأن يقرأ منكوسا إلا إذا ختم فيقرأ من البقرة (درمختار) قال في شرح المنية وفي الولوالجيه من يختم القرآن في الصلوة إذا فرغ من المعوذتين في الركعة الأولى يركع ثم يقرأ في الثانية بالفاتحة وشيء من سورة البقرة لأن النبى صلى الله عليه وسلم قال خير الناس الحال المرتحل اى الخاتم المفتتح اهـ (رد المحتار فصل في القراءة ج١ ص٥١٠، ط.س. ج١ ص٥٤٦). ظفير

(٢) ويكره تحريم جماعة النساءء ولو في التراويح (درمختار) أفاد أن الكراهة في كل ما تشرع فيه جماعة الرجال فرضا او نفلا (رد المحتار باب الإما مة ج١ ص٥٢٨، ط.س. ج١ ص٥٧٥). ظفير

چي عمر يي درمضان په اوله څوارلس كاله او يوولس مياشتي دی، دهغه امامت په تراويحو او وترو كي صحيح نه دی، ځكه چي داحنافو صحيح مذهب همدا دی چي دنابالغه هلك امامت په فرائضو نوافلو او واجباتو كي صحيح نه دی، (١) كذا في الدرالمختار والشامي (البته كه چيري دبلوغ څه بله نښه پيداسي، نو بيا به صحيح وي. ظفير)

**په ترويح كي په لوړ اواز سره صلوة ويل څنګه دي؟ سوال: (١٨٠٥)** دتراويحو په لمانځه كي له هرو څلورو ركعتو وروسته په ناسته يو څو دقيقي درودونه ويل كيږي، دحنفيانو په نزد دا جائز دي اوكه نه؟

**جواب:** دتراويحو په لمانځه كي له هرو څلورو ركعتو وروسته كښيناستل او تسبيح، تهليل او درود شريف ويل مستحب دي (٢) هر يو دي ځانته تسبيح او تهليل او نور وايي، په ګډه اوپه اواز يوځای كولو سره لوستل ضروري نه دي، بلكه دا ښه هم نه دي. فقط

**په تراويحو كي ددوو دوو ركعتو نيت كول په كار دي: سوال: (١٨٠٦)** په تراويحو كي ددوو دوو ركعتو نيت كول ښايي اوكه دڅلورو څلورو؟

**جواب:** په تراويحو كي په دوو دوو ركعتو باندي سلام ګرځول غوره دي كما في الدر المختار. (٣) فقط

**په تراويحو كي به دتلاوت سجده په ركوع كولو سره ادا سي اوكه نه؟ سوال: (١٨٠٧)** كه چيري په تراويحوكي دركوع په ختميدلو باندي دتلاوت سجده راسي، نو په ركوع كي به سجده ادا سي اوكه نه؟ اوكم سړی چي تر لمانځه بهر سجده وكړي دهغه سجده به ادا كيږي او كه نه؟

**جواب:** كه چيري په ركوع كي دسجدي نيت وكړي نو دتلاوت سجده ادا كيږي، (١) او په سجده كي له نيت څخه پرته هم ادا كيږي. (٢) (په تراويحو كي دتلاوت سجده په ركوع كي كول نه ښايي، ظفير). فقط

---

(١) ولايصح اقتداء رجل بامرأة وخنثى وصبي مطلقا ولو في جنازة ونفل على الأصح (درمختار) والمختار أنه لايجوز في الصلوات كلها (رد المحتار باب الإمامة ج١ ص٥٣٩، ط.س. ج١ ص٥٧٢). ظفير

(٢) ويجلس ندبا بين كل اربعة بقدرها وكذا بين الخامسة والوتر ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلاة فرادى (الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٦١ ، ط.س. ج٢ ص٤٦). ظفير

(٣) وهى عشرون ركعة بعشر تسليمات فلو فعلها بتسليمة فان قعد بكل شفع صحب بكراهة والا نابت عن شفع واحد به يفتى (الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٦٠، ط.س. ج٢ ص٤٥). ظفير

**بسم الله په زوره لوستل څنګه دي؟ سوال:** (۱۸۰۸) ایا داسي روایت دابن مسعود ﷺ سته چي بسم الله دهر سورت سره نازله سوي ده، احتیاطا دي په تراویحو کي په جهر سره په هرسورت کي ولوستل سي، پرته دبسم الله څخه که په جهر سره وویل سي نوګنهکاربه سي؟

**جواب:** په ډیرو روایتونو کي دا راغلي دي چي رسول الله ﷺ به قراءت دالْحَمْدُ څخه پیل کوی ددي څخه معلومه سوه چي بسم الله به یې په زوره نه ویله، همدا مذهب دامام ابوحنیفه (رحمه الله) دی، نو ځکه دهر سورت سره په زوره لوستل نه ښایي، یواځي په ټول قرآن کریم کي دي دیوه سورت سره یو ځل په زوره ووایي (۳) والتفصیل في کتب الفقه. فقط

**که دتراویحو لمونځ دڅلورو په نیت باندي وکړل سي، نو داولي قعدې او درود څه حکم دی؟**

**سوال:** (۱۸۰۹) که چیري په تراویحو کي دڅلورو رکعتو نیت وکړل سي، نو په اوله قعده کي له تشهد څخه وروسته درود شریف او په دریم رکعت کي له فاتحې څخه مخکي ثنا لوستل په کار دي اوکه نه؟

**جواب:** په کار دي کما في الدرالمختار: وفي البواقي من ذوات الأربع یصلي علی انلبي ﷺ ویستفتح ویتعوذ الخ (۴) تراویح اګر که سنت مؤکده دي، لیکن څلور رکعته په یوه سلام سره کول دا سنت مؤکده نه دي او دماپښین څلور کعته داسي نه دي بلکه هغه په یوه سلام سره کول سنت مؤکده دي، او په تراویحو کي غوره طریقه پردوو دوو رکعتو باندي سلام ګرځول دي؟ په درمختار کي دي: التراویح سنة مؤکدة لمواظبة الخلفاء الراشدین الخ وهي عشرون رکعة بعشر تسلیمات (۵) الخ. فقط

**په دیرش کاله عمر لروونکي پسي تراویح کول بلا کراهته صحیح دي؟ سوال:** (۱۸۱۰) دیوه حافظ ږیره او بریت نسته (کوسه دی) او دهغه عمر دیرش کاله دی، په هغه پسي لمونځ تراویح او نورصحیح دي اوکه نه؟

---

(۱) وتؤدی برکوع صلاة إذا کان الرکوع علی الفور من قراءة آیة او ایتین وکذا الثلاث علی الظاهر کما في البحر أن لو نواه ای کون الرکوع لسجود التلاوة علی الراجح تؤدی بسجود کذلك ای علی الفور وان لم ینو الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة ج۱ ص۷۳۳ ، ط.س. ج۲ ص۱۱۱). ظفیر

(۲) ولو تلاها في الصلاة سجدها فیها لا خارجها کمامر (ایضاً ج۱ ص۷۲۲، ط.س. ج۲ ص۱۱۰). ظفیر

(۳) وکما تعوذ سمي الخ سرا (درمختار) قال في الکفایة عن المجتبی والثالث أنه لایجهر بها في الصلوة عندنا الخ (رد المحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۵۷ ، ط.س. ج۱ ص۴۹۰). ظفیر

(۴) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۲۳۳، ط.س. ج۲ ص۱۲. ظفیر

(۵) ایضا مبحث التراویح ج۱ ص۲۲۰ ، ط.س. ج۲ ص۴۳. ظفیر

**جواب**: په هغه پسي په لمونځ کولو کي هيڅ کراهت نسته لمونځ له کراهته پرته په هغه پسي صحيح دی. (١) فقط

**په تراويحوکي داتو رکعاتو حديث غوره دی او که دشلو رکعتو؟** **سوال**: (١٨١١) دتراويحو په رکعتونو کي ددواړو حديثونو مقابله څه ډول ده، داتو رکعتو حديث چي هغه دامام محمد بن نصر مروزي په کتاب قيام الليل کي دی او شل رکعته دمصنف ابن ابي شيبه عام او مشهور حديث دی؟

**جواب**: دشلو رکعتونو حديث امت مرحومه معمول به ګرځولی دی لهذا همدغه دعمل کولو لپاره غوره دی، او سنت شل رکعته تراويح دي (٢). فقط (په څلورو امامانوکي دهيچا په وړاندي هم له شلو رکعتونو کمي تراويح نسته، شل يا ددي څخه ډير رکعتونه دي، په اتو رکعتو باندي عمل يوائي دپاکستان اوهندوستان دغير مقلدو او لامذهبو دی، او هغه هم يوازي دسلو کالو راهيسي، که نه وي په ټول امت کي په شلو يا په ډيرو رکعتو باندي عمل جاري پاته سوی دی او اوس هم دی. ظفير)

**په دوکانونو کي تراويح کول څنګه دي؟** **سوال**: (١٨١٢) که دبازار لمونځ کوونکي خلګ يوازي دخپل کاروبار دنقصان دبيري له امله ځانته ځانته دتراويحو جماعت وکړي دهغوی دا عمل څنګه دی؟

**جواب**: دتراويحو لمونځ په جومات کي کول، او دتراويحو ختم په جومات کم اوريدل سنت دي، له عذره پرته جومات ته نه راتلل او په دوکانو کي تراويح کول سنت پريښودل دي. (٣) فقط

**دچا څخه چي تراويح پاته وي هغه دي لومړي وتر په جمعه وکړي بيا دي تراويح وکړي؟**

**سوال**: (١٨١٣) يو سړی دی چي دهغه څخه ځيني تراويح فوت سوي دي، اوپه ځينو کي

---

(١) سئل العلامة الخ عن شيخ بلغ من السن عشرين سنة وتجاوز حد الإنبات ولم ينبت عذاره فهل يخرج بذلك من حد الأمردية الخ فأجاب بالجواز من غير كراهة وناهيك به قدوة (ردالمحتار باب الإمامة ج١ ص٥٢٥، ط.س. ج١ ص٥٦٢). ظفير

(٢) التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين الخ هی عشرون ركعة بعشر تسليمات الخ (درمختار) وهی عشرون ركعة هو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقا وغربا (رد المحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٢٠، ط.س. ج٢ ص٤٣) ددي مسئلي لپاره دي درکعات تراويح په نامه رساله دشيخ حضرت الاستاذ مولانا حبيب الرحمن صاحب الاعظمي وکتل سي چي مفتاح العلوم مئوناته بنجن ضلع اعظم ګړه خپره کړي ده. ظفير

(٣) والجماعة فيها سنة على الكفاية في الأصح فلو تركها أهل مسجد أثموا، لا لو ترك بعضهم وكل ما شرع بجماعة فالمسجد فيه افضل (الدرالمختار) وإن صلى أحد في البيت بالجماعة لم ينالوا فضل جماعة المسجد (رد المحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٢٠، ط.س. ج٢ ص٤٥). ظفير

يي په امام پسي اقتداء وكړه، كله چي امام دوترو كولو لپاره ولاړيږي نو ددغه سړي لپاره دمذهب حنفي په رڼا كي څه حكم دی؟ ايا مخكی به په امام پسي وتر كوي او وروسته به فوت سوي تراويح كوي اوكه به لومړی تراويح كوي او بيا به وتر ځانته كوي په دي دواړو صورتونوكي غوره او افضل كم دی؟

**جواب**: ديوبنتني اصلي جواب دادی چي نوموړی سړی دي لومړی وتر په جمعه سره وكي او بيا دي فوت سوي تراويح راوګرځوي، لكی تحصل له فضيلة جماعة الوتر في رمضان كما رجحه الكمال وعليه عملنا وعمل مشائخنا وقال في رد المحتار في شرح قول الجماعة بأنه صلى الله عليه وسلم كان اوتر بهم ثم بين العذر في تأخره مثل ما صنع في التراويح فالوتر كالتراويح فكما أن الجماعة فيها سنة فكذلك الوتر. بحر وفي شرح المنية والصحيح أن الجماعة فيها افضل (١) الخ. فقط

**<u>ايا له تراويحو وروسته او له ختم څخه وروسته دعا كول مكروه دي؟</u> سوال**: (١٨١٤) په فتاوی هنديه كي دي چي په تراويحو كي او دقرآن كريم دختم په مهال دعا كول مكروه دي!

**سوال**: (١٨١٥) په جمعه سره دقرآن كريم دختميدلو په مهال دعا مكروهه ده، ځكه چي دغه ډول دعا كول دپيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه منقوله نه ده، دا دواړه مسئلي صحيح دي اوكه نه؟

**جواب**: صحيح داده چي دقرآن كريم له ختم او له تراويحو وروسته هميشه دعا كول مسنون او مستحب دي، او په حديث شريف كي دي چي دا وخت ددعا دقبليدلو دی، ځكه نو دتراويحو اوختم څخه وروسته دعا كول زموږ داكابرو مشائخو معمول دی. (٢) فقط

**<u>په هره ترويح كي دعا مسنونه ده او كه مستحبه؟</u> سوال**: (١٨١٦) دتراويحو دهر څلورم ركعت څخه وروسته دعا غوښتل جائز دي اوكه مسنون؟

**جواب**: دتراويحو دهرو څلورو ركعتو وروسته دعا غوښتل، تسبيح، تهليل او درود شريف ويل جائز او مستحب دي چي هر څه پكښي ووايي غوره دي، ديو ځانګړي امر

(١) رد المحتار مبحث التراويح قبيل باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٢٤ – ٦٢٥، ط.س. ج٢ ص٤٨. ظفير

(٢) عن معاذ بن جبل (رضى الله عنه) قال أخذ بيدي رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال إني لأحبك فقلت أنا أحبك يا رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لا تدع أن تقول في دبر كل صلوة رب أعني على ذكرك الخ (مشكوة ص٨٨) وعن ابي أمامة قال قيل يا رسول الله أى الدعاء أسمع قال جوف الليل الآخر ودبر الصلوات المكتوبات. رواه الترمذي ايضا ص٨٩. ظفير

اړتيا او تخصيص نسته (١) ليکن تسبيح لکه: سبحان ذي الملك والملكوت الخ يا سبحان الله والحمد لله ولا إله إلا الله والله أكبر لوستل ډير ښه دي، او داکابرو معمول دي. (٢) فقط

**دا خبره ناسمه ده چې څوک دشرعي عذر له امله روژه ونه نيسي نو تراويح دي هم نه کوي:**

**سوال**: (١٨١٧) زيد وايي چې کم خلګ دشرعي عذر له امله روژه نه نيسي هغوی دي دتراويحو لمونځ هرو مرو کوي، هغوی ته به ضرور ثواب ورکول کيږي، بکر وايي چې کم معذور يا نامعذور سړی چې روژه نه نيسي هغه دي تراويح هم نه کوي، بلکې څوك چې روژه نه نيسي دهغه تراويح کول نور عذاب دي؟ په دي دواړوکي دچا خبره سمه ده؟

**جواب**: دزيد خبره سمه ده، بکر غلط وايي. (٣) فقط

**نبي ﷺ څو رکعته تراويح کړيدي؟** **سوال**: (١٨١٨) پيغمبر ﷺ په آخره کې څو رکعته تراويح کړي دي؟

**جواب**: په شلو تراويحو باندي اجماع ده، او داحاديثو څخه ثابت دي، نو شل کعته تراويح کول ښايي (٤) فقط (ګران پيغمبر ﷺ هم شل رکعته تراويح کړي دي، په مصنف ابن ابي شيبه، طبراني او بيهقي کي دا حديث موجود دی: كان رسول الله ﷺ يصلي في رمضان عشرين ركعة سوى الوتر. ددي راوي عبد الله بن عباس (رضی الله عنه) دی. ظفير)

**ايا په ترويح کې نصيحت کول صحيح دي؟** **سوال**: (١٨١٩) آيا دتراويحو په ترويح کي دتسبيحاتو په ځای دحضرت لقمان نصيحتونه اورول، داستاذ اداب بيانول، او ددوزخ اوجنت يادونه کول صحيح دي؟

**جواب**: دا هم صحيح دي، ليکن غوره داده چې دغه وخت دي په تسبيح او داسي نورو باندي ونيسي. (٥) فقط

---

(١) ويستحب الجلوس بين الترويحتين قدر ترويحة الخ ثم هم مخيرون في حالة الجلوس إن شاءوا سبحوا وإن شاءوا قعدوا ساكتين. عالمگيري كشوري ج١ ص١١۴، ط. ماجدية ج١ ص١١٢). ظفير

(٢) يجلس ندبا بين كل اربعة بقدرها وكذا بين الخامسة والوتر ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلوة فرادى (درمختار) قوله بين تسبيح قال القهستاني فيقال ثلاث مرات سبحان ذي الملك والملكوت الخ (رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ ص٦٢١، ط.س. ج٢ ص۴٦). ظفير

(٣) دتراويحو لپاره روژه شرط نه ده: التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين للرجال والنساء اجماعا (الدرالمختار على هامش ردالمحتارباب الوتر والنوافل مبحث في التراويح ج١ ص٦۵٩،ط.س. ج٢ ص۴٣). ظ

(۴) وهى عشرون ركعة حكمته مساواة المكمل بعشر تسليمات هو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقا وغربا (ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٢٠، ط.س. ج٢ ص۴۵). ظفير =

**په تراويحو کي دختم په شپه له آلمّ څخه تر مفلحون پوري دلوستلو وروسته نور آياتونه ويل ثابت نه دي**: **سوال**: (١٨٢٠) ډير حافظان دختم په شپه دتراويحو په لمانځه کي له هُمُ المفلحون څخه وروسته مختلف اياتونه لکه (إنا لله وإنا إليه راجعون، وإن رحمة الله قريب من المحسنين) او نور وايي، ددي شرعا ثبوت سته او که نه؟

**جواب**: فقهاؤ يوازي دومره ليکلي دي: إلا إذا ختم فيقرء من البقرة الخ (درمختار) وفي الشامي قال في شرح المنير وفي الولوالجية من يختم القرآن في الصلوة إذا فرغ من المعوذتين في الركعة الأولى يركع ثم يقرء في الثانية بالفاتحة وبشيء من سورة البقرة لأن النبى صلى الله عليه وسلم قال خير الناس الحال المرتحل أى الخاتم المفتتح (١) الخ نو ددي څخه پرته نور څه ثابت نه دي، لهذا په دي باندي اصرار کول بدعت او مکروه دي. فقط

**ايا دتراويحو لپاره امام ټاکل صحيح نه دي؟ سوال**: (١٨٢١) لکه څنګه چي دپنځه وخته لمونځونو لپاره امام ټاکل کيږي همدغه ډول دروژي په مياشت کي دتراويحو لپاره امام ټاکل جائز دي او که نه؟

**جواب**: کله چي مسئله داسي ده چي: الأمور بمقاصدها، او داهم دي المعروف کالمشروط، نو که يوحافظ دختم کولو لپاره امام جوړ کړل سي، نو ښکاره ده چي ددي څخه مقصود امامت نه دی، بلکه دقرآن کريم ختم دی لهذا په دي باندي چي کم اجرت ورکول کيږي او اخستل کيږي، هغه دقرآن کريم دختم په وجه سره دي، يوازي دامامت په خاطر نه دي نو دقاعدي سره سم چي: لايجوز أخذ الأجرة على قراءة القرآن، په تراويحو کي دقرآن کريم په ختم باندي اجرت اخستل او ورکول جائز نه دي، قال في ردالمحتار وقال العينى في شرح الهداية ويمنع القاري للدنيا والآخذ والمعطي آثمان فالحاصل أن ما شاع في زماننا من قراءة الأجزاء بالأجرة لا يجوز الخ شامي (٢) ص٣٥ ج٥. فقط (له اجرت څخه پرته دتراويحو لپاره امام ټاکل صحيح او غوره دي البته په اجرت باندي جائز نه دي. ظفير)

**که چيري حنفيان په غير مقلد پسي تراويح وکړي نو پاتي رکعتونه په کله پوره کوي**: **سوال**: (١٨٢٢) که امام غير مقلد وي او تراويح دشلورکعتونو پرځای اته رکعته وکړي نو

---

(٥) ويجلس ندبا بين كل اربعة بقدرها وكذا بين الخامسة والوتر ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلوة فرادى (الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٦١، ط.س. ج٢ ص٤٦). ظفير

(١) رد المحتار فصل في القراءة قبيل باب الإمامة ج١ ص٥١٠، ط.س. ج١ ص٥٤٧. ظفير

(٢) ردالمحتاركتاب الإجارة مطلب في الإجارة في الطاعة ج٥ ص٤٧، ط.س. ج٢ ص٥٦. ظفير

حنفيانو ته پاتي تراويح څنګه پوره کول ښايي، ايا دامام سره وتر وکړي وروسته تراويح وکړي او که اول تراويح پوره کړي؟

**جواب**: پاتي تراويح له وترو وروسته کول کيږي، او داسي هم کولای سي چي وتر دامام سره ونه کړي تراويح پوره کړي او بيا وروسته وتر وکړي. (١) فقط

**په تراويحو کي ديوه ختم څخه ډير لوستل څنګه دي؟** **سوال**: (١٨٢٣) په تراويحو کي چي دقرآن کريم حافظان دوه دري ختمونه کوي دا څنګه دي؟ سنت مؤکد خو يوائي يو ختم دی دنورو ختمونو به څه حکم وي بل دا چي که چيري يو حافظ په ډيرو جوماتونو کي ختم کوي نو څه حکم به يي وي او دبل جومات خلګو ته به دختم ثواب رسيږي اوکه نه؟

**جواب**: په درمختارکي دي: والختم مرة سنة ومرتين فضيلة (٢) وثلاثا افضل الخ او په بل جومات کي هم دويم ختم صحيح دی، او ددويم جومات والاوو ته به ددويم ختم ثواب رسيږي. فقط

**که په دويم رکعت کي ودريدی او بيا ورته ياد سوه نو څه وکړي؟** **سوال**: (١٨٢۴) که چيري دتراويحو په دويم رکعت کي دکښيناستلو پرځای ولاړ سو بيا ور په زړه سوه نو څه وکړي؟

**جواب**: که چيري ددريم رکعت دسجدي څخه مخکي ورته ياد سي نو کښېنستل پکار دي او سجده سهوه دي وکړي، وأما النفل فيعود ما لم يقيده بالسجدة (٣). فقط

**دتلاوت سجده دلمانځه دسجدی سره ادا کيږي اوکه نه؟** **سوال**: (١٨٢۵) که چيري امام په تراويحو کي دتلاوت سجده دلمانځه دسجدي سره ادا کړه، يعني دری سجدي يي وکړي نو لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: په لمانځه کي چي کله دسجدي ايت تلاوت کړي، نو همغه وخت دتلاوت سجده کول په کار دي، اوکه يي وځنډوله اودلمانځه دسجدو سره يي وکړه نو سجده سهوه ورباندي لازمه ده، او ترسجده سهوي وروسته دلمانځه دراګرځولو اړتيا نسته، ولذا کان المختار وجوب سجود السهو لوتذکرها بعدمحلها الخ شامي (۴) باب سجود التلاوة الخ فقط (قصدا دتلاوت سجده ځنډول صحيح نه دي، دسجدي له ايت څخه وروسته

---

(١) والأصح أن وقتها بعد العشاء إلى آخر الليل قبل الوتر وبعده لأنها نوافل سنت بعد العشاء (هدايه باب النوافل فصل في قيام رمضان ج١ ص١٣۴). ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مبحث في التراويح ج١ ص٦٦٢، ط.س. ج٢ ص۴٧. ظفير

(٣) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٢، ط.س. ج٢ ص٨٣. ظفير

(۴) ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢٢، ط.س. ج٢ ص١١٠. ظفير

سمدستي يا كه بيخي ډير وي نو تر دريو اياتو وروسته دتلاوت سجده كول ضروري دي، كه نه وي گنهگار به سي، فعلى الفور لصيرورتها جزءا منها ويأثم بتأخرها (درمختار) فوجب ادائها مضيقا كما في البدائع ثم تفسير الفور عدم طول المدة بين التلاوة والسجدة بقراءة أكثر من آيتين او ثلاث حليه. الدرالمختار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢٢. ظفير)

**ايا تراويح اوږدې نه ښايي؟ سوال**: (١٨٢٢) يو سړی دتراويحو په جمعه كي دا اعتراض كوي، چي خلگ ټوله ورځ ستړي ستومانه وي ځكه نو امام ته دومره اوږده ركعتونه كول نه ښايي، نو امام ته څه كول ښايي؟

**جواب**: امام ته مختصر قراءت كول ښايي، البته يو ځل دقرآن كريم ختم په تراويحو كي كول سنت دي، روزانه دي يوه يوه پاره ويل كيږي ددي څخه كمه دي نه وي. فقط (١)

**دتراويحو له څلورو ركعتو وروسته به څه كوي؟ سوال**: (١٨٢٧) په تراويحوكي چي له څلورو ركعتو وروسته كمه ناسته كوي په دي ناسته كي تسبيح ويل ښايي او كه پټه خوله كښيناستل، او په هره ناسته كي دتسبيحاتو وروسته دعا غوښتل هم ضروري دي اوكه نه؟ په ځينو ځايونو كي دا رواج دی چي په هره ناسته كي دعا هرو مرو غواړي، او نه غوښتونكی ملامت بولي، ددي حكم څه دی؟

**جواب**: كم تسبيحات چي مأثور دي هغه دي وايي، پټه خوله دي نه اوسي، او په هره ترويحه كي دعا غوښتل ضروري نه دي، (٢) او كله چي دا ضروري وگڼل سي او پرنه كوونكي باندي يې ملامتيا ويل كيږي نو بيا يې پرېښودل لازم دي. *كما صرح به الفقهاء*. (٣)

**دتراويحو په لومړي ركعت كي په كښېنستو سو خو كله چي يې اشاره وركړه پورته سو ددې څه حكم دی؟ سوال**: (١٨٢٨/١) امام دتراويحو په لومړي ركعت كي دولاړېدو پرځای

---

(١) والختم مرة سنة ومرتين فضيلة وثلاثا أفضل ولايترك الختم لكسل القوم لكن في الإختيار الأفضل زماننا قدر ما لا ثقل عليهم وأقره المصنف وغيره (الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٢٢، ط.س. ج٢ ص٤٦). ظفير

(٢) يجلس ندبا بين كل اربعة وكذا بين الخامسة والوتر، ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلوة فرادى، (درمختار) قوله بين تسبيح قال القهستاني فيقال ثلاث مرات: سبحان ذي الملك والملكوت سبحان ذي العزة والعظمة والقدرة والكبرياء والجبروت، سبحان الملك الحى الذي لا يموت سبوح قدوس رب الملائكة والروح، لا إله الا الله نستغفر الله نسألك الجنة ونعوذ بك من النار كما في منهج العباد اهـ (رد المحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٢١ ، ط.س. ج٢ ص٤٦). ظفير

(٣) قال الطيبي من أصر على أمر مندوب وجعله عزما ولم يعمل بالرخصة فقد أصاب منه الشيطان من الإضلال (مرقاة المفاتيح ج٢ ص١٤). ظفير

دناستي نيت درلودی، چي دشا له لوري ورته اشاره ورکړل سوه نو ودريدی، ددوو رکعتو له پوره کيدلو سره يي سلام وګرځوی او سجده سهوه يي ونه کړه، دا لمونځ وسو اوکه نه؟ که چيري نه وي سوی نو له معلوميدلو وروسته دغه لمونځ په جمعه سره ادا کړي اوکه يوازي؟

**آياسجده سهوه به کوي؟ سوال**: (١٨٢٩\٢) ايا په داسي صورة کي سجده سهوه لازمه ده؟

**چي لږ څه کښېنستی او بيا ولاړ سو نو سجده سهوه لازمه ده؟ سوال**: (١٨٣٠\٣) امام دناستي په اراده الله اکبر ووايه مقتدي چي په کښينستو وليدی نو په لوړ اواز يي الله اکبر ووايه امام سمدستي ددوهم رکعت لپاره پورته سو په دي وقفه کي يي دالتحيات کم لفظ هم له خولي څخه نه وو وتلی ايا په دي وقفه سجده سهوه لازميږي؟

**په اول او دريم رکعت کي په څومره ناسته سره سجده سهوه لازميږي؟ سوال**: (٩٨٣١\٤) که چيري په لومړي او دريم رکعت کي سهوا کښينستی او بيا ودريدی نو په څومره وقفي سره به سجده سهوه لازميږي؟

**داستراحت دناستي په وجه سجده نه لازميږي**: **سوال**: (١٨٣٢\٥) داستراحت په ناستي سره سجده سهوه لازميږي اوکه نه؟

**جواب**: په دي صورت کي لمونځ وسو او درا ګرځولو اړتيا نه وه، او سجده سهوه هم لازمه نسوه، ځکه چي له يوه رکعته وروسته که چيري له لږ غوندي ناستي وروسته ودريږي نو دا هم فقهاؤ جائز ليکلي دي، دغه امام خولا پوره ناست هم نه وو چي ودريدی، نو په دي صورت کي نه سجده سهوه لازمه ده، او نه دلمانځه دراګرځولو اړتيا سته، په شامي کي دی: هذا إذا کانت القعدة طويلة أما الجلسة الخفيفة التی إستحبها الشافعي فترکها غير واجب عندنا بل هو الأفضل الخ.

[١] لمونځ يي وسو. (١)

[٢] نه لازميږي. (٢)

[٣] ددومره وقفي سره سجده سهوه نه لازميږي. (٣)

[۴] په اوږدي ناستي سره سجده سهوه لازميږي لکه دالتحيات په اندازه لوستلو سره مثلا يادي ته څيرمه، او په لږ کښينستلو سره سجده نه لازميږي. (۴)

(١) ردالمحتار باب صفة الصلوة قبيل مطلب مهم في تحقيق متابعة الإمام ج١ ص۴٣٨، ط.س. ج١ ص۴٢٩. ظ

(٢) ايضا. ط.س. ج١ ص۴٢٩. ظفير

(٣) ايضا. ط.س. ج١ ص۴٢٩. ظفير

(۴) وکذا القعدة الأخيرة في آخر الرکعة الأولی والثالثة فيجب ترکها ويلزم من فعلها ايضا تأخير القيام إلی =

[۵] په دي سره سجده سهوه نه لازميږي. ([1])

**په تراويحو کي له ځينو اياتونو وروسته ځيني کلمات ويل**: **سوال**: (۱۸۳۳) په تراويحو کي به حافظ صاحب دځينو اياتونو په ختميدلو سره په لمانځه کي ځيني عربي غير قرآني الفاظ ويل، دساري په توګه دسورت مرسلات داخري ايت: فَبِاَيِّ حَدِيْثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُوْنَ، څخه وروسته به يي، آمنَّا بالله ويل، په دې سره لمونځ فاسديږي اوکه نه؟

**جواب**: حنفيان (عالمان) په لمانځه کي ددا راز دعاګانو څخه منع فرمايي، ليکن که چيري په نوافلو کي يي داسي وکړل نو لمونځ نه فاسديږي. ([2]) او تراويح هم نه فاسديږي. فقط

**يو سړي په تراويحو کي دهرسورت په پيل کي بسم الله په جهر سره وايي ددې څه حکم دی؟**

**سوال**: (۱۸۳۴) زيد دتراويحو په لمانځه کي دهر سورت په پيل کي بسم الله زوره وايي، ددي شرعي حکم څه دی؟

**جواب**: دحنفيانو په وړاندي په لمانځه کي بسم الله په زوره ويل نسته، پټ ويل سنت دي که تراويح وي او که بل لمونځ البته دلمانځه څخه بهر دي په جهر او اخفاء کي دقراءو په مينځ کي دخپل امام پيروي کوي، په شامي کي دي: والثالث أنه لا يجهر بها في الصلاة عندنا خلافا للشافعي وفي خارج الصلاة اختلاف الروايات والمشايخ في التعوذ والتسمية قيل يخفي التعوذ دون التسمية والصحيح أنه يتخير فيهما ولكن يتبع إمامه من القراء وهم يجهرون بهما إلا حمزة فإنه يخفيهما الخ ([3]) شامي، اوکه څوك په نوافلو کي په قراءو کي دخپل امام په اتباع جهر کوي نو په هغه باندي طعن کول (بد ويل) نه ښايي.

**په هره ترويح کي دلاسونو په پورته کولو سره دعا کول صحيح دي اوکه نه؟** **سوال**: (۱۸۳۵) دتراويحو په هره ترويح کي له تسبيح او تهليل څخه وروسته دامام او مقتديانو په لاس پورته کولوسره دعا کول جائزدي اوکه نه؟ اوکه دتراويحوڅخه وروسته دعاغوښتل پکار

---

= الثانية او الرابعة عن محله وهذا إذا كانت القعدة طويلة أما الجلسة الخفيفة التى إستحبها الشافعي رحمه الله فتركها غير واجب عندنا بل هو الأفضل كما سيأتى (رد المحتار باب صفة الصلوة قبيل مطلب في تحقيق متابعة الإمام ج١ ص٤٣٨، ط.س. ج١ ص٤٢٩). ظفير

([1]) ايضا. ظفير

([2]) والمؤتم لا يقرأ مطلقا الخ بل يستمع إذا جهر وينصت إذا أسر الخ وإن قرأ الإمام آية ترغب وترهب وكذا الإمام لا يشتغل بغير قرآن وما ورد حمل على النفل منفردا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة فصل في القراءة ج١ ص٥٠٩، ط.س. ج١ ص٥٤٤). ظفير

([3]) رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٥٧، ط.س. ج١ ص٤٩٠. ظفير

دي؟

**جواب**: دتراويحو په هره ترويحه كي تسبيح، تهليل او نوري مأثوري دعاګاني منقولي دي ([1]) او په لاس پورته كولو سره دعا كول يوائي دټولو تراويحو دختميدو وروسته معمول به دي، نو همداسي كول ښايي، كما ورد: ما رآه المسلمون حسنا فهو عند الله حسن.

**دترويح څخه وروسته ددعا څخه منع والي وكړل سي اوكه نه؟ سوال**: (١٨٣٦) كم حافظ چي هميشه عادتًا په هره ترويح كي په لاس پورته كولو سره دعا كوي دهغه ممانعت بالجهر كول جائز دي اوكه نه؟

**جواب**: ظاهره داده چي هغه دي په تشدد سره نه منع كيږي.

**آيا دعا غوښتل منع دي؟ سوال**: (١٨٣٧) كه كم حافظ په ترويح كي په دي خيال سره دعا غواړي چي ددي ثبوت نسته هغه ته دمقتديانو سپارښت كول چي دعا حتما غواړه په دي كي هيڅ بديت نسته دی، كه حافظ دمقتديانو دوينا مخالفت وكړي دا دجماعت دتفرق او دعوامو دخفګان سبب ګرځي نو په داسي صورت كي دي حافظ ته څه كول په كار دي؟

**جواب**: نوموړي حافظ ته په دي صورت كي دمقتديانو دوينا منل لازمي نه دي، او نه دمقتديانو لپاره خپل امام ته داسي حكم وركول پكار دي؟ ځكه چي امام متبوع دی، (يعني پيروي يي كيږي) تابع نه دی (يعني چي دخلګو پيروي وكړي) كما ورد في الحديث: إنما جعل الإمام ليؤتم به ([2]) الحديث. فقط

**تراويح درسول الله ﷺ سنت دي او كه دخلفاء راشدينو؟ سوال**: (١٨٣٨) دتراويحو لمونځ درسول الله ﷺ سنت دی اوكه دخلفاء راشدينو سنت دی؟

**جواب**: دتراويحو لمونځ درسول الله ﷺ سنت هم دی او دخلفاء راشدينو ([3]) سنت هم دی.

**كه په تراويحو كي سجده سهوه لازمـــه سي نو كولای يي سي او كه نه؟ سوال**: (١٨٣٩) كه

---

([1]) ويجلس بين كل اربعة وكذا بين الخامسة والوتر، ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلوة فرادى (درمختار) قوله بين تسبيح قال الله القهستاني فيقال ثلاث مرات سبحان ذي الملك والملكوت الخ (رد المحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٦١، ط.س. ج٢ ص٤٦). ظفير

([2]) مشكوة باب ما على المأموم من المتابعة فصل اول ص١٠١. ظفير

([3]) التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين (درمختار) أى اكثرهم لأن المواظبة وقعت في إثناء خلافة عمر رضى الله عنه ووافقه على ذلك عامة الصحابة ومن بعدهم إلى يومنا هذا بلا نكير وكيف لا وقد ثبت عنه صلى الله عليه وسلم عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضوا عليها بالنواجذ كما رواه ابوداؤد بحر (رد المحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٥٩، ط.س. ج٢ ص٤٣). ظفير

چيري په تراويحو کي داسي سهوه وسي چي په هغه سره سجده سهوه لازميږي، نو سجده سهوه کولای سي اوکه نه؟

**جواب**: دواجب په پريښودلو سره لکه څنګه چي په نورو لمونځونوکي سجده سهوه واجبيږي په تراويحو کي هم لازميږي. ([1]) فقط

**دا ويل غلط دي چي په تراويحو کي سجده سهوه نسته: سوال**: (١٨٤٠) ځيني خلګ وايي چي په تراويحوکي سجده سهوه نسته ايا دا صحيح ده؟

**جواب**: دا خبره صحيح نه ده. فقط

**آيا دتراويحو لمونځ په يوه سلام سره جائز دی؟ سوال**: (١٨٤١) په رمضان کي دتراويحو لمونځ په يوه سلام سره جائز دی؟

**جواب**: تراويح که چيري په يوه سلام سره په داسي ډول وکړل سي چي له هري شفعي وروسته يي کښينستل هم نه وي کړي، نو بيا به دغه ټول رکعتونه ديوي شفعي قائم مقام وي، او که يي په هره شفعه باندي ناسته کړي وي نو اګرکه په دغه طريقه تراويح ادا کيږي خو دا کار به له کراهت څخه خالي نه وي سنت طريقه همدا ده چي شل رکعته په لسو سلامونو سره ادا کوي. په درمختارکي دي: وهي عشرون رکعة بعشر تسليمات فلو فعلها بتسليمة ان قعد لکل شفع صحت بکراهة وإلا نابت عن شفع به يفتى الخ ([2]) درمختار مع الشامي ج١ ص٤٧٤. وفي البحر لا يخفى ما فيه لمخالفة المتوارث مع تصريحهم بكراهة الزيادة على ثمان في مطلق التطوع ليلا فلأن يكره هنا أولى الخ بحرالرائق ج١ ص٧٢. فقط

**له شرعي عذر پرته تراويح پريښودل څنګه دي؟ سوال**: (١٨٤٢) له عذره پرته تراويح قصدا پرېښودل او دا ويل چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم په خپله پرې ايښي دي ځکه يي نو موږ هم نه کوو دا خبره جائزه ده او که نه؟

**جواب**: تراويح سنت مؤکده دي له عذره پرته پرې ښوونکی يي عاصي او ګنهګار دی دخلفاء راشدينو، ټولو صحابه کرامو او سلفو صالحينو څخه پردي باندي مواظبت ثابت دی، نبي کريم صلى الله عليه وسلم خو په خپله فرمايلي دي چي زما خيال دی چي تراويح فرض نه سي، همدا يوه خبره ده چي دهغې له وجهي هغوی ورباندي هميشه والی نه دی کړی، په حقيقت کي دهغوی هميشه والی نه کول په خپله دتراويحو داهتمام دليل دی،

---

([1]) والسهو في صلوة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٥، ط.س. ج٢ ص٩٢). ظفير

([2]) رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ ص٦٦٠. ظفير

دیو سړی دا عذر ویل چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم پرې اینبي دي زه یي هم پرېږدم قطعا دمنلو وړنه دی، او په ناخبري باندي بنا دی. فقط (١)

**ددوو تراویحو نیت یي وتړی لیکن په دوهم رکعت کې نه کښینستی نو څه حکم دی؟ سوال**:

(١٨٤٣) یوه سړي ددوو رکعتو تراویحو نیت وکړی او سهوا په دوهم رکعت کي نه کښینستی بلکه په دریم رکعت کي کښېنستی او سجده سهوه یي وکړه نو یو رکعت ضائع سو او که دری واړه؟

**جواب**: که یي سجده سهوه وکړه، نودوه رکعته تراویح وسوي، او که یي سجده سهوه ونه کړه نو دنقصان له امله لمونځ واجب الإعادة دی. (٢) فقط

**تراویح ورکول دیوه مستقل امام حق دی او که دمقرر کړل سوی حافظ؟ سوال**: (١٨٤٤) بکر په یوه جومات کي امام وټاکل سو، او دقرآن حافظ دی او زید هم دقرآن حافظ دی، هغه له ډېري زماني څخه په دي جومات کي تراویح کوي اوس بکر وایي چي زه امام مقرر سوی یم، دتراویحو ورکولو حق یوازي زما دی، او هغه بل حافظ وایي چي زما پخوانی حق دی نو حق دچا دی؟

**جواب**: په پوښتل سوي صورت کي چي کله بکر امام ټاکل سوی دی نو دتراویحو دامامت حق هغه ته حاصل دی. فقط (٣)

**له فرض لمانځه څخه وروسته راتلونکي کسان دوترو په جمعه کو شریکیدای سي؟ سوال**:

(١٨٤٥) دوه دری سړي جومات ته په داسي وخت کي راغلل چي امام په تراویحو کي مشغول وو، دغه کسان فرض لمونځ په جمعه وکړي او که ځان ځانته بیا په جمع کي شامل سي، او وتر لمونځ به په جمعه سره کوي اوکه ځان ته؟

**جواب**: دکلي په جومات کي دوباره جمعه کول مکروه دي، نوکم کسان چي دفرضو له جمعي وروسته راغلل هغوی دی فرض لمونځ ځانته وکړي (٤) او دتراویحو په جمعه کي

---

(١) التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين للرجال والنساء اجماعا (درمختار) ووافقه على ذلك عامة الصحابة ومن بعدهم إلى يومنا هذا بلا نكير، وكيف لا وقد ثبت عنه صلى الله عليه وسلم عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضوا عليها بالنواجذ كما رواه ابوداؤد (ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج١ ص٢٥٩). ظفير

(٢) وذكر الإمام الصفار في نسخته من الأصل أنه إن لم يقعد حتى قام إلى الثالثة على قياس قول محمد يعود ويقعد وعندهما لايعود ويلزمه سجود السهو كذافي الخلاصة (عالمگيري مصري باب النوافل ج١ ص١٠٧). ظ

(٣) واعلم أن صاحب البيت ومثله إمام المسجد الراتب اولى بالإمامة من غيره مطلقا (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب الإمامة ج١ ص٥٢٢، ط.س. ج١ ص٥٥٩). ظفير

(٤) وروى عن أنس أن أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم كانوا إذا فاتتهم الجماعة في المسجد صلوا في =

دي شامل سي او وتر دي په جمع سره ادا كړي [1] غرض دا چي دوترو په جمعه كي ددغو كسانو شريكيدل جائز دي كما صرح به في الطحطاوي. [2] فقط

**دڅا عمر چي له پنځه لسو كالو څخه ډير وي خو دبلوغ نښه يې ښكاره نه وي، نو دامامت يې څه حكم دي؟** **سوال**: (۱۸۴۶) دزيد عمر دقمري مياشتو په اعتبارسره پنځلس كاله او څوارلس مياشتي دی، او په ظاهره دبلوغ هيڅ نښه وربانددي نسته، نو په زيد پسي دتراويحو او نور لمونځونه صحيح دي اوكه نه؟

**جواب**: په شريعت كي چي كله دبلوغ كمه نښه ښكاره نه سي، نو په قمري حساب په پوره پنځلس كلن كيدلو باندي دبلوغ حكم وركول كيږي، درمختار [3] ځكه نو په زيد پسي نور لمونځونه او دتراويحو لمونځ صحيح دی.

**تراويح له وترو څخه مخكي غوره دي اوله وترو څخه وروسته جائزي دي**: **سوال**: (۱۸۴۷) تراويح له وترو څخه مخكي كول ښايي او كه له وترو څخه وروسته يو سړی دی مخكي وتر كوي او بيا تراويح كوي؟

**جواب**: دتراويحو په هكله مشروعه طريقه داده چي دماسخوتن له لمانځه څخه وروسته او دوترو څخه مخكي وسي بيا دي وتر وكړل سي ليكن كه څوك تراويح دوترو څخه وروسته كوي نو داهم صحيح دي، په درمختار كي دي: ووقتها بعد صلوة العشاء إلى الفجر قبل الوتر وبعده في الأصح الخ [4] فقط

**چي تراويح شپاړس ركعته وكړي او پاته څلور دتهجدو په مهال وكړي نو څه حكم دي؟** **سوال**: (۱۸۴۸) كه چيري حافظ شپاړس ركعته تراويح وكړي او څلور ركعته ونه كړي په دي هيله چي بل څوك به يې وركړي نوكه حافظ همدا څلور پاته ركعتونه دتهجدو سره په جمعه وكړي نو جائز دي اوكه نه؟ چي په خپله دتراويحو نيت وكړي او مقتديان دتهجدو

= المسجد فرادى (ردالمحتار باب الأذان مطلب في كراهة تكرار الجماعة في المسجد ج۱ ص۳۲۷، ط. س. ج۱ ص۳۹۲). ظفير

(1) وكان رجل قد صلى الفرض وحده فله أن يصليها مع ذلك الإمام لأن جماعتهم مشروعة فله الدخول فيها معهم (رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج۱ ص۲۲۳، ط.س. ج۲ ص۴۸). ظفير

(2) قوله فليراجع الخ قضية التعليل في المسئلة السابقة بقولهم لأنها تبع أن يصلي الوتر بجماعة في هذه الصورة لأنه ليس بتابع للتراويح ولا العشاء عند الإمام رحمه الله تعالى إنتهى، حلبى (الطحطاوى على الدرالختار مبحث التراويح ج۱ص....). ظفير

(3) والسن الذي يحكم ببلوغ الغلام والجارية إذا انتهيا إليه خمس عشرة سنة عند ابي يوسف ومحمد وهو رواية عن ابي حنيفة وعليه الفتوى.(عالمگيري مصري كتاب الحجر باب الثانى فصل ثاني ج۵ ص۲۴). ظفير

(4) الدرالمختار على هامش ردالمحتار مبحث صلوة التراويح ج۱ ص۲۵۹، ط.س. ج۲ ص۴۴. ظفير

نيت وکړي يا هغوی هم دا څلور رکعته دتراويحو په نيت وکړي نو دا فعل جائز دی اوکه نه؟ خصوصا چي دتداعي (دخلګو په رابللو) اجتماع وکړل سي؟

**جواب**: که څوك څلور رکعته تراويح پريږدي او دشپي په ورستنۍ برخه کي دهغو جمعه وکړي دا صحيح ده (١) او دتراويحو پرته دنورو نوافلو جمع په تداعي سره يعني ددريو څلورو ډيرو کسانو سره جمع کول صحيح نه دي مکروه دي همدا ډول دتهجدو جمعه هم مکروه ده. (٢) فقط

**په يوه شپه کي دختم حکم**: **سوال**: (١٨۴٩) که چيري شبينه يعني دقرآن مجيد ختم په نفلو کي په جمعه سره وکړل سي نو جائز دي او که نه؟

**جواب**: که چيري شبينه يعني دقرآن مجيد ختم دنفلو په جمعه سره وي نو دا مکروه دي او دمکروه څخه مراد مکروه تحريمي دی، چي هغه حرامو ته څيرمه دي، نو ناجائز ويل ورته صحيح دي، او دتداعي تفسير دادی چي څلور مقتديان وي او په دريو کي اختلاف دی. (٣) فقط

**پيغمبر ﷺ چي په رمضان کي کم لمونځ کړی وو هغه تراويح وي**: **سوال**: (١٨٥٠) نبي ﷺ چي درمضان المبارك په درو شپوکي کم نفل په لويه جمعه سره کړي وو، هغه لمونځ تهجد وو اوکه تهجد نه وو که چيري هغه تهجد نه وو، نو دتهجد لمونځ چي دالله ﷻ ددي امر: وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ، او: يَا اَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ قُمِ اللَّيْلَ، دامتثال په وجه پيغمبر ﷺ ته په هغه باندي هميشه والی حاصل وو، دنوموړي لمانځه څخه وروسته نبي ﷺ دا لمونځ ادا کړی وو اوکه نه؟ مفصل او مدلل تحرير وفرمايئ!

**جواب**: محققينو فرمايلي دي چي هغه دتراويحو لمونځ وو، او کله چي په نوافلو کي تداخل کيږي او يو دبل قائم مقام ګرځي ځکه نو که چيري ټوله شپه په تراويحو تيره کړي نو تهجد هم په دي کي ادا کيږي کما في السنن وتحية المسجد والوضوء، او ددي تحقيق حضرت مولانا رشيد احمد قدس سره محدث او فقيه ګنګوهي په الرأى النجيح في عدد التراويح نومي رساله کي مفصلا فرمايلی دی، اودټولو شبهاتو جوابونه يي

---

(١) ووقتها (اي صلوة التراويح) بعد صلوة العشاء إلى الفجر في الوتر وبعده في الأصح (الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٢٥٩، ط.س. ج٢ ص۴۴). ظفير

(٢) ولايصلي الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان اى يكره ذلك لو على سبيل التداعي بأن يقتدي اربعة بواحد الخ (ايضا باب الوتر والنوافل بعد مبحث التراويح ج١ ص٢٢٣، ط.س. ج٢ ص۴٨). ظفير

(٣) ولا يصلي الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان اي يكره ذلك لو على سبيل التداعي بأن تقتدي اربعة بواحد (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج١ ص٢٢٣، ط.س. ج٢ ص۴٨). ظفير

مدلل بيان كړي دي، هغه رساله وګوری ان شاء الله تعالى دانصاف له مخي به هيڅ راز شبهه پاته نه سي! دهغوی دتحقيق حاصل دادی: چي رسول كريم ﷺ چي كمي دری ورځي په جماعت سره نوافل كړي دي، هغه دتراويحو لمونځ وو دتهجدو لمونځ نه وو او په هغه كي يي دټولو واردو سوو شبهاتو جوابونه داحاديثو او اثارو په رڼا كي وركړي دي. ([1]) فقط

**دوظيفي په وجه دتراويحو جماعت پرې ښوول صحيح دي اوكه نه؟ سوال:** (١٨٥١) يو سړی دماسختن دسنتو او وترو تر مينځ ديوي وظيفي عادي دی، په رمضان كي چي كله وتر په جمعه سره كيږي، نو وظيفه كم وخت لوستل په كار دي كه وظيفه كوي نو دوولس ركعته ترو ايح ورځخه فوت كيږي، او اته ركعته نيولای سي نو داسړی اته ركعته تراويح وكړي او دوترو په جماعت كي ګډون وكړي، اوكه څنګه؟ اوكه دوترو جماعت پريږدي، او كه خپله وظيفه په رمضان شريف كي پريږدي؟

**جواب:** دوظيفي له امله دتراويحو جماعت او دوترو جماعت پريښودل نه دي په كار، اوتراويح شل ركعته كول ښايي. ([2])

**دتراويحو دڅلورو ركعتو وروسته درود: سوال:** (١٨٥٢) دتراويحو دڅلورو ركعتو وروسته چي كم خلګ داسي وايي: درود بر خواجه عالم، دا ويل صحيح دي او كه نه؟

**جواب:** دتراويحو دڅلورو ركعتو وروسته چي كم خلګ دا توري وايي: (درود بر خواجه عالم) په داسي ويلو كي څه ستونزه نسته، ليكن دا درود شريف نه دی او ډير ثواب ددرود شريف په لوستلو كي دی، غوره داده چي ددي پرځای دي (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ووايي يا دي بل كم درود شريف وايي يا دي سبحان الله والحمد لله ولا إله إلا الله و الله أكبر ([3]) وايي. فقط

**څوك چي دشپي تراويح كوي او دورځي روژه نه سي نيولای: سوال:** (١٨٥٣) چي په كمه شپه تراويح وكړي دورځي روژه ونه نيسي ددي څه حكم دی؟

**جواب:** كه چيري كم عذر وي لكه ناروغتيا ياسفر نوروژه نه نيول ورته مباح اوروا دي او

---

([1]) دغه رنګه دتروايحو دمسئلي دپاره دا رساله هم وګورئ "ركعات تراويح" چي دمفتاح العلوم اعظم ګړی لخوا خپره سوي ده. ظفير

([2]) والجماعة فيها سنة على الكفاية الخ وهى عشرون ركعة الخ بعشر تسليمات (الدرالمختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٦٦٠، ط.س. ج٢ ص٤٥). ظفير

([3]) يجلس ندبا بين كل اربعة بقدرها وكذا بين الخامسة والوتر ويخيرون بين تسبيح وقراءة وسكوت وصلوة فرادى (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مبحث التراويح ج١ ص٦٦١، ط.س. ج٢ ص٤٦). ظفير

له عذره پرته درمضان روژه ماتول گناه كبيره ده، چي دهغي بدله دټول عمر په روژو سره هم نسي وركول كيدلای كما ورد في الحديث: من أفطر يوما من رمضان من غير رخصة ولا مرض لم يقض عنه صوم الدهر كله وإن صامه. رواه أحمد والترمذي وغيرهما ([1]) الخ. فقط

**په تراويحو كي ټول قرآن كريم لوستل غوره دي: سوال:** (١٨٥۴) په تراويحو كي ټول قرآن كريم لوستل غوره دي او كه په سورت فيل سره كول يي غوره دي؟

**جواب:** په درمختار كي دي: والختم مرة سنة الخ ولا يترك الختم لكسل القوم (الدرالمختار) ([2])، ددي حاصل دادی چي په تراويحو كي يوځل قرآن كريم ختمول سنت دي او دقوم دسستوالي له امله دي ختم نه پريښودل كيږي، په همدي باندي عمل دی او همدا معمول به دی، نور تفصيل په شروحو كي دی. فقط

**په تراويحو كي دتلاوت سجده: سوال:** (١٨۵۵) كه په تراويحو كي سجده دركوع دختميدلو په مهال راسي او يا دسورت په پای كي راسي نو څنگه ادا كړل سي؟

**جواب:** كله چي په پای كي دسجدي ايات راسي نو دهغي دادا كولو دوه صورته دي يو دا چي سمدستي دتلاوت سجده وكړي او بيا پورته سي، او دڅو اياتونو لوستلو وروسته دي بيا ركوع وكړي، دويم دا چي په ركوع كي دتلاوت دسجدي نيت وكړي نو سجده ادا كيږي، خو سمدستي به سجده كوي ([3]). فقط (دويم صورت مناسب نه دی، ځكه يوازی دامام نيت كافي نه دی، دمقتدي سجده تلاوت به پاته سي، اوله سلام څخه وروسته به وربانديي ادا وي: ولو نواها في ركوعه ولم ينوها المؤتم لم تجزه ويسجد إذا أسلم الإمام ويعيد القعدة (درمختار) سمدستي مستقله سجده كول ښايي، چي دسورت په ختميدلو باندي سجده وي، نو دتلاوت دسجدي څخه له پورته كيدلو وروسته دي دبل سورت څو اياتونه ووايي او بيا دي ركوع وكړي، وإن كانت السجدة آخر السورة يقرأ من سورة أخرى ثم يركع (رد المحتار) كه دركوع په ختميدلو باندي سجده وي، نو له سجدي څخه وروسته دي دبلي ركوع څو اياتونه ووايي، بيا دي دلمانځه لپاره ركوع

---

([1]) مشكوة شريف ص١٧٧. ظفير

([2]) الدر المختار على هامش ردالمحتار مبحث التراويح ج١ ص٢٢٢، ط.س. ج٢ ص۴٢. ظفير

([3]) ولو تلاها في الصلوة سجدها فيها لا خارجها لما مر (درمختار) والأصل في ادائها السجود وهو افضل ولوركع لها على الفور جاز وإلا لا آه (رد المحتار ج١ ص٧٢٣، ط.س. ج٢ ص١١٠) يواځي په اولني صورت دي عمل وكړي تر څو په سنت طريقه ادا راسي يعني ددوو مسنونو جهري تكبيرونو او دوو مستحبو قيامونو په مينځ كي چي دتلاوت سجده ادا كړل سي: وهي سجدة بين تكبيرتين مسنونتين جهرا و بين قيامين مستحبين (درمختار باب سجود التلاوة، ط.س. ج٢ ص١٠٢). ظفير

وکړي. والله اعلم ظفير)

**يوازي دفتحي ورکولو لپاره په تراويحو کي شريکيدل**: **سوال**: (١٨٥٦) کم سړی چي دتراويحو په لمانځه کي په دي نيت شريك سي چي امام روان دی او غلطي کوي ده ته به ښوونه وکړم او بيا به لمونځ مات کړم نو په دي نيت سره هغه مقتدي ګرځي او که نه؟ که يي امام ته فتحه ورکړه او بيا يي لمونځ مات کړی نو دامام لمونځ وسو اوکه نه؟ او دشبيني څه حکم دی؟

**جواب**: دی مقتدي سو او لمونځ پوره کول دده پرذمه لازم سوه امام خو به فتحه واخلي هغه ته څه معلومات دی چي دی به دفتحي له ورکولو وروسته لمونځ ماتوي، دامام لمونځ وسو، خو په دي نيت سوه ګډون کول بد دي، ددي لمانځه پوره کول دده پرذمه لازم دی (١) شبينه که چيري دقرآن کريم په سمه توګه لوستلو سره وي نو صحيح ده او ښه خبره ده، ليکن څنګه چي په دي زمانه کي کيږي ډيری يې دګناهو سبب ګرځي نو پرهېښودل يي په کار دي. فقط

**يو سړی په دوو ځايونو کي تراويح ورکولای سي اوکه نه؟** **سوال**: (١٨٥٧\١) که چيري امام په دوو ځايونو کي تراويح ورکوي، نو کيږي اوکه نه ؟ (٢) چي په رمضان شريف کي قرآن کريم ختم کړي نو د (الوداع) غزل ويل په مسجد کي جائز دي اوکه نه؟

**جواب**: (١) په دوو ځايونو کي چي يو امام تراويح ورکوي کيږي (٢) فقط (که چيري دواړه ځايه پوره پوره تراويح ورکړي نو دمفتی به قول له مخي ددويم جومات والاوو تراويح نه کيږي، په عالمګيري کي په ډاګه دي: په حاشيه کي حواله وګورئ. ظفير)

(٢) صحيح نه دي. (٣)

**تراويح اته رکعته دي اوکه شل رکعته؟** **سوال**: (١٨٥٨) تراويح اته رکعته کول ښايي او که شل رکعته؟ مشرح او مدلل تحرير وفرماياست، او دامام ترشا په فاتحه ويلو، او په زوره امين ويلو کي څه حکم دی؟ څرګنده ليکنه وکړئ، اوايا دوترودری رکعتونه په دي ډول دي

---

(١) ومن شرع في نافلة ثم أفسدها قضاها (إلى قوله) ولنا أن المؤدى وقع قربة فيلزم الإتمام ضرورة صيانة عن البطلان (هدايه باب النوافل ج١ ص١٣١). ظفير

(٢) ولو أم في التراويح مرتين في مسجد واحد كره (إلى قوله) وإن صلى في المسجدين إختلف المشايخ فيه حكى عن ابي بكر الأسكاف أنه لايجوز يعني لايجوز تراويح أهل المسجد الثاني واختاره ابو الليث وقال ابو نصر يجوز لأهل المسجد جمبعا الخ غنية الستملي ص٣٨٩، امام يصلى التراويح في مسجدين على الكمال لايجوز كذا في محيط السرخسي والفتوى على ذلك كذا في المضمرات. عالمگيري كشوري ط. ماجدية ج١ ص١١٢. ظفير

(٣) من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد، متفق عليه (مشكوة ص٣٧). ظفير

چي پردوو ركعتونو باندي لوړی قاعده ده؟

**جواب**: په فتح القدير كي دي: نعم يثبت العشرون من زمن عمر (رضى الله عنه) في المؤطا عن يزيد بن رومان قال كان الناس يقومون في زمن عمر بن الخطاب بثلاث وعشرين ركعة وروى البيهقي في المعرفة عن السائب بن يزيد قال كنا نقوم في زمن عمر بن الخطاب ﷺ بعشرين ركعة والوتر قال النووي في الخلاصة إسناده صحيح وفي المؤطا باحدى عشرة ركعة وجمع بينهما بأنه وقع اولا ثم إستقر الأمر على العشرين فانه متوارث فتحصل من هذا كله أن قيام رمضان سنة إحدى عشر ركعة بالوتر في فعله ﷺ تركه لعذر الخ فيكون سنة وكونها عشرين سنة الخلفاء الراشدين وقوله ﷺ عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين ندب إلى سنتهم (إلى أن قال) فتكون العشرون مستحبا الخ [١] ددي تحقيق څخه ثابته سوه چي دخلفاء راشدينو سنت شل ركعته تراويح دي، او پيغمبر صلى الله عليه وسلم دخلفاء راشدينو دسنت دپيروي امر كړی دی، نو دغير مقلدينو داوينا چي شل ركعته تراويح بدعت عمري دي ناپوهي ده په حديث باندي، او په شامي كي دي: قوله وهى عشرون ركعة هو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقا وغربا. غرض دادی چي په دي كي هيڅ دتأمل ځای نسته كما مر عن فتح القدير، نو دحنفيانو لپاره دا دليل كافي دی، نو كه چيري بالفرض داخبره ثابته سي چي درسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كي شل ركعته تراويح كيدل دصحيح حديث څخه ثابت نه دي، نو دحضرت عمر ﷺ دزماني څخه خو بالإتفاق په سمه توګه ثابت دي، او دخلفاء راشدينو سنت په خپله واجب الإتباع دی، دشلو ركعتو ثبوت ددي څخه ډير نور ځنګه كيدای سي، الرأی النجيح، والحق الصريح او ايضاح الأدلة دمولوی اصغر حسين صاحب څخه را وغواړی، په مخكنيو دواړو رسالو كي دتراويحو پوره تحقيق دی او حق الأمر يي ښكاره كړی دی، او دحضرت مولانا محمود الحسن ﷺ په ايضاح الأدلة كي اختلافي مسائل لكه: رفع اليدين، فاتحه خلف الإمام او آمين بالجهر او نور ښه په تشريح سره ذكر سوي دي، دصحيحو احاديثو څخه يي دامام صاحب مسائل ثابت كړي دي، غير مقلدين دهغو له جوابونو څخه عاجز دي، ياد سوي كتابونه هرومرو راوغواړی او ويي ګوری، ماته خو ددي دلائلو درانقلولو وخت نسته او څه ليكل تحصيل دحاصل دي، ديادو سوو كتابو دمطالعي څخه پرته به دغير مقلدينو ددوكي څخه مقلدين ورونه نجات پيدا نه كړي، په دريو وترو كي دمنځنی قاعدي ثبوت دومره يقيني او څرګند دی

---

[١] فتح القدير بحث تراويح ج١ ص٤٠٧. ظفير

چي له هغي څخه انکار داهل حق اواهل دين کار نه دى، دا جرأت يوازي غير مقلدين کوي: صلاة الليل مثنى مثنى فإذا خشى الصبح صلى واحدة فأوتر لا صلى. صحيح حديث دى، ددې څخه په ښکاره ډول ثابته سوه چي ددوو رکعتو وروسته تشهد دى په فتح القدير کي دي: واخرج الحاكم قيل للحسن أن إبن عمر ﷺ كان يسلم في الركعتين من الوتر فقال عمر كان أفقه منه نهض بينهن في الثانية. په دي کي ددوو رکعتو څخه وروسته نهوض مصرح دى او نهوض دکښينستلو څخه وروسته وي همدا ډول په فتح القدير کي دي: قال الطحاوي حدثنا ابوبكر حدثنا ابوداؤد حدثنا ابو خالد قال سألت أبا العالية عن الوتر فقال علمنا اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم أن الوتر مثل صلوة المغرب هذا وتر الليل وهذا وتر النهار. (١) ددي حديث شريف څخه دا هم ثابته سوه چي وتر دمابنام دلمانځه په ډول دي. فقط

**په تراويح کي درې ځله قل هو الله أحد لوستل څنګه دي؟** **سوال**: (١٨٥٩) [١] په تراويحو کي درې ځله قل هو الله لوستل جائز دي اوکه مکروه دي؟

**دترويحي څخه وروسته مناجات او نوافل ويل صحيح دي اوکه نه؟** **سوال**: (١٨٢٠) [٢] په تراويحو کي دترويحي څخه وروسته مناجات او نوافل کول صحيح دي اوکه نه؟

**جواب**: په ترويح کي درې ځله قل هو الله ويل مکروه نه دي (٢) البته لازم ګڼل به يي مکروه ګرځي نو ددي التزام نه ښايي.

[٢] په تراويحو کي له هري ترويحي څخه وروسته دعا، مناجات او درود شريف ويل او نوافل کول ټول جائز دي. فقط (٣)

**دتراويحو دپرې ښوولو ګناه**: **سوال**: (١٨٢١) دتراويحو دقضاء کولو ګناه سته اوکه نه؟

**جواب**: دسنتو دپرې ښودلو ګناه به ورباندي وي (٤) فقط. والله تعالى اعلم

**دتراويحو په رکعتونو کي داختلاف فيصله**: **سوال**: (١٨٢٢) لومړى ډله وايي چي درسول ﷺ

---

(١) فتح القدير بحث تراويح باب الوتر ج١ ص٣٧٢ – ٣٧٣. ظفير

(٢) ولا يكره تكرار السورة في ركعة او ركعين في التطوع لأن باب النفل واسع (إلى قوله) فدل على جواز التكرار في التطوع (غنية المستملي ص٣٤٣) وقراءة قل هو الله أحد ثلاث مرات عند ختم القرآن لم يستحسنها بعض المشائخ وقال الفقيه ابو الليث هذا شيء إستحسنه أهل القرآن وأئمة الأمصار فلا بأس به إلا ان يكون الختم في المكتوبة فلانريد على مرة (غنية المستملي ص٤٢٤). ظفير

(٣) ثم هم مخيرون في حالة الجلوس إن شاءوا اسبحوا وإن شاءوا قعدوا ساكتين الخ (عالمگيري كشوري ج١ ص ١١٤، ط. ماجدية ج١ ص١١٥). ظفير

(٤) وهى سنة للرجال والنساء جميعا ونفس التراويح سنة على الأعيان (عالمگيري كشوري ج١ ص١١٤، ط. ماجدية ج١ ص١١٦). ظفير

لمونځ په رمضان او غير رمضان كي يوولس ركعته وو، لكه څنګه چي دحضرت عائشي (رضی الله عنها) دحديث شريف څخه ثابته ده، تراويح او نور ټول په دي كي داخل دي، دويمه ډله وايي چي تراويح ځانته لمونځ دی، وتر او تهجد نه دی، ځكه نو شل ركعته كول په كاردي په دي دواړو خبروكي دكمي ډلي خبره حقه او سمه ده؟

**جواب**: يوولس ركعته چي دحضرت عائشي صديقي (رضی الله عنها) په حديث كي راغلي دي هغه دتهجدو او وترو لمونځ دی لكه څنګه چي دغير رمضان لفظ پردي باندي يوه ښكاره قرينه ده ځكه چي په غير رمضان كي تراويح نه كيږي، تراويح شل ركعته دي، اود صحابه وو ﷺ اجماع پردي باندي ده قال في الدر المختار قوله عشرون ركعة هو قول الجمهور وعمل الناس شرقا وغربا ([1]) دامام مالك ﷬ په مؤطا كي دا حديث موجود دی، حدثنا مالك عن يزيد بن رومان أنه قال كان الناس يقومون في زمان عمر بن الخطاب ﷺ في رمضان بثلث وعشرين ركعة قوله بثلث وعشرين ركعة قال البيهقي والثلث هو الوتر ولا ينافيه الرواية السابقة فانه وقع اولا ثم إستقر الأمر على العشرين فروى البيهقي باسناد صحيح أنهم يقومون في عهد عمر بعشرين ركعة وفي عهد عثمان وعلى مثله ([2]). فقط

**دتراويحو حديث**: **سوال**: (١٨٢٣) ابن خزيمه او ابن حبان چي كم حديث په خپلو صحيحينو كي دجابر بن عبد الله په روايت راوړی دی: قال صلى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم في شهر رمضان ثمان ركعات واوتر. الحديث، او غير مقلدين دا خپل حجت ګڼي نو ددي حديث داسناد په هكله په پوره توګه دجرحي او قدحي ليكنه وكړی؟

**جواب**: دابن خزيمه او ابن حبان صحيحين دلته موجود نسته چي هلته ددوی سند وكتل سي، ددي روايت توجيه محققينو عالمانو ليكلي ده، هغه دلته رانقل كوم، په فتح القدير كي دي: قدمنا في باب النوافل عن ابي شلمة ابن عبدالرحمن سألت عائشة كيف كانت صلوة رسول الله صلى الله عليه وسلم في رمضان فقالت ماكان يزيد في رمضان ولا في غيره على إحدى عشرة ركعة الحديث إلى أن قال نعم ثبتت العشرون من زمن عمر ﷺ في المؤطا عن يزيد بن رومان قال كان الناس يقومون في زمن عمر بن الخطاب بثلاث وعشرين ركعة وروى البيهقي في المعرفة عن السائب بن يزيد قال كنا نقوم في زمان عمر بن الخطاب بعشرين ركعة والوتر قال النووي في الخلاصة اسناده صحيح ([3])

---

([1]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ط.س. ج٢ ص٤٥. ظفير

([2]) غنية المستملى ص٣٨٨. ظفير

([3]) فتح القدير باب التراويح ص٤٠٧. ظفير

الخ نو معلومه سوه چي شل ركعته تراويح دخلفاء راشدينو سنت دي، او پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين، ځكه دا ضروري ده چي دخلفاء راشدينو سنت معمول بها وګرځول سي. فقط

**كه يو حافظ په يوه اونۍ كي په يوه جومات كي قرآن كريم په تراويح كي ختم كړي او په بله اونۍ كي بيا په بل جومات كي ددې څه حكم دی؟** **سوال**: (١٨٢۴) ځيني حافظان په شپږو اوو ورځو كي قرآن كريم په يوه جومات كي په تراويحو كي ختم كړي، بيا په بل جومات كي دويم ختم په تراويحو كي اوروي دا صحيح دي اوكه نه؟ او ددويم جومات دخلګو تراويح كيږي اوكه نه؟ حافظان او ځيني عالمان دي ته جائز وايي، او ځيني وايي چي حافظ لره يو ختم سنت دی او دويم ختم يي نفل دی؟ او دمقتدي لپاره سنت دی، نو دسنت كوونكو لمونځ په نافل پسي نه كيږي ددي تحقيق وليكئ.

**جواب**: په يوه جومات كي په شپږو اوو ورځو كي دقرآن كريم له ختمولو وروسته په بل جومات كي حافظانو ته ختم كول صحيح دی او ددويم جومات دخلګو تراويح صحيح كيږي، ځكه چي دتراويحو لمونځ په ټول رمضان كي سنت مؤكده دی نو په دويم جومات كي چي حافظ تراويح وركړي هغه هم سنت مؤكده سوي، او دمقتديانو تراويح هم سنت مؤكده دي ددواړو لمونځ يوسو، برسيره پردي په نفل كوونكي پسي سنت هم كيږي او دا شبهه چي دقرآن كريم ختم يوځل سنت مؤكده دی او دويم دريم ځل نفل دی بې ځايه ده ځكه چي لمونځ دامام سنت مؤكده دی دختم په نه سنت كيدلو سره خو لمونځ دسنت والي څخه نه وزي، او دمقتديانو په لمانځه كي هيڅ كمی نه راځي ليكن غوره او بهتره په دي زمانه كي داده چي حافظ امام دي په رمضان كي له يوه ختم څخه ډير نه كوي تر څو مقتديانو ته ګرانه نه سي، كما في الدرالمختار لكن الإختيار الأفضل في زماننا قدر ما لا ينقل عليهم وفي الشامي ومنهم من استحب الختم في ليلة السابع والعشرين رجاء أن ينالوا ليلة القدر (١) الخ. فقط

**په تراويحو كي چي ځيني اياتونه سهوا پاته سي اوامام يې په دويمه، دريمه ورځ ووايي نوجائز دي اوكه نه؟** **سوال**: (١٨٢۵) په تراويحو كي چي امام ځيني اياتونه اسهوا پريږدي، او په دويمه دريمه ورځ هغه په متفرق ډول پرله پسي ووايي دا جواز لري اوكه نه؟ او دپوره ختم ثواب به له كراهته سره وي اوكه له كراهته پرته؟ يو عالم وايي چي لوستونكي او اوريدونكي ته اګركه دپوره ختم ثواب رسيږي خو ورسره به ګناه هم وي،

(١) رد المحتار ج١ ص٦٢٢، ط.س. ج٢ ص۴٧. ظفير

ځکه چي دمثال په توګه دسورة مائدي اياتونه دسورة توبې سره وويل سول، دهغه دا وينا سمه ده اوکه نه؟

**جواب**: دپوره ختم ثواب به ورته ورسيږي، اوکله چي دا کار سهوا په هيره سره سوی، نو په دي کي هيڅ ګناه اوکراهت نسته. (١)

**په نابالغ پسي تراويح کوونکي ګنهګار دي اوکه نه؟ سوال**: (١٨٢٦) په نابالغ حافظ پسي تراويح کيږي اوکه نه؟ اوکه يې څوك په زور (اصرار) سره کوي نو هغه به ګناهګار وي اوکه نه؟

**جواب**: دصحيح مذهب موافق په نابالغ پسي تراويح او نور لمونځونه نه کيږي، څوك چي داسي کوي دهغه دتراويحو لمونځ ونه سو. *ہکذا فی الدر المختار والشامی وغیرہما* (٢) فقط

**آيا حافظ ته دتلو راتلو کرايه ورکول او ډوډۍ وربانـدي خوړل پـه معاوضـه کـي داخـل دي؟**

**سوال**: (١٨٢٧) يو حافظ دشعبان په پای کي را وغوښتل سو، ټولو خلګو چنده وکړه او دتلو راتلو واقعي کرايه يې ورکړه، او درمضان مبارك ګرده مياشت يې وربانـدي ښـه او غوره خوراکونه وخوړل، نو په دي صورت کي دقرآن کريم اوريدل بلاعوضـه سو اوکـه دا صورت هم نا جائز دی، او هغه ته نوري زيات شی دختم په عوض کي نه ورکول کيږي، که چيري دا سي ونه کړل سي نو هغه حافظ ختم نه کوي؟

**جواب**: حافظ دبهر څخه راغوښتل او هغه ته دتلو راتلو کرايه ورکول او دهغه قرآن شريف دمعاوضي پرته اوريدل جائز او دثواب کاردی او هر کله چي هغه دبهر څخه راغلی او رابلل سوی ميلمه دی نو په هغه باندي ښه خوراکونه کول جائز دي او ثواب لري. فقط

**دځوارلسو ١۴ کالو په هلک پسي تراويح صحيح دي اوکه نه؟ سوال**: (١٨٢٨) دځوارلسو کلو په هلك پسي تراويح کول څنګه دي؟

**جواب**: دځوارلسو کلو په هلك پسي فرائض او تراويح هيڅ صحيح نه دي صحيح دا ده چي ترڅو پوري هلك پوره دپنځلسو کالو نه سي په هغه پسي تراويح مه کوی، په هدايه شامي (٣) اونوروکي يې همدا ډول ليکلي دي (البته که چيري دځوارلسو ١۴ کلو په عمر

---

(١) واذا غلط في القراءة في التراويح فترك سورة او اية وقرا مابعدها فالمستحب ان يقرأ المتروكة ثم المقروءة ليكون على الترتيب كذا في فتاوى قاضي خان (عالمگيري مصري ج١ ص١١٠، ط. ماجدية ج١ ص١١٨). ظ

(٢) ولا يصح إقتداء رجل بامرأة وخنثى وصبي مطلقا ولو في جنازة ونفل على الأصح قال في الهداية وفي التراويح والسنن المطلقة جوزه مشائخ بلخ ولم يجوزه مشائخنا ومنهم من حقق الخلاف في النفل المطلق بين ابي يوسف ومحمد والمختار أنه لا يجوز في الصلوات كلها (ردالمحتار ج١ ص٥۴١، ط. ماجدية ج١ ص٥٧٢).

(٣) ولايجوز للرجال أن يقتدوا بإمرأة اوصبي ... وفي التراويح والسنن المطلقة جوزه مشائخ بلخ ولم يجوزه مشائخنا =

کي دبالغ والي ننبي پيدا سوي وي او هغه ووايي چي زه بالغ يم نو په هغه پسی بيا صحيح دي. ظفير)

**<u>په تراويحو کي امام او سامع برابر درول څنګه دي او سامع ته اجرت ورکول جائز دي اوکه نه؟</u> سوال:** (۱۸۶۹) په تراويحو کي که امام ته دسامع اړتيا وي او که نه وي دهغه په برابر دسامع درول څنګه دي او سامع ته اجرت ورکول څنګه دي؟

**جواب:** که چيري څه اړتيا وي دساري په توګه که دليري څخه دسماع ښوونه دامام په فهم کي نه راځي نو بيا يې برابر درول صحيح دي او دضرورته پرته ښه نه دي، او سامع په اجرت باندي ټاکل هم ښه نه دي بلکه ناجائز دي ځکه چي دقرآن کريم په لوستلو او اوريدلو باندي اجرت اخستل حرام دي. فقط

**<u>دتراويحو دحديث په هکله پوښتنه</u>: سوال:** (۱۸۷۰) عن السائب بن يزيد أن عمر بن الخطاب جمع الناس في رمضان على أبي بن كعب وعلى تميم الداري على إحدى وعشرين ركعة قال إبن عبدالبر هو محمول على أن الواحدة الوتر. دا حديث تاسو دعيني ددويم ټوک ۳۵۷ صفحي په حواله ليکلي دی، مهرباني وکړئ دا هم وليکئ چي په کمه عيني کي دي دهدايي په شرحه عيني کي او که دبخاري په شرحه عيني کي او دکم چاپ په ۳۵۷ صفحه کي دي او دکمي مسئلې په بيان کي؟

**جواب:** عن السائب بن يزيد أن عمر ابن الخطاب (رضی الله عنه) جمع الناس في رمضان على أبی ابن كعب وعلى تميم الداري على إحدى وعشرين ركعة الخ قال إبن عبدالبر هو محمول على أن الواحدة للوتر. عيني شرح هدايه جلد خامس كتاب صلوة التراويح ص۱۹۱ مطبوعه يوسفي کي داسي نقل فرمايي: قال عبد البر في شرح المؤطا روى غير مالك في هذا الحديث احد وعشرون وهو الصحيح (فقط محمد ابراهيم مدرس مدرسه هذا)

**<u>تراويح سنت دي اوکه واجب يا نفل</u>: سوال:** (۱۸۷۱) دتراويحو لمونځ سنت مؤكده دی اوکه سنت يا نفل؟

**جواب:** قال في الدرالمختار التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين الخ وفي الشامي وكيف لا وقد ثبت عنه ﷺ عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين عضوا عليها بالنواجذ كما رواه ابوداؤد [1] (ددي څخه ځرګنده سوه چي تراويح سنت مؤکده دي. ظفير)

= إلخ والمختار أنه لايجوز في الصلوات كلها لأن نفل الصبي دون نفل البالغ الخ (هدايه باب الإمامة ج۱ ص۱۱۱). ظ

[1] رد المحتار باب الوتر والنوافل مبحث صلوة التراويح ج۱ ص۲۵۹، ط.س. ج۲ ص۴۳. ظفير

**چې څوک شل رکعته تراويح ومني، خو بيا کله ديارلس اوکله څلويښت کوي دی به ګنهګار وي او که نه؟** **سوال**: (١٨٧٢) که يو سړی دشلو رکعتو تراريحو دسنتوالي داعتقاد سره سره، کله يوولس، کله ديارلس، اوکله يو څلويښت رکعته کوي نو ايا دی به ګنهګار وي؟ او ايا دا ياده سوي شميره په حديثونو کي راغلي ده؟

**جواب**: تراويح شل رکعته سنت مؤکده دي، ددي خلاف کوونکی دحنفيانو په وړاندي دسنتو پريښودونکی دی (١) (او دسنت څخه خلاف کول بد دي (٢) او يادي سوي شميري په حديثونو کي راغلي دي ليکن دحنفيانو په وړاندي پرتولو حديثونو باندي دپوره غور اوکتني وروسته همدا شل رکعتونه غوره ګڼل سوي دي، او دحضرت عمر ﷺ په تحريك سره پردي باندي دصحابه کرامو رضوان الله علهيم اجمعين اجماع وسوه. والله اعلم. ظفير)

**تولي تراويح په يوه سلام سره**: **سوال**: (١٨٧٣) ددين عالمان ددي مسئلې په هکله څه وايي زيد وايي چي ټولي تراويح په يوه سلام او يوه تکبير سره روا دي او بکر وايي چي دسنت سره ناسمي او مکروه دي، او ددواړو سره دليلونه سته؟

**جواب**: أقول وبالله التوفيق: دتراويحو په مسئله کي دبکر وينا حقه ده (٣) لکه څنګه چي په درمختارکي دي: فعلها بتسليمة فإن قعد لکل شفع صحت بکراهة وفي الشامي أی صحت عن الکل وتکره إن تعمد وهذا هو الصحيح الخ شامي ج١ ص٦٢٠.

**پاته سوي اياتونه په تراويحو کي څه وخت ووايي**: **سوال**: (١٨٧٤) زموږ په ملك کي حافظان په عمومي ډول بي علمه دي، هغوی داسي کوي چي په تراويحو کي دقرآن کريم دويلو په مهال چي سهوا په مينځ کي کم اياتونه يا پيښ، زبر اوزير پاته سي نو په بل رکعت کي يا په راتلونکي شفعه کي هغه پاته سوي اياتونه وايي، ليکن په کمه شفعه کي چي دغه اياتونه پاته سوي وه هغه بيا نه راګرځوي؟ اوس ددي خبري معلوميدل پکار دي چي دآياتو په پاته کيدلو سره دمعنی داوښتلو په صورت کي چي دکل لمانځه فساد لازميږي، نو دلمانځه اعاده لازمه ده اوکه نه؟ او که دمعنی په بدليدلو دنه خبريدلو دوجهي اعاده نه لازميږي؟

---

(١) وهي عشرون رکعة بعشر تسليمات (درمختار) رهو قول الجمهور وعليه عمل الناس شرقا وغربا (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٢٠، ط.س. ج٢ ص٤٥). ظفير

(٢) ترك السنة لا يوجب فسادا ولا سهوا بل إساءة لو عامدا، (درمختار) فتارکها يستوجب إساءة أی التضليل واللوم (رد المحتار مطلب سنن الصلوة ج١ ص٤٤٢، ط.س. ج١ ص٤٧٤). ظفير

(٣) دسوال څخه ظاهره ده چي زيد شل رکعاته په يوه سلام سره بلا کراهته جائز وايي ليکن دا صحيح نه ده بلکه صحيح داده چي جائز مع الکراهة ده). جميل الرحمٰن

**جواب**: كه چيري دقرائت غلطي په داسي شفعه كي راغلي وي چي په هغه موقع كي پاته كيدل دفساد موجب وي نو ددغي شفعي راگرځول واجب دي، او كه چيري داسي غلطي وي چي هغه لمونځ ماتوونكي نه وي، نو دلمانځه بيا راگرځول ضروري نه دي بلكه لمونځ كيږي، نو په لمانځه كي داياتونو، يا دضمي فتحي او كسري په پاته كيدلو كي هم همدا حكم دى دساري په توگه په مينځ كي دڅو اياتونو په پاته كيدلو سره په معنى كي بدلون رانغى نو دغه دوه ركعته صحيح دي يوازي دقرآن كريم دختم پوره كيدلو لپاره دي په بله شفعه كي دهغو اعاده وكړي، او همدا بس دي. فقط (وإذا غلط في القراءة في التراويح فترك سورة او آية وقرء ما بعدها فالمستحب له أن يقرأ المتروكة ثم المقروءة ليكون على الترتيب كذا في قاضي خان وإذا فسد الشفع وقد قرأ فيه لا يعتد بما قرأ فيه ويعيد القراءة ليحصل له الختم في الصلوة الجائزة الخ فتاوى عالمگيري ج١ ص١١٠ مصري)

**په تراويحو دقرآن كريم پر اورولو اجرت**: **سوال**: (١٨٧٥) [١] خلگو زيد ته په تراويحو كي دقرآن كريم داورولو لپاره بلنه وركړه او دزيد دختم كولو وروسته اوريدونكو په خپل مينځ كي په چنده كولو سره دانگريزي سكي روپى هغه ته وركړي، او دا ډول وركړه په عرف كي رواج هم ده، خو دومره خبره وه چي دوركړي په مهال يي ورته وويل چي دا ستاسو دبدلې وړ نه دي، او ددواړو لورو نيت يوازي دالله جل جلاله لپاره وو، ايا زيد ته ددي روپو اخيستل روادي اوكه نه؟ او اوريدونكو ته يي وركړه رواده اوكه نه؟

**ديوې شپې دختم حكم**: **سوال**: (١٨٧٦) [٢] دقرآن كريم ختم په يوه شپه كي چي په عرف كي په ختم شبينه باندي شهرت لري دشريعت په رڼا كي څه حكم لري؟

**جواب**: قانون دادى چي دقرآن كريم په تلاوت او ختم باندي مزدوري او عوض اخستل حرام دي؟ او دتلاوت كوونكي او اوريدونكو ثواب له مينځه وړي، كما في الشامي كتاب الإجارة قال تاج الشريعة في شرح الهدايه أن القرآن بالأجرة لايستحق الثواب لا للميت ولا للقاري (إلى أن قال) والآخذ والمعطي آثمان الخ فاذا لم يكن للقاري ثواب لعدم النية الصحيحة فأين يصل الثواب إلى المستأجر [١] الخ نو په پوښتل سوي صورت كي كه چيري دعرف موافق چي دښكاره شرط په ډول دى، قاري زيد داوريدونكو څخه دمال داخستلو اراده لرله اوداوريدونكو سره دمال دوركولو اراده وه، په دي صورت كي دفقهاؤ دڅرگندونو له مخي دزيد او اوريدونكو ثوابونه باطل سوه او

[١] ردالمحتار كتاب الاجارة ج٥ ص٤٧، ط.س. ج٥ ص٥٢٢. ظفير

دقرآن شريف سنت ادا نه سو اوكه دقاري او اوريدونكو په زړه كي دروپو دوركولو او اخستلو نيت نه وو، دختم وروسته يې يوائې دالله درضا دپاره روپی وركړي او هغه ومنلي بيا كيداى سي چي جائز وي، فالعبرة لنية القاري والسامعين، قال عليه الصلوة والسلام: إنما الأعمال بالنيات وإنما لإمرئ ما نوى. الحديث (رواه البخاري وغيره)

[٢] په درمختار او رد المحتاركي ويلي دي: ويجتنب المنكرات هذرمة القواءة درمختار قوله: هذرمة بفتح الهاء وسكون الذال وفتح الراء سرعة الكلام والقراءة. قاموس شامي ج١ ص٢٣. ددي عبارت څخه څرګندېږي سوه چي كه چيري ديوي شپي په ختم كي قراءت دهذرمه حد ته ورسيږي نو مكروه ده، ځكه چي هذرمه قراءت دوی له منكراتو څخه شمارلی دی. فقط

**يوازي تراويح به په زوره كوي اوكه په كراره؟ سوال**: (١٨٧٧) سړي به تراويح په جمع سره كوي اوكه ځان ځانته؟ كه يې ځانته كولي نو په زوره به يې وايي اوكه كرار؟

**ښځي دوترو جماعت كولاى سي اوكه نه؟ سوال**: (١٨٧٨) ښځي دوترو جماعت وكړي اوكه نه؟

**له سنتو وروسته تراويح شروع كړي**: **سوال**: (١٨٧٩) په رمضان شريف كي كه چيري تراويح شروع سوي نو دوه ركعته سنت چي له فرضو وروسته دي هغه وكړي بيا په تراويحو كي ګډون وكړي اوكه هغه وروسته وكړي؟

**په يوه جومات كي دتراويحو دوهمه جمع**: **سوال**: (١٨٨٠) دتراويحو او وترو جماعت وسو اوس دويم جماعت وكړي اوكه نه؟

**جواب**: [١] والجماعة فيها سنة على الكفاية (درمختار باب التراويح) ويخير المنفرد في الجهر إن أدى (إلى قوله) كمتنفل بالليل منفردا ص٥٥٢ (درمختار ملخصاً) في فصل القراءة، سړي دي په جمع سره كوي كه چيري يوسړی دجمع څخه پاته سي، او يوازي لمونځ كوي، نوكه يي كرار وايي اوكه په زوره، دواړه صحيح دي خو په اواز سره ښه دي.

[٢] ښځي دي دوترو جماعت نه كوي، (ويكره تحريما جماعة النساء ولو في التراويح الخ (درمختار على الشامي ج١ ص٧٢٨) فقط

[٣] فرض او سنت دي وكړي بيا دي په تراويحو كي شامل سي فقط. (وقتها بعد صلوة العشاء قال الشامي ج١ ص٢٥٩). فقط

[۴] دوهم ځل دي په همدغه جومات كي تراويح په جمعه سره نه كوي. فقط (لو ترك (١)

---

(١) دليل ددي دادی چي په يوه جومات كي دتراويحو په متعددو جماعتو سره هغه نوعيت بيارا ګرځي چي دهغه دختميدلو لپاره دوهم خليفه حضرت عمر فاروق ﷺ بيل بيل لمونځ كوونكي ديوه امام په اقتداءكي را يو =

الجماعة في الفرض لم يصلو التراويح جماعة (درمختار). جميل الرحمن

**ايا په يوه سلام سره شل ركعته تراويح صحيح دي: سوال**: (١٨٨١) شل ركعته تراويح په يوه سلام سره كول جواز لري او كه نه؟

**جواب**: شل ركعته تراويح په يوه سلام سره كول مكروه تحريمي دي (فلو فعلها بتسليمة فان قعد لكل شفع صحت بكراهة وإلا نابت عن شفع واحد. (شامي ج١ ص٢٢). جميل الرحمن

## پنځم فصل

### دتهجدو مسئلې

**چې دچا ځخه لمونځونه قضا سوي وي، دهغو قضا غوره ده او كه تهجد؟ سوال**: (١٨٨٢) چې ديوه سړي لمونځونه ډير قضا سوي وي، هغه لره دتهجدو په وخت كي يا په نورو مناسبو وختونو كي تهجد كول او يا نور نوافل كول غوره دي او كه دقضا سوو لمونځونو قضايي راوړل؟

**جواب**: په درمختار كي دي: وقضاء الفرض والواجب والسنة فرض وواجب وسنة ([1]) يعني دفرضو قضايي راوړل فرض او دواجبو واجب او دسنتو سنت ده، حاصل داچې دعمري قضا دلمونځونو په ادا كولو كي ځنډ، سستي او ناراستي ښه نه ده، تركمه حده چې كيداى سي او په كم وخت كي چې كيداى سي نو دفرضو او وترو قضاء دي ادا كړل سي، دا غوره خبره ده ([2]) ليكن دتهجدو لمونځ چې دهغه په قرآن كريم او احاديثو كي ډير فضيلت راغلى دى، لكه څنگه چې په صحيح مسلم كي دي: افضل الصلوة بعد الفريضة صلوة الليل ([3]) يعني له فرضو لمونځونو څخه وروسته دتهجدو لمونځ غوره

= ځاى كړي وه، عن عبد الرحمن بن عبدالقادر قال خرجت مع عمر بن الخطاب ليلة في رمضان إلى المسجد فإذا الناس اوزاع متفرقون يصلي الرجل لنفسه ويصلي الرجل بصلوته الرهط قال عمر إني أرى لو جمعت هؤلاء على قارئ واحد لكان أمثل ثم عزم بجمعهم على ابي بن كعب ﷺ، كبيري للحلبي ص٣٨٣. ددي څخه څرگنديږي چې په يوه جومات كي په متعددو جماعتو سره تراويح دعمر فاروق ﷺ دوينا سره سم له امثل طريقى څخه خلاف ده، وقال عليه الصلوة والسلام عليكم بسنتي وسنة خلفاء الراشدين المهديين تسمكوا بها وعضوا عليها بالنواجذ. (مشكوة بحواله ترمذي). جميل الرحمن

([1]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢. ظفير

([2]) وجميع اوقات العمر وقت للقضاء إلا الثلاثة المنهية (درمختار) وهى الطلوع والإستواء والغروب (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفير

([3]) په مشكوة كي داحمد دمسند څخه دا راويت په دي الفاظو منقول دى: افضل الصلوة بعد المفروضة صلوة في جوف الليل. رواه احمد (مشكوة باب التحريض في قيام الليل ص١١٠) او په ذكر سوو الفاظو سره وگورئ: رد المحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٠). ظفير

دی، نو ددي فضيلت اقتضاء خو همداده، چي دا دي هيڅکله نه پريښودل کيږي، او دا فضيلت له نوافلو پرته په دغه وخت کي دقضايي لمونځونو په ادا سره نه ترلاسه کيږي، قال في رد المحتار: أن التهجد لايحصل إلا بالتطوع فلو نام بعد صلوة العشاء ثم قام فصلى فوائت لايسمى تهجدا (١) (ص٥٠٥) يعني تهجد ديته وايي چي دماسختن دلمانځه وروسته دشپي په وروستنی برخه کي راکښيني او نوافل وکړي. نوکه يو څوك په دي وخت کي دنفلو پرځای خپل قضا سوی لمونځ وکړي، نو هغه ته تهجد نه ويل کيږي، يعني هغه اجر چي دتهجد دلمانځه دی هغه په دي لمانځه سره نه تر لاسه کيږي، نو په داسي صورت کي که ډير نه سي کيدای نو لږ تر لږه دوه رکعته نفل خو کوئ، او دا دتهجد دلمانځه کمه درجه ده، قال في ردالمحتار وأقل التهجد ركعتان وأوسطه اربعة واكثره ثمان (٢) ص٥٠٥. فقط

**دتهجدو په لمانځه کي مختلفي دعاګاني کله ولوستل سي؟ سوال:** (١٨٨٣) په احاديثو کي مختلفي دعاګاني په تهجدو کي واردي دي، هغه دثناء څخه وروسته ويل کيږي اوکه له تکبير تحريمه څخه مخکي؟

**جواب**: دغه دعاګاني له تکبير تحريمه څخه مخکي لوستل ښايي. (٣) فقط

**تهجد دماسختن دلمانځه وروسته او له وترو څخه مخکي کول څنګه دي؟ سوال**: (١٨٨٤) کم سړی چي دشپي په آخر کي دتهجدو په کولو قادر نه وي نو هغه دماسختن دلمانځه وروسته تر وترو مخکي نوافل وکړي او که دوترو وروسته؟

**جواب**: دطبراني دحديث الفاظ دادي: وما كان بعد صلوة العشاء فهو من الليل (٤) دا روايت دوترومخکي او وروسته نوافلو ټولوته شامل دی، ليکن غوره قبل الوتردي. فقط

**دتهجدو رکعتونه او قراءت**: **سوال**: (١٨٨٥) زيد دتهجدو لمونځ په اوږده قراءت سره په دي ډول کوي چي کله يوه پاره او کله دوې پاري کله دری پاري په يوه رکعت کي ووايي په نورو دريو رکعتو کي لنډ غوندي اياتونه ووايي، او ختم يي کړي دا طريقه څنګه ده؟

---

(١) ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل ج١ ص٧٤١، ط.س. ج٢ ص٢٤. ظفير

(٢) ايضا ، ط.س. ج٢ ص٢٤. ظفير

(٣) عن ابن عباس قال كان النبى ﷺ إذا قام من الليل بتهجد قال اللهم لك الحمد انت قيم السموات الخ متفق عليه وعن عائشة رضي الله عنها قالت كان البى صلى الله عليه وسلم إذا قام من الليل إفتتح صلوته فقال اللهم رب جبريل الخ (مشكوة باب ما يقول إذا قام من الليل ص١٠٨). ظفير

(٤) رد المحتار باب الوتر و النوافل مطلب في صلوة الليل ج١ ص٧٤٠، ط.س. ج٢ ص٢٤. ددي حديث درانقلولو وروسته علامه شامي ليکي: وهذا يفيد أن هذه السنة تحصل بالتنفل بعد صلوة العشاء قبل النوم. ايضا. ظفير

**جواب**: دتهجدو لمونځ اته رکعته کول غوره دي، او ښه داده چي قراءت په ټولو رکعتونو کي برابروالي ته خیرمه وي اوکم صورت چي په سوال کي یاد سو هغه هم جائزدی. (١) فقط

**په تهجدو په هر رکعت کي سورت اخلاص ویل ضروري نه دي**: **سوال**: (١٨٨٦) دتهجدو په لمانځه کي سورت اخلاص یو ځای کول هر ځل فرض دي اوکه نه؟

**جواب**: جائز دي لیکن څه ضروري نه دي. فقط

**په تهجدو کي په زوره قراءت**: **سوال**: (١٨٨٧) دتهجدو په نفلونو کي قرآن مجید په لوړ اوازسره ویلای سي اوکه نه؟

**جواب**: جائز اومستحب دی. (٢)

**په تهجدو کي دلنډو او اوږدو سورت لوستل**: **سوال**: (١٨٨٨) دتهجدو په نفلوکي چي سورت اخلاص لوستل کیږي، په اول رکعت کي دولس ځله، په دویم کي یوولس ځله، په وار وار کمیږي، نو په هر رکعت کي سورت مزمل ویل غوره دي، اوکه سورت اخلاص په یاد سوي ترتیب؟

**جواب**: په فرضو کي دسورت تکرارول مکروه لیکل سوي دي، اوپه نوافلو کي صحیح دي (٣) لیکن که لوی لوی سورتونه لکه سورت یاسین او سورت مزمل او نور وواییی نو دا اولی او بهتر دي. او په دي کي به ثواب ډیر وي. فقط (٤)

**دتهجدو وخت**: **سوال**: (١٨٨٩) دتهجدو وخت تر څه وخته پوري وي؟

**جواب**: دتهجدو وخت دصبح صادق تر راختلو پوري وي. فقط (٥)

---

(١) وأقلها على ما في الجوهرة ثمان ولو جعله أثلاثا فالأوسط أفضل ولو انصافا فالأخير افضل (الدرالمختار) قيد بقوله على ما في الجوهرة لأنه في الحاوي القدسي قال يصلي ما سهل عليه ولو ركعتين وسنة فيها ثمان ركعات بأربع تسليمات (رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل ج١ ص٢۴١، ط.س. ج٢ ص٢۵) ومن التعليل أن المنفرد يسوي بين الركعتين في الجميع إتفاقا شرح المنية (ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص۵٠۵، ط.س. ج١ ص۵۴٢). ظفير

(٢) ويخير المنفرد في الجهر الخ كمتنفل بالليل منفردا فلوأم جهر (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص۴٩٨، ط.س. ج١ ص۵٣٣). ظفير

(٣) لا بأس أن يقرأ سورة ويعيدها في الثانية الخ ولايكره في النفل شيئ من ذلك (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص٥١٠، ط.س. ج١ ص۵۴٢). ظفير

(٤) وعن عبدالله بن عمرو بن العاص قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من قام بعشر ايات لم يكتب من الغافلين ومن قام بمائة آية كتب من القانتين ومن قام بألف آية كتب من المقنطرين. رواه ابوداؤد (مشكوة باب صلوة الليل ص١٠٧). ظفير

(٥) وصلوة الليل الخ لو جعله اثلاثا فالأوسط افضل ولو أنصافا فالأخير افضل (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل ج١ ص٢۴٠، ط.س. ج٢ ص٢۴) عن عائشة ﵂ قالت =

**دتهجدو څو رکعتونه غوره دي؟ سوال**: (۱۸۹۰) په احاديثو کي دتهجدو لمونځ دپيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه که ډير وو نو لس رکعته ثابت دی، او دوترو سره کله ديارلس او کله لس اوکله نه رکعته (مشکوة شريف) کم سړی چي تهجد کوی هغه دي داتباع په غرض همدغه ډول کوي اوکه يوه شميره وټاکي؟

**جواب**: کله چي پيغمبر ﷺ ډير ځلي اته رکعته تهجد کړي دي او دری وتر، ځکه نو حنفي فقهاؤ په اتو رکعتونو باندي هميشه والی مستحب بللی دی، اوکه ګنجايش نه وي نو دوه يا څلور رکعته هم بس والی کوي. والتفصيل في الشامي [1]

**دتهجدو لمونځ په تياره کي**: **سوال**: (۱۸۹۱) دتهجدو لمونځ په تياره کي کيږي اوکه نه؟

**جواب**: کيږي. [2] فقط

**دماسختن څخه وروسته سمدستي تهجد وکړل سي اوکه نه؟ سوال**: (۱۸۹۲) که يو سړی دمجبوری له وجهي دا خيال وکړي چي زما سترګي به دتهجدو په وخت کي وينبي نه سي، ځکه نو دماسختن دلمانځه څخه وروسته تهجد وکړي، دهغه تهجد وسو اوکه نه؟

**جواب**: ديوه حديث شريف څخه دا څرګنديږي چي دماسخوتن دلمانځه وروسته چي کم نوافل وکړل سي هغه به دتهجدو دلمانځه څخه ګڼل کيږي، او دتهجدو ثواب به ورباندي حاصليږي، لکه څنګه چي په شامي کي دطبراني حديث را نقل کړی دی، وروی الطبراني مرفوعا لا بد من صلوة بليل ولو حلب شاة وما كان بعد صلوة العشاء فهو من الليل وهذا يفيد ان هذه السنة تحصل بالتنفل بعد صلوة العشاء قبل النوم [3] الخ. فقط

**دتهجدو رکعتونه بايد څومره اورده وي**: **سوال**: (۱۸۹۳) [۱] په حديث شريف کي دي: ثم صلی رکعتين وهما دون اللتين قبلها، الحديث مخکني دوه رکعته دوروستنيو څخه څومره اوږده وه، مثلا يوسړی په تهجد کي دوې پاري لوستل غواړي نو په هرو دوو رکعتونو کي څومره ووايي؟

**دپيغمبر صلی الله عليه وسلم دقدمونو پړسوب**: **سوال**: (۱۸۹۴) [۲] په حديث شريف کي دي چي پيغمبر صلی الله عليه وسلم دومره وخت ولاړ وو چي: تورمت قدماه. الحديث

---

= كان النبي صلى الله عليه وسلم يصلي فيما بين أن يفرغ من صلوة العشاء إلى الفجر إحدى عشرة ركعة الخ (مشكوة باب صلوة الليل ص ١٠٥ فصل اول). ظفير

[1] وصلوة الليل اقلها على ما في الجوهرة ثمان (درمختار) قيد بقوله على مافي الجوهرة لأنه في الحاوي القدسي قال يصلي ما سهل عليه ولو ركعتين والسنة فيها ثمان ركعات باربع تسليمات (رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل ج١ ص٦٤١، ط.س. ج٢ ص٢٥). ظفير

[2] دلمانځه لپاره رڼا ضروري نه ده پيغمبر صلی الله عليه وسلم په تياره کي هم لمونځ کوی. ظفير

[3] ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلاة الليل ج١ ص٦٤٠، ط.س. ج٢ ص٢٤. ظفير

كله چي شمار دتهجدو اته ركعته وو نو دقراءت اندازه يي څومره وه چي پېښبې مباركي به يې پړسيدلي؟

**پـه صحابه وو كـي دتهجـدو دقـراءت مقـدار**: **سـوال**: (١٨٩٥) [٣] پـه تهجدوكي قـراءت دصحابه وو داثارو څخه څومره اندازه ثابت دي؟

**ترتكبير تحريمـه وروسته دعاګاني**: **سوال**: (١٨٩٦) [۴] يـو څـو دعاګـاني پـه حديثو كـي منقولي دي چي پيغمبر صلى الله عليه وسلم به له تكبير تحريمه څخه وروسته ويلي لكه: إني وجهت وجهى الخ دا بـه داحنـافو پـه وړاندي ترتكبيـر تحريمـه وروستـه وايي اوكـه مخكي؟

**دتهجدو په موقع به لومړي دوه ركعتونه دتهجدو وي او كه دتحية الوضوء؟** **سوال**: (١٨٩٧) [۵] دپيغمبر صلى الله عليه وسلم دتهجدو مخكني دوه لنډ ركعتونه چي راغلي دي هغه تحية الوضوء دي اوكه څه دي؟

**دا دعا بايد كم ځاى ولوستل سي؟** **سوال**: (١٨٩٨) [٦] دعا: اَللَّهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا الـخ منقولـه ده دا دعـا دتهجـدو څخـه مخكـي ووايـي اوكـه وروسـته اوكـه دسـهار ترسـنتو وروسته؟

**دا دعا په ولاړه ووايي اوكه په ناسته؟** **سوال**: (١٨٩٩) [٧] عن ابن عباس قال كان النبي ﷺ إذا قام من الليل يتهجد اللهم لك الحمد الخ دا دعا په ولاړه ووايي اوكه په ناسته؟

**دپيغمبر ﷺ دپيروي په نيت سره تهجد كله لږ او كله ډير وكړل سي اوكه نه؟** **سوال**: (١٩٠٠) [٨] كم سړى چي تهجد دګران پيغمبر صلى الله عليه وسلم دتهجدو مطابق كول غـواړي، نو هغه كله لس ركعته، كله اته ركعته، او كله شپږ، كلـه څلور وكړي، او كـه روزانـه اتـه ركعته وكړي؟

**دتهجدو وخت**: **سوال**: (١٩٠١) [٩] دتهجدو مينځني وخت كم دي؟

**جواب**: [١-٢] كله به ګران نبي كريم صلى الله عليه وسلم دتهجدو ركعتونـه ډيـر اوږدول، څو څو پاري به يي په يوه ركعت كي لوستلي، (١) چي له همدي امله به يې پېښبې مبـاركي

(١) عـن حذيفـة أنـه رأى النبـى ﷺ يـصلي مـن الليـل وكـان يقـول الله اكبـر ثلثـا ذو الملـك والملكـوت والجبـروت والكبرياء والعظمة ثم إستفتح فقرء البقرة ثم ركع فكان ركوعه نحو من قيامه فكان يقول في ركوعه سبحان ربي العظيم ثم رفع رأسه من الركوع فكان قيامه نحوا مـن ركوعـه يقـول لربـي الحمـد، فكـان سجوده نحـوا مـن قيامـه فكان يقول في سجوده سبحان ربي الأعلى ثم رفع رأسه وكان يقعد في ما بين السجدتين نحوا مـن سجوده وكـان يقول رب اغفر لي رب اغفر لى فصلى اربع ركعات قرأ فيهن البقرة و آل عمران والنساء والمائدة، او الأنعـام شـك شعبة رواه ابوداؤد (مشكوة باب صلوة الليل فصل ثاني ص١٠٧) ددي حديث شريف څخـه اندازه لګيـږي چي پـه تهجدو كي قراءت په دومره اوږدوالي سره وو چي دبقري څخه تر مائدي پوري لوستل به يې پكښې كول، واللہ اعلم

پرسيدلي، اوس كه څوك غواړي دوه سپاري په اتو ركعتونو كي ووايي نو اختيار لري كه په ټولو ركعتونو كي پاو پاو (ربع ربع) وايي او كه په اولنيو ركعتوكي لږ ډير وايي، اوپه ورستنيو كي كم وايي دا ټول جائز او سنت دي. فقط

[٣] هيڅ تحديد په دي كي منقول نه دی، (١) [۴] دتكبير تحريمي څخه مخكي. (٢)
[۵] دا احتمال هم سته. (٣) [٢] چي كم وخت يي ووايي هغه وخت غوره دی. [٧] چي كم وخت ولاړيږي هغه وخت دي ووايي. [٨] درسول الله صلی الله عليه وسلم ډير عادت اته ركعته كول وو، نور به يي دموقع موافق لږ او ډير كول. [٩] دشپي وروستنی برخه غوره ده. فقط

**دتهجدو دلمانځه ركعتونه**: **سوال**: (١٩٠٢) [١] دتهجدو دلمانځه دركعتونو لومړنی او وروستني حد تر څومره پوري دی؟

**دتهجدو دپري ښوولو نقصان څه دی؟** **سوال**: (١٩٠٣) [٢] چي دتهجدو لمونځ شروع كړي، اودسستي په وجه يې دوه څلور ورځي پريږدي، نو څه مالي يا جسمي تاوان به وي اوكه نه؟

**دتهجدو لمونځ څرنګه ادا كړل سي؟** **سوال**: (١٩٠۴) [٣] دتهجدو دلمانځه دادا كولو طريقه څنګه ده؟ يعني دهغو لپاره كمه ځانګړي دعاده او كم خاص خاص سورتونه مقرر دي، موږ چي له قرآن كريم څخه كم سورتونه غواړو هغه لوستلای سو او كه نه؟

---

(١) وصلوة الليل أقلها على ما في الجوهرة: ثمان ولو جعله اثلاثا فالأوسط افضل ولو أنصافا فالأخير افضل، (درمختار) لو جعله اثلاثا الخ اى لو اراد أن يقوم ثلثه وينام ثلثيه فالثلث الأوسط افضل من طرفيه لأن الغفلة فيه اتم والعبادة فيه أثقل، وإن أراد ان يقوم نصفه وينام نصفه فقيام نصفه الأخير أفضل الخ (رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب صلوة الليل ج١ ص٧۴١-٧۴٢، ط.س. ج٢ ص٢۴) په قرآن شريف كي دي: يا ايها المزمل قم الليل إلا قليلا نصفه اوانقص منه قليلا او زد عليه ورتل القرآن ترتيلا. بيا دسورت په پای كي دي: إن ربك يعلم انك تقوم أدنى من ثلثي الليل ونصفه وثلثه (مزمل١-٢) ددي اياتونو څخه معلومه سوه چي دتهجدو په لمانځه كي دپيغمبر صلى الله عليه وسلم قيام اوږد وو، چي نيمه شپه، يا دوه ثلثه يا يو ثلث به هغه مسلسل ولاړ وو، او دا دهغه ورځنی معمول وو نو بيا په (حتى تورمت قدماه) باندي هيڅ اشكال باقي نه پاته كيږي. اوكله چي قيام اوږد وو نو ښكاره خبره ده چي قراءت هم اوږد وو، او همدا خبره وه هم لكه څنګه چي قرآن اعلان كړی، علم ان سيكون منكم مرضى وآخرون يضربون في الأرض يبتغون من فضل الله وآخرون يقاتلون في سبيل الله فاقرءوا ما تيسر منه. (مزمل:٢٠) يعني دومره قراءت دي ووايل سي چي اسان وي، والله اعلم. ظفير

(٢) وعن ابي يوسف أنه يضم إليه قوله إني وجهت إلى اخره الخ وما رواه محمول على التهجد الخ والأولى أن يأتى بالتوجه قبل التكبير (هدايه باب صفة الصلوة ج١ ص٩٧). ظفير

(٣) عن زيد بن خالد الجهنى أنه قال لأرمقن صلوة رسول الله ﷺ فصل ركعتين خفيفيتن ثم ركعتين طويلتين الخ (مشكوة باب صلوة الليل ص١٠٧). ظفير

**داشراق او نور لمونځونه**: **سوال**: (**۱۹۰۵**) [۴] داشراق لمونځ، دڅاښت لمونځ، او داوابين لمونځ، ددي ټولو لمونځونو په نيت او ترتيب مورږ پوه کړئ.

**جواب**: [۱] لږ ترلږه څلور رکعته او ډير دولس رکعته په تهجدو کي مسنون دي، او په شامي کي يې ليکلي دي چي که چيري صرف دوه رکعته هم وکړي نو دتهجدو ثواب به ورته حاصل سي فقط. ([1])

[۲] چي تهجد پيل کړي او بيا يې پريږدي نو څه مالي نقصان نه ور اوړي او شرعًا ګنهګاريږي هم نه ليکن دعذر پرته دا ډول کړنه دمذمت وړ ده، او ديني او روحاني زيان په دي سره مينځ ته راځي. او جسماني نقصان يې دادی چي دچالاکي ځای سستي ونيسي. ([2])

[۳] دتهجدو لپاره شرعا دکم سورت خصوصيت نسته، ځينو بزرګانو چي کم سورتونه ښودلي يا ليکلي دي، هغه هيڅکله لازمي اوضروري نه دي، که ياد وي نو بدي يې نسته.

[۴] په اوابينو، اواشراق او څاښت ټولو کي يواځي دنفل لمانځه نيت کول کافي دي، دکم خاص لمونځ يا وخت نوم اخستل اړين او ضروري نه دي، ([3]) او عوامو او ناخبرو ته اوږده اوږده نيتونه ښودل او دهغوی پريشانه کول ناپوهي ده او چي کم سورت ويل غواړي ودي وايي. کتبه اصغر حسين عفی عنه. الجواب صحيح. مهر

**دتهجدو اته رکعته دي او که دوولس؟** **سوال**: (**۱۹۰۲**) يوه سړي ديوه مولوي څخه سوال وکړی چي ښاغلي دتهجد و دلمانځه څو رکعته دي، او دهغو ترتيب څنګه دی؟ مولوي صاحب ځواب ورکړی چي: دتهجدو لمونځ اته رکعته دی، نو پوښتونکي ورته وويل چي: په ځينو کتابونو کي يې دوولس رکعته ښودلي دي او عالمان هم ددوولسو رکعتو قائل دي، مولوي صاحب ور غبرګه کړه چي: دغه خلګ ناپوهان دي، او دا ټول کتابونه غلط دي، او ته داسلام څخه وتلی يې، نو ايا دتهجدو لمونځ دوولس رکعته دحديث

---

([1]) قال الشامي أقول فيبقى القول بأن أقل التهجد ركعتان الخ ايضا في رسائل الأركان لبحر العلوم مولانا عبد العلي رح ص۱۳۵، ردالمحتار ط.س. ج۲ ص۲۵ تحت حديث المسلم عن ابن عبد الله قال زعم البعض أن هذا نوع آخر لصلوته عليه السلام أن صلوة الليل اثنا عشر ركعة والوتر الخ، ط.س. ج۲ ص۲۵. ظفير

([2]) وايضا في الشامي ذكر في الحلية ايضا ما حاصله أنه يكره ترك تهجد إعتاده بلاعذر لقوله ﷺ لابن عمر يا عبد الله يا عبد الله لا تكن مثل فلان كان يقوم الليل ثم تركه. متفق عليه. شامي ج۱ ص۷۱۲ – ۷۱۷، ط.س. ج۲ ص۲۵. ظفير

([3]) وفي الكبيري المصلي إذا كان متنفلا سواء كان ذلك النفل سنة مؤكدة او غيرها يكفيه نية مطلق الصلوة ولا يشترط تعين ذلك النفل الخ كبيري ص۲۳۵. جميل الرحمن.

څخه ثابت دی او که نه؟ ددوولسو رکعتونو مجوزینو ته جاهلان ویل صحیح دي او که نه؟ او پوښتونکي ته د اسلام څخه خارج ویل جائز دي اوکه نه؟ دعدم جواز په تقدیر د اسلام څخه دخارج (یعني کافر) مصداق به څوك جوړیږي، او داکلمه به پرچا باندي را ګرځي او په دغه مولوي پسي لمونځ صحیح دی اوکه نه؟ او دوترو لمونځ یو رکعت ثابت دی اوکه نه؟ او دحضرت عائشي رضي الله عنها ددي حدیث شریف څخه چي: أن النبی ﷺ لم یکن یوتر بانقص من سبع ولا باکثر من ثلث عشرة. رواه ابوداؤد. چي څوك وتر یو رکعت او تهجد دولس رکعته ثابتوي نو دا صحیح ده اوکه نه؟

**جواب**: دتهجدو په هکله روایتونه مختلف دي، لږ تر لږ دوه، او ډیر تر دوولسو پوري روایتونه راغلي دي، لیکن په اکثري طور سره دپیغمبر ﷺ تهجد اته رکعته وو، په همدي بناء باندي حنفي فقهاؤ لیکلي دي چي په تهجد کي سنت اته رکعته دي، په درمختار کي دي: وأقلها على ما في الجوهرة ثمان الخ قال في رد المحتار في الحاوي القدسي قال يصلي ما يسهل عليه ولو ركعتين والسنة فيها ثمان ركعات بأربع تسليمات وهذا بناء على أن اقل تهجده ﷺ كان ركعتين وأن منتهاه كان ثمان ركعات اخذا مما في المبسوط السرخسي ([1]).

او حضرت قاضي ثناء الله رحمه الله په ما لابد منه کي فرمايي: و نماز تهجد از چار رکعت کمتر نیامده، و از دوازده رکعت زیاده هم به ثبوت نه پیوسته الخ ([2]) نو دحدیثو دپلټني څخه څرګندیږي چي تر دوولسو رکعتو پوري په تهجدو کي ثابت دي، او ډیر اته رکعته دي نو ددوولسو رکعتو څخه انکار کول په خپله دقائل ناپوهي ده او بیا په دي باندي پوښتونکي ته دکفر اونورڅه نسبت کول بل جهالت دی، او سخت معصیت دی چي دکفر بیره ده.

دشیخیئو په حدیث کي دي أیما رجل قال لأخیه کافر فقد باء بها أحدهما، رواه الشیخین عن ابن عمر ([3]) مرفوعا. اګرکه قائل ته دکفر په نسبت کولو کي به احتیاط کیږي دتاویل داحتمال په وجه، لیکن دهغه په فسق کي هیڅ شك نسته، او په فاسق پسي لمونځ مکروه دی، إلا أن یتوب. (مګرکه توبه وباسي) او په وترو کي ددرو رکعتو څخه کم نسته، همدا (خبره) صحیح او غوره ده، او همدا دحنفیانو مذهب دی، او په کومو روایتونو کي چي یو رکعت دوترو وارد دی، دهغه تاویل کړل سوی دی، کما هو

([1]) رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل ج١ ص٢٤٠ – ٢٤١، ط.س. ج٢ ص٢٥. ظفير

([2]) ما لابد منه مطبوعه كتب خانه رحيميه فصل نوافل ص٢٨. ظفير

([3]) مشكوة باب حفظ اللسان والغيبة والشتم فصل اول ص٤١١. ظفير

المعووف عند العلماء. ترمذي، ابوداؤد او نسائي. سألنا عائشة بأی شئ کان یوتر رسول الله صلى الله عليه وسلم قالت كان يقرأ في الأولى سبح إسم ربك الأعلى وفي الثانية بقل يا أيها الكافوون وفي الثالثة بقل هو الله أحد و المعوذتين. ([1])

او په ځینو روایتونو کي معوذتین ذکر نه دي، او په یوه رکعت دوتر کولو دنه جواز دلائل دمنیي په شرحه او په نورو کتابونو کي سپړل سوي دي، نهی عن البتیراء په متعددو طرقو ثابته ده، په دي ځای کي ډیر تفصیل نه سي کیدای. فقط

**دتهجدو دلمانځه وخت**: **سوال**: (۱۹۰۷) دتهجدو دلمانځه وخت دنیمي شپي څخه وروسته دی اوکه مخکي، لکه څنګه چي د (اوانقص منه قلیلا، او زد علیه) دآیت څخه معلومیږي، اوکه په دواړو وختونوکي جائز دي، دجواز په تقدیر غوره والی کم وخت لري؟

**جواب**: دماسخوتن دلمانځه وروسته چي کم نوافل کیږي هغه صلوة الليل دي، او په تهجدوکي داخل دي كما في الشامي وماكان بعد صلوة العشاء فهو من الليل وهو يفيد أن هذه السنة تحصل بالتنفل بعد العشاء قبل النوم الخ قلت قد صرح بذلك في الحلية ([2]) الخ. او دتهجدو غوره وخت دشپي وروستنی برخه ده، لکه څنګه چي داحادیثو څخه ښکاریږي. فقط والله أعلم.

**دتهجدو قضاء**: **سوال**: (۱۹۰۸) که چیري دتهجدو لمونځ قضا سي نو دهغو قضا را ګرځول دورځی ددوولسو بجو څخه مخکي صحیح دي اوکه نه؟

**جواب**: دتهجدو دلمانځه قضا نسته، لیکن دغرمي څخه مخکي کول یې ښه دي. ([3]) فقط

**که دتهجدو لمونځ په جمع سره وکړل سي څه حکم یې دی؟** **سوال**: (۱۹۰۹) که چیري دتهجدو لمونځ دماسختن تر جمعي وروسته دسنتو او وترو په مینځ کي ادا کړي، دوولس رکعته یا اته رکعته یا شپږ یا څلور، او ډیر وګړي دتهجدو دلمانځه شوقیان وي، که دا لمونځ په جمعه سره وکړي، او یا یي دشپي په وروستنۍ برخه کي په جمع سره وکړي نوڅه ستونزه او ګناه خوبه پکښي نه وي، دیو شمیر معتبرو ذریعو څخه اوریدل سوي دي چي ښاغلي مولانا ګنګوهي (رحمه الله) لیکلي دي چي که دا لمونځ په جماعت سره وکړي نو څه بدي پکښي نسته، بلکه له مستحباتو څخه دی؟

---

([1]) مشكوة باب الوتر ص۱۱۲. ظفير

([2]) رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة الليل ج۱ ص۶۴۰، ط.س. ج۲ ص۲۴. ظفير

([3]) وعن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من نام عن حزبه او عن شيء منه فقرأه فيما بين صلوة الفجر وصلوة الظهر كتب له كأنما قرء من الليل. رواه مسلم (مشكوة باب القصد في العمل ص۱۱۰). ظفير

**جواب**: داحاديثو څخه داسي څرګنديږي، چي كه چيري دماسختن له لمانځه وروسته له خوب څخه مخكي دتهجدو نوافل وكړل سي، نو دتهجدو ثواب به حاصليږي، وهذا يفيد أن هذه السنة تحصل بالتنفل بعد صلوة العشاء قبل النوم ([1]) او تهجد په جمعه سره ادا كول مكروه دي، كه په تداعي يعني دخلكو په رابللو سره وي، په درمختاركي دي: أي يكره ذلك لو على سبيل التداعي بأن يقتدي اربعة بواحد الخ ([2]) او حضرت مولانا ګنګوهي دتهجدو دجماعت جوازنه وركوي، حضرت مولانا به ددي څخه منعه كوله، (او شيخ الإسلام حضرت مدني رحمه الله به ديته جائز ويل ليكن يواځي په رمضان كي دكال په نورو برخوكي نه، او په رمضان كي دهغوی په همدي باندي عمل وو. ظفير)

## شپږم فصل

### دصلوة تسبيح مسائل

**په صلوة تسبيح كي دتسبيح وخت**: **سوال**: (١٩١٠) دصلوة التسبيح په اولني اودريم ركعت كي به تسبيح كم وخت وايي، دشوافعو په نزد خو داستراحت په ناسته كي ويل كيږي دحنفيانو په نزد څه وخت ويل كيږي، او غوره قول كم يو دی؟

**جواب**: همدا غوره او معمول به خبره ده چي كښيني او تسبيح ووايي، بيا دي پورته سي، دفاتحي اوسورت څخه وروسته دي ١٥ پنځه لس واره تسبيح ووايي. ([3])

**دصلوة التسبيح جماعت مكروه دي**: **سوال**: (١٩١١) دصلوة التسبيح جماعت صحيح دی او كه نه؟

**جواب**: دنوافلو جماعت كه هغه صلوة التسبيح وي او كه نور نوافل وي په تداعي سره يي جمع كول مكروه ده. ([4]) فقط

**دصلوة التسبيح ثواب**: **سوال**: (١٩١٢) [١] دصلوة التسبيح ثواب لكه څنګه چي رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل اكا حضرت عباس (رضى الله عنه) ته فرمايلی وه، نورو امتيانو ته به هم هغه ډول ثواب رسيږي او كه نه؟

**په صلوة التسبيح كي سهو**: **سوال**: (١٩١٣) [٢] كه چيري په صلوة التسبيح كي سهوه وسي

---

([1]) رد المحتار مطلب في صلوة الليل ج١ ص٦٤٠، ط.س. ج٢ ص٢٤. ظفير

([2]) الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب في كراهية الإقتداء في النفل ج١ ص٦٢٣، ط.س. ج٢ ص٢٨. ظ

([3]) فبعد إنشاء خمسة عشر مرة ثم بعد القراءة وفي ركوعه والرفع منه الخ وقال إنها المختار من الروايتين و الرواية الثانية أن يقتصر في القيام على خمسة عشر مرة بعد القراءة (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب في صلوة التسبيح ج١ ص٦٤٣، ط.س. ج٢ ص٢٧). ظفير

([4]) ولا يصلي الوتر ولا التطوع بجماعة خارج رمضان أى يكره ذلك لو على سبيل التداعي أن يقتدي اربعة بواحد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٣، ط.س. ج٢ ص٢٨). ظفير

نو سبحان الله والحمد لله به په سجده سهوه كي وايي او كه به سبحان ربي الأعلى وايي، په قيام كي سبحان رب الأعلى الخ **۲۵** ځله ووايي او كه پنځه لس ځله، كه يې په ولاړه كي **۲۵** ځله ووايي نو ددوهمي سجدي وروسته به يې نه وايي دا صحيح دي اوكه نه؟

**جواب**: [۱-۲] په حديث شريف كي دي: إنما الأعمال بالنيات الخ ولكل إمرئ ما نوى. الحديث (۱) نو دثواب مدار پرنيت باندي دى، كه چيري څوك صلوة تسبيح لوجه الله په پاك نيت سره وكړي نو اوس به هم دومره ثواب ورباندي حاصليږي لكه چي پيغمبر ﷺ حضرت عباس رضي الله عنه ته دښووني په مهال فرمايلى وه هغه دهغوى ځانګړتيا نه وه، لكه څنګه چي دپيغمبر صلى الله عليه وسلم دنورو دعاګانو ښووني او دهغو دثوابونو زيري عام وو، په سجده كي دي سبحان ربِّي الأعلى وايي، اوپه قيام كي دي پنځلس ځلي سبحان الله الخ (۲) وايي. حاصل داده چي صلوة تسبيح خو فرض او واجب نه دي، ليكن كه يې څوك كوي نو په هغه طريقه دي كوي كمه چي دسلفو څخه منقوله ده، دخپله ځانه په دي كي طريقه جوړول صحيح نه دي. فقط

**درمضان په وروستني جمعه كي دصلوة تسبيح په جَمع سره دكولو ثبوت سته؟** **سوال**: (۱۹۱۴) درمضان شريف په اخرني جمعه كي ځيني خلګ صلوة تسبيح په جَمع سره كوي، په دي هكله شرعا څه حكم دى، امام دا وايي چي بي علمه خلګ تسبيح نسي كولاى، ځكه به نو هغوى ته دامام په متابعت كي ثواب حاصل سي، اعتبارا بصلوة الكسوف والخسوف والإستسقاء.

**جواب**: ددي څه اصل نسته، او په دي سره دفوت سوو لمونځونو كفاره نه كيږي، او دامام خيال هم غلط دى دبدعت ارتكاب په دي خيال سره صحيح نه دى. فقط

**تسبيح معروفه كم كم وخت بايد ولوستل سي؟** **سوال**: (۱۹۱۵) په صلوة التسبيح كي تسبيح معروفه پنځلس ځله دقراءت څخه مخكي او لس ځلي دقراءت څخه وروسته، په شامي كي منقول دي، او په حديث شريف كي ددوهمي سجدي څخه وروسته لس ځلي وارد دي، دحنفيانو په نزد په كم باندي عمل دى، اوكه يې دسجدي څخه وروسته وايي نو دتكبير ويلو څخه وروسته دي لوستل وكړي بيا دي ودريږي اوكه څنګه؟

**جواب**: شامي دواړه صورتونه ليكلي دي، او دواړه منقول دي، ليكن غوره هغه صورت معلوميږي چي دمشهورو احاديثو سره موافق دى، چي دقراءت څخه وروسته دي

---

(۱) مشكوة قبيل كتاب الإيمان. ظفير

(۲) الرواية الثانية أن يقتصر في القيام على خمسة عشرة مرة بعد القراءة (رد المحتار باب الوتر والنوافل مطلب صلوة التسبيح ج۱ ص۲۴۳، ط.س. ج۲ ص۲۷). ظفير

پنځلس ځلي، او ددويمي سجدي څخه دپاڅيدلو وروسته دي لس ځلي ياده سوي تسبيح ووايي، بيا دي پورته سي. فقط (١)

**دصلوة تسبيح په قومه کي دي لاسونه ايله ولري: سوال:** (١٩١٦) دصلوة تسبيح په قومه کي لاسونه تړلي ولري اوکه يې ايله وساتي؟

**جواب:** ايله ساتل يې معمول به دي. فقط

**صلوة التبيح څلور رکعته په يوه سلام سره اوکه په دوو سره؟ سوال:** (١٩١٧) صلوة التسبيح څلور رکعته په يوه سلام سره کول اولی دي، او که په دوو سلامونو سره اوکه چيري تسبيحات دلسو پرځای په هيره سره پنځلس ځله ووايي نو سجده سهوه به لازمه سي او که نه؟

**جواب:** په صلوة التسبيح کي که ددوو رکعتونو نيت کوي او که دڅلورو په دواړه ډوله جائز دي که يې دڅلورو رکعتو نيت وي نو په منځنی قعده کي دي درود شريف وايي او تسبيحات که دلسو پرځای پنځه لس ووايي نو سجده سهوه نه لازميږي. فقط

**که تسبيحات ورڅخه په يوه ځای کي هير سي نو په بل ځای کي يې لوستلای سي؟ سوال:** (١٩١٨) که په صلوة التسبيح کي ديوه ځای تسبيحات ورڅخه هير سوه اوبل رکن ته په تکبير ويلو سره ولاړی او په دغه رکن کي يې ډبل تسبيحات وويل نو سجده سهوه لازميږي او که نه؟

**جواب:** په دي کي څه ستونزه نسته او سجده سهوه نه لازميږي. فقط

## نهم باب

### دفرضو دنيولو په بيان کي

په جمع کي شريکيدل

**دفرضو داقامت په مهال ددې حکم څه وجه دچي منفرد دي دفرضو نيت مات کړي خو دسنتو او نفلو نيت دي نه ماتوي؟ سوال:** (١٩١٩) يوه سړي په خپله رکن الدين نومي رساله کي دعالمګييري په حواله ليکلي دي چي که څوك دمابنام يا سهار فرض ځانته کوي، او ددويم رکعت دسجدي څخه مخکي جمعه ودريږي، نو لمونځ دي مات کړي، او په جمعه کي دي شامل سي اوس شبهه دا ده چي جمعه سنت ده او داعمالو دباطلولو څخه په قرآن

(١) عن ابن عباس (رضی الله عنه) أن النبي ﷺ قاذل للعباس بن عبد المطلب ياعباس ياعماه الا اعطيك الخ إذا أنت فعلت ذلك غفر الله لك ذنبك الخ، أن تصلي اربع ركعات تقرأ في كل ركعة فاتحة الكتاب وسورة فإذا فرغت من القرآءة في أول ركعة وأنت قائم قلت سبحان الله والحمد لله الخ خمس عشرة مرة ثم تركع فتقولها وانت راكع عشر ثم ترفع رأسك من الركوع فتقولها الخ. (مشكوة ص١١٧. باب صلوة التسبيح). ظفير

كريم كي نهی راغلي ده او دسهار دسنتو په هکله يې ليکلي دي چي ترڅو پوري دآخري قعدي دنيولو هيله وي نو سنت دي نه ماتوي او دڅلورو رکعتو سنتو په هکله يې ليکلي دي چي که چيري په دريم رکعت کي جمعه ودريده نو څلور رکعته به پوره کوي او بيابه په جمعه کي شريکيږي نو شبهه داده چي په دي مسئلو کي سنتو ته پرفرضو غوره والی ولي حاصل دی چي فرض ماتيږي اوسنت نه ماتيږي؟

**جواب**: کله چي دعمل دا ابطال داکمال لپاره دی، ځکه نو جائز دی او ممنوع نه دی بلکه غوره او دثواب کار دی (١) اودسهار په سنتوکي دا مسئله هم ده چي که دوروستنی قعدي دنيولو هيله وي نو هم دي سنت پوره کړي، بيا دي په جمعه کي شريك سي ترڅو ثواب هم ورته حاصل سي او سنت هم ادا سي (٢) غرض داچي يادي سوي مسئلي صحيح دي. فقط (٣)

## داقامت ويل کيدلو وروسته امام ته ډير وخت دريدل او بيا تکبير تحريمه ويل څنګه دي؟

**سوال**: (١٩٢٠) يوه سړي دماپښين دسنتو نيت وتړی يواځي يو رکعت يې کړی وو چي تکبير وويل سو ترڅو پوري چي ددغه سړي څلور رکعته پوره سوي نه وه امام دلمونځ ځای ته نه تلی کله چي هغه څلور سره رکعتونه پوره کړل نوامام دلمونځ ځای ته ورسيدی او په اول تکبير سره لمونځ ادا کړل سو، دا لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: په دي صورت کي لمونځ وسو او دتکبير دبيا راګرځولو اړتيا نسته كما في الدر المختار صلى السنة بعد الإقامة او حضر الإمام بعدها لا يعيدها. بزازيه. (٤) فقط

---

(١) والقطع وإن كان ابطالا للعمل وهو منهى لقوله تعالى: ولا تبطلوا أعمالكم، والإبطال بقصد الإكمال لايكون ابطالا. (شرح وقايه باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٠٩). ظفير

(٢) وإذا خاف فوت ركعتي الفجر لإشتغاله بسنتها ترك لكون الجماعة اكمل وإلا بأن رجا إدراك ركعة في ظاهر المذهب وقيل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالي تبعا للبحر لكن ضعفه في النهر لا يتركها بل يصلي عند باب المسجد إن وجد مكانا الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ادراك الفريضة ج١ ص٢٧٠، ط.س. ج٢ ص٥٦). ظفير

(٣) په پوښتنه کي چي کم اشکال دسنتو په ماتولو دی دهغه جواب دا ډول کيږي چي که چيري فرض مات کړي نو بيرته به يې دامام سره ادا کړي نو دهغو ابطال للاكمال سو او سنت داسي نه دي چي هغه پريږدي نو بيا به يې نه کوي بلکه فرض به کوي، نو دا ابطال للاكمال نه سو لهذا دنه ماتولو په صورت کي به سنت هم ادا سي او دفرضو فضيلت به هم حاصل کړي: والشارع في النفل لا يقطع مطلقا ويتمه ركعتين وكذا سنة الظهر وسنة الجمعة إذا أقيمت او خطب الإمام يتمها اربعا على القول الراجح لأنها صلوة واحدة وليس القطع للإكمال بل للإبطال خلافا لما رجحه الكمال (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٢٨، ط.س. ج٢ ص٥٣). ظفير

(٤) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الأذان ج١ ص٣٧١، ط.س. ج٢ ص٤٠٠. ظفير

**په کمو وجوهو سره لمونځ ماتولای سي؟ سوال**: (١٩٢١) انسان دکمو کمو عذرونو له امله دګناه پرته خپل لمونځ ماتولای سي؟

**جواب**: په درمختار باب ادراك الفريضه كي يې ددې تفصيل كړى دى ([1]) هغه وګورئ، اوكه چيري يوځانګړى صورت مخ ته راغلي وي نو دهغه سوال وكړئ، چي په داسي صورت كي لمونځ ماتول صحيح دي اوكه نه؟ په درمختاركي دا هم دي چي دډوبيدونكي او سوزيدونكي دژغورلو لپاره لمونځ ماتول واجب دي، اوكه ديوه درهم زيان وراوړي نو لمونځ ماتول روا دى واجب نه دي، او په شامي كي يې كليه قاعده دا ليكلي ده: إن القطع يكون حراما ومباحا ومستحبا وواجبا فالحرام لغير عذر والمباح إذا خاف فوت مال والمستحب القطع للإكمال والواجب لإحياء نفس. الخ ([2]) .

**جمعه پرېښوول اوبل جوماټ ته ددې دپاره تلل چي پوره جمع ونيسم څنګه دي؟ سوال**: (١٩٢٢) يو سړى جوماټ ته راغى جمعه ولاړه وه، نو دغه سړى په دې خيال باندي بل جوماټ ته ولاړى چي هلته به پوره جمعه ونيسم او يو سړى په وروستى قعده كي راغى او په ياد سوي خيال بل جوماټ ته ولاړى دا تلل جائز دي اوكه نه؟

**جواب**: په همدغه جوماټ كي په جمعه كي شريكيدل دهغوى لپاره غوره دي. ([3]) فقط

**چي دسهار سنت دفرضو مخكي ونه كړل سي نو بيا هغه كله ادا كړي؟ سوال**: (١٩٢٣) كم سړى چي دسهار په جمع كي شامل سو، او سنت يې ونه كړل هغه له فرضو وروسته سنت وكړي او كه دلمر ختلو وروسته يې وكړي؟

**جواب**: دغه سړى دي دفرضو وروسته او دلمر ختلو څخه مخكي سنت نه كوي، ځكه چي دامكروه دي كه يې كوي نو دلمر دختلو څخه وروسته دي دزوال څخه مخكي وكړي، دا غوره دي. كما في الشامي: وأما إذا فاتت وحدها فلا تقضي قبل طلوع الشمس بالإجماع

---

([1]) يقطعها لعذر احراز الجماعة كما لو ندت دابة او فار قدرها او خاف ضياع درهم من ماله او كان في النفل فجيئ بجنازة وخاف فوتها قطعه لامكان قضائه ويجب القطع لنحو انجاء غريق او حريق ولو دعاه ابويه في الفرض لا يجيبه إلا أن يستغيث به وفي النفل إن علم أنه في الصلاة فدعاه لا يجيبه إلا إجابة قائما لأن القعود مشروط للتحلل وهذا قطع لا تحلل ويكتفي بتسليمة واحدة هو الأصح. (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٢٢، ط.س. ج٢ ص٥١). ظفير

([2]) ردالمحتار باب إدراك الفريضه ج١ ص٦٢٧، ط.س. ج٢ ص٥٢. ظفير

([3]) وكذا لو فاتت أحدهم تكبيرة الأفتتاح او ركعة او ركعتان ويمكنه إدراكها في غيره لا يذهب إليه لانه صار محرزا فضيلة الجماعة في مسجده فلايترك حقه (غنية المستملي فصل في احكام المسجد ص٥٢٥) وكره تحريما للنهى خروج من لم يصل من مسجد أذن فيه إلا لمن ينتظم به أمر جماعة أخرى ولمن صلى الظهر والعشاء وحده مرة فلا يكره خروجه كل تركه عند الشروع في الإقامة فيكزه لمخالفة الجماعة بلا عذر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٢٨ – ٦٢٩، ط.س. ج٢ ص٥٤). ظفير

لكراهة النفل بعد الصبح وأما بعد طلوع الشمس فكذلك عندهما وقال محمد أحب أن يقضيها إلى الزوال (١) الخ شامي ج١ ص٤٨٢.

**يو ركعت يې كړې وو چې دماپښين جمع ودريده ه نو دوهم ركعت دې وكړې او په جمع كې دې شريک سي:** **سوال:** (١٩٢٤) يو سړی دماپښين په مهال دجمعې څخه مخكې څلور ركعته كوي يو يا دوه ركعته يې كړي دي چې دفرضو جمع ودريده، نو دا سنت كوونكی به څه كوي، آيا دی به خپل لمونځ پوره كوي اوكه يې يو ركعت كړی وو دوهم به ورسره كوي او سلام به ګرځوي اوكه يې دوه ركعته كړي وه نو څلور به پوره كوي، اوكه به په هرحال كي

څلور سره پوره كوي اوكه به يي په هرحال كي پرېږدي اوپه جمع كي به ګډون كوي؟

**جواب:** كه يې دسنتو يو ركعت كړی وو نو دوه ركعته دي پوره كړي، او سلام دي وګرځوي په جمع كي دي ګډ سي؟ محققينو حنفيانو دي ته غوره او راجح ويلي دي، او بل قول چي هغه هم مفتى به دی په دي اوړند دادی چي په هرحال كي دي څلور ركعته سنت پوره كړي، ليكن محقق ابن همام لومړني قول ته راجح فرمايلي دي. كذا في الشامي (٢). فقط

**دبل جومات امام ددې جومات دجمع په پرېښودلو سره تللای سي اوكه نه؟** **سوال:** (١٩٢٥) يو سړی جومات ته په داسي وخت كي راغی چي جمعه كيده دغه سړي اودس وكړی او ولاړی په جمع كي شريك نه سو كله چي دی دبل جومات پايبند لمونځ كوونكی دی يوائې دی امام دی همدی مقتدي همدی مؤذن دی، په دي صورت كي څه حكم دی؟

**جواب:** هغه ته همدغسي كول په كار وو، دهغه په حق كي ددي جومات څخه تلل او ددي جومات په جمع كي نه شريكيدل مكروهه نه دي. (٣)

---

(١) رد المحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٧٧٢، ط.س. ج٢ ص٥٧. ظفير

(٢) والشارع في نفل لا يقطع مطلق ويتمه ركعتين وكذا سنة الظهر وسنة الجمعة إذا أقيمت او خطب الإمام يتمها اربعا على القول الراجح لأنها صلوة واحدة وليس القطع للاكمال بل للإبطال خلافا لما رجحه الكمال (درمختار) حيث قال وقيل يقطع على رأس الركعتين وهو الراجح لأنه يتمكن من قضائها بعض الفرض ولا إبطال في التسليمة على الركعتين فلا يفوت فرض الإستماع والأداء على الوجه الأكمل بلا سبب الخ (رد المحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٢٨، ط.س. ج٢ ص٥٣). ظفير

(٣) وكره تحريما للنهى خروج من لم يصل من مسجد اذن فيه إلا لمن ينتظم به أمر جماعة أخرى او كان الخروج لمسجد فيه ولم يصلوا فيه (درمختار) قوله إلا لمن ينتظم به أمر جماعة اخرى بان كان إماما او مؤذنا تتفرق الناس بغيبته الخ وظاهر الإطلاق أن له الخروج ولو عند الشروع في الإقامة (ردالمحتار باب إدارك الفريضة مطلب في كراهية الخروج من المسجد بعد الأذان ج١ ص٦٢٨، ط.س. ج٢ ص٥٤). ظفير

**که دسنتو دپیلولو سره سم جمع ودریږي نوڅه به کوي؟ سوال**: (۱۹۲٦) يو سړی دجمع دريدو په وخت کي راسي اودسنتو نيت وکړي سمدستي اقامت وسي نوهغه په دوو رکعتوکي الحمد سورت او التحيات بالكل نه وايي، غالبا يوازي سبحان الله يا نور داسي څه به وايي، په هر حال سجده او رکوع وکړي سلام وګرځوي او دامام دالحمد دختميدلو مخکي په جمع کي شريك سي دومره زيات تيزوالی او تندي جائز ده او که نه؟

**جواب**: په داسي وخت کي دا ضروري ده چي دوه رکعته وکړي، سلام وګرځوي او په جمع کي شريك سي اوکه چيري دجمعي دنيولو دپاره توندي او ګړون وکړي نو داهم وړ دي، ليکن دومره تيزوالی صحيح نه دی چي فرض قراءت او نور داسي مهم رکنونه پرېښودل سي. (۱)

**که چيري څوک دنفلو په نيت سره دماسختن په جمع کي شريک سي نو آيا هغه به سنت او وتر هم بيا کوي؟ سوال**: (۱۹۲۷) يوڅوك چي دماسختن لمونځ اداکړي اوبيا ووينی چي جمع ودريده نو په هغه کي هم ګډون وکړي اوس به دی سنت او وتر هم کوي؟

**جواب**: سنت او وتر دي نه کوي (هغه يی مخکي ادا کړي دي او دادنفلو په حکم کي دي. ظفير)

**که دريل په خيال سره نيت مات کړي نوڅه حکم دی او امام ته دلنډولو ووايي اوکه نه؟**

**سوال**: (۱۹۲۸) يو سړی دنجيب آباد داستيشن جومات ته دجمعي په ورځ راغی، او امام ته يې وويل چي موږ ديوي نيمي بجي په ريل ګاډي کي تلونکي يو ته مهرباني وکوه خطبه لنډه ووايه اوپه لمانځه کي قراءت لږ ووايه چي لمونځ پيل سو نو يو رکعت په ښه ډول وسو او په دويم رکعت کي امام قراءت شروع کړی وو چي نوموړي سړي ته دريل دراتلو خيال پيدا سو دغه سړي نيت مات کړی او بهر راووتی او ستيشن ته ولاړی او نورو ملګرو يي په ډاډ سره لمونځونه پوره کړه او په ريل کي سپاره سول، دامام څخه دلږ قراءت او لنډي خطبي غوښتنه کول او نيت ماتول څنګه دي؟

**جواب**: په داسي حالت کي چي په مقتديانو کي چاته بي اطمناني او سخت حاجت وي، نو امام ته په قراءت او خطبه کي تخفيف کول ډير ښه او مناسب دي. په حديث شريف کي دي چي امام ته په لمانځه کي تخفيف کول ښايي ځکه چي ځيني مقتديان حاجت

---

(۱) والشارع في نفل لا يقطع مطلقا ويتمه رکعتين (درمختار) قوله مطلقا أی سواء قيد الأولی بسجدة اولا (ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج۱ ص۲۲۸) من فرائضها التی لاتصح بدونها التحريمة الخ ومنها القيام الخ ومنها القراءة الخ ومنها الرکوع الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج۱ ص۴۱۱، ط.س. ج۲ ص۴۴۲). ظفير

لرونكي وي، الحديث [1] نور دلمانځه دپيلولو وروسته دهغه دماتولو دا حكم دى چي كه چيري دڅلورو انو (څلور نيمو تولو سپينو زرو) نقصان كيدى يا كټو پرجوش راتله يا سپرلى تښتيده نو لمونځ ماتول صحيح دي، همدغه ډول كه دا رنګه بل څه نقصان او اړتيا پيښه سي، نو هم دلمانځه ماتول صحيح دي كذا في الدرالمختار. [2]

**دجمع په وخت كي دسهار پرسنتو باندي داعتراض جواب: سوال:** (١٩٢٩) يو شخص اعتراض كوي چي حنفيان خلګ دسهار سنت سره له دې چي جمع ولاړه وي، ادا كوي، نو ددې څه جواب دى؟

**جواب:** دامام صاحب دمذهب موافق په حديث شريف اوقرآن كريم دواړو باندي عمل راځي په ځينو احاديثو كي دسهار پرسنتو ډير ټينګار راغلى، او دصحابه كرامو ﷺ عمل هم همداسي پاته سوى دى چي دفرضو دپيليدو وروسته هغوى سنت كړي دي او دسنتو دكولو وروسته په جمع كي شريك سوي دي، لكه څنګه چي دا ډول اثارپه كتابونوكي منقول دي، امام صاحب ﷺ په دي باندي عمل فرمايلى دى، بيا اعتراض او بد ويل فضول دي او غلطي ده. [3] فقط

**دماپښين څخه مخكي پاته سوي سنت به ترفرضو وروسته سمدستي كوي اوكه تر دوو ركعتو سنتو وروسته؟ سوال:** (١٩٣٠) كم سړى چي دامام سره دماپښين په فرضوكي شريك سو اوسنت ورڅخه پاته سوه نودسنتو قضابه دفرضوسره پيوسته كوى اوكه ددوو ركعتو سنتو وروسته؟ كه په دي مسئله كي دفقهاؤ اختلاف وي نو غوره راجحه او اقوى ددوى په مينځ كي دچا خبره ده؟

**جواب:** كم سړى چي دماپښين په فرضوكي دامام سره شامل سو، نو څلور ركعته سنت دي مخكي وكړي او دوه ركعته وروسته ليكن فتح القدير ددي عكس ته ترجيح وركړي

---

[1] قال رسول الله ﷺ فأيكم ما صلى بالناس فليتجوز فإن فيهم الضعيف والكبير وذا الحاجة متفق عليه. (مشكوة باب ما على الإمام). ظفير

[2] ويقطعها لعذر إحراز الجماعة الخ او خاف ضياع درهم من ماله (درمختار) ان القطع يكون حراما ومباحا ومستحبا وواجبا، فالحرام لغير عذر والمباح إذا خاف فوت مال (ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٢٦ – ٦٢٧، ط.س. ج٢ ص٥١). ظفير

[3] عن عائشة رضي الله عنها قالت لم يكن النبي ﷺ على شيئ من النوافل أشد منه عاهدا على ركعتى الفجر رواه الشيخان وعنها عن النبى صلى الله عليه وسلم قال ركعتى الفجر خير من الدنيا وما فيها. رواه مسلم، (آثار السنن باب التطوع للصلوات الخمس) عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ لا تدعوا ركعتى الفجر ولو طردتكم الخيل. رواه احمد وابوداؤد وإسناده صحيح (ايضا باب في تاكيد ركعتى الفجر) إنما خالفناه في سنة الفجر لشدة تاكيدها الخ لما روى الطحاوي وغيره عن ابن مسعود ﷺ أنه دخل المسجد وقد قيمت الصلاة فصلى ركعتى الفجر في المسجد. ظفير

ده، نو لمونځ كوونكيي اختيار لري چي څنګه كوي هغه صحيح دي او دوه ركعته مخكي كول غوره دي، ثم يأتي بها في وقته قبل شفعه عند محمد وبه يفتى (درمختار) أقول وعليه المتون لكن رجح في الفتح تقديم الركعتين كذا في الشامي. (١)

**چي دسهار دسنتو دشروع كولو وروسته اقامت وسي نو څه به كوي؟** **سوال**: (١٩٣١) يوه سړي دسهار سنت پيل كړل، ناڅاپه مؤذن تكبير شروع كړي او دفرضو جمع ودريده نو داسړى نيت مات كړي اوپه جمع كي ګډ سي او كه سنت پوره كړي بيا په جمعه كي شامل سي؟

جواب: دسنتو دادا كولو وروسته دي په جمعه كي شريك سي. (٢)

**څوک چي دسنتو پرته دسهار په جمع كي شريک سي هغه دي په همدغه وخت كي سنت نه كوي**: **سوال**: (١٩٣٢) يوه سړي دسهار سنت ونه كړل په جمع كي ګډ سو نو دجمعي وروسته سمدستي سنت وكړي او كه دلمر دراختلو وروسته؟

**جواب**: دفرضو وروسته دي په همدغه وخت كي سنت نه كوي، بلكه دلمر راختلو او لوېدلو څخه وروسته كه يې كول غواړي نو ودي كړي. قال في الشامي واما إذا فاتت وحدها تقضي قبل طلوع الشمس بالإجماع لكراهة النفل بعد الصبح وأما بعد طلوع الشمس فكذلك عندهما وقال محمد أحبّ إلى أن يقضيها إلى الزوال. (٣) الخ فقط

**دجمع په مهال دي دسهار سنت دجومات څخه بهر وكړي**: **سوال**: (١٩٣٣) په يوه جومات كي دشپږو صفونو ځاى دى نو دسهار سنت كم ځاى كول ښايي چي جمعه ولاړه وي؟

**جواب**: غوره دا ده چي دسهار سنت په بيل ځاى كي دجومات څخه بهر وكړي، اوكه داسي ځاى نه وي نوكه جمع دجومات په داخلي برخه كي ولاړه وي نو سنت دي بهر وكړي اوكه جمعه بهر ولاړه وي نو دننه دي وكړي او دمجبوري په مهال داسي هم كولاى سي چي په شاته صفونو كي سنت وكړي په هر حال دسنتو پرېښودل نه ښايي ترڅو پوري چي دجمع يوه برخه نيول كيداى سي. (٤)

---

(١) ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٧٧٣، ط.س. ج٢ ص٥٨. إلى أسطوانة وذلك بمحضر حذيفة وأبي موسى الخ غنية المستملي ص٣٧٩. ظفير

(٢) والشارع في نفل لا يقطع وكذا سنة الظهر الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار ج١ ص٦٢٨، باب إدارك الفريضة، ط.س. ج٢ ص٥٣. ظفير

(٣) رد المحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٦٧٢، ط.س. ج٢ ص٥٧. ظفير

(٤) وإذا خاف فوت ركعتي الفجر لإشتغاله بسنتها تركها لكون الجماعة أكمل وإلا بأن رجا إدراك ركعة لا يتركها بل يصليها عند باب المسجد إن وجد مكانا وإلا تركها، لأن ترك المكروه مقدم على فعل السنة (درمختار) قوله وإلا تركها قال في الفتح وعلى هذا أي على كراهة صلوتها في المسجد ينبغي أن لا يصلي فيه إذا لم يكن عند =

**<u>دجمعي په وخت كي دسهار سنت</u>: سوال**: (۱۹۳۴) دسهار په سنتوكي چي كله تكبير وسي او امام قراءت شروع كړي په شرح وقايه كي ليكلي دي چي كه دامام سره دركعت دنيولو أميد وي نوسنت دي نه پريږدي داخبره صحيح ده اوكه نه؟ او ځيني ملايان دا هم وايي چي كله امام قرائت پيل كړي نو سنت كول حرام دي، تركمه ځايه پوري چي دامام اواز رسيږي او دا راته وښياست چي كه يوه سړي دعذره پرته او ددي سره سره چي كه سنت وكړي دجمعي ديوه ركعت دنيولو اميد سته سنت پرېښودل او په جمع كي شريك سو نو هغه گنهگار دی او كه نه؟

**جواب**: لكه څنگه چي په شرح وقايه كي ليكلي دي همدغه ډول دفقهي په نورو كتابونوكي هم ليكلي دي بلكه په درمختار اوشامي كي يي دا تحقيق كړی دی چي كه دامام سره التحيات نيول كيږي هم سنت دي نه پريږدي، خو دا خبره ضروري ده چي دجمع سره برابر ياپه كم ځای كي چي جمع دريږي هلته دي سنت نه كوي ځكه چي دا مكروه دي او په حديث شريف كي ددي څخه ممانعت راغلی دی او حنفي عالمانو دا په ډاگه كړيده چي دجومات ددروازې سره يا په يوه برنډه ياحجره كي دي سنت وكړي او په جمع كي دي شامل سي دامام او جمع په خوا كي دي سنت نه كوي دإمام دقراءت اواز راتلل دسنتو دكولو څخه مانع نه دي داواز راتلل او نه راتلل فقهاؤ دسنتو په كيدلو او نه كيدلو كي نه دي مطرح كړي (١) اوكله چي دسهار پرسنتو ټينگار ډير راغلی دی، ځكه نو دځانته ځای دسته والي سره سره سنت پريښودل بد دي، ځكه چي كله په شريعت كي دا ثابت دي چي دجمع په مهال په ځانته ځای كي سنت كول منع نه دي نو بيا دوجهي پرته سنت پريښودل به ښه نه وي. فقط

= بابه مكان لأن ترك المكروه مقدم على فعل السنة غير أن الكراهة تتفاوت فإن كان الإمام في الصيفي فصلوته إياها في الشتوي أخف من صلوتها في الصيفى وعكسه، وأشد ما يكون كراهة أن يصليها مخالفا للصف كما يفعله كثيرا من الجهلة آهـ والحاصل أن السنة في سنة الفجر أن يأتى بها في بيته وإلا فان كان عند باب المسجد مكان صلاها فيه وإلا صلاها في الشتوي او الصيفي إن كان للمسجد موضعان و إلا فخلف الصفوف عند سارية لكن فيما إذا كان للمسجد موضعان والإمام في أحدهما ذكر في المحيط أنه قيل لا يكره لعدم مخالفة القوم وقيل يكره لأنهما كمكان واحد قال فإذا إختلف المشائخ فيه فالأفضل أن لا يفعل قال في النهر وفيه أفاد أنها تنزيهية اهـ لكن في الحلية قلت وعدم الكراهة أوجه للأثار التى ذكرناها اهـ ثم هذا كله إذا كان الإمام في الصلوة أما قبل الشروع فيأتي في أي موضع شاء (ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٧١، ط.س. ج٢ ص٥٢). ظفير

(١) إذا خافت فوت ركعتى الفجر لإشتغاله بسنتها تركها لكون الجماعة أكمل وإلا بأن رجا إدراك ركعة في ظاهر الرواية وقيل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالي تبعا للبحر لكن ضعفه في النهر لا يتركها بل يصليها عند باب المسجد ان وجد مكانا وإلا تركها (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٧٠ – ٢٧١، ط.س. ج٢ ص٥٢). ظفير

**<u>دجمع په وخت كي رارسيدونكى به څه كوي؟</u> سوال**: (١٩٣٥) جمع ولاړه وه دوروسته څخه مقتدي داخل سوكه چيري امام په اخري سجده يا التحيات كي وي نو ده ته په جمع كي ګډون كول ضروري دى او كه اختياري، اوكه چيري دسهار وخت وي نو په داسي صورت كي به څه كوي؟

**جواب**: كه دسهار جمع وي اوكه دبل وخت په جمع كي دي شامل سي. (١)

**<u>دسهار دجمعي په مهال سنت</u>**: **سوال**: (١٩٣٦) امام دسهار لمونځ په لوړ اواز سره كوي، كه يو څوك دجومات په حجره كي يا دانګړ په حجره كي دسهار سنت ادا كړي ليكن دامام دقراءت آواز دده غوږونو ته په ښه ډول رسيږي، او داسړى په دي پوهيږي چي زه دسنتو له كولو وروسته په جمع كي ګډون كولاى سم په دي حالت كي سنت كول جائز دي اوكه نه؟

**جواب**: په حجره كي په داسي حالت كي دسهار سنت كول پكاردي په دي كي څه ستونزه نسته، چي دامام دقراءت اواز دده غوږونو ته رسيږي البته داناجايز دي چي په همدغه درجه كي سنت كوي په كمه كي چي امام روان دى فرض لمونځ كوي: ودليله ما قال في الشامي والحاصل أن السنة في سنة الفجر أن يأتى بها في بيته وإلا فان كان عند باب المسجد مكان صلاها فيه وإلا صلاها في الشتوي والصيفي إن كان للمسجد موضعان وإلا فخلف الصفوف عنه سارية وايضا قال وينبغي أن لا يصلي فيه إذا لم يكن عند بابه مكان الخ ج١ ص٢٧١.

**<u>كه جمعه ولاړه وي نو دسهار سنت كله وكړي؟</u> سوال**: (١٩٣٧) كه چيري دسهار جمع ولاړه وي نوسنت وكړي اوكه په جمعه كي شريك سي كه چيري په جمع كي شريك سي نو سنت دلمانځه څخه وروسته ادا كړي اوكه دلمر دراختلو وروسته؟

**جواب**: كه چيري دجومات څخه ځانته ځاى وي نو دجمع دپيليدو وروسته دي هلته سنت ادا كړي ځكه چي پردي سنتو ډير تنتينګار راغلى دى په دي شرط چي په جمع كي دګډون هيله وي اوكه چيري دسهار سنت ورڅخه پاته سوه نو دلمر تراختلو وروسته دي وكړي اوچي دځپل وخت څخه تيرسي نوسنتِ مؤكده مؤكده نه پاته كيږي خودلمر تراختلو وروسته كول يي غوره دي (٢) هكذا في كتب الفقه. كتبہ رشيد احمد عفى عنہ تاريخ ١٦-١٢-١٣٢٩ ہجرى. فقط

---

(١) ولا يكون مصليا جماعة اتفاقا من أدرك ركعة من ذوات الأربع الخ لكنه أدرك فضلها ولو بادراك التشهد اتفاقا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٧٣، ط. س. ج٢ ص٥٩). ظفير

(٢) أما إذا فاتت وحدها فلا تقضى قبل طلوع الشمس بالإجماع لكراهة النفل بعد الصبح وأما بعد طلوع الشمس فكذلك عندهما وقال محمد احب إلى أن يقضيها إلى الزوال كما في الدر وقيل هذا قريب من الإتفاق لأن قوله

## لسم باب

### دفوت سوو لمونځونو دقضايي راوړلو په بيان کي

### دقضا لمونځونو ادا کول

**دوخت دتنګوالي يا هيري له امله وختي لمونځ دقضايي لمانځه څخه مخکي کولای سي اوکه نه؟**

**سوال:** (۱۹۳۸) که ديوه سړي څخه دماپښين لمونځ قضا سو او هغه دمازديګر جومات ته په داسي وخت کي ورسيدی چي اقامت کيدی يا وخت بالکل تنګ دی يا دمازديګر وخت ډير دی خو ددغه سړي څخه هير سو چي کله يې دمازديګر لمونځ وکړی نو ورپه زړه سوه چي زما څخه خو دماپښين لمونځ قضا سوی دی. په دي صورت کي دماپښين قضا دمازديګر دلمانځه وروسته کولای سي اوکه نه؟ او همدا ډول چي کله دسهار جمع ولاړه وي نو دسهار سنت کول پکار دي اوکه په جمع کي ګډون کول که په جمعه کي ګډون وکړي نو ددي سنتو قضا څه وخت راوړل کيږي؟

جواب: که ورڅخه هير سو يا وخت دومره تنګ وو چي که دماپښين قضا راګرځوي دمازديګر لمونځ قضا کيږي، نوپه دي صورت کي دمازديګر لمونځ صحيح سو دماپښين دابه وروسته وکړي (١) اوکه چيري اقامت شروع سو، او دماپښين دلمانځه دکولو په صورت کي دمازديګر جمع ورڅخه تيريدله، نو دماپښين دا دي مخکي وکړي، او دمازديګر دا دي وروسته اګرکه جمع ورڅخه تيره سي، او دسهار لمونځ که تيار وي يا جمع ولاړه وي، نوکه يې ديوه رکعت يا دځينو فقهاؤ په قول دتشهد دنيولو اميد درلودی نو دسهار سنت دي مخکي وکړي اوپه جمعه کي دي شريك سي (٢) اوکه يې سنت بالکل پرې ښودل اوپه جمع کي شريك سو نوبيا دسنتو قضانسته که يې کوي نو دلمر ترلوړيدو وروسته دي وکړي، دا به نفل سي. (٣) فقط

---

احب إلي دليل على أنه لو لم يفعل لا لوم عليه وقالا لا يقضي وإن قضى فلا بأس به (إلى أن قال) في انه لو قضى كان نفلاً الخ ج١ ص٢٧٢، ط.س. ج٢ ص٥٧. ظفير

(١) الإستثناء من اللزوم فلا يلزم الترتيب إذا أضاق الوقت المستحب حقيقة إذ ليس من الحكمة تفويت الوقتية لتدارك الفائتة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوآئت ج١ ص٢٨٠ - ٢٨١، ط.س. ج٢ ص٥٢). ظفير

(٢) وإذا خاف فوت ركعتي الفجر لإشتغاله بسننها تركها لكون الجماعة أكمل وإلا بأن رجا إدراك ركعة في ظاهر المذهب وقيل التشهد واعتمده المصنف والشرنبلالي تبعا للبحر (ايضا باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٧٥، ط.س. ج٢ ص٥٢). ظفير

(٣) ولا يقضيها إلا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لا بعده (درمختار) واما لو إذا فاتت وحدها فلا تقضى قبل طلوع الشمس بالإجماع لكراهة النفل بعد الصبح واما بعد طلوع الشمس فكذلك عندنا ؒ (رد =

**دقضا سوي لمانځه سبب**: **سوال**: (۱۹۳۹) په قضا سوي لمانځه کي سبب دټول وخت لوري ته منسوب کيږي تر څو واجب علی صفات الکمال ثابت سي، زما دغبي والي له برکته مي ددي مقصد په ذهن کي نه راغی سبب څه شی دی، او جميع وقت ته دهغه دمنسوب کيدلو څه معنی ده په ادا کي وجوب علی صفة الکمال کيدل نه دي پکار، او په فائته ؤ کي کيدل په کار دي ددي څه وجه ده؟

**جواب**: په وخت کي په ادا کولو سره په وجه دتعذر جميع وخت ته سبب نه سو ويلای، بلکه جزء مقدم متصل بالأدا ته سبب ويل کيږي اوکله چي وخت تير سو، او لمونځ فوت سو نو اوس ټول وخت ته په سبب ويلوکي څه مشکل پاته نه سو او دلمانځه ظاهري سبب وخت دی ځکه چي کله وخت راسي نو دلمانځه دکولو حکم کيږي، همدا معنی دسببيت ده، مثلا کله چي دماپښين وخت راسي صلُّوا صلوة الظهر (متوجه سئ) وقس عليه.

**دلمانځه او روژې قضا**: **سوال**: (۱۹۴۰) لمونځ او روژې ورځخه قضا سوي؟ دا ځرګنده نه ده چي دڅومره مودي څخه قضا سوي دي نو دادا کولو صورت يې څنګه دی؟

**جواب**: شمار دي وکړي چي دڅومره مودي دروژو او دلمونځونو شميره ورته معلومه سوه دهغو قضايي دي راوړي.

**دقضا سوو لمونځونو قضا راګرځول**: **سوال**: (۱۹۴۱) دزيد پرغاړه تقريبا ددوولسو ديارلسو کالو لمونځونو او روژو قضا پاته ده چي هغه دپوهيدني سره سره نه دي کړي اوس هغه قضا سوي لمونځونه اوروژې ادا کول غواړي نوپه کمي طريقې سره يې ادا کړي؟

**جواب**: دلمانځه او روژی قضا دي راوګرځوي په شمار سره چي دڅومره کلونو لمونځونه او روژې يې دبلوغ څخه وروسته قضا سوي دي هغه دي ادا کړي. فقط

**دقصر لمانځه ادا به قصر وي؟** **سوال**: (۱۹۴۲) دلنډ قضا سوي لمانځه ادا لنډه پکار ده اوکه مکمله؟

**جواب**: دقصر لمانځه قضا قصر راوړل پکار دي. ([1])

**ايا دقضا لمونځ په جومات کي کول صحيح دي؟** **سوال**: (۱۹۴۳) يوعالم فرمايي چي په جومات کي قضا لمونځونه کول حرام دي، او دليل يې دادی چي لمونځ قضا کول معصيت دی، اودمعصيت ښکاره کول حرام دي اوپه جومات کي يې اظهار کيږي په کور

---

= المحتار ايضا، ط.س. ج۲ ص۵۷). ظفير

([1]) والقضاء يحکي أی يشابه الأداء سفرا وحضرا لأنه بعد ما تقرر لا يتغير (درمختار) قوله سفرا وحضرا ای لو فاتته صلوة السفر وقضا في الحضر يقضيها مقصودة کما لو أداها (رد المحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۵، ط.س. ج۲ ص۱۳۵). ظفير

کی یې کول ښايي، دا خبره څنګه ده؟

**جواب**: په درمختنا کې يې په جومات کې دقضا سوو لمونځونو را ګرځول مکروه ليکلي دي، يعني مکروه تحريمي دي، او دليل يې همدا دی چې لمونځ تروخت وروسته کول معصيت دی؟ نوځکه دي دا نه ظاهروی، او علامه شامي ددې په اړوند دا ليکلي دي چې غرض همدا دی چې اظهار دي نه کوي، بلکه په داسې ډول دي قضا راوګرځوي چې څوك ورځخه خبر نه سي، چې دی نفلونه کوي او که فرض؟ نو په جومات کې هم درست دي، لنډه دا چې قضا دي په داسې ډول وکړي چې تر خپله وسه څوك ورځخه پوه نه سي، دشامي عبارت دادی: وظاهره أن الممنوع هو القضاء مع الإطلاع عليه سواء كان في المسجد او غيره. ([1]) فقط

**دقضاء عمري مروجه طريقه ثابته نه ده بي بنسټه ده**: **سوال**: (۱۹۴۴) په يوه اردو کتاب کې ليکلي دي چې دقضاء عمري دکفاري لپاره لمونځ په داسې طريقه ادا کول پکار دي چې په هر رکعت کې دي آية الكرسي يو يو ځل او سورت کوثر يوولس يوولس ځله دسورت فاتحي څخه وروسته ووايي دا جائز دي اوکه مکروه او په همدي طريقه يې دنورو لمونځونو په هکله هم څو څو سورتونه دمختلفو مقاماتو په هر رکعت کې دلوستلو لپاره ليکلي دي.

**جواب**: ددې هيڅ اصل نسته او په دې طريقه نفل کولو سره قضاء عمري نه حاصليږي، اول خو په خپله دقضاء عمري هيڅ بنسټ نسته بلکه فقهاؤ دامکروه ليکلي ده او بيا په دې هيئت او کيفيت سره لمونځ کول دقضاء عمري دپاره ثابت نه دي، اودقضاء دا طريقه دشرعي قواعدو سره سمون نه لري، قاعده داسې ده چې څومره لمونځونه دچا څخه قضا سوی وي نوپه يقين يا غالب ګمان سره دي دهغو شمير معلوم او قضايي دي راوړي او يوازې دتوهم په بنا دقضايي راګرځول ثابت نه دي بلکه مکروه دي، په شامي کې يې ددرمختار پردې قول باندې چې: وما نقل أن الإمام قضى صلوة عمر الخ ليکلي دی: أنه لم يصح ذلك عن الإمام الخ فالوجه كراهة القضاء لتوهم الفساد ([2]) الخ ص۴۲۹.

**داسقاط حيله**: **سوال**: (۱۹۴۵) اسقاط يعني حيله لټول چې دجنازې دلمانځه مخکې يا وروسته ورکول کيږي، دا دمړي پروارثانو واجبه ده اوکه نه؟ هغه حيله په دې ډول ده چې: غنم يومن او دوولس نيم سيره او نغدي پيسې لږ تر لږه پاؤ باندي يوه روپۍ او قرآن مجيد وي، او غرض دحيله کوونکو داوي چې دا دمړي دټولو قضا سوو لمونځونو روژو

---

([1]) رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٩٠، ط.س. ج٢ ص٧٧. ظفير

([2]) رد المحتار باب الوتر والنوافل قبيل مطلب في الصلوة على الدابة ج١ ص٢٥٣، ط.س. ج٢ ص٣٨. ظفير

اوحج كفاره گرځي، اودا ټول دجنازې لمونځ كوونكو ته وركوي او حيله كوونكي كښيني اوپه لاس كي قرآن شريف واخلي او يوه لويه دعا وو ايي او وايي چي موږ قبوله كړه؟

**جواب**: ياده سوي داسقاط حيلة دمړي پروارثانو باندي واجبه نه ده، او داسي وصيت هم فقهاؤ جائز نه دى ګڼلى، قال في الدر المختار ونص عليه في تبيين المحارم فقال لا يجب على الولي فعل الدور وإن أوصى به الميت لأنها وصية بالتبرع والواجب على الميت أن يوصى بما يفى بما عليه إن لم يضيق الثلث عنه فان أوصى بأقل وأمر بالدور وترك بقية الثلاث للورثة أو تبرع به لغيرهم فقد أثم بترك ما وجب عليهم. فقط. (١)

**دترتيب ځښتن به قضا سوى لمونځونه كوى، اګركه جمع ورځخه ولاړه سي**: **سوال**: (١٩٤٦) كه چيري دترتيب ځښتن جومات ته راسي او مخكي جمع ولاړه وي نو څه وكړي ايا سمدستي په جمع كي ګډون وكړي اوكه دقضا سوي لمانځه دراګرځولو وروسته په جمع كي ګډون وكړي؟

**جواب**: دترتيب ځښتن دي خپل قضا سوى لمونځ مخكي وكړي اګر كه جمعه ورځخه تيره سي (٢). فقط

**دچا څخه چي لمونځونه قضا سوي وي هغه بـه لمونځونـه پـه كـم ترتيب سره كوي؟ سوال**: (١٩٤٧) ديوه سړي پرذمه څو قضا سوي لمونځونه دي، اوس هغه ته دسهار دلمانځه ادا ميسره نه سوه، بلكه ورځخه قضا سو اوس دى لومړى دسهار لمونځ وكړي او كه نور قضا سوي لمونځونه؟

**جواب**: كه چيري مخكني قضا سوى لمونځونه شپږ يا دشپږو څخه ډير وي نو په دي سره ترتيب ساقط سو دغه سړى دسهارقضا سوى لمونځ تر نورو قضا سوو لمونځونو مخكي كولاى سي. (٣)

**دچا څخه چي ډير لمونځونه قضا سوي وي هغه به يـي څنګـه ادا كـوي؟ سوال**: (١٩٤٨) كه ديوه سړي څخه بي انتها لمونځونه قضا سوي وي چي شميره يې هغه ته معلومه نه وي، اوس چي دغه سړى دفوت سوو لمونځونو ادا كول وغواړي په دي صورت كي كه چيري

---

(١) ردالمحتار باب قضاء الفوائت مطلب في إسقاط الصلوة عن الميت، ج١ ص٦٨٢، ط.س. ج٢ ص٧٣. ظفير

(٢) الترتيب بين الفرائض الخمسة والوتر اداءً وقضاءً لازم الخ فلم يجز فجر من تذكر انه لم يوتر الخ الا اذا اضاق الوقت الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٧٩، ط.س. ج٢ ص٦٥). ظفير

(٣) الترتيب الخ لازم الخ الا اذا اضاق الوقت الخ او نسيت الفائتة الخ او فاتت ستة واعتقادية (درمختار) يعني لا يلزم الترتيب بين الفائتة والوقتية ولا بين الفوائت اذا كانت الفوائت ستا (ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٧٩ – ٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٥). ظفير

هغه دتحری (فکر کولو) په مټ سره یوه شمیره وټاکي نو آیا دا به په ترتیب سره ادا کوي اوکه به دترتیب اړتیا نه وي که چیري یي په یوه وخت کي دیوي ورځي پنځه واړه لمونځونه ادا کړل، نوجائز به وي اوکه نه؟ یعنی دسهار له وختي لمانځه څخه وروسته پنځه لمونځونه چي فوت سوي دي په همدغه وخت کي ادا کول غواړي، نو دا صورت به روا وي اوکه نه؟

**جواب**: دتحری کولو څخه وروسته چي دځومره کلونو او میاشتو فوت سوي لمونځونه په فکر کي راسي دهغو قضایي راوړل دي شروع کړي او دقضا په مهال دي په زړه کي نیت اويا دي په زړه هم ووايي چي تر ټولو دلومړنی ماپښين يا مازدیګر اونورو قضا را ګرځوم، همدغه ډول دي بیا په بل وخت کي هم نیت وکړي، ځکه داولنیو لمونځونو دقضا له راګرځولو وروسته چي کم لمونځونه قضا سوي هغه به لومړني جوړ سي، او کم صورت چي په سوال کي لیکلی دی چي دیوي ورځي ټول لمونځونه په یوه وخت کي کول غواړي نو دا صحیح دي. فقط

**<u>دچا څخه چي دیوه کال لمونځونه قضا سي پر هغه باندي ترتیب لازم نه دي</u>**: **سوال**: (۱۹۴۹) دیوه سړي پرذمه دمثال په ډول دیوه کال لمونځونه قضا پاته دي، ددي لمونځونو دقضا په راګرځولو کي دی ترتیب ته اړتیا لري اوکه نه؟ یعني په ترتیب سره به قضا لمونځونه راګرځوي اوکه بي ترتیبه چي څنګه يي پرزړه سمه سي، او کله چي دټول کال قضا راوګرځوي نو صاحب ترتیب به سي اوکه نه؟ او که يي يو څو ورځي قضایي لمونځونه کول او بیا يي پریښودل بیا به يي داول څخه شروع کوي اوکه پاته لمونځونه به راګرځوي، په مینځ کي په پریښودلو سره خو به ستونزه نه راځي؟

**جواب**: په قضا راګرځولو کي په ده باندي څه ترتیب لازم نه دی چي څرنګه وغواړي لمونځ دي راوګرځوي ([1]) اوکم وخت چي ټول قضا سوي لمونځونه ادا کړی نو دترتیب څښتن به سي بلکه هغه وخت چي دقضا په دوران کي تر شپږو لمونځونو کم مثلاً پنځه لمونځونه دده پرذمه پاته سي نودی ترتیب څښتن سي او ترتیب به وربانديي واجب سي اوچي څومره قضا لمونځونه يي راوګرځول هغه وسول، اوکه يي په مینځ کي قضا راګرځول پرېښودل او بیا يي شروع کړل نو هغه لمونځونه چي دمخکنی قضا څخه پاته دي یوائي دهغو راګرځول لازم دي. فقط ([2])

---

([1]) ویلزم الترتیب الخ إلا إذا أضاق الوقت الخ او فاتت ستة اعتقادية (درمختار) یعني لايلزم الترتیب بین الفائتة والوقتية ولا بين الفوائت إذا كانت الفوائت ستا ؒ (ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج۱ ص۲۸۰، ط.س. ج۲ ص۲۲). ظ

([2]) ولايعود لزوم الترتیب بعد سقوطه بكثرتها الفوائت بعود الفوائت إلى القلة بسبب القضاء لبعضها على =

**څو شپې يې مسافرانه لمونځ کوی بيا معلومه سوه چې مسافر نه وو نوڅه وکړي؟ سوال**: (١٩٥٠) يوه سړي په دي خيال چي زه مسافر يم دوه يا دری مياشتي مسافرانه لمونځ وکړی، وروسته ورته معلومه سوه چي دی په اصل کي مسافر نه وو، نو ايا اوس پرده باندي ددغو لمونځونو قضا راګرځول ضروري دي؟ که ضروري وي نو په کمي طريقي سره؟

**جواب**: ددغو لمونځونو قضا راګرځول ضروري دي او دقضا طريقه پيژندل سوي ده، مثلاً دڅومره ورځو لمونځ چي يي مسافرانه کړی دی هغه دي وشماري او دهغو ټولو لمونځونو سره دي دوترو قضاهم راوګرځوي اودسنتو قضا نسته. (١)

**که چيري په وخت کی دټولو قضا سوو په ترتيب سره دراګرځولو ګنجايش نه وي نوڅه وکړي؟ سوال**: (١٩٥١) که چيري دسهار په وخت کي دومره ګنجايش نه وي، چي دترتيب څښتن پنځه قضا سوي لمونځونه علی الترتيب را وګرځوي نو يوازي يو يا دوه لمونځونه پروختي لمانځه مخکي کړي اوکه ټول پرېږدي؟

**جواب**: چي څومره ګنجايش وي هغه دي راوګرځوي، بيا چي کله يوازي دوختي لمانځه لپاره وخت پاته سي نو هغه دي وکړي، ځکه چي دوخت په تنګوالي سره هم ترتيب ساقطيږي، لکه څنګه چي دفقهي په کتابونو کي په تفصيلي ډول ذکر دي. (٢) فقط

**په قضا کي دترتيب مطلب څه دی؟ سوال**: (١٩٥٢) دا خبره چي پرژبو راځي چي دترتيب دڅښتن لپاره دفوائتو او وقتيه لمونځونو په مينځ کي ترتيب لازمي دی ددي مطلب څه دی؟

---

= المعتمد لأن الساقط لايعود وكذا لايعود الترتيب بعد سقوطه بباقي المسقطات السابقة (درمختار) قوله سبب القضاء كما إذا ترك رجل صلوة شهر مثلا ثم قضاها إلا صلوة ثم صلى الوقتية ذاكرا لها فانها صحيحة آهـ بحر، قيد بقضاء البعض لأنه لو قضا الكل عاد الترتيب عند الكل قوله المعتمد هو أصح الروايتين وصححه ايضا في الكافي والمحيط والمعراج وغيره وعليه الفتوى وقيل يعود الترتيب واختاره في الهداية ورده في الكافي والتبيين وأطال فيه في البحر (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٤، ط.س. ج٢ ص٧٠). ظفير

(١) كله چي لمونځ ونسو نو ټول په قضا كي شمار سوه، اوپه دي خبره پريكړه سوي چي: قضاء الفرائض الخ فرض (درمختار). ظفير

(٢) فلا يلزم الترتيب إذا ضاق الوقت المستحب حقيقة إذ ليس من الحكمة تفويت الوقتية لتدارك الفائتة ولولم يسع كل الفوائت فالأصح جواز الوقتية (درمختار) صورته عليه العشاء والوتر مثلا لم يصل الفجر حتى بقى من الوقت ما يسع الوتر وفرض الصبح فقط ولم يسع الصلوات الثلاث فظاهر كلامهم ترجيح أنه لا تجوز صلوة الصبح ما لم يصل الوتر وصرح في المجتبى بأن الأصح جواز الوقتية عن البحر لكن قال الرحمتي الذي رأيته في المجتبى الأصح أنه لاتجوز الوقتية اهـ قلت: راجعت المجتبى فرأيت فية مثل ما عزاه إليه في البحر وكذا قال القهستاني جازت وقتية على الأصح (ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفير

**جواب**: ددي مطلب دادی چي که چيري فوت سوي لمونځونه دوقتيه څخه مخکي ادا نه کړي او دفوائتو دقضا څخه مخکي وقتيه لمونځ ادا کړي، دا وقتيه لمونځ به فاسد سي، بفساد موقف کما هو مفصل في کتب الفقه. (١) فقط

**دقضايي لمونځونو دراګرځولو سمه طريقه**: **سوال**: (١٩٥٣) کم سړی چي عمري قضايي لمونځونه په ترتيب سره کوي هغه ته دماښام او وترو لمونځونه په قضا کي څلور رکعتونه په دريو قعدو سره په کم حالت کي کول په کار دی اوپه دريو رکعتونوکي يې ولي کول نه ښايي، په برهان الفتاوی کي دي: يصليها اربعا بثلاث قعدات، لکراهة تنفل ثلاث رکعات في القنية رکن الدين إنحراف يصلي المغرب والوتر اربعا بثلاث قعدات. ددی عبارت مطلب څه دی؟

**جواب**: صحيح مذهب دادی چي دچا پر ذمه قضايي لمونځونه وي هغه دي دهغو شميره معلومه کړي اوبيا دي قضايي راوګرځوي او دماښام درې رکعته دی دقاعدی سره سم وکړی، او وتر دي هم دری رکعته دقاعدی سره موافق وکړي، او دغه صورت چي دبرهان الفتاوی څخه نقل سوی دی دقواعدو موافق نه دی، او نور ددي عبارت مطلب داسي دی چي دری قعدي دي په داسي ډول وکړي چي تردوو رکعتو وروسته دي يوه قعده وکړي بيا دي ددريم رکعت څخه وروسته بيا قعده وکړي ترڅو اخري قعده پاته نه سي، او دنفلو دشبهي دامله دي يو رکعت بل ورسره يو ځای کړي، او دريمه قعده دي وکړي، په دې ډول به دری قعدي وسي (٢) ليکن صحيح داده چي ددي ضرورت نسته کله چي

---

(١) ولو فاتته صلوة رتبها في القضاء کما وجبت في الأصل الخ من صلى العصر وهو ذاکر أنه لم يصل الظهر فهي فاسدة إلا إذا کان في آخر الوقت وإذا فسدت الفريضة لا يبطل أصل الصلوة عند ابي حنيفة وابي يوسف الخ ثم العصر يفسد فسادا موقوفا حتى لو صلى ست صلوات ولم يعد الظهر إنقلب الکل جائزا الخ (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٧ – ١٣٩). ظفير

(٢) پوښتونکي چي دکم عبارت مطب پوښتلی دی هغه دتوهم اوشبهي لرونکي صورت حل دی، مثلا چاته دقضا يا فاسدوالي علم نسته بلکه يوازي شبهه يې ده نو په داسي حالت کي ښايي خو داچي هغه دي دوباره نه کوي: ولا تعاد عند توهم الفساد للنهي، او نه ددي دقضا ضرورت سته ليکن که چيري څوك دشبهې پرښا باندی په دي ډول قضا راګرځوي چي که چيري قضا سوي وي نوهغه به ادا سي کنې هغه به نفل سي، نو په دي صورت کي به دوترو اودماښام دلمانځه دادا کولو شکل داوي چي څلور رکعته به په درو قعدو سره کوي ځکه چي نفل دری رکعته نه وي دويمه قعده يې ددی لپاره وکړه چي دا دماښام او وترو لپاره اخري قعده ده او څلورم رکعت يې ورسره يو ځای کړی اودريمه قعده يې ددي لپاره وکړه چي که چيري په نفلوکي شمار سي نو صحيح به سي: لاتعاد عند توهم الفساد للنهي وما نقل ان الإمام قضى صلوة عمره فان صح تقول کان يصلي المغرب والوتر اربعا بثلاث (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل قبيل مطلب في الصلوة على الدابة ج١ ص٢٥٣، ط.س. ج٢ ص٣٧). ظفير

واقعي دده پرذمه دمابنام فوت سوی لمونځ او فوت سوي وتر باقي وي نو دری رکعته دي په دوو قاعدو سره وکړي.

**يوازې په توبې سره قضايي لمونځونه نه بخښل کيږي راګرځول يې ضروري دي**: **سوال**: (**۱۹۵۴**) زما عمر اوس پنځوس کاله دی دوه نيم کاله وسوه چې ما فرض حج ادا کړی دی، دحج دکولو څخه مخکې زه دلمونځ پابند نه وم دهغه وخت څخه مې توبه ايستيلي ده او لمونځ ادا کوم نو ايا دتوبې په ايستلو سره زما مخکني لمونځونه وبخښل سول اوکه نه؟

**جواب**: کم لمونځونه چې قضا سوي دي دهغو راګرځول فرض دي او دهغې طريقه داده چې ديوې يوې ورځې لمونځ دې په ترتيب راګرځوي، او نيت دې داسې وکړي چې دسهار هغه اولنی لمونځ ادا کوم چې ما دهغه وخت پيدا کړی وو او هغه مې ادا کړی نه وو همدغه ډول دماپښين، مازديګر، او مابنام الخ او حساب دې وکړي چې دبلوغ څخه رانيولې دتوبې تروخته څومره کلونه يې په بې لمانځې کې تير سوي دي دهغو لمونځونو قضا دی راوګرځوی ددې دليل دادی: قال الله تعالى في كتابه مرة بعد أخرى: اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ (١) دا دامر صيغه ده، أو امر دوجوب تقاضا کوي ځکه نو لمونځ فرض سو اوکم شی چې په امر سره فرض سي دهغه څخه دغاړې خلاصيدو يواځې دوې لارې دي دعين واجب تسليمول، او يا دخپله لورې دواجب دمثل حواله کول دخپلې ذمې څخه دعين واجب په ساقطولو سره، كما قالوا في حكم الواجب بالأمر أنه نوعان اداء وهو تسليم عين الواجب بسببه إلى مستحقه وقضاء وهو إسقاط الواجب بمثله من عنده. (٢) حسامي، په توبې سره يا په حج سره ګناهونه بخښل کيږي فرضونه نه بخښل کيږي، لکه څنګه چې څوك حج وکړي يا توبه وباسي نو دقرضدارانو قرض همغه ډول وربانډې واجب دی لکه څنګه چې مخکې وو، همدغه ډول چې دحقوق الله کم قرض پاته دی هغه به په ادا کولو سره ادا کيږي، بلکه عالمانو ليکلي دي چې په توبه سره به دلمانځه دځنډولو ګناه وبخښل سي او سمدستي ادا کول يې لازميږي، حتى که يې بيا په قضا راګرځولو کې تاخير وکړی نو بيرته به دسره ګنهګار سي، قال في الشامية قال الترمذي هو مخصوص بالمعاصي المتعلقة بحق الله تعالى لا العباد ولايسقط الحق نفسه بل من عليه صلوة يسقط عن إثم تأخيرها لا نفسها فلو أخرها بعده تجدد إثم اخر آه ثم قال بعد أسطر نقلا عن البحر معنى التكفر كما يتوهمه كثير من الناس أن الدين يسقط عنه وكذا

(١) سورة البقرة: ١٣. ظفير
(٢) حسامي ص۳۴. ظفير

قضاء الصلوة والصوم والزكوة إذ لم يقل احد بذلك. آه ج٢ ص٢٧٢. فقط

**دېرو فوت سوو لمونځونو دادا كولو لپاره تراويح پرېښوول صحيح نه دي**: **سوال**: (١٩٥٥) په دي زمانه كي دداسي خلكو ګڼ شمير ليدل كيږي چي دهغو پرذمه زيات شمير لمونځونه واجب الأداء دي او دهغو دادا كولو هيڅ صورت نه جوړيږي نو ايا درمضان په مياشت كي دتراويحو پرځاى فوت سوي لمونځونه په جمع سره كول روا دي اوكه نه؟

**جواب**: دا صورت جائز نه دى تراويح بيلي په همدغه اهتمام او انتظام سره په جمعه سره ادا كول په كار دي ځكه چي جناب رسول كريم عليه الصلوة والتسليم ددي ډير تعريف فرمايلى دى او په خپل عمل كولو سره يي دا يوه اسوه حسنه ګرځولي ده، نو داطريقه او دا كار دنبي كريم صلى الله عليه وسلم او دصحابه وو، په همدغه ډول او كيفيت او په همدغه نيت سره جاري ساتل ښايي، او په روښانه شريعت كي دا ډول بدلونونه په خيال كي راوړل نه ښايي ځكه چي دا ډيره بده خبره او دسنت سره ټكر كيدونكى كار دى، او دا احداث في الدين دى چي دهغه په باره كي داوعيد: من أحدث في أمرنا هذا ما ليس منه فهو رد (١) كافي دى، اعاذنا الله تعالى من مثل هذه الوساوس الشيطانية والهواجس النفسانية. دچا پرذمه چي دفرائضو قضا پاتي ده هغه په خپله دهغه ذمه واردى، اوكه چيري دى دالله جل جلاله څخه بيريږي او دروښانه شريعت تابع وى نو خپل فوت سوي لمونځونه دي وخت په وخت ادا كوي نور داجائز نه دي چي ددغو فرائضو درعايت په وجه تراويح غوندي مؤكد سنت پريږدي او درمضان المبارك شعار بدل كړي، لنډه دا چي يو مشروع كار چي په ډيرو حديثونو كي په مستقل ډول په ډير اهتمام سره بيان كړه سوى دى او دهغه فضيلتونه بيان كړى سوي دي متروك او مبدل كړي دا ډول خيال هم ديوه مسلمان سړي څخه ليري او مستبعد معلوميږي. فقط (٢)

**دېرو فوائتو دادا كولو په مهال كه چيري يو لمونځ فوت سي نوځه حكم لري؟** **سوال**: (١٩٥٦) كله چي دعمري قضايي لمونځونو دادا كولو لړى پيل سوه او اتفاقا يو لمونځ دعمري قضا ترلمانځه وروسته قضا سو نوپه كمه طريقه يي ادا كړي ايا مخكي وختي لمونځ وكړي اوكه قضايي لمونځ؟

**جواب**: په دي كي ترتيب ضروري نه دى، كه چيري دوختي لمانځه په وخت كي ګنجايش وي نو دواړه قضا لمونځونه تروختي لمانځه مخكي هم كولاى سي او وروسته هم او په

---

(١) مشكوة باب الإعتصام بالسنة ص٢٧. ظفير

(٢) التراويح سنة مؤكدة لمواظبة الخلفاء الراشدين للرجال والنساء جميعا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل مبحث صلوة التراويح ج١ ص٦٥٩، ط. س. ج٢ ص٤٣). ظفير

دواړو قضايي لمونځونو يعني اوسني قضايي او پخواني قضايي کي چي هريو غواړي مخکي دي وکړي اوچي کم يو غواړي وروسته دي وکړي. (١)

**په عمري قضا لمانځه کي دقرآن څه حکم دی؟ سوال:** (١٩٥٧) دعمري قضا لمانځه ټول رکعتونه به ډك کړي اوکه دوه تش دوه ډك؟

**جواب:** دوه تش او دوه ډك کول په کار دي البته کله چي ډېرو لمونځونو قضايي پوره سي او په راتلونکي کي يواځي شبهه پاته سي چي قضا لمونځ مي پرذمه سته اوکه نه؟ نوهغه وخت دي څلور واړه ډك کوي (٢) اودماسخوتن دفرضوسره دوتروقضاهم لازمه ده.

**قرائت ادا کول ضروري دي ليکن دنفلو پرې بسوولو اړتيا نسته: سوال:** (١٩٥٨) که چيري ديوه سړي دلسو کالو لمونځ قضا سوی وي اوس هغه توبه ايستلي ده او پنځه وخته لمونځ کوي او په فرضو اوسنتو برسيره وتر او تهجد هم ادا کوي، ايا همدغه ډول وتر او تهجد دي کوي اوکه دي دا پرېږدي او دغه وخت دي هم دتيرو لسو کالو دفرضو لمونځونو دقضايي په راوړلو کي ولګوي؟

**جواب:** کم څه چي دی کوي هغه دي هم کوي او په فارغ وخت کي دي دفوت سوو لمونځونو قضايي هم راګرځوي، مثلا روزانه دي ديوڅو لمونځونو دراګرځولو اهتمام کوي اوکه چيري نور وخت نه وي نو بيا دفوت سوو لمونځونو قضا راګرځول دسنتو او تهجدو څخه مخکي ده، دغه وخت دي هم دوی ته ورکړي (٣) ليکن وتردي نه پرېږدي، فقط

**دمازديګر او سهار دلمانځه څخه وروسته دفوائتو ادا کول صحيح دي او که نه؟ سوال:** (١٩٥٩) دقضا سوو لمونځونو قضا دمازديګر او سهار دلمانځه څخه وروسته جائزه ده اوکه نه؟ که چيري جائزه وي نو ددي حديث څه مطلب دی: لا صلوة بعد الفجر حتى تطلع الشمس ولا صلوة بعد العصر حتى تغيب الشمس؟ (٤)

(١) فلا يلزم الترتيب إذا أضاق الوقت الخ او نسيت الفائتة الخ او فاتت ست إعقادية الخ (الدر المختار على هامش رد المحتار باب قضاءالفوآئت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفير

(٢) ځکه چي دنفلو په ټولو رکعتونوکي قراءت سته وتفرض القراءة عملا في رکعتی الفرض مطلقا الخ وکل النفل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٢۴۴، ط.س. ج٢ ص٢٨) ظفير

(٣) أی کل صلوة فاتت عن الوقت بعد وجوبها فيه يلزمه قضاءها سواء ترك عمداً او سهوا، او بسبب نوم وسواء كانت الفوائت كثيرة او قليلة (عالمګيري مصري باب قضاء الفوائت ج١ ص١١٣، ط.س. ج١ ص١٢١). ظفير

(۴) ويكره أن يتنفل بعد الفجر حتى تطلع الشمس وبعد العصر حتى تغرب لما روى أنه عليه السلام نهى عن ذلك ولا بأس بأن يصلي في هذين الوقتين الفوائت ويسجد للتلاوة ويصلي على الجنازة لأن الكراهة كانت لحق الفرض ليصر الوقت كالمشغول به لا لمعنى الوقت فلم تظهر في حق الفرائض وفيما وجب بعينه الخ (هدايه فصل في الأوقات التى تكره فيها الصلوة ج١ ص٨١ – ٨٢). ظفير

**جواب**: دقضا سوو لمونځونو قضايي راوړل دمازديگر او سهار ترفرضو لمونځو وروسته جائزه ده، او د: لا صلوة بعد الفجر حتى تطلع الشمس ولا صلوة بعد العصر حتى تغرب الشمس، دحديث نهى پرنوافلو باندي محموله ده (۱) في الحديث من نام عن صلوة او نسيها فليصليها إذا ذكرها (فان ذلك وقتها) فان الله تعالى قال: أقيم الصلوة لذكري. او كما قال صلى الله عليه وسلم. فقط

**<u>دترتيب ښبنتن دي دجمعي دلمانځه مخكي قضا راوګرځوي</u>**: **سوال**: (۱۹۲۰) دجمعي په ورځ ديوه سړي څخه دسهار لمونځ قضا سو هغه چي دجمعي دلمانځه لپاره جامع مسجد ته راورسيدی نو خطبه ويل كيده او دغه سړی دترتيب ښبنتن نه دی يا دترتيب ښبنتن دی نو دسهار لمونځ څه وخت ادا كړي؟

**جواب**: دترتيب دښبنتن لپاره ضروري ده چي مخكي دسهار دلمانځه قضا راوړي ځكه چي دسهار دلمانځه دادا كولو پرته دده جمع نه صحيح كيږي، او څوك چي صاحب ترتيب نه دی پرهغه باندي دخطبي اوريدل ضروري دي، هغه ته دجمعي دفراغت څخه وروسته دسهار لمونځ ادا كول په كار دي، په درمختاركي دي: فلا قضاء فائتة لم يسقط الترتيب بينه وبين الوقتية فإنها لا تكره (قوله لا تكره) بل يجب فعلها، شامي لضرورة صحة الجمعة وإلا لا (قوله وإلا لا) أي وان سقط الترتيب لا تكره (۲). شامي فقط

**<u>دقضاء عمري طريقه مروجه چي په ځينو كتابونو كي رانقل كړل سوي ده ثابته ده اوكه نه؟</u>**

**سوال**: (۱۹۲۱) په انيس الأرواح نومي كتاب ص۲۴ مجلس۱۳ كي دي: وی فرمايل: چي اميرالمؤمنين حضرت علي ﷺ دپيغمبر ﷺ څخه روايت كړی دی چي دكم سړي لمونځونه دومره قضا سوي وي چي هغه ته ياد نه وي نوهغه دي ددوشنبي په شپه پنځوس ركعته لمونځ ادا كړي، او په هر ركعت كي دي يوځل سورت فاتحه او يو ځل سورت اخلاص ووايي نو دا لمونځ الله جل جلاله دتيرو سوو لمونځونو كفاره ګرځوي؟ دا خبره شرعا صحيح ده اوكه نه؟

**جواب**: دمسئلي جواب دا دی: داحاديثو او فقهي څخه دا ثابته نه ده چي هرڅومره لمونځونه دسړي څخه قضا سي دهغو ټولو راګرځول په كار دي اوكه چاته دقضايي لمونځونو شميره ياده نه وي چي څومره دي نو هغو ته دي په خپل فكر سره يوه شميره وټاكي چي زما پرذمه دومره لمونځونه دي، دهمدغي شميري له مخي دي قضا راوړي اوكم روايت چي تاسو دانيس الأرواح څخه را نقل كړی دی دهغه هيڅ بنسټ او سند

(۱) مشكوة باب تعميل الصلوة فصل أول ص۶. ظفير

(۲) ردالمحتار باب الجمعة ج۱ ص۷۲۸، ط.س. ج۲ ص۱۵۸. ظفير

معلوم ([1]) نه دی، او نه دا معلومه ده چي دا روايت دحديثو په کم کتاب کي ستـه. او دا روايت که چيري ثابت هم سي نو پردي محموليږی چي څومره قضا سوي لمونځونه ده تـه معلوم وي دهغو دي قضايي راوګرځوي، اوکم لمونځونه چي په لا علمیـ سره پاته سـوي دي دهغو لپاره دي ذکر سوی عمل وکړي. فقط

**<u>په يوه وخت کي چي څومره قضا لمونځونه غواړي ادا کولای يې سي</u>: سوال**: (١٩٢٢) که چيري ديوه سړي دځلورو ورځو لمونځ قضا سي نو په يوه وخت کي يې ادا کولای سي او که نه؟

**جواب**: دځلورو ورځو قضا سوي لمونځونه په يوه ورځ کي را ګرځولای سي. فقط

**<u>دقضا سوو لمونځونو دادا کولو لپاره دي سنت مؤکده نه پريږدي</u>: سوال**: (١٩٢٣) ديـوه سـړي ډير لمونځونه قضا سوي دي اوس که چيري هغه ادا کول غـواړي نـو پـه سنتوکي دفـوت سوو فرضو نيت کولی سي اوکه نه؟

**جواب**: فوت سوي لمونځونه دي ځانته دقضا په نيت سره ادا کړي، په مؤکدو سنتو کي دي دهغـو نيـت نـه کـوي ([2]) البتـه کـه چيـري نوافـل پريـږدي، او دفـوت سـوو لمونځونـو قضايي راوګرځوي نو په دي کي څه ستونزه نسته. ([3])

**<u>په قضا سوو لمونځونو کي هغه وخت ترتيب نسته کله چي هغه دترتيب ځښتن نـه وي</u>: سوال**: (١٩٢٤) که چيري دقضا سوو لمونځونو ادا په ترتيب سره ونه کړي نو جائز دي اوکه نه؟

**جواب**: دترتيب نه لرونکي لپاره داجائز دی چي څرنګه وغواړي غيرمرتب دي اداکړي. ([4])

**<u>دماخستن کم لمونځ چي قضا سوی دی دهغـه ديـادوالي سـره سـره دسـهار لمـونځ نـه کيـږي</u>:**

**سوال**: (١٩٢٥) يوه سړي دماسخوتن لمونځ پريښوو‌ی اوس هغه دسهار لمونځ وکړی او دماسخوتن لمونځ چي دهغه پرذمه وو هغه يي ونه کړی په دي صـورت کـي دهغـه دسـهار لمونځ وسو او که نه؟

---

([1]) وقضاء الفرض الخ فرض (الدرالمختار على هامش ردالمحتـار بـاب قضـاء الفوائت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢) ظفير

([2]) وسن مؤكدا اربع قبل الظهر الخ (درمختار) مؤكدا اى إستنانا مؤكدا بمعنى أنه طلب طلبا مؤكـدا زيـادة علـى بقية النوافـل ولهـذا كانت السنة المؤكدة قريبة من الواجب في لحوق الإثم كما في البحر ويستوجب تاركهـا التضليل واللوم. (ردالمحتار باب الوتر والنوافل مطلب في السنن والنوافل. ج١ ص٢٣٠، ط.س. ج٢ ص١٢). ظ

([3]) أما المستحب والمندوب فينبغي ان لايكره تركه اصلا (ردالمحتـار بـاب مـا يفسـد الصـلوة ومـا يكـره فيهـا مطلب في بيان السنة والمستحب الخ ج١ ص٢١١، ط.س. ج٢ ص٢٥٣). ظفير

([4]) فلا يلزم الترتيب إذا ضاق الوقت او نسيت الفائتة او فاتت ستة إعقادية الخ بخروج وقت السادسة (الـدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفير

**جواب**: که دترتیب ثبنتن داسي وکړي نو دهغه دسهار لمونځ نه کیږي پکار دي چي مخکي دماسخوتن لمونځ وکړي او بیا دسهار لمونځ وکړي. ([1]) فقط (البته که چیري وخت تنگ وي او گنجایش نه وي نو یواځي دوخت لمونځ دی وکړي او قضا دي وروسته ادا کړي کما في الدر المختار: فلا یلزم الترتیب إذا ضاق الوقت المستحب، ظفیر).

**دماښام په وخت کی دماپښین او مازدیگر قضا څنګه وکړي؟ سوال**: (١٩٢٦) که چیري خالي دمازدیگر یا دماپښین او مازدیگر دواړه لمونځونه قضا سوي وي نو دماښام په وخت کي دا دری واړه لمونځونه څنګه ادا کړي کله چي دماښام وخت دلمانځه لپاره لږ دی که چیري قضا سوي لمونځونه مخکي کوي نو دماښام لمونځ هم قضا کیږي څرنګه ترتیب جائز دی، او بله دا چي داجائز دي چي که چیري دڅلورو یاپنځو لمونځونو په قضا کي ترتیب ونه کړي نوپه کم وخت کي چي کم دوخت لمونځ کوي هغه به نفل شمار لکیږي؟

**جواب**: دماښام وخت دامام ابوحنیفه رحمه الله په نزد تقریبا تر یوه نیم ساعت پوري وي، نو دماپښین او مازدیگر قضا دي مخکي وکړي اوبیا دي دماښام لمونځ هم په همدغه وخت کي وکړي او مسئله داهم ده چي که چیري دوختي لمانځه وخت تنگ سي چي دوختي لمانځه پرته دقضایي لمانځه گنجایش نه وي نو بیا ترتیب ساقطیږي په دي حالت کي دي وختي لمونځ مخکي وکړي او قضا دي وروسته وکړي. ([2])

**ډیر قضایي لمونځونه په یوه وخت کي ادا کول صحیح دي اوکه نه؟ سوال**: (١٩٢٧) (١) ډیر قضا سوي لمونځونه په یوه وخت کي ادا کول جائز دي اوکه نه؟

(٢) په قضا سوو لمونځونو کي وتر او دماسخوتن لمونځ هم په یوه وخت کي کول ضروري دي، اوکه دي په یوه وخت کي دماسخوتن او په بل وخت کي دي وتر وکړي؟

**جواب** (١) جائز دی ([3]) (په یوه وخت کي دډیرو وختونو قضا لمونځونه ادا کول صحیح دي. ظفیر)

---

([1]) الترتیب بین الفروض الخمسة والوتر اداءً وقضاءا لازم الخ فلم یجز فجر من تذکر أنه لم یوتر لوجوبه عنده الخ (ایضا ج١ ص٧٧٩، ط.س. ج٢ ص٦٥). ظفیر

([2]) الترتیب بین الفروض الخمسة والوتر اداءا وقضاءا لازم فلم یجز فجر من تذکر انه لم یوتر إلا إذا ضاق الوقت المستحب إذا نسیت الفائتة الخ او فاتت ست إعقادیة (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٧٩، ط.س. ج٢ ص٦٥). ظفیر

([3]) لأنه علیه السلام أخرها یوم الخندق (درمختار) وذلك أن المشرکین شغلوا رسول الله صلی الله علیه وسلم عن اربع صلوات یوم الخندق حتی ذهب من اللیل ما شاء الله تعالی فأمر بلالا فأذن ثم أقام فصلی الظهر ثم أقام فصلی العصر ثم أقام فصلی المغرب ثم اقام فصلی العشاء (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٧٢، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفیر

(۲) بیل بیل هم قضا راګرځولای سي په یوه وخت کي قضا راوړل ضروري نه دي.

**دفوت سوو لسو شلو کالو لمونځونه به څنګه ادا کوي؟** **سوال:** (۱۹۲۸) یوه سړي په پابندی سره پنځه وخته لمونځ ادا کوی وروسته یې لمونځ پریښووی کله به یې کوی اوکله نه دشمیر له مخي دده څخه ټول لمونځونه لس یا شل کاله فوت سوي دي، اوس دهغو دادا کولو صورت څنګه کیدای سي؟

**جواب:** کله چي تر یوه وخته دغه سړي دلمانځه اهتمام پرېښوولی وو کله به یې کوی او کله نه نو ددغي ټولي زماني قضا راګرځول پکاردي، اسان صورت یې دادی چي دهر یوه وختي فرض لمانځه سره دي هغه لمونځ دقضا په نیت هم کوي که یې دلسو کالو لمونځونه پرېښېي وي نولس‌کاله دي دهرلمانځه سره یوقضا سوی لمونځ راګرځوي (۱).

**دقضا لمانځه لپاره اذان او تکبیر سته اوکه نه؟** **سوال:** (۱۹۲۹) زید قضا لمونځونه په جومات کي په کرار اذان اوتکبیر ویلو سره په دي نیت ادا کوي، مثلا څلور رکعته دماپښین فرض کوم په دي صورت کي داذان او تکبیر څه حکم دی او دوترو لپاره اذان اوتکبیر ویل ښایي اوکه نه؟

**جواب:** دکم لمانځه چي ځانته قضا په جومات کي راګرځوي نو دهغه لپاره اذان او اقامت مشروع نه دی، (۲) اوپه ذکر سوي نیت سره دقضا لمونځ کیږي، او دوترو لپاره هم اذان او اقامت نسته. (۳)

**دیوه سړي څخه دډیرو ورځو لمونځونه قضا سوي دی که هغه دسنتو پرځای دفرضو قضا راوړي نو داڅنګه حکم لري؟** **سوال:** (۱۹۷۰) دیوه سړي څخه دډیرو ورځو لمونځونه قضا دي اوس که هغه دسنتو پرځای قضا لمونځونه کوي نو څه حکم لري، قضا لمونځ غوره دي اوکه دوخت سنت؟

**جواب:** دوخت مؤکد سنت پرېښودل نه ښایي، او فوت سوي لمونځونه په فارغو وختونو کي باید ادا کړل سي، او دا ښکاره ده چي دفوت سوو لمونځونو ادا کول مهم دي، لیکن که چیري دواړه کاره کیدای سي چي فوائت هم وکړي اودوخت مؤکد سنت هم نه پرېږدي

---

(۱) ولو فاتته صلوات رتبها في القضاء (إلى قوله) لأن النبى علیه السلام شغل عن اربع صلوات یوم الخندق قضاهن مرتبا (هدایه باب قضاء الفوائت ج۱ ص۱۳۷). ظفیر

(۲) ویؤذن ویقیم لفائتة رافعا صوته لو بجماعة (ای في غیر المسجد) اوصحراء لا بیته منفردا ولا فیما یقضي من الفوائت في مسجد لأن فیه تشویشا وتغلیطا ویکره قضاءها فیه لأن التاخیر معصیة فلا یظهرها (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب الأذان ج۱ ص۳۲۲ – ۳۲۳، ط.س. ج۱ ص۳۹۰). ظفیر

(۳) وهو سنة مؤکدة للفرائض في وقتها ولو قضاء لا لغیرها کعید (درمختار) ای وتر وجنازة الخ (رد المحتار باب الأذان ج۱ ص۳۵۲، ط.س. ج۱ ص۳۸۴). ظفیر

نو دا غوره ده. فقط

**چي ديو وخت قضا وي هغه په هغه وخت كي ادا كول ضروري نه دي**: **سوال**: (١٩٧١) دكم وخت لمونځ چي قضا سوی دی هغه به په هغه وخت كي كوي اوكه يا مثلا دماپښين لمونځ په ماسخوتن كي او دماسخوتن په ماپښين كي كولای سي اوكه نه؟

**جواب**: ادا كولای يي سي په هغه وخت كي ادا كول يي ضروري نه دي.

**دسهار ماښام او ماخستن په قضا كي قراءت په زوره ويلای سي او كه نه؟** **سوال**: (١٩٧٢) دسهار ماښام او ماسخوتن په قضا كي جهرا قراءت كولای سي؟

**جواب**: كه چيري په همدغو وختونو كي قضا راګرځوي نو جهرا يي لوستلای سي او كه يي دورځي راګرځوي نو نه يي سي لوستلای. (١)

(١٩٧٣) كه چيري ددوو دريو كالو لمونځونه قضا سي او اوس دادا كولو موقع په لاس نه ورځي نو دهغه دخلاصون لپاره كمه لاره ده؟

**جواب**: اسانه لاره ددي داده چي دهر يوه لمانځه سره دي دهمدغه وخت دلمانځهٔ قضا راګرځوي. دځوموه كلونو لمونځ چي فوت سوی دی هغومره كلونه دي دهر لمانځه سره دهغه وخت دلمانځه قضا هم راګرځوي چي مخكي قضا سوي دي دقضا راګرځولو پرته دخلاصون هيڅ لاره نسته. فقط

**دسهار او مازديګر دلمانځه څخه وروسته قضا لمونځ كولای سي اوكه نه؟** **سوال**: (١٩٧٤) دسهار او مازديګر دلمانځه وروسته قضا لمونځ كولای سي اوكه نه؟

**جواب**: كولای يي سي. (٢)

**درمضان په وروستني جمعه كي دقضاء عمري رواج ثابت نه دي**: **سوال**: (١٩٧٥) درمضان شريف په وروستنی جمعه كي قضاء عمري كول كيږي دا جائزه ده اوكه نه؟

**جواب**: درمضان شريف په وروستی جمعه كي قضاء عمري په مخصوص صورت سره ثبوت نه لري، په شامي كي دي چي دامام صاحب طرف ته ددي لمانځه نسبت كول صحيح نه دي، او له فخر الإسلام او قاضي خان څخه يي ددي كراهت نقل كړی دی، لهذا ددي لمانځه پرې ښوول په كاردي. (٣)

---

(١) ويجهر الإمام في الفجر واولى العشائين اداءا وقضاءا الخ ويخير المنفرد في الجهرات إن أدى الخ ويخافت المنفرد حتما إن قضى الجهرية في وقت المخافة كأن صلى العشاء بعد طلوع الشمس على الأصح (الدر المختار على هامش ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص٤٧٩، ط.س. ج١ ص٥٣٢ – ٥٣٣) معلومه سوه چي ذكر سوی حكم دمنفرد لپاره ليكل سوی دی. ظفير

(٢) وكره نفل بعد صلوة فجر وعصر ولا يكره قضاء فائتة ولو وترا الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار كتاب الصلوة ج١ ص٣٤٨، ط.س. ج١ ص٣٨٤). ظفير　=

**قضايي لمونځ په جمع سره کول څنګه** سوالخ (۱۹۷٦) قضا سوي لمونځونه په جمعه سره کول څنګه دي؟

**جواب**: مسنون دي. (۱) فقط والله أعلم

**دلمانځه دقضا کولو څه کفاره ده؟ سوال**: (۱۹۷۷) که چيري دصاحب ترتيب څخه لمونځ قضا سي نو دهغه لپاره څه کفاره ده؟

**جواب**: کفاره يي دا ده چي همدغه لمونځ دي وکړي اود ترتيب ځښتن ته ترتيب ضروري دی، يعني دوخت دلمانځه څخه يې مخکي کول ضروري دي. (۲)

**دقضا سوو لمونځونو قضايي**: **سوال**: (۱۹۷۸) ديوه سړي څخه ددوو دريو کلونو لمونځونه په داسي ډول قضا سول چي کله يي دمازديګر دا ونه کړی کله يي دماپښين دا ونه کړی نو ادا کول به يې څنګه وي؟

**جواب**: دغالب ګمان موافق دي ددي لمونځونو قضايي راوړي. فقط

**دترتيب دخښتن حکم**: **سوال**: (۱۹۷۹) دماښام لمونځ قضا سو دهغه قضايي نه وه راګرځولي چي دماسخوتن لمونځ يي وکړی نو اوس دماښام لمونځ وکړي بيا وتر او سنت وکړي، اوکه دماښام لمونځ وروسته وکړي او دماسخوتن لمونځ يې وسو اوکه نه؟

**جواب**: که چيري دی دترتيب ځښتن وي نو دماسخوتن لمونځ يي ونه سو دماښام تر لمانځه وروسته دي دماخستن فرض بيا وکړي، ترهغه وروسته دي سنت او وتروکړي. (۳)

**دقضا سوو لمونځونو کفاره**: **سوال**: (۱۹۸۰) که چيري ديوه سړي څخه لمونځونه قضا سوي وي اوهغه مړ سي او دمرګ په وخت کي يې قريبانو ته ويلي وي چي زما لمونځونه قضا سوي دي دهغو په کفاره کي يوه نسخه قرآن مجيد يوه طالب ته ورکړی دا جائز دي اوکه نه؟ او دتلاوت دسجدي کفاره سته اوکه نه؟

**جواب**: که چييري وفات سوی مالدار وو او هغه دلمانځه او نورو فرائضو دکفاري وصيت کړی وي نو دهغه دمال ددريمي برخي څخه دي دلمانځه او نورو فرائضو کفاره ادا کړل سي ديوي نسخي قرآن مجيد په ورکړه سره دلمونځونو کفاره نه سي ادا کيدلای،

(۳) وما نقل أن الإمام قضى صلوة عمر الخ (درمختار) والجواب اولا أنه لم يصح نقل ذلك عن الإمام الخ (رد المحتار باب الوتر والنوافل ج۱ ص۷۵۳، ط.س. ج۱ ص۳۸۴). ظفير

(۱) جاء في حديث ليلة الحريس وأمر بلالا فأقام الصلوة فصلى بهم الصبح فلما قضى الصلوة قال من نسى الصلوة فليصليها إذا ذكرها. رواه مسلم (مشكوة ص۲۷). ظفير

(۲) من فاتته صلوة قضاها إذا ذكرها وقدمها على فرض الوقت الخ (هدايه ج۱ ص۱۳۷). ظفير

(۳) ومن صلى العصر وهو ذاكر أنه لم يصل الظهر فهى فاسدة إلا إذا كان في آخر الوقت وهى مسئلة الترتيب (هدايه قضاء الفوائت ج۱ ص۱۳۹). ظفير

دهغه دا ويل لغوه دي [١] او علامه شامي ويلي دي: ولا رواية في سجدة التلاوة اى والصحيح أنه لايجب الخ ددي څخه څرګنده سوه چي دتلاوت دسجدي كفاره نسته. فقط

**داسقاط مسئله**: **سوال**: (١٩٨١) داسقاط حيله چي دمړي لپاره كيږي ددي ثبوت شرعا هم سته اوكه نه؟

**جواب**: هيڅ نسته [٢]. فقط

**قضاء الفوائت**: **سوال**: (١٩٨٢) ديوه سړي پنځه يا شپږ لمونځونه برابر قضا سول اوس كه چيري هغه دوخت لمونځ كوي نو كيږي اوكه نه؟

**جواب**: كه چيري شپږ لمونځونه قضا سوي وي نو دوخت لمونځ كيږي اوكه ددي څخه كم وي نو ترڅو چي هغه فوت سوي لمونځونه راونه ګرځوي دوخت لمونځ يې نه كيږي، بلكه فاسديږي يعني په موقوف فساد سره. [٣] فقط

**دترتيب څښتن څوک دی؟** **سوال**: (١٩٨٣) صاحب ترتيب چاته وايي هغه به څه كوي؟

**جواب**: دترتيب څښتن هغه څوك دی چي دهغه پرغاړه شپږ قضا سوي لمونځونه نه وي كم لمونځ چي ورڅخه قضا سوی هم وي نوهغه يي ادا كړی وي داصاحب ترتيب دی يعني پرهغه باندي لازم دي چي كه چيري لمونځ ورڅخه قضا سي نو هغه به دوختي لمانځه څخه مخكي را ګرځوي. [٤] فقط

**قضاء دي سمدستي ادا كوي**: **سوال**: (١٩٨٤) يو سړی بيده وو چي ورځ ورباندي راغله هغه دپاڅيدلو سره سمدستي قضا لمونځ وكړی دغه ډول بله ورځ هم ورباندي په بيدو لمر راوختی ليكن په دي ورځ يي دسهار لمونځ دماپښين سره وكړی كه چيري دخوب له امله په لمانځه كي ځنډ راسي، يا قضا سي نوسمدستي كول پكار دي كه په ځنډ سره؟

**جواب**: چي كم وخت راويښ سي كه چيري هغه وخت دلمانځه دكراهت نه وي نو سمدستي په هغه وخت كي قضا لمونځ كول ښايي په دويمه ورځ چي په قضا كي تاخير

---

(١) إذا مات الرجل وعليه صلوات فائتة فأوصى بأن يعطى كفارة صلوته يعطي لكل صلوة نصف صاع من بر وللوتر نصف صاع والصوم يوم نصف صاع من ثلث ماله (عالمګيري كشوري ج١ ص١٢٣، ط.س. ج١ ص١٢٥). ظفير

(٢) والواجب على الميت أن يوصى بما يفي بما عليه إن لم يضق الثلث عنه فإن اوصى بأقل وأمر بالدور وترك بقية الثلث للورثة او تبرع به لغيرهم فقد اثم بترك ما وجب عليه (رد المحتار باب قضاء الفوائت مطلب في بطلان الوصية بالختمات والتهاليل ج١ ص٦٨٢، ط.س. ج٢ ص٧٣). ظفير

(٣) فاتته صلوات رتبها في القضاء كما وجبت في الأصل (إلى قوله) إلا أن نريد الفوائت على ستة صلوات لأن الفوائت قد كثرت فتسقط الترتيب فيما بين الفوائت الخ (باب قضاء الفوائت هدايه ص١٣٧). ظفير

(٤) ولو فاتته صلوات رتبها في القضاء كما وجبت في الأصل (إلي قوله) إلا أن يزيد الفوائت على ستة صلوات لأن الفوائت قد كثرت فتسقط الترتيب الخ (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٧). ظفير

وكړي يعني دماپښين په وخت كي قضا راوړه دا يي ښه ونه كړه. فقط ([1])

**قضاء عمري**: **سوال**: (١٩٨٥) قضاء عمري احتياطا كول څنګه دي؟

**جواب**: قضاء عمري على توهم الفساد كول دامام صاحب څخه ثابت نه دي او ښه خبره داده چي مكروه دي نوكله چي له بنسته ثابته نه ده نو په دي باندي نور تفريعات كول هم صحيح نه دي اوپه داسي ځای كي دكمال او نقصان بحث بي ګټي دی ([2]) ثبت العرش ثم نقش. فقط

**دقضايي عمري ادا كول**: **سوال**: (١٩٨٦) ددين عالمان په دي مسئله كي څه وايي چي دعمري قضا دلمونځونو څنګه طريقه ده دپنځو فرضونو وروسته به يي كوي او كه مخكي او دومره پابندي يي كول چي كه جمع ولاړه وي هم ترهغو په كي ګډون نه كوي ترڅو چي قضايي عمري يې نه وي كړي دا څنګه ده؟

**جواب**: چي څومره لمونځونه يي قضا سوي دي هغه چي په كم ډول غواړي ادا دي كړي ځكه چي دی دترتيب څښتن نه دی خوښه ي ده كه يي دوخت دلمانځه څخه مخكي كوي اوكه وروسته يا دي په يوه وخت كي پنځه لمونځونه سره له وترو روزانه كوي جمع دي نه پريږدي بلكي دجمعي څخه دي مخكي كوي يا دي وروسته كوي. فقط (ولا يعود لزوم الترتيب بعد سقوطه بكثرتها اى الفوائت بعود الفوائت إلى القلة بسبب القضاء لبعضها على. المعتمد لأن الساقط لايعود وكذا لايعود الترتيب بعد سقوط بباقي المسقطات السابقة من النسيان والضيق آه درمختار ([3])

**چي دشک په ډول قضا لمونځونه كوي هغه به څنګه وي؟** **سوال**: (١٩٨٧\١) كه څيري دڅاښت دلمانځه يا دتهجدو په وخت كي قضاء عمري كوي او دغه سړي دشك په ډول قضا راګرځوي حالانكه دده په ذمه يقينا څه فرض لمونځ نسته نو دغه لمونځ به دڅاښت يا تهجدو وي او كه به نفل وي؟ او كه څيري دماښام لمونځ يي قضا كړي وي نو په دري ركعته نفل كولو سره خو به څه خرابي نه وي؟

**چا دسهار قضا لمونځ وكړی حالانكه دهغه پرذمه قضا لمونځ نه وو نو څه حكم دی؟** **سوال**: (١٩٨٨\٢) دماسخوتن دلمانځه وروسته څلور ركعته لمونځ سنت دی دوه مؤكده او دوه غير مؤكده نوكه يوه سړي دوه ركعته مؤكده وكړل، او دوه دسهار دفرضو قضا اوپه

---

([1]) من فاتته صلوات قضى إذا ذكرها وقدمها على فرض الوقت (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٧). ظفير

([2]) في العتابية عن ابن نصر رحمه الله فيمن يقضي صلوات عمره من غير أن فاته شيء يريد الإحتياط فإن لأجل النقصان والكراهة فحسن وان لم يكن لذلك لايفعل. (عالمگيري كشوري) ج١ ص١٢٣، ط.س. ج١ ص١٢٥). ظفير

([3]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٤، ط.س. ج٢ ص١٧٠. ظفير

حقيقت كي دده پرذمه قضا نه وي نو ايا دغه څلور ركعته به سنت سي كه چيري داسي وي نو وفرماياست چي ددي په يوه سلام سره كول خو به ضروري نه وي؟ فقط

**جواب**: [١] څه اختلاف نسته او دمانښام په قضا كي په دي احتمال سره څه كراهت نسته. في العالمگيرية ج١ ص١١٢ عن ابي نصر (رحمه الله) فيمن يقضي صلوات عمر من غير أن فاته شيء يريد الإحتياط فان كان لأجل النقصان والكراهة فحسن وإن لم يكن لذلك لا يفعل والصحيح أنه يجوز إلا بعد صلوة العصر والفجر وقد فعل ذلك كثير من السلف لشبهة الفسادكذا في المضمرات. جميل الرحمن

[٢] ديوه سلام شرط په دي كي نسته بلكه دوه ركعته سنت مؤكده ځانته په كار دي او دوه ركعته سنت غير مؤكده ځانته نوپه دي صورت كي چي قضا دده پرذمه نه وه نو دغه دوه ركعته به نفل سي اوټول به څلور ركعته بعد العشاء سي. فقط

(مستناد مما في الفتاوى العالمگيرية ج١ ص١٥٥ وصلى ركعتين وهو يظن أن الليل باق فاذا تبين أن الفجر قد كان طلع إلى قوله قال المتأخرون تجزيه عن ركعتى الفجر. جميل الرحمن)

**<u>دسهار او ماپښين او مازديګر قضا دمانښام څخه مخكي وكړي اوكه وروسته؟</u> سوال**: (١٩٨٩) كه چيري ديوه سړي دماپښين او مازديګر لمونځ قضا سو نو دا دمانښام څخه مخكي وكړي اوكه وروسته او څه نيت به كوي؟

**جواب**: دغه ټول لمونځونه دي دمانښام څخه مخكي وكړي اوكه چيري دومره ګنجايش نه وي نو دمانښام څخه وروسته دي وكړي لنډه دا چي دټولو لمونځونو قضا دي په همدي ورځ راوګرځوي په هر يوه لمونځ كي دي دهمغه لمونځ نيت وكړي (لا يجوز اداء الوقتية قبل اداء الفوائت الخ ويسقط الترتيب بضيق الوقت الخ عالمگيرية ج١ ص١١۴. جميل الرحمن)

**<u>قضاء عمري ثابته ده اوكه نه اوددي دقضا څه ډول طريقه ده؟</u> سوال**: (١٩٩٠) دقضاء عمري دلمانځه څنګه تركيب دی، دحديث شريف څخه ثابت دی اوكه نه؟

**جواب**: دقضاء عمري لمونځ لكه څنګه چي مشهور دی دحديث شريف څخه ثابت نه دی دچا پرذمه چي واقعي دلمونځونو قضا وي هغه دي وشميري او هغه دي پوره كړي (كل صلوة فاتت عن الوقت بعد وجوبها فيه يلزمه قضاءها الخ فتاوى عالمگيري ج١ ص١١٣ جميل الرحمن).

**<u>لمونځ پرېښوول او نور دلمانځه څخه بندول څنګه دي؟</u> سوال**: (١٩٩١) لمونځ پرېښودل او دلمانځه څخه بندول څنګه دي او په دي سره نكاح ماتيږي اوكه نه؟

**جواب**: لمونځ پرېښودل کبيره ګناه ده نو چاته دلمانځه دپرېښودلو حکم کول او منع کول دا هم ګناه کبيره ده لمونځ پرېښوونکي او لمونځ منع کوونکي دواړو ته توبه ايستل په کار دي او دلمونځونو قضا راګرځول په کاردي نکاح دهغه نه ده ماته سوي خو توبه دي وباسي او په خپل کار دي پښيمانه سي او لمونځ دي شروع کړي، فقط والله تعالی اعلم (ومن الكبائر السحر وكتمان الشهادة من غير عذر والإفطار في رمضان من غير عذر وقطع الرحم وترك الصلوة معتمد جوهره نيره ج٢ ص٢٩٥ جميل الرحمن).

**دقضا سوو لمونځونو کفاره څه ده؟** **سوال**: (١٩٩٢) [١] که چيري دبدمرغی له امله دشرعي عذر څخه پرته دومره لمونځونه قضا سوي وي چي دهغو شمارل ناممکن وي نو څه کفاره يې ده؟

**دلمونځونو کفاره صرف صدقه ده اوکه بل څه؟** **سوال**: (١٩٩٣) [٢] که چيري دد ي کفاره صدقه هم کيدای سي نو غريبان او محتاجان خلګ به څه کوي؟

**دمريض او شيخ فاني دقضا لمونځونو کفاره څه ده؟** **سوال**: (١٩٩٤) [٣] دناروغ يا شيخ فاني دقضا سوو لمونځونو کفاره څه ده؟

**جواب**: حامدا ومصليا. أما بعد: داستفساراتو جوابونه مفصل دا دي:

[١] قضا سوي لمونځونه وروسته ادا کول په کار دي، دچا چي کم لمونځ دڅه عذر يا غفلت په وجه قضا سي نو کله چي ورته ياد سي هغه دي وکړي اوکم وخت چي ورياد سي دهغه وخت دفرض لمانځه څخه مخکي قضا سوي لمونځ کول په کار دي، دحنفيانو په نزد په وقتي لمانځه او قضايي لمانځه کي ترتيب ضروري دی،رسول الله صلی الله عليه وسلم دخندق په ورځ څلور لمونځونه په ترتيب سره ادا کړي وه، او بل په حديث کي ارشاد دی چي څنګه تاسو ما په لمانځه باندي وينئ دغه ډول تاسو هم لمونځ* کوئ نو څنګه چي هغوی په ترتيب سره قضا لمونځونه ادا کړي دي موږ ته هم په کار دي. [١]

[٢] که چيري قضا سوی لمونځ په داسي وخت کي ورياد سي، چي که هغه ادا کړي نو په وخت کي دومره ګنجايش نه وي چي دوخت لمونځ هم پکښي ادا کړي بلکه دوخت دلمانځه دفوت کيدلو انديښنه وي، نوپه داسي صورت کي دوخت دلمانځه مخکي ادا کول په کار دي او دقضا سوی لمانځه وروسته لنډه دا چي که چيري په وخت کي

---

[١] من فاتته صلوة قضاها إذا ذكرها وقدمها على فرض الوقت والأصل فيه ان التركيب بين الفوائت وفرض الوقت مستحق ولو فاتته صلوات رتبها في القضاء كما وجبت في الأصل لأن النبى صلى الله عليه وسلم شغل عن اربع صلوات يوم الخندق فقضاهن مرتبا ثم قال صلوا كما رايتموني أصلي. (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٧). ظفير

پراخوالی او ګنجایش وي نومخکي قضا سوی لمونځ په کار دی اوکه چیري وسعت نه وي نو مخکي وختني لمونځ کول په کار دي. (١)

[٣] کله چي فوت سوي لمونځونه ډیر سي نو په ترتیب سره ادا کول یي ساقط سي او په خپله په فوت سوو لمونځونو کي دترتیب لحاظ کول پاته نه سي، او دډیروالي اندازه داده چي فوت سوي لمونځونه په شمیر کي شپږ سي کله چي دشپږم لمانځه وخت تیر سي نو ویلای سو چي فوت سوي لمونځونه ډیر سوه، نو په دي صورت کي دترتیب دلحاظ اړتیا پاته کیږي. (٢)

[۴] دیوه سړي په ذمه دډیري مودي قضا سوي لمونځونه دي، او هغه دکثرت حد ته رسیدلي دي، ده دهغو لمونځونو ادا کول شروع کړي وو چي اوس دکارونو له امله څه نور لمونځونه ورڅخه قضا سول نو اوس کله چي مخکني او وروستني فوت سوي لمونځونه ډیر دي نوپه دي صورت کي مخکي دوخت لمونځ کول روادي، ځکه دقضا سوو لمونځونو دډیر والي له امله دهغو ترتیب پاته نه سو. (٣)

[۵] که چیري چا فوت سوي لمونځونه ادا کول پیل کړل او اوس هغه لږ پاته سوه یعني دشپږو لمونځونو څخه لږ پاته سوه نو اوس به بیرته دترتیب مسئله په خپل حال سي. (۴)

[٦] که چیري قضا سوي لمونځونه دومره ډیر وي چي دهغو شمیرل ګران وي نو په کار ده چي ښه فکر وکړي او یوسم اټکل وکړي دساري په توګه فکر دي وکړي چي دپنځه لسو یا اتلسو کالو په عمرکي بالغ سو او څلور پنځه کاله یي لمونځونه قضا کړل یا یي کله کړي اوکله یې نه وه کړي اودا موده ددي سړي په صحیح اندازه کي مثلا څلور کاله جوړیږي نو دي سړي ته دخپل ګمان مطابق دشمیر لمونځونه کول ښایي لکه څنګه چي په دنیوي امورو کي دچا قرض وي او اندازه معلومه نه وي نو هغه هم داټکل او تخمین دلاري ادا کیږي ترڅو دهغه حق پرغاره پاته نه سي همدغه ډول دي اټکل وکړي چي دڅومره ورځو لمونځونه قضا سوي دي هغه دي ادا کړي او وړ خبره دا ده چي څومره ډیر

---

(١) ولو خاف الوقت يقدم الوقتية ثم يقضيها لأن الترتيب يسقط بضيق الوقت وكذا بالنسيان وكثرة الفوائت كيلا يؤدي إلى تقوية الوقتية (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٢٧). ظفير

(٢) إلا أن يزيد الفوائت على ستة صلوات لأن الفوائت قد كثرت فتسقط الترتيب فيما بين الفوائت بنفسها كما يسقط بينهما وبين الوقتية وحد الكثرة أن تصير الفوائت ستا بخروج وقت الصلوة السادسة (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٨). ظفير

(٣) ولو إجتمعت الفوائت القديمة والحديثة قيل يجوز الوقتية مع تذكر الحديثة لكثرة الخ (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٨). ظفير

(۴) ولو قضى بعض الفوائت حتى قل ما بقى فالترتيب عند البعض وهو الأظهر. (ايضا ج١ ص١٣٨). ظفير

كولاى سي هغومره دي ادا كړي. ځكه چي ټوله ګټه ده.

[٧] دقضا سوو لمونځونو كفاره دهغو ادا كول او الله جل جلاله ته په عاجزي اوپښېماني سره توبه كول دي، صدقه وركول نه دي هو! كه چيري په صدقي سمره دالله جل جلاله غضب دفع كيږي نو اميد سته چي دالله جل جلاله كمه غصمه دلمانځه دپرېښودلو په سبب وه هغه به پاته نه سي او ديوه غريب داړتيا په پوره كولو سره به دالله جل جلاله رحمت متوجه سي نوراصل دلمانځه ادا كول دي دصمدقي په وركړه سوه به لمونځ ساقط نه سي.

[٨] دمريض په اړوند هم په تفصيل سره مسائل بيانول مناسب معلوميږي چي په كم صورت كي كفاره ده او په كم صووت كي تخفيف اوپه كم صورت كي بخښنه، ناروغ كه چيرى دريدلاى نه سي نو په ناسته دي لمونځ وكړي او ركوع او سجده دي ادا كړي. ([١])

[٩] كه چيري دركوع او سجدي طاقت هم نه لري نو ركوع او سجده دي په اشاره سره ادا كړي، يعني په ناسته دي لمونځ وكړي او دركوع لپاره دي لږ ښټ ټيټ كړي او دسجدي لپاره دي لږ زيات ټيټ كړي. ([٢])

[١٠] څوك دي منګى يا صندوق يا بالښت يانور همداسي شيان دسجدي لګولو لپاره خپل مخ ته نه ايږدي بلكه څومره اشاره چي كولاى سي هغه دي وكړي. ([٣]) لا يكلف الله نفسا إلا وسعها. ([٤])

[١١] كه په مريض كي دناستي طاقت نه وي نو په سيده پروته دي لمونځ وكړي چي پښي او مخ يې دواړه دقبلي لوري ته وي او ركوع او سجده دي دښټ په اشارې سره ادا كوي، او دسجدي په اشاره كي دي ښټ لږ ډير كښته كړي. ([٥])

[١٢] كه چيري داسي ناروغ وو چي لمونځ يي په اشاره سره كوى او دركوع او سجدي قدرت يي نه وو دالله جل جلاله په قدرت په لمانځه كي ورته دومره افاقه وسوه چي پرركوع اوسجده يي قدرت پيداكړى، نو په دي صورت كي به دټولو په وړاندي لمونځ دسره كوي. ([٦])

---

([١]) إذا عجز المريض عن القيام صلى قاعدا ويسجد لقوله عليه السلام لعمران بن حصين صل قائما فان لم تستطع فقاعدا فأن لم تستطع فعلي الجنب تؤمى ايماءاً الخ (هدايه باب صلوة المريض ج١ ص١٤٤). ظفير

([٢]) ان لم تستطع الركوع والسجود أومي ايماء الخ يعني قاعدا (ايضا). ظفير

([٣]) وجعل سجوده أخفض من ركوعه لأنه قائم مقامها فأخذ حكمها، ولا يرفع إلى وجهه سيء الخ (ايضا). ظفير

([٤]) سورة البقرة. ظفير

([٥]) وإن لم يستطع القعود استلقى على ظهره وجعل رجليه إلى القبلة واومى بالروع والسجود الخ (ايضا). ظفير

([٦]) وإن صلى بعض صلوته بايماء ثم قدر على الركوع والسجود إستأنف عندهم جميعا (هدايه باب صلوة المريض =

[١٣] كه يو مريض بيهوښه سو او دپنځو لمونځونو يا دپنځو كمو لمونځونو وخت يي په بيهوښۍ كي تير سو نو په هوښ كي دراتلو وروسته به ددي لمونځونو قضا راوړي، اوكه يي دپنځو لمونځونو څخه ډير وخت په بيهوښۍ كي تير سو نو قضا نسته ورباندي. ([1])

[١۴] ددي فقهي تفصيلاتو څخه دا خبره په ښه ډول معلوميږي چي په شريعت كي دلمانځه څومره وقعت او څومره ټينګار دی چي په ناروغي كي هم ددي ادا كول لازمي دي، نو موږ ته نه ښايي چي دشرعي عذر څخه پرته لمونځ پريږدو، دهغو مسلمانانو په حال باندي افسوس دی څوك چي په مزدوري، تجارت، زراعت او لهو اولعب كي وخت تيروي اودلمانځه غوندي محبوب سی چي دمسلمان دامتياز او غوره والي نښه ده په دنيا او آخرت كي په كار راتلونكی شی دی هغه قضا كوي مسلمان ته نه ښايي، چي لمونځ په يوه وخت كي هم پريږدي.

[١۵] شيخ فاني هغه بوډا ته وايي څوك چي دخپلي بوډايي او كمزوري دامله دروژي دنيولو وس نه لري، دداسي سړي دا حكم دی چي دی دي روژه نه نيسي اوفديه دي ادا كړي. ([2])

[١٦] ديوي روژي فديه په يوه مسكين باندي يوه ورځ دوډۍ خوړل دي، چي څومره روژي يي وخوړي دهري روژي په بدل كي دي دوه وخته مسكين ته دوډۍ وركړي، ددي ډوډۍ دخوړلو په اړوند شريعت دغنمو نيمه پيمانه او داوربشو پوره پيمانه ټاكلي ده چي دومره غله دي فقير ته وركړي ([3]) صاع تقريبا په انګريزي سير سره چي اتيا تولي دی ددري ۳ مار په اندازه جوړيږي.

[١٧] شيخ فاني چي روژه نه سي نيولای دهغه څخه لمونځ نه معاف كيږي، په ولاړه دي كوي كه يي ددريدلو طاقت نه وي نو په ناسته دي كوي كه يي دناستي طاقت هم نه وي نو په اشاره سره دي كوي، ([4]) دپورتني ذكر سوي تفصيل مطابق.

---

= ج١ ص١۴۵). ظفير

([1]) ومن أغمى عليه خمس صلوة او دونها قغى وان كان اكثر من ذلك لم يقض (ايظا). ظفير

([2]) فالشيخ الفاني الذى لا يقدر على الضيام يفطر ويطعم لكل يرم مسكينا كما يطعم في الكفارة والعجوز مثله (عالمګيري مصري كتاب الصوم باب خامس ج١ ص١٩۴، ط. ماجدية ج١ ص٢٠٧). ظفير

([3]) يطعم لكل يوم مسكينا كما يطعم في الكفارة كذا في الهداية الخ نصف صاع من بر اوصاع من تمر اوصاعا من شعر (عالمګيري مصري كتاب الصوم باب خامس ج١ ص١٩۴، ط. ماجدية ج١ ص٢٠٧). ظفير

([4]) سئل عن الشيخ الفاني هل تجب عليه الفدية من الصلوة كما تجب عليه عن الصوم وهو حي فقال لا (عالمګيري مصري باب قضاء الفوائت ج١ ص١١٧، ط. ماجدية ج١ ص١٢۵). ظفير

[١٨] كم سړى چي مړ سي او دهغه پرغاړه درمضان فوت سوي روژي وي، او هغه دمرګ په وخت کي خپلو وارثانو ته وصيت کړى وي، دهغه پروارثانو دا لازمه ده چي دهغه دروژو شمېر وکړي او دپورته ذکر سوي تفصيل مطابق فديه ورکړي که يي وصيت نه وي کړي نو په وارث باندي ادا کول لازم نه دي، هو! که يي دخپل لوري ادا کړي نو دا احسان دى، او دالله جل جلاله دذات څخه اميد سته چي هغه يې قبوله کړي.
وصيت زموږ دامام صاحب په نزد ځکه معتبر دى چي دا فديه هم عبادت دى، او عبادت بايد په خپل اختيار او اراده سره وکړل سي او کله چي يي وصيت وکړى نو ادا کول يي لازم دي. ([١])
[١٩] کم سړى چي دمرض په حالت کي خپلو وراثانو ته وصيت وکړي چي پرما باندي دومره لمونځونه قضا پاته دي، دهغوى فديه خو مشائخو منلي ده، او په دي باره کي يي لمونځ دروژي مشابه بللى دى يعني داچي هر لمونځ ديوي روژي حکم لري، کمه فديه چي ديوي روژي لپاره ده هغه ديوه لمانځه لپاره هم ده يعني ديوه لمانځه فديه نيمه پيمانه دغنمو يا يوه پيمانه ([٢])، داوربشو ده.
[٢٠] ولي او وارث ته دهغه له لوري روژه نيول نه ښايي. ([٣])
[٢١] نن صبا چي ډير وس لرونکي مسلمانان په روژه کي دتکليف په وجه خپل ځان عاجز ګڼي او په خپله ځانته دشيخ فاني حکم تجويز کوي دا سراسر غلطه ده، دتعيش په وجه دشرعي تکاليفو ځان خلاصول ددين سره ګستاخي ده، که چيري داسي سړى دوخت دبادشاه په قيد کي راسي نو دى هغه وخت ولي ځان شيخ فاني نه بولي، بيا خو هرڅه کوي، نو دداسي جرأت څخه بايد مسلمانان خپل ځانونه وژغوري.

<u>**دماسخوتن قضا دي دسهار تر لمانځه مخکي ادا کړي**</u>: **سوال**: (**١٩٩٥**) [١] زه اوس په سفر کي په ناګپور نومي ځاى کي يم ددى ځاى خلګ ډير دماسخوتن لمونځ قضا کوي او هغه دصبح صادق څخه وروسته دسهار تر لمانځه مخکي ادا کوي، اګرکه امام په جمع ولاړ هم وي خو دى لومړى دماسخوتن لمونځ ادا کوي بيا دسهار لمونځ کوي که څوك دا خيال

([١]) وإذا مات الرجل وعليه صلوات فأوصى ان تعطي كفارة صلوته يعطى لكل صلوة نصف من بر وللوتر نصف صاع ولصوم يوم نصف صاع من ثلث ماله الخ فإن لم يوص لورثة وتبرع بعض الورثة يجوز (عالمگيري مصري باب قضاء الفوائت ج١ ص١١٧، ط. ماجدية ج١ ص١٢٥). ظفير
([٢]) إذا مات الرجل وعليه صلوات فائتة فأوصى بأن تعطى كفارة صلوته يعطى لكل صلاة نصف صاع من بر وللوتر نصف صاع (عالمگيري مصري باب قضاء الفوائت ج١ ص١١٧، ط. ماجدية ج١ ص١٢٥). ظفير
([٣]) ولو أمر الأب ابنه ان يقضي عنه صلوة وصيام ايام لايجوز عدنا كذا في التتارخانية (عالمگيري مصري باب قضاء الفوائت ج١ ص١١٧، ط. ماجدية ج١ ص١٢٥). ظفير

وکړي چي دسهار لمونځ به راڅخه ولاړسي نو وتر خو حتما کوي بيا دسهار لمونځ کوي او دماسخوتن فرض دلمر دراختلو وروسته ادا کوي دماپښين لمونځ قضا کوي او بيا يې دمازديګر په اخر وخت کي دمازديګر دلمانځه سره کوي په داسي حالکي چي جمع ولاړه وي په دي صورت کي مسئله څنګه ده؟

**چي دماسختن لمونځ قضا سي نوتر څه وختـه يـې ادا کـولای سـي؟ سـوال**: (١٩٩٦) [٢] که چيري دماسخوتن لمونځ قضا سي نو تر کمه وخته يي ادا کول په کار دي؟

**ترصـبح صـادق وروسـته**: **سـوال**: (١٩٩٧) [٣] دصـبح صـادق تـر راښـکاره کيـدو وروسـته دتلاوت سجده کيداى سي اوکه نه؟ دسهار دلمانځه پرته بل لمونځ دلمر تر راختلو پوري کولای سي او که نه؟

**دماپښين قضا ترمازديګر مخکي په کـار ده او کـه نـه؟ سـوال**: (١٩٩٨) [۴] دماپـښين قـضا لمونځ دمازديګر دلمانځه سره يعني دمازديګر دلمانځه مخکي ادا کول په کار دي او که نه يعني دواړه لمونځونه دماښام څخه لړ مخکي ادا کولای سي او که نه؟

**دماښام دجمعي په وخت کي دقضا ادا کول صـحيح دي**: **سـوال**: (١٩٩٩) [۵] دماښـام جمـع ولاړه ده يو سړی خپل مخکنی لمونځ يـا دماپـښين يـا دمـازديګر ادا کـوي دا صـحيح ده اوکه نه؟

**ددوو کالو قضا کلـه ادا کـړي؟ سـوال**: (٢٠٠٠) [٦] دکـم سـړي پرذمـه چـي ددوو کلـو قـضا لمونځونه وي هغه به دا لمونځونه کم وخت او په کم ترتيب سره ادا کوي؟

**جواب**: [١] دترتيب دڅښتن لپاره يعني دچا پـه ذمـه چـي شـپږ لمونځونـه يـا تـر دي زيـات قضا نه وي دا حکم دی چي کم لمونځ ورڅخه فوت سي هغه دي تر بل لمانځه مخکي ادا کړي، اوکه چيري دبل لمانځه جمع ولاړه وي نو په هغي کي دي نـه شـريکيږي خپـل فـوت سوی لمونځ دي مخکي ادا کړي بيا دي وقتيه لمونځ وکړي مثلا که چيري بيده سو يا په بله کمه وجهه ور څخه دماسخوتن لمونځ قضا سو او صبح صادق راوختی يا دسهار جمع ودريده نو دی دي اول دماسخوتن لمونځ سره دوترو وکړي بيـا دي دسـهار لمـونځ وکـړي اګرکه جمعه نه کړي پيدا. (١)

[٢] تحية الوضوء او نور نوافل نسي کولای (٢) او قضا لمونځ ادا کولای سي (٣) کذا في

---

(١) من فاتته صلوة قضاها إذا ذكرها و قدمها على فرض الوقت الخ ومن صلى العصر وهو ذاكر أنه لم يصلي الظهر فهي فاسدة إلا إذا كان في آخر الوقت (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٧ – ١٣٩). ظفير

(٢) ويكره أن يتنفل بعد طلوع الفجر باكثر من ركعتى الفجر (هدايه كتاب الصلوة فصل فى الأوقات المكروهة ج١ ص٨٢). ظفير

=

الدر المختار.

[۳] دتلاوت سجده کولای سي او دجنازي لمونځ او فوت سوی لمونځ هم په دغه وخت کي صحيح دی كذا في الدر المختار: لايكره فائتة او سجدة تلاوة وصلوة جنازة (١) الخ

[۴] دماپښين قضا سوی لمونځ باید دمازدیگر څخه مخکي وکړل سي، له هغه وروسته دمازدیگر لمونځ کول په کار دي. (٢)

[۵] دترتيب ځښتن ته همداسي کول ښايي، چي هغه دي خپل دمازديگر يا ماپښين فوت سوي لمونځونه دماښام تر لمانځه مخکي وکړي، كما مر تفصيلة كذافي الدر المختار.

[۲] دکم سړي پرذمه چي ددوو کلو قضايي لمونځونه وي پرهغه باندي دفوت سوو لمونځونو په قضا راوړلو کي څه ترتيب لازم نه دی په هروخت کي چي څومره لمونځونه ادا کولای سي ادا دي کړي که داسي کوي چي دهروختي فرض سره دهغه وخت لمونځ راګرځوي مثلا دماپښين دلمانځه مخکي يا وروسته دي ديوه ماپښين قضا راوګرځوي؟ اوکه ډير ګنجايش وي نو ډير دي راوګرځوي. فقط (٣)

**دسهار قضا دماپښين داذان څخه مخکي وکړي که وروسته؟ سوال**: (٢٠٠١) [١] که دسهار لمونځ قضا سو او دماپښين په مهال يي دقضا راګرځولو موقع برابره سوه نو داذان سره لمونځ کول په کار دي که له اذانه پرته؟

**دقضا لپاره اذان کيږي اوکه نه اودهر لمانځه لپاره به بيل بيل وي که يو کافي دی؟ سوال**: (٢٠٠٢) [٢] که چيري لمونځ پنځه وخته قضا سو نوپه ټولو وختونو کي داذان ويلو اړتيا ده اوکه يواځي په يوه وخت کي؟

**جواب**: [١] که چيري دځانته يعني منفرد سړي لمونځ قضا سو نو هغه دي پرته له اذان او اقامت څخه ددغه لمانځه قضايي راوګرځوي. (۴)

---

(٣) ويكره أن يتنفل بعد الفجر حتى تطلع الشمس الخ ولا بأس بأن يصلي في هذين الوقتين الفوائت ويسجد للتلاوة (ايضا) ج١ ص٨١). ظفير

(١) الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصلوة ج١ص٣١٢، ط.س. ج١ ص٣٧٥. ظفير

(٢) ومن صلى العصر وهو ذاكر أنه لم يصل الظهر فهي فاسدة إلا إذا كان في آخر الوقت (باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٩). ظفير

(٣) إلا أن يزيد الفوائت على ستة صلوات لأن الفوائت قد كثرت فتسقط الترتيب فيما بين الفوائت بنفسها كما يسقط بينهما وبين الوقتية (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٨). ظفير

(۴) ويسن أن يؤذن ويقيم للفائتة رافعا صوته لو بجماعة او صحراء لا بيته منفردا (درمختار) لو بجماعة اى في غير المسجد بقرينة ما يذكره قريبا من انه لايؤذن فيه للفائتة (رد المحتار باب الأذان ج١ ص٢٢٣، ط.س. ج١ ص٣٩٠). ظفير

[٢] كه چيري په قضا كي جماعت وي (يعني په جمع سره قضايي لمونځ راګرځوي) نو دلومړي لمانځه لپاره دي اذان او اقامت وويل سي، دنورو لمونځونو لپاره اختيار دی كه يي وايي اوكه نه او اقامت دي دټولو لپاره وويل سي. ([1])

**دپنځوسو كلونو قضا لمونځونه اودهغو ادا كول**: **سوال**: (٢٠٠٣) دزيد ډير لمونځونه دځواني ځخه پيل تر ځلويښتو كلونو پوري قضا سوي دي او اوس هغه دتوبي وروسته لمونځ كوونكی سو آيا ددغو قضا لمونځونو تدارك په توبو او تضرع "زاريو" سره كيږي اوكه دهر لمانځه ځخه وروسته دقضايي عمري په ډول قضا راګرځول په كار دي، اوكه چيري دده ژوند تلافي دمافات ونه كړی سي نو ايا دتوبي سره سره به دده پراوږو دادروند بار پاته وي په حديث شريف كي خو: التائب من الذنب كمن لا ذنب له الفاظ راغلي دي؟

**جواب**: په زيد باندي دتيرو سوو ټولو لمونځونو قضا راګرځول لازم دي، او لكه ځرنګه چي راتلونكي لمونځونه دده پرذمه فرض دي همدغه ډول فوت سوي لمونځونه ادا كول وراندي لازم دي دهغو دقضا راګرځولو كمه طريقه چي اسانه ښكاري هغه دي غوره كړي چي دهر ([2]) وخت دفرضو سره دهغه لمانځه قضا راګرځوي يا دوه دوه ځلور ځلور دي په يوه وخت كي راوګرځوي، اوكه چيري په ژوند كي يي تلافي دمافات ونه كړی سول نو په اخري وخت كي دفديي دادا كولو وصيت كول لازم دي تر ځو دده وارثان دده ځخه وروسته دباقيمانده لمونځونو فديه وركړي.

او داحديث التائب من الذنب كمن لاذنب له ([3]) مطلب دادی چي دلمونځونو دځنډولو يا په خپل وخت دپريښودلو چي كمه ګناه ده هغه به په توبه سره وبخښل سي او داخبره دي واضحه وي چي لكه ځنګه چي دبندګانو دحقونو توبه ده چي دهغو حقوق وركړي او دچا چي ځه حق دی هغه ادا كړي هغه وخت به يي توبه قبليږي همدغه ډول دحقوق الله توبه ده لكه لمونځ روژه زكوة، اونور چي ادا سوي نه دي دهغو توبه داده چي هغه دي ادا كړي نو دادا كولو پرته هغه بالكل تائب نه سو چي دالتائب من الذنب كمن لاذنب له په حكم كي داخل سي، والله ولي التوفيق. فقط

---

([1]) ويسن أن يؤذن ويقيم للفائتة رافعا صوته لو بجماعة او صحراء لا بيته منفردا (درمختار) لو بجماعة اى في غير المسجد بقرينة ما يذكره قريبا من انه لايؤذن فيه للفائتة (رد المحتار باب الأذان ج١ ص٣٢٣، ط.س. ج١ ص٣٩٠). ظفير

([2]) وقضاء الفرض والواجب والسنة فرض وواجب وسنة لف ونشر مرتب وجميع اوقات العمر وقت للقضاء (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٢). ظفير

([3]) مشكوة باب التوبة والإستغفار ص٢٠٢. ظفير

**داحتلام په مهال دي دغسل کولو وروسته لمونځ ادا کړي او دوخت دختميدلو وروسته دي قضا را وګرځوي**: **سوال**: (۲۰۰۴) که چيري دصبح صادق په وخت کي چاته احتلام وسو هغه لمونځ څه ډول ادا کړي؟

**جواب**: غسل دي وکړي او دسهار لمونځ دي ادا کړي که چيري وخت پاته وي نو همدغسي دي وکړي اوکه وخت نه وي نو دلمر دراختلو وروسته دي دسهار. لمونځ دسنتو سره ادا کړي. (١)

**دبلوغ څخه وروسته دقضا سوو لمونځونو ادا کول ضروري دي**: **سوال**: (۲۰۰۵) دقضاء عمري روژه نيول او لمونځ کول. فرض دي اوکه نه؟ يوه سړي ددېرشو کالو وروسته دلمانځه او روژي پابندي کړي ده؟

**جواب**: دبلوغ څخه وروسته چي څومره روژي او لمونځونه دهغه قضا سوي وي هغه دي راوګرځوي. (٢)

**که دقضا شمير ورته ياد نه وي نوپه فکر کولو سره دي شميره ورته وټاکي**: **سوال**: (۲۰۰۶) ديوه سړي څخه دناروغۍ له امله ددريو څلورو کالو لمونځونه قصا سوي دي، ليکن شميره يي ورته ياده نه ده دبيماری څخه وروسته يي څه قضا لمونځونه راوګرځول ليکن دهغو شمېر هم ورته يادنه دی اوس دی بايد څومره نور راوګرځوي؟

**جواب**: په داډول صورت کي دي دتخمين اواټکل په مرسته باندي تعداد معلوم کړي اوقضا راوګرځوي. فقط

**قضا يي ادا نه کړه او دمرګ په مرض اخته سو نو څه وکړي؟** **سوال**: (۲۰۰۷) که چيري دقضا راګرځولو وخت پيدا نه سي او په مرض الموت کي اخته سي او دفديي طاقت يي نه وي نو دمؤاخذي څخه دخلاصون يي څه طريقه ده؟

**جواب**: دفوت سوو لمونځونو ادا کول يا فديه ورکول هم دعذاب دليري کيدلو موجب کيدای سي، نور دالله ﷻ خپله خوښه ده لکه څنګه چي يې فرمايلي دي: ويغفر ما دون ذلك لمن يشاء. فقط

**دسهار دلمانځه وروسته دلمر تر راختلو مخکي دقضا ادا کول صحيح دي**: **سوال**: (۲۰۰۸) که

---

(١) ولا تقضيها إلا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لا بعده في الأصح لورود الخبر بقضائها في الوقت المهمل (درمختار) قوله لورود الخبر وهو ما روى انه صلى الله عليه وسلم قضاها مع الفرض غداة ليلة الحريس بعد إرتفاع الشمس كما رواه مسلم (رد المحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٧٢، ط.س. ج٢ ص٥٧). ظفير

(٢) وقضاء الفرض الخ فرض الخ و جميع اوقات العمر وقت للقضاء (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٢٢). ظفير

يو سړی دسهار دلمانځه وروسته دلمر تر راختلو مخکي او يا دمازديګر دلمانځه وروسته تر لمر لويدلو مخکي قضا لمونځ کوي، جواز لري اوکه نه؟

**جواب**: جواز لري. ([1])

**دچا څخه چي دمازديګر لمونځ قضا سي نو هغه ماښام لومړی قضا وکړي که ادا؟ سوال**: (٢٠٠٩) که چيري ديوه سړي څخه دمازديګر لمونځ قضا سي او دماښام وخت ورباندي راسي نو هغه په جمعه کي ګډون وکړي اوکه مخکي دمازديګر لمونځ وکړي؟

**جواب**: که دا سړی دترتيب څښتن وي نو مخکي دي دمازديګر لمونځ وکړي، اګر که دماښام جمع ورڅخه تيره سي. ([2]) فقط

**په جمع سره قضا صحيح نه ده**: **سوال**: (٢٠١٠) يوه امام قضاء عمري په جمع سره وکړه آيا دامام صاحب رحمه الله په مذهب کي دا جواز لري؟

**جواب**: داسي کول شرعا جائز نه دي، امام اعظم رحمه الله دي ته ناجائز وايي. ([3])

**قضا لمونځ او روژه يوازي په توبه سره نه بخښل کيږي**: **سوال**: (٢٠١١) ايا روژي او فوت سوي لمونځونه يواځي په توبه سره بخښل کيږي؟

**جواب**: يواځي په توبه سره نه بخښل کيږي بلکه دهغو قضا لازمه ده. فقط ([4])

## له مرګه وروسته دلمانځه کفاره

**دلمونځونو کفاره دمرګ څخه وروسته ده په ژوند کي هم ده؟ سوال**: (٢٠١٢) يو سړی ناجوړه دی دهغه څخه لمونځونه قضا سوي دي، دصحبت اميد يي کم دی دلمانځه کفاره يي په ژوند کي ورکړه سي که دوفات څخه وروسته؟ او دلمانځه کفاره څه ده؟ او دلمانځه په کفاره کي نقدي ورکول ښه دي که غله او که ديني کتابونه واخستل سي او

---

([1]) وكره نفل الخ بعد صلوة فجر وصلوة عصر الخ ولا يكره قضاء فائتة ولو وترا (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصلوة ج١ ص٣٤٧ – ٣٤٨، ط.س. ج١ ص٣٧٤). ظفير

([2]) ومن فاتته صلوة قضاها إذا ذكرها وقدمها على فرض الوقت الخ ومن صلى العصر وهو ذاكر أنه لم يصلي الظهر فهى فاسدة إلا إذا كان في آخر الوقت (هدايه باب قضاء الفوائت ج١ ص١٣٧ – ١٣٩). ظفير

([3]) دقضاءعمرى څخه كه چيرى مخصوص ركعتونه په ځانګړي هيئت او ترتيب سره مراد وي نو ددي هيڅ ثبوت په شريعت كي نسته اوكه چيري قضا سوي لمونځونه مراد وي نو بيايي تعين ضروري دى، او هغه هم على الاعلان كول نه دي په كار فقهاء صراحت كوي: ويكره قضاءها فيه لأن التأخير معصية فلا يظهرها (درمختار) لأن التأخير معصية إنما يظهر ايضا في الجماعة لا المنفرد الخ كما قدمناه عن القهستاني على أنه إذا كان التفويت لأمر عام لا يكره ذلك للجماعة ايضا لأن هذا التاخير غير معصية هذا، ويظهر من التعليل أن المكروه قضاءها مع الإطلاع عليها ولو في غير المسجد (رد المحتار باب الأذان ج١ ص٣٢٣، ط.س. ج١ ص٣٩١). ظ

([4]) قضاء الفرض الخ فرض (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٠، ط.س. ج٢ ص٦٦). ظ

كمي اسلامي مدرسي ته وسپارل سي؟
**جواب**: دلمونځونو كفاره دوفات څخه وروسته وركول ښايي، په ژوند كي دلمونځونو دكفاري حكم نسته، او ديوه لمانځه كفاره په انګريزي وزن سره پاو كم دوه سيره غنم دي، په شپه او ورځ كي شپږ لمونځونه شميرل په كار دي يعني دوترو سره (١) نو ديوي ورځي دلمونځونو كفاره لس نيم سيره غنم سوه، دى اختيار لري كه غنم وركوي او كه نقدي خو نقدي غوره دي ځكه په هغو باندي ټولي اړتياوي پوره كيداى سي (٢) اوكه چيري ديني كتابونه واخلي او ور يي كړي نو داهم صحيح ده ليكن بيا به دا اړينه وي چي هغه كتابونه په طالبانو وويشي او هغوى يي څښتنان وګرځول سي په مدرسوكي چي په كم ډول كتابونه وقف وي په هغه ډول جائز نه دي په دي سره كفاره نه ادا كيږي.

**كه دلمونځ نه كوونكي دلوري وارثان فديه وركړي نوهغه به خلاصون ومومي اوكه نه؟ سوال**:
(٢٠١٣) زيد دڅلويښتو كالو په عمركي وفات سو او ديوه وخت لمونځ يي هم نه وو ادا كړى دهغه وارثان غواړي چي دهغه له لوري كفاره ادا كړي كه چيرى په داسي حالت كي دهغه وارثان كفاره ادا كړي نو ايا دهغه غاړه به خلاصه سي؟ او دفرض دپريښودلو سوال به ورڅخه كيږي اوكه نه؟ كه يي غاړه خلاصيږي نو ايا دا صورت به مالداران دلمانځه په پريښوولو زورور نه كړي؟
**جواب**: دمړي دوصيت څخه پرته او دمال دپريږ ښوولو پرته پروارثانو كفاره ادا كول واجب نه دي، كه چيري تبرعا دهغه دلمونځونو كفاره وركړي نو صحيح ده، او ډيره ښه خبره ده، أميد سته چي الله ﷻ دهغه دګناهونو څخه ورتير سي اوكم سړى چي دڅلويښتو كالو په عمر كي وفات سو دهغه پرذمه تقريبا دپنځه ويشتو كلونو دلمونځونو فديه لازمه ده، ځكه چي دپنځلسو كلونو په عمركي بالغ شميرل كيږي، په هر حال په اوسني حالت كي دوارثانو فديه وركول غوره دي په دي كي څه بدوالى نسته، اګر كه دا يقين نسته چي مړى به خلاصون وومي ليكن دخلاصون اميدونه سته، او دفديې ادا كول دلمانځه په پرې ښودو څوك زورور نه جوړوي ځكه دلمانځه پريښودونكي ته خو اول دا يقين نسته چي دهغه وارثان به دهغه دلمونځونو فديه ادا كړي اوكه نه؟ بل

---

(١) ولومات وعليها صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطي لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وانما يعطى من ثلث ماله الخ ولو فدى عن صلوته في مرضه لايصح بخلاف الصوم (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٥ – ٦٨٦، ط.س. ج٢ ص٧٢). ظفير
(٢) قوله نصف صاع من بر اى اومن دقيقه او سويقه او صاع تمر او ذبيب او شعير او قيمته وهى افضل عندنا لإسراعها بسد حاجة الفقر (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٦، ط.س. ج٢ ص٧٢). ظفير

دوصيت نه كولو او مال نه پرينبنودلو په صورت كي دوارثانو په تبرعا فديه وركولو سره دمړي خلاصون هم يقيني نه دی، په هر حال دفرض پرينبنودل لويه ګناه ده، ددي سوال به هرومرو كيږي كه يي فديه وركړه اوكه نه نور نو بخښنه دالله جل جلاله په واك كي ده (١) ويغفر مادون ذلك لمن يشاء. فقط

**<u>دلمونځ نه كوونكي دلمانځه كفاره كله ضروري ګرځي؟</u> سوال:** (٢٠١٤) زيد بي لمانځه سود خور مړ سو دمرګ څخه وروسته يي ځينو عالمانو تخمينا دشپږو مياشتو كفاره وايستله يوه برخه يي په خپل تصرف كي واخسته او يوه برخه يي په فقيرانو او مسكينانو وويشله داسي كفاره ويشل جائز دي او كه نه؟

**جواب:** دلمانځه اوروژي فديه دمړي دمال دپرينبنودلو او دوصيت كولو پرته په وراثانو باندي لازمه نه ده، كه يي هغوی وركړي نو دا تبرع ګڼل كيږي احتمال سته چي فديه به ادا سي، ليكن قطعي حكم نه سي كيداى، قال في الدرالمختار: ولوماتا وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله الخ الشامي، زاد في الإمداد: ولم يوص بشيئ واراد الولي التبرع الخ واشار بالتبرع إلى أن ذلك ليس بواجب على الولي. (٢) فقط

**<u>كه چيري مړ كيدونكي دقضا سوو لمونځونو دفديي وركولو وصيت وكړي نودملل ددريمي برخي څخه دي وركړل سي</u>: سوال:** (٢٠١٥) زيد مړ سو او وصيت يي وكړی چي: زما دقضا سوو لمونځونو فديه وركړی، لكه څنګه چي دپنجاب په ډيرو ځايونو كي خلګ دمړي سره غله او نور شيان وركړي نو دا صحيح ده اوكه نه ؟

**جواب:** كه چيري زيد څه مال هم پرينبنوولى وي او وصيت وكړي چي زما دقضا لمونځونو فديه وركړی نو دفديي وركول پروراثانو لازم ګرځي، دمال تردريمي برخي به دا وصيت نافذ كيږي، په درمختار كي دي: ولومات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله. (٣) الخ

---

(١) ولومات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة ويعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله (درمختار) اى يعطى عنه وليه الخ إن اوصى وإلا فلا يلزم الولي ذلك الخ أما إذا لم يوص فتطوع بها الوارث فقد قال محمد في الزيادات أنه يجزيه ان شاء الله تعالى فعلق الإجزاء بالمشية لعدم النص (ردالمحتار باب قضاء الفوائت مطلب في اسقاط الصلوة عن الميت ط.س. ج٢ ص٧٢). ظفير

(٢) ردالمحتار باب قضاء الفوائت مطلب إسقاط الصلوة عن الميت ج١ ص٦٨٥ – ٦٨٦، ط.س. ج٢ ص٧٢. ظ

(٣) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت مطلب في إسقاط الصلوة ج١ ص٦٨٥ – ٦٨٦، ط. س. ج٢ ص٧٢. ظفير

**دروژي او لمانځه لپاره وصيت اودهغه ادا کول**: **سوال**: (۲۰۱۲) ديوه سړي ښځه دشپږو مياشتو ناجوړتيا وروسته وفات سوه ددي ښځي لس دوولس ورځي لمونځونه دناروغۍ له کبله قضا سوي دي، او درمضان ديوي مياشتي روژي هم دمرګ په مهال ښځي خاوند ته وويل چي زما دومره لمونځونه اويوه مياشت روژي قضا سوي دي دهغو عوض ورکړی، دلمونځونو بدله څه ورکړل سي، مسکينانو باندي ډوډۍ وخوړل سي او که نقدي ورکړي؟ او دروژي عوض څه ورکول ښايي او ايا دهغي خاوند دهغې له لوري روژي نيولای سي؟

**جواب**: دلمونځونو او روژو فديه که نقدي ورکړل سي او که غله دواړه صحيح دي، ديوه لمونځ فديه په انګريزي وزن سره پاوکم دوه سيره غنم او يا دهغو قيمت نقدي دي، همدغه ډول ديوي روژي فديه هم همدومره ده، نو دټولو لمونځونو سره دي دوترو حساب هم وکړي، او دديرشو روژو حساب دي وکړي، يو شواروز شپږ لمونځونه سول نو ديوه شواروز دلمونځونو فديه لس نيم سيره غنم يا دهغو قيمت سو، او روژه نيول دهغي دلوري معتبر نه دي، يواځي فديه ورکول ښايي. (١) فقط

**که چيري دوصيت سره سره وارثان کفاره ورنه کړي نو څه حکم لري؟** **سوال**: (۲۰۱۷) زيد وفات سو دزيد وارثانو دهغه دمړيني وروسته دهغه يوه ليکل سوي وصيت نامه پيدا کړه زيد په هغه کي ليکلي دي چي ديوڅو کالو دلمانځه قضا او تقريبا ددوو مياشتو روژو قضا پرما باندي واجب الاداء ده، زما دمرګ څخه وروسته دي زما دمتروکه جايداد څخه فديه ادا کړل سي، ايا دزيد دوارثانو پرذمه شرعا دنوموړي وصيت ادا کول واجب دي اوکه نه؟ که چيري واجب وي نو ديوه لمانځه څومره فديه واجبه ده؟ او ديوي روژي څوومره، اوکه دزيد وارثانو دهغه دمتروکه جايدادسره سره دهغه فديه ادا نه کړه نو ايا دوی به دالله ﷻ په وړاندي ګنهګار وي اوکه نه؟ اوزيد به دمؤاخذي څخه خلاص وي اوکه نه؟

**جواب**: دکم سړي پرذمه چي لمونځ يا روژي واجب الاداء وي، او دهغه سره مال وي نو پرهغه باندي دمرګ په مهال وصيت کول لازم دي، او دمال پريښودلو او وصيت کولو په صورت کي دمړي پروارثانو ددي وصيت پوره کول ددريمي برخي دمال څخه واجب دي، او په شامي کي دي: يعطی عنه وليه ای من له ولاية التصرف في ماله بوصاية او وراثة

(١)ولومات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٥، ط.س. ج٢ ص٧٢. ظفير

فیلزم ذلك من الثلث إن أوصی وإلا فلا یلزم الوصي ذلك. (١) او دیوه لمانځه فدیه دصدقه فطر په اندازه ده یعني نیمه پیمانه غنم یا یوه پیمانه وربشي، یا ددوی قیمت او همدومره مقدار دیوي روژي دی لیکن په لمانځه کي دهري ورځي دشپږو لمونځونو حسابول په کار دي ځکه چي وتر واجب هم دفرضو په حکم کي دي او دمړي وارثان که چیري دمړي دوصیت او مال پرینبودني سره سره بیا هم دهغه وصیت دمال ددریمي برخي څخه ادا نه کړي نوګنهګار به وي او مړی په هم داخروي مؤاخذي څخه خلاصون نه کړي پیدا ترڅو پوري چي الله جل جلاله معاف کړی نه وي. (٢) فقط

**که دقضا سوو لمونځونو شمیر معلوم نه وي نوپه اندازه تګولو سره دي فدیه ورکړي**: **سوال**:

(٢٠١٨) نوموړي وفات سوي زید دخپلو قضا لمونځونو په هکله په خپله وصیت نامه کي لیکلي دي چي: دشپږو کلونو قضا لمونځونه زما پرذمه باندي واجب دي چي په هغوکي مي ددریو کالو اونهو میاشتو قضا راګرځولي ده اود ذوالقعدي دپنځمي ٥ کال ١٣٣٤ هـ څخه مي روزانه دیوي ورځي قضا لمونځونه راګرځول شروع کړي وه، دهغه ددي لیکني څخه علاوه نور تحریر نه موندل کیږي، چي ترڅو پوري یي قضا لمونځونه کړي دي ممکنه ده چي پاتي ټول لمونځونه یي ادا کړي وي، او ددي هم احتمال سته چي دیوه لمانځه پرته دبل لمانځه قضا یي نه وي راوړي، په دي صورت کي شرعا دمتوفي دمتروکي څخه فدیه ادا کړله سي اوکه نه؟ که چیري په دي صورت کي فدیه واجبه نه وي خوڅه رقم په فدیه کي ورکړل سي، نو موړي ته به یي ثواب رسیږي اوکه نه؟ او دنورو ګناهونو کفاره به وګرځي اوکه نه؟

**جواب**: دمړي په ذمه چي دڅومره لمونځونو او روژو قوي احتمال وي هغومره فدیه دي ددریمي برخي مال څخه ورکړل سي او په دغه تحریر کي دوصیت ذکر نسته ترڅو دفدیي دوجوب حکم ورڅخه وسي ددي څخه دلمونځونو معلومات کیدای سي چي هغه څومره لمونځونه دیاد سوي تاریخ څخه وروسته را ګرځولي او څومره پاته دي، یعني دمرګ دتاریخ حساب لګیدای سي لیکن احتیاط په دي کي دی چي دکم تاریخ څخه یي دلمونځونو قضا شروع کړي ده دهغه تاریخ څخه دي دلمونځونو حساب وکړل سي، دمړیني تروخته پوري لومړی دي دوصیت فدیه دروژي او لمانځه ادا کړل سي اوکه فدیه

---

(١) رد المحتار باب قضاء الفوائت مطلب إسقاط الصلوة عن المیت ج١ ص٦٨٥، ط.س. ج٢ ص٧٢. ظفیر

(٢) ولومات وعلیه صلوات فائتة واوصی بالکفارة یعطی لکل صلوة نصف صاع من بر کالفطرة وکذا حکم الوتر والصوم وإنما یعطی من ثلث ماله (درمختار) ای یعطی عنه ولیه ای من له ولایة التصرف في ماله بوصایة او وراثة فیلزمه ذلك من الثلث إن اوصی (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٥، ط. س. ج٢ ص٧٢). ظفیر

ډیره ولاړه سي نو ثواب به یې مړي ته رسیږي او دګناهونو دکفارې باعث به سي، قال الله تبارك وتعالى: إن الحسنات يذهبن السيئات.

**په فدیه کې دغنمو پرته نوره غله یا قیمت ادا کول هم صحیح دي:** **سوال:** (۲۰۱۹) که یې چیري په فدیه کې غنم ادا نه کړل، بلکه قیمت یا بله غله یې مستحقینو ته ورکړه نو دا فدیه به ادا سي اوکه نه؟ او دغنمو څخه پرته دنوري غلې څومره مقدار ادا کړل سي، او دفدیې ډیر مستحق خلګ څوك دي که چیري دفدیې رقم اسلامي مدرسوته دطالبانو لپاره ولیږل سي اودمنې آرډر فیس اونور اخراجات به په فدیه کې شمارل کیږي اوکه نه؟

**جواب:** په فدیه کې که ډوډۍ په چا وخوري که غله ورکوي اوکه دهغه قیمت خیرات کوي ټول صحیح دي دغنمو، وربشو او نورو علاوه کم شیان چي غیر منصوصه دي لکه جوار، دهغو دومره اندازه ورکول په کاري دي چي قیمت یې دنیمې پیمانې (صاع) غنمو سره برابروي او دیوې پیمانې(صاع) وزن په انګریزي تول سره دری سیره او شپږ چیټاکې وي چي دهغه نیمایي چیټاکی کم پاوکم (۱) دوه سیره سوه. او ددې مصرف هغه دی کم چي دزکوة او صدقه فطر مصرف دی (۲) او ډیر مستحق ددې هغه خلګ دي چي هغه ډیره اړتیا لري، لکه قرضداران او نور، اوکه چیري مدرسې ته دطالبانو لپاره ولیږل سي نو داهم ښه مصرف دی، لیکن دمنې آرډر فیس اونور به په دې کې نه حسابول کیږي. فقط

**دکفارې رقم په جومات یا څاه کې مصرفول صحیح دي اوکه نه؟** **سوال:** (۲۰۲۰) یوه انجلۍ سخته ناجوړه ده، دهغې دوراثانو دا خیال دی چي دهغې دلمانځه کفاره دي دهغې په ژوند کې ورکړل سي دهغې جوړیدل ناممکن دي یا دي دهغې قیمت په مکه کې ورکړي یادې جامې او نور شیان غریبانو ته په جوړ کړي یا که څوك حج ته ځي هغه ته دي دامانت په ډول ورکړي چي هلته یې مسکینانو ته ورکړي، یادې په جومات کې ولګوي او یا دجومات په څاه کې، داټول څه حکم لري؟

**جواب:** دمریض دلمانځه او روژو فدیه دمرګ څخه وروسته ورکول کیږي، ځکه چي په ژوند کې تر اوسه پورې دادا کولو حکم دی اګرکه په اشاري یا بله طریقه سره وي، لنډه داچي دلمانځه او روژې کفاره دمرګ څخه وروسته ورکول په کاردي، او داهم شرط دی

---

(۱) یعطی لکل صلوة نصف صاع من بر کالفطرة وکذا حکم الوتر والصوم (درمختار) قوله نصف صاع من بر الخ ای او من دقیقه او سویقه او صاع تمر او زبیب او شعیر او قیمته وهی افضل عندنا لإسراعها بسد حاجة الفقیر (رد المحتار باب قضاء الفوائت المطلب في اسقاط الصلوة عن المیت ج۱ ص۶۸۵، ط. س. ج۲ ص۷۲). ظفیر

(۲) ای مصرف الزکوة والعشر (درمختار) وهو مصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة والنذر وغیر ذلك من الصدقات الواجبة کما في القهستاني (ردالمحتار باب المصرف ج۲ ص۷۹، ط.س. ج۲ ص۳۳۹). ظفیر

چي مړی به وصيت کوي. نو دوفات څخه وروسته چي څومره روژي او لمونځونه دهغه پرذمه وي دهغو کفاره دي په دي ډول ادا کړي چي دهر لمانځه په عوض کي دي پاوکم دوه سيره غنم په انګريزي وزن سره يا دهغو قيمت، مسکينانو ته ورکړي او همدغه ډول ديوي روژي کفاره هم همدومره ده ([1]) بيا که داقيمت مسکينانو، غريبانو او کونډو رنډو، او يتيمانو ته ورکوي اوکه يي دمدرسي مسکينانو طالبانو ته ورکوي، اوکه جامي ورباندی اخلي او په غريبانو يي ويشي دا ټول جائز دي اودا هم صحيح دي چي هغه چاته يې ورکړي څوك چي حج ته درومي ترڅو يي دمکي معظمي اومديني منوري په مسکينانو وويشي ليکن غوره داده چي دخپل ښار مسکينانوته يي ورکړي، اوپه جومات يا څاه کي لګول صحيح نه دي. فقط

**<u>داسقاط دحيلي شرعي حيثيت څنګه دی؟</u> سوال**: (٢٠٢١) [١] دحيله اسقاط دری قسمه چي دفقهي په کتابونو کي ليکلي دي چي: دمړي ټول فرائض واجبات او نور دي وشميري دهغو په فديه کي چي کم غنم وټاکل سي نو بيا دي څه غنم راوړي، يا دي دټاکلو غنمو قيمت وټاکي بيا دي يو ذي قيمته شی وارث فقير ته ورکړي همدغه ډول دي تکرار کوي ترڅو دفديي دمقررو غنمو قيمت پوره سي نو فديه به ادا سي اوکه نه؟

**<u>قرآن مجيد په فديه کي ادا کول څنګه دي؟</u> سوال**: (٢٠٢٢) [٢] دمړي وارث دقرآن مجيد قيمت په دغه فديه کي دمقررو غنمو برابر کړي اوپه يوه ملا يا فقير يې خرڅ کړي، او هغه قيمت په هغه باندي قرض کړي، او هغه قرض دمړي ددي مقرري فديې په بدله کي دغه اخيستونکي ته ور وبخښي؟

**<u>دقرآن کريم قيمت</u>: سوال**: (٢٠٢٣) [٣] دمړي وارث دقرآن کريم قيمت دمړي په فديه کي دمقررو غنمو برابرکړي، يوه ملا يا فقير ته هغه قرآن کريم په يو ځل ددغي فديي په بدله کي ور وبخښي دا دری واړه صورتونه صحيح دي اوکه نه؟

**جواب**: [١-٢-٣] په دي کي چي کمه حيله فقهاوو ليکلي ده هغه دوارثانو دناداری او مسکنت په صورت کي يواځي دتبرع په ډول سره فقهاوو ليکلي وه چي که چيري داړتيا په مهال داسي وکړل سي نو اميد سته چي دمړي دذمي فرائض به ادا کړل سي، ليکن په دي حيلوکي چي نور کم مفاسد مخ ته راځي چي وارثان سره دوس لرلو دمال فديه پوره

([1]) ولومات وعليه صلوات فائتة واوصى يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله (درمختار) قوله عليه صلوات فائتة اى بأن كان يقدر على ادائها ولو بالإيماء فيلزمه الإيصاء وإلا فلا يلزمه وإن قلت (ردالمحتار) باب قضاء الفوائت مطلب في إسقاط الصلوة عن الميت ج١ ص٢٨٥ – ٢٨٦، ط.س. ج٢ ص٧٢). ظفير

ادا کول نه غواړي او حیله کوي، او ددي پرته نور مفاسد شرعیه هم په دي حیلو کي ستنه چي دهغو له امله دداسي حیلو څخه منع کول کیږي. [1] فقط

**دوصیت څخه وروسته دترکي ددریمي برخي څخه دلمونځونو فدیه ضروري ده**: **سوال**: (**۲۰۲۴**) زما خدای بخښلي مور دمړیني په مهال ویلي وه چي زما دلمونځونو فدیه ورکړی. ددي څخه ځانګړي فدیه مراد ده اوکه څومره چي کیدای سي که چیري فدیه مراد وي نو دمقدار تعین ګران دی، ځکه چي کم لمونځونه ادا سوي نه دي دهغو هیڅ شمیر نه دی معلوم، اوکه دي دا وصیت وګڼل سي او یو ثلث دي ورکړل سي، او ددي مصرف څه دی دجومات په فرش، څپر او نورو حوائجو کي لګول صحیح دي اوکه نه؟

**جواب**: که چیري خدای بخښلي مړي سوي څه مال پرې ایښی وي نو دهغي دوصیت سره سم دفوت سوو لمونځونو فدیه ورکول دترکي تر دریمي برخي پوری ضروري دي، او دفوائتو په اندازي او اټکل سره چي کم فوت سوي لمونځونه تخمینا معلوم سي دهغو فدیه دي ورکړل سي دیوه لمانځه په سر پاو کم دوه سیره غنم، یا دهغي قیمت دي په فدیه کي ورکړل سي، او ددي مصرف فقیران دي دزکوة او واجبو صدقاتو په ډول [2] دجومات په مرمت او تعمیر اونورو اړتیاوو کي چي دفقیرانو تملیك نه پکښي راځي لګول یي صحیح نه دي. [3]

**دمړیني دناروغي دروژو فدیه نه وي یوازي دلمونځونو وي**: **سوال**: (**۲۰۲۵**) یوه ښځه وفات سوه ددریو کالو لمونځونه او روژي ورڅخه قضا سوي دي چي دهغو په هکله هغې دوفات څخه مخکي خپل خاوند ته دا ویلي وو، چي زما دلمونځونو او روژو غله ورکړه خدای بخښلي څه جواهرات او نور داسي شیان نه دي پرېښي، څه جواهرات چي دهغي سره وه دهغو په اړه یي خاوند وایي چي هغه دهغي دناروغی په درملنه کي ولګیده،

---

([1]) ولو لم يترك مالا يستقرض وارثه نصف صاع مثلا ويدفعه لفقير ثم يدفعه الفقير للوارث ثم وثم حتى يتم (درمختار) لم يترك مالا أي اصلا او كان ما اوصى به لا يفي، زاد في الامداد او لم يوص بشيئ واراد الولى التبرع الخ واشار بالتبرع أن ذلك ليس بواجب على الولى ونص عليه في تبيين المحارم فقال لايجب على الولى فعلى الدوران اوصى به الميت لأنها وصية بالتبرع والواجب على الميت ان يوصي بما يفي بما عليه إن لم يضيق الثلث عنه فإن اوصى بأقل و امر بالدور وترك بقية الثلث للورثة او تبرع به لغيرهم فقد اثم بترك ما وجب عليه الخ (رد المحتار باب قضاء الفوائت مطلب في إسقاط الصلوة عن الميت ج١ ص٢٨٦ – ٢٨٧، ط.س. ج٢ ص٧٣). ظفير

([2]) ولو مات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٥، ط.س. ج٢ ص٧٢). ظفير

([3]) لا يصرف إلى بناء نحو مسجد و لا إلى كفن ميت (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب المصرف ج٢ ص٨٥، ط.س. ج٢ ص٣٤٤). ظفير

ځكه نو هغه دهغې دروژو او لمونځونو فديه نه وركوي ايا دهغې مور او پلار دادا كولو مستحق دي او كه دهغې دخاوند پرذمه دي؟

**جواب**: په دې صورت كې چې دوفات سوي ښځې كمې روژې په ناروغى كې فوت سوي او په همدې ناروغى كې هغه وفات سوي هم ده په مينځ كې روغه سوي هم نه ده نو ددغو روژو قضا دهغې پرغاړه لازمه نه ده ځكه نو دهغې فديه هم ساقطه سوه او دلمونځونو قضا ورباندې هرو مرو لازمه ده او دنه ادا كولو په صورت كې فديه لازمه سوه ليكن كله چې يې څه فديه نه ده پرې ايښې نو دلمونځونو دفديې ادا كول دوارثانو پرذمه لازم نه دي، البته كه يې مور او پلار يا نور خپلوان تبرعا وركړي نو دا غوره خبره ده او دقبليدو هيله (١) يې سته. فقط

**دوصيته پرته په وارثانوكې دهيچا پرغاړه هم لازمه نه ده**: **سوال**: (٢٠٢٦) كمه ښځه چې مړه سوې ده دهغې خاوند زوى او مور او پلار سته نودهغه دمال څخه څوك په فديه وركولوكې غوره دي ځكه چې خاوند ته دروژې او لمانځه دقضا والي حال معلوم دى؟

**جواب**: چې څوك يې وركړي هغه ښه دى دوفات سوي دوصيت څخه پرته دهيچا پرذمه هم فديه وركول لازم نه دي. (٢). فقط

## الباب الحادي عشر في سجود السهو

### دسجده سهوي مسئلې

**دقراءت په تكرار سره سجده سهوه نه لازميږي**: **سوال**: (٢٠٢٧) دجمعې په ورځ امام په لومړي ركعت كې سورت دهر پيل كړى چې نيم سورت يې ولوستى نو مخ ته بند سو، دوهم ځل او دريم ځل يې دسره تكرار كړى، نو هلته پوره سو، په داسې صورت كې دجمعې لمونځ دسجدې سهوې پرته صحيح دى او كه نه؟

**جواب**: په دې صورت كې لمونځ وسو، سجده سهوه لازمه نه ده (٣) كذا في كتب الفقه.

---

(١) ولو لم يترك مالا يستقرض وارثه نصف صاع مثلا ويدفعه لفقير ثم يدفعه الفقير للوارث ثم وثم حتى يتم (درمختار) قوله لو لم يترك مالا الخ اى اصلا او ما اوصى به لا يفي، زاد في الإمداد اولم يوص بشيئ و اراد ولى التبرع الخ واشار بالتبرع إلى أن ذلك ليس بواجب على الولي، ونص عليه في تبيين المحارم لا يجب على الولى فعل الدور الخ (ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٦، ط.س. ج٢ ص٧٣). ظفير

(٢) او لم يوص بشيء واراد الولى التبرع الخ واشار بالتبرع إلى أن ذلك ليس بواجب على الولى ونص عليه في تبيين المحارم فقال لايجب على الولى (ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٦، ط.س. ج٢ ص٧٣). ظفير

(٣) يكره أن يفتح من ساعته كما يكره للإمام أن يلجئه إليه بل ينتقل إلى آية اخرى لا يلزم من وصلها ما يفسد الصلوة او إلى سورة اخرى او يركع إذا قرأ قدر الفرض كما جزم به الزيلعي وغيره وفي رواية قدر المستحب كما رجحه الكمال الخ (ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة ج١ ص١٨٢، ط.س. ج١ ص٦٢٢). ظفير

**<u>دماپښين په سنتوکي چي اوله قعده ورځخه هيره سي او سجده سهوه وکړي نولمونځ به يي وسي اوکه نه؟</u> سوال**: (٢٠٢٨) که چيري دماپښين په څلورو رکعتو سنتوکي پردوو رکعتو ناسته ورځخه هيره سي، نو دسجده سهوي په کولو سره لمونځ ادا کيږي اوکه نه؟ او که يي چيري په دوو رکعتو سنت مؤکدو باندي درود شريف ولوستی نو سجده سهوه لازميږي اوکه نه؟

**جواب**: دسجده سهوي دکولوسوه لمونځ وسو [1] او ددرود شريف په منځنۍ قعده کي په لوستلو سره سجده سهوه لازميږي. [2]

**<u>په هيره يې يو سورت شروع کړی بيا يې بل سورت ولوستی نوپه دې سره سجده سهو نه لازميږي</u>**: **سوال**: (٢٠٢٩) امام دتراويحو په اخري دوو رکعتوکي په لومړي رکعت کي دسورت فاتحي وروسته دقل اعوذ لوستلو څخه وروسته سمدستي تبت يدا ويلی وو، چي يوه مقتدي دښودني په ډول قل أعوذ برب الفلق پوره سورت ولوستی اودويم رکعت يي هم پوره کړی خو سجده سهوه يي ونه کړه نو په دي صورت کي به لمونځ صحيح سي او که به دا لمونځ بيا راګرځوي او بل دا چي سجده سهوه ضروري ده اوکه نه؟

**جواب**: په دي صورت کي لمونځ صحيح دی او سجده سهوه واجبه نه ده، كذا في الدر المختار. [3]

**<u>دواجبو په تاخير سره سجده سهوه</u>**: **سوال**: (٢٠٣٠) په تاخير دواجبو کي په سجده سهوه کي اختلاف دی شرعا څه حکم دی؟

**جواب**: په اصل کي سجده سهوه دواجب په ترک سره لازميږي ليکن کله چي دواجبو تاخير هم دواجبو ترک لره مستلزم دی ځکه نو دواجبو په تاخير سره هم سجده سهوه لازميږي. فقط [4]

---

(١) ولو ترك القعود الأول في النفل سهوا سجد ولم تفسد استحسانا لأنه كما شرع ركعتين شرع اربعا ايضا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠١، ط.س. ج٢ ص٨٨). ظفير

(٢) ولا يزيد في الفرض على التشهد والقعدة الأولى إجماعا ان زاد عامدا كره فتجب الإعادة او ساهيا وجب عليه سجود السهو (درمختار) قوله لا يزيد في الفرض اى وما الحق به كالوتر والسنن الرواتب (رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٧٢، ط.س. ج١ ص٥١٠). ظفير

(٣) وفي القنية قرأ في الأول الكافرون وفي الثانية الم تر وتبت ثم ذكر يتم وقيل يقطع ويبدأ (درمختار) أفاد أن التنكيس او الفصل بالقصيرة إنما يكره إذا كان عن قصد فلو سهوا فلا كما في شرح المنية و إذا إنتفت الكراهة فإعراضه عن التي شرع فيها لا ينبغي (رد المحتار فصل في القراءة ج١ ص٥١٠، ط.س. ج١ ص٥٤٧). ظفير

(٤) و لا يجب السجود إلا بترك واجب او تاخير ركن الخ وفي الحقيقة وجوبه بشيء واحد وهو ترك الواجب كذا في الكافي (عالمگيري مصري باب سجود السهو ج١ ص١١٨). ظفير

**<u>په اخري ركعتو كي دسورت په لوستلو سره سجده سهوه نه لازميږي</u>: سوال:** (٢٠٣١) دفرضو په وروستنيو څلورو ركعتونوكي كه څوك دسورت فاتحي سره سورت يو ځاى كړي نو دتاخير له امله به سجده سهوه نه لازميږي؟

**جواب:** په اخري دوو ركعتونو كي دسورت په يوځاى كولو سره سجده سهوه نه لازميږي (١) په درمختاركي دي: ولوزادلا بأس به الخ وفى الشامى فكان الضم خلاف الأولى. (٢) فقط

**<u>كه چا په اول ركعت كي يوازي يوه سجده وكړه او ودريدى نوڅه وكړي</u>؟ سوال:** (٢٠٣٢) په اول ركعت كي كه چيري چا يوه سجده وكړه او ودريدى نوڅه به كوي بيرته راوګرځي بله سجده وكړي اوكه په دويم ركعت كي دري سجدي وكړي او سجده سهوه به هم كوي اوكه نه؟

**جواب:** كم وخت چي ورته ياد سي چي يوه سجده مي كړي ده، همغه وخت دي بله سجده وكړي او په اخره كي دي سجده سهوه وكړي. فقط (٣)

**<u>په شبهه باندي لمونځ ماتول</u>: سوال:** (٢٠٣٣) [١] زيد ته دفرض لمانځه په لومړي ركعت كي شبهه پيدا سوه چي يوه سجده مي ادا كړي ده ځكه نو هغه په ولاړه ولاړه سلام وګرځوى او دنوي سره يي لمونځ پيل كړى دهغه دا فعل جائز دى او كه نه؟ يو ډول ګناه خو ونه سوه؟

**<u>كه په هر ركعت كي واجب پاته سي نو په اخره كي به سجده سهو لازميږي</u>: سوال:** (٢٠٣٤) [٢] ايا دا ضروري ده چي په څلور ركعتيز لمانځه كي چي په هر ركعت كي دواجب دپاته كيدلو شبهه راسي نو دټولو ركعتو په پاى كي به سجده سهوه كوي اويا چي كله يي شبهه راسي نو سمدستي به لمونځ ماتوي او دوباره به لمونځ دسره كوي؟

**جواب:** [١] هيڅ ګناه نسته. (٤)

---

(١) وضم اقصر سورة الخ في الأوليين من الفرض وهل يكره في الأخريين المختار لا، (درمختار) أى لايكره تحريما بل تنزيها لأنه خلاف السنة قال في المنية وشرحها بان ضم السورة أى الفاتحة ساهيا يجب عليه سجدة السهو في قول ابي يوسف لتاخير الركوع من محله وفي ظاهر الرواية لايجب الخ لأن القراءة فيهما مشروعة من غير تقدير والإقتصار على الفاتحة مسنون لا واجب اهـ الخ فلا ينافي كونه خلاف الأولى كما أفاد في الحلية (رد المحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة ج١ ص٤٢٧، ط.س. ج١ ص٤٩٥). ظفير

(٢) ايضا. ظفير

(٣) ولا يجب السهو إلا بترك واجب و تأخيره او تأخير ركن او تقديمه اهـ (عالمګيري مصري باب سجود السهو ج١ ص١١٨، ط. ماجدية ج١ ص١٢٢). ظفير

(٤) وإذا شك في صلاته من لم يكن ذلك أى الشك عادة له الخ كم صلى إستأنف بعمل مناف وبالسلام قاعدا اولى لأنه المحلل وان كثر شكه عمل بغالب ظنه (الدرالمختار على هامش رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٥، =

[٢] دشك او شبهي خو اعتبار نسته لأن اليقين لايزول بالشك ليكن كه چيري په ظن غالب او ګمان راجح سره دځلورو ركعتونو په يوه ركعت كي هم دواجب پريښودل معلوم سي نو دلمانځه په پای كي سجده سهوه كول لازم دي. ([1]) فقط

**په وروستنى قعده كي دالتحيات په دوباره ويلو سره سجده سهونه لازميږي**: **سوال**: (٢٠٣٥) په وروستنى قعده كي په دوه واره التحيات لوستلو سره سجده سهوه لازميږي اوكه نه؟

**جواب**: په دي صورت كي سجده سهوه نه لازميږي. ([2])

**داياتونو په تكرارولو سره سجده سهوه نه لازميږي**: **سوال**: (٢٠٣٦) كه چيري چاپه لمانځه كي قرائت مكرر ولوستى مثلا چا سورت النصر شروع كړی او پر افواجا باندي ودريدی بيا يي دوهم ځل د: افواجا فسبح څخه شروع او پای ته ورسوی سجده سهوه لازمه ده اوكه نه؟

**جواب**: سجده سهوه په دې سره نه لازميږي. ([3])

**دواجب قراءت دلوستلو وروسته په قراءت كي غلطي لمونځ فاسدوي اوكه نه؟ سوال**: (٢٠٣٧) كه چيري څوك دسورت په پيوست كولو كي تريوه آيت وروسته مثلا پرافواجا باندي غلط سي نو سجده سهوه لازمه ده اوكه نه؟

**جواب**: سجده سهوه نهورباندي لازميږي ليكن كه غلطي داسي وي چي لمونځ فاسدوي نو دلمانځه اعاده لازمه ده، اوكه چيري غلطي داسي وي چي په هغي سره دلمانځه دفساد حكم نه كيږي نو نه به لمونځ فاسد سي اونه به سجده سهوه لازمه سي. فقط

**كه مسبوق دامام سره سلام وګرځوی نو لمونځ يي نه فاسديږی سجده سهوه كافي ده**: **سوال**: (٢٠٣٨) مسبوق چي سهوا دامام سره سلام وګرځوي او ددعا لپاره لاسونه پورته كړي نو لمونځ يي فاسديږي اوكه نه؟

**جواب**: په شامي باب سجود السهو كي دي: قوله والمسبوق يسجد مع إمامه قيد بالسجود لأنه لا يتابعه في السلام بل يسجد معه ويتشهد اذا سلم الإمام قام الى القضاء فان كان عامدا فسدت وإلا لا ولا سجود عليه إن سلم سهوا قبل الإمام او معه وإن سلم

= ط.س. ج٢ ص٩٢). ظفير

([1]) يجب الخ بترك واجب مما هو في صفة الصلوة سهوا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٣، ط.س. ج٢ ص٨٠). ظفير

([2]) ولو كرر التشهد في القعدة الأولى فعليه السهو الخ ولو كرره في القعدة الثانية فلا سهو عليه كذا في التبيين (عالمگيري مصري باب سجود السهو الباب الثاني عشرج١ ص١١٩، ط. ماجدية ج١ ص١٢٧). ظفير

([3]) ويجب له تشهد وسلام الخ بترك واجب عما مرّ (درمختار) بترك واجب اى من واجبات الصلوة الأصلية لا كل واجب الخ (ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٣، ط.س. ج٢ ص٧٨). ظفير

بعده لزمه لكونه منفردا حينئذ، بحر. واراد بالمعية المقارنة وهو نادر الوقوع كما في شرح المنية (١) ددي عبارت څخه څرګنده سوه چي معيت حقيقتا نادر الوقوع دی لهذا دمسبوق سلام به ترامام هرو مرو لړ وروسته وي نوکه دا سهوا وي نوسجده سهوه پرمسبوق باندي دلمانځه په پای کي لازمه ده او لمونځ به يي وسي. فقط

**کله چي دا معلومه نه وي چي سجده سهوه واجبه ده اوکه نه نو لمونځ کوونکی څه وکړي؟**

**سوال:** (٢٠٣٩) ځيني وختونه په لمانځه کي په سهوه کيدلو سره دا معلومه نه وي چي سجده سهوه واجبه سوه اوکه نه؟ په داسي صورت کي سجده سهوه کول پکاردي اوکه نه؟

**جواب:** کله چي دا علم نه وي چي په دي سره سجده سهوه لازميږي اوکه نه نوسجده سهوه کول احوط دي. فقط

**په يوه رکعت کي په دوو رکوع کولو سره سجده سهوه؟** **سوال:** (٢٠٤٠) که چيري چاپه يوه رکعت کي دوې رکوع وکړلي، اوسجده سهوه يي هم ونه کړه نو لمونځ کيږي اوکه نه؟ مثلا په لوی اخترکي امام صاحب په دوولسو تکبيرونو سره نيت تړل فرمايلي دي، او په دويم رکعت کي يي ددوو رکوع ګانو تر مينځ پاته دري تکبيرونه ادا کړل او سجده سهوه ونه کړل سوه کله چي امام ته وويل سوه چي لمونځ ونه سو نو اګر که غلطي يي ومنله خو لمونځ يي راونه ګرځوی ايا دا امام دامامت قابل دی اوکه نه؟

**جواب:** داخترونو په لمونځونو کي دامام صاحب دمذهب سره سم (٢) په هر رکعت کي دري دري تکبيرونه زائد دي دوولس تکبيرونه نه دي او سجده سهوه دواجب په ترك او ځنډ سره واجبيږي او په دوه ځله رکوع کولو سره هم سجده سهوه لازميږي که يي سجده سهوه ونه کړله نو لمونځ واجب الإعادة دی ليکن داخترونو په لمونځونو کي دډير ازدحام له امله که يي سجده سهوه پريښودله نو لمونځ صحيح دی. (٣) فقط

**په جمع سره دلمونځ کولو وروسته مقتدي بيا راوګرځوی نوپه دواړو لمونځوکي کم يوصحيح سو؟** **سوال:** (٢٠٤١) مقتدي لمونځ راوګرځوی نو په داسي صورت کي هغه لمونځ چي هغه په جمع سره کړی وو هغه صحيح سو اوکه هغه چي ځانته يي وکړی؟

(١) رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٥ – ٦٩٢، ط.س. ط.س. ج٢ ص٨٢. ظفير

(٢) ويصلي الإمام بهم ركعتين مثنيا قبل الزوائد وهى ثلاث تكبيرات في كل ركعة (الدر المختار) هذا مذهب ابن مسعود وكثير من الصحابة ورواية عن ابن عباس وبه اخذ ائمتنا الثلاثة (رد المحتار باب العيدين ج١ ص٧٧٩، ط.س. ج٢ ص١٧٢). ظفير

(٣) والسهو في صلوة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتقدمين عدمه في الأوليين لدفع الفتنة كما في جمعة البحر وأقره المصنف وبه جزم في الدر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٥، ط.س. ج٢ ص٩٢). ظفير

**جواب**: که چیري دترك واجب او یا داسي بل نقصان له امله لمونځ راوګرځول سو، نو فرض مخکي ادا سوي دي، په راګرځولو سره دهغو تکمیل وسو، یعني کم نقصان چي پاته سوی وو هغه پوره کړل سو، او دنقصان جبر وکړل سو. (١) فقط

**په فاتحه او منځنۍ قعده کي دالتحیات څخه وروسته په څومره ځنډ سره سجده سهوه لازمیږي؟** **سوال**: (۲۰۴۲) دفاتحي څخه وروسته او په دوهم رکعت کي دتشهد څخه وروسته اوپه دریم رکعت کي ددریدلو په مهال په څومره ځنډ او دریدو سره سجده سهوه لازمیږي؟

**جواب**: که چیري دیوه رکن په قدر توقف سهوا وکړل سي نو سجده سهوه به لازمیږي، درمختار: وتأخیر قیام إلی الثالثة بزیادة علی التشهد بقدر رکن. الخ فقط (٢)

**ددریمي سجدي له امله سجده سهوه**: **سوال**: (۲۰۴۳) [۱] پرون دجمعي په لمانځه کي یو نوی صورت پیښ سو، یعني په دویم رکعت کي امام ددویمي سجدي څخه وروسته ددریمي سجدي دکولو قصد وکړی نو مقتدیانو سبحان الله وویل خو امام سجدي ته ورسیدی او مقتدیانو ورپسي اقتداء وکړه ډیرو مقتدیانو خبره ده چي امام دتکبیره پرته پورته سو او دتشهد څخه وروسته یي دسجده سهوي دپاره سلام وګرځوی ترهغه وخته پوري ددوه دری مقتدیانو پرته نور مقتدیان په سجده کي وه دالسلام علیکم په اوریدلو سره فوراً دسجدي څخه راپورته سول، او دامام سره په سلام کي شریك سول او سجده سهوه یي وکړه او لمونځ یي ختم کړی، ددوو دریو مقتدیانو پرته نورو ټولو دتشهد او قاعدي پرته دامام سره دسجده سهوي په سلام کي متابعت وکړی، ددي وروسته جګړه سوه ډیرو رایه داوه چي دټولو لمونځ وسو ځکه نو لمونځ را ونه ګرځول سو. فقط

**که چیري په دریمه سجده کي اقتدا ونه کړي**: **سوال**: (۲۰۴۴) [۲] کم مقتدي چي په دریمه سجده کي اقتدا ونه کړي دهغه څه حکم دی؟

**مقتدي ته دسهوي په سلام کي اقتداء کول ښایي**: **سوال**: (۲۰۴۵) [۳] مقتدیان دامام سره دسهوي په سلام کي داتباع کولو پرته نور څه کولای سي؟

**جواب**: په دي صورت کي لمونځ دټولو وسو ځکه چي کم مقتدیان دسجده سهوي په سلام کي دامام سره شریك سول او دامام سره سجدي ته ولاړل او دسهوي دسجدي

---

(١) ولها واجبات لاتفسد بترکها ویعاد وجوبا الخ والمختار أنه جابر للأول لأن الفرض لایتکرر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب في واجبات الصلوة ج١ ص۴۲۴ – ۴۲۲، ط.س. ج١ ص۴۵۲). ظفیر

(٢) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص۶۹۴، ط.س. ج۲ ص۸۱. ظفیر

وروسته يي دامام سره قعده وكړه او تشهد او نور يي دقاعدي مطابق ولوستل نوهغوی ته دا څنگه ويل كيږي چي نه يي قعده وكړه اونه يي تشهد ولوستی! (١)

[٢] دهغه لمونځ صحيح دی. (٢)

[٣] دمدرك مقتدي همدغه حكم دی او مسبوق دي دسهوي په سلام كي دامام سره نه شريكيږي په سجده كي دي شريك سي. (٣)

**چي امام دتسبيح سره پنځم ركعت شروع كړي نو مقتدي دي اتباع نه كوي: سوال:**

(٢٠٤٢) كله چي امام دڅلورو ركعتو په ځای پنځم ركعت پيل كړي، او دمقتديانو په بيا بيا پوهولو باندي هم ناسته ونه كړي، نو دامام اقتداء وكړل سي اوكه نه؟

**جواب:** په پنځم ركعت كي دي اقتداء نه كوي په درمختار كي دي: چي كه امام داخري قاعدي وروسته پنځم ركعت ته پورته سو نو مقتديان دي ناست اوسي او دهغه دراگرځيدو انتظار دي كوي، كه چيري هغه راوگرځيدی نو مقتديان دي دهغه سره سي، اوكه امام دپنځم ركعت سجده وكړه نو مقتديان دي سلام وگرځوي، او لمونځ دي ختم كړي (٤) اوكه چيري امام اخري قعده ونه كړه او دناستي پرته پنځم ركعت ته پورته سو او دپنځم ركعت سجده يي هم وكره نو بيا مسئله معروفه ده چي دهيچا هم فرض لمونځ ادا نه سو. (٥) فقط

**په ماښام كي يي سورت فاتحه كرار ولوسته بيا په وريادولو سره يي سورت په زوره ولوستی نو سجده سهوه به كوي اوكه نه؟ سوال:** (٢٠٤٧) امام دماښام دلمانځه دنيت تړلو څخه وروسته سبحانك اللهم او سورت فاتحه كرار ولوستل يوه مقتدي دوريادولو په غرض الحمد په لوړ اواز سره وويله نو امام دسورت فاتحي څخه وروسته سورت په لوړ اواز

---

(١) نعم تكون المتابعة فرضا بمعنى أن يأتي بالفرض مع إمامه او بعده كما لو ركع إمامه فركع معه مقارنا او معاقبا او شاركه فيه الخ (رد المحتار مطلب مهم في تحقيق المتابعة ج١ ص٤٣٩، ط.س. ج١ ص٤٧١). ظفير

(٢) وانه ليس له أن يتابعه في البدعة والمنسوخ وما لا تعلق له بالصلوة فلا يتابعه لو زاد سجدة الخ (ردالمحتار باب صفة الملوة مطلب مهم في تحقيق متابعة الإمام ج١ ص٤٣٩، ط.س. ج١ ص٤٧١). ظفير

(٣) ولو سلم ساهيا إن بعد إمامه لزمه السهو وإلا لا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الإمامة مطلب في المسبوق ج١ ص٥٢٠، ط.س. ج٢ ص٥٩٩). ظفير

(٤) وإن قعد في الرابعة مثلا قدر التشهد ثم قام عاد وسلم قام صح ثم الأصح أن القوم ينتظرونه فان عاد تبعوه وان سجد للخامسة سلموا لأن يتم فرضهم إذ لم يبق عليهم إلا السلام (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٠، ط.س. ج٢ ص٧٨). ظفير

(٥) وسها عن القعود الأخير عاد الخ ما لم يقيدها بسجدة الخ وان قيدها بسجدة عامدا او ناسيا او ساهيا او مخطئا تحول فرضه نفلا برفعه الجبهة (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٨، ط. س. ج٢ ص٨٣). ظفير

ولوستی او سجده سهوه يي وکړه دسجده سهوي سره لمونځ وسو اوکه نه؟ اوپه دي صورت کي سجده سهوه ضروري ده اوکه نه؟

**جواب**: په دي صورت کي لمونځ صحيح سو او سجده سهوه په دي صورت کي واجبه وه دسجده سهوي په کولو سره لمونځ بي کراهته صحيح سو. (١) فقط

**دمتشابه له امله دايت په تکرار سره سجده سهوه لازمه نه ده**: **سوال**: (٢٠٤٨) امام دجمعي په لمانځه کي سورت جمعه ولوستله، او په ملك القدوس باندي په متشابه کي ولګيدی نو دسورت تکرارول يي پيل کړه په دي اوږدو کي يوه مقتدي فتحه ورکړه، ليکن امام دفتحي خيال ونه کړی او په خپله يي دصحيح لوستلو وروسته لمونځ ختم کړی سجده سهوه يي ونه کړه لمونځ وسو او که نه؟

**جواب**: په دي صورت کي سجده سهوه لازمه نه وه، لمونځ صحيح سو. (٢) فقط

**په اخري رکعت کی دتشهد وروسته څخه ولاړ سو بيا کښينستی نو سجده سهوه دی وکړی**:

**سوال**: (٢٠٤٩) که چيري په اخري رکعت کي دتشهد څخه وروسته ودريدی او بيا کښينستی نو بيا به تشهد وايي اوکه سلام به ګرځوي او دسجده سهوي تشهد به وايي يو دپوره قيام څخه وروسته سمدستي کښينستی، بل دڅه لوستلو وروسته دريم دسورت دختمولو وروسته په دري واړو حالاتو کي حکم يو دی که بيل بيل؟

**جواب**: په دري واړو حالاتو کي دي کښيني او بيا دي تشهد ووايي او دسجده سهوي دکولو وروسته دي بيا تشهد او نور ووايي او سلام دي وګرځوي. (٣) فقط

**دکم نابينا څخه چي يو رکعت دامام دغلطی له امله پاته سي**: **سوال**: (٢٠٥٠) دماپښين په لمانځه کي امام سهوا منځنی قعده پريښودله ودريدی په جمعه کي يو نابينا هم وو هغه

---

(١) والجهر فيما يخافت فيه للإمام وعكسه لكل مصل في الأصح تقديره ما تجوز به الصلوة في الفصلين وقيل قائله قاضيخان يجب السهو بهما ای بالجهر والمخافه مطلقا أی قل او کثر (درمختار) وقال في شرح المنية والصحيح ظاهر الرواية وهو التقدير بما تجوز به الصلوة من غير تفرقة لأن القليل من الجهر في موضع المخافة عفو ايضا (ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩۴، ط.س. ج٢ ص٨١). ظفير

(٢) بخلاف فتحه على إمامه فإنه لا يفسد مطلقا لفاتح وآخذ بكل حال (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة ج١ ص٥٨٢، ط.س. ج١ ص٢٢٢) سجده سهوه دواجب په ترك او دهغه په شاته کولو او مخته کولو باندي واجبيږي، چي دلته يو هم مينځ ته نه راغی. ظفير

(٣) وان قعد في الرابعة مثلا قدر الشهد ثم قام عاد وسلم ولو سلم قائما صح (درمختار) قوله قام ای ولم يسجد قوله عاد وسلم ای عاد للجلوس لما مر ان مادون الركعة محل للرفض وفيه إشارة إلى أنه لايعيد التشهد وبه صرح في البحر قال في الإمداد والعود للتسليم جالسا سنة الخ (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٠، ط.س. ج٢ ص٨٧) ددي عبارت څخه معلومهه سوه چي په صورت مسئوله کي به تشهد نه راګرځوی. والله اعلم. ظفير

دخپل ياد موافق تشهد لوستل شروع كړل، او دمعذوروالي له امله يي دامام متابعت ونه كړى، غرض دا چي نابينا فرض او واجب ادا كول او په اخره قعده كي دامام سره شريك سو او دامام سره يي سجده سهوه هم وكړه بيا چي امام سلام وګرځوى نو دغه نابينا په دي خيال چي زه وروسته پاته سوى يم ودريدى او يو ركعت يي ادا كړى چي هغه دده پنځم وو نو ايا دده لمونځ وسو او كه نه؟

**جواب**: كه چيري دغه نابينا په پاى كي سجده سهوه وكړه نو لمونځ يي وسو. ([1]) فقط

**كه يي داخترونو په زياتو تكبيرونو كي كمي وكړه نو څه حكم لري؟ سوال**: (۲۰۵۱) زيد داختر لمونځ وكړى نو په لومړي ركعت كي يي دځلورو تكبيرونو په ځاى دري تكبيرونه ادا كړل، ايا دا لمونځ وسو اوكه نه؟

**جواب**: داختر تكبيرونه واجب دي دتكبير افتتاح او دركوع له تكبير څخه پرته دري واجب دي كه يي په دي كي يو تكبير هم پريښووى نو واجب به ترك سي، او دواجب په پريښودلو سره سجده سهوه لازميږي، خوكله چي داخترونو په لمانځه كي سجده سهوه نسته نو لمونځ وسو. ([2]) فقط والله تعالى اعلم.

**دفرضو اخرني قعده يي په هيره پريښوده او پنځم ركعت يي ورسره يوځاى كړي نوهغه به نفل سي: سوال**: (۲۰۵۲) كم سړى چي داخري قعدي څخه سهوه سو اوپنځم ركعت يي په سجده سره مقيد كړى وايي چي: تحول فرضه نفلا، حال داچي دنفلو په هكله وايي: لأن كل شفع من النفل صلوة عليحدة. بدليل نقل مع حواله. سره دحوالي صفحه دكتاب او مطبع تحرير وفرماياست.

**جواب**: فرضه نفلا ([3]) په خپله مصرح دي، ددي لپاره دبلي كمي حوالي اړتيا نسته، اوكل شفع من النفل صلوة عليحدة قاعده هم صحيح ده ليكن دلته په سجده سهوي سره دهغه پټى وتړل سوه. فقط

**دسجده سهوي دقصدا او نسيانا پري ښوولو حكم: سوال**: (۲۰۵۳) دسجـــده سهوي په هيره

---

([1]) يعني كه چيري په دغه پنځم ركعت كي يې سجده سهوه وكړه نو بيا خويې لمونځ وسو كه نه وي اعادې يې واجبه ده وكذا للاحق لكنه يسجد في اخر صلوته ولو سجد مع إمامه أعاده (درمختار) ولاحقا بركعة فسجد إمامه للسهو فإنه يقضي ركعة بلا قراءة لأنه لاحق ويتشهد ويسجد للسهو الخ (ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۲۹۲، ط.س. ج۲ ص۸۳). ظفير

([2]) والسهو في صلاة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتاخرين عدمه في الأولين لدفع الفتنة كما في جمعة البحر وأقره المصنف وبه جزم في الدر المختار (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۲۹۸، ط.س. ج۲ ص۸۵). ظفير

([3]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۲۹۸، ط.س. ج۲ ص۸۵. ظفير

پرېښودلو او په قصد سره پرېښودلوکي توپير سته اوکه نه؟ که ورڅخه هيره سوه نو دلمانځه اعاده به کوي اوکه نه؟

**جواب**: ددغه لمانځه قضا واجبه ده، اوسجده سهوه عمدا اوسهوا پرېښودل برابر دي. ([1])

**که په څلور رکعتي لمانځه کي سهوا په دريم رکعت باندي هم کښېنستي نوڅه حکم لري؟**

**سوال**: (۲۰۵۴) که چيري چا څلور رکعته لمونځ پيل کړی اوپه دريم رکعت کي سهوا کښېنستی نو لمونځ يي صحيح سو اوکه نه؟

**جواب**: په دي صورت کي سجده سهوه واجبه ده او لمونځ يي صحيح سو.

**که په هيره سره په رکوع کي دسجدي تسبيح ووايي نو څه حکم دی؟** **سوال**: (۲۰۵۵) که په رکوع کي سهوا دسجدي تسبيح ووايي يا برعکس، نو په لمانځه کي خو به څه خرابي نه راځي؟

**جواب**: هيڅ خرابي نه راځي. ([2])

**په سجده کي درکوع تسبيح**: **سوال**: (۲۰۵۶) درکوع تسبيح يي په سجده کي ووايه چي ورته ياد سي نو دسجدي تسبيح ووايي اوکه درکوع تسبيح کافي وي؟

**جواب**: دسجدي تسبيح ويل په کار دي، ترڅو دسنتو موافق سي. ([3])

**تعديل پرېښوول اوسجده سهوه**: **سوال**: (۲۰۵۷) چي قومه او جلسه دلمونځ کوونکي دتيزی له امله په واجبي اندازي سره سم ادا نسي نو سجده سهوه به واجبه وي اوکه نه؟

**جواب**: سجده سهوه په هغه فعل سره واجبېږي چي سهوا وسي، اوکم خلګ چي عمدا او عادتا قومه او جلسه نه پوره کوي په دي کي سجده سهوه نسته بلکه دداسي لمونځونو اعاده واجبه وي. ([4]) فقط

**دسجده سهوي لپاره دي يوازي يوه لورته سلام ګرځوي**: **سوال**: (۲۰۵۸) کم سړی چي يواځي

---

([1]) ولها واجبات لا تفسد بتركها وتعاد وجوبا في العمد والسهو إن لم يسجد له وإن لم يعدها يكون فاسقا اثما (درمختار) قوله إن لم يسجد له أى للسهو. (الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب في واجبات الصلوة ج١ ص۴۲۵، ط.س. ج۲ ص۴۵۶). ظفير

([2]) ويلزمه السهو إذا زاد في صلاته فعلا من جنسها ليس منها وهذا يدل على أن سجدة السهو واجبة وهو الصحيح لأنها تجب لجبر نقصان تمكن في العبادة (هدايه باب سجود السهو ج١ ص۱۴۰). ظفير

([3]) ويسبح فيه (أى في الركوع) وأقله ثلاثا فلو تركه او نقصه كره تنزيها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص۴۲۱، ط.س. ج۲ ص۴۹۴) او دلته خوبيې پرې اينبي هم نه ده بلکه الفاظ بدل سوه، په دي کي څه ستونزه نسته. ظفير

([4]) ولها (اى للصلاة) واجبات لا تفسد بتركها وتعاد وجوبا في العمد والسهو إن لم يسجد له وان لم يعدها يكون فاسقا اثما (درمختار) قوله إن لم يسجد له اى للسهو هذا قيد لقوله والسهو إذ لا سجود في السهو (رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص۴۲۵، ط.س. ج۲ ص۴۵۶). ظفير

لمونځ کوي هغه به ديوه رکن دهيريدلو په صورت کي دسجده سهوي دکولو په مهالل يوائي ښي لوري ته سلام ګرځوي اوکه دواړو طرفو ته؟

**جواب**: يوائي يوه لوري ته دي سلام وګرځوي که يي دواړو لورو ته وګرځوی هم څه ستونزه نسته، بيا دي هم سجده سهوه وکړي. (١)

**مسبوق دواړو طرفو ته سلام وګرځوی چي وریاد سو نو ودريدی څه حکم لري؟ سوال**:

(٢٠٥٩) يو سړی په دويم رکعت کي شامل سو، او دامام سره يي دري واړه رکعته وکړل او دواړو لورو ته يي سلام وګرځوی په مقتديانو کي يوه ورته وويل چي ستا رکعت پاته دی، په دي وينا هغه ته ياد سو هغه ودريدی او پاته يو رکعت يي وکړی سجده سهوه يي وکړه او سلام يي وګرځوی په دي صورت کي لمونځ وسو اوکه نه؟ مولانا عبدالحی صاحب په خپله فتاوی کي ليکلي دي چي په دي صورت کي لمونځ نه کيږي ځکه چي وريادوونکی دلمانځه څخه بهر دی په دي هکله حکم څنګه دی؟

**جواب**: دفقهي په کتابونو کي يي ليکلي دي چي که چيري په داسي صورت کي دهغه په وينا سره سمدستي پاڅيدی نو لمونځ يي فاسد سو، اوکه لږ څه ودريدی او په خپله يي وریاد کړل او پاڅيدی نو لمونځ يي صحيح دی، که يي سجده سهوه وکړه نو لمونځ به يي له کراهته پرته وسي. دمولانا عبدالحی رحمه الله فتوی به غالبا دلومړي صورت په اړوند وي. (٢) فقط

**دفاتحي څخه وروسته ترڅه وخته پوري پټه خوله وو نوڅه حکم دی؟ سوال**: (٢٠٦٠) که چيري امام يا منفرد دالحمد لوستلو وروسته ديوه اوږده آيت يا دريو لنډو اياتونو په اندازه قصدا پټه خوله ولاړ وي بيا وروسته سورت وايي نو په هغه باندي سجده سهوه لازميږي او که نه؟

**جواب**: سجده سهوه پرهغه باندي لازمه ده کما قال في الدرالمختار: وتفكره عمدا حتى شغله عن ركن (٣) وتحقيقه في الشامي. فقط

**امام دماسختن په دريم رکعت کي کښېنستی خو سمدستي ودريدی نوڅه حکم دی؟ سوال**:

---

(١) يجب له بعد سلام واحد عن يمينه فقط لأنه المعهود وبه يحمل التحليل وهو الأصح (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٩١، ط.س. ج٢ ص٧٨). ظفير

(٢) وفي القنية قيل لمصل منفرد تقدم فتقدم بأمره الخ فسدت صلوته وينبغي ان يمكث ساعة ثم يتقدم براى نفسه (ردالمحتار باب الإمامة ج١ ص٥٣٣، ط.س. ج١ ص٥٧١) حتى لو إمتثل أمر غيره فقيل له تقدم فتقدم الخ فسدت بل يمكث ساعة ثم يقدم برايه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيها ج١ ص٥٨١، ط.س. ج١ ص٦٢٢). ظفير

(٣) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٣، ط.س. ج٢ ص٨٠. ظفير

(٢٠٢١) امام دماسخوتن په لمانځه کي سهوا په دريم رکعت کي کښينستی، دمقتدي په ښودنه باندي سمد ستي ودريدو، وخت ونه لګيدی لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: په دي صورت کي چي امام ډير نه کښېنستی او سمد ستي ودريدی سجده سهوه نه لازميږي او لمونځ صحيح سو، کذا في الشامي. ([1]) فقط

**دماپښين په مخکنيو سنتوکي دمخکني قعدي په هيريدلو سره سجده سهوه**: **سوال**: (٢٠٢٢) يوه سړی دماپښين څخه مخکي دڅلورو رکعتو سنتو نيت وکړی او اوله قعده يي هيره سوه سيده ودريدی وروسته يي قعده وکړه او په اخرکي يي سجده سهوه ونه کړه دا لمونځ صحيح سو اوکه نه؟ پرده بيرته راګرځول واجب دي اوکه نه؟

**جواب**: دسجده سهوي دنه کولو له امله بيا راګرځول ورباندي واجب دي. ([2])

**که زنګون يي درولی نه وي نو بايد کښيني**: **سوال**: (٢٠٢٣) که چيري سيده ولاړنه وي او نه يي زنګونان دزمکي څخه جلا سوي وي نو په دي صورت کي څه کول ورته پکار دي ايا قعده وکړي اوکه ودريږي؟

**جواب**: قعده دي وکړي او سجده سهوه واجبه نه ده. ([3]) فقط

**زنګونان دمځکي څخه پورته سوه خو سيده ونه دريدی نوڅه وکړي؟** **سوال**: (٢٠٢٤) که چيري سيده ونه دريدی او زنګونان يي دزمکي څخه جدا سوي وه، دولاړي او ناستي په مينځني حالت کي وي نو ده ته راګرځيدل په کار دي اوکه دريدل؟ او سجده سهوه ورباندي واجبه ده اوکه نه؟ او پرده به اعاده وي او که نه؟

**جواب**: په دي حالت کي هم راګرځيدل په کار دي او قعده کول په کار دي او سجده سهوه ورباندي لازمه نه ده. کما في الدر المختار : عاد إليه وتشهد ولا سهو عليه في الأصح ما لم يستقم قائما في ظاهر المذهب وهو الأصح ([1]) فتح، او دويم قول ددي مقابل دادی: چي که اقرب إلی القعود وي (يعني ناستي ته ډير نژدي وي) نو کښيديني، اوکه اقرب

---

([1]) وکذا القعدة في آخر الرکعة الأولی والثالثة يجب ترکها يلزم من فعلها ايضا تأخير القيام الی الثالثة او الرابعة عن محله وهذا إذا کانت القعدة طويلة أما الجلسة الخفيفة التی إستحبها الشافعي فترکها غير واجب عندنا (ردالمحتار ج١ ص٤٣٨، ط.س. ج١ ص٤٧١). ظفير

([2]) ولها واجبات لا تفسد بترکها وتعاد وجوبا في العمد والسهو الخ وهی قراءة فاتحة الکتاب الخ والقعود الأول ولو في نفل (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة، ط.س. ج١ ص٤٥٦). ظفير

([3]) سها عن القعود الأول من الفرض ولو عمليا وأما النفل فيعود مالم يقيدها بالسجدة ثم تذکره عاد إليه وتشهد ولاسهو عليه في الأصح ما لم يستقم قائما في ظاهر المذهب هو الأصح (الدر المختار علی هامش رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٨، ط.س. ج٢ ص٨٣). ظفير

إلى القيام وي (يعني ولاړي ته نژدي وي) نونه دي كښيني او سجده سهوه دي وكړي. فقط

**كه په صلوة تسبيح كي دتسبيح پرځاى الحمد لله ووايي نو څه حكم لري؟ سوال**: (٢٠٦٥) [١] په صلوة التسبيح كي دالحمد څخه مخكي سبحان الله ولوستل سوه او دتسبيح پرځاى كه چيري الحمد ولوستل سوه نو سجده سهوه ورباندي راځي اوكه نه؟

**په صلوة التسبيح كي دقراءت څخه وروسته ركوع ته ولاړي**: **سوال**: (٢٠٦٦) [٢] په صلوة التسبيح كي دقراءت څخه وروسته په هيره سره ركوع ته ولاړي په ركوع كي ورته ياد سوه او په ركوع كي يي دا تسبيح ولوستى نو سجده سهوه ورباندي واجبه ده اوكه نه؟

**جواب**: [١-٢] لمونځ يي وسو او سجده سهوه ورباندي واجبه نه سوه. فقط

**دفاتحي او قراءت په مينځ كي په څومره ځنډ كولو سره سجده سهوه لازميږي؟ سوال**: (٢٠٦٧) په بهشتي زيوركي ليكلي دي چي كه چيري ددري ځله سبحان الله لوستلو په اندازه تاخير دفاتحي او سورت تر مينځ وسي نو سجده سهوه به واجبيږي، اونور فقهاء ديوي تسبيح په اندازه وخت فرمايي كم يو قول معتبر دى؟

**جواب**: كمه خبره چي په بهشتي زيوركي ده همدغه خبره مجققينو غوره ګرځولي ده قال في شرح المنية والصحيح أن قدر زيادة الحرف ونحوه غير معتبر في جنس ما يجب به سجود السهو وإنما المعتبر قدر ما يؤدى فيه ركن كما في الجهر من يخافت وعكسه وكما في الفكر حال الشك ونحوه الخ ص٣٢١. فقط

**دماښام تر وروستنى قعدي وروسته امام پورته سو اوبيا كښينستى نوڅه وكړي؟ سوال**: (٢٠٦٨) دماښام په مهال امام دري واړه ركعتونه پوره كړل دوروستنى قعدي څخه سهوا پورته سو او مقتديان ناست پاته سول اوكله چي يو څو مقتديانو الله اكبر ووايه نو بيا امام كښينستى او يوه لوري ته يي سلام وګرځوى او سجده سهوه يي وكړه بيا داختلاف جوړيدو په وجهه سره دوباره لمونځ ادا كړل سو، نو ايا دسجده سهوي سره لمونځ ادا سو اوكه دوباره كول يي واجب وو؟

**جواب**: دغه لمونځ دسجده سهوي په كولو سره صحيح او كامل سوى وو، دراګرځولو اړتيا نه وه. ([٢]) فقط

**دماسخوتن په اخري ركعتونو كي په جهر كولو سره سجده سهوه**: **سوال**: (٢٠٦٩) كه چيري

---

([١]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٧، ط.س. ج٢ ص٨٣. ظفير

([٢]) ولو سها عن القعود الأخير كله اوبعضه عاد الخ ما لم يقيدها بسجدة لأن ما دون الركعة محل الرفض وسجد للسهو لتأخير القعود (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتارباب سجود السهو ج١ ص٢٩٨، ط.س. ج٢ ص٨٥) ظ

یو امام دماسخوتن په اخري رکعتونوکي جهر وکړي نو سجده سهوه وربانـدي واجبه ده اوکه نه؟ الدر المختار: اَلسِّرُّ فِيْمَا يَسُرُّ بِهِ وَالْجِهْرُ فِيْمَا يُجْهَرُ بِهِ وَاجِبٌ، قاعده خو سجده سهوه غواړي خو کله چي په خپله قراءت په دي کي واجب نه دی ځکه نو واجبیدل نه ښايي ځکه که يي واجب وبولو نو زياتوالی دصفت پرذات باندي لازميږي.

**دماپښين په اخري رکعتونوکي په جهر سره سجده سهوه**: **سوال**: (۲۰۷۰) [۲] او دماپښين په اخري رکعتونو کي په جهر کولو سره سجده سهوه لازميږي اوکه نه؟

**جواب**: په دي صورت کي به سجده سهوه لازمه سي ځکه که چيري دماسخوتن په اخري رکعتونو کي قراءت وايي نو پټوالی يي لازم دی لکه څنګه چي په شامي کي دي: ويسر في غيرها، ددې په تفسير کي ليکلي دي: قوله ويسرُّ في غيرها وهو ثالثه من المغرب والأخريان من العشاء (١) الخ نو دماسخوتن په اخري دوو رکعتو کي اګرکه قراءت واجب نه دی ليکن که چيري قراءت کوي نو اخفاء يې لازمه ده. فقط

[۲] او دماپښين په وروستنيو دوو رکعتونوکي په جهر کولو سره هم سجده سهوه لازميږي. (۲)

داختر په دوهم رکعت کـه امام زيات تکبيرونـه پرېښودل او رکوع تـه ولاړی بيا چي درکوع څخه پورته سو نو **تکبيرونه يې وويل، نوڅه حکم دی؟ سوال**: (۲۰۷۱) دلوی اختر دلمانځه په دويم رکعت کي امام سهوا تکبيرونه ونه ويل او رکوع يي وکړه څه خلګو به هرومرو درکوع تکبير ادا کړی وي، او امام صاحب درکوع تسبيح ادا نه کړي، والله اعلم بالصواب، جمع زياته وه يعني دجومات په چت باندي هم مقتديان موجود وه بيا امام قيام وکړی او تکبيرونه يي په زوره ولوستل، او دوباره يي رکوع او قيام وکړل، او دسجدي وروسته يي دسجده سهوي پرته سلام وګرځوی په ياد سوي صورت کي لمونځ دڅه نقص پرته ادا سو اوکه نه؟

**جواب**: که چيري امام دزياتو تکبيرونو دويلو څخه پرته ددويم رکعت رکوع ته ولاړی نو هغه ته نه دي پکار چي بيا دي درکوع څخه دقيام لوري ته ستون سي او تکبيرونه دي ووايي بلکه په درمختارکي يي ديته مفسد دصلوة ويلي دي اګرکه شامي ويلي دي چي صحيح داده چي لمونځ فاسد نه سو کذا نقله عن إبن الهمام في العود إلى القعود الأول بعد القيام قال في الدرالمختار ولا يعود إلى القيام ليكبر في ظاهر الرواية فلو عاد

(١) ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص٤٩٧، ط.س. ج١ ص٥٣٢. ظفير

(٢) ولو جهر الإمام فيما يخافت او خافت فيما يجهر تلزمه سجدتا السهو لأن الجهر في موضعه والمخافة في موضعها من الواجبات الخ (هدايه باب سجود السهو ج١ ص١٤١). ظفير

ينبغي ([1]) الفساد وفي الشامي وقد علمت أن العود رواية النوادر على أنه يقال عليه ما قاله إبن الهمام في ترجيح القول لعدم الفسادفيما لو عاد إلى القعود الأول بعد ما إستتم قائما الخ ([2]) او داختر او جمعي په لمانځه کي دډيري ګڼي ګوني له امله متأخرينو دا فتوی ورکړي ده چي که چيري سهوه وسي نو سجده سهوه دي نه کوي. فقط

**که چيري مسبوق په خپلو پاته رکعتونو کي يو واجب پرېښووي نوپه هغه باندي سجده سهوه سته اوکه نه؟ سوال:** (٢٠٧٢) که چيري مسبوق دامام سره دماپښين په ځلورم رکعت کي يا په اخري قعده کي يوځای سو او دامام دسلام ګرځولو وروسته ولاړ سو او دخپل لمانځه دادا کولو په مهال کي ورڅخه څه واجب پاته سو نو دغه مسبوق به سجده سهوه کوي او که نه؟

**جواب:** کول يي ښايي. ([3]) فقط

**په اخري قعده کي په دوباره درود لوستلو سره سجده سهوه نسته: سوال:** (٢٠٧٣) که يو سړی پوره درود ابراهيمي يا دهغه نيمه برخه د: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ څخه تر إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ پوري په اخري قعده کي مکرر ووايي نو پرده به سجده سهوه واجبه سي اوکه نه؟

**جواب:** نه واجبيږي. ([4])

**ددرود يوه برخه ورڅخه پاته سوه او ددعا څخه وروسته يي ولوستله نوسجده سهوه واجبيږي اوکه نه؟ سوال:** (٢٠٧٤) که چيري د: اَللّٰهُمَّ بَارِكْ څخه تر حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ پوري په اخري قعده کي سهوا ونه لوستل سي او دمأثوري دعا دلوستلو په مهال ورته ياد سي نوهغه به دپاتي دعا په پريښودلو سره ددرود شريف لوري ته انتقال کوي او که نه؟ او پرده باندي سجده سهو واجبه ده اوکه نه؟

**جواب:** انتقال کول مناسب دي او سجده سهوهورباندي لازمه نه ده. ([5])

---

([1]) أى وإن إستقام قائما لا يعود لإشتغاله بفرض القيام وسجد للسهو لترك الواجب فلو عاد إلى القعود بعد ذلك تفسد صلاته لرفض الفرض لما ليس بفرض وصححه الزيلعى وقيل لا تفسد لكنه يكون سيئا ويسجد لتأخير الواجب وهو الأشبه كما حققه الكمال وهو الحق (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهر ج١ ص٢٩٧، ط.س. ج٢ ص٨٤). ظفير

([2]) رد المحتار باب العيدين ج١ ص٧٨٢، ط.س. ج٢ ص٩٢. ظفير

([3]) ويبدأ بقضاء ما فاته عكس المسبوق (درمختار) قوله عكس المسبوق أى في الفروع الأربعة المذكورة فانه إذا قضى ما فاته يقرأ ويسجد للسهو إذا سها فيه (رد المحتار باب الإمامة مطلب في أحكام المدرك والمسبوق ج١ ص٥٥٧، ط.س. ج١ ص٥٩٥). ظفير

([4]) يجب الخ بترك الواجب الخ (درمختار) واحترز بالواجب عن السنة كالثناء والتعوذ ونحوها (ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٣، ط. س. ج٢ ص٨٠). ظفير

([5]) وسننها رفع اليدين للتحريمة الخ والصلوة على النبي ﷺ في القعدة الأخيرة (الدر المختار على هامش رد =

**دفرضو په اخري ركعتونوكي دسورة په يوځاى كولو سره سجده سهوه نه لازميږي: سوال:** (**٢٠٧٥**) دفرض لمانځه په خالي ركعتونوكي كه چيري يو سورت دفاتحي څخه وروسته قصدا يا سهوا ولوستل سي نوسجده سهو لازميږي اوكه نه؟

**جواب:** سجده سهوه نه لازميږي. ([1]) فقط

**دڅلور ركعتيز لمانځه په اخرى ركعت كي قرائت: سوال:** (**٢٠٧٦**) په څلور ركعتيز لمانځه كي په اخري دوو ركعتوكي په قراءت سره قيام ادا كيږي دا څه مصلحت دى چي نيمه الحمد يي ولوستله اوپه دويم ځل يي پوره كړه نو دده پرذمه سجده سهوه واجبه سوه او څوك چي دواړه ځله ووايي نو نه لازميږي؟

**جواب:** په اخري دوو ركعتوكي دټول سورت اوفاتحى دقراءت په ترك باندي دهغه قول موافق سجده سهو لازميږي څوك چي په اخري دوو ركعتو كي دسورت فاتحي په وجوب قائل دي، او دظاهر الرواية سره سم چي كله په اخري دوو ركعتونوكي دفاتحي لوستل واجب نه دي ([2]) نو دټولي فاتحي يا دهغي ديوي برخي په پرېښوولو سره به دهغوى په وړاندي سجده سهوه لازمه نه سي. فقط

**په قراءت كي دمتشابه كيدلو له امله په دوباره لوستلو سره سجده سهو نه لازميږي: سوال:** (**٢٠٧٧**) دامام څخه چي په لمانځه كي دلوستلو په مهال هيره وسي يا په متشابه كيدلو سره دبل ځاى دوه دري اياتونه ولولي او دبيا رايادېدلو او يا هيريدلو له امله دسره قراءت ووايي نو لمونځ يي كيږي اوكه نه؟ او سجده سهوهورباندي لازميږي او كه نه؟

**جواب:** په دي صورت كي لمونځ صحيح دى او سجده سهوهورباندي واجبه نه ده اوكه يي په غلطى سره سجده سهوه وكړه نو هم لمونځ صحيح سو. ([3]) فقط

---

= المحتار باب صفة الصلوة مطلب سنن الصلوة ج١ ص**٤٤٥**، ط. س. ج١ ص**٤٧٤**). ظفير

([1]) واكتفى المفترض فيما بعد الأوليين بالفاتحة فإنها سنة على الظاهر ولو زاد لابأس (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٧٨، ط.س. ج٢ ص**٥١١**). ظفير

([2]) واكتفى المفترض فيما بعد الأوليين بالفاتحة فإنها سنة على الظاهر فلو زاد لا بأس به وهو مخير بين قراءة الفاتحة الخ وصح العيني وجوبها (درمختار) اى ظاهر الرواية ولو زاد لا بأس به الخ اى لو ضم إلي سورة لا باس به لأن القراءة في الأخريين مشروعة من غير تقدير والإقتصار على الفاتحة مسنون لا واجب فكان الضم خلاف الأولى وذلك لا ينافي المشروعية والإباحة بمعنى عدم الإثم في الفعل والترك كما قدمناه (رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٧٨، ط.س. ج٢ ص**٥١١**). ظفير

([3]) ولو سلم ساهيا إن بعد إمامه لزمه السهو وإلا لا الخ ولو ظن الإمام السهو فيسجد له فتابعه فبان ان لا سهو فالأشبه الفساد لإقتدائه في موضع الإنفراد (درمختار) وفي الفيض وقيل لا تفسد وبه يفتى في البحر عن الظهيرية قال الفقيه ابو الليث في زماننا لا تفسد لأن الجهل في القراءة غالب (رد المحتار قبيل باب الإستخلاف ج١ ص٥٢٠، ط.س. ج١ ص**٥٩٩**). ظفير

**په واجب او سنت لمانځه کي په اوله قعده کي دالتحيات وروسته په دوباره لوستلو سره سجده سهو نه لازميږي**: **سوال**: (٢٠٧٨) په سننتو او واجبو لمونځونو کي چي په اوله قعده کي دالتحيات څخه وروسته درود ولوستل سي نو سجده سهوه به واجبه سي اوکه نه؟ او همدغه ډول په سننو او واجبوکي چي اوله قعده ورڅخه هيره سي او ودريږي نو ددريم رکعت دسجدي کولو څخه مخکي په ياديدلو سره کښيني اوکه نه؟

**جواب**: په واجب لمانځه مثلا وتروکي همغه حکم دی کم چي په فرض لمانځه کي دی نوکه چيري په دوی کي دتشهد څخه وروسته درود شريف وويل سي نو سجده سهوه به لازمه سي، اوپه سنت مؤکدو کي دوه قوله دي ليکن دسجدي واجبوالی أحوط دی (١) او دلومړی قعدي دپريښودلو هغه احکام دي چي دفرضو دلومړی قعدي په پريښودلو کي دي چي که ناستي ته څيرمه وي کښېدني اوکه ولاړي ته څيرمه وي نه دي کښيني اوپه اخرکي دي سجده سهوه وکړي. (٢) فقط

**که درکعتونو په شمار کي سهوه وسي نوپه غالب ګمان دي عمل وکړي**: **سوال**: (٢٠٧٩) خاکسار ته په لمانځه کي درکعتونو او سجدوپه شميوه کي سهو کيږي نوڅه کول ښايي؟

**جواب**: په دي صورت کي دي دغالب ګمان اعتبار (٣) اوپرهغه باندي بناء وکړی. فقط

**په دوه رکعتيز لمانځه کي دتشهد لوستلو څخه وروسته چي دريم رکعت پورته سي اوبيا کښيني نو سجده سهوه ضروي ده**: **سوال**: (٢٠٨٠) يوه سړي ددوو رکعتو سنت مؤکدو يا

---

(١) ولا يزيد في الفرض على التشهد في القعدة الاولى إجماعا فإن زاد عامدا كره فتجب الإعادة او ساهيا وجب عليه سجود السهو إذا قال اللهم صل على محمد فقط على المذهب المفتى به لا لخصوص الصلوة بل لتأخير القيام (درمختار) قوله لا يزيد في الفرض اى في الفرض وما ألحق به كالوتر والسنن الرواتب وإن نظر صاحب البحر فيها (رد المحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٧٢، ط.س. ج١ ص٥١٠). ظفير

(٢) سها عن القعود الأول من الفرض ولو عمليا أما النفل فيعود ما لم يقيد بالسجدة ثم تذكر عاد إليه وتشهد ولا سهو عليه في الأصح مالم يستقم قائما به ظاهر المذهب وهو الأصح والا اى إن إستقام قائما لايعود لإشتغاله بفرض القيام وسجد للسهو لترك الواجب (درمختار) قوله عمليا كالوتر فلا يعود فيه إذا إستتم قائما قوله أما النفل فيعود الخ جزم به في المعراج والسراج وعلله ابن وهبان بأن كل شفع منه صلوة على حدة ولاسيما على قول محمد بأن القعدة الأولى منه فرض فكانت كالأخيرة وفيها يقعد وإن قام حكى في المحيط فيه خلافا وكذا في شرح التمرتاشي قيل يعود وقيل لا يعود في الخلاصة والأربع قبل الظهر كالتطوع وكذا الوتر عند محمد وتمامه في النهر لكن في التتارخانية عن العتابية قيل في التطوع يعود ما لم يقيد بالسجدة والصحيح أنه لايعود اهـ واقره في الإمداد لكن خالفه فى المتن تأمل (ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٧، ط.س. ج٢ ص٨٣). ظفير

(٣) وإذا شك في صلاته من لم يكن ذلك اى الشك عادة له الخ كم صلى إستأنف الخ وإن كثر شكه عمل بغالب ظنه إن كان له ظن للحرج وإلا أخذ بالأقل لتيقنه وقعد في كل موضع توهمه موضع قعود (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٥ - ٧٠٢، ط.س. ج٢ ص٩٢ - ٩٣). ظفير

فرضو لمونځ وکړی چي کله يي التحيات ولوستل نو سهوا ودريدی يعني ددريم رکعت دالحمد لوستلو وروسته ورته ياد سوه نو کښينستی او سلام يي وګرځوی دغه لمونځ وسو اوکه يي راګرځول په کار دي، اوکه سجده سهوه کول په کار وو، او څوك چي وايي چي نه يي راګرځول پکار دي اونه سجده سهوه کول پکار دي داخبره صحيح ده اوکه نه؟

**جواب**: په دي صورت کي سجده سهوه کول په کار وو، ځکه چي دلته دفرضو تاخير اودواجبو ترك راغلی دی او که يي سجده سهوه ونه کړه نوپه لمانځه کي نقصان پاته سو او ددي لمانځه اعاده واجبه ده اوکم سړي چي دا مسئله ښودلي ده چي دسجده سهوي اړتيا نه وه اوکله چي يي سجده سهوه ونه کړه نو دلمانځه اعاده واجبه نه ده، هغه دا مسئله غلطه ښودلي ده هغه ته معلومه نه ده نو دهغه قول ته اعتبار ورکول نه ښايي. (١) فقط

**که چيري دمسبوق ځخه په باقي مانده رکعت کي سهوه وسي نو سجده سهوه پرلازمه ده**:

**سوال**: (٢٠٨١) مسبوق ته چي دجماعت دختميدلو ځخه وروسته په پاته رکعت کي سهوه پيښه سي نوسجده سهوه به کوی اوکه نه؟

**جواب**: سجده سهوه کول ښايي. (٢) فقط

**په رکوع کي دتسبيح پرځای په بسم الله لوستلو سره سجده سهوه سته اوکه نه؟ سوال**:

(٢٠٨٢) که څوك په رکوع کي دتسبيح پرځای بسم الله الرحمن الرحيم ووايي نو سجده سهوه به واجبه سي اوکه نه؟ اوپه تشهدکي په قراءت ويلو سره سجده سهوه لازميږي اوکه نه؟

**جواب**: په رکوع کي دتسبيح پرځای په بسم الله الرحمن الرحيم ويلو سره سجده سهوه نه لازميږي ځکه چي درکوع تسبيحات واجب نه دي اوتشهد واجب دی هلته په داسي کولو سره يعني دتشهد په پريښودلو سوه سجده سهو لازميږي. فقط (٣)

---

(١) ولو سها عن القعود الأخير كله او بعضه يعاد الخ وإن قعد في الرابعة مثلا قدر التشهد ثم قام عاد الخ وسجد للسهو في الصورتين لنقصان فرضه بتأخير السلام في الأولى وتركه في الثانية (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٨، ط.س. ج٢ ص٨٥). ظفير

(٢) والمسبوق من سبقه الإمام بها او ببعضها وهو منفرد حتى يثنى ويتعوذ الخ فيما يقضيه (درمختار) قوله حتى يثنى الخ تفريع على قوله منفرد فيما يقضيه بعد فراغ إمامه حتى لو ترك القراءة فسدت الخ ويلزمه السجود إذا سها فيما يقضيه (رد المحتار باب الإمامة مطلب في المسبوق واللاحق ج١ ص٥٥٧، ط. س. ج١ ص٥٩٦). ظفير

(٣) ويلزمه إذا ترك فعلا مسنونا كأنه اراد به فعلا واجبا الخ او ترك قراءة الفاتحة الخ او القنوت او التشهد او تكبيرات العيدين لأنها واجبات (هدايه باب سجود السهو ج١ ص١٤٠). ظفير

**دسورت فاتحي په تكرارسره سجده سهو لازميږي اوكه نه؟ سوال:** (٢٠٨٣) دسورت فاتحي په تكرار سره سجده سهوه لازميږي اوكه نه؟

**جواب:** په اولنيو دوو ركعتونوكي دسورت فاتحي په تكرار سره سجده سهوه لازميږي. كما في الشامي قوله وكذا ترك تكريرها فلو قرأها في ركعة من الأوليين مرتين وجب سجود السهو لتأخير الواجب وهو السورة كما في الذخيرة وغيرها [1] الخ. فقط

**دڅلور ركعتيز لمونځونو په اخري ركعتونوكي دسورت په ويلو سجده سهوه نه لازميږي: سوال:** (٢٠٨٤) دڅلورو فرضو په وروستنيو ركعتونوكي يي سورت دفاتحي سره يوځاى كړى نو سجده سهوه لازميږي اوكه نه؟ كه چيري په دي صورت كي دركن تاخير نه راځي نوپه لومړۍ قعده كي د: اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ په ويلو سره څنګه دركن تاخير راځي چي سجده سهوه ورباندي لازميږي او دعدم مشروع قراءت مطلب څه دى؟

**جواب:** په اخري دوو ركعتونو كي دسورت په يوځاى كولو سره سجده سهوه نه لازميږي ځكه چي په اخري دوو ركعتوكي اكتفا په سورت فاتحه باندي واجبه نه ده تر ځو يي په زياتوالي دواجب ترك راسي بلكه دسورت ديوځاى كولو اونه كولو اختيار وركړل سوى دى اګركه دسورت نه لوستل غوره او مسنون دي او لومړۍ قعده داسي نه ده هلته پرتشهد شريف باندي بس والى او درود شريف نه ويل واجب دي په درمختار كي دي: واكتفى المفترض فيما بعد الأوليين بالفاتحة فإنها سنة على الظاهر ولو زاد لابأس به [2] الخ. فقط

**كه چيري مسبوق په خپل پاته لمانځه كي قعده پريږدي نو سجده سهوه به ورباندي لازمه سي: سوال:** (٢٠٨٥) مسبوق دامام سره دماښام په لمانځه كي يو ركعت ونيوى او دامام دسلام ګرځولو وروسته يي دوه ركعته وكړل، او وروستنۍ قعده يي وكړه يعني لومړۍ قعده يي ونه كړه نو پرده باندي سجده سهوه واجبه ده اوكه نه؟ دسجده سهوي پرته يي لمونځ وسو اوكه نه؟

**جواب:** په دي صورت كي پردي مسبوق باندي سجده سهوه واجبه ده او دسجده سهوي نه كولو په صورت كي دلمانځه اعاده واجبه ده. [3] فقط

---

(١) رد المحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة ج١ ص٤٢٩. ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة الفصل ج١ ص٤٧٧، ط.س. ج١ ص٥١١، اى لو ضم إليها سورة لا بأس به لأن القراءة في الأخريين مشروعة من غير تقدير والإقتصار على الفاتحة مسنون لا واجب فكان الضم خلاف الأولى وذلك لا ينافي المشروعية والإباحة بمعنى عدم الإثم في الفعل والترك الخ رد المحتار باب ايضا ج١ ص٤٧٧، ط.س. ج١ ص٥١١). ظفير =

<u>**دسهار په لمانځه کي ددويم رکعت څخه وروسته په هيره ودريدی نو سمدستي دي کښيني**</u>:

**سوال**: (۲۰۸۲) که دسهار په لمانځه کي ددويم رکعت دکولو وروسته پرته دقعدي سهوا ودريږي او په دريم رکعت کي دالحمد او سورت دلوستلو وروسته ورته ياد سي، نو هغه وخت کښيني اوکه رکعت پوره کړي؟

**جواب**: هغه وخت دي کښيني او سجده سهو دي وکړي لمونځ به يې صحيح سي. ([1]) فقط

<u>**که په اول رکعت کي ورڅخه دسورت پيوست کول هير سي نوڅه وکړي؟**</u> **سوال**: (۲۰۸۷) دسنتو يا نفلو يا فرضو په لومړي رکعت کي يې دسورت فاتحي څخه وروسته سهوا سورت ونه وايه اورکوع يې وکړه نو اوس دقيام لوري ته وګرځي اوکه سجدي ته ولاړ سي؟

**جواب**: قومه دي وکړي او سجدي ته دي ولاړ سي او دلمانځه په پای کي دي سجده سهوه وکړي. ([2]) فقط

<u>**يوه لوري ته دسلام ګرځولو وروسته دي سجده سهو وکړي او تشهد دي پوره ووايي**</u>: **سوال**: (۲۰۸۸) سجده سهوه يوه لوري ته دسلام ګرځولو وروسته پکار ده اوکه دواړو لورو ته، او دنيمي التحيات لوستلو وروسته دي سلام وګرځوي اوسجده سهوه وکړي اوکه دپوره التحيات لوستلو وروسته؟ اودسجده سهوي بعد ترالتحيات وروسته سلام وګرځوي که

---

([3]) والمسبوق يسجد مع إمامه مطلقا سواء كان السهو قبل الإقتداء او بعده ثم يقضي ما فاته ولو سها فيه سجد ثانيا (درمختار) لو سها فيه اي فيما يقضي بعد فراغ الإمام يسجد ثانيا لأنه منفرد والمنفرد يسجد لسهوه. (رد المحتار باب سجود السهو ج۱ ص۲۹۵، ط.س. ج۲ ص۸۵). ظفير

([1]) ولو سها عن القعود الأخير كله او بعضه عاد الخ ما لم يقيدها بسجدة لأن مادون الركعة محل الرفض وسجد للسهو لتأخير القعود (الدرالمختارعلى هامش ردالمحتار باب سجودالسهو ج۱ ص۲۹۸،ط.س. ج۲ ص۸۵.) ظ

([2]) دعلامه شامي دڅرګندوني څخه معلوميږي چي په ياد سوي صورت کي غوره دا ده چي بيرته دي وګرځي او سورت دي ووايي بيا دي رکوع وکړي اوپه پای کي دي سجده سهوه وکړي اګر که دا صورت هم صحيح دی چي درکوع څخه وروسته سجدي ته ولاړ سي اوپه پای کي سجده سهوه وکړي، لکه څنګه چي په جواب کي ذکر دي: بترك واجب سهوا كركوع قبل قراءة الواجب بوجوب تقديمها ثم إنما يتحقق الترك بالسجود فلو تذكر ولو بعد الرفع من الركوع عاد ثم أعاد الركوع (مختصرا من درمختار) قوله عاد أى إلى القيام ليقرأ (رد المحتار باب سجود السهو ج۱ ص۲۹۳، ط.س. ج۲ ص۸۰) شامي ددواړو صورتونو يادونه کړيده چي ټول قراءت پرېښودل سي يا يوازي سورت، أما إذا قرأ الفاتحة مثلا ركع فتذكر السورة فعاد فقرأها الخ (ايضا) دبل ځای عبارت دادی: ولو ترك سورة اولى العشاء مثلا ولو عمدا قرأ وجوبا وقيل ندبا مع الفاتحة جهرا في الأخريين الخ ولو تذكرها في ركوعه قرأها واعاد الركوع (درمختار) قوله ولو تذكرها اى السورة قوله قرأها أى بعد عوده إلى القيام قوله وأعاد الركوع لأن ما يقع من القراءة في الصلوة يكون فرضا فيرتفض الركوع ويلزمه إعادته لأن الترتيب بين القراءة والركوع فرض كما مر في الواجبات الخ (ردالمحتار فصل في القراءة ج۱ ص۴۹۹ – ۵۰۰، ط.س. ج۱ ص۵۳۵). ظفير

څنګه وکړي؟

**جواب**: دپوره التحيات څخه وروسته دي يوه لوري ته سلام وګرځوي بيا دي دوې سجدې دسهوي وکړي بيا دي مکمل التحيات او درود شريف ووايي او سلام دي وګرځوي فقط (١) (ددرود شويف څخه وروسته دي دعا هم ووايي. ظفير)

**دفرضو په لومړنيودوو رکعتونو کې ورڅخه دسورت يوځای کول هير سوه اوسجده سهوه يې وکړه نو لمونځ وسو**: **سوال**: (٢٠٨٩) دفرضو په لومړنيو دوو رکعتونوکې يا يوه رکعت کې ورڅخه دسورت يوځای کول هيرسوه نودسجده سهوي سره يې لمونځ کيږي اوکه نه؟

**جواب**: سورت يوځای کول واجب دي دهغو په پرېښوولو سره سجده سهوه لازميږي، نو په پوښتل سوي صورت کې دسجده سهوي په کولو سره لمونځ وسو او دراګرځولو اړتيا يې نسته. فقط (٢)

**که چيرې مسبوق دامام سره سلام وګرځوي نوڅه حکم لري؟** **سوال**: (٢٠٩٠) که چيرې مسبوق سهوا دامام سره سلام وګرځوي نو درې صورته يې ليکلي دي، که يې دامام څخه مخکې يا دهغه سره يوځای سلام وګرځوي نو لمونځ دسجده سهوي پرته صحيح دی، اوکه يې دامام څخه وروسته سلام وګرځوي نو ايا دسجده سهوي پرته به دلمانځه اعاده لازمه وي او دمع الإمام معنی څه ده؟

**جواب**: دامام څخه که چيرې لږ هم وروسته وي نو پرمسبوق باندې سجده سهوه لازمه ده ځکه يې په شامي کې ليکلي دي چې معيت حقيقي ګران دی شاذ او نادر دی، ځکه نو عموما دسجده سهوي دلزوم حکم کول کيږي. (٣) فقط

**په اخرې قعده کې يې درود او دعا ختمولو وروسته په ځنډ سره سلام وګرځوی نو آيا سجده سهوه لازمه ده؟** **سوال**: (٢٠٩١) په اخري قعده کې يې دتشهد او درود شريف څخه

---

(١) وكيفيته أن يكبر بعد سلامه الأول ويخر ساجدا و يسبح في سجوده ثم يفعل ثانيا كذلك ثم يتشهد ثانيا ثم يسلم ويأتي بالصلوة على النبي ﷺ والدعاء في قعدة السهو هو الصحيح الخ (عالمگيري مصري في سجود السهو ج١ ص١١٧، ط. ماجدية ج١ ص١٢٥). ظفير

(٢) ولو قرأ الفاتحة وحدها و ترك السورة يجب عليه سجود السهو (عالمگيري مصري سجود السهو ج١ ص١١٨، ط.ماجدية ج١ ص١٢٢). ظفير

(٣) ولو سلم ساهيا إن بعد إمامه لزمه السهو وإلا لا (درمختار) قوله لزمه السهو لأنه منفرد في هذه الحالة قوله وإلا لا، اى وإن سلم معه او قبله لا يلزمه لأن مقتد في هاتين الحالتين وفي شرح المنية عن المحيط إن سلم في الأولى مقارنا لسلامه فلا سهو عليه لأنه مقتد به وبعده يلزم لأنه منفرد آهـ ثم قال فعلى هذا يراد بالمعية حقيقتها وهو نادر الوقوع آه قلت يشير إلى أن الغالب لزوم السجود لأن الأغلب عدم المعية وهذا مما يغفل عنه كثير من الناس (ردالمحتار باب الإمامة قبيل باب الإستخلاف ج١ ص٥٢٠، ط.س. ج١ ص٥٩٩). ظفير

وروسته ترڅه وخته پوري سكوت وكړي او سلام يي ونه ګرځوی نو سجده سهوه واجبه ده اوكه نه؟ او دوجوب په صورت كي دوباره دسجده سهوي تشهد ووايي كه نه؟

**جواب**: په دي صورت كي سجده سهوه واجبه نه ده. (١) فقط

**<u>لاحق به دامام سره سجده كوي اوكه نه؟</u> سوال**: (٢٠٩٢) لاحق به دامام سره سجده سهو كوي اوكه نه؟ كه يي چيري نه كوي نو په هغه وخت كي به دی څه كوي؟

**جواب**: په درمختار كي دي چي لاحق دي دامام سره سجده سهوه نه كوي بلكه دلمانځه په پای كي دي وكړي او په دغه وخت كي دي ناست اوسي اوكه چيري دامام سره سجده سهوه وكړي هم بيابه يي دلمانځه په پای كي بيا كوي او لمونځ يي صحيح دی. درمختار (٢) فقط

**<u>كه چيري يي ديوه سورت ديوي برخي لوستلو وروسته بل سورت پيل كړی نو لمونځ كيږي اوكه نه؟</u> سوال**: (٢٠٩٣) يوه سړی په فرض لمانځه كي دالحمد شريف څخه وروسته داركوع (يَا اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا تَّقُوا اللّٰهَ) تر (كَالَّذِيْنَ نَسُوا اللّٰهَ) پوري ولوستل اوبل سورت يي پيل كړی اودسجده سهوي كولوپرته يي لمونځ پای ته ورسوی نولمونځ وسواوكه نه؟

**جواب**: كه چيري دتحريمي په اندازه ځندي نه وي سوی نو سجده سهوه لازمه نه ده. (٣) (او لمونځ يي وسو ظفير)

**<u>په يوه لوی ايت سره لمونځ كيږي</u>**: **سوال**: (٢٠٩٤) [١] ديوه لوی ايات په لوستلو سره لمونځ كيږي اوكه نه؟ يو ايت يي ولوستی او نور ورڅخه هير سوه بل سورت يي پيل كړی لمونځ يي وسو اوكه نه؟ ځنډ يي بالكل نه دی كړی نو سجده سهوه وربانديِ واجبه ده اوكه نه؟

**<u>دقراءت ترهيريدلو وروسته چي امام څومره وخت پته خوله ولاړ اوسي نو سجده سهو وربانديِ</u>**

---

(١) أما لو تفكر في صلاة قبلها هل صلاها ام لا ففي المحيط انه ذكر في بعض الروايات انه لا سهو عليه وإن أخر فعلا كما لو تفكرمن أمور الدنيا حتى أخر ركنا الخ (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٧، ط.س. ج٢ ص٩۴). ظفير

(٢) وحكمه كمؤتم فلا يأتي بقراءة ولا سهو ويضر فرضه بنية إقامة ويبدأ بقضاء ما فاته عكس المسبوق (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الإمامة مطلب في المسبوق واللاحق والمدرك ج١ ص۵۵٧، ط.س. ج١ ص۵٩۵). ظفير

(٣) منشأ داده چي دنوموړي ركوع دياديِ سويِ برخي دلوستلو وروسته كه يي چيري فورا بل سورت پيل كړی او ديوه ركن په اندازه ځنډ يي ونه كړی نو سجده سهوه واجبه نه ده: واعلم أنه إذا شغله ذلك الشك ففكر قدر اداء ركن ولم يشتغل حالة الشك بقراءة ولا تسبيح وجب عليه سجود السهو (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٢، ط.س. ج٢ ص٩٣). ظفير

**واجبيږي؟** **سوال**: (۲۰۹۵) [۲] که چیرې دقراءت دلوستلو په مهال ورڅخه هیره وسي نو په څومره وخت ځنډ کولو باندې سجده سهوه لازمیږي؟

**جواب**: [۱] لمونځ وسو دسورت فاتحې سره دیوه اوږده یا دریو لنډو ایاتونو په یوځای کولو سوه لمونځ کیږي، سجده سهوه هم لازمه نه ده. (۱)

[۲] دیوه رکن په اندازه په ځنډ کولو سره سجده سهوه لازمیږي. (۲) فقط

**که په خپله یې یقین وي چې ما رکعتونه پوره کړي دي او نور خلک ورته ووايي چې کم دي نوڅه وکړي ؟** **سوال**: (۲۰۹۶) [۱] یوسړی یقین لري چې ما دڅلور رکعته کولو وروسته سلام وګرځوی لیکن یو دوه سړي وايي چې تا په دریو رکعتو باندې سلام ګرځولی دی نو دغه لمونځ راوګرځوي او که په خپل یقین باندې عمل وکړي؟

**که څوک دسهار ددوو رکعتو پرځای څلور او دمازدیګر دڅلورو رکعتو پرځای شپږ وکړي نوڅه حکم لري؟** **سوال**: (۲۰۹۷) دسهار لمونځ یې ددوو رکعتو پرځای څلور رکعته وکړي همدا ډول دمازدیګر لمونځ یې دڅلورو رکعتو په ځای شپږ رکعته وکړي نوپه سجده سهوې کولو سره لمونځ کیږي اوکه نه؟ که چیرې کیږي نو ایا دوه رکعته به نفل وګرځي اوپه دې دواړو وختونوکې دمکروه والي له امله نفل لمونځ کوونکی ګنهګاردی اوکه نه؟

**جواب**: [۱] دهغه لمونځ صحیح دی، او په خپل یقین باندې اعتماد کول کافي دي. (۳)

[۲] په دې صورت کې که چیرې ده اخرې قعده کړې وي او بیا ولاړ سوی وي او دوه رکعته یې نور ورسره یو ځای کړي وي نو بیا دسجده سهوې په کولو سره دده لمونځ تکمیل کیږي، او دا دوه رکعته به یې نفل سي او پر کوونکي باندې هیڅ ګناه نسته قال في الدرالمختار وضم إليها سادسة ولوفي العصر وخامسة في المغرب ورابعة في الفجر

---

(۱) وضم أقصر سورة كالكوثر اوما قام مقامها وهو ثلاث أيات قصار نحو (ثم نظر ثم عبس وبسر ثم أدبر واستكبر) وكذا لو كانت الآية او الآيتان تعدل ثلاثا قصارا (درمختار) وهى ثلاثون حرفا فلو قرأ اية طويلة قدر ثلاثين حرفا يكون قد أتى بقدر ثلاث أيات الخ (ردالمحتار باب صفة الصلوة واجبات الصلوة ج۱ ص۴۲۷، ط.س. ج۱ ص۴۵۸). ظفير

(۲) فلو اتم القراءة فمكث متفكرا سهوا ثم ركع الخ سجد للسهو (الدر المختار على هامش ردالمحتار واجبات الصلوة ج۱ ص۴۳۷، ط.س. ج۱ ص۴۶۹) وتفكره عمدا حتى شغله عن ركن (درمختار) وأجاب في الحلية عن وجوب السجود في مسئلة التفكر عمدا بأنه وجب لما يلزم منه من ترك واجب هو تأخير الركن او الواجب عما قبله فإنه نوع سهوا (الدر المختار باب سجود السهو ج۱ ص۲۹۳، ط.س. ج۲ ص۸۰). ظفير

(۳) واختلف الإمام القوم فلو الإمام على يقين لم يعد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۷۰۷، ط.س. ج۲ ص۹۴). ظفير

به يفتى لتصير الركعتان له نفلا (قوله ولو في العصر الخ) أشار إلى أنه لا فرق في مشروعية الضم بين الأوقات المكروهة وغيرها لما مر أن التنفل فيها إنما يكره لو عن قصد وإلا فلا وهو الصحيح ([1]) شامي. فقط

**په سنتو کې دالتهيات پرځای فاتحه ولوستله نو سجده سهو لازميږي اوکه نه؟ سوال:** (٢٠٩٨) په مؤکدو سنتو کې يې دالتحيات پرځای سورت فاتحه ولوستله چي کله ورپه زړه سوه نو التحيات يې ولوستل نوسجده سهوه لازمه سوه اوکه نه؟

**جواب:** نسته. ([2]) (په دې کې دا تفصيل دی چي که يې سورت فاتحه دتشهد پرځای ولوستله يا يې مخکې فاتحه ولوستله بيا تشهد نو په دواړو صورتونوکې سجده سهوه واجبيږي اوکه يې مخکې التحيات ولوستل او بيا فاتحه نو سجده سهوه نه لازميږي، ظفير). فقط

**په جهري لمانځه کې په پټ لوستلو سره سجده سهوه: سوال:** (٢٠٩٩) په جمع او نورو هغو لمونځونوکې چي دقراءت بالجهر حکم دی که چيري په هيره سره قرائت پټ ووايي نو سجده سهوه واجبيږي اوکه نه؟

**جواب:** په کم لمانځه کې چي جهر واجب نه دی په هغه کې دجهر په پريښودلو سره سجده سهوه نه لازميږي او په کم لمانځه کې چي جهر واجب دی لکه دجمعي لمونځ هلته دجهر په پريښودلو سره سجده سهوه لازميږي. ([3]) ليکن دجمعي په لمانځه کې دسجدی سهوي حکم نسته ([4]) وباقي التفصيل يطلب من كتب الفقه. فقط

**دمسبوق دامام سره دسلام ګرځول اوسجده سهوه: سوال:** (٢١٠٠) دمسبوق دسلام په کم صورت کې پرهغه باندي سجده سهوه لازميږي دمقارنت په صورت کې او که دوروسته والي په صورت کې په هر حال دسجده سهوي لامل څه شی دی؟

---

([1]) رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٠، ط.س. ج٢ ص٨٢. ظفير

([2]) واذا قرا الفاتحة مكان التشهد فعليه السهو وكذلك إذا قرأ الفاتحة ثم التشهد كان عليه السهو وكذا روي عن ابي حنيفة الخ ولو بدأ بالتشهد ثم بالقراءة فلا سهو عليه الخ (عالمگيري مصري الباب الثاني عشر في سجود السهو ج١ ص١١٩، ط.س. ج١ ص١٢٧) ددې جزئيې څخه معلومه سوه چي په دې صورت کې سجده سهوه سته. والله اعلم. ظفير

([3]) والجهر فيما يخافت فيه للإمام وعكسه لكل مصل في الأصح والأصح تقديره بقدر ما تجوز به الصلوة في الفصلين وقيل قائله قاضيخان يجب السهو بهما أي بالجهر والمخافة مطلقا أي قل اوكثر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٤٩٤ – ٤٩٥، ط.س. ج٢ ص٨١). ظفير

([4]) والسهو في صلوة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتأخرين عدمه في الأوليين لدفع الفتنة كما في جمعة البحر. (ايضا ج١ ص٧٠٥، ط.س. ج٢ ص٩٢). ظفير

**جواب**: حقیقتا مقارنت یعني یوځای والی نادر الوقوع دی، یعني په داسي ډول چي دمسبوق سلام دامام سره په یوه ځای پیل او دهغه سره په یوه ځای ختم سي، ددي نادر الوقوع سلام ګرځولو څخه وروسته سهوا مسبوق سلام وګرځوی نو سجده سهوه پرهغه باندي لازمه ده، ځکه چي بعدیت یعني وروسته والی دلته متحقق دی. (١) فقط

**که په مینځ کي دایت یوه برخه پاته سي نو سجده سهوه لازمیری اوکه نه؟ سوال**: (٢١٠١) دسورت بقري داخري ایت: لا یکلف الله نفسا إلا وسعها څخه یي لمونځ پیل کړی خو سهوا یي: رَبَّنَا وَلاَ تَحْمِلْنَا مَا لاَ طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا پریښووی او نور یي ترپایه ولوستی نو سجده سهوه واجبه ده اوکه نه؟

**جواب**: په دي صورت کي سجده سهوه واجبه نه ده او لمونځ وسو، (٢)

**دسجده سهوي څخه وروسته چي دتشهد پرځای الحمد ووایي نو څه حکم دی؟ سوال**: (٢١٠٢) زید په لمانځه کي دواجب دپریښودلو له امله سجده سهوه وکړه وروسته یي دتشهد پرځای الحَمد ولوسته چي ورپه زړه سوه نو دوباره یې سجده سهوه وکړه اوفورا یې تشهد شروع کړی، نوڅه حکم دی؟

**جواب**: بیا دي تشهد ووایي ددوباره سجده سهوي کولو اړتیا نسته. فقط (٣)

**که دمقتدي څخه یو رکن هیر سي نو څه وکړي؟ سوال**: (٢١٠٣) که چیري دمقتدي څخه په امام پسي دلمانځه یو رکن هیر سي مثلا رکوع، سجده، التحیات، نو هغه پوره کړي اوکه سجده سهوه وکړي؟

**جواب**: که دمقتدي څخه په امام پسي یو رکن لکه رکوع، یا سجده پاته سي، نو هغه دي په لمانځه کي یا دلمانځه څخه وروسته پوره کړي اوکه واجب ورڅخه پاته سي لکه التحیات نو دهغو اعاده وروسته نسته او سجده سهوه هم په هغه باندي واجبه نه ده کما في الدرالمختار: لا بسهوه اصلا (درمختار) أی لا قبل السلام للزوم مخالفة الإمام ولا بعده لخروجه عن الصلوة بسلام الإمام الخ وروی ابن عمر ﵄ عن النبی ﷺ لیس علی

---

(١) والمسبوق یسجد مع إمامه مطلقا سواء کان السهو قبل الإقتداء او بعده الخ (درمختار) قید بالسجود لأنه لا یتابعه في السلام بل یسجد معه ویتشهد فإذا سلم الامام قام إلی القضاء فإن سلم عامدا فسدت وإلا لا، ولا سجود علیه إن سلم سهوا قبل الإمام او معه وإن سلم بعده لزمه لکونه منفردا حینئذ بحر، والمراد بالمعیة المقارنة وهو نادر الوقوع کما في شرح المنیة (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٢٩٢). ظفیر

(٢) دلته دسجده سهوي کمه وجهه نسته ځکه چي دکم واجب ترك یا دهغه تقدیم او تاخیر نه ورسره راغی. ظفیر

(٣) وإذا قرء الفاتحة مکان التشهد فعلیه السهو وکذلك إذا قرأ الفاتحة ثم التشهد کان علیه السهو کذا روی عن ابي حنیفة الخ ولو بدء بالتشهد ثم بالقراءة فلا سهو علیه (عالمګیري مصري باب سجود السهو ج١ ص١١٩، ط.س. ج١ ص١٢٧). ظفیر

من خلف الامام سهو. الخ (١) شامي. فقط

**دڅلورم رکعت څخه وروسته فورا پورته سو او پنځم رکعت یې هم وکړی اوسجده سهو یې وکړه لمونځ یې ختم کړی په دي صورت کي څه حکم دی؟ سوال**: (٢١٠٤) دماسخوتن په لمانځه کي چي څلور رکعته وسوه نو دامام دا خیال راغی چي دری رکعته سوي دي په دي وجه پورته سو ځیني مقتدیان کښېنستل او امام ته یي اشاره وکړه خو امام نه کښېنستی بلکه دپنځم رکعت رکوع او سجده یي وکړه او سجده سهوه یي وکړه او لمونځ یي ختم کړی په دي صورت کي دامام لمونځ وسو اوکه نه؟ او هغه مقتدیان چي داخري قعدي په غرض اول ناست وه او بیا دامام سره دپنځم رکعت په رکوع کي شامل سوي وه دهغوی لمونځ هم وسو اوکه نه؟

**جواب**: کله چي امام په څلورم رکعت کي نه کښېنستی او پنځم رکعت ته پورته سو رکوع او سجده یي وکړه او کښېنستی نو داخري قعدي دفوت کیدو له امله دامام لمونځ ونه سو، نو په مقتدیانو کي هم دچا لمونځ ونه سو نه دمسبوق نه دمدرك. (٢)

**که دقراءت تکرار وسي نو څه حکم دی؟ سوال**: (٢١٠٥) یو سړي یوه رکوع مکرره په دواړو رکعتوکي ولوستله او سجده سهوه یي ونه کړه نو لمونځ یي وسو اوکه نه؟

**جواب**: په دي صورت کي لمونځ وسو او سجده سهوه واجبه نه ده. (٣) فقط

**سجده سهوه دیوه سلام څخه وروسته ده اوکه ددواړو سلامونو؟ سوال**: (٢١٠٦) سجده سهوه ددواړو سلامونو څخه وروسته ادا کړي اوکه دیوه؟

**جواب**: دیوه سلام څخه وروسته دي ادا کړي، دلیله قول الدر المختار یجب بعد سلام واحد عن یمینه (إلى قوله) سجدتان. فقط والله تعالى أعلم

**دآیت په تکرارولو سره سجده سهوه لازمیږي اوکه نه؟ سوال**: (٢١٠٧) دتراویحو لمونځ چي هغه سنت مؤکد دی که په هغوکي یو سړی یا مخ ته سوی حافظ دشلو سړیانو په جماعت کي یو ایت دري څلور ځله ووایي نو سجده سهوه اړینه ده اوکه نه ځکه چي په اردو مفتاح الصلوة ص٨٢ کي لیکلي دي چي که یي همدغه ایت دوه دري ځله تکرار کړی نو سجده سهوه وربانديلازمه ده، په درمختار جلد اول ٣٣٨ صفحه کي لیکلي دي چي په

---

(١) ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٥، ط.س. ج٢ ص٨٢. ظفير

(٢) وإن سهى عن القعدة الأخيرة حتى قام إلى الخامسة رجع إلى القعدة ما لم يسجد الخ وإن قيد الخامسة بسجدة بطلت فرضه عندنا (هدايه باب سجود السهو ج١ ص١٤٢). ظفير

(٣) لا بأس أن يقرأ سورة ويعيدها في الثانية (درمختار) أفاد أنه يكره تنزيها وعليه يحمل جزم القنية بالكراهة الخ (ردالمحتار فصل في القراءة ج١ ص٥١٠، ط.س. ج١ ص٥٤٢). ظفير

تراويحو كي دي دغير مشروعو كارونو څخه ځان ژغوري، او نور ... نو په دي صورتونو كي سجده سهوه ادا كول ښايي اوكه نه؟ مهرباني وكړی دكتابونو دحوالي سره يي راتـه وليكئ!

**جواب**: يو ايت څو څو واره لوستل دسجده سهوي دواجب والي لامل نه ګرځي او په مفتاح الصلوة كي چي څه ليكلي دي هغه مي په پوهه كي نه راغلل كيداى سي چي هغه په هغه ځاى كي وي چي يواځي يو ايت يي بيا بيا ويلى ويء ورڅه يي نه وي لوستي يا يي يواځي سورت فاتحه لوستلي وي او سورت يي نه وي لوستلى نو په دي صورت كي دواجب دپرېښودلو له امله سجده سهوه لازميږي، ليكن په تراويحو كي داسي نه كيږي چي نور څه يي نه وي لوستلي په تراويحوكي ډير داسي پيښيږي چي دراتلونكي ايات دنه وريادېدلو له امله يو ايات په مكرر ډول ووايي په دي كي دسجده سهوي دلازميدلو هيڅ وجهه نسته او په شامي كي دي چي په اخترونو اوجمعه كي چي كله خلګ ډير وي نو سجده سهوه نه كول غوره دي: بل الأولى تركه لئلا يقع الناس في فتنة. او په درمختار كي هم دهغه عبارت څخه وروسته چي تاسو ليكلى داسي ليكلي دي چي غوره دمتاخرينو په وړاندي دا ده چي سجده سهوه دي نه كوي. فقط والله تعالى اعلم. (والسهو في صلوة العيد والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتأخرين عدمه في الأوليين (درمختار باب سجود السهو، قال في الشامي الظاهر ان الجمع الكثير فيما سواهما ايضا كذلك. شامي ج١ ص٧٨٧. جميل الرحمن). فقط

**يوه سجده يې وكړه او ولاړ سو اوس څه وكړي؟** **سوال**: (٢١٠٨) يوه سړي دلمانځه په لومړي ركعت كي ددوو سجدو څخه يواځي يوه سجده وكړه او ودريدی وروسته ورته ياده سوه چي يوه سجده مي نه ده كړي نو په دي حالت كي بايد څه وكړل سي؟

**جواب**: چي كم وخت ورته يادسي همغه وخت دي دوهمه سجده وكړي او بيا دي په پاى كي سجده سهوه وكړي. (١) فقط

**په زوائدو تكبيرونو كي په زيادت سره سجده سهوه نسته**: **سوال**: (٢١٠٩) كه داخترونو په لمونځونو كي دشپږو تكبيرونو پرځاى سهوا نهه تكبيرونه ووايي نو ايا سجده سهو لازميږي؟

**جواب**: دسجده سهوي اړتيا نسته. (٢)

---

(١) لو ترك سجدة من ركعة ثم تذكرها فيها بعدها من قيام او ركوع او سجود فإنه يقضيها ولا يقضيها هو بعد ركعتها من قيام او ركوع او سجود بل يلزمه سجود السهو فحسب. كبيري ص٢٩١. جميل الرحمن)

(٢) ويصلي الإمام بهم ركعتين مثنيا قبل الزوائد وهى ثلاث تكبيرات في كل ركعة ولو زاد تابعه إلى ستة =

**امام اوله قعده پرېښوده پورته سو بيا کښېنستی نو څه حکم دی؟ سوال**: (٢١١٠) امام اوله قعده پرېښوده او ودريدی بيا چي وپوهول سو نو کښېنستی او سجده سهوه يي وکړه نو لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: که چيري امام سهوا اوله قعده ونه کړه او ودريدی دخبرولو وروشته کښېنستی او سجده سهوه يي وکړه نو دصحيح قول مطابق دهغه لمونځ وسو ليکن هغه ته بيرته راګرځيدل نه وو په کار دا هغه ښه ونه کړل بلکه بد يي وکړل ځينو فقهاؤ په دي صورت کي دلمانځه دفساد حکم کړی دی خو صحيح داده چي لمونځ کيږي. (١) فقط والله اعلم

**دفاتحي سره يې يوازي دوه واره اياتونه ولوستل داڅه حکم لري؟ سوال**: (٢١١١) [١] په لمانځه کي يي دفاتحي څخه وروسته سورت والعاديات ولوستي خو يوازي ددومره لوستلو وروسته رکوع ته ولاړی (والعاديات ضبحًا فالموريات قدحًا) نو په دي صورت کي ورباندي سجده سهوه سته اوکه نه؟

**په والعاديات کي يې فَالْمُغِيْرَات پرېښووی ددې څه حکم دی؟ سوال**: (٢٩١٢) [٢] دالحَمد څخه وروسته يي والعاديات ولوستی ليکن (فالمغيرات صبحا) يي پريښووی او نور ټول سورت يي ولوستی سجده سهوه ورباندي لازمه ده اوکه نه؟

**ددرود او دعا څخه وروسته سجده سهو وکړي اوکه نه؟ سوال**: (٢١١٣) [٣] که چيري سجده سهوه ورباندي واجبه وه او درود شريف او دعا يي ولوستل نو اوس سجده سهوه وکړي اوکه نه؟

**جواب**: [١] په دي صورت کي واجب پريښودل سو که چيري سهوا داسي سوي وي نو سجده سهو دي وکړي اوکه سهوا نه وي سوي نو دلمانځه اعاده دي وکړي (في الدرالمختار في بيان واجبات الصلوة وضم أقصر سورة كالكوثر او ما قام مقامهما الخ. جميل البرحمن)

[٢] په دي صورت کي سجده سهوه نسته.

[٣] سجده سهوه ددرود شريف څخه وروسته هم کول په کاردي.

**په جهري لمانځه کي يې پټ لوستل وکړل او بيايي په جهر سره ولوستل ددې څه حکم دی؟**

= عشر لأنه مأثور آه درمختار ج١ ص٧٠٨، ط.س. ج٢ ص١٧٢. ظفير

(١) وإلا أى وإن إستقتام قائما لا يعود لإشتغاله بفرض القيام وسجد للسهو لترك الواجب فلو عاد إلى القعود بعد ذلك تفسد صلوته لرفض الفرض لما ليس بفرض وصححه الزيلعي وقيل لا تفسد لكنه يكون مسيئا ويسجد ولتأخير الواجب وهو الأشبه كما حققه الكمال وهو الحق بحر آه درمختار ج١ ص٢٩٧ على هامش الشامي ط.س. ج٢ ص٨٤. ظفير

**سوال**: (۲۱۱۴) امام په جهري لمانځه كي قراءت پټ ولوستی وروسته ورپه زړه سو چي لمونځ جهری دی هغه لړ څه قراءت لوستلی وو خو بيا يي دپيل څخه ولوستل دهغه لمونځ وسو اوكه نه؟ او سجده سهوه وكړي كه نه؟ اوكه يي سجده سهوه ونه كړه لمونځ يي كيږي اوكه نه؟

**جواب**: دهغه لمونځ سو دبيا راګرځولو هيڅ اړتيا نسته اوكه چيري يي ددريو اياتونو په اندازه سراً لوستل كړي وو نو سجده سهو وربانديي لازمه ده كني نه ده او دسجدي دواجبوالي سره سره كه يې سجده ونه كړه نو په لمانځه كي يي نقصان راغی او اعاده يي واجبه ده. [1]

**په نفلو اوسنتو كي سجده سهوه سته اوكه نه؟ سوال**: (۲۱۱۵) په نفلو سنتو او داخترونو په لمونځونو كي سجده سهوه سته اوكه نه؟

**جواب**: په درمختاركي دي: والسهو في صلوة العيدين والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتأخرين عدمه في الأوليين الخ ددي حاصل دا دی چي داختر او جمعي په لمانځه كي او په فرضو اونفلو كي دواجب په پرينبودلو سره سجده سهوه واجبه ده ليكن متاخرينو ويلی دي چي په اختر او جمعه كي كه چيري خلګ ډير وي نو سجده سهوه دي نه كوي دفتني ددفع كولو په هيله. فقط

**دشافعي لپاره دسهار په لمانځه كي رعايت څنګه دی؟ سوال**: (۲۱۱۶) كه حنفي امام دشافعي مقتديانو دخيال ساتلو لپاره دسهار دلمانځه په دويم ركعت كي دومره ايسارتيا وكړي چي شافعيان دقنوت څخه فارغ سي نو دا څنګه ده دهغه لمونځ به وسي اوكه نه په داسي امام پسي لمونځ كول ښايي اوكه نه كه لمونځ ورپسي وسي نو مكروه به وي اوكه نه؟ او په كمو كارونو كي حنفي امام ته دشافعي مقتديانو رعايت كول جائز دي، دشافعي مقتدي په خاطر حنفي امام ته دسلام څخه مخكي سجده سهوه كول جواز لري اوكه نه؟

**جواب**: په درمختار كي دي: لكن يندب للخروج من الخلاف لا سيما للإمام لكن بشرط عدم لزوم ارتكاب مكروه مذهبه الخ [2] يعني امام ته دبل مذهب لرونكو مقتديانو مثلا

---

([1]) يجب له بعد سلام واحد سجدتان (الى قوله) بترك واجب سهو وإن تكرر كركوع قبل قراءة (إلى أن قال) والجهر فيما يخافت فيه وعكسه بقدر ما يجوز به الصلوة الخ (تنرير محضا سجود السهو ج١ ص٧٧٢، ط.س. ج٢ ص٧٨). ظفير

([2]) الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الطهارة مطلب في ندب مراعاة الخلاف الخ ج١ص١٣٢، ط.س. ج١ ص١٤٧. ظفير

شافعیانو رعایت کول مستحب دي لیکن په دي شرط چي دخپل مذهب دمکروه ارتکاب نه لازمیږي او شامي فرمایلي دي چي مکروه تنزیهي هم په دي کي شامل دی یعني که چیري دخپل مذهب په رڼا کي مکروه تنزیهي لازمیږي نو بیا دي هم مثلاً دشافعي مذهبه مقتدیانو رعایت نه کوي نو ددي روایت په بناء دي حنفي امام په دویم رکعت کي له رکوع څخه دراپورته کیدلو وروسته دومره توقف نه کوي چي مقتدیان دعاء قنوت پکښي ووايي ځکه چي دا توقف مکروه دی او په شامي کي دي: نعم ذکر نحوه ابن عبدالرزاق في شرحه على هذه الشروح كإطالة وقوفه بعد الرفع من الركوع الخ (١) دا مثال يي ورکړی دی چي درکوع وروسته دتوقف داوږدوالي پرېښودل واجب دي نو په دي توقف سره ترك دواجب راځي چي هغه مکروه تحریمي دی ځکه به نو په داسي امام پسي لمونځ کول مکروه وي همدا ډول دسلام څخه مخکي سجده کول حنفي امام ته دمقتدیانو درعایت لپاره نه ښايي ځکه دا هم مکروه تنزیهي ده کما في الشامي أنه لو سجد قبل السلام کره تنزیها (٢) الخ ج١ ص٤٩٥. باب سجود السهو. فقط

**په څلور رکعتي لمونځ کي امام په دري رکعتو باندي سلام وګرځوي او په مقتدیانو کي چي یادونه واوریده نو پورته سو ددې څه حکم دی؟ سوال:** (١٢١٧) امام په څلور رکعتیز لمانځه کي چي کله دري رکعته وکړل نو سلام يي وګرځوی اوس امام قبلي ته مخامخ ناست دی او په مقتدیانو کي خبری اتري سوي چي څلور رکعته وسو او... ، په دي اوریدو سره امام الله اکبر ووایه او ودریدی او څلور رکعته يي پوره کړه سجده سهوه يي وکړه، او سلام يي وګرځوی ایا دامام او مقتدیانو لمونځ وسو؟

**جواب**: که چیري امام څه خبره نه وي کړي نو دهغه لمونځ وسو او په مقتدیانوکي چي چا خبري نه وي کړي دهغوی لمونځ هم وسو او کمو مقتدیانو چي خبره کړیده دهغو لمونځ ونه سو هغوی دي خپل لمونځ راوګرځوي. (٣) فقط

**په شپږم رکعت کي چي څوک شریک سو دهغه لمونځ ونه سو: سوال:** (٢١١٨) امام پنځم رکعت ته پورته سو او شپږ رکعته يي پوره کړل سجــده يي وکړه او سلام يي وګرځوی په

---

(١) رد المحتار باب صفة الصلوة مطلب واجبات الصلوة قبیل مطلب مهم في تحقیق متابعة الإمام ج١ ص٤٣٨، ط.س. ج١ ص٤٧٠. ظفیر

(٢) رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩١، ط.س. ج٢ ص٧٨. ظفیر

(٣) سلم مصل الظهر مثلا على رأس الركعتين توهما إتمامها أتمها اربعا وسجد للسهو لأن السلام ساهيا لا يبطل لأنه دعائه من وجه (درمختار) قوله لأنه دعائه من وجه اى فلذا خالف الكلام حيث كان مبطلا ولوساهيا (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٤، ط.س. ج٢ ص٩١). ظفير

پنځم ركعت كي يوبل سړى ورسره شريك سو نو دهغه لمونځ صحيح سو اوكه نه؟

**جواب**: كه چيري امام په څلورم ركعت كي دتشهد په اندازه دناستي وروسته سهوا ولاړ سو او دپنځم ركعت سجده يي هم وكړه نو شپږم ركعت دي ورسره يو ځاى كړي او سجده سهوه دي وكړي دده فرض پوره سوه كه چيري يو سړى په پنځم ركعت يا شپږم ركعت كي ددغه امام مقتدى سو نو دمقتدي لمونځ نه كيږي ځكه چي دامام دغه دوه ركعته نفل دي. هكذا في الشامي. (١)

**په جمعه او اخترونو كي سهوه سته او كه نه؟** **سوال**: (٢١١٩) په جمعه اواخترونو كي سهوه سته اوكه نه؟

**جواب**: دمتأخرينو لخوا غوره كړل سوى قول دا دى چي په جمعه او اخترونو كي كله چي ګڼه ګوڼه ډيره وي نو سجده سهوه دي نه كوي. كذا في الدرالمختار والشامي. (٢)

**دسهار په فرضو كي يې په هيره دالتحيات پرځاى الحمد ولوستله چي ور په زړه سوه نو التحيات يي ولوستل لمونځ يي كيږي اوكه نه؟** **سوال**: (٢١٢٠) دسهار په فرضوكي امام دالتحيات پرځاى سهوا الحمد شريف يا بل قرآني ايات ولوستى بيا ور په زړه سوه نو التحيات يي ولوستل او سجده سهوه يي وكړه په دي صورت كي سجده سهوه واجبه ده؟ او لمونځ وسو اوكه نه؟

**جواب**: ددي كبله چي دواجبو ځنډ وسو نو سجده سهوه واجبه ده او دسجده سهوي په كولو سره لمونځ كيږي.

**امام په هيره سره په لومړى قعده كي دواړو لورو ته سلام وګرځوى نو پاته لمونځ كولى سي اوكه نه؟** **سوال**: (٢١٢١) امام په لومړى قعده كي دواړو لورو ته په هيره سره سلام وګرځوى نو اوس پاته لمونځ كولاى سي اوكه نه؟ او ددواړو سلامو په ګرځولو سره لمونځ كيږي اوكه نه؟

**جواب**: سهوا دواړو لورو ته په سلام ګرځولو سره لمونځ نه فاسديږي (١) پاته ركعتونه دي وكړي او په پاى كي دي سجده سهوه وكړي. لمونځ به صحيح سي.

---

(١) لو إقتدى به مفترض في قيام الخامسة بعد القعود قدر التشهد لم يصح ولو عاد إلى القعدة لأنه لما قام إلى الخامسة فقد شرع في النفل فكان إقتداء المفترض بالمتنفل (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠١، ط.س. ج٢ ص٨٨). ظفير

(٢) والسهو في صلوة العيدين والجمعة والمكتوبة والتطوع سواء والمختار عند المتأخرين عدمه في الأوليين لدفع الفتنة (درمختار) وفي جمعة حاشية إلى السعود عن العزمية أنه ليس المراد عدم جوازه بل الأولى تركه لئلا يقع الناس في فتنة (ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص...، ط.س. ج٢ ص٩٢). ظفير

**که په لومړي قعده کي دتشهد څخه وروسته درود وواييي يا سلام وګرځوي نو سجده سهو وربانـدي سته اوکـه نـه؟** **سـوال**: (٢١٢٢) پـه څلـور رکعتـي لمانځـه کـي يـي ددويـم رکعـت دتشهد څخه وروسته څو الفاظ ددرود شريف وويل نو په هغه باندي سجده سهوه سته اوکه نه؟ اوکه دواړو لوروته سلام وګرځوي نو دهغه لپاره څه حکم دی؟

**جواب**: سجده سهوه وربانـدي واجبه ده کـه دواړو لـورو تـه سـلام وګرځـوي نـوهم سجده سهوه وربانـدي لازمـه ده. ([1])

**که سجده پرلازمه سي او دواړو لورو ته دسلام ګرځولو وروسته ورته ياده سي نوڅه وکړي؟**

**سوال**: (٢١٢٣) که په يوه لمانځه کي سجده سهوه واجبه سي او دواړو لـورو تـه دسـلام ګرځولو وروسته ورته ياده سي نو دهغه لپاره څه حکم دی؟

**جواب**: سجده سهوه دي وکړي. ([3])

**که تر دريو رکعتو په کموکي ورڅخه هيره وسي نوبل سورت ورسره يوځای کړي اوکه نه؟**

**سوال**: (٢١٢۴) که چيري لمونځ کوونکي دري ايته نه وه لوستلي چي قراءت ورڅخه هير سو نو بل سورت يي ورسره يو ځای کړی په دي کي څه ستونزه سته؟ کـه يـي ورسـره يـو ځای کړي نو سجده سهوه وکړي اوکه نه؟

**جواب**: سجده سهوه نه واجبيږي. ([4])

**که دسهار په سنتوکي په هيره سره دريم رکعت ته پورته سي نو څه وکړي؟** **سوال**: (٢١٢۵) که يو سړی دسهار په سنتو کي په لومړي رکعت کي سورت فلق او په دويم رکعت کي سورة الناس وواييي او ددويم رکعت څخه وروسته په هيره دريم رکعت ته پورته سي نوڅه وکړي؟

**جواب**: دقيام په مهال چي کله ورپه زړه سي نو کښيدني او دتشهد لوستلو وروسته دي سجده سهوه وکړي. ([5])

---

([1]) إلا السلام ساهيا للتحليل اى للخروج من الصلوة قبل إتمامها على ظن إكمالها فلا يفسد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيها ج١ ص٥٧٥). ظفير

([2]) وتأخير قيام إلى الثالثة بزيادة على التشهد بقدر ركن وقيل بحرف وفي الزيلعي الأصح وجوبه باللهم صل على محمد (ايضا باب سجود السهو ج١ ص٢٩۴، ط.س. ج٢ ص٨١). ظفير

([3]) ولو نسي السهو او سجدة صلوتية او تلاوية يلزمه ذلك مادام في المسجد (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠۴، ط.س. ج٢ ص٩١). ظفير

([4]) يكره أن يفتح من ساعة كما يكره للإمام أن يلجئه إليه بل ينتقل إلى آية أخرى لا يلزم من وصلها ما يفسد الصلوة او إلى سورة اخرى (ردالمحتار باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها ج١ ص٥٨٢، ط.س. ج١ ص٢٢٢). ظ

([5]) سها عن القعود الأول من الفرض عمليا أما النفل فيعود ما لم يقيد بالسجدة ثم تذكره عاد إليه وتشهد ولا =

**يوازي سورت فاتحه يا يوازي سورت يې ولوستې او رکوع يې وکړه ددې څه حکم دی؟ سوال**: (٢١٢٦) که چيرې يوسړی دسهار په لمانځه کې يوازې دسورت فاتحې دلوستلو وروسته رکوع ته ولاړی يا يې الحمد پرېښووله يوازې سورت يې ووايه او رکوع ته ولاړی نو څه حکم لري؟

**جواب**: په دواړو صورتونو کې سجده سهوه واجبه ده. او لمونځ وسو. ([1])

**چې سجده سهوه واجبه سي او ويې نه کړي نو څه حکم لري؟ سوال**: (٢١٢٧) چې سجده لازمه سي او ويې نه کړي نو څه حکم لري؟

**جواب**: که سجده سهوه واجبه سوه او ويې نه کړه نو دلمانځه اعاده واجبه ده. ([2])

**دپاته سوي شي دادا کولو لپاره درکوع څخه قيام ته ستنيدل څنګه دي؟ سوال**: (٢١٢٨) درکوع څخه دقيام لوري ته ستنيدل ددې لپاره چې يو پاته سوی سنت يا واجب ادا کړي عامه خبره ده، چې په واقع کې ددې دواړو څخه يو شی يا پاته سوی وي يا نه وي او دقيام لورته بيرته ستنيدل سهوا يا قصدا په دې ټولو صورتونو کې درکوع څخه دقيام لورته دتللو څه حکم دی؟

**جواب**: په دې ټولو صورتونو کې سجده سهوه واجبه ده دلمانځه اعاده ([3]) لازمه نه ده، او په اصل کې په دې حکم کې داختر او جمعې او نور لمونځونه ټول برابر دي ليکن په اخترونو اوجمعه کې متاخرينو دسجدې پرېښودل اولی بللې دې دخلکو دګڼې ګونې او ازدحام له امله.

**په دريم رکعت کې کښېنستې خو سمدستي ولاړ سو ددې څه حکم دی؟ سوال**: (٢١٢٩) امام په دريم رکعت کې سهوا کښېنستی دمقتدي د: الحمد لله په ويلو سره سمدستي ولاړ سو او په ناسته کې يې دشك له امله دالحمد لله په انتظار کې څه نه وه لوستي وروسته

---

= سهو عليه في الأصح (درمختار) لا سهو عليه في الأصح يعني إذا عاد قبل أن يستتم قائما الخ واما إذا عاد وهو إلى القيام أقرب فعليه سجودالسهو (رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٦٩٢، ط.س. ج٢ ص٨٣). ظفير

([1]) ولها واجبات لا تفسد بتركها وتعاد وجوبا في العمد والسهو الخ وهى الخ قراءة فاتحة الكتاب فيسجد للسهو بترك اكثرها لا اقلها لكن في المجتبى يسجد بترك اية منها وهو أولى الخ وضم أقصر سورة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة ج١ ص٤٢٤، ط.س. ج١ ص٤٥٢). ظفير

([2]) ولها واجبات لا تفسد بتركها وتعاد وجوبا (الدر المختار على هامش ردالمحتار مطلب واجبات الصلوة ج١ ص ٤٢٤، ط.س. ج١ ص٤٥٢). ظفير

([3]) ولو نسيه اى القنوت ثم تذكره في الركوع لا يقنت فيه لفوائت محله ولا يعود إلى القيام في الأصح لأن فيه رفض الفرض للواجب فان عاد إليه وقنت ولم يعد الركوع لم تفسد صلوته الخ وسجد للسهو (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب الوتر والنوافل ج١ ص٦٢٢، ط.س. ج٢ ص٩). ظفير

يې سجده سهوه ونه کړه لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: که چیرې لږ ناسته سوې وي او تر ډېره وخته نه وي کښېنستلی نو سجده سهوه واجبه نه وه او لمونځ یې وسو. ([1])

**داخرې قعدې څخه وروسته په هیره ودریدی نو څه وکړي؟ سوال**: (٢١٣٠) په لمانځه کې داخرې قعدې څخه وروسته لمونځ کوونکی ودریدی او کله چې ورپه زړه سو نو کښېنستی نو اوس هغه دسجده سهوې لپاره دالتحیات لوستلو وروسته یوه لورې ته سلام وګرځوي اوکه التحیات نه لولي؟

**جواب**: دوباره دالتحیات دلوستلو اړتیا نسته ځکه چې قاعده او تشهد مخکې سوي دي په کښېنستو سره دې سلام وګرځوي او سجده سهوه دې وکړي بیا دې دالتحیات او نورو څخه وروسته دختمیدو سلام وګرځوي په شامي کې دي: قوله عاد وسلم الخ وفیه إشارة إلى أنه لایعید التشهد وبه صرح في البحر. ([2])

**دثنا لوستلو وروسته چې یې رکوع وکړه بیا ورپه زړه سوه چې قرائت پاته دی: سوال**: (٢١٣١) [١] زید دنیت تړلو وروسته سبحانك اللّٰهم ولوستله او رکوع یې وکړه دتسبیح لوستلو وروسته ورته یاد سوه چې قرائت یې نه دی لوستلی نو اوس هغه ته څه کول ښایي؟

**رکوع ورڅخه هیره سوه: سوال**: (٢١٣٢) [٢] لمونځ کوونکي دنیت تړلو څخه وروسته قرائت ولوستی خو رکوع یې ونه کړه بلکې سجدې ته ولاړی ددواړو سجدو وروسته ورته یاد سوه چې رکوع مې نه ده کړې نو هغه ته څه کول په کار دي؟

**یوازې یوه سجده یې وکړه: سوال**: (٢١٣٣) [٣] لمونځ کوونکي په لومړي رکعت کې یوازې یوه سجده وکړه په دویم رکعت کې ور په یاد سوه چې ما یوه سجده کړېده اوس هغه ته څه کول ښایي؟

**امام په هیره سره پنځم رکعت ته ولاړ سو نو ایا مقتدي دهغه اتباع وکړي؟ سوال**: (٢١٣٤) [۴] امام څلور واړه رکعتونه وکړل او په اخرې قعده کې یې یواځې التحیات ولوستل او سهوا ودریدی مقتدي ورته فتحه ورنه کړه او نه غواړي چې فتح ورکړي او مقتدیان پوهیږي چې پنځم رکعت دی اوس مقتدیان دپوره التحیات لوستلو څخه وروسته سلام

---

([1]) ویکبر للنهوض على صدور قدمیه بلا إعتماد وقعود الراحة ولو فعل لا بأس به (درمختار) ولا ینافي هذا ما قدمه الشارح في الواجبات حیث ذکر منها ترك قعود قبل ثانیة ورابعة لأن ذلك محمول على القعود الطویل ولذا قیدت الجلسة هنا خفیفة (رد المحتار فصل في بیان تألیف الصلوة، ط.س. ج١ ص۴٩٧). ظفیر

([2]) رد المحتار باب سجود السهو ج١ ص٧٠٠. ظفیر

وګرځوي اوکه دامام اتباع وکړي؟
زيد په دوو رکعتونو کي راغلی او دامام سره يوځای سو امام داخري قعدي وروسته سهوا ودريدی او مقتدي فتحه ورکړه، ليکن امام فتحه وانه خيسته اوس زيد ته دامام تقليد او اقتداءکول په کاردي اوکه نه؟

**فتح ورکول**: **سوال**: (**٢١٣٥**) [**٥**] امام په دري اياتونو کي دننه متشابه سو اوس مقتديان ورته فتحه ورکړي که نه؟

**ددري اياتونو دلوستلو وروسته فتح**: **سوال**: (٢١٣٦) [٢] امام دالحمد څخه وروسته دري اياتونه صحيح ولوستل دهغو وروسته په نورو اياتونوکي ورته متشابه پيدا سوه اوس مقتديان فتح ورکړي اوکه نه؟

**ټول رکعتونه يي ډک وکړل ددي څه حکم دی؟** **سوال**: (٢١٣٧) [٧] امام دريم رکعته يا څلور رکعته ډك وکړل اوس هغه ته سجده سهوه کول ښايي اوکه نه؟

**په نفلو اوسنتو کي قرائت**: **سوال**: (**٢١٣٨**) [٨] دټولو نوافلو، سنتو او فرضو په لومړنيو دوو رکعتونوکي سورت فاتحه لوستل واجب دي، ايا په اخري دوو رکعتونوکي هم واجب دي اوکه نه؟ که چا په اخري دوو رکعتوکي فاتحه ونه لوستله نو لمونځ به يي صحيح وي اوکه نه؟

**جواب**: [١] لوستل په کار دي او په پای کي دي سجده سهوه وکړي. (المتروك ثلاثة أنواع فرض وسنة وواجب ففي الأول إن أمكنه التدارك بالقضاء يقضي (إلى قوله) ولا يجب السجود إلا بترك واجب او تأخيره او تأخير ركن الخ (عالمګيري کشوري ج١ ص١٢٤. ظفير)

[٢] دسجدي څخه دی ولاړ سي او رکوع دي وکړي او په پای کي دي سجده سهوه وکړي: ولا يجب السجود إلا بترك واجب او تأخير ركن اوتقديمه أوتكراره (عالمګيري کشوري ج١ ص١٢٤. ظفير)

[٣] هغه سجده دي اوس وکړي او درکعت کولو څخه وروسته دي په پای کي سجده سهوه وکړي. [1]

[۴] په دواړه کولوکي اختيار لري ليکن کم سړی چي داول څخه شريك نه دی يعني مسبوق دی هغه که يي اتباع وکړي نو فرض به يي باطل سي. [2]

---

[1] فلو ترك سجدة من ركعة فتذكرها في اخر الصلوة سجدها وسجد للسهو لترك الترتيب فيه وليس عليه إعادة ما قبلها. (عالمګيري کشوري ج١ ص١١٥). ظفير

[2] ومن جملتها أنه لو قام إمامه إلى الخامسة فتابعه فإن كان الإمام قعد على الرابعة فسدت صلوة المسبوق =

[۵] نه! (لو قام إمامه إلى الخامسة فتابعه فان كان الإمام قعد على الرابعة فسدت صلوة المسبوق الخ (غنية المستملي ص۴۴۱. ظفير)

[۶] ورته اختيار دى ليكن كه چيري امام دبل ځاى څخه قرائت شروع نه كړي نو بيا دمقتديانو لپاره اړينه ده چي فتح وركړي. (۱)

[۷] ورته اختيار دى ليكن كه داسي غلط لوستل وكړي چي دلمانځه فساد پيښوي نو ضروري ده چي صحيح وروښيي، كه نه وي دېولو لمونځ به فاسد سي. (۲) (ألا يرى إلي أنه عليه السلام قال لأبى هلاّ فَتَحْتَ عَلَيَّ، غنية المستملي ص۴۱۷، ظفير)

[۸] نه! (و لو قرأ في الأخريين الفاتحة والسورة لا يلزمه السهو وهو الأصح عالمگيري كشوري ج۱ ص۱۲۵، ظفير)

[۹] صحيح دى. (ويجب قراءة الفاتحة وضم السورة أو ما يقوم مقامها من ثلاث ايات قصار او اية طويلة في الأوليين وفي جميع ركعات النفل والوتر هكذا في البحر الرائق (عالمگيري كشوري ج۱ ص۷۹، ظفير)

**په اخري قعده كي ورته شک پيدا سو چي لومړى قعده مي نه ده كړې نوڅه وكړي؟** **سوال:** (۲۱۳۹) دلمانځه په اخري قعده كي ورته شبهه پيدا سوه چي لومړى قعده مي كړېده اوكه نه؟ نو سجده سهوه وكړي اوكه نه؟

**جواب:** ودي كړي. فقط والله تعالى أعلم.

**سجده سهو دي دسلام څخه وروسته وكړي:** **سوال:** (۲۱۴۰) سجده سهوه دسلام څخه مخكي كول ښايي اوكه وروسته او په امام اومنفرد كي څه توپير دى؟

**جواب:** غوره او راجح صورت دادى چي يوازي رسته لورته دسلام ګرځولو وروسته سجده سهوه وكړي، اوپه دي كي دامام او منفرد په مينځ كي هيڅ توپير نه ځرګنديږي: في الدر المختار يجب له بعد سلام واحد عن يمينه (إلى أن قال) لأنه المعهود وبه يحصل التحلل وهو الأصح (۳) الخ. فقط

**دلومړي تشهد دپرېښوولو حكم:** **سوال:** (۲۱۴۱) دلومړي تشهد په پاته كيدلو سره لمونځ كيږي اوكه نه؟ كه يي سجده سهوه په هيره سره نه وي كړې؟

**جواب:** دلمانځه اعاده واجبه ده. (۴) فقط

---

= لإقتدائه في موضع الأنفراد (غنية المستملي ص۴۴۱). ظفير

(۱) والفتح إن لم يقرأ قدر الواجب لشدة تاكد الواجب وقربه من الفرائض (غنية المستملي ص۴۱۸). ظفير

(۲) وينبغي للمقتدي أن لا يعجل بالفتح وللإمام أن لا يلجئهم إليه بل يركع (غنية المستملي ص۴۱۷). ظفير

(۳) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود السهو ج۱ ص۱۰۱، ط.س. ج۲ ص۷۸. ظفير =

**دسورت شاته او مخته لوستلو حکم**: **سوال**: (٢١۴٢) [١] په لمانځه کي دسورت شاته او مخته لوستلو له امله سجده سهوه لازمېږي اوکه نه؟

**که شک ورته پیدا وي نوڅه وکړي؟** **سوال**: (٢١۴٣) [٢] امام ته شبهه پیدا سوه چي ما یوه سجده کړي اوکه دوې؟ په دي صورت کي سجده سهوه وکړي اوکه بیا لمونځ راوګرځوي؟

**دضرورت څخه بغیر سجده سهو**: **سوال**: (٢١۴۴) [٣] دضرورت پرته دسجده سهوي ترکولو وروسته لمونځ راوګرځوي اوکه نه؟

**جواب**: [١] سجده لازمه نه ده، خو قصدا داسي کول مکروه دي، ويكره الفصل بسورة قصيرة وأن يقرأ منكوسا (درمختار). ([١])

[٢] که چیري غالب ګمان یوه لوري ته هم نه وي نو یوه سجده دي بله وکړي اوسجده سهو دي وکړي: وجب عليه سجود السهو في جميع صور الشك سواء عمل بالتحري او بنى على الأقل لكن في السراج أنه يسجد للسهو في أخذ الأقل مطلقا وفي غلبة الظن إن تفكر قدر ركن الخ درمختار. ([٢])

**دسورتونو له ترتیب څخه خلاف قرائت ویل**: **سوال**: (٢١۴٥) دسورنو دترتیب څخه خلاف په قرائت لوستلو سره سجده سهوه لازمېږي اوکه نه؟

**جواب**: سجده سهوه واجبه نه ده، قوله بترك واجب ای من واجبات الصلوة لا كل واجب إذ لو ترك ترتيب السور لا يلزمه شئ الخ شامي. ([٣]) فقط

**په لمانځه کي دبې ترتیله قرائت حکم**: **سوال**: (٢١۴٦) یوه سړي په جهري لمانځه کي قرائت بې ترتیله ولوستی دهغه لمونځ کیږي اوکه نه؟ سجده سهوه یې هم ونه کړه؟

**جواب**: که داسي غلطي نه وي سوي چي لمونځ فاسدوي نو لمونځ یې وسو او دسجده سهوي اړتیا نسته. ([۴]) فقط

**امام په سبحان الله ویلوسره پوهول؟** **سوال**: (٢١۴٧) [١] که چیري دامام څخه سهوا اخیري قعده پاته سوه او امام قیام ته نژدي ورسیدی نو مقتدي لره د (سبحان الله) په ویلو سره

---

([۴]) ومنها قراءة التشهد فإنها واجبة في القعدتين الأولى والأخيرة وإلى هذا أشار صاحب الهداية في باب سجود السهو فاوجب السجود بترك التشهد في القعدة الأولى (غنية المستملي ص٢٩٠). ظفير

([١]) الدر المختار فصل ويجهر الإمام ج١ ص۴٨١، ط.س. ج١ ص۵۴٦. ظفير

([٢]) الدر المختار فصل ويجهر الأمام ج١ ص٧٠٣، ط.س. ج٢ ص٨٠. ظفير

([٣]) ردالمحتار ابتداء باب سجود السهو. ظفير

([۴]) ومنها القراءة بالألحان إن غير المعنى وإلا لا، إلا في حرف مد ولين إذا فحش وإلا لا، (الدر المختار ج١ ص٩٠). ظفير

دريدل غوره دي اوكه په ناسته (سبحان الله) ووايي غوره څنګه دي؟

**اخري قعده ورڅخه هيره سوه ولاړ سو بيا ورته ياد سوه نوڅه وكړي؟ سوال**: (٢١٤٨) [٢] كه چيرى دچا څخه اخيري قعده هيره سوه او پاڅيدى نو دغه سړى سمدستي دياديدلو سره قعده وكړي اوكه دالحمد په اندازه قيام وكړي؟

**جواب**: [١] دناستي په حالت كي ويل غوره معلوميږي څه جزئيه مي ترنظر تيره نه سوه او صحيح په دواړه ډوله دى.

[٢] په سمدستي ياديدلو سره قعده كول ښايي يعني ترڅو پوري چي يى سجده نه وي كړي كما هو عامة المعتبرات ولو سها عن القعود الأخير الخ عاد إلخ ما لم يقيد بالسجدة (١) الخ. فقط

**په لمانځه كي بيده كيدل**: **سوال**: (٢١٤٩) په لمانځه كي يو سړى په داسي ډول بيده سو چي لمونځ نه ورسره فاسديږي او په دي وخت كي دفرضو په ادا كولو كي ددريو تسبيحاتو په اندازه ځنډ راغى نو سجده سهوه به لازمه سي اوكه نه؟

**جواب**: قال في الدرالمختار فان اتى بها او بأحدها بأن قام او ركع او سجد اوقعد الأخير نائما يعتد بما اتى به بل يعيده (٢) وهل يسجد لتأخير الركن الظاهر نعم. دشامي دپورتنى عبارت څخه معلومه سوه چي دسهوي سجده لازميدل په كار دي. (٣) فقط

## الباب الثاني عشر في سجود التلاوة

## دوولسم باب دسجده تلاوت په بيان

### د تلاوت سجده كله اوپه كم ځاى كي واجبيږي

**كه چيري دسجدي دايت دلوستلو وروسته دهغه معنى هم ووايي نو څو سجدي وكړي؟ سوال**: (٢١٥٠) يوه سړي دسجدي دايت لوستلو وروسته دهغه معنى هم وويله نو دا سړى يوه سجده وكړي اوكه دوې؟

**جواب**: يوه سجده وربانديي لازمه ده. (٤)

**دتلاوت په سجده كي دځنډولو اختيار سته اوكه نه؟ سوال**: (٢١٥١) يوه واعظ دتقرير په مهال دسجدي ايت په لوړ اواز ولوستى ليكن نه يي په خپله سجده وكړه اونه يي

(١) الدر المختار باب سجود السهو ج١ ص١٠٢، ط.س. ج٢ ص٨٥. ظفير

(٢) الدر المختار باب صفة الصلوة ج١ ص٧١، ط.س. ج١ ص٤٥٥. ظفير

(٣) رد المحتار باب صفة الصلوة قبيل مطلب واجبات الصلوة ط.س. ج١ ص٤٥٥. ظفير

(٤) يجب بسبب تلاوة آية اى اكثرها مع حرف السجدة (درمختار) قوله بسبب تلاوتها إحترز عما لو كتبها او تهجاها فلا سجود عليه (رد المحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٥، ط.س. ج٢ ص١٠٣). ظفير

اوريدونکو ته دسجدي کولو وويل چي کله اعتراض ورباندي وسو نو عذري ووايه چي په عامه مجمع کي دسجدي ايت په زوره ويل بد کارنه دى او دانسان سره خطا او هيره لازمه ده ځکه چي آدم على نبينا وعليه السلام په هيره سره غنم خولى وه او همدغه ډول دحضرت موسى على نبينا وعليه الصلوة والسلام څخه ماهى (کب) هير سوى وو آيا دعذر په مقام کي واعظ ته دپيغمبرانو خطا او نسيان دشهادت په توګه وړاندي کول صحيح دي اوکه نه؟ اوايا دهغه عذر شرعا معقول دي؟

**جواب**: په شامي کي دي: قوله يجب اى وجوبا موسّعًا في غير صلوة [۱] الخ ددي څخه معلومه سوه چي دتلاوت دسجدي وجوب په پراخي سره دى سمدستي واجبه نه ده نو پرواعظ باندي اعتراض کول بي ځايه وو اوکله چي اعتراض وکول سو نو نوموړي واعظ هم عذر ويلاى سواى چي سجده بالفور واجبه نه ده په تېره بيا دوعظ په مجلس کي، او دانبياء عليهم الصلوة والسلام خطا او نسيان په استشهاد کي وړاندي کول هم څه ممنوعيت او ستونزه نه لري اوپه حديث شريف کي هم همدغه ډول مضمون وارد سوى دى: فنسى آدم الخ فنسيت ذريته [۲] او کما قال عليه الصلوة والسلام. فقط

**په رکوع يا دلمانځه په سجده کي په نيت کولو سره سجده ادا کيږي اوکه نه؟ سوال**:

(**۲۱٥۲**) که چيري امام يا منفرد په فرض، تهجد، تراويحو او يا بل لمانځه کي دسورت اعراف يا سورت نجم يا سورت علق يا بل يوه داسي رکوع چي پکښي دسجدي ايات وو ولوستله او په ځاى دسجده تلاوت يي په رکوع کي دتلاوت دسجدي نيت وکړى نو دامام او مقتديانو سجده تلاوت به ادا سي اوکه نه؟ اوهمدا ډول دسجدي دايات څخه وروسته امام څلور اياتونه ولوستل او رکوع يي وکړه او دتلاوت دسجدي نيت يي هم وکړى نو داهم صحيح دي اوکه نه؟ سورت بني اسرائيل دسجدي څخه وروسته په نورو دوو اياتونو، او سورت انشقاق دسجدي څخه وروسته په نوور څلورو اياتو باندي ختميږي نو دذکر سوو سورتونو دختميدو څخه وروسته په رکوع کي دسجدي په نيت کولو سره به سجده ادا سي اوکه نه؟

**جواب**: که يي چيري دسجدي دايت دلوستلو څخه وروسته سمدستي او يا ددوو درو اياتو دلوستلو وروسته رکوع وکړه اوپه هغي کي يي دتلاوت دسجدي نيت وکړى نو دتلاوت سجده به ادا سي، ([۳]) او مقتديانو لره هم نيت کول ضروري دي دنيت کولو پرته

---

([۱]) رد المحتار باب سجود التلاوة ج۱ ص۷۱٥، ط.س. ج۲ ص۱۰۳. ظفير

([۲]) مشکوة باب الإيمان باب القدر فصل ثانى ص۲۳. ظفير

([۳]) تؤدى بركوع صلوة إذا كان الركوع على الفور من قراءة آية او آيتين وكذا الثلاث على الظاهر كما في البحر =

دهغوی دذمي څخه دتلاوت سجده نه ساقطيږي ([1]) او ددرو زياتو اياتونو په لوستلو سره فوريت له منځه ځي. ([2]) فقط

**دسورت حج اخري سجده او دهغې حکم**: **سوال**: (۲۱۵۳) دسورت حج اخري سجده عند الشافعي واجبه ده داقتداء په مهال حنفي المذهب هم دشافعي المذهب په اتباع کي دا سجده ادا کړي اوکه نه؟ اوکله چي امام حنفي وي او مقتديان شافعيان وي نو دمقتديانو داسجده به څنګه ادا کيږي؟

**جواب**: په شامي کي دي چي دشافعي المذهب امام دمتابعت په وجه دي حنفي المذهب هم دسورت حج اخري سجده وکړي: وظاهره أنه يتبعه فيها لو كان في الصلوة الخ شامي ([3]) او کله چي امام حنفي وي نو دا سجده دي نه کوي او دمقتدي دذمي څخه هم داحنافو دمذهب مطابق داسجده ساقطه ده، ليکن که چيري دشوافعو په وړاندي دلمانځه سجده ترلمانځه وروسته هم جائزه وي نو هغوی يي کولای سي دحنفيانو په وړاندي چي کمه سجده په لمانځه کي واجبه سي او هغه په لمانځه کي ادا نه کړل سي نو بيا هغة نه ادا کيږي. ([4]) فقط

**که په لمانځه کي ورځخه دتلاوت سجده هيره سي**: **سوال**: (۲۱۵۴) که چيري په لمانځه کي ورڅخه دتلاوت سجده هيره سي او په بل رکعت کي ورته ياده سي نو څنګه به يي ادا کوي؟

**جواب**: که چيري دتلاوت سجده په هغه رکعت کي ورڅخه هيره سي په کم کي چي ايت لوستلی وو نو په دويم، دريم رکعت کي چي کله ورته ياده سي ودي کړي ([5]) او بيا دي

---

= إن نواه اى كون الركوع لسجود التلاوة على الراجح (درمختار) وفي الإمداد الإحتياط قول شيخ الإسلام خواهر زاده بإنقطاع الفور بالثلاث وقال شمس الأئمة الحلواني لا ينقطع ما لم يقرأ اكثر من ثلاث وقال الكمال ابن الهمام قول الحلواني هو الرواية الخ (رد المحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢٣، ط.س. ج٢ ص١١١). ظ

([1]) ولو نواها في ركوعه ولم ينوها المؤتم لم تجزه (درمختار) اى لم تجز نية الأمام المؤتم ولا تندرج في سجوده وإن نواها المؤتم فيه لأنه لما نواها الإمام في ركوعه تعين لها وفي القهستاني واختلفوا في أن نية الإمام كافية كما في الكافي فلو لم ينو المقتدي لا ينوب على رأي فيسجد بعد سلام الإمام ويعيد القعدة الأخرى كما في المنية (ايضا ج١ ص٧٢٤). ظفير

([2]) لا ينقطع ما لم يقرأ أكثر من ثلاث (ردالمحتار باب سجود التلاوة ، ط.س. ج٢ ص١١١ – ١١٢). ظفير

([3]) ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٧ ، ط.س. ج٢ ص١١١. ظفير

([4]) وهى على التراخى الخ إن لم تكن صلوتية فان كانت صلوتية فعلى الفور لصيرورتها جزء منها ويأثم بتأخيرها ويقضيها مادام في حرمة الصلوة ولو بعد السلام (درمختار) اى ناسيا مادام في المسجد وروى أنه لايسجد بعد السلام ناسيا (رد المحتار باب ايضا ج١ ص٧٢١، ط.س. ج٢ ص١٠٩). ظفير

([5]) المصلي إذا نسى سجدة التلاوة في موضعها ثم ذكرها في الركوع او السجود او في القعود فانه يخير لها =

سجده سهوه وکړي. فقط

**په لمانځه کې يې دتلاوت دسجدې ايات ولوستي نوڅه کول ښايي**: **سوال**: (۲۱۵۵) که چيري په لمانځه کې څا دسجدې ايت ولوستی نو سجده څه وخت کول په کار دي؟

**جواب**: غوره داده چې هغه وخت سجده وکړي چې دسجدي ايات ووايي او فقهاؤ ليکلي دي چې که چيري وروسته ورته ياده سوه او ويې کړه نو سجده سهوه وربانددي لازمه ده. (۱) فقط

**دتلاوت دسجدې ځنډول**: **سوال**: (۲۱۵۶) دتلاوت دسجدي ځنډول روادي اوکه نه؟

**جواب**: قال في الدرالمختار: وهي على التراخي على المختار (۲) وفي الشامي قوله يجب اى وجوبا موسعا في غير صلوة الخ شامي (۳) فثبت أن الصحيح في سجدة التلاوة هوالوجوب على التراخي وإن كان الأفضل هو الأداء على الفور كذا في الدر المختار ويكره تأخيرها تنزيها الخ (۴). فقط (نو معلومه سوه چې دتلاوت دسجدي ځنډول دلمانځه څخه دباندي روا دي، ظفير)

**دسهار دلمانځه څخه وروسته ترلمر ختلو مخکي اودزوال په وخت کې اودمازديګر ترلمانځه وروسته دتلاوت سجده جائز ده اوکه نه؟** **سوال**: (۲۱۵۷) دسهار دلمانځه څخه وروسته تر لمر ختلو مخکې او دزوال په مهال او دمازديګر ترلمانځه وروسته ترلمر لويدو مخکې دتلاوت سجده جائز ده اوکه نه؟

**جواب**: جائز ده، کما في الدرالمختار: لايکره قضاء فائتة ولو وترا او سجدة تلاوة وصلوة جنازة (۵) الخ.

**دټيپ راديو اومرغه څخه دسجدې دايت په اوريدلو سره سجده واجبه نه ده**: **سوال**: (۲۱۵۸) دټيپ، راديو يا مرغه څخه که چيري دسجدي ايات واوريدل سي نو دتلاوت سجده به واجبه سي اوکه نه؟

---

= ساجدا ثم يعود إلى ماكان فيه ويعيده إستحسانا وإن لم يعد جازت صلوته كذا في الظهيرية في فصل السهو (عالمگيري کشوري كتاب الصلوة باب ثالث عشر في سجدة التلاوة ج۱ ص۱۳۲، ط.س. ج۱ ص۱۳۴). ظفير

(۱) ولو تلا في الصلوة سجدها فيها لا خارجها الخ (درمختار) أما لو سهوا وتذكرها ولو بعد السلام قبل أن يفعل منافيا يأتي بها ويسجد للسهو (ردالمحتار باب سجود التلاوة ج۱ ص۷۲۳) واذا كان المختار وجوب سجود السهو لو تذكرها بعد محلها (ايضا ج۱ ص۷۲۲، ط.س. ج۲ ص۱۱۰). ظفير

(۲) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة ج۱ ص۷۲۱، ط.س. ج۲ ص۱۰۹. ظفير

(۳) ردالمحتار باب سجود التلاوة ج۱ ص۷۱۵، ط.س. ج۲ ص۱۰۳. ظفير

(۴) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة ج۱ ص۷۲۱، ط.س. ج۲ ص۱۰۹. ظفير

(۵) الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصلاة قبيل باب الاذان ج۱ ص۳۴۸، ط.س. ج۱ ص۳۴۵. ظفير

**جواب**: په درمختاركي دي چي دمارغه او صدى (را تنبيدونكي رغ آزانگې) څخه دسجدي دايت په اوريدلو سره سجده نه واجبيږي او صدى درغ حكايت يعني نقل دى چي دغره يا دبل شي څخه درغ دجواب په ډول اوريدل كيږي نو په دي ډول دټيپ او راديو څخه په اوريدلو سره هم سجده نه واجبيږي. (١) فقط

**كه يي دتلاوت دنيت څخه پرته هم دسجدي ايت ولوستى نو سجده سهوه به واجبه سي**:

**سوال**: (٢١٥٩) كه چيري دتلاوت دنيت څخه پرته دسجدي ايت ولوستل سي نوسجده واجبيږي اوكه نه؟

**جواب**: سجده به په دي صورت كي واجبه سي. (٢) فقط

**په زړه كي دسجدي دايت په لوستلو سره سجده نه واجبيږي**: **سوال**: (٢١٦٠) كه چيري څوك دسجدي ايت ته گوري اوپه زړه زړه كي وايي نو سجدهورباندي واجبه ده اوكه نه؟

**جواب**: تلاوت كول ضروري دي دتلاوت پرته سجده نه واجبيږي قال في الدرالمختار بسبب تلاوة الخ. (٣) فقط

**كه چيري په عامه مجمع كي دواعظ څخه دسجدي ايت واوريدل سي نو ټول دي ځان ځانته سجده وكړي**: **سوال**: (٢١٦١) يوه واعظ دسوونو خلگو په غونډه كي دسجدي ايت ولوستى ايا دتلاوت سجده پرټولو باندي ضروري ده كه چيري وي نو ايا واعظ ټولو ته په جمع سجده وركولاى سي؟

**جواب**: دسجدي دايت په اوريدلو او لوستلو سره دتلاوت سجده واجبيږي څكه نو پرلوستونكي باندي او پر اوريدونكو باندي سجده لازمه سوه ځان ځانته دي ټول سجده وكړي. (٤)

**دسجدي دايت ترلوستلو وروسته يي سجده وكړه مخكي ورته ياد نه وه نوڅه وكړي؟** **سوال**: (٢١٦٢) زيد حافظ دى هغه لمونځ وكړى او دسجدي ايت په تلاوت كي راغى سمدستي يي دتلاوت سجده وكړه او دسجدي وروسته بيا ودريدى خو هغه ته مخ ته قرآن كريم

---

(١) لا تجب بسماعه من الصدى والطير (درمختار) الصدى هو ما يجيب لك مثل صوتك في الجبال والصحاري ونحوهما (رد المحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢١، ط.س. ج٢ ص١٠٨). ظفير

(٢) يجب بسبب تلاوة اية اى أكثرها مع حرف السجدة (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٥، ط.س. ج٢ ص١٠٣). ظفير

(٣) قوله بسبب تلاوة احترز عما لو كتبها او تهجاها فلا سجود عليه (ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٥، ط.س. ج٢ ص١٠٣). ظفير

(٤) وذكر في المجتبى أن الموجب للسجدة أحد ثلاثة: التلاوة والسماع والإئتمام (ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٧، ط.س. ج٢ ص١٠٤). ظفير

وریاد نه سو هغه دتلاوت دسجدي کولو په مهال رکوع هم ونه کړه، دناپوهۍ یا هیري له امله ایا زید دتلاوت دسجدي څخه دراپاڅیدلو وروسته رکوع وکړي اوکه څه وکړي؟

**جواب**: په داسي حالت کي چي په لمانځه کي یي دسجدي ایت ولوستی اومخ ته نور لوستل نه کوي نو په رکوع کي هم دسجدي په نیت کولو سره دتلاوت سجده ادا کیږي او که چیري هغه دتلاوت سجده وکړه نو غوره داده چي ولاړ سي او دیوڅو ایاتونو دلوستلو وروسته بیا رکوع وکړي اوکه ولاړ سي او ودریږي او سمدستي رکوع ته ولاړ سی نوبه دي کي هم څه ستونزه نسته، لمونځ یي صحیح دی. ([1]) فقط

**که دټول قرآن کریم دتلاوت سجدي دتلاوت په پای کي په یوه ځای وکړي نوڅه حکم لري؟**

**سوال**: (٢١٢٣) دقرآن کریم ټولي دتلاوت سجدي دقرآن کریم دختمولو وروسته په یوځل جائز دي اوکه نه؟

**جواب**: دا هم جایز دي او غوره دادي چي همغه وخت یي وکړي. ([2]) فقط (خو دځنډوالي او رواوالی په هغه وخت کي دی چي په لمانځه کي نه وي، په لمانځه کي به یي سمدستي ادا کوي، ظفیر)

**دتلاوت سجده واجبه ده**: **سوال**: (٢١٢٤) په قرآن کریم کي چي دتلاوت کمي سجدي دي هغه واجبي دي اوکه فرض؟

**جواب**: دتلاوت سجدي واجبي دي. ([3])

**که په ناسته دسجدي ایت ووایي نو سجده په ناسته کولای سی اوکه نه؟** **سوال**: (٢١٢٥) [١] که چیري دتلاوت سجده په ناسته ووایي نو سجده په ناسته وکړي اوکه ودریږي؟

**دسهار او مازدیګر څخه وروسته سجده**: **سوال**: (٢١٢٦) [٢] دسهار او مازدیګر دلمانځه څخه وروسته ایا یوازي سجده کول هم حرام دي؟

**بې اودسه دتلاوت سجده هم صحیح نه ده**: **سوال**: (٢١٢٧) [٣] که یوه سړي بې اودسه دسجدي ایت ولوستی نو سجده وکړي اوکه نه؟

---

([1]) وتؤدى بركوع وسجود غير ركوع الصلوة وسجودها في الصلوة وكذا خارجها ينوب عنها الركوع (درمختار قال في الحلية والأصل في أدائها السجود وهو أفضل ولو ركع بها على الفور جاز وإلا لا آه اى وإن فات الفور لا يصح الخ وفي الحلية إذا سجد او ركع لها عليحدة فورا يعود إلى القيام ويستحب أن لا يعقبه بالركوع بل يقرأ ايتين او ثلاث فصاعدا ثم يركع (ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢٣، ط.س. ج٢ ص١١). ظفير

([2]) وهى على التراخي على المختار، ويكره تأخيرها تنزيها الخ إن لم تكن صلوية (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢١، ط.س. ج٢ ص١٠٩). ظفير الدين غفرله

([3]) والسجدة واجبة في هذه المواضع على التالي والسامع الخ (عالمگيري مصري الباب الثالث عشر سجود التلاوة ج١ ص١٢٤، ط.س. ط. ماجدية ج١ ص١٣٢). ظفير

**جواب**: [١] دفقهي په کتابونو کي يي ليکلي دي چي مستحب دادي چي ودريږي او سجده وکړي او دسجدي کولو وروسته دي بيا ودريږي (په کم حالت کي چي يي قرائت کړی وي. ظفير) ليکن که چيري په ناسته دتلاوت سجده وکړي هم څه ستونزه نسته. (١)
[٢] دتلاوت اونوري سجدي صحيح دي نفل لمونځ کول په دغه وخت کي مکروه دي. (٢)
[٣] وروسته دي اودس وکړي او سجده دي وکړي. (٣) فقط (ځکه چي دتلاوت سجده واجبه ده او داوداسه پرته دتلاوت دسجدي اجازت نسته. ظفير)

**په دوباره ايت لوستلو سره به دتلاوت سجده دوباره واجبه سي: سوال**: (٢١٦٨) يوه سړي په لمانځه کي سورت سجده ولوستله او سجده يي ادا کړه بيا په څه وجه سره دلمانځه دبيا کولو اړتيا پيښه سوه بيا يي همدغه سورت ولوستی نو دوباره سجده کول په کار دي اوکه مخکني بسنه کوي؟

**جواب**: بيا سجده کول ښايي. (٤) فقط

**که دسجدي دايت څه برخه ووايي او څه ونه وايي نوڅه حکم دي؟ سوال**: (٢١٦٩) دسجدي دايت وروستني الفاظ يي ونه لوستل سجده سهوه ورباندي واجبه سوه اوکه نه؟

**جواب**: که چيري هغه کلمي يي لوستلي وي په کوموکي چي دسجدي لفظ دی نو دتلاوت سجده وربانديي واجبه سوه. (٥) فقط

**دتلاوت هغه سجدي چي ادا کړي يي نه دي دهغو دادا کولو څنګه طريقه ده؟ سوال**: (٢١٧٠) يو حافظ درمضان شريف څخه پرته يو ځای هم دتلاوت سجده نه کوي اوس هغه دا سجدي ادا کول غواړي ليکن دکفاري وس يي نه لري، څه کول پکار دي؟

**جواب**: اندازه دي ولګوي او دتلاوت سجدي دي پوره کړي روزانه چي څومره کيدای سي

---

(١) والمستحب أنه إذا أراد أن يسجد للتلاوة يقوم ثم يسجد وإذا رفع رأسه من السجود يقوم ثم يقعد كذا في الظهرية (عالمگيري مصري باب سجود التلاوة ج١ ص١٢٧، ط. ماجدية ج١ ص١٣٥). ظفير
(٢) ويكره أن يتنفل بعد الفجر حتى تطلع الشمس وبعد العصر حتى تغرب الخ و لابأس بأن يصلي في هذين الوقتين الفوائت ويسجد للتلاوة ويصلي على الجنازة (هدايه باب المواقيت ج١ ص٨١). ظفير
(٣) و شرائط هذا السجدة شرائط الصلوة إلا التحريمة (عالمگيري مصري باب سجود التلاوة ج١ ص١٢٢، ط. ماجدية ج١ ص١٣٥). ظفير
(٤) وشرط التداخل إتحاد الآية واتحاد المجلس حتى لو إختلف المجلس واتحدت الآية او إتحد المجلس واختلفت الآية لا تتداخل كذا في المحيط (ايضا ج١ ص١٢٥، ط. ماجدية ج١ ص١٣٧). ظفير
(٥) يجب بسبب تلاوة آية اى اكثرها مع حرف السجدة (درمختار) هذا خلاف الصحيح الذي جزم به في نور الإيضاح ففي السراج وهل تجب السجدة بشرط قراءة جميع الآية أم بعضها فيه إختلاف والصحيح أنه إذا قرأ حرف السجدة وقبله كلمة او بعده كلمة وجب السجود وإلا فلا الخ (ردالمحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧١٥، ط.س. ج٢ ص١٠٣). ظفير

دقضا په نیت دي سجدي کوي، دهغو کفاره همدا ده چي سجدي دي وکړي. ([1]) فقط

**دتلاوت دسجدي اطلاع**: **سوال**: (٢١٧١) امام مخکي دا وويل چي زه به په فلاني رکعت کي دتلاوت سجده کوم خبردار اوسئ دا جواز لري اوکه نه؟

**جواب**: څه ستونزه نسته پکښي. فقط

**دتلاوت سجده فرض ده اوکه واجب اوددادا کولو طريقه يي څنګه ده؟** **سوال**: (٢١٧٢) [١] دتلاوت سجده فرض ده او که واجبه او څه ډول يي ادا کړي يعني په سجده کي او دسجدي مخکي يا وروسته څه لوستل په کار دي؟ اوکله چي دقرآن کريم په تلاوت اخته وي او دسجدي ايت ووايي نو هغه وخت په ناسته سجده وکړي که ودريږي؟

**سوال**: (٢١٧٣) [٢] بل دا چي که چيري يو ځل دسجدي ايت په عربي ژبه کي ووايي او وروسته يي په ژباړه باندي تکرار کړي يايي همدا ډول چاته وښيي يا يي په خپله يادوي چي له دي امله دسجدي ايت ډير ځله وويل سي په دي ټولو صورتونوکي به دتلاوت سجده يوځل وي اوکه بيله بيله؟

**سوال**: (٢١٧۴) [٣] بل داچي په کومو وختونوکي چي هر ډول لمونځونه مکروهه وي دتلاوت سجده کول جائز دي اوکه نه؟ مثلا دسهار دفرضو وروسته تر لمر ختلو پوري، يا دغرمي په مهال، يا دمازديګر ترلمانځه وروسته، همدغه ډول دصبح صادق په مهال، دسهار ترسنتو مخکي يا دسنتو او فرضو په مينځ کي؟

**سوال**: (٢١٧۵) [۴] بل دا چي که چيري نابالغ ماشوم ته څوك سبق ښيي نو دماشوم دلوري په خپله سجده وکړي اوکه هغه ته معاف ده؟

**سوال**: (٢١٧٦) [۵] اوکه چيري دتلاوت په مهال دسجدي ايت څوك ديو لوستونکي څخه واوري نوکه چيري هغه وربندي په خپله پوه سو اوادا يي کړه فبها، کنې دهغه سجده نه ادا کول پرلوستونکي باندي دګناه باعث ګرځي؟ اوکه به يي داوريدونکي له لوري هم لوستونکی ادا کوي؟

**جواب**: دتلاوت سجده واجبه ده، طريقه يي داده چي دالله اکبر په ويلو سره دي سجدي ته ولاړ سي، دري ځلي يا ډير په رعايت سره دي سبحان ربي الأعلی ووايي، بيا دي دالله اکبر په ويلوسره ولاړ سي، سجده يي ادا سوه که چيري په ناسته سجدي ته ولاړی او ترسجدي وروسته بيا کښينستی نو په دي کي هم څه ستونزه نسته، ليکن غوره داده چي

---

([1]) وهی علی التراخي علی المختار ويکره تأخيرها تنزيها الخ إن لم يکن صلوتية (درمختار) حتی لو أداها بعد مدة کان مؤديا إتفاقا لا قاضيا الخ لو تراخی کان أداء مع أن المرجح أنه علی الفور ويأثم بتأخيره (رد المحتار باب سجود التلاوة ج١ ص٧٢١، ط.س. ج٢ ص١٠٣). ظفير

تردریدلو وروسته دي سجدي ته ولاړ سي او دسجدي څخه وروسته دي ودریږي: يجب بسبب تلاوة آية أي أكثرها مع حرف السجدة (درمختار) وهى سجدة بين تكبيرتين مسنونتين جهرا وبين قيامين مستحبين بلا رفع يد وتشهد وسلام وفيها تسبيح السجود (درمختار. سجود التلاوة، جميل الرحمن).

[٢] په دي ټولو صورتونو کي به يوه سجده واجبه سي (ولو كررها في مجلس تكررت وفي مجلس واحد لا تتكرر بل كفته واحدة الخ (درمختار سجود التلاوة).

[٣] دلمر ختلو، لويدلو او زوال په مهال دتلاوت سجده هم حرامه ده ليكن كله چي دسجدي ايت په دي وختونو کي ووايي نو سجده هم په دي وختونوکي صحيح ده او دسهار ترلمانځه وروسته تر لمر ختلو پوري او دمازديګر ترلمانځه وروسته تر لمر لويدلو پوري، اودصبح صادق څخه وروسته دتلاوت سجده کول صحيح دي. ذكره تحريما صلوة ولو على جنازة وسجدة تلاوة وسهو مع شروق اواستواء وغروب الخ وكره نفل إلى قوله بعد صلوة فجر وصلوة عصر لا قضاء فائتة وسجدة تلاوة وصلوة جنازة وكذا بعد طلوع فجر سوى سنة الخ تنوير.

[۴] پر نابالغه ماشوم باندي دتلاوت سجده نه واجبيږي.

[۵] پراوريدونکو باندي به سجده کول واجب سي، که چيري هغوى ونه کړه نو پرلوستونکي باندي څه ګناه نسته. او لوستونکى داوريدونکو دلوري سجده نسي کولاى. (فالسبب التلاوة وإن لم يوجد السماع كتلاوة الأصم والسماع شرط في حق غير التالي (درمختار، جميل الرحمن).

## الباب الثالث عشر في صلوٰة المريض

## ديارلسم باب دمريض دلمانځه په بيان کي

### (دناروغانو لپاره دلمانځه په ارکانو کي رعايتونه)

**<u>په ناسته لمونځ کوونکي پسي دولاړ اقتدا صحيح ده</u>: سوال**: (٢١٧٧) كم إمام چي لمونځ په ناسته ورکوي خو هغه ته څه عذر او تکليف هم وى چي دهغه سره دى دريدلاى نه سي اوټول کارو بار په ولاړه کوي نو دهغه او مقتديانو لمونځونه صحيح دي اوکه نه؟

**جواب**: که چيري معذور وي چي په ولاړه لمونځ نه سي کولاى نو په ناسته دهغه لمونځ صحيح دى او په هغه پسي دمقتديانو لمونځونه هم صحيح دي. (١)

(١) ويصح إقتداء القائم بالقاعد الذي يركع ويسجد لا إقتداء الراكع والساجد بالمؤمي (عالمگيري مصري باب الإمامة ج١ ص٧٩، ط. ماجدية ج١ ص٨٥). ظفير

اوكه چيري هغه دومره معذور نه وي بلكه په ولاړه باندي په لمونځ كولو قادر وي نو دهغه لمونځ صحيح نه دی، او په ده پسي به دمقتديانو لمونځ هم صحيح نه وي. ([1])

**پوازي يو څادر پرڅان پيچلو سره لمونځ صحيح دی**: **سوال**: (٢١٧٨) [١] كه چيري ناروغ ديخنی له امله برستن يا څادر پرڅان تاو كړي او لمونځ كوي چي ټول بدن يې دمخ اوسر سره په هغه كي پټ وي، او دهغه ستر لكه زنگون، يا ورنونه يا كوناټي هغه ته په خپله ښكاريږي او پټ نه وي ورڅخه اوكم كس چي دهغه په څنگ كي وي دهغه له نظره څخه پټ وي، نو ددي ناروغ لمونځ به صحيح وي اوكه نه؟

**دمجبوري له امله په ناپاكو كالو سره لمونځ**: سوال: (٢١٧٩) [٢] كه چيري مريض مجبورا دپليتي سره لمونځ ادا كړي نو دصحت څخه وروسته به وربانديی قضا لازمه وي اوكه نه؟

**جواب**: [١] ددي ناروغ لمونځ صحيح دی. ([2])

[٢] كه دمجبوريء له امله كالي پاكيدای نه سي اونه پاك پاته كيدای سي نو دهغه لمونځ صحيح دی، اوكه يې كالي بدلولای سوای او بدل يې نه كړل نو قضا به وربانديی لازمه وي. ([3]) فقط

**په سخته ناروغي كي روژه او لمونځ پريښوول او دهغي كفاره**: **سوال**: (٢١٨٠) دزيد انا تر پنځو كلونو په داسي ناروغي كي اخته وه چي له امله يې يوه پښه او لاس شل سوي وه، چي دی ته دفالج ناروغي ويل كيږي، بيا هغه د٥٨ كلونو په عمركي وفات سوه، تركمه وخته پوري چي هغه گرځيدله هوښ اوحواس يې پرځای وه، هغي لمونځونه او روژي ادا كولي، خو دكم وخت څخه چي هغه دگرځيدو ولويده هوښ او حواس يې هم پرځای پاته نه سو، نو لمونځ اوروژه ورڅخه پاته سوه كه چيري په خپله يا دبل چا په وينا به دلمانځه لپاره په كټ كي مخ په قبله كښينول سوه نو لمونځ كول به يې پيل كړل خو په لمانځه كي به ئي اخوا ديخوا كتل، په دغو شپو ورځو كي چي كله دا دخپل اودس.مات څخه هم خبره نه وه په دي لمؤنځ او روژه فرض وه اوكه نه؟ كه چيري فرض وه نو اوس دهغو ادا

---

([1]) من فرائضها التى لا تصح بدونها التحريمة الخ ومنها القيام الخ في الفرض الخ لقادر عليه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صفة الصلوة بحث القيام ج١ ص٤١٤، ط.س. ج١ ص٤٤٢). ظفير

([2]) والشرط سترها عن غيره ولو حكما كمكان مظلم لا سترها عن نفسه به يفتى فلو راها من زيقه لم تفسد وإن كره (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة ج١ ص٣٨٠، ط.س. ج١ ص٤٩٠). ظفير

([3]) ون إستوعب عذر تمام وقت صلوة مفروضة الخ وحكمه الوضوء لما غسل ثوبه ونحوه الخ وإن سال على ثوبه فوق الدرهم جاز له ان لا يغسله إن كان لو غسله تنجس قبل الفراغ منها اى الصلوة وإلا الخ فلا يجوز ترك غسله (الدر المختار على هامش ردالمحتار احكام المعذور ج١ ص٢٨١، ط.س. ج١ ص٣٠٥). ظفير

کونه په کومه طریقه وکړل سي؟

**جواب**: روزه خو په داسي حالت کي مؤخره کیږي اوپه داسي حالت کي دروژي فدیه واجبه سي (١) او هغه کفایت کوي لمونځ دهغي په ذمه فرض دی البته کم لمونځونه چي هغي په داسي حال کي وکړل هغه وسوه (٢) اوکم لمونځ چي یي بالکل کړی نه دی دهغه فدیه باید وارثان ورکړي، اګرکه وصیت یي نه وي کړی هم، او اګرکه هغي مال نه وي پرې ایښي، په دي دواړو صورتوکي فدیه دوراثانو پرذمه واجبه نه ده، لیکن ورکړه یي غوره او بهتره ده او امید دی چي دا به دهغي دفوت سوو لمونځونو فدیه وګرځي. (٣) فقط

**<u>سترګي جوړوونکی به لمونځ څنګه ادا کوي؟</u> سوال**: (٢١٨١) دسترګي دزخم په هکله دا سوال کوو چي ډاکتران ډیر تاکید کوي چي سر ته دي لږ حرکت هم نه ورکوي. نو دلمانځه په هکله به څه حکم وي بیخي یي ادا نه کړي اوکه یي ادا کوي نو څنګه؟ دسر دښورولو قطعي ممانعت دی که اودس کوي په کمه طریقه سره به یي کوي یا که تیمم وهي نو څنګه؟ او ددي څخه وروسته تر دریو ورځو پوري پټۍ تړلي اوسي، په دې حالت کي به اودس کوي او که له کمي بلي وجهي تیمم وهي نو یوازي پرپټۍ به مسحه کوي اوکه پرټول مخ باندي یعني ټول مخ به نه مینځي اوکه هغه ځرمنه چي دپټۍ څخه بیله ده هغه دي په لاس سره لنده کړي ځکه چي مینځلی یي نه سي؟

**جواب**: په شامي کي دي قوله وإن تعذر القعود ولو حكما كما لوقدر على القعود ولكن بزغ الطبيب الماء من عينيه وأمره بالإستلقاء اياما اجزأه أن يستلقي ويرمي لأن حرمة الأعضاء كحرمة النفس الخ (٤) ددي حاصل دادي چي کښینستل ورته ګران وي اګرکه حکما وي، مثلا چي کښینستلای سي او ډاکتر سترګه ورجوړه کړه او ورته یي وویل

---

(١) وللشيخ الفاني العاجز عن الصوم الفطر ويفدي وجوبا الخ (درمختار) للشيخ الفاني أى الذي فنيت قوته او اشرف على الفناء ولذا عرضوه بأنه الذي كل يوم في نقض إلى أن يموت الخ عن الكرماني المريض إذا تحقق اليأس من الصحة فعليه الفدية بكل يوم من المرض اه (رد المحتار كتاب الصوم فصل في العوارض المبيحة لعدم الصوم ج٢ ص١٢٣، ط.س. ج٢ ص٤٢٧). ظفير

(٢) من تعذر عليه القيام لمرض الخ صلى قاعدا ولو مستندا إلى وسادة الخ كيف شاء (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المريض ج١ ص٧٠٨، ط.س. ج٢ ص٩٥). ظفير

(٣) ولو مات وعليه صلوات فائتة و اوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف صاع من بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله (درمختار) و أما إذا لم يوص فتطوع بها الوارث قال محمد في الزيادات أنه يجزيه إنشاء الله تعالى (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٦٨٥ – ٦٨٢ ، ط.س. ج٢ ص٧٢). ظفير

(٤) ردالمحتار باب صلوة المريض ج١ ص٧١١، ط.س. ج٢ ص٩٩. ظفير

چي يو څو ورځي سيده پروت أوسه نو هغه ته دا كافي ده چي سيده (ستوني ستغ) پروت واوسي او په اشاره سره لمونځ وكړي او ښكاره ده چي په اشاره كي دسر ښورول ضروري دي ددي پرته لمونځ نه سي كيداى، او لمونځ پريښودل كيږي هم نه، ځكه چي عقل يي جوړ دى او بيهوښي هم نسته. قاري عبد الرحمن صاحب پاني پتي (رحمه الله) چي كله سترګه جوړه كړي وه نو په اشاره به يي لمونځ كوى او ډاكټر ورته اجازت وركړى وو او په ښكاره ډول كم نقصان نه وو ورته پيس سوى نو دلمانځه لپاره دسر داشاري اجازت اخستل په كار دي اوكه چيري اجازت ورنه كړي نو بيا هم لمونځ پريښودل نه ښايي، او كله چي پرسترګه باندي پټۍ وي نو نور مخ دي ومينځي، او پر پټۍ باندي دي مسحه وكړي (١) اوكه چيري دنور مخ په مينځلو سره سترګي ته دلوندوالي دأثر درسيدلو بيره وي اوهغه دسترګو لپاره زيان اړوي نو پرټول مخ باندي هم مسحه كول صحيح دي او نور اندامونه به مينځي، اوكه چيري دكم عذر له امله تيمم وهي نو تيمم دي دقاعدي سره سم ووهي يعني ديوه ضرب څخه وروسته دي پر مخ باندي پرپټۍ سربيره لاس وګرځوي، اوپه بل ضرب كي دي لاسونه مسح كړي. فقط

**دكمزوري له امله په ناسته لمونځ كول صحيح دي**: **سوال**: (٢١٨٢) يو سړى ډير ضعيف او كمزورى دى حواس يي سم نه اوسي پنځه واړه لمونځونه په ناسته ادا كوي دهغه لمونځ سم دى اوكه نه؟

**جواب**: چي څومره وس لري دهغه سره سم به لمونځ ادا سي كه چيري دولاړي وس نه وي نوپه ناسته سره اوكه دناستى وس نه وي نو په پروته سره لمونځ ادا كول صحى دي (٢) غرض داچي تكليف په قدر دوسعت دى، قال الله تعالى: لا يكلف الله نفسا إلا وسعها، الآية (٣). فقط

**چي داوداسه يا تيمامه وس نه لري نو لمونځ ورباندي فرض دي اوكه نه؟ سوال**: (٢١٨٣) [١] په مريض كي دومره طاقت نسته چي په خپله اودس وكړي يا تيمم ووهي نو پرهغه باندي لمونځ واجب دى اوكه نه؟

---

(١) وحكم مسح جبيرة الخ او خرقة قرحة وموضع فصد وكى ونحو ذلك عصابة جراحة كغسل لا تحتها فيكون فرضا الخ ويجمع الخ معه اى غسل الأخرى الخ ويترك المسح كالغسل إن ضر وإلا، لا يترك (الدر المختار على هامش رد المحتار باب مسح على الخفين ج١ ص٢٥٧، ط.س. ج١ ص٢٧٨). ظفير

(٢) وإذا عجز المريض عن القيام صلى قاعدا يركع ويسجد الخ فان لم تستطع الركوع والسجود أومأ ايماء يعنى قاعدا الخ فإن لم يستطع القعود إستلقى على ظهره وجعل رجليه إلى القبلة الخ (هدايه باب صلوة المريض ج١ ص١٤٤). ظفير

(٣) سورة البقرة، اخيري ركوع. ظفير

**ځيني وختونه مرسته کوونکی موجود وي اوکله نه وي نو څه وکړي؟ سوال**: (۲۱۸۴) [۲] دي ناروغ ته کله کله څوك تيمم وهونکی موجود وي او کله کله نه وي نو دتيمم وهونکي دنه وجود په وخت کي څه وکړي؟

**کله چي په ناروغ کي دقبلي لورته دمخامخ کيدلو طاقت نه وي نوڅه وکري؟ سوال**: (۲۱۸۵) [۳] ناروغ په خپله قبلي ته مخ نه سي اړولای او دهغه سره څوك سته هم نه نوڅه حکم دی؟

**په اخر وخت کي يې دډيرو وختونو لمونځونه ونه کړل نوڅه وکړل سي؟ سوال**: (۲۱۸۶) [۴] يو سړی په ۲۰ دشوال وفات سو، او درجب څخه نيولي دشوال تر شلمه پوري دا صورت وو چي کله به يې لمونځ وکړی اوکله نه سره ددي چي په هغه کي دومره قوت وو چي اوبه وغواړي يا سر پورته کړي؟

**جواب**: [۱-۲-۳] په دي صورتونو کي دي دبل چاڅخه په اوداسه ياتيمم کي مرسته وغواړي او داوداسه يا تيمامه پرته او همدا ډول قبلي ته دمخ ګرځولو پرته دي لمونځ نه کوي، او لمونځ په دي صورتونو کي ساقط نه سو چي کله وخت ورته ميسر سو نو دغه لمونځ دي اداء يا قضاء وکړي. (۱)

[۴] دهغه پرذمه دا لمونځونه فرض پاته وه او دفديي وصيت کول دهغه په ذمه لازم وو نو دوصيت په صورت کي دي دترکي ديوه ثلث څخه دهغه دلمونځونو فديه ورکړل سي او دثلث څخه په ډير کي وارثان اختيار لري که غواړي ادا دي کړي او دا غوره دي، که نه وي پرهغوی باندي څه ګناه نسته. (۲) فقط

**دچا چي طاقت نه وي هغه دلمانځه فديه ورکولای سي او که نه؟ سوال**: (۲۱۸۷) کم سړی چي بي طاقته وي هغه دخپل عمر دروژو او لمونځونو دقضا په مقابل کي فديه ورکول غواړي داروپۍ په ديني مدرسه کي لګول کيدای سي ايا په هغوکي تمليك ضروري دی؟

---

(۱) دلمانځه لپاره اودس يا تيمم ضروري دی که يې په خپله کوی اوکه دنورو په مرسته، اما الشرائط المجمع عليها فستة الخ الطهارة من الحدث الخ أما الطهارة من الحدث قدمها لكونها أهم الشروط واكدها حتى انها لا تسقط بحال ولا يجوز الصلوة بدونها اصلا بخلاف غيرها من الشروط (غنية المستملي ص۱۳) قبلي ته مخ کول هم شرط دي ليکن فقهاؤ څرګنده کړيده چي دعاجز لپاره چي کم لور ته يې قدرت وي هغه کافي دی: ومريض صاحب فراش لايمكنه أن يحول وجهه وليس بحضرته احد يوجهه يجزيه صلوته إلى حيثما شاء الخ (عالمګيري کشوري كتاب الصلوة باب ثالث فصل ثالث ج۱ ص۲۲، ط. ماجدية ج۱ ص۲۳). ظفير

(۲) ولومات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعطى لكل صلوة نصف من بر وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله (درمختار) فلو زادت الوصية على الثلث لايلزم الولى إخراج الزائد إلا باجازة الورثة (رد المحتار باب قضاء الفوائت ج۱ ص۲۸۵، ط.س. ج۲ ص۷). ظفير

**جواب**: شيخ فاني ته دروژي فديه ورکول خو صحيح دي (١) ليکن دلمانځه فديه په خپله هغه ته ورکول صحيح نه دي، او لمونځونه په دي فديي سره نه ساقطيږي. ځکه چي په لمانځه کي دا وسعت دی چي که يي په ولاړه نسي کولای نو په ناسته دي وکړي (٢) او که په ناسته يي هم نه سي کولای نو په پروته دي وکړي، اوکه رکوع او سجده نه سي کولای په اشاره سره دي وکړي البته دهغه دمرګ څخه وروسته چي کم لمونځونه يا روژي پاته سي، او هغه دفديي ادا کولو وصيت وکړي او مال هم پريږدي نو دهغه دوارثانو پرذمه دفديي ورکول ضروري دي، او دهغي حکم دزکوة په څير دی دفقير تمليك په دي کي ضروري دی نوکه په اسلامي مدرسو کي مسکينانو طالبانو ته ورکړل سي نو داهم صحيح اوپه دي کي ډير ثواب دی، ځکه چي ددینی علم دطالبانو مرسته ده. فقط

**دکشتۍ څخه دباندي کښته سوم او لمونځ مي وکړی نو وسو اوکه نه؟ سوال**: (٢٩٨٨)يو ځل زه دپير صاحب ملاقات ته ولاړم زه دکشتۍ څخه دباندي را کښته سوم او لمونځ مي وکړی دا جائز دی اوکه نه؟

**جواب**: صلى الفرض في فلك جار قاعدا بلا عذر صح لغلبة العجز وأساء وقالا لا يصح إلا بعذر وهو الأظهر برهان. والمربوطة في الشط كالشط في الأصح الخ درمختار (٣) قوله جارٍ اى سائرا إحترازا من المربوطة قوله والمربوطة في الشط كالشط فلا تجوز الصلوة فيها قاعدا إتفاقا وظهر ما في الهداية وغيرها الجواز قائما مطلقا اى إستقرت على الأرض او لا وصرح في الإيضاح بمنعه في الثاني (أى في عدم الاستقرار) حيث أمكنه الخروج الحاقا لها بالدابة نهر. واختاره في المحيط والبدائع وعزاه في الإمداد ايضا إلى مجمع الروايات عن المصفى وجزم به في نور الإيضاح وعلى هذا ينبغي أن لا تجوز الصلوة فيها سائرة مع إمكان الخروج إلى البر وهذه المسئلة الناس عنها غافلون شرح المنية (٤) والمربوطة بلجة البحر إن كان الريح يحركها شديدا فكالسائرة وإلا فكالواقفة

---

(١) والشيخ الفاني الذي لا يقدر على الصيام يفطر ويطعم لكل يوم مسكينا كط يطعم في الكفارات (هدايه كتاب الصوم باب يوجب القضاء والكفارة ص٢٠٤). ظفير

(٢) من تعذر عليه القيام اى كله لمرض الخ صلى قاعدا الخ كيف شاء الخ وإن تعذر الخ اومأ قاعدا الخ وإن تعذر القعود ارمأ مستلقيا الخ وإن تعذر الإيماء برأسه وكثرت الفوائت الخ سقط القضاء عنه (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المريض ج١ ص٧٠٨، ط.س. ج٢ ص٩٥). ظفير

(٣) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المريض مطلب في الصلوة في السفينة ج١ ص٧١٣، ط.س. ج٢ ص١٠١. ظفير

(٤) رد المحتار باب صلوة المريض ج١ ص٧١٣ – ٧١٤، ط.س. ج٢ ص١٠١. ظفير

ویلزم استقبال القبلة عند الإفتتاح وکلما دارت ولو أم قوما في فلکین مربوطین صح وإلا لا، درمختار (١) ددي روایاتو څخه ښکاره ده چي که چیري کشتۍ پرغاړه ولاړه وي نوکه هغي په زمکه باندی قرار نیولی نه وي نو په هغي کي دلمانځه په جوازکي اختلاف دی، په هدایه او نوروکي ددي جواز منقول دی، اوپه محیط بدائع اونورو کي یي عدم جواز ته صحیح ویلي دي،او همدا احوط دي کما هو ظاهر. فقط

**تر بیهوښۍ وروسته که په هوښ کي راسي نو په لمونځونو به څه کوي؟ سوال**: (٢١٨٩) که یو سړی دناروغي دډیروالي له امله تر څلورویشتو ساعتو پوري بیهوښه وي دهغه وروسته چي کله په هوښ کي راسي نو داشاري پرته لمونځ نه سي کولای، ایا دفوت سوو لمونځونو قضا وربانديلازمه ده، که قضا وربانديلازمه وی نوکه یي په نوموړي حالت کي په اشاره سره وکړي هغه کفایت کوي اوکه نه؟ او که دڅلورویشتو ساعتو څخه ډیر بیهوښه ووبیا څه حکم دی؟

**جواب**: په درمختار صلوة المریض کي دي: ومن جن او اغمی علیه الخ یوما ولیلة قضی الخمس وإن زاد وقت صلوة سادسة لا للحرج الخ (٢) ددي څخه څرګندده سوه چي که دڅلور ویشتو ساعتو څخه ډیر بیهوښه وو او شپږ لمونځونه یا ددي څخه زیات ورڅخه قضا سول نو قضا وربانديلازمه نه ده، دقضا دلازموالي په صورت کي که چیري دمرض په حالت کي فوت سوي لمونځونه په اشاره سره ادا کړي نو لمونځونه به ادا سي. (٣)

**آیا دټول کلل دلمونځونو کفاره یوازي دقرآن کریم په یوه نسخه کیدلای سي؟ سوال**: (٢١٩٠) دیوه سړي څخه دټول کال لمونځونه فوت سوي دي دمرګ په وخت کي هغه وویل چي زما دټول کال دلمونځونو په کفاره کي یو قرآن مجید ورکړئ، ځکه چي زه دومره طاقت نه لرم چي دټولو لمونځونو کفاره ادا کړم ایا دشریعت په رڼا کي به دا قرآن مجید دهغه دټول کال دلمونځونو کفاره وګرځي؟

**جواب**: په یوه قرآن مجید سره به دټولو لمونځونو کفاره ادا نه سي، بلکه دیوې ورځي دلمونځونو کفاره لس نیم سیره غنم په انګریزی وزن سره یا دهغو قیمت دی چي هغه تقریبا یوه نیمي روپۍ (دهغه وخت) جوړیږي او ددوولسو میاشتو دي ددي څخه اندازه ولګول سي، نو که چیري ددي سړي دترکي په یوه ثلث کي ددي امکان وي نو پوره کفاره

(١) الد رالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلاة المریض ج١ ص٧١٤، ط.س. ج٢ ص١٠٢. ظفیر
(٢) الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المریض ج١ ص٧١٤، ط.س. ج٢ ص١٠٢. ظفیر
(٣) وإن تعذر القعود اومأ بالرکوع والسجود مستلقیا علی ظهره وجعل رجلیه إلی القبلة الخ (عالمګیري کشوري الباب الرابع عشر في صلوة المریض ج١ ص١٣٤، ط. ماجدیة ج١ ص١٣٦). ظفیر

دلمونځونو ورکول په کار دي. (١)

**که دناستي وس یې نه وي نو څرنګه لمونځ وکړي:** **سوال:** (٢١٩١) هغه سړی چې دومره کمزوری سي چې کنبنستلای نه سي نو لمونځ به څه ډول کوي او سنت او نوافل به هم ادا کوي اوکه یوازي فرض به کوي؟

**جواب:** څوك چي په ناسته په اشاره هم لمونځ نسي کولای هغه دي په پروته په اشاره لمونځ وکړي، او سنت او نوافل ادا کول ورته ضروري نه دي، که یې کولای سي نو غوره دي اوکه یې نه کوي نوڅه ګناه نسته. فقط (٢)

**دناروغی له امله دشرابو پټی، وتړل سوه نو لمونځ څنګه وکړي؟** **سوال:** (٢١٩٢) دیوه سړي په پښه کي زخم وسو ډاکتر ورباندي دشرابو پټۍ ولګوله او ټینګار یې وکړی چې دا به نه خلاصوي نو ایا ددي پټۍ سره لمونځ کیږي؟

**جواب:** هغه دي په همدي حالت کي لمونځ وکړي لمونځ دهغه صحیح دی. فقط

**ښځه به دولادت په مهال لمونځ څنګه کوي؟** **سوال:** (٢١٩٣) ښځه دماشوم دزیږیدني په مهال سره ددي چې حواس او هوښ یې پرځای دي او په ښکاره دماشوم دزیانمن کیدلو بیره نسته لیکن وینه او نور لندوالی یې بهیږي او دماشوم دیوي برخي وتل پاته دي او دلمانځه وخت دي اوهغه یوازی دپاکوالی دادب، یا دلمانځه دقدر او حرمت له امله او یا ددي بیري چي ټول بدن به مي په وینو ککړ سي لمونځ ونه کړي نو دا ښځه به ګنهګاره وي اوکه نه؟ او لمونځ وکړي اوکه نه؟

**جواب:** په داسي حالت کي که چیري دلمانځه دوخت دوتلو اندیښنه وي نو دا ښځه دي څلور اندامونه ومینځي که یې مینځلای سي که نه وي تیمم دي ووهي او لمونځ دي ادا کړي، او ددي ویني خیال دي نه کوي ځکه چي داوینه داستحاضي ده مانع عن الصلوة نه ده په شامي کي دي: ولو لم تصل تكون عاصية لربِّها الخ او دمنیي په شرحه کي لیکلي دي: فلا یجوز لها تفویت الصلوة الخ. (٣) فقط

---

(١) ولو مات وعليه صلوات فائتة واوصى بالكفارة يعنى لكل صلوة نصف صاع بر كالفطرة وكذا حكم الوتر والصوم وإنما يعطى من ثلث ماله الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب قضاء الفوائت ج١ ص٢٨٥ – ٢٨٢، ط.س. ج٢ ص٧٢) دقیمت کم حساب چي لیکل سوی دی هغه د١٣٤٤ هجري قمري کال دي زموږ په اوسنی زمانه ١٣٨١ هجري کي به په قیمت کي لوی فرق راځي ځکه چي نن صبا دلس نیمو سیرو غنمو قیمت لږ تر لږه څلور روپی دي، په هر حال دغنمو حساب خو به هغه وي چي لیکل سوی دی، لیکن دقیمت اندازه به دموجوده وخت سره لګول کیږي که لږ وي اوکه ډیر، والله اعلم. ظفير

(٢) وإن تعذره القعود ولو حكما اومأ مستلقيا على ظهره ووجهه نحو القبلة الخ او على جنبه الأيمن او الأيسر ووجهه إليها الخ (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المريض ج١ ص٧١١ – ٧١٢، ط.س. ج٢ص٩٩). ظفير=

**دبادو دناروغ که په لمانځه کي باد ووزي نو څه حکم لري؟ سوال**: (۲۱۹۴) که چیري یوه سړي ته دنفخ ناروغي وي نو هغه په تازه اودس کولو سره لمونځ ادا کولای سي؟ اوکه دلمانځه په حالت کي ورځخه هوا ووزي نوڅه حکم لري؟

**جواب**: که چیري دا سړی شرعي معذور ګرځیدلی وي یعني دهوا دوتلو ناروغي یي دومره ډیره وي چي یو وخت ورباندي داسي راغلی وي چي دلمانځه په ټول وخت کي دي ناروغي دومره مهلت نه وي ورکړي چي اودس وکړي او فرض لمونځ ددي عذر څخه پرته وکړي، نو دهغه لپاره جواز سته چي په یوه اودس سره په وخت کي دننه لمونځ وکړي اګر که هوا ورڅخه په لمانځه کي په وتو وي، درمختار (١). فقط

**دسیند پرغاړه تړل سوي کښتۍ کي لمونځ روادي اوکه نه؟ سوال**: (۲۱۹۵) که چیري کښتۍ دسیند پرغاړه تړل سوي وي نو په ولاړه پرځمکه داستقرار څخه پرته په هغي کي لمونځ کول جائز دي اوکه نه؟ په خلاصة الفتاوی ج١ص۱۹۴ کي ناجائز لیکلي دي.

**جواب**: په هدایه کي دي: والمربوط کالشط هو الصحیح (٢) ومثله في الدرالمختار وفي ردالمحتار قوله والمربوطة والشط فلا تجوز الصلوة فیها قاعدا إتفاقا فظاهر ما في الهدایة وغیرها الجواز قائما مطلقا أی إستقرت علی الأرض اولا وصرح في الإیضاح بمنعه في الثاني حیث أمکنه الخروج (٣) الحاقا لها بالهدایة الخ معلومه سوه چي صحیح داده چي: پر غاړه تړل سوي کښتۍ کي په ولاړه لمونځ کول صحیح دي البته په ناسته کول جائز نه دي لیکن احتیاطي خبره داده چي دکښتۍ څخه وتلی پرغاړه لمونځ وکړي تر څو دخلاف څخه وتلی وي. فقط

* * *

(٣) إمرأة خرج رأس ولدها وخافت فوت الوقت توضأ إن قدرت وإلا تیممت وجعلت رأس ولدها في قدر او حفیرة وصلت قاعدة برکوع وسجود فإن لم تستطعها یؤمي ایماء أی تصلي بحسب طاقتها ولا تفوت الصلوة عن وقتها لأنها لم تصر نفساء بخروج بعض الولد ما لم یر الدم بعد خروج الولد کله والدم الذي تراه في حالة الولادة قبل خروج الولد إستحاضة لا تضع الصلوة فکانت مکلفة بقدر وسعها فلا یجوز لها تفویت الصلوة عن وقتها إلا إن عجزت بالکلیة کما في سائر المرضی (غنیة المستملي ص۲۲۵ – ۲۲۲). ظفیر

(١) وصاحب عذر من به سلسل البول لا یمکنه إمساکه او استطلاق بطن او إنفلات ریح الخ إن إستوعب عذره تمام وقت صلوة مفروضة بأن لا یجد في جمیع وقتها زمنا یتوضأ ویصلي فیه خالیا عن الحدث ولو حکما الخ وحکمه الوضوء لا غسل ثوبه ونحوه لکل فرض ثم یصلي به فیه فرضا ونفلا الخ (الدر المختار علی هامش ردالمحتار مطلب احکام المعذور ج١ ص۲۸۰، ط.س. ج١ ص۳۰۵). ظفیر

(٢) هدایه باب صلوة المریض ج١ ص۱۴۵. ظفیر

(٣) رد المحتار باب صلوة المریض مطلب في الصلوة في السفینة ج١ ص۷۱۴، ط.س. ج٢ ص۱۰۱. ظفیر

## الباب الرابع عشر في صلوٰة المسافر

## څوارلسم باب دلمانځه په بيان کي

### مسافر به لمونځ څنګه ادا کوي او نور مسائل

**که دارادې پرته اتفاقا پنځلس ورځې تم سي نو څه به کوي؟ سوال**: (٢١٩٦) يو څو کسان دټوکرانو تجارت ته ځي او په يوه ځای کي اوسي په شاوخوا علاقو کي ټوکران وپلوري او شپې ته خوني ته راسي او لمونځونه قصر (مسافرانه) کوي، او وايي چي زموږ دقيام اراده نسته چي ټوکران وپلورو ولاړ به سو، په دي صورت کي که پنځلس ورځي يا ډيري ولګيږي نو څه حکم دی؟

**جواب**: کله چي دسره هلته اراده دپنځلسو ورځو دتمتيا نه وي اګر که په اتفاقي ډول دهغوي پنځلس ورځي يا ډيري هلته قيام راسي نو په داسي حالت کي لمونځ قصر کول ښايي. ([1]) فقط

**چي پرګمه لاره باندي سفر وي دهغي اعتبار دی**: **سوال**: (٢١٩٧) اجمير زموږ دځايه په پياده لاره شل ميله ليري دی او دريل ګاډي په لاره اتيا ميله دی که چيري دريل په لاره سفر کوو نو قصر به کوو اوکه نه؟

**جواب**: که چيري دريل په لاره سفر کوی نو قصر به واجب وي. ([2])

**چيري چي پلار مقيم وي نو زوی به دپنځلسو ورځو داقامت دنيت څخه پرته قصر نه پريږدي**:

**سوال**: (٢١٩٨) يو سړی دروزګار په لړه کي دخپل وطن څخه بهر تپور ته راغی، په بهر تپورکي دهغه داستوګني څلويښت کاله موده تيره سوه په دي دوران کي به هغه رخصت اخستی، او خپل وطن ته به هم تلی ليکن کله به يي دکور کسان هم دلته راوستل په بهرتپور کي دکرايي په کورکي اوسيدل دهغه زوی محمد رفيق هم ورسره وو اوس هغه دروزګار په هيله دهلي ته ولاړی، په دهلي کي داوسيدلو يي څلور پنځه کاله وسول اوس که چيري محمد رفيق ددهلي څخه بهرتپور ته خپل پلار ته راځي نو لمونځ به پوره کوي اوکه قصر؟

---

([1]) ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر الخ ولو دخل مصرا على عزم أن يخرج غدا او بعد غد ولم ينو مدة الإقامة حتى بقى على ذلك سنين قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفير

([2]) فان قصد بلدة وإلى مقصده طريقان أحدهما سيرة ثلثة أيام ولياليها والآخر دونها فسالك الطريق الأبعد كان مسافرا عندنا هكذا في فتاوى قاضيخان (عالمگيري كشوري ج١ ص١٣٢، الباب الخامس في صلوة المسافر ط. ماجدية ج١ ص١٣٨). ظفير

**جواب**: که چیري بهرتپور ته دپنځلسو ورځو دقیام په نیت راتلل نه وي نو لمونځ قصر کول په کار دي ځکه چي بهرتپور یي داقامت وطن وو په سفر کولو سره هغه باطل سو. (١) فقط

**امبر سر يي پرېښووی او لاهور يي داقامت وطن جوړ کړی اوس به دی په امبرسر کي څنګه لمونځ ادا کوي؟** **سوال**: (٢١٩٩) په امبرسر کي اوسيدی بيا په لاهور کي سره دښځي او بچيانو دځلورو کالو راهيسي استوګنه کوي اوپه امبرسر کي يي څه ځمکه هم ده او ورونه او خويندي يي هم په لاهور کي اوسيږي که چيري دامبرسر او لاهور تر مينځ دسفر مسافه وي نو داسړی به په امبرسر کي قصر کوي اوکه نه؟

**جواب**: که چيري دي سړي دلاهور څخه اصلي وطن جوړ کړی وي او دامبرسر سکونت يي پرېښی وي نوبيا چي ترڅو په امبرسر کي دپنځلسو ورځو نيت ونه کړي لمونځ به قصر کوي، کما في الدرالمختار الوطن الأصلي يبطل بمثله إذا لم يبق له بالأول أهل الخ. (٢) فقط

**دقصر مسافت ۴۸ ميله ده**: **سوال**: (٢٢٠٠) منزل به څومره ميله وي دانګريزي ميل په حساب قصر لمونځ په دري منز له کول ښايي او که څنګه؟

**جواب**: زموږ په نزد معمول دقصر دسفر لپاره ۴۸ ميله ده شپاړس ميله يو منزل ګرځول سوی دی. فقط

**داطمينان په مهال به مسافر سنت کوي**: **سوال**: (٢٢٠١) مسافر به يوازي فرض ادا کوي اوکه سنت هم؟

**جواب**: په درمختار کي دي: ويأتي المسافر بالسنن إن كان في حال أمن وقرار وإلا بأن كان في خوف وقرار لا يأتي بها هو المختار لأنه ترك لعذر الخ قيل إلا سنة الفجر الخ وفي الشامي قال في شرح المنية وإلا عدل ما قاله الهندواني قلت والظاهر أن ما هو في المتن هو هذا ص۵۳۲. ج١ شامي. (٣) ددي عبارت څخه څرګنده سوه چي که مسافر دامن په حالت کي وي او ايسار سوی وي نو سنت دي وکړي اوکه چيري دامن حال نه وي بلکه دسفر تلوار او بيره وي نو سنت دي پريږدي، اوځينو فقهاؤ فرمايلي دي چي دسهار سنت دي بيا هم نه پريږدي. فقط

**مسافر به په څومره مسافت کي قصر کوي؟** **سوال**: (٢٢٠٢) مسافر ته په څومره فرسخه کي

---

(١)وطن الإقامة يبطل بوطن الإقامة وبانشاء السفر وبالوطن الأصلي (عالمگيري كشوري باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٠، ط.س. ج١ ص١۴٢). ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴٢، ط.س. ج٢ ص١٣٢. ظفير

(٣) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴٢، ط.س. ج٢ ص١٣١. ظفير

قصر کول په کار دی او هر فرسخ څومره میله دی؟

**جواب**: سفر که چیري ددرو منزلو یعني دریو ورځو وي نو په مسافر باندي قصر لازم دی او ځینو فقهاؤ دمنازلو په عوض کي په فرسخونو اومیلونو سره تحدید کړی دی. (١) په دي کي دری قوله دي: ځینو (٢٠) فرسخه یعني ٦٣ میله او ځینو ١٨٠ فرسخه یعني ٥۴ میله او ځینو ١۵ فرسخه یعني ۴۵ میله تاکلي دي. او مفتی به قول ثاني یا ثالث دی، قال في الشامي ثم اختلفوا فقیل أحد وعشررن وقیل ثمانیة عشر وقیل خمسة عشر والفتوی علی الثاني لأنه الأوسط وفي المجتبی فتوی أئمة خوارزم علی الثالث (٢) اودریم مذهب دا دی چي عادتا په دریو ورځو کي څومره مزل کیږي په هغه کي قصر واجب دی، او میل څلور زره زراعه دی یا څلور زره قدمه. کذا في الشامي. (٣)

**کم حنفي مسافر چي دقصر په ځای پوره لمونځ کوي دهغه څه حکم دی؟ سوال**: (٢٢٠٣)

یوه حنفي مسافر په لمانځه کي قصر ونه کړی چي کله سوال ورڅخه وکړل سو نووي ویل چي کله قصر کوم داسي راته ښکاري لکه لمونځ چي مي نه وي کړی او دزړه ډاډ مي نه کیږي ځکه نو قصر نه کوم او دمجبوری له مخي دامام شافعی ﷫ قول عملي کوم په دي صورت کي ددي مسافر لمونځ وسو اوکه نه؟

**جواب**: دي مسافر دا کار بد وکړی دامام شافعی (رحمه الله) په مذهب باندي په دي صورت کي حنفي ته عمل کول صحیح نه دي دخپل مذهب موافق دي هرومرو قصر کوي قصر کول واجب دي (۴) نور نوکه هغه ځانته لمونځ وکړی نو صحیح سو اوکه امام جوړ سو نو دمقتدیانو لمونځ یي ونه سو. (۵) فقط

**که یي چیري لومړي دپنځلسو ورځو داقامت نیت وکړي نو په شاوخوا تګ راتګ راباندي به**

---

(١) قاصد مسيرة ثلاثة أيام ولياليها من أقصر أيام السنة ولا يشترط سفر كل يوم إلى الليل بل إلى الزوال ولا إعتبار بالفراسخ على المذهب (درمختار) قال في النهاية أي التقدير بثلاث مراحل قريب من التقدير بثلاثة أيام الخ وكذا ما في الفتح من أنه قيل يقدر بأحد وعشرين فرسخا وقيل بثمانية عشر وقيل بخمسة عشر وكل من قدر عينها إعتقد أنه مسيرة ثلاثة أيام (رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣۴، ط.س. ج٢ ص١٢٢). ظفير

(٢) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣۵، ط.س. ج٢ ص١٢٣. ظفير

(٣) الفرسخ ثلاثة أميال والميل اربعة الاف ذراع (رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣۵، ط.س. ج٢ ص١٢٣. ظفير

(۴) والقصر لازم عندنا الخ والآثار في ذلك كثيرة وهى تدل إلى أن الفرض ركعتان وأن الإتمام منكر ولو كان جائزا بفعله عليه الصلوة والسلام مرة تعليما للجواز (غنية المستملي ص۴٩٩ – ۵٠٠). ظفير

(۵) فلو أتم مسافر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه ولكنه أساء لو عامدا، لتأخير السلام وترك واجب القصر وواجب تكبيرة إفتتاح وخلط النفل بالفرض الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٩، ط.س. ج٢ ص١٢٨). ظفير

**لمونځ پوره کوي**: **سوال**: (۲۲۰۴) دیوه آفیسر صدر ځای اسکندرآباد دی چي هلته دهغه ماشومان هم اوسیږي او دهغه ملازمت ددولسو میاشتو ددوري کولو دی داسکندر اباد څخه یوه لورته علاقه ۳۲ میله او یوه لوري ته پنځه میله او یوه لوري ته یوویشت میله او یوه لوري ته دوه ویشتو میلو ته څیرمه ده، په دوره کي په یوه ځای کي ترلسو ورځو ډیر قیام نه وي په دي صورت کي نوموړي افیسر ته په اسکندرآباد یا په نورو یادو سوو ځایونو کي قصر کول ښایي اوکه پوره لمونځ؟

**جواب**: قاعده دا ده چي داقامت په ځای کي چي ترڅو پوري دپنځلسو ورځو نیت په یوځل نه وي ترهغو پوري لمونځ قصر کول کیږي، اوپه دوره کي کله چي یوځای هم دشرعي مسافت یعني دقصر کولو وړ نسته نوکه یي اول په اسکندرآباد کي داقامت نیت کړی وي نو بیا په دوره کي قصر په یوه ځای کي هم نسته او که یې دسره په اسکندرآباد کي دپنځلسو ورځو داقامت نیت نه وي کړی او نه په نورو ځایونوکي دپنځلسو ورځو داقامت نیت سوی وي نو بیا دي برابر قصر کوي یعني په اسکندراباد کي هم اوپه دوره کي هم. ([1]) فقط

**دجهاز دملازم احکام**: **سوال**: (۲۲۰۵) [۱] ځیني خلګ لیري ملکونو دساري په توګه رنګون یا بل ځای ته ولاړ سي اوپه داسي جهازونوکي نوکري کوي چي دهغو دخپل ښار او بندر څخه پرته بل لورته تلل نه وي، بلکه په همدغه ښارکي دیوه او بل جهاز دتللو او راتللو لپاره دلاري صفا کولو کار کوي؟

**کم خلګ چي تل پرګوادر باندي اوسیږي**: **سوال**: (۲۲۰۶) [۲] او ځیني خلګ دداسي جهازونو نوکري کوي چي هغه تل پرګوادر (بندرګاه) باندي تړلي اوسي او همیشه پرخپل ځای باندي ثابتي اوسي.

**څوک چي تل په سفر سفر کي وي**: **سوال**: (۲۲۰۷) [۳] ځیني خلګ په تجارتي جهازونو کي نوکران وي چي دهغو کار یواځي دیوه ښاره بل ښار ته تلل وي یو ځای یي هم دپاته کیدو ډاډ نه وي، هو کله کله په ښارکي میاشت یوه نیمه پاته سي لیکن ملازمان په دي هکله دافسر تابع وي بلکه هغوی خبر هم نه وي چي جهاز به ترکمه وخته تم وي اوکله به روانیږي په دي دري واړو صورتونو کي دجهاز ملازمانو ته قصر کول ښایي او که پوره لمونځ کول؟ او ایا په دي صورتونو کي څه توپیر سته؟

**جواب**: [۱-۲] په لومړي او دویم صورت کي دا خلګ مقیم دي، پوره لمونځ به کوي ځکه

---

([1]) لا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او أكثر وإن نوى أقل من ذلك قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٨). ظفير

چي كله دوى رنگون يا يوه بل ښار ته دمزدوري لپاره ولاړل او هلته يي دپنځوسو يا ډيرو ورځو دپاته كيدلو نيت وكړ او بيا يي په داسي جهازونو كي نوكري پيل كړه چي سفر نه كوي نو هغوى مسافر نه سول ځكه به نو پوره لمونځونه كوي.

[٣] اوپه دريم صورت كي هغوى مسافر دي قصر لمونځ به كوي. په لومړيو دوو صورتونو كي دپوره لمونځ كولو دليل ددرمختار دا عبارت دى: حتى يدخل موضع مقامه الخ او ينوى إقامة نصف شهر بموضع واحد صالح لها من مصر او قرية الخ (١) او ددريمي مسئلي دليل دادى: فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منه اى من نصف شهر او نوى فيه لكن في غير صالح كبحر او جزيرة الخ او لم يكن مسقلا برأيه الخ (درمختار) قوله او لم يكن مستقلا برأيه عطف على قوله إن نوى اقل وصورته نوى التابع الإقامة ولم ينوها لمتبوع اولم يدر حاله فانه لا يتم الخ شامي. فقط

**په كم ځاى كي چي دپنځلسو ورځو داوسيدو نيت نه وي لمونځ دي قصر كوي: سوال:** (٢٢٠٨) دزيد اصلي وطن دهلي دى او داقامت ځاى يي په صدر مقام كانپوركي دى اوپه صدر مقام كي دده دقيام موده پنځلس ورځي نه جوړيږي نوداقامت په ځاى كي زيد دقصر لمونځ كولاى سي اوكه نه؟

**جواب:** داقامت دځاى څخه په سفر كولو سره همدا وطن داقامت باطليږي (٢) وروسته كه يي چيري هلته دپنځلسو ورځو داقامت نيت ونه كړى نو لمونځ به قصر كوي. فقط

**دچا استوګنه چي دوه ځايه وي هغه به لمونځ څنګه كوي؟ سوال:** (٢٢٠٩) ديوه سړي داستوګني لپاره دوه ځايونه دي يو په كوټټه كي دى اوبل په جيكب آباد كي، په ګرمى كي په كوټټه كي اوسيږي اوپه يخنى كي په جيكب اباد كي، او ددواړو ځايونو تر مينځ دسفر مسافت دى كه چيري دى دكاروبار لپاره جيكب اباد يا كوټټې ته راځي نو قصر به كوي اوكه پوره لمونځ، دى چي هرځاى وي نو كورنۍ ټوله ورسره وي، او دګرمۍ او يخنۍ په ځايونو كي ودانۍ او دژوندانه وسائل موجود وي او بس.

**جواب:** كه يي چيري دواړه ځايونه اصلي وطن او داستوګني ځاى ګرځولى وي اوپه دواړو ځايونو كي يي ودانى او سامانونه وي اوكورنۍ او ماشومان يي هم په دواړو ځايونو كي وي، نوپه دواړو ځايونوكي به لمونځ پوره كوي قال في الشامى من شرح المنية ولو كان له اهل ببلدتين فأيتهما دخل صار مقيما الخ. فقط

**كم ځاى چي مسلسل دپنځلسو ورځو داقامت نيت نه وي قصـــر دي كوي؟ سوال:** (٢٢١٠)

---

(١) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢ – ٧٣٧، ط.س. ج٢ ص١٢٤. ظفير

(٢) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٧ – ٧٣٨، ط.س. ج٢ ص١٢٥. ظفير

موږ دپنځلسو کلونو راهيسي دتراوړي په ښارګوټي کي سوداګري کوو مالونه راوړو او پلورو او دي ځای ته تر راتللو وروسته کليو ته ولاړسو، ليکن په کرايه باندي مو کور نيولی دی دکور څخه چي کله موږ راسو نو څلور پنځه مياشتي اوسيږو، ليکن پنځه لس ورځي ايسارتيا نه وي دوې ورځي دباندي ولاړسو او دوې ورځي په تراوړي کي اوسو نيت مو دا وي چي څلور مياشتي وروسته به وطن ته ځو نو لمونځونه به قصر کوو اوکه پوره؟

**جواب**: کله چي په هغه ځای کي چي تاسو هلته دتجارت لپاره ځی دپنځلسو ورځو دقيام نيت نه وي بلکه نيت مو دا وي چي ددوو دريو ورځو ساه جوړولو وروسته به کلو ته وزو، او په ځينو کلو کي دوه ورځي په ځينو کي به څلور ورځي اوسو په دي توګه څلور پنځه مياشتي تيروی نو په دي صورت کي لمونځ قصر کول ښايي. *کذا فی کتب الفقه.* ([1])

**ددوو کورو دلرونکي حکم**: **سوال**: (٢٢١١) ديوه سړي دوه کورونه دي ددواړو کورونو تر مينځ دسفر مسافه ده هر ځای چي وي ماشومان دځان سره ساتي ښځه يي يوه ده په يوه کور کي، نوکه چيري دکاروبار لپاره بل کورته راسي چي عيال يي دځان سره نه وي راوستلی نو قصر به کوي اوکه نه؟

**جواب**: که يي چيري دواړه وطنه اصلي ګڼلي وي او په هغوکي يي ديوه دپريښودلو اراده نه وي کړي، او داسي يي نه وي کړي چي يو ځای يي پريښی وي اوپه بل ځای کي استوګنه غوره کړي وي نو دواړه وطنه يي اصلي دي په دوی کي به په هريوه کي لمونځ پوره کوي، والتفصيل في شرح المنية. ([2]) فقط

**چي معلومه نه وي چي څومره وخت به قيام کوي**: **سوال**: (٢٢١٢) موږ په فيلډ باندي راغلي يو زموږ حال دادی چي موږ ته معلومه نه ده چي موږ په خپل قيام کي څومره موده تم يو يا څومره سفر به کووليکن ډير ځلي په سفر کي داسي وي چي تر لسو پنځلسو ميلونوزيات تلل نه وي دقيام په هکله دومره معلوميږي چي کيدی سي دلته يوه مياشت پاته شو اويا به ددي ځايه لس ورځي وروسته وکوچيږو لنډه دا چي موږ په خپل

---

([1]) لا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر وإن نوى أقل ذلك قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٨). ظفير

([2]) فالأصلي وهو مولد الإنسان او موضع تأهل به الخ وفي المبسوط هو الذي نشأ فيه او أوطن فيه او تأهل كقوله او توطن فيه يتناولها عزم القرار فيه وعدم الإرتحال وإن لم يتأهل فعلي هذا لو عزم من له أبوان في بلد على القرار فيه وترك الوطن الذي كان قبله له يكون وطنا له ولو تزوج المسافر ببلد ولم ينو الإقامة به فقيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما وهو الأوجه لما مر من حديث عثمان ولو كان له اهل ببلدتين فأيتهما دخلها صار مقيما وإن ماتت زوجته في أحديهما وبقى له فيها ورد عقار الخ (غنية المستملي ص٥٠٥). ظفير

واك كي نه يو په داسې حالت كي به موږ قصر لمونځ كوو اوكه پوره؟ كله چي دقيام او سفر هيڅ حال معلوم نه دی؟

**جواب:** په داسي حالت كي تاسو لمونځ پوره كوی ځكه چي دا اصل دی اودمشرانو دنيت حال معلوم نه دی. ([1]) فقط

**که مسافر دماپښين پوره څلور رکعته وکړل نو اعاده واجبه ده: سوال:** (۲۲۱۳) مسافر سهوا دماپښين څلور ركعته وكړل نو دلمانځه اعاده واجبه ده اوكه نه؟

**جواب:** إعاده دي وكړي وجوباً. ([2])

**مسافر امام قصدا څلور رکعته وکړل نودمقتدي لمونځ وسو: سوال:** (۲۲۱۴) مسافر امام قصدا دماپښين لمونځ څلور ركعته وكړی او ورته معلومه ده چي قصر كول ښايي نو دمقتديانو لمونځ وسو اوكه نه؟ مقتدي ته دلمانځه دكولو وروسته معلومه سوه چي قصدا يې څلور ركعته كړي دي نو مقتدي څه وكړي او دامام څه حكم دی؟ دواړه حنفيان دی. بينوا تؤجروا !

**جواب:** دمقتديانو لمونځ ونه سو او دامام فرض ادا سو كه يې چيري منځنۍ قعد۔ كړي وي ليكن دواجبو دتاخير له أمله دسجده سهوي نه كولو په صورت كي وربانډي اعاده لازمه ده. ([3]) فقط

**څوک چي پرکمه لاره باندي سفر کوي دهغه اعتبار دی: سوال:** (۲۲۱۵) [۱] دري كسان يوه داسي ځای ته ولاړل چي دهغې مختلفي لاري نابرابر اوږدوالی لري يو سړی پرسيده لاره باندي ځي چي هغه ديرش منزله ده بل سړی دپاخه سړك پرلاره ځي چي هغه دچكر په وهلو سره تير سوی دی او مسافت يې شپږ ديرش منزله دی او دريم سړی دريل په ذريعه ځی چي په چكر سره ځي او مسافت يې څلويښت منزله دی په دي صورت كي به دوهم او

---

([1]) ولم يكن مستقلا برأيه كعبد او إمرأة اوبلدة ولم ينوها اى مدة الإقامة الخ ولو بقى سنين الخ والمعتبر نية المتبوع لأنه الأصل لا التابع كامرأة الخ وعبد الخ وجندى إذا يرتزق من الأمير او بيت المال وأجير وأسير وغريم وتلميذ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۳۸، ط.س. ج۲ ص۱۲۲). ظفير

([2]) فلو أتم مسافر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه ولكنه أساء ولو عامدا لتأخير السلام وترك الواجب القصر الخ وهذا لا يحل كما حرره القسهتاني بعد أن فسر ساء باثم واستحق النار (درمختار) فعلم ان الاساءة هنا كراهة التحريم (ردالمحتار باب صلاة المسافر ج۱ ص۷۳۹ – ۷۴۰، ط.س. ج۲ ص۱۴۸). ظفير

([3]) فلو أتم سفر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه ولكنه أساء الخ وما زاد نفل كمصلي الفجر اربعا وان لم يقعد بطل فرضه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۳۹ – ۷۴۰) مقتديان چي مقيم وي دهغوی لمونځ ځکه نه کيږي چي دمفترض لمونځ په متنفل پسې صحيح نه دی، او په پوښتل سوي صورت کی دأمام باقی دوه رکعته نفل سول. والله أعلم. ظفير

دريم مسافر بلل کيږي اوکه نه؟ او په دري واړو لارو کي به کمه يوه سمه بلله کيږي؟

**په کم مسافت ګڼلو سره له پوره لمونځ کولو وروسته ورته په تحقيق سره معلومه سوه چي دقصر مسافت وو نوڅه وکړي؟** **سوال**: (٢٢١٦) [٢] يو سړی يوه ځای ته ولاړی چي دهغه ځای مسافت دتحقيق څخه وروسته په خپل فکر دسفر داندازې څخه کم ګڼي ځکه نو هغه لمونځونه پوره کوي ځلور پنځه ورځي وروسته ورته معلومه سوه چي مسافت دسفر دحد څخه ډير دی او هغه پوره لمونځونه کړي وه نو دهغو اعاده لازمه ده اوکه نه ؟ او بل سړی په داسي ځای کي چي دشرعي مسافت څخه کم وو هلته يي دشرعي مسافت په خيال باندي قصر کوی څو څو ورځي وروسته ورته معلومه سوه چي دا مقام دسفر له حد څخه لږ دی نو دی به دهغو لمونځونو اعاده کوي اوکه نه؟

**دسفر دلمونځونو قضا راوړل به دقصر په صورت کي وي**: **سوال**: (**٢٢١٧**) [٣] په سفر کي چي کم لمونځونه قضا سوي وي هغه به په حضر کي پوره کوي اوکه قصر به کوي، اوپه سفر کي چي کم لمونځونه پوره وکړل سول دهغو اعاده وکړي اوکه وسوه؟

**جواب**: [١] په کمه لاره چي څوك سفر کوي دهغي لاري اعتبار دی. ځکه نو دوهم او دريم شرعي مسافر دي هغوی به قصر کوي. ([١])

[٢] لومړنی سړی که چيري په مينځنۍ قعده کي ناست پاته سوی وي نو دهغه فرض لمونځ وسو، اعاده يي فرض نه ده او دويم سړی دي ددغو لمونځونو اعاده وکړي. ([٢])

[٣] ددي حکم دا دی چي دسفر دقضا سوو لمونځونو قضا دي په حضر کي هم په قصر سره وکړي ([١]) اوکم لمونځونه چي په سفرکي پوره کړل سوي دي که چيري يي په هغوکي لومړی قعده کړي وه نو هغه وسول. ([٢]) فقط

**کله چي معلومه نه وي چي څو ورځي قيام به وکړل سي نو څه به کوي؟** **سوال**: (٢٢١٨) زيد بکر ته حکم وکړی چي ته په فيلډ باندي ولاړ سه او دفيلډ ځای يې بصره وګرځوله ليکن دا يقين نسته چي پنځلس ورځي قيام به وي او که کم يا زيات او ځينو خلګو ته حکم کيږي چي ته به په دي ځای باندي مستقل اوسيږي. اوچاته حکم وسي چي که کم

---

([١]) ولو لموضع طريقان أحدهما مدة السفر والآخر أقل قصر في الأول ولا الثاني (درمختار) أي ولو كان إختيار السلوك فيه بلا غرض صحيح خلافا للشامي كما في البدائع (رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٥، ط.س. ج٢ ص١٢٣). ظفير

([٢]) فلو أتم مسافر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه ولكنه أساء الخ وما زاد نفل الخ وإن لم يقعد بطل فرضه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٩ – ٧٤٠، ط.س. ج٢ ص١٢٨) او دوهم سړي دڅلورو پرځای دوه رکعته وکړل ځکه نو له سره دهغه لمونځ ونه سو، بقى من المفسدات ارتداد بقلبه وموت الخ وترك ركن بلا قضاء (ايضا باب ما يفسد الصلوة ج١ ص٥٨٨ – ٥٨٩ ، ط.س. ج١ ص٢٢٩). ظفير

ځای غوښتنه وسوه ته به هلته ولیږل سي لیکن ددې خبري هیڅ ته هم پوخ یقین نسته چي څو ورځي قیام به دلته وي نوپه دي صورت کي لمونځ قصر کول ښایي اوکه پوره؟

**جواب**: په داسي متردد حالت کي لمونځ قصر کول په کار دی. (³) فقط

**مسافر سنت او نوافل پرېښوولای سي اوکه نه؟ سوال**: (۲۲۱۹) مسافر ته دسنتو او نوافلو دکولو په هکله څه حکم دی که یي پرېږدي نو ګناهګار به وي اوکه نه؟

**جواب**: داحنافو مذهب دادی چي که چیري مسافر دامن او قرار په حالت کي وي او په تلوار او تګ کي نه وي نو سنت او رواتب دي ادا کوي. اوکه چیري دامن اوقرار حالت نه وي بلکه توندي وي او بیره وي نو سنت دي پرېږدي په درمختار باب صلوة المسافر کي دي: ویأتي المسافر بالسنن إن کان في حال أمن وقرار وإلا بأن کان في خوف واضطرار لا یأتي بها هو المختار الخ (⁴). فقط

**کم سړی چي تل په دوره کي وي هغه به څنګه لمونځونه ادا کوي؟ سوال**: (۲۲۲۰) یو سړی دنوکری دپاره په یوه داسي ځای کي ټاکل سوی دی چي تل دوره کوي او هغه پنځلس ورځي هیڅیري هم قیام نسي کولای په دي صورت کي چي کله هغه ددرو منزلو سفر وکړي اوخپلي حلقي ته ورسیږي نوبیا به هغه قصر لمونځ کوي اوکه پوره؟

**جواب**: مسئله داده چي داقامت وطن یعني په کم ځای کي چي هغه دملازمت یا بل څه لپاره مقیم دی نوچي کله دهغه ځای څخه ددریو منزلو دسفر اراده وکړي هغه وطن داقامت باطلیږي نوکه چیري دوري ددریو منزلو یا زیاتو څخه وروسته بیرته هلته یعني داقامت ځای ته راسي که هلته دپنځلسو ورځو داقامت نیت وکړي نو لمونځ دي پوره کوي او که چیري دپنځلسو ورځو دپاته کیدلو اراده نه وي نو قصر کول ښایي. (⁵) فقط

---

(¹) والقضاء یحکي اي یشابه الأداء سفرا وحضرا لأنه بعد ما تقرر لا یتغیر (درمختار) قوله سفرا وحضرا اى فلو فاتته صلوة السفر وقضا في الحضر یقضیها مقصورة کما لو اداها وکذا فائتة الحضر تقضي في السفر تامة (رد المحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۵، ط.س. ج۲ ص۱۳۵). ظفیر

(²) فلو أتم مسافر إن قعد في القعدة الأولی تم فرضه الخ (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۳۹، ط.س. ج۲ ص۱۲۸). ظفیر

(³) والمعتبر نیة المتبوع لأنه الأصل لا التابع کإمرأة الخ وعبد الخ وجندي واجیر الخ ولا بد من علم التابع بنیة المتبوع فلو نوی المتوع الإقامة ولم یعلم التابع فهو مسافر حتی یعلم علی الأصح (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۵، ط.س. ج۲ ص۱۳۳) او لم یکن مسقلا برأیه الخ او دخل بلدة ولم ینوها اى مدة الإقامة بل ترقب السفر الخ (ایضا ج۱ ص۷۳۸، ط.س. ج۲ ص۱۲۲). ظفیر

(⁴) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۲، ط.س. ج۲ ص۱۳۱. ظفیر

(⁵) ویبطل وطن الإقامة بمثله وبالوطن الأصل وبانشاء السفر (درمختار) قال في البدائع لو قام خراسانی بالکوفة نصف شهر ثم خرج منها إلی مکة فقبل أن یسیر ثلاثة ایام عاد إلی الکوفة لحاجة فإنه یقصر لان وطنه قد بطل =

**له نيته پرته په سفركي قصر نسته**: **سوال**: (٢٢٢١) يوه سړي دسيل نيت وكړي ليكن دكم ځاى نيت يي نه دى كړى په مياشتو اوكلونو په سفر وو هغه به لمونځ قصر كوي كه پوره؟

**جواب**: كم سړى چي له پيله ديوه ځاى څخه ددريو ورځو دسفر نيت ونه كړي هغه دي لمونځ پوره كوي قصر دي نه كوي. ([1]) ومن طاف الدنيا بلا قصد لم يقصر ([2]). فقط

**څوك چي ګرځنده تجارت كوي او هيچري هم ديوې شپې څخه زيات نه پاته كيږي هغه به څنګه لمونځ ادا كوي؟** **سوال**: (٢٢٢٢) يو سړى دكورڅخه وتلى دديرشو يا څلويښتو منزلو په فاصله باندي دڅلوېښتو يا پنځوسو يا زيات مسافت په مينځ باندي ګرځي او سوداګري كوي او په هيڅ ښاركي ديوي شپي څخه ډير نه اوسيږي دا سړى په لمانځه او روژه كي دمسافر حكم لري اوكه نه؟

**جواب**: دغه سړى مسافر دى دسفر احكام به وربانديي جاري كيږي او لمونځ به قصر كوي ([3])

**چي مسافر دمقيم امام اقتداء په دريم ركعت كي وكړي نو هغه به لمونځ څنګه ادا كوي؟**

**سوال**: (٢٢٢٣) [١] امام مقيم دى كله چي امام دماپښين يا دماسخوتن دوه ركعته وكړل نو يو مسافر ورسره په دريم ركعت كي ګډ سو نو ايا مسافر به ددوه اخري ركعتو څخه وروسته دامام سره سلام ګرځوي اوكه نور دوه ركعته ډك به كوي بيا به سلام ګرځوي؟

**چي مسافر دمقيم امام اقتداء وكړي نو دڅلورو ركعتو نيت به كوي اوكه ددوو؟** **سوال**: (٢٢٢٤) [٢] امام مقيم دى نو مسافر به وروپسي ددوو ركعتو نيت تړي اوكه دڅلورو؟

**جواب**: [١] دوه ركعته دي نور هم وكړي. ([4])

[٢] دڅلورو نيت به كوي. ([5]) فقط

---

= بالسفر (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٣، ط.س. ج٢ ص١٣٢). ظفير

([1]) ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر وإن نوى أقل ذلك قصر الخ (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٢). ظفير

([2]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢٢. ظفير

([3]) ولايزال على حكم السفر حتى ينوى الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر وان نوى اقل من ذلك قصر الخ ولو دخل مصرا على عزم ان يخرج غدا او بعد غد ولم ينو مدة الإقامة حتى بقى على ذلك سنين قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفير

([4]) إن إقتدي مسافر بمقيم أتم اربعا (عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣٣، ط. ماجدية ج١ ص١٤٢). ظفير

([5]) ايضا. ظفير

**ګارډ اوډرایور به قصر کوي اوکه نه؟ سوال**: (٢٢٢٥) دریل ګارډي او ډرایور چي سفرونه کوي روزانه ددوه سوه میله مزل څخه وروسته اته ساعته ارام او قیام کوي په هغه کي به قصر لمونځ کوي اوکه داهل اخبیه وو په څیر به پوره لمونځ کوي؟

**جواب**: ښکاره خبره ده چي ګارډ اونور هغه خلګ چي روزانه سفرونه کوي هغوی به قصر لمونځ کوي، او اهل اخبیه کوچیان هم اتمام هغه وخت کوي چي داقامت نیت وکړي، او ښکاره ده چي ګارډ اوداسي نور خلګ دپنځلسو ورځو داقامت نیت نه کوي (١) بخلاف أهل الأخبية نووها في المفازة فانها تصح في الأصح الخ. (٢) فقط

**چي په خپله تجارت په یوه ښار کي کوي او ماشومان یي په بل ښار کي وي نو هلته به لمونځ څنګه ادا کوي؟ سوال**: (٢٢٢٦) دیوه سړي یه همدي ښارکي دوکان دی او دهغه ماشومان په بل ښارکي اوسیږي چي دهغه ځایه تر دي ښاره تر ۴۸ میله ډیره مسافه ده او دا دوکاندار دماشومانو دخبر اخیستني لپاره کله کله ځي نو آیا هلته به قصر کوي اوکه نه؟

**جواب**: قصر دي کوي. (٣) فقط

زید ګرځنده تجارت کوي اوسامان په یوه ځای کي ایږدي لیکن دی هلته دیوي اونۍ څخه زیات نه اوسي نوهغه به **لمونځ پوره کوي اوکه به قصر کوي؟ سوال**: (٢٢٢٧) زید دخپل تجارت سامانونه له خپل وطن څخه سل میله لري وړي دي او هلته یي یوځای په کرایه باندي اخیستی دی او له هغه ځایه سامان وړي او بهر یي په کلو او بانډو باندي خرخوي، دبهر ځایونو څخه کله اونۍ وروسته کله لس ورځي وروسته خپلي خوني ته راسي دوه دری ورځي تر یوي هفتي پوري هلته قیام وکړي بیا سامان واخلي ولاړسي او هغه خرڅ کړي په لسو اتو ورځوکي بیرته راسي همدا ډول څلور، شپږ ورځي تیري کړي او اصلي وطن ته بیرته راسي نو زید چي په کم ځای کي دتجارت سامان ایږدي هغه یي داقامت وطن جوړیږي اوکه نه؟ او زید لره قصر لمونځ کول ښایي اوکه نه؟

**جواب**: که یي چیري اول په همدغه ځای کي پنځلس ورځي داقامت نیت کړی وي (٤) نو په دي صورت کي به دی هلته اوشا اوخوا کلیوکي ترکمه ځایه چي دقصر مسافت نه وي

(١) ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفير

(٢) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٨، ط.س. ج٢ ص١٢٧. ظفير

(٣) لا يزال على حكم السفر حتى ينوى الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفير

(٤) ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر (عالمگيري مصري ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٩). ظفير

لمونځ پوره کوي اوکه چيري يي داقامت په ځای کي اول هم دپنځلسو ورځو دقيام نيت نه وي کړی نو بيا به برابر قصر کوي. فقط

**کم بيړي ترونکي چي په درياب کي اوسيږي هغه به قصر کوي اوکه پوره لمونځ؟ سوال:** (٢٢٢٨) دپنجاب خلګ په جمنا او نورو دريابو کي بيړۍ تړي، يعني لرګي، کړی او نور شيان دځنګلونو څخه راوړي په درياب کي غورځوي او نورو ښارونو ته يي ددرياب دلاري رسوي او غالبا نهه مياشتي په همدي سفر کي اوسي، يوځای لس ورځي يوځای شل ورځي او يوځای کم او ډير اوسيږي دهغوی سفر (يون) په درياب کي وي، په لرګو باندي ناست وي او روان وي په کومو ځايوکي چي لرګي تړي هلته يي قيام ډير وي کله ددرياب څخه بهر راووزي او ډوډی يا نورڅه پاخه کړي دهغوی لپاره دلمانځه دکولو څه حکم دی؟ او هغوی ته قصر لمونځ کول په کار دي اوکه نه ؟

**جواب:** هغوی ته قصر لمونځ کول ښايي کله چي يي سفر دري منزله يا ددې څخه زيات دی او لمونځ ترخپله وسه په خپل وخت باندي کول ښايي اوغوره خبره داده چي لکه څنګه چي دډوډۍ اونورو اړتياوو لپاره غاړي ته راوزي همدا ډول دي دلمانځه لپاره هم کوي. ([1]) او هغوی ته پر کړو، تختو او نورو شيانو باندي په تللو سره هم لمونځ کول صحيح دي، لکه څرنګه چي په بيړۍ کي جائز دی. ([2]) فقط

**کم مسافر چي وطن ته درسيدلو وروسته هم په ناپوهي سره قصر کوي نو په هغه باندي او دهغه په مقتديانو باندي اعاده لازمه ده: سوال:** (٢٣٢٩) زيد دسفر په حالت کي قصر لمونځ ادا کوی اوس اصلي وطن ته ورسيدی ده له دي کبله چي مسئله ورته معلومه نه وه نو په وطن کي دقيام په مهال يي هم قصر لمونځ کوی که به يي امامت وکړی نوهم به يي قصر کوی نو په دي صورت کي دامام او مقتديانو لپاره څه حکم دی؟

**جواب:** په دي صورت کي چي هغه څومره لمونځونه په خپل اصلي وطن کي په قصر سره کړي دي دهغو قضايي دده په ذمه او دهغو خلګو په ذمه ده چا چي په ده پسي لمونځونه کړي دي. ([3])

---

([1]) وإن نوى الإقامة أقل من خمسة عشر يوما قصر (عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ص١٣١، ط. ماجدية ج١ ص١٣٩). ظفير

([2]) أما الصلوة في السفينة فالمستحب أن يخرج من السفينة للفريضة إذا قدر وإذا صلى قاعدا في السفينة وهى تجري مع القدرة على القيام تجوز مع الكراهة الخ (عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣٤، ط. ماجدية ج١ ص١٤٣). ظفير

([3]) الوطن الأصلي هو موطن ولادته او تأهله او توطنه يبطله بمثله إذا لم يبق بالأول أهل فلو بقى لم يبطل بل يتم فيهما (درمختار) اى بمجرد الدخول وإن لم ينو إقامة (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢ – ٧٤٣، =

**مقيم مقتدي به په مسافر امام پسي لمونځ څنګه پوره کوي؟ سوال:** (٢٢٣٠) امام مسافر دى او مقتديان مقيم دي او لمونځ څلور رکعته دى کله چي امام دوه رکعته پوره کړل نو هغه سلام وګرځوى اوس مقتديان الحمد ووايي که په پټه خوله دريدلو وروسته رکوع وکړي؟

**جواب:** کله چي امام مسافر وي نو مقتديان دي پاته لمونځ له قراءت او فاتحي پرته پوره کړي، وصح إقتداء المقيم بالمسافر في الوقت وبعده فاذا قام القيم إلى الإتمام لا يقرء. ([1]) فقط

**کم ځای چي واده وکړي هغه دوطن په حکم کي دی اوکه نه؟ سوال:** (٢٢٣١) [١] مثلا دديوبند اوسيدونکی زيد نکاح په اله اباد کي وکړه نو اوس يوازي په نکاح کولو سره به اله اباد دزيد اصلي وطن جوړيږي اوکه هلته سکونت غوره کول هم شرط دي، دمراقي الفلاح او درمختار څبنتنان يوازي تزوج ليکي او په کبيري او نورو کي دسکونت قيد لګيدلی دی فتوی په کم قول باندي ده؟

**چي ښځه دواده څخه وروسته دمور او پلار کورته ولاړه سي او دپنځلسو ورځو څخه دلږو نيت وکړي نو قصر به کوي او که پوره لمونځ؟ سوال:** (٢٢٣٢) [٢] دنکاح څخه وروسته چي کله ښځه دخپل خاوند ځای ته ولاړه سي که چيري بيا دمور او پلار کورته ځي اودپنځلسو ورځو څخه دلږ قيام اراده لري نوقصر به کوي اوکه نه؟

**دخسرګنۍ کورته ولاړي او لمونځ يي پوره وکړي ددي څه حکم دی؟ سوال:** (٢٢٣٣) [٣] که چيري نومورړی زيد دديوبند اوسيدونکی اله اباد ته ولاړ سي اوپوره لمونځ کوي او مقيمينو ته پوره لمونځ ورکوي نو داعادي اړتيا خو به يي نه وي ؟

**جواب:** [١] شامي ددرمختار ددي قول (تأهله) لاندي دمنيي دشرحي څخه نقل فرمايلی دی: ولو تزوج المسافر ببلد ولم ينو الإقامة به فقيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما وهو الأوجه الخ ([2]) ددي څخه معلومه سوه چي يوازي په تزوج يعني واده کولو سره هلته مقيم کيږي همدا اصحه او اوجهه ده يعني چي هلته ولاړ سي نو لمونځ پوره کول ښايي.

[٢] پوره لمونځ دي کوي ځکه چي هغه هم ددي اصلي وطن دی. ([3])

---

= ط.س. ج٢ ص١٣١). ظفير

([1]) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٠، ط.س. ج٢ ص١٣٠. ظفير

([2]) ردالمحتار باب صلوة المسافر مطلب في الوطن الأصلي ووطن الإقامة ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٣١. ظ

([3]) الوطن الأصلي هو موطن الأصلي هو موطن ولادته او تأهله او توطنه (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر مطلب في الوطن الأصلى الخ ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٣١). ظفير

[٣] ددي حكم دلومړي جواب څخه معلوم سو چي هغه ته پوره لمونځ كول په كار دي. فقط

**دسفر په حالت كي له كومه وخته قصر واجبيږي؟ ايا پوره لمونځ نسي كولاى؟ سوال**: (٢٢٣٤) دسفر په حالت كي دلمانځه قصر څه وخت واجب ګرځي، او دقصر دواجبوالي په مهال كه چيري دثواب لپاره پوره لمونځ ادا كړل سي، نو صحيح دی اوكه نه؟

**جواب**: كم وخت چي دقصر دمسافت په اراده يعني ددريو منزلو په اراده دښار څخه ووزي او دكلي له ودانيو څخه بهر سي نو له هغه وخته دي دقصر لمونځ پيل كړي. ([١]) اوپه سفر كي پوره لمونځ كول ممنوع دي، يواځي دقصر حكم دی، او كم حكم چي دشريعت دی دهغه پابندی كول ښايي. ([٢])

**چي مسافر امام دلومړی قعدي څخه پورته سي او دريم ركعت ورسره يوځاى كړي نودمقتدي لمونځ به فاسد سي اوكه نه؟ سوال**: (٢٢٣٥) مسافر سړي امامت وكی او دلومړی قعدي وروسته چي هغه دده په حق كي فرض ده ولاړ سو او دريم ركعت يي په سجده باندي مقيد كړی ددي سره دمقيمو مقتديانو لمونځونه فاسد سوه اوكه نه؟ او په درمختار باب المسافر كي ددي قول لم يصر مقيما لاندي ليكي: فلو أتم المقيمون صلوتهم معه فسدت لأنه إقتداء المفترض بالمتنفل ظهيريه. اى إذا قصد متابعته اما لو نووا مفارقته ووافقوه صورة فلا فساد أفاده الخير الرملي ([٣]) وايضا قال صاحب رد المحتار در منح الخالق حاشيه بحر الرائق باب مسافر قال الرملى يجب تقييده بما إذا لم ينووا مفارقته أما إذا نووا مفارقته لا تفسد صلوتهم وإن وافقوه في الإتمام صورة إذ لا مانع من صحة مفارقته بعد إتمام فرضه الخ ج٢ ص١۴٢ بحر الرائق. په دې صورت كي څه حكم دی؟

**جواب**: دا مسئله همدغه ډول ده لكه څنګه چي په ردالمحتار او بحرالرائق كي منقوله ده، نوموړی تقييد ضروري دی. فقط (يعني دپيروي په نيت سره كه چيري مقتدي لمونځ پوره كوي نولمونځ به يي فاسد سي. ظفير)

**مسافر لره په مقيم امام پسي دځلورو ركعتونو نيت كول ښايي: سوال**: (٢٢٣٦) مسافر ته په

---

([١]) من خرج من عمارة موضع إقامته من جانب خروجه الخ قصدا الخ مسيرة ثلاثة أيام ولياليها من أقصر أيام السنة الخ صلى الفرض الرباعي ركعتين (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١). ظفير

([٢]) صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا لقول ابن عباس إن الله فرض على لسان نبيكم صلوة المقيم اربعا والمسافر ركعتين (درمختار) قوله وجوبا فيكره الإتمام عندنا حتى روى عن ابي حنيفة أنه قال من أتم الصلوة فقد أساء وخالف السنة شرح المنيه (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣۵، ط.س. ج٢ ص١٢٣). ظفير

([٣]) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴١، ط.س. ج٢ ص١٣٠. ظفير

مقیم پسي دماپښین په لمانځه کي دڅلورو رکعتو نیت کول ښایي اوکه ددوو، او کله چي دماپښین په لمانځه کي مقیم ته ددوو رکعتو وروسته قعده کول واجب دي، او مسافر ته فرض دي، نوپه کم دلیل دمسافر لمونځ په مقیم پسي کیږي؟

**جواب**: دڅلورو رکعتو نیت کول ښایي ځکه چي په مسافر باندي هم دمقیم په اقتداء کي څلور رکعته فرض کیږي او اوله قعدهورباندي فرض نه پاته کیږي. ([1]) فقط

**فوجیان به قصر کوي اوکه پوره لمونځ؟** **سوال**: (٢٢٣٧) دلته تقریبا دري سوه سړي اوسیږي او دا ټول دانګریزانو په توپخانه کي نوکران دي، او افسرانو ته هم دا معلومه نه ده چي دلته به څومره موده اوسیږي، نو دمازدیګر ماپښین اوماخستن لمونځ به څلور رکعته کوي اوکه دوه رکعته، که چیري ددوو رکعتو حکم وي او څلور رکعته وکړي نو لمونځ کیږي اوکه نه؟

**جواب**: په داسي حالت کي څلور رکعته کول ښایي ځکه چي که چیري دوه رکعته واجب وي اوڅلور وکړل سي په دي شرط چي منځنی قعده وکړي نو لمونځ کیږي. کذا في کتب الفقه. ([2]) فقط

**داقامت په وطن کي چي دپنځلسو ورځو نیت وي نو پوره لمونځ دي کوي کنې قصر دي کوي**: **سوال**: (٢٢٣٨) دزید اصلي وطن اله اباد دی او په انباله ښار کي نوکر دی تل په دوره کي اوسیږي په انباله کي یواځي یوې دوې ورځي پاته کیږي او دضلعي ځیني ځایونه له ٣٢ میله لیري دي او ځیني وخت انبالي ته څیرمه او دهغي په ګاونډ کي ګرځي راګرځي هغه ته لمونځ قصر کول په کار دي اوکه پوره؟

**جواب**: دزید اصلي وطن خو به اله اباد وي او انباله یې وطن اقامت دی که چیري هلته دپنځلسو ورځو دقیام نیت وکړي نو پوره لمونځ به کوي که نه وي قصر به کوي ([3]) اوکه یې په انباله کي دپنځلسو ورځو دقیام نیت وکړی او هلته یې لمونځ پوره وکړی نو بیا چي کله دانبالي په ګاونډ کي تر ٤٨ میله دسفر اراده ولري قصر به کوي که نه وي پوره لمونځ به کوي. ([4]) فقط

---

([1]) وإن إقتدى المسافر بالمقيم في الوقت أتم اربعا لأنه يتغير فرضه إلى أربع للتبعية (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفير

([2]) لأنه إجتمع في هذه الصلوة ما يوجب الاربع وما يمنع فرجحنا ما يوجب الأربع إحتياطا (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢٢) فلو أتم مسافر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه الخ وما زاد نفل (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٩، ط.س. ج٢ ص١٢٨). ظفير

([3]) او ينوي إقامة نصف شهر حقيقة او حكما الخ بوضع واحد صالح لها الخ فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منه اى من نصف شهر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢،ط.س. ج٢ ص١٢٥). ظفير =

**که مسافر سهوا دڅلورو رکعتو نيت وکړي نوڅو رکعته به کوي؟ سوال:** (۲۲۳۹) [۱] مسافر سهوا دڅلورو رکعتو نيت وتړی نو دوه رکعته وکړي اوکه څلور، او سجده سهوه وکړي که نه؟

**مسافر امام مقيم وګڼي او اقتداء يې ورپسي وکړه نوڅه به کوي؟ سوال:** (۲۲۴۰) [۴] يوه مسافر امام مقيم وګڼی او اقتداء يي ورپسي وکړه دسلام ګرځولو وروسته معلومه سوه چي امام مسافر وو، اوس هغه دامام سره سلام وګرځوي اوکه څلور رکعته پوره کړي؟

**جواب:** [۱] هغه دي هم دوه رکعته وکړي، او سجده سهوه دي نه کوي. (۱)

[۲] دامام سره دي سلام وګرځوي. (۲) فقط

**هغه ګارډ چي له کالکا څخه شملي ته ځي هغه به قصر کوي او که نه؟ سوال:** (۲۳۴۱) يو سړی په ريل کي ګارډ دی هره ورځ له کالګا نومي ځای څخه شملي ته په ګاډي کي ځي شپيته ميله فاصله ده، نوهغه ته لمونځ پوره کول ښايي اوکه قصر؟ که قصر ورته ښايي نو ددي څخه مخکي چي يې کم پوره لمونځونه کړي دي هغه وسوه اوکه نه؟ ددينه علاوه دسفر په دوران کي سنت کول ګران دي له ريل څخه دکښته کيدو په مهالل يواځي فرض ادا کوي؟ ټول څلور دقيقي مهلت وي او دريل په مينځ کي دلمانځه ځای اوګنجايش نسته او داسړی به په شمله او کالکا دواړو ځايونو کي مسافر ګرځول کيږي اوکه څنګه؟

**جواب:** په دي صورت کي لمونځ مسافرانه "قصر" کول ښايي (۳) اوکه چيري مخکي يي پوره لمونځونه کړي وي او مينځنی قعده يي کړي وي نو هغه لمونځونه وسوه دبيا راګرځولو اړتيا نسته (۴) او دسنتو قضا هم نسته (۵) اوپه کالکا او شمله دواړو ځايونوکي به هغه مسافر ګڼل کيږي. فقط

---

(۴) ويبطل وطن الإقامة بمثله وبالوطن الأصلي وبانشاء السفر الخ (ايضا ج۱ ص۷۴۳، ط.س. ج۲ ص۱۲۹). ظ

(۱) صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا لقول ابن عباس ﷺ إن فرض على لسان نبيكم صلوة المقيم اربعا و للمسافر ركعتين (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۳۵، ط.س. ج۲ ص۱۲۳) پاته سوه په نيت کي دشمېر غلطي نوددې هيڅ اعتبار نسته: لا بد من التعيين عند النية الخ لفرض الخ دون تعيين عدد ركعاته لحصولها ضمنا فلا يضر الخطأ في عددها (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب شروط الصلوة مطلب في النية ج۱ ص۳۸۸ – ۳۹۰، ط.س. ج۱ ص۴۱۸). ظفير

(۲) ايضا. ظفير

(۳) ولايزال على حكم السفرحتى ينوي الإقامة في بلدة اوقرية خمسة عشر يوما اواكثر وإن نوى أقل من ذلك قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج۱ ص۱۴۹). ظفير

(۴) فإن صلى اربعة وقعد في الأية قدرالتشهد اخرته والأخريان نافلة ويصير مسيئا لتاخير السلام (عالمګيري كشوري صلوة المسافر ج۱ ص۱۳۷، ط. ماجدية ج۱ ص۱۴۱). ظفير

(۵) ولا يقضيهما إلا بطريق التبعية لقضاء فرضها قبل الزوال لا بعده الخ بخلاف سنة الظهر وكذا الجمعة فإنه =

**چي دري منزله سفر وي نو قصر دي کوي**: **سوال**: (٢٢۴٢) که يو سړی تل په بحري سفر کي اوسي يا دجهاز نوکري کوي ياپه مياشت کي لس ورځي په جهازکي سفر کوي او لس پنځلس ورځي په خپل کورکي وي نو هغه به لمونځ قصر کوي اوکه پوره؟

**جواب**: په کمه زمانه کي چي په سفرکي اوسي او په جهاز کي سفر کوي په دي شرط چي سفر ددريو منزلو وي نو هغه به قصرکوي (١) اوکم وخت چي خپل وطن ته ورسيږي اوپه خپل وطن کي اوسي نو په هغو ورځوکي دي لمونځ پوره کوي (٢). فقط

**چي شپه يي دقيام په ځای کي تيريږي او دورځي چکر لګوي نوځه حکم دی؟** **سوال**: (٢٢۴٣) يو سړی درخصت ځخه وروسته راغی او په يوه داسي ځای کي وټاکل سو چي له هغه ځايه روزانه دري ځلور ميله تلل کوي ليکن دشپي خپل استوګنځي ته راځي دغه سړی مسافر دی او که مقيم؟

**جواب**: که چيري دي سړي په خپل استوګنځي کي لومړی دپنځلسو ورځو داوسيدلو نيت کړی وو نو هغه مقيم سو بيا که دورځي دوه دري ميله يوځای ته تګ را تګ کوي نو په دي سره هغه نه مسافر کيږي، هغه لره لمونځ پوره کول ښايي اوکه چيري بل ځای ته بدل سي نوهلته به هم همدا حکم وي. (٣)

**دجهاز کم نوکرته چي معلومه نه وي چي په کم ځای کي به ځومره وخت اوسيدل وي هغه دي قصر کوي**: **سوال**: (٢٢۴۴) زه په مال نومي جهاز کي نوکر يم جهاز تل په ليري ليري ملکونو کي ګرځيدل کوي کله په يوه ځای کي لس پنځلس ورځي، مياشت دوې مياشتي ولاړ اوسي ديوه ځايه بل ټاکل سوي ځای ته ځي او موږ ته شپږ اوه ، يا نهه لس مياشتي يا يوکال وروسته کور ته دتللو موقع په لاس راځي نوموږ ته په داسي حالت کي لمونځ قصر کول ښايي اوکه پوره؟

---

= إن خاف فوت ركعة يتركها ويقتدي ثم يأتي بها على أنها سنة في وقتها اى الظهر (درمختار) فلا تقضي بعده لا تبعا ولا مقصودا الخ (رد المحتار باب إدراك الفريضة ج١ ص٢٧٢، ط.س. ج٢ ص٥٧). ظفير

(١) ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر أو أكثر وإن نوى أقل من ذلك قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٩). ظفير

(٢) الوطن الأصلي الخ يبطل بمثله إذا لم يبق له بالأول أهل فلو بقى لم يبطل بل فيهما (درمختار) اى بمجرد الدخول وإن لم ينو إقامة (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴٢ – ٧۴٣، ط.س. ج٢ ص١٢٨). ظفير

(٣) وإن دخل اولا ما نوى البيت فيه يصير فيه مقيما ثم بالخروج إلى الموضع الآخر لا يصير مسافرا لأن موضع إقامة الرجل حيث يبيت فيه (ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٨، ط.س. ج٢ ص١٢٨) او ينوي الخ إقامة نصف شهر الخ موضع واحد الخ فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منها (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢٥). ظفير

**جواب**: په دي صورت كي تر څو چي خپل وطن ته رسيدلي نه يې په ټوله موده كي لمونځ قصر كول ښايي اوكله چي وطن ته ورسيدی نو هغه مهال به لمونځ پوره كوی. اوكم جهاز چي ديوه ټاكل سوي ځاي څخه بل ټاكل سوي ځای ته ځي دهغه دملازم هم همدا حكم دی. چي تل دي دسفر په حالت كي لمونځ قصر كوي. (١)

**يوسړی له دهغه لاری ولاړی چي قصر ورباندي كيږي او بيرته په هغه لاره راستون سو چي نه ورباندي كيږي نوپه بيرته راستنيدلو كي به قصر كوی اوكه نه؟** **سوال**: (٢٢٤٥) ديوه كلي دوې لاري دي كه چيري په ريل كي ځي نو قصر لازميږي اوپه پياده نژدي لاره باندي په تللو سره پوره لمونځ كيږي دي كلي ته يو سړی په ريل كي ولاړی او يو څو ورځي هلته واوسيدی قصر لمونځ يي كوی دبيرته راتلو په مهال پرپياده لاره باندي راغی نوكورته تر رسيدلو پوري به قصر كوي اوكه نه؟

**جواب**: په دي صورت كي به دبيرته راستنيدلو په مهال هم قصر كوي ترڅو پوري چي خپل وطن ته نه وي را رسيدلی، ځكه چي په دي كلي كي ده دپنځلسو ورځو دقيام نيت نه وو كړی، اودغه كلی يي تر دي وخته داقامت وطن نه وو جوړ سوی. (٢)

**دلس ميله تتلو وروسته يي دسفر نيت فسخ كړی نو اوس څه وكړي؟** **سوال**: (٢٢٤٦) زيد په سفر روان سو، دلس ميله تللو وروسته يي دسفر نيت فسخ كړی او وطن ته را واپس سو نو په واپسی كي به لمونځ قصر كوي اوكه نه؟

**جواب**: په دي صورت كي دي لمونځ پوره وكړي په عالمگيري كي دي: أما إذا لم يسر ثلثة أيام فعزم على الرجوع او نوى الإقامة يصير مقيما (٣) وإن كان في المفازة. فقط

**هغه مسافر چي نه مني دهغه څه حكم دی؟** **سوال**: (٢٢٤٧) زيد په سفركي دقصر معتقد نه دی يا معتقد خو دی ليكن قصر نه كوي په دواړوصورتونو كي څه حكم دی؟

**جواب**: شرعي سفر كوونكي مسافر ته قصر كول واجب دي څوك چي دقصر اعتقاد نه لري اويا يي نه كوي هغه عاصي او مبتدع دی او واجب پرېښودونكی دی كما بسط في الأحاديث، وتفصيله في كتب الفقه. (٤) فقط

---

(١) اودخل بلدة ولم ينوها اى مدة الإقامة بل ترقب السفر غدا اوبعده ولو بقى ذلك سنين (درمختار) قوله ولم ينوها وكذا إذا نوها وهو مترقب السفر كما في البحر لأن حالته تناف عزيمته (رد المحتار باب صلاة المسافر ج١ ص٧٣٨، ط.س. ج٢ ص١٢٢). ظفير

(٢) ولو لموضع طريقان احدهما مدة السفر والآخر أقل قصر في الأول لا الثاني الخ حتى يدخل موضع مقامه الخ او ينوى الخ إقامة نصف شهر (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٥ – ٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢٣). ظفير

(٣) عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٩. ظفير

**<u>په سفر کي دمنزل إعتبار دی اوکه دفرسخ؟</u> سوال**: (٢٢٤٨) قال في الهداية ولا عبرة بالفراسخ وهو الصحيح (١) آهـ وفي الدرالمختار: ولا إعتبار على فراسخ على المذهب (٢) إنتهى وفي حاشية الهداية قوله هو الصحيح إحتراز عن قول عامة المشائخ لانه قدروه بالفراسخ ثم اختلفوا فيما بينهم فقيل أحد وعشرون فرسخا وقيل ثمانية عشر وقيل خمسة عشر والفتوى على ثمانية عشر كذا في المحيط (٣) إنتهى، او دما لابد منه په حاشيه کي داسي دي چي په حنفي مذهب کي دميلونو او فرسخونو اعتبار نسته، او په عالمګیري کي دهدايي څخه راوړي دي: ولا تغير بالفراسخ او اته څلويښت ميله چي مصنف غوره کړي دي، دامام شافعي رحمه الله مذهب دی، کله چي داحنافو په نزد دميل او فرسخ اعتبار نسته نو دجهاز په سفرکي به په کم ډول قصر لمونځ کوو؟

**جواب**: اصل مذهب له شکه پرته دادی چي دمنازلو اعتباردی، يعني ددريو ورځو مسافه معتبره ده، ليکن ۴۸ ميله هم دري منزله کيږي، ځکه نومعمول به همدا وی، او په مالا بد منه کي هم همدا اخبره غوره کړل سويده. (٤) او ددرياب په سفرکي دکشتۍ او دجهاز مسافت ته اعتبار دی، يعني په دريو ورځوکي چي څومره مسافت دهوا داعتدال په مهال قطع کيږي په هغه مسافت کي دقصر حکم دی. (٥)

**<u>دخسر کور اصلي وطن دی</u>: سوال**: (٢٢٤٩) يو سړی دخپله اصلي وطنه ليري ځای ته چي دقصر مسافت لري دنکاح په تکل روان سو ښځه يي په نکاح کړه او خپل اصلي وطن ته يي راوړه او هغه ښځه دنکاح څخه وروسته دميړه په کورکي تقريبا شل کاله پاته سوه، مګر دپلار کور يې په زاړه ځای کي دی په دي صورت کي که دهغي ميړه کله کله دخسر کور يا دهغه ګاونډ ته دسفر اراده وکړي نو هلته به قصر کوي اوکه پوره لمونځ؟ ايا هغه يي وطن اصلي دی؟

**جواب**: کله چي هغه سړی چي په بل وطن کي يي نکاح کړي خپله ميرمن خپل اصلي وطن ته راولي اوپه خپله دميرمني داوسيدلو او پاييدلو په ځای کي اقامت ونه کړي او مستقر نه سي او نه يي ميرمن هلته پريږدي نو هغه ښار دده وطن نه سو، نو يوازي په

---

(٤) والقصر عندنا واجب كذا في الخلاصة (عالمګري صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط.س. ط. ماجدية ج١ ص١٣٩. ظ

(١) هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٨. ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٥، ط.س. ج٢ ص١٢٣. ظفير

(٣) حاشيه هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٨. ظفير

(٤) مګر وقتيکه قصد کنند دفعتا واحدة سفر چهل وهشت کرده را (مالا بد منه فصل نماز مسافر ص٢٥). ظفير

(٥) وإنما يعتبر في كل موضع منهما ما يليق بحاله (عالمګيري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٨). ظفير

ورتلو سره هلته مقيم نه گرځي او دلمانځه پوره کول نه ورباندي لازميږي، بلکه قصر به کوي كذا يظهر من كتب الفقه. او فقهاء چي دنکاح ځای وطن بللی دهغوی مراد دادی چي ښځه دده هلته مقيمه وي او کله چي يي ښځه هلته مقيمه نه وي او په خپله هم هلته نه اوسيږي بلکي ښځه يي خپل وطن ته راوستلي وي، نو يوائي دخسر اقامت او دهغه دکور ستـه والی په هغه ځای کي ددي سبب نه سي کيدای چي هغه ځای تـه دي دزوم اصلي وطن وويل سي، ولوكان له ببلدتين فأيتهما دخل صار مقيما فان ماتت زوجته في إحداهما وبقى له فيها دور وعقار قيل لا يبقى وطنا له إذ المعتبر الأهل دون الدار الخ (١) او همدا راز چيري چي اشتباه وي چي قصر وکړم اوکه نه هلته پوره لمونځ کول احوط دي، قال في الشامي في موقع الإشتباه لأنه إجتمع في هذه الصلوة ما يوجب الأربع ومايمنع فرجحنا ما يوجب الأربع احتياطا (٢). او ښکاره ده چي داختلاف په صورت کي احتياط دلمانځه په پوره کيدلو کي دی نه په قصرکي. فقط

**که چا داصلي وطن په يوه ښار کي اقامت وکړي بيا په بيړی يا الوتکه کي نوکر سو نوځه به کوي؟** **سوال**: (٢٢٥٠) [١] ځيني پيلوټان او بيړی چلوونکي دخپل اصلي وطن څخه راسي په يوه ښار يا کلي کي لومړی داقامت په نيت يوځای مقيم سي بيا دځو ورځو پلټني او زيار څخه وروسته په يوه الوتکه يا بيړۍ کي نوکر سي او ځيني خلک بي له نيته داقامت ايسار سي بيا وروسته ملازم سی او په خپل کار کي مصروف سي په دي حالاتو کي به په هغوی باندي قصر واجب وي اوکه نه؟

**په کم ځای کی چي جهاز دوه يا دري مياشتي تم سي هلته دهغه عمله داقامت په نيت کولو سره مقيمين گرځي اوکه نه؟** **سوال**: (٢٢٥١) [٢] ځيني تجارتي جهازونه دليري ليري هيوادونو څخه راسي اوپه يوه بندرگاه کي تر دوو دريو مياشتو پوري تم سي دهغه عمله چي دنورو هيوادونو اوسيدونکي دي، داقامت په نيت سره مقيمين جوړيږي اوکه نه؟

**دمال بوټ نوکران مقيم نه دي**: **سوال**: (٢٢٥٢) [٣] ځيني مال بوټونه ډيری دبندرگاوو په پلونو باندي دمالونو دگودام په ډول تړلي اوسي، دهغه کار کوونکي چي دنورو ملکونو اوسيدونکي دي او تل په دي کي اوسي. هغوی ته به مقيم ويل کيږي اوکه مسافر؟

**جواب**: [١] هغه خلک چي دليري ليري مسافت څخه راغلي دي او په هيڅ ځای کي هغوی دپنځلسو ورځو داقامت نيت نه ده کړی، او بيا دجهاز او بيړۍ ملازمان سول او سفرونه يي کول يالږ ياډير هغوی به هميشه مسافر اوسي اوقصر به کوي، بعدم علة

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٣١. ظفير
(٢) ردالمحتار باب صلوة المسافر تحت قوله قاصدا ج١ ص٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢٢. ظفير

الإتمام، اوكم خلگ چي چيري مقيم وه يادبهر ځخه راغلل اومقيم سول اوبيا دري ورځي دسفر په اراده ونه وتل هغوی به پوره لمونځ كوي قصر به نه كوي. (١)

په شامي كي دي: والملاح مسافر الخ وسفينته أيضا ليست بوطن آهـ بحر. وظاهره ولو كان ماله واهله معه فيها ثم رأيته صريحا في المعراج، (٢) نومعلومه سوه چي داكار كوونكي به مقيم نه وي، مسافر به اوسي او لمونځونه به قصر كوي.

[٣] مسافر به اوسي كما مرَّ. فقط

**دڅو منزلو سفر شرعي بلل كيږي؟ سوال**: (٢٢٥٣) يو منزل دڅوميلونو وي؟

**جواب**: دفقهي په كتابونو كي يي ليكلي دي چي شرعي سفر ددريو منزلونو وي، او صحيح داده چي دميلونو اعتبار نه دی بلكه دمنزلونو اعتبار دی او ځينو فقهاؤ دميلونو اعتبار كړی دي، په دي كي درې قوله دي يو منزل يې ٢١ يا ١٨ يا ١٥ ميله ليكلي دي، او فتهوی په اتلسو ميلو باندي ده او دځينو په وړاندي فتوی په پنځلسو ميلونو باندي ده. (٣) فقط

**دشرعي سفر په اراده وتونكي دي دوتلو سره سمدستي قصر شروع كړي**: **سوال**: (٢٢٥۴) يوه سړي بمبۍ ته دتلو اراده وكړه او اراده يي له كور ځخه همدا ده چي زه به شپږ مياشتي هلته تيروم نو اوس به داسړی قصر كوي اوكه نه؟

**جواب**: په لاره كي به دا سړی قصر كوي ځكه چي داسړی دشرعي سفر په اراده دكور ځخه وتلی دی ځكه نو علت دقصر وموندل سو نور نو كله چي بمبۍ ته ورسيږي او هلته دهغه نيت دشپږو مياشتو دقيام وي نو هلته به لمونځ پورده كوي، كما في الدر المختار من خرج من عمارة موضع إقامته الخ قاصدا سيرة ثلاثة أيام ولياليها الخ صلی الفرض الرباعی ركعتين وجوبا الخ حتی يدخل موضع إقامة إن سار مدی السفر. الخ (٤) فقط

---

(١) ولابد للمسافر من قصد مسافة مقدرة بثلاثة أيام حتی يترخص برخصة المسافرين وإلا لا يترخص ابدا ولو طاف الدنيا جميعها الخ ولا يزال علی حكم السفر حتی ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر (عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٩). ظفير

(٢) رد المحتار باب صلوة المسافر تحت قوله كبحر ج١ ص٧٣٧، ط.س. ج٢ ص١٢٢). ظفير

(٣) اعلم ان أقل مدة السفر عندنا مسافة ثلثة أيام من أقصر أيام السنة بالسير الوسط واهی مشي الأقدام والإبل في البر واعتدال الريح في البحر الخ وصحح صاحب الهداية أنه لا يعتبر التقدير بالفراسخ لكن قال المرغيناني وعامة المشائخ قدرها بالفراسخ فقيل أحد وعشرون فرسخا وقيل ثمانية عشر فرسخا قال المرغيناني وعليه الفتوی وقال العتابي في جوامع الفقه وهو المختار ر وقيل خمسة عشر فرسخا الخ (غنية المستملي صلوة المسافر في المدة ص٤٩٧). ظفير

(٤) الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢ – ٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢١. ظفير

**دسفر څخه په راستنيدو کي دکور څخه په بيل بازار کي قيام وکړي نودي مسافر دي اوکه نه؟ سوال:** (٢٢٥٥) يو سړی دمسافری څخه خپل وطن ته راغی دخپل کور څخه په نيم ميل فاصله کي په يوه بازار کي دخياطي کار کوي او کله کله دوه څلور شپي هلته اوسيږي دغه سړی به قصر لمونځ کوي اوکه نه؟

**جواب:** په کم بازار او ښارګوتي کي چي دی اوسيږي دهغه خروج او دخول دلمانځه په قصر اونه قصر کي اعتبار لری، نوکم ښار چي دنوموړي کلي څخه منفصل دی، لکه څنګه چي دبنګال په علاقوکي اوريدل کيږي چي هلته دخروج او دخول اعتبار نسته نو دا سړی چي ترڅو پوري په خپل کلي او ودانيوکي نه وي ننوتی، تر هغه وخته پوري به قصر کوي قال في الشامی: وأما الفناء فهو المكان المعد لمصالح البلد كركض الدواب ودفن الموتى والقاء التراب فإن إتصل بالمصر اعتبر مجاورته وإن إنفصل بفلوة او مزرعة فلا. كما يأتي. (١) فقط

**پلار دزوي په کورکي او زوی دپلار په کور کي مسافر دي اوکه مقيم؟ سوال:** (٢٢٥٦) [١] يو سړی دخپل پلار داستوګنی دځای څخه په پوره ليري فاصله کي اوسيږي که چيري زوی دپلار داستوګني ځای ته يا پلار دزوی داستوګني ځای ته ولاړ سي نو قصر به کوي اوکه نه؟

**په کم ځای کي چي مځکه اوجايداد دی هلته به لمونځ قصر کوي اوکه پوره؟ سوال:** (٢٢٥٧) [٢] ديوه سړي او دهغه دپلار او ورونو جايداد او مکانونه په يوه کلي کي دي مځکي دهغو دڅښتنانو استوګنه هم په همدي کلي کي وه اوس دڅه مودي راهيسي يي بل ځای ته نقل کړی دی په هغوی کي يو کس درسد په مهال هلته ولاړ سي، حاصلات وصول کړي او ورسره رايي وړي نوکم سړی چي هلته ځي هغه قصر کولای سي اوکه نه؟

**جواب:** [١] کله چي اصلي وطن دهر يوه جدا جدا سوی دی نو په دوی کي هر يو دبل وطن ته په تللو سره مقيم نه ګرځي، بلکه قصر لمونځ به کوي. (٢)

---

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر تحت قوله: من خرج من عمارة موضع إقامته ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١. ظفير

(٢) والوطن الأصلي هو موطن ولادته او تأهله او توطنه يبطل بمثله إذا لم يبق له بالأول أهل (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٢٨) ولو كان له اهل ببلدتين فأيهما دخل صار مقيما فإن ماتت زوجته في إحداهما وبقى له فيها دور وعقار قيل لا يبقى وطنا له إذ المعتبر الأهل دون الدار (رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٢٨) الوطن الأصلي الخ يبطله بمثله إذا لم يبق له بالأول أهل (درمختار) اى وإن بقى له فيه عقار الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٢٠. ظفير

[٢] كه يي هلته دېنځلسو ورځو څخه دلږ اوسيدلو اراده وي نو قصر به كوي اوكه دېنځلسو ورځو ياډېر پاته كيدلو له ارادى سره هلته ولاړ سي نو پوره لمونځ به كوي، اوكه پخه اراده ونه لري بلكي دا اراده يي وي چي په څلور پنځه ورځي كي به بيرته ستون سم يا چي كله حاصلات را غونډ كړم ولاړ به سم نو برابر به قصر كوي، اګركه دارادي پرته تر ډېرو ورځو وځنډيږي. (١)

**په شرعي سفركي دقصر په ترک كولو سره څوک ګنهګاريږي اوكه نه؟ سوال**: (٢٢٥٨) هغه سړى چي په سفركي قصر نه كوي نو ګنهګار به سي اوكه نه؟ كه ګناهګار وي نو ولي، ايا ددي ايات اطلاق پرهغه باندي كيداى سي اوكه نه؟ (ومن تطوع خيرا فهو خير له).

**جواب**: دامام صاحب مذهب دادى چي په شرعي سفركي قصر واجب دى قصدا پوره لمونځ كول ممنوع دي (٢) ځكه چي دا له حدود الله څخه تجاوز دى، ومن يتعد حدود الله فاولئك هم الظالمون (٣) او داپه من تطوع خيرا كي داخل نه دى ځكه چي دشارع عليه السلام دحكم څخه خلاف ورزي كول خيرنه دي بلكه هغه شردي.

**سړى به دخسر په كوركي مقيم وي اوكه نه؟ سوال**: (٢٢٥٩) [١] دزيد نكاح په سهارنپور كي وسوه چي هغه دده دوطن څخه سل ميله ليري ده زيد خپله منكوحه وطن ته راوستله كه چيري زيد په داسي صورت كي سهارنپور ته ولاړ سي چي دهغه ښځه په سهارنپوركي نه وي نو زيد به مقيم وي اوكه مسافر؟

**سوال**: (٢٢٦٠) [٢] كه دزيد منكوحه مړه سي نوهغه به سهارنپور ته په تللو سره مقيم وي اوكه مسافر؟

**سوال**: (٢٢٦١) [٣] زيد داله اباد اوسيدونكى دى او هنده دسهارنپور اوسيدونكي ده دواړه په سفر باندي مراد اباد ته ورسيدل هلته ددواړو نكاح وسوه نو زيد به په مراد اباد كي مقيم وي اوكه مسافر؟

**جواب**: [١] په درمختار كي دي: ولو كان له اهل ببلدتين فأيتهما دخلها صار مقيما فإن

---

(١) ولا يزال على حكم السفر حتى ينوي الإقامة في بلدة او قرية خمسة عشر يوما او اكثر (عالمگيري ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج٢ ص١٣٩) او ينوي الخ إقامة نصف شهر الخ بموضع واحد صالح لها فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منه اى من نصف شهر الخ او دخل بلدة ولم ينوها اى مدة الإقامة بل ترقب السفر غدا او بعده ولوبقى ذلك سنين (الدرالمختار على هامش ردالمحتارباب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢،ط.س. ج٢ ص١٢٥). ظ

(٢) صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا الخ والإكمال ليس رخصة في حقه بل إساءة (درمختار) قوله وجوبا فيكره الإمام عندنا حتى روى عن أبي حنيفة أنه قال من أتم الصلوة فقد أساء وخالف السنة (رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٥، ط.س. ج٢ ص١٢٣). ظفير

(٣) سورة البقرة ركوع : ٢٩. ظفير

ماتت زوجته في أحداهما وبقى له فيها دور وعقار قيل لا يبقى وطنا له إذا المعتبر الأهل دون الدار كما لو تأهل ببلدة او استقرت سكنا له وليس له فيها دار وقيل تبقى الخ (١) ددي څخه ددوهمي پوښتني ځواب ښکاره سو، چي دښځي دمرګ څخه وروسته به سهارنپور دده اصلي وطن پاته نه سي خصوصا په هغه صورت كي چي هلته دده كور اوزمكه هم نه وي، ځكه اختلاف ددار او عقار دباقي كيدو په صورت كي دى او په هغه مهال كي اتمام احوط دى. او په لومړى سوال كي كله چي دهغه ښځه هلته نسته نو ښكاره ده چي هلته په تللو سره به مقيم نه وي او په دريم سوال كي به هم مراد اباد دهغه وطن نه وي. په دي كي خو څه شبهه نسته شبهه يوازي دمنيي دشرحى (٢) درو ايت سره سم دلومړى پوښتني په هكله ده، ليكن فقهاؤ دا قاعدد هم ليكلي ده چي په كم ځاى كي شبهه وي هلته دي پوره لمونځ وي ځكه چي په دي كي احتياط دى لكه څنګه چي په شامي كي دشبهي په ځاى كي ليكلي دي: لأنه إجتمع في هذه الصلوة ما يوجب الأوبع وما يمنع فرجحنا ما يوجب الأربع إحتياطا الخ شامى. (٣) فقط

**اول اصلي وطن داصلي وطن حكم لري اوكه نه؟ سوال**: (٢٢٢٢) ديوه سړي ځمكه او كور دجالندهر په ضلعه كي دي او اوس هغه سره له ميرمني اوماشومانو وروسته ددي چي ځمكه په لاس ورغله لائلپور ضلعي ته ولاړى او هلته يي استوګنه غوره كړه له دي امله چي په جالندهر ضلعه كي هم دهغه كورونه او زمكي سته ځكه نوهغه په شپږ مياشتي كي دهغو دسمبالولو لپاره هرومرو راځي، آيا داسړى چي دلته راسي لمونځ به پوره كوي؟

**جواب**: په دي كي ډيره احوطه اوسمه خبره داده چي اولنى وطن يي هم وطن اصلي دى هلته دي لمونځ پوره كوي لكه څنګه چي دځينو فقهاوو داقوالو څخه دي ته ترجيح معلومبږي اوبل دهغي قاعدي له مخي چي علامه شامي دامام ابويوسف (رحمه الله) دقول په ترجيح كي ذكر كړي ده چي په كم ځاى كي په قصر او اتمام كي اشتباه وي نو هلته اتمام ته ترجيح وي. ځكه چي احتياط په همدي كي دى، هغه عبارت دادى چي دمسافر دلمانځه په پيل كي علامه نقل كړى دى: كما في التجنيس إذا إفتتح الصلوة في السفينة حال إقامته في طرف البحر فنقلتها الريح ونوى السفر يتم صلوة المقيم عند ابي

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٢٨. ظفير

(٢) دمنيي دشرحي هغه روايت دا دى قال في شرح المنية ولو تزوج المسافر ببلد ولم ينو الإقامة به قيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما هو الأوجه (رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٢٨). ظفير

(٣) ردالمحتار باب صلوة المسافر تحت قوله قاصدا ج١ص٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢٢. ظفير

يوسف (رحمه الله) خلافا لمحمد لأنه إجتمع في هذه الصلوة ما يوجب الأربع وما يمنع فرجحنا ما يوجب الأربع إحتياطا (١) الخ شامي.

**دخپلي سيمي څخه په وتلو سره دي قصر شروع کړي که څه هم له هغه ځای څخه يې خپله سيمه ښکاري؟ سوال:** (٢٢٢٣) په دي ملك کي وداني پيوست دي په هغوکي باغونه وي دپيوستوالي سره سره دځايونو نومونه بيل بيل وي که يو سړی دسفر په اراده دخپلو ودانيو څخه ووزي او بل کلي ته تر رسيدلو وروسته دلمانځه وخت راسي او له هغه ځای څخه ورته خپل کلی په نظر راځي نو دا مسافر به قصرکوي اوکه نه؟

**جواب:** په دي صورت کي به دا سړی قصر کوي ځکه چي دقصر لپاره دخپل کلي څخه وتل شرط دي وداني په نظر راتلل دقصر مخه نه نيسي، كما في الدرالمختار من خرج من عمارة موضع إقامته من جهة خروجه وإن لم يجاوز من الجانب الآخر. الخ (٢). فقط

**مخکي يي دقيام نيت کړی وو بيا يي نيت بدل سو نو قصر به کوي: سوال:** (٢٢٢٤) زيد مسافر په ښارګوټي کي دپنځلسو ورځو دقيام نيت وکړی او دماپښين څلور رکعته دجمعي لمونځ يي ورکړی خو په مازديګر کي يي دپنځلسو ورځو دقيام نيت فسخ کړی او څلور رکعتي لمونځونه يي دوه رکعته کول او ورکول شروع کړل نو دا امامت اولمونځونه صحيح سول اوکه نه؟ مسافر ته دقيام دنيت کولو وروسته دخپل نيت په فسخ کولو باندي پوره لمونځ کول پکار دي که قصر؟

**جواب:** زيد ته اول دقيام په نيت باندي پوره لمونځ کول او دقيام دنيت دفسخه کولو وروسته قصر کول ښايي. (٣) فقط

**دسفر په اراده سره چي دشاوخوا مختلفو کلو په لارو کي دومره وګرځي را وګرځي چي دهغو مجموعي مسافت شرعي مسافت ته ورسيري نوڅه حکم دی؟ سوال:** (٢٢٢٥) يو سړی دسفر په اراده ووزي او دهغه سفر په کلو اوبانډو کي دی او يو کلي له بله څخه دومره ليري نه دی چي دلمانځه دقصر حکم ورباندي وکول سي مثلا ځيني کلي دځينو نورو څخه دنهو ميلو په فاصله کي پراته دي او ځيني دنورو څخه په يوولس ميله کي او ځيني په اته کي اوځيني په شپاړس کي مثلا، ليکن په دي کليوکي دهغه دوره ددريو ورځو تر

---

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر تحت قوله قاصدا ج١ ص٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢٢. ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١. ظفير

(٣) ولا يزال على حكم السفر حتى نوي الإقامة في بلدة خمسة عشر يوما او اكثر وإن نوى أقل من ذلك قصر (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩) ولو كان مسافرا في أول الوقت إن صلى صلوة السفر ثم أقام في الوقت لا يتغير فرضة وإن لم يصل حتى أقام في اخر الوقت يقلب فرضه اربعا وإن لم يبق من الوقت إلا قدر ما يسع فيه بعض الصلوة (عالمگيري مصري صلوة المسافر ج١ ص١٣٢، ط. ماجدية ج١ ص١٤١). ظفير

مزل ډيريږي په دي صورت كي په هغه باندي قصر واجب دی اوكه نه؟
**جواب**: كله چي دذكر سوي سړي اراده دسفر دپاره دوتلو په مهالـ دټولو ذكر سوو كليو دوره ده چي دهغو مسافت دري ورځي يا دديو ورځو څخه ډيريږي نو قصر پرهغه باندي واجب دی، من خرج من عمارة موضع إقامة الخ قاصدا مسيرة ثلاثة أيام ولياليها الخ (١).
**په شرعي سفركي دې قصر كوي اګركه په لړه لړه فاصله كي قيام راسي**: **سوال**: (٢٢٢٦)
[١] زه دماراوور دعلاقي مسافر يم او احمد اباد علاقي ته دځلورو پنځو مياشتو په ارادي سره ځم خو دځه كار له امله هره ورځ په ميل دوه ميله كي قيام كوم مثلا نن دلته صبا په بل يوه ځای كي، ددوو دريو ميلو په فاصله باندي قيام كيږي نو په دي صورت كي قصر كول ښايي اوكه نه؟
**كه په ځنګل كي ديوي مياشتي په اراده قيام كوي نوهم به قصر كوي**: **سوال**: (٢٢٢٧) [٢] يو مسافر دباندي په ځنګل كي ديوي پوره مياشتي په اراده سره مقيم سو نو قصر به كوي او كه پوره لمونځ؟
**جواب**: [١] په دي صورت كي لمونځ قصر كول ښايي. (٢)
[٢] په ځنګل كي مقيم كيږي نه ځكه نوهغه ته قصر لمونځ كول په كار دي. (٣) فقط
**په سفر كي وتر معاف نه دي اوسنت كول هم ثابت دي**: **سوال**: (٢٢٢٨) يو سړی دعوه كوي چي دمسافر لپاره سنت او وتر معاف دي اوپه پرېښودلو كي يې ګناه نسته او رسول الله ﷺ په سفر كي هيڅكله هم نه دي كړي، دهغه دا دعوه صحت لري اوكه نه؟
**جواب**: وتر واجب دي ددي پريښودل په هيڅ حالـ كي جائز نه دي كه مسافر وي اوكه مقيم، او دسنتو په هكله غوره داده چي دامن او قرار په ځای كي دي كوي اوكه يي تلواروي نه دي كوي يه دي كي څه ستونزه نسته (٤) اوپه ترمذي شريف كي دي چي رسول الله صلی الله عليه وسلم په سفركي سنت كړي دي. (٥)

---

(١) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١. ظفير
(٢) او ينوي الخ إقامة نصف شهر حقيقة او حكما الخ بموضع واحد صالح لها من مصر او قرية فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منه اى من نصف شهر اونوى فيه لكن في غير صالح كبحر وجزيرة او نوى فيه بموضعين مستقلين الخ او دخل بلدة ولم ينوها اى مدة الإقامة بل ترقب السفر غدا او بعده ولو بقى على ذلك سنين (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢٥). ظفير
(٣) وصلاحية الموضع حتى نوى الإقامة في بر اوبحر او جزيرة لم يصح (عالمگيري مصري صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٩). ظفير
(٤) ويأتي المسافر بالسنن إن كان في حال أمن وقرار وإلا بأن كان في خوف وقرار لا يأتي بها هو المختار (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٣١). ظفير =

**څوک چي تل په سفرکي اوسي هغه دي قصر کوي**: **سوال**: (٢٢٦٩) يو سړی دسهارنپور په ريلوي دفتر کي نوکر دی او دهغه کور دسهارنپور څخه ٢٧ ميله ليري دی هغه ثلورويشت ساعته په موټرکي اوسي او يوي خواته تر انبالي پوري بلي خواته تر غازي اباد پوري تګ راتګ کوي هغه ته لمونځ قصر کول په کار دي اوکه پوره؟

**جواب**: په داسي حالت کي چي ترڅو پوري هغه خپل اصلي وطن ته دتلو اراده نه وي کړي لمونځ به قصر کوي. ([1]) فقط

**په کشتۍ کي اوسيدونکي قصر لمونځ کوي**: **سوال**: (٢٢٧٠) کم جهازونه چي په خليج کي دشپي تړلي اوسي او دورځي دری ځلي دنيم ساعت په اوږدو کي ددي غاړي څخه بلي غاړي ته ځي راځي، ايا ددي جهاز ملازمين به قصر لمونځ کوي؟ او ددي خلګو اصلي وطن ته ددريو ورځو فاصله ده او داخلګ په جهاز کي اوسي خوراك او څيښاك او پروته هرڅه په جهاز کي کوي؟

**جواب**: کم خلګ چي دليري څخه راسي او په جهاز کي ملازمت کوي، مثلا ددريو ورځو يازياتو مزل وکړي اوراسي په جهازکي نوکران سي او بيا هميشه په درياب کي جهازونه چلوي په هيڅ داسي ځای کي چي صالح للإقامة وي دپنځلسو ورځو دقيام نيت نه کوي نو دوی مسافر دي قصر لمونځ به کوي په دومختار کي دي: فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منه اى من نصف شهر او نوى فيه لكن في غير صالح كبحر او جزيرة الخ (درمختار) قوله كبحر قال في المجتبى والملاح مسافر الا عند الحسن وسفينته ايضا ليست بوطن آهـ الخ. ([2]) فقط

**دريل هغه ډرايور چي دانجن سره په منډه وي دهغه قيام په يوه ځای کي ترڅو ساعتونو ډير نه وي هغه به څه کوي؟** **سوال**: (٢٢٧١) هغه ډرايور چي ريل ګاډی چلوي دخپل هيډ کوارټر يعني مستقر څخه روزانه سل ميله يا لږ اوډير سفر کوي کله چي خپله دنده سرته ورسوي نو بل هيډکواټر ته ولاړ سي، او لږ ترلږه دولس ساعته يا ثلورويشت ساعته دمه کوي بيا څو ساعته وروسته بل ګاډی واخلي او بيرته ستون سي، کله چي مخکني

---

(٥) وروى عن ابن عمر أن النبى ﷺ كان لا يتطوع في السفر قبل الصلوة ولا بعدها وروى عنه عن النبي ﷺ أنه كان يتطوع في السفر (ترمذي شريف باب ما جاء في التطوع في السفر ج١ ص٧٢). ظفير

([1]) من خرج من عمارة موضع إقامته الخ قاصدا الخ مسيرة ثلثة أيام ولياليها الخ صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا الخ حتى يدخل موضع مقامه الخ او ينوي الخ إقامة نصف شهر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١). ظفير

([2]) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٧، ط.س. ج٢ ص١٢٢. ظفير

مستقر ته راورسيږي نو دلته هم دهغه ځای په اندازه دقيام او ارام وخت په لاس ورځي نو هغه ته په دواړو ځايونوكي قصر كول ښايي اوكه پوره لمونځ؟

**جواب**: هغه ته په دواړو ځايونو كي قصر كول ښايي. (١) فقط

**نوكر دخپل بادار ماتحت دی چي هغه قصر كوي دی به يي هم كوي**: **سوال**: (٢٢٧٢) يو شرعي مسافر يوي سيمي ته ورسيدی او دهغه ځای يو اوسيدونكی يي په دي شرط دځان سره نوكر كړ چي تر څو زه په سفر كي يم ته به له ما سره اوسي اخرنی منزل يي بالكل معلوم نه كړی ددي سيمي څخه چي ووته نو په پنځه شپږ ميله فاصله كي يوه كلي ته ورسيده داقامت له نيت څخة پرته ترځلورو اونيو هلته پاته وه او ديوه مخه يي قصر لمونځ كوی اوس دنوكری دپاره څه حكم دی ايا دڅښتن په تبعيت كي دی هم قصر وكړي اوكه پوره لمونځ وكړي؟

**جواب**: دا ذكرسوی نوكر په دي صورت كي دخپل څښتن تابع دی كم نيت چي دڅښتن وي دهغه نيت متابعت په نوكر باندي لازم دی ليكن دمتبوع نيت معلومول ضروري دي په درمختاړ كي دي: والمعتبر نية المتبوع الخ ولا بد من علم التابع بنية المتبوع (٢) الخ وفي رد المحتار قوله و اجير اى مشاهرة او مسانهةً (٣) الخ نو كله چي اجير دمستاجر تابع وي همدا ډول به نوموړی ملازم هم تابع وي ځكه چي هغه هم مشاهرةً اجير دی. فقط

**چي په يوڅو كليو كي په چكر لګولو سره مسافت پوره سي ددې څه حكم دی؟ سوال**: (٢٢٧٣) ديوه سړي يو څو كلي دي چي دهغه دوطن څخه هر يوه كلي ته فاصله دقصر تر مسافت لږ ده كه چيري داسړی دخپل يوه كلي څخه بل ته منتقل كيدی چي په دي ډول دقصر مسافت پوره كيږي او په همدي اراده له وطن څخه تللی وي نو ددي سړي لپاره به دسفر احكام ثابت وي اوكه نه؟

**جواب**: پرده باندي به دقصر احكام ثابت وي. (٤) فقط

**دغير مقلدينو په دريو ميلو باندي قصر كول او دهغوی دمستدل حديث تاويل**: **سوال**: (٢٢٧۴)

---

(١) من خرج من عمارة موضع إقامته الخ قاصدا الخ مسيرة ثلاثة أيام ولياليها الخ صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا الخ فيقصر إن نوى الإقامة في أقل منه اى من نصف شهر (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج٧٣٢ تا ٧٣٧، ط.س. ج٢ ص١٢١ - ١٢٣). ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴۴، ط.س. ج٢ ص١٣٣. ظفير

(٣) رد المحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴۵، ط.س. ج٢ ص١٣۴. ظفير

(۴) فاذا قصد بلدة والى مقصده طريقان أحدهما مسيرة ثلاثة أيام ولياليها والآخر دونها فسلك الطريق الأبعد كان مسافرا عندنا هكذا في فتاوى قاضي خان (عالمگيري مصري باب صلوة المسافر ج١ ص١٣٠، ط. ماجدية ج١ ص١٣٨). ظفير

دفقهاؤ په نزد په ۴۸ ميله کم مسافر دوه رکعته کوي او غير مقلدين په دريو ميلوکي قصر کوي په ثبوت کي دحضرت انس ﷺ حديث رامختـه کوي چي پـه هغـه کـي دنبي کريم صلى الله عليه وسلم لخوا په دري ميلو باندي قصر کول ثابت دي. ددي حديث څه مطلب دی؟

**جواب**: چي ددري منزلو (چي له هغو څخه ۴۸ ميله جوړيږي) دمسافت اراده يي وي نو دښار څخه په بهر وتلو سره قصر پيل کيږي (١) او همدا تاويل دهغه حديث شريف دی چي هلته راغلي دي چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم له مديني منوري څخه بهر ددريو ميلو په مسافه کي قصر وکړی يعني هغوی ﷺ ليري ځای ته دتللو اراده درلوده، ليکن دمديني منوري څخه ددريو ميلو تللو وروسته دلمانځه وخت سو نو هغوی قصر لمونځ وکړی. فقط

**که چيري اجير خپل وطن ته ورسيږي نو هغه به دمقيم په حکم کي وي که مالک ورسره نه وي هم**: **سوال**: (٢٢٧٥) مشاهرة اجير يعني نوکر که چيري دسفر په مهال دخپل مالك سره خپل کلي ته ورسيږي، نوقصر به کوي اوکه پوره لمونځ په حماديه فتاوی کي دي: عبد سافر مع مولى فدخلا في وطن العبد لا يصيران مقيمين أما العبد فلأنه تابع وأما المولى لم توجد نية الإقامة ولا دخول الوطن الأصلي. دا مسئله يوازي په غلام پوري ځانګړي ده اوکه په اجير کي هم همدا حکم دی؟

**جواب**: اجير مشاهرةً اګر که دتبعيت له پلوه دغلام په حکم کي دی او هيڅ شك نسته چي داقامت په وطن کي که چيري داصورت پيښ سي نو دغلام په ډول دهغه نيت ته به هم هيڅ اعتبار نه ورکول کيږي دهغه داقامت او سفر مدار دمستاجر پرنيت باندي دی، ليکن په اصلي وطن کي داصورت نسته ځکه هلته په رسيدلو سره سفر باطليږي دنيت اونه نيت په دي باندي اثر نه پريوځي، ځکه نوکه چيري اجير دخپل مستاجر سره اصلي وطن ته ورسيږي نو سفر به يي سمدستي باطل سي او ددي پرته په نورو ځايونوکي به دمتبوع دنيت تابع وي، په دي کي دي: والمعتبر نية المتبوع لأنه الأصل لا التابع كإمرأة وفاها مهرها المعجل وعبد الخ واجير الخ مع زوج ومولى ومستاجر الخ (٢) فقط

**مقتدي مسافر به په مقيم امام پسي دڅو رکعتو نيت کوي؟ سوال**: (٢٢٧٦) امام مقيم دی او

---

(١) من خرج من عمارة موضع إقامته الخ قاصدا الخ مسيرة ثلاثة ايام ولياليها الخ ولا إعتبار بالفراسخ على المذهب (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣۵، ط.س. ج٢ ص١٢١). ظفير

(٢) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴۴ – ٧۴۵، په شامي کي دي: وأجير اى مشاهرة او مسانهةً الخ (رد المحتار باب ايضا ج١ ص٧۴١، ط.س. ج٢ ص١٣٠). ظفير

مقتدي مسافر دی نو مقتدي به دڅلورو رکعتو نيت کوي او که دوو؟

**جواب**: مسافر ته په مقيم پسي اقتداء کول روا دي، او مسافر مقتدي به دمقيم إمام داتباع له امله دڅلورو رکعتو نيت کوی او څلور رکعته به کوي، په درمختار کي دي: وأما إقتداء المسافر بالمقيم فيصح في الوقت ويتم. ([1]) الخ

**يوښار يي پرېښووی بل ته ولاړی اوس که مخکني ته راسي نوڅه حکم دی؟ سوال**: (۲۲۷۷) يوه سړي ديوي وجهي خپل اهل او عيال له (الف) ښار څخه (ب) ښار ته وليږل او هغه دالف ښار په ګاونډکي په مزل کولو سره وخت تيروي که چيري دا سړی الف ښار ته راسي چي هلته دده بند او قلف کور دی نو هلته به ده ته مقيم ويل کيږي او که مسافر؟ بل داچي که چيري دا سړی (ب) ښارته ولاړ سي چي هلته دده ټول خپلوان او عزيزان دي ليکن هلته دده قيام ترلسو ورځو هم کم دی، اوهغوی د (الف) ښار ته بيرته راستنيدونکي دي چي هلته دوی په مستقل ډول اوسيږي نو په داسي صورت کي به هغه په (ب) ښارکي مسافر بلل کيږي اوکه مقيم؟ هغه ته هر ډول ارام په ب ښار کي حاصل دی او له الف ښار څخه دهغه اهل او عيال په عارضي ډول تللي دي؟

**جواب**: معلوميږي چي دهغه اصلي وطن (ب) ښار دی چيري چي دهغه ټول عزيزان او خپلوان دي نوکه چيري دهغه وطن واقعي دب ښار وي نو هلته په رسېدلو سره به فورا لمونځ پوره کوي او په (الف) ښار کي که هغه دنوکری له امله اوسيږي نو هغه يي داقامت وطن دی که يي هلته دپنځلسو ورځو يا ډيرو تيرولو نيت وو نو لمونځ به پوره کوي که نه وي قصر به کوي، حاصل دادی چي په اصلي وطن کي لمونځ قصر کول نسايي، اواصلي وطن هغه دی چيري چي دهغه زيږيدنه سوي وي او مور اوپلار يي اوسيږي او نکاح يي سوي وي غرض داچي دکم ځای هغه اصلي اوسيدونکی دی هغه يي اصلي وطن دی تر څو پوري چي هغه پرېښږدي اوبل وطن وطن جوړنه کړي، همدغه به يې اصلي وطن وي. ([2]) فقط

**په څومره سفر باندي قصر دی**: **سوال**: (۲۲۷۸) قصر لمونځ په څومره سفر کي دی؟

**جواب**: په دري منزله سفر کولو باندي قصر پرمسافر واجب ګرځي. ([3]) فقط

---

([1]) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴١، ط.س. ج٢ ص١٣٠. ظفير

([2]) الوطن الأصلي هو موطن ولادته او تأهله او توطنه يبطل بمثله إذا لم يبق له بالأول أهل فلو بقى لم يبطل الخ (الدر المختار على هامش ردالمحتار ج١ ص٧۴٢، ط.س. ج٢ ص١٣١). ظفير

([3]) السفر الذي يتغير به الأحكام أن يقصد مسيرة ثلاثة أيام ولياليها بسير الإبل ومشى الأقدام الخ والسير المذكور هو الوسط (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١۴٨). ظفير

**چي قصرنه کوي نو ګناهګاربه وي اوکه نه؟ سوال**: (۲۲۷۹) چي قصر لمونځ نه کوي نو ګنهګاريږي اوکه نه؟

**جواب**. ګنهګاريږي. (۱)

**دقصر په حالت کي سنت او وتر سته اوکه نه؟ سوال**: (۲۲۸۰) دقصر په حالت کي سنت او وتر سته اوکه نه؟

**جواب**: وتر کول اړين دي، او سنت دي هم دواړ او فرصت په صورت کي نه پريږدي. (۲)

**په سفر کي دماپښين او مازديګر لمونځو په يوه وخت کي کول جائزدي اوکه نه؟ سوال**: (۲۲۸۱) دماپښين او مازديګر لمونځ دسفر په حالت کي يوځای کول جائز دي اوکه نه؟

**جواب**: په يوه وخت کي دواړه کول جائز نه دي. (۳)

**ددوري په ډول سفر کوونکي باندي قصر سته او که نه؟ سوال**: (۲۲۸۲) دنوکری په حالت کي چي کم خلګ ددوري په ډول سفرونه کوي پرهغوی باندي قصر سته اوکه نه؟

**جواب**: که سفر ددريو منزلو وي نو قصر لازم دی يعني په دوره کي چي ترپايه کم ځای ته دتلو اراده وي که هغه ځای ته ددريو منزلو لاره وي نو قصر کول ښايي. (۴)

**قصر کوونکي امام لمونځ پوره وکړي نو دامام او مقتدي لمونځ وسو اوکه نه؟ سوال**: (۲۲۸۳) [۱] يو مسافر قصر کوونکی دماسخوتن په لمانځه کي امام سو او دقصر پرځای يي څلور رکعته لمونځ وکړی دامام او مقتديانو دا لمونځ وسو اوکه نه؟

**دريل په سفرکي پوره لمونځ کول ښتکه دي؟ سوال**: (۲۲۸۴) [۲] بل داچي که يو مسافرپه دي خيال چي دريل سفر هوسا سفردی قصر ونه کړي نو ايا دی به ګنهګاروي؟

**جواب**: [۱] که چيري امام په دوو رکعتو باندي ناسته کړي وي نو دهغه لمونځ وسو او مقتديانو که چيري دهغه سره سره لمونځ پوره کړی نو دهغوی لمونځ ونه سو، كما مر في الشامي: فلوأتم المقيمون صلاتهم معه فسدت لأنه إقتداء المفترض بالمتنفل إذا قصدوا

---

(۱) وفرض المسافر في الرباعية ركعتان لا يزيد عيها الخ وإن صلى اربعا وقعد في الثانية قدر التشهد اجزأته الأوليان عن الفرض والأخران له نافلة (هدايه ايضا). ظفير

(۲) وبعضهم جوز للمسافر ترك السنن والمختار أنه لا يأتى بها في حال الخوف ويأتي بها في حال القرار و الأمن. (عالمگيري ج۱ ص۱۳۰، ط. ماجدية ج۱ ص۱۳۹). ظفير

(۳) ولا جمع بين فرضين في وقت بعذر سفر ومطر خلافا للشافعي وما رواه محمول على الجمع فعلا، لا وقتا فإن جمع فسد لو قدم الفرض على وقته وحرم لو عكس اى أخره عنه وإن صح بطريق القضاء (الدر المختار على هامش ردالمحتار كتاب الصلوة قبيل باب الأذان ج۱ ص۳۵۴ – ۳۵۵، ط.س. ج۱ ص۳۸۱). ظفير

(۴) أقل مسافة تتغير فيها الأحكام مسيرة ثلاثة أيام الخ والقصر واجب (عالمگيري باب في صلوة المسافر ج۱ ص۱۲۹، ط. ماجدية ج۱ ص۱۳۸). ظفير

متابعته الخ (١).

[٢] مسافر لره قصر کول لازم د، په دي خيال چي دريل سفر دارام دی پوره لمونځ کول صحيح نه دي. (٢)

**چي شپيته ميله ليرې ځی نو قصر به کوی اوکه نه؟ سوال**: (٢٢٨٥) [١] زيد دخپل اصلي وطن څخه د (ب) ښار ته ځي چي هغه تر شپيته ميله په ډيره فاصله کي پروت دی ليکن دروانيدلو په مهالل دهغه نيت هلته تر پنځلسو ورځو دډيري پاته کيدني دی په دي صورت کي هغه ته په لاره کي قصر کول په کاردي اوکه نه؟

**چي دپنځلسو ورځو دقيام څخه وروسته بيرته ځي نوسفر به ددې ځای څخه شماريږي اوکه دمخکني ښار څخه؟ سوال**: (٢٢٨٦) [٢] مثلا زيد له (ب) ښارڅخه دپنځلسو ورځو دقيام څخه وروسته د (ج) ښار ته ځي نو دقصر کولو لپاره به دفاصلي شمير له (ب) ښارڅخه کيږي اوکه دزيد داصلي وطن څخه؟

**مقيم دي په مسافر پسي دځلورو رکعتو نيت وکړي: سوال**: (٢٢٨٧) [٣] مقيم لره په مسافر امام پسي مثلا دمازديگر په لمانځه کي دځلورو رکعتو نيت کول په کار دي که ددوو؟

**جواب**: [١] قصر لمونځ کول ښايي. (٣)

[٢] په دي صورت کي به دفاصلي شمار له (ب) ښار څخه کيږي. (٤)

[٣] دځلورو رکعتو نيت کول په کار دي دوه رکعته دامام سره او دوه به وروسته کوي. (٥)

**په کم ځای کی چي نکاح کړې وي ايا هغه ځای مطلقا داصلي وطن حکم لري؟ سوال**: (٢٢٨٨) [١] په درمختار کي يي دا ځای هم وطن اصلي ليکلی دی (او تأهله) يعني دنکاح کولو ځای نو ايا مطلقا هغه ځای چيري چي نکاح کول سوي ده وطن اصلي دی، اوکه ددي څه بل مطلب دی او ددي څه تفصيل دی؟

**دښځي اصلي وطن دخسرگنی کور دی او که دمور او پلار او که چيري څوک داقامت دوطن**

---

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤١، ط.س. ج٢ ص١٣٠. ظفير

(٢) والقصر لازم عندنا الخ وهی تدل علی ان الفرض رکعتان وان الاتمام منکر ولو کان جائزا لفعله عليه الصلوة والسلام مرة تعليما للجواز (غنية المستملي فصل صلوة المسافر ج١ ص٤٩٩). ظفير

(٣) من خرج من عمارة موضع إقامته قاصداً مسيرة ثلاثة أيام ولياليها الخ صلی الفرض الرباعي رکعتين وجوبا (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١). ظفير

(٤) ويبطل الإقامة بمثله وبالوطن الأصلي وبانشاء السفر (ايضا ج١ ص٧٤٣، ط.س. ج٢ ص١٣٢). ظفير

(٥) وصح إقتداء المقيم بالمسافر في الوقت وبعده فإذا قام المقيم إلی الإتمام لا يقرأ ويسجد للسهو في الأصح لأنه کاللاحق والقعدتان فرض عليه وقيل لا (ايضا ج١ ص٧٤٠، ط.س. ج٢ ص١٣٠). ظفير

**ځخه لس دولس میله سفر کوي نومسافر به وي اوکه نه؟ سوال**: (۲۲۸۹) [۲] دښځي اصلي وطن دخسرګنی کور دی او که دمور او پلار دزېږېدني دوطن ځخه مراد کم وطن دی؟ مطلقا اوکه هغه ځای چي په عرف کي ورته وطن وايي. که چیري یو سړی په یوه ځای کي نوکر وي، اودهغه اصلي وطن دهغه ځایه دشرعي سفر په اندازه لیري وي، اوس که دا سړی دنوکری له ځای ځخه لس دولس میله سفر کوي نو مسافر به وي اوکه نه؟

**جواب**: [۱] داصلي وطن معنی دا لیکي چي وطن دقرار وي یعني هلته اوسیدل مقصود وي نو موضع دتاهل یعني دنکاح ځای هغه وخت اصلي وطن دي چي هلته اوسیدل مقصود وي او دهغه میرمن هلته اوسي، دا مطلب نه دی چي که چیري په یوه ځای کي دنکاح کولو ځخه وروسته ښځه راولي نو بیا دي هم هغه ځای دده وطن وي لنډه دا چي کم ځای دهغه میرمن اوسیږي او ده لره هلته اوسیدل مقصود وي، نوهغه اصلي وطن دی که چیري دوه میرمني یي په دوو ښارونوکي اوسیږي نو دواړه یي اصلي وطنونه دي: ولو کان ببلدتین فایتهما دخل صار مقیما. شامي (١)ددي عبارت ځخه ښکاره ده چي هلته دمیرمني اوسیدل او سته والی معتبر دی، یواځي نکاح کول داصلي وطن دجوړیدلو سبب نه دی چي ښځه ور ځخه راولي.

[۴] ښځه دسړي تابع ده، چي خاوند یي هرځای ساتي هغه به دهغي اصلي وطن وي (٢) دولادت وطن هغه دی چیري چي هغه زیږیدلی وي او دهغه مور او پلار هلته اوسیږي، او دملازمت په ځای کي چي هلته دی مقیم وي او داقامت په وجهه لمونځ پوره کوي ترڅو پوري چي دهغه ځای ځخه دشرعي سفر په مسافت دوتلو اراده ونه کړي قصر به نه کوي. فقط

**هغه سرکاري ملازم چي ۴۸ یا ۶۰ میله دوره کوي هغه به قصر کوي اوکه نه؟ سوال**: (۲۲۹۰) زید سرکاري ملازم دی دهغه داستوګني ځای (الف) دی، لیکن هغه کله په اطرافوکي یعني په ۴۸ میله کي دننه اوکله پنځوس شپیته میله تر اتیاوو میلو پوري دوره کوي او په دوره کي شپږ اته او کله لس ورځي تیري سي، داوسیدلو ځای ته واپس نه راځي په دي صورت کي به قصر کوي اوکه نه؟

**جواب**: که چیري دکور ځخه دوتلو په مهال هغه اراده کړي وه چي په دي دوره کي دسفر

---

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٣١. ظفیر

(٢) والمعتبر نیة المتبوع لأنه الأصل لا التابع کإمرأة وفاها مهر المعجل (الدرالمختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٣) ویبطل وطن الاقامة بمثله وبالوطن الاصلي وبانشاء السفر (الدر المختار علی هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٣، ط.س. ج٢ ص١٣٣). ظفیر

پای فلانی ځای دی چي هغه داستوګني دځای ښخه اته ځلوېښت میله یا ډېر لیري دی نو قصرلازم دی که نه وي نه دی.

**له اله اباد ښخه بمبې ته ددوو یا ځلورو میاشتو په نیت روان سو نو په لاره به قصر کوي اوکه نه؟** **سوال:** (۲۲۹۱) زید له اله اباد ښخه بمبې ته روان سو لیکن په بمبې کي دوه دری میاشتي اوسیدل غواړي په دي صورت کي به هغه په لاره قصر کوي اوکه نه؟

**جواب:** په لاره به قصر کوي. (١)

**دقصر په اړوند یوڅو پوښتني:** **سوال:** (۲۲۹۲) [۱] که چیري یو سړی دوطن ښخه وتلی په ۴۲ میله لیري ځای کي ایسار سي او په دي ځای کي یي دپنځلسو ورځو یاددي ښخه دکمو ایساریدلو اراده وي نو لمونځ قصر کول ورته جائز دي اوکه نه؟

**سوال:** (۲۲۹۳) [۲] په کم ځای کي چي فرض لمونځ قصر کیږي که هلته سنت ونه کړي نو ګناه سته اوکه نه؟

**سوال:** (۲۲۹۴) [۳] دسفر په حالت کي دوه لمونځونه په یوه ځای کول لکه دماپښین دمازدیګر سره یا دماښام دماخستن سره جائز دي اوکه نه؟

**جواب:** [۱] ددریو ورځو په مسافت کي قصر کیږي چي ددي اندازه ۴۸ میله ښودل سوي ده که چیري هلته دتللو وروسته دپنځلسو ورځو دقیام اراده لري نو لمونځ دي پوره کوي اوکه ددي ښخه دلږو ورځو دقیام اراده لري نو قصر دي کوي.

[۲] ګناه نسته، لیکن دقیام په حالت کي سنت کول غوره دي. (٢)

[۳] که چیري دا ډول جمع والی وکړي چي ماپښین په خپل اخر وخت کي سي او مازدیګر په خپل اول وخت کي، نودا جمع صحیح ده، داجمع صورتا ده حقیقتا نه ده، یعني داسي دي نه کوي چي دمازدیګر لمونځ دماپښین په وخت کي وکړي، یا دماپښین لمونځ قضا کړي او دمازدیګر په وخت کي وکړي، دا صحیح نه ده. (٣)

**دکور ښخه دروانیدو وروسته به په څومره فاصله کي قصر پیلوي؟** **سوال:** (۲۲۹۵) [۱] دکوره

---

(١) من خرج من عمارة موضع إقامته الخ قاصدا الخ مسيرة ثلثة أيام ولياليها الخ صلى الفرض الرباعي ركعتين (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢١) قوله قاصدا اشار به مع قوله خرج إلى انه لو خرج ولم يقصد او قصد ولم يخرج لا يكون مسافرا (رد المحتار ج١ ص٧٣٣، ط.س. ج٢ ص١٢٢). ظفير

(٢) ويأتي المسافر بالسنن إن كان في حال أمن وقرار وإلا لا يأتي بها هو المختار (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٤٢، ط.س. ج٢ ص١٣١) ظفير

(٣) ولا يجوز الجمع عدنا بين الصلوتين في وقت واحد سوى الظهر والعصر بعرفة والمغرب والعشاء بمزدلفة (غنية المستملي ص٥٠٧). ظفير

چي څومره فاصلي ته ورسيږي نوقصر به کوي؟

**دريل ګاډي هغه ملازم چي تل په سفرکي اوسي هغه به څه کوي؟ سوال**: (۲۲۹۲) [۲] زه دريل ګاډي ملازم يم اوتل په سفر کي اوسم په ځينو ځايونو کي دوه ورځي په ځينو ځايونو کي څلور ورځي او په ځينو ځايونو کي ددوه دري مياشتو پيوست اوسيدو امکان هم وي، په داسي حالت کي به لمونځ پوره کوم او که به قصر کوم؟

**دقصر دحکم سره سره که چيري پوره لمونځ وکول سي جواز لري اوکه نه؟ سوال**: (۲۲۹۷) [۳] که چيري زه ددي رعايت يعني قصر وړ يم او بيا ددوو رکعتو په ځای پوره لمونځ ادا کړم دا جواز لري اوکه نه؟

**دسفر په حالت کي دسنت مؤکدهٔ او وترو څه حکم دی؟ سوال**: (۲۲۹۸) [۴] په داسي حالت کي دسنت مؤکدو، وترو او نوافلو دادا کولو څه حکم دی؟

**دمابښام په فرضو کي قصر سته اوکه نه؟ اوکه وي نو څنګه به وي؟ سوال**: (۲۲۹۹) [۵] دمابښام ددريو رکعتونو څه حکم دی؟

**جواب**: [۱] ددي نوم قصر دی په سفر کي دقصر لمونځ کولو حکم دی يعني کم لمونځ چي څلور رکعته دی هغه په سفر کي دوه رکعته کيږي دمابښام او سهار په لمونځونو کي قصر نسته، دقصر شرط دا دی چي ددريو منزلو دسفر اراده وي يا ددي څخه ډير او ددري منزلو اندازه په ۴۸ ميلونو کي ښودل سويده.

[۲] ستاسي غوندي سفر کوونکي ته چي کله سفر ددريو منزلو يا ددي څخه ډير وي دا حکم دی چي که چيري په يوه ځای کي دپنځلسو يا ډيرو ورځو دقيام اراده وي نو پوره لمونځ دي کوي که نه وي قصر دي کوي. (۱)

[۳] دشرعي مسافر چي ترڅو پوري دپنځلسو يا ددي څخه دزياتو ورځو دقيام نيت نه وي قصر کول ورباندي واجب دي پوره لمونځ کول نه ښايي داسي کول جواز نه لري. (۲)

[۴] مؤکد سنت دډاډ او امن په حالت کي کول پکار دي، اوکه په عين سفر کي وي اوتلوار يي وي نونه دي کوي، اوفرض به په هر حال کي کوي. (۳)

[۵] په مابښام کي قصر نسته. (۴)

---

(۱) و(۲) من خرج من عمارة إقامته قاصدا مسيرة ثلاثة ايام الخ صلى الفرض الرباعي ركعتين وجوبا الخ حتى يدخل موضع مقامه الخ او ينوى الخ إقامة نصف شهر حقيقة او حكما (درمختار باب صلوة المسافر، ط.س. ج۲ ص۱۲۱). ظفير

(۳) ويأتي المسافر بالسنن إن كان في حال أمن وقرار وإلا لا يأتي بها هو المختار. (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۲، ط.س. ج۲ ص۱۳۱). ظفير =

**دجنګ دمیدان هغو سپاهیانو ته چي علم نه وي هغوی به څه کوي؟ سوال**: (۲۳۰۰) مونږ دجنګ په میدان کي شامل یو لیکن لس ورځي یو ځای او لس ورځي بل ځای ایساریدنه وي، او مونږ ته له مخکي څخه هیڅ خبر نه وي کیدای سي په یوه ورځ کي کورته راسو او کیدای سي چي ترلسو کالو پوری رانه سو په دي صورت کي به مونږ لمونځونه قصرکوو اوکه نه؟ او سنت به هم کوو اوکه نه؟ او دجمعي په هکله څه حکم دی؟

**جواب**: په داسي حالت کي لمونځ قصر ادا کول په کار دي [1] او دسنتو حکم دادی چي که چیري داطمینان او ډاډ حالت وي نو سنت ادا کول غوره دي که نه وي پرینښودل دي سي په درمختار کي دي چي که چیري مسافر دامن او قرار په حالت کي وي نو سنت مؤکد دي وکړي اوکه چیري امن او قرار نه وي نونه دي کوي او امام هندواني رحمه الله فرمایي چي دایسارتیا په حالت کي دي سنت کوي او دمزل په حالت کي دي نه کوي [2] کذا في الشامي، اوپه مسافر باندي جمعه فرض نه ده که چیري موقع په لاس ورسي او جمعه وکړي ښه خبره ده خو ضروري نه ده که یي جمعه وکړه نو دماپښین لمونځ یي دذمي څخه ساقطیږي، اوکه یي دجمعي لمونځ ونه کړی نو دماپښین لمونځ کول په کار دي. [3]

**که یوڅوک په یوه دائره کي تل راځرخي لیکن هغه ځایونه دشرعي سفر حدته نه نوځه به کوي**: **سوال**: (۲۳۰۱) زه په کلو او بانډوکي راتاویږم او پرلپسي شل ورځي پنځه ویشت ورځي یا لس ورځي چي څنګه صورت وي دخپل استوګنځي څخه دباندي اوسم لیکن په یوه مقام باندي دیوې اونۍ څخه ډیر قیام اجازه نسته خو دا ځایونه داستوګنځي څخه ددریو شپو او دریو ورځو په مسافت باندي نه دي بلکه داستوګنځي په شاوخوا باندي را تاو دي که دمسلسل مسافت لحاظ وکړل سي نو سفر به دټاکلي مودي څخه ډیر سي

---

([4]) صلى الفرض الرباعي ركعتين (درمختار) واحترز بالفرض عن السنن والوتر وبالرباعي عن الفجر والمغرب (ردالمحتار ج١ ص٧٣٥، ط.س. ج٢ ص١٢٣). ظفير

([1]) ولو دخل مصرا على عزم أن يخرج غدا او بعد غد ولم ينو مدة الإقامة حتى بقى على ذلك سنين قصر الخ وإذا دخل العسكر فنوو الإقامة بها قصر وكذا إذا حاصروا فيها مدينة او حصنا الخ (هدايه باب صلوة المسافر ج١ ص١٤٩). ظفير

([2]) ويأتي المسافر بالسنن إن كان في حال أمن وقرار إلا بان كان خوف وفرار لا يأتي بها هو المختار (درمختار) وقال الهندواني رحمه الله الفعل حال النزول والترك حال السير الخ والأعدل ما قاله الهندواني رحمه الله (رد المحتار باب صلوة المسافر ط.س. ج٢ ص١٣١). ظفير

([3]) ولا تجب الجمعة على مسافر الخ فإن حضروا فصلوا مع الناس اجزأهم عن فرض الوقت الخ (هدايه باب الجمعة ج١ ص١٥٢). ظفير

اوكه دتېول سفر لحاظ وكړل سي نو ډېر مسافت جوړېږي په دي صورت كي په لمانځه كي قصر كول واجب دي اوكه نه؟

**جواب**: كله چي دمسافت مجموعه دسفر دشرعي اندازي څخه ډېره ده، ځكه نو استوګنځی ته تر رارسيدلو پوري لمونځ قصر كول ښايي، قال في الدرالمختار حتی يدخل موضع مقامه إن سار مدة السفر الخ قوله إن سار مدة السفر قيد بقوله حتى يدخل أی إنما يدوم على القصر إلى الدخول إن سار ثلاثة (١) الخ

**مقيم مقتدي به دمسافر امام دسلام څخه وروسته په پاته دوو ركعتونوكي فاتحه وايي اوكه نه؟**

**سوال**: (٢٣٠٢) كه يو مقتدي په مسافر امام پسي لمونځ كوي نوكله چي امام تردوو ركعتو وروسته سلام وګرځوي نو دی به څلور واړه پوره كوي اوس دپوښتني خبره داده چي په دوو وروستنيو ركعتونو كهي به فاتحه وايي اوكه نه؟

**جواب**: په وروستنيو دوو ركعتوكي دي هيڅ نه وايي بلكه له پټه خوله دريدلو وروسته دي ركوع وكړي. (٢)

**دخسرګنی په ځای كي به قصر كوی اوكه پوره لمونځ؟** **سوال**: (٢٣٠٣) [١] دخسرګنۍ ځای ته لس منزله فاصله ده زيد ته دخسرګنۍ ځای ته ررسيدلو وروسته پوره لمونځ كول ښايي اوكه قصر؟

**مسافر امام پوره لمونځ وكړي نومقتدي لمونځ وسو اوكه نه؟** **سوال**: (٢٣٠٤) [٢] مسافر امام سهوا پوره لمونځ وكړی نو دمقتديانو لمونځ وسو اوكه نه؟

**سوال**: (٢٣٠٥) [٣] مسافر پرځان نذر كنبيښوی چي په سفر كي به تر دريو څلورو ورځو پوري پوره لمونځ كوم نو دنذر دورځو لمونځ پوره وكړي اوكه قصر؟

**جواب**: [١] چي دخسرګنۍ ځای ته ورسيږي نو لمونځ دي پوره كوي كما في الشامي: قوله او تاهله ای تزوجه قال في شرح المنية (٣) ولو تزوج المسافر ببلد ولم ينو الإقامة به فقيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما وهو الأوجه الخ (لس منزله دقصر مسافت نه دی ځكه نوپه پوښتنل سوي صورت كي دقصر سوال دسره پيدا كيږي نه. ظفير)

[٢] دمقتديانو لمونځ فاسد سو، شامي ج١ ص٣٩١. ولو إقتدى مقيمون بمسافر وأتم

---

(١) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٣٢، ط.س. ج٢ ص١٢۴. ظفير

(٢) وصح إقتداء المقيم بالمسافر في الوقت وبعده فإذا قام المقيم إلى الإتمام لا يقرأ ولا يسجد للسهو في الأصح لأنه كاللاحق والقعدتان فرض عليه وقيل لا (الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧۴٠، ط.س. ج٢ ص١٣٠). ظفير

(٣) غنية المستملي ص٥٠٥. ظفير

بهم بلا نية إقامة وتابعوه فسدت صلوتهم لكونه متنفلا في الأخريين.

[٣] قصر کول په کار دي دا نذر دهغه لغوه دی ځکه چي معصيت دی او دشرعي څخه سر غړونه ده قصدا په پوره لمونځ کولو سره ګنهګاريږي، او دمقيم لمونځ په هغه پسي نه کيږي، کما مر فلو اتم مسافر إن قعد في الأولى تم فرضه وأساء الخ درمختار. (١) فقط

**مقيم دمسافر امام ديوه رکعت څخه وروسته اقتداء وکړه نو څنګه لمونځ ادا کړي؟ سوال:** (٢٣٠٦) مقيم دمسافر اقتداء هغه مهال وکړه چي امام يو رکعت کړی وو نو اوس دمسافر امام دسلام ګرځولو وروسته مقيم ته څرنګه لمونځ کول ښايي؟

**جواب:** لومړي دوه رکعته دي خالي وکړي او په دريم کي دي قراءت ووايي. (٢) فقط

**مسافر دجمعي په لمانځه کي امام کيدای سي: سوال:** (٢٣٠٧) مسافر دجمعي په لمانځه کي امام کيدای سي اوکه نه؟

**جواب:** مسافر دجمعي دلمانځه امام جوړيدای سي. (٣) فقط

**په هرحال کي دقصر دليل: سوال:** (٢٣٠٨) په هر سفرکي دامن او امان سره سره خو به هرومرو قصر واجب نه وي؟

**جواب:** دوجوب دليل دا حديث دی: وعن يعلى بن أميه قال قلت لعمر بن الخطاب (رضى الله عنه) إنما قال الله تعالى (أن تقصروا من الصلوة إن خفتم أن يفتنكم الذين كفروا) فقد أمن الناس قال عمر عجبتُ مما عَجِبْتَ منه فسألت رسول الله ﷺ فقال صدقة تصدق الله به عليكم فأقبلوا صدقتة. رواه مسلم (٤) حاصل دا چي يعلى بن اميه ﷺ وايي چي ما حضرت عمر (رضى الله عنه) ته عرض وکړی چي الله جل جلاله فرمايلي دي چي: کله تاسو ته دکفارو له لوري دفتني بيره وي نو لمونځ قصر کوی. نو اوس خو خلګ په امن دي هغه بيره نسته يعني نو اوس قصر کول نه ښايي، هغه ورته وويل: ماته هم دا شبهه پيښه سوي وه نوما رسول کريم ﷺ ته په دي هکله عرض وکړی هغوی وويل: چي دا دالله جل جلاله انعام دی دا قبول کړی.

**په ريل کي قصر په څومره مسافت کي واجيږي: سوال:** (٢٣٠٩) دريل په سفرکي به په څومره مسافت کي قصرکوي؟

---

(١) الدر المختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص١٠٩، ط.س. ج٢ ص١٢٨. ظفير

(٢) ولو إقتدى المقيم بالمسافر صح (إلى قوله) فاذا صلى المسافر ركعتين يسلم ويقوم المقيم فيتم صلوته بغير قراءة في الأصح الخ بخلاف المسبوق (غنية المستملي ص٥٠٤). ظفير

(٣) ويجوز للمسافر والعبد والمريض أن يؤم في الجمعة (هدايه ص١٥٢ ج١). ظفير

(٤) مشكوة ص١١٨. ظفير

**جواب**: كه چيري درى منزله پياده سفر وي نو په ريل كي هم په دي مسافت باندي قصر كول په كار دي مثلا ۴۸ ميله سفر وي نو قصر درست دى او ضروري دى. (١) فقط

**رسول الله ﷺ په سفر كي څو ركعته كړيدي؟ سوال**: (٢٣١٠) رسول الله صلى الله عليه وسلم په سفركي دوه ركعته لمونځ كړى وو اوكه ځلور ركعته؟ او بل دا چي په غزواتو كي هغوى دوه ركعته كړي وه داوسني عصر دروڼ اندو خلګو په عقيده يوازي دوه ركعته لمونځ فرض دى ځلور ركعته نه دى، دا مسئله مفصله وليكئ؟

**جواب**: درسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه كي دسفر يا غزواتو په مهالل دځلورو ركعتو په ځاى دوه ركعته كول دقصر په سبب وو، په شرعي سفر كي دځلورو ركعتو په ځاى دوه ركعته فرض دي، په قرآن كريم كي دي: ﴿وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ﴾ الآية، وفي الحديث عن ابن عباس رضى الله تعالى عنه وعن ابن عمر قالا سنّ رسول الله ﷺ صلاة السفر ركعتين وهو تمام غير قصر، الحديث (٢). فقط

**دقصر په حالت كي سنت او وتر**: **سوال**: (٢٣١١) په قصركي سنت او وتر كول په كار دي اوكه نه؟ كه يو سړى په دوره كي وي چي هره ورځ ځايي او كوچي وي په داسي حالت كي قصر وكړي اوكه نه؟ چي دوطن څخه په څومره فاصله كي وي قصر به جائز وي؟

**جواب**: په درمختار كي دي: ويأتي المسافر بالسنن إن كان في حالل أمن وقرار وإلا بأن كان في خوف وفرار لا ياتي بها هو المختار (٣) ددي حاصل دادى چي كه مسافر په كم ځاى كي په قرار وي او تلوار يي نه وي نوسنت دي وكړي اوكه دتلواري سفر وي او يا بيره وي نو سنت دي پريږدي بيا يي ويلي دي چي دځينو په نزد دي دسهار سنت بيا هم نه پريږدي (٤) كه داقامت دځاى څخه په دوره كي دومره دليري تللو اراده وكړي او ولاړ سي چي درى منزله يعني ۴۸ ميله وي نوپه ټوله دوره كي دي قصركوي بياچي كله بيرته داقامت ځاى ته راسي اولړ ترلږه دپنځلسو ورځودقيام نيت وي لمونځ دي پوره وكړي (٥)

---

(١) اعلم أن أقل مدة السفر عندنا مسافة ثلاثة ايام من أقصر ايام السنة بالسير الوسط (إلى قوله) وعامة المشائخ قدروها بالفراسخ الخ (غنية المستملي ص٤٥٧). ظفير

(٢) مشكوة باب صلاة السفر ص١١٩، اخرجه مسلم في صحيحه عن مجاهد عن ابن عباس فرض الله الصلوة على لسان نبيكم في الحضر اربع ركعات وفي السفر ركعتين (نصب الرايه ج١ ص١٨٩). ظفير

(٣) الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص١١٨، ط.س. ج٢ ص١٣١. ظفير

(٤) وقيل يصلى سنة الفجر خاصة وقيل سنة المغرب ايضا، بحر (ردالمحتار ج١ص٧٠٧،ط.س. ج٢ص١٢١). ظ

(٥) من خرج من عمارة موضع اقامة قاصدا مسيرة ثلاثة أيام ولياليها الخ او نوي اقامة نصف شهر حقيقة او حكما (إلى قوله) اتم مختصرا (الدرالمختار على هامش ردالمحتار باب صلوة المسافر ج١ ص٧٠٧، ط. س. ج٢ ص١٢١). ظفير

**دقصر لپاره کور جوړول معتبر نه دي**: **سوال**: (۲۳۱۲) ديوه سړي سکونت په خپل اصلي وطن کي دی په بل ښار کي يي يواځي دخپلي دويمي ښځي دسکونت لپاره کور جوړ کړی بيا يي دځو کلونو وروسته داوبو اوهوا دناسموالي له امله دويمه ښځه هم خپل اصلي وطن ته راوسته او دهغه بل ښار کور يي قلف کړی دکور ځيني سامانونه اوس هم هلته دي او دښځي هلته بيرته ورتلل هم شکمن دي په دي صورت کي که داسړی دکم ضرورت په وجه مسافه ووهي اوهغه بل ښار ته راسي نو هغه به قصر کوي اوکه څلور رکعته پوره؟

**جواب**: په دي حالت کي به هغه قصر کوي کما في شرح المنية إذا المعتبر الاهل دون الدار ([1]). فقط

**هغه مسافر چي دپنځلسو ورځو نيت ونه کړي**: **سوال**: (۲۳۱۳) يو سړی دخپل کور څخه په ۳۲ منزله فاصله کي تجارت کوي، په داسي ډول چي په کم ښار کي کور ونيسي او پکښي اوسيږي او بهر کليو ته دسامان پلورلو لپاره هره ورځ وزي او ماښام داوسيدو ځای ته بيرته راځي کله کله يو دوه ورځي په کلي کي ياته سي په دي صورت کي لمونځ قصر وکړي اوکه پوره؟

**جواب**: که پنځلس ورځي يا ډيري په هغه ځای کي دقيام نيت وي نو لمونځ پوره کول په کار دي، داقامت له نيته وروسته که دپلورلو لپاره ددوو يادريو منزلو په فاصله کليو ته ځي او ماښام داوسيدو ځای ته بيرته راځي نو هغه ته دلمانځه دقصر کولو حکم نه ورکول کيږي، پوره لمونځ کول ورته په کار دي ليکن که يي په هغه ځای کي چي چيري يي داوسيدو لپاره کور په کرايه نيولی دپنځلسو ورځو داقامت نيت نه وي بلکي داول څخه يي دا اراده وي چي په فلاني ځای کي به چي په ۳۲ منزله کي دی کور نيسم او په کليو کي به سودا خرڅوم او داوسيدو په دي ځای کي به قيام نه کوم نو بيا دي قصر وکړي. ([2])

**په سفرکي په دي نيت سره چي الله پوهيږي چي څه وخت به بيرته راځم څه وکړي؟** **سوال**: (۲۳۱۴) يو سړی په دي خيال په اوږد سفر روان سو چي الله پوهيږي چي زه به کله بيرته راسم هغه قصر وکړي اوکه نه؟

**جواب**: هغه ته لمونځ قصر کول په کاردي يعني دوه رکعتــه کول په کار دي ترڅو چي يي

---

([1]) غنية المستملي ص۵۰۲. ظفير

([2]) عن عبدالله بن عمر قال اذا کنت مسافرا فوطنت نفسك على إقامة خمسة عشر يوما فأتم الصلاة وان کنت لا تدري متى تظعن فاقصر (غنية المستملي ص۵۰۱). ظفير

دپنځلسو ورځو دقيام نيت په كم نباركي نه وي كړی. (۱)

**دخسر په كور كي چي په دری منزله كي دی قصر وكړي اوكه نه؟ سوال**: (٢٣١٥) زيد كه خپلي خسرګنی ته ولاړ سي چي په دری منزله كي دی نوقصر وكړي اوكه نه؟ يعني تر پنځلسو دكمو ورځو په اراده ولاړ سي، همدا ډول كه هنده دخپلي خسرګنی كورته تر پنځلسو ورځو دلږو په اراده ولاړه سي چي په دری منزله دی نو قصر به كوي اوكه نه؟

**جواب**: قال في الدرالمختار الوطن الأصلي هو موطن ولادته او تأهله اوتوطنه الخ قوله او تأهله أی تزوجه قال في شرح المنية ولوتزوج المسافر ببلد ولم ينو الإقامة به فقيل لا يصير مقيما وقيل يصير مقيما وهو الأوجه الخ (۲) شامي، ددي څخه دامعلومه سوه چي زيد او هنده دي په ذكر سوي صورت كي لمونځ پوره وكړي. فقط

**سفر له قصده پرته**: **سوال**: (٢٣١٦) كه اخوا ديخوا كلو بانډو ته دخرخولو لپاره ځي او راځي اوداوسيدو ځای له ټولو څخه تردری منزله په لږ فاصله كي وي او همدا راز دخرخولو لپاره ځي ددي كلي څخه هغه كلي ته او دهغو څخه دريم او څلورم ته نوپه دي ډول فاصله دډيرو كليو تر دريو منزلو ډيره زياتيږي يا بيخي معلومه نه وي نو دلمانځه دقصر به څه حكم وي؟

**جواب**: په دا ډول تللو كي دڅه خرڅولو لپاره چي كله يي لومړی ځای اراده ددريو منزلو نه وي كړي اويا معلومه نه وي اګر كه په تلو تلوكي ډيره سي نو دلمانځه دقصر كولو حكم نسته. لمونځ پوره كول په كار دي. (۳)

**ايا دقصر كولو لپاره دښار څخه وتل ضروري دي؟ سوال**: (٢٣١٧) كه څوك په يوه وطن كي مقيم سوی وي نوكله چي دی اصلي وطن ته دتللو قصد وكړي نو په دي سره به دلمانځه قصر لازم سي اوكه دښار څخه بهر وتل شرط دي؟

**جواب**: داقامت دښار څخه وتل دشرعي سفر په قصد دقصر لپاره شرط دي، يواځي دتللو په اراده سره قصر نه لازميږي (۴) فقط والله تعالى اعلم كتبه عزيز الرحمن.

---

(۱) او دخل مصرا على عزم ان يخرج غدا او بعد غد ولم ينو مدة الاقامة حتى بقى على ذلك سنين قصر لان ابن عمر رضي الله عنه اقام باذربايجان ستة اشهر وكان يقصر ومن جماعة الصحابة مثل ذلك (هدايه باب صلوة المسافر ج۱ ص۱۴۹). ظفير

(۲) ردالمحتار باب صلوة المسافر ج۱ ص۷۴۲، ط. س. ج۲ ص۱۳۱. فالأصلي وهو مولد الإنسان او موضع تأهل به قصد التعيش به لا الارتحال عنه (غنية المستملي ص۵۰۵). ظفير

(۳) ومن طاف الدنيا بلا قصد لم يقصر (الدرالمختار باب صلوة المسافر ج۱ ص۱۰۷ ط. س. ج۲ ص۱۲۲). ظ

(۴) المعتبر في السفر أمران أحدهما عزم السير وثانيها الخروج من البلدان فإن جاوز بيوت المصر غير قاصد للسفر لا يون مسافرا وإن جاوزها قاصدا مدة مادون السفر لايكون سفرا آه (بناية شرح الهدايه) هو أن قصد =

**که مسافر په هيره سره پوره لمونځ وکړي نو څه حکم لري؟ سوال:** (۲۳۱۸) مسافر په دويم رکعت کي ناست وو پورته سو او څلور رکعتونه يي پوره کړل نو دهغه لمونځ وسو اوکه نه؟ او هغه ګنهګار دی اوکه نه؟

**جواب:** مسافر که په مينځ کي قعده کړي وي او په لاعلمي سره يي پوره لمونځ کړی وي نو هغه وسو، او ګناهګار نه دی خوکه قصدا داسي وکړي نو بيا ګنهکار دی اوکه مسافر دمقيم امام سو نو دمقيم لمونځ ونه سو هغه ته خبر ورکول لازم دي. (لو اتم مسافر إن قعد في القعدة الأولى تم فرضه ولكنه اساء لو عامدا، درمختار على هامش الشامي ص۸۲۵، ما زاد نقل لمصلي الفجر اربعا ايضا، لايصح الإقتداء (إلى قوله) ولا مفترض بمتنفل، درمختار على هامش الشامي ص۲۰۲).

**دوې لاري وي اوپر هغه لاره ولاړي چي قصر وربانـدي کيږي نـو څـه حکـم دی؟ سـوال:** (۲۳۱۹) که يو سړی يوه ځای ته سفر وکړي اوکم ځای ته چي ولاړ سي دهغه دوې لاری وی يوه دقصر مسافه ده او بله کمه ده نو که دا سړی دی ځای ته په هغی لار ولاړ سي چي دقصر لاره ده نو هغه ته بۀ قصر لمونځ جائز وي اوکه نه؟ يعني دقصر دجواز دپاره به په هغو دواړو لاروکي کمي لاري ته اعتبار وي، پرکمه لاره چي تللی هغې ته اوکه هغي ته چي دقصر تر مسافت کمه ده، اودقصر مسافه څومره ده؟

**جواب:** دکومي لاري څخه چي يي سفر کړی وي دهغي لاري مسافت ته په قصر اونه قصر کولو کي اعتبار دی که يي په هغي لاره سفر کړی وي چي دهغي مسافه **۳۲** منزله ده يا اته څلويښت **۴۸** ميله وي نو په دي مسافه کي قصر لازم دی اګرکه ددي ځای دويمه لار تر دي کمه وي. (وإذا قصد بلدة وإلى مقصده طريقان احدهما مسيرة ثلاثة أيام ولياليها والآخر دونها فسلك الطريق الأبعد كان مسافر عندنا وإن سلك الأقصر يتم، عالمګيري ج۱ ص۱۳۲ جميل الرحمن).

**دميرټهـ څخه ډهلي ته راتلونکي قصر وکړي اوکه نـه؟ سوال:** (۲۳۲۰) ددين عالمان څه وايي په دي هکله چي دشرعی سفر مسافه دانګريزي ميل په حساب سره چي دهغه مقدار اوه لس سوه او اويا دی څومره ده؟ او دميرټهـ څخه دهلي ته راتلونکي قصر لمونځ وکړي که پوره؟ کله چي ددواړو تر مينځ مسافه **۴۵** ميله ده، او دښار څخه **۴۲** ميله ده.

**جواب:** دحنفيانو مذهب دادی چي ددريو ورځو يعني ددريو منزلو په سفر کي قصر دی نو دميرټهـ څخه دهلي ته که دری منزله وي قصر کولای سي اوکه نه وي نه يي سي

= سيرا وسطا ثلاصة ايام ولياليها وفارق بيوت بلده آه شرح وقايه (مولانا مفتي سيد مهدي حسن صاحب).

کولاى، اوفرسخونو او ميلونو ته دظاهر مذهب له مخي اعتبار نسته، کومو مشائخو چي دعوامو داساني لپاره فرسخونو ته اعتبار ورکړى دى په هغو کي درې قوله دي، يوويشت فرسخه يعني ۷۳ شرعي ميله، يا اتلسى فرسخه يعني شپږ پنځوس ۵۲ شرعي ميله، يا پنځلس فرسخه يعني ۴۵ شرعي ميله، او فتوى په دويم يا دريم قول باندي ورکړل سويده، کذا في ردالمحتار، او شرعي ميل څلور زره ذراع دى، او يوه ذراع شپږ قبضى يعني اته ګري دمروج انګريزي ذراع په حساب سره، نوشرعي ميل دوه زره ګزه سو، اوانګريزي ميل چي اوه لس سوه او اويا ګزه دى نو في ميل دوه سوه او څلويښت ګزه تفاوت دانګريزي او شرعي ميل تر مينځ سو، نو ۴۵ شرعي ميله تقريباً پنځوس انګريزي ميله کيږي، او دفرسخونو په اعتبار سره لږ تر لږه دقصر مسافه پنځوس ميله سوه، ليکن کله چي دفرسخونو معتبرول داصل مذهب سره خلاف دي نوځکه به اوس مدار پرمنازلو وي، او دا امر تر عرف، عادت او تجربي پوري موقوف دى، او دفقهي په کتابونو کي داهم موجود دي چي ددريو ورځو دسفر څخه دا مراد دي چي په لنډو ورځوکي چي په سفرکي دسهار څخه تر زواله پوري څومره مسافه وهل کيږي هغه مقدار دميلونو معتبريږي، همدا وجه معلوميږي چي زموږ درنو استاذانو روزانه دوولس منزله سفر يعني اوه لس ميله غوره کړى دى، ځکه که روزانه شپږ ساعته دسفر لپاره مقرر کړل سي نو په يوه ساعت کي دوه منزله سړى په متوسط تګ سره وهلاى سي، په دي اعتبار سره يي دقصر مسافه ۴۸ ميله يعني ۳۲ منزله ټاکلي ده. فقط

تم المجلد الرابع بتوفيق الله تعالى وعونه وكرمه فالحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله وصحبه اجمعين. ويليه المجلد الخامس.

وأنا العاجز المفتقر إلى رحمة الله تعالى محمد ظفير الدين المفتاحى غفر الله ذنوبه الخفي والجلي، المرتب للفتاوى دار العلوم ديوبند، (وقد قام بترجمته وتصحيحه هذا العبد العاجز أخوكم في الله الفقير للرب القدير محمَّد أحمد الحقاني الأفغاني، غفر الله تعالى جميع ذنوبه ورحمه عند موته، آمين ثم آمين).

السبت ، ۱ جمادی الاولی ، ۱۴۳۰ هـ ق

❊ ❊ ❊